تفسیر ابو حنیف

تالیف

علامہ المحدث حبر البحر ابو الفضل مولانا محمد عبد الشہید الایوبی

الصندھاری السیلما نخیلی الحنفی النقشبندی عم فیضہ

زیر اشاعت

مکتبۃ القراۃ والتجوید

کانسی روڈ شالدرہ کوئٹہ

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner



Maktaba Tul Ishaat .com



تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں



تفاسیر	خطبات	منطق
احایث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

Maktaba Tul Ishaat.com

بسم الله الرحمن الرحيم

په پښتو ژبه کښې اولنی او په افغاني تاريخ کښې يې سارې

په زر گونو جديدو مسئلو باندې مشتمل

تسهيل البيان في تفسير القرآن

قَالَ الْمَلَأُ ... وَاعْلَمُوْٓا

اتم ټوک ۸

تالیف اوتصنیف

د علامة العصر ابو الفضل شيخ التفسير والحديث فقيه دوران مفسر الزمان

حضرت مولانا محمد عبد الله الاوبي

الكندهاري السليمانخيلي الحنفي النقشبندي حفظه الله تعالى

مكتبة التراث والتجويد

كانسي رود شالدره كوټه

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم ..... تفسير ايوبي پښتو اتم توک

مؤلف ..... الحاج مولنا محمد عبيد الله الايوبي الكندهاري السليمانخيلي الحنفي حفظه الله تعالى بفضله الوهبي

کمپوزر ..... حبيب الحق حقاني (مينګل)

ټايپ ..... حقاني کمپيوټر اداره

نشر کوونکي اداره ..... مكتبة القراء ت والتجويد كانسي رود كوئټه

د چاپ ځای ..... لاهور پاکستان

يو نظر دې خوا

هيڅ يو مسلمان هم په قرآن مجيد، احاديثو يا د فقهي په کتابو کي په قصده سره غلطي نه کوي، زمونږ اداره تر خپله وسه پوري د کتابو تر ليکلو وروسته تصحيح ته زياته پاملرنه کوي، چې ددې په وجه زمونږ کتابونه معياري دي، خو بيا هم بنده بنده دی، يو نه يو ځای څه ناڅه غلطي په املاء کي يا په يوه جمله کي ځني صادره سي، نو زمونږ د ټولو ناظرينو څخه دا خواست دی چې که ستاسي تر نظر داسي غلطي تېره سي لطفاً زمونږ سره تماس ونيسئ، تر څو د کتاب د دوهم وار په چاپ کي د هغې تېروتنې اصلاح وسي

په درناوي ستاسي ورور شمس الحق شمس

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

جميع الحقوق محفوظة

جميع حقوق الملكية الادبية والفنية محفوظة لمكتبة القراءة والتجويد كوئته باكستان و يحظر طبع أو تصوير أو ترجمة أو إعادة تنضيد الكتاب كاملاً او جزأ او تسجيله على أشرطة كاسيت أو إدخاله على الكمبيوتر او برمجته على اسطوانات ضوئية إلا بموافقة الناشر خطياً.

Copyright ©
All rights reserved
Tous droits reserves

Exclusive rights by Maktabatul-Qiraat i waltajweed Quetta - Pakistan. No part of this publication may be translated, reproduced distributed in any form or by any means, or stored in a data base or retrieval system, without the prior written permission of the publisher.

الطبعة الاولى

١٤٢٩ هجري - ٢٠٠٨ ميلادي

مكتبة القراءة و التجويد
شارع كانسي كوئته - باكستان
ت الهاتف ٢٨٨٥٥٢٥-٠٣

MAKTABTUL-QIRRAT
WALTAJWEED
KANSI ROAD QUETTA
BALOCHISTAN

ISBN 2-7451-3140-0

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله الذي انزل القرآن، ليكون هداية للانس والجان، والصلوة والسلام على رسوله محمد النبي الامي الذي هدانا سبل الرشد والايمان.

وبعد: دا يو خلاند حقيقت دى چې د تولو علومو سرچينه قرآن مجيد دى، او توله مروجه علوم طالبان د قرآن مجيد په اسرارو او حكمتونو باندې د پوهېدلو لپاره وايي، لكه چې شاعر وايي:

جميع العلم في القرآن لكن
تقاصر عنه افهام الرجال

الله تعالى لره دي حمد وي چې دا دى ستاسو د مستجابو دعاگانو په وجه د قرآن مجيد نهمه سپاره "قال الملا" او لسمه سپاره "واعلموا" له چاپه څخه راووتل.

او حضرت ايوبي مدظله العالي هم الحمدلله د تفسير وكار ته خپل توله وختونه وقف كړي دي، او نور توله مصروفيتونه او مشاغل يې ورته پرې اينبي دي، خو څرنگه چې حضرت ايوبي په هفته كښې څومره ليكي، سمدستي يې موږ هم ورسره ليكو او

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

چاپ ته يې چمتو کوو

دا تفسير ايوبي ولي خپرېږي؟

او دا حقيقت هم ستاسي په وړاندي ايږدو، چې حضرت ايوبي چې څرنګه څه ليکي سمدستي يې موږ په کمپيوټر باندي ليکو داسي نه ده چې حضرت ايوبي مدظله العالي توله تفسير ليکلی دی او موږ يې په کرار کرار چاپوو، بلکې څرنګه چې دده لخوا تفسير پوره کېږي فوراً يې وچاپ ته اماده کوو، خو ددې تولو کارونو ترشا ستاسي دعاګاني هم دي، که چېرې حضرت ايوبي د نوې کالو په عمر کښې ليکل کوي او بالکل د صحت او جوړتيا په حالت کښې دی، او همدارنګه موږ ته الله تعالی د ليکلو او چاپولو توفيق راکوي، نو دا ستاسي همکاري ده چې له دعاګانو څخه مو نه هېروئ.

د تېرې ورځې خاطره

تېره ورځ چې و ملاقات ته ورغلم، نو يې راته وويل چې دعاګاني کوه چې د ژوند دا يو ارمان مي خدای ﷻ پوره کړي، ولي چې زما هم داغه يو ارمان دی نور ارمانونه مي خدای ﷻ پوره کړي دي.

نو مي په خواب کي ورته وويل چې دا هم د خدای تعالی توفيق او د عامو مسلمانانو دعاګاني دي، ولي چې ستا د عمر خلګ چې ستا همزولي دي هغه توله يا خو د ضعف په حالت کي دي، او يا يې حواس باطنه ؤ او يا يې حواس ظاهره ؤ کار پرې اينښی دی او يا يې ورته خواب ويلی دی.

خو تاسي چې الحمدلله توله حواس ظاهري او باطني مو هم کار کوي او هم يې تر اوسه پورې په ضعف نه پوهېږئ، نو دا يو روښانه دليل دی چې خدای تعالی د خپلو بندګانو د لارښوونې او رهنمايي کار درڅخه اخلي.

نو حضرت ايوبي مدظله العالي او همدارنګه د مکتبة القرائت والتجويد کارکوونکي هم خپل له دعاګانو څخه مه هېروئ.

والسلام

ستاسي ورور قاري فضل الحق حقاني

د مکتبة القرآئت والتجويد ناظم

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله الذي وفقني لتفسير الاجزاً الثمانية للقرآن المجيد والفرقان الحميد والصلوة والسلام على سيد المرسلين محمد وعلى آله وصحبه اجمعين وقد حان وقت تفيسر الجزء التاسع وارجو من فضله العميم ان يوفقني لتفسير هذا الجزء بالخير والصحة والسلامة بحرمة القرآن العظيم وبحرمة سيد المرسلين عليه من الصلوات اكملها ومن التسليمات اشرفها وعلى آله وصحبه اجمعين، اللهم بفضلك وكرمك وفقني لتفسير جميع القرآن بالصحة والسلامة واجعله خيراً باقياً الى يوم القيامة انه تعالى على كل شئ قدير وبالاجابة جدير، وشرعت في تفسير هذا الجزٔ بعد صلوٰة الفجر من يوم الجمعة (١٥) شهر جمادي الثاني من شهور سنه ١٤٢٨ هجري قمري وبلغ عمري اذ ذاك الى (٩٠) او اقل منه او اكثر.

بيت

ودر ياب ته دا خلهږم د قرآن — په توفيق العزيز الرحمن
كه جهول يم كه ظلوم يم په عصيان — په اميد سره د فضل د رحمن
زما د عمر سرمايه به دا تفسير وي — كه پوره كړي العزيز الرحمن

روز محشر هركس حاضر ميشود تصوير جانان دربغل
ما نيز حاضر ميشوم تفسير قرآن در بغل

كه عاصي يم كه فاسق يم كه فاجر — وخدمت ته د تفسير يمه حاضر

وقد ورد في الحديث الصحيح النبوي ان الله قد يؤيد هذا الدين بالرجل الفاجر. واظن ان اكون انا ذالك الرجل الفاجر ومع ذالك باب الرحمة العامة من الله ﷻ مفتوحة وباب التوبة للعصات مكشوفة ورجاً الشفاعة من سيد المرسلين يوم القيامة معلومة، ومع كل تلك الامور ورد في الحديث الصحيح النبوي ان الله ليستحى من ذى الشيبة المؤمن ان يعذبه او كما قال وانا مومن حقا وغاية ذى الشيبة ايضاً.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الٰہی یا الٰہی یا الٰہی ندارم جز امیدت تکیه گاهی
زکن موجود کردی جمله عالم کرم کن برمن گم کرده راهی
ندارم طاعت مقبول درگاه بجز اشک ندامت آه آهی
بحق وحرمت فرقان اعظم مرا از ذنب خود کن عذر خواهی
ندارم توشها راه قیامت بجز شرمندگی وروه سیاهی

مناجات بدرگاه قاضی الحاجات

الٰهي عبدک العاصي اتاکا مقراً بالذنوب وقد دعاکا
فان ترحم فانت لذاک اهل وان تطرد فمن یرحم سواکا

بیت

اے باد صبا مدینے میں مصطفیٰ کو ہم غریبوں کا سلام کہنا
نہیں ہے بجز تمہاری بس میرا اتنا پیام کہنا

آے ہم مثل بلبل سیر گلشن کر چلے
دیکھ مالی باغ اپنا ہم تو اپنے گھر چلے

دروښ وایي: چي عالم ته خصوصاً ومؤمن ته عموماً لازم ده چي همت لوړ وساتي او صرف وحطام الدنیا ته یې مبذول نه کړي لانها فانیة. بلکې مقصود عمده خپل دار آخرت وګرځوئ او هغه کار ته همت خپل مبذول وګرځوئ چي یوم القیامة یې توښه وي. مرزا غالب وایي

همت بلند دار که نزد خدا و خلق باشد بقدر همت تو اعتبار تو
آنانکه ذره وار بصورت محقر اند فردا زخیال وناز بفردوس نه گرند

تفسیر ایوبي حنفي د نصیراحمد احمدي لخوا
سکین او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ
۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

رب يسر وسهل ولا تعسر وتممه بالخير

قَالَ الْمَلَأُ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ

وويل هغه اشرافو او رئيسانو هغه كسان چې كبر يې كاوه له قبول څخه د قول د شعيب، له قومه څخه دده، وشعيب عليه السلام ته راداً لدعوته لهم الى الايمان والتوحيد.

پوه سه: چې دا جمله مستانفه ده "ملأ" مشتق دی له "ملئ" څخه چې معنا يې ډكوالی دی، نو اشرافو او رئيسانو ته په دې ملأ وايي چې د خلګو زړونه ددوی له هيبت څخه ډک وي. او لفظ يې مفرد او معنا يې د جمعې ده لكه قوم او رهط. دا خبره هلته ملأ وكړه چې مواعظ بليغه د شعيب عليه السلام په باره كې د توحيد وغيره له ده څخه واورېدله.

لَنُخْرِجَنَّكَ يٰشُعَيْبُ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَكَ مِنْ قَرْيَتِنَآ اَوْ لَتَعُوْدُنَّ فِيْ مِلَّتِنَا

قسم په خدای عليه السلام چې موږ به وباسو تا او هغه كسان چې ايمان يې له تا سره راوړی دی زموږ له قريې او وطن څخه، او يا به تاسي داخلېږئ بيرته زموږ په دين كې يعني يو ددې دوو كارو به خامخا كېږي يا اخراج يا عود زموږ په دين كې.

پوښتنه: شعيب عليه السلام خو ددوی په ملت او دين كې نه ؤ لان الانبيا يستحيل عليهم الكفر. نو دوی څرنګه دی مخاطب كړی په عود سره؟

ځواب: بعض مفسران وايي چې "الذين آمنوا" خو ددوی په ملت يعني شرک كې داخل وه، نو هغو ته يې تغليب وركړی او نسبت د عود يې وشعيب والذين آمنوا ته وكړی. او بعض مفسران وايي چې عاد په معنا د صار دی ای لتصيرون وتدخلن في ملتنا.

پوه سه: چې "والذين آمنوا" عطف دی پر كاف د "لنخرجنك" او يا شعيب لفظ معترض بين المتعاطفين. او نسبت د اخراج چې يې اولاً و شعيب ته وكړی وروسته والذين آمنوا تنبيه پر دې ده، شعيب اصل دی په اخراج يا عود كې او والذين آمنوا يې تبع ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: له دې آیت مبارک څخه دا معلومه سوه چې د متکبرو او متجبرو کسانو عادت استعلاً ده پر بې چاره ګانو، او یا ددوی عادت دی چې ان یخرج الاذل، ولې چې ددوی په دماغو او زړو کې د دنیا کبر او د استغنا سرکښي وي وحب الدنیا الذي رأس کل خطیئة کما ورد في قول الصادق المصدوق ﷺ، نو ځکه خدای ﷻ دغه کسان سبب د هلاک د قومو او قریو ګرځولي، قال الله تعالی "اذا اردنا ان نهلک قریة امرنا مترفیها ففسقوا فیها الآیة" حافظ وایي.

ایمن مشو زعشوه دنیا که این عجوز... مکاره می نشیند ومحتاله میرود

دروښ وایي: چې صاحب د روح المعاني په ځواب کې د سوال سابق علی قولهم او لتعودن آه چې دا قول جاري پر ظن د کافرانو د قوم شعیب و، ولې چې شعیب علیه السلام دمخه تر نبوت پر دوی انکار نه کاوه، نو ددوی دا خیال ؤ چې شعیب زمونږ پر ملت دی، نو ځکه یې لتعدن ورته ووایل، او بل ځواب روح المعاني دا راوړی چې دا خبره بناً ده پر تلبیس د رئیسانو پر خلګو چې شیعب دمخه زمونږ په دین ؤ، او یو بل ځواب چې هغه هم روح المعاني راوړی دی او دې پر په زړه پورې او محقق ځواب دی هغه دادی چې دا آیت پر طریقه د هغه آیت دی چې خدای پاک وایي "الله ولي الذین آمنوا یخرجوهم من الظلمات الی النور والذین کفروا اولیاؤهم الطاغوت یخرجونهم من النور الی الظلمات" ولې چې اخراج خو هم دخول سابق غواړي په دواړو ځایو کې، او سره ددې چې اخراج له ظلمات ځخه د کفر ونور ته خو په ایمان مؤمن اصلي کې نسته، او داغه رنګه اخراج له نور ځخه وه ظلماتو د کفر خو په کافر اصلي کې نسته، لکن چونکه هر یو د مؤمن اصلي او د کافر اصلي قدرت درلودی مؤمن اصلي پر کفر لکونه مختاراً او چون مؤمن اصلي سره د قدرته پر کفر ایمان مختاره کړی په توفیق د خدای ﷻ، نو ګویا خدای ﷻ دی را وه ایستی له تاریکیو ځخه د کفر ممکن له وه نور ایماني ته، او داغه رنګه کافر اصلي چونکه قدرت پر نور ایماني درلودی لکونه مختاراً من عنده تعالی لکن چونکه ده کفر مختار کړی نو ګویا طاغوت او شیطان دی را وه ایستی له نور ایماني ممکن ځخه و ظلماتو ته د کفر، غور کول په کار دی ځواب د پر دقیق او تطبیق د مانحن فیه یعني او لتعودن آه پر هغه ځواب مذکور ادق دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالَ اَوَلَوْ كُنَّا كٰرِهِيْنَ ۝

شعیب علیه السلام ورته وویل که څه هم موږ په جبر او زور سره د کراهت زمونږ عود وملت ته ستاسي وي.

قانون نحوي: هر ځای چې په قرآن مجید کې وروسته تر همزه د استفهام حرف عطف یا واو یا فأ یا ثم راسي، همزه خو د پاره د انکار دی او حرف عطف خو تر همزه دمخه پر یو شي نه سي عطف کېدای، ولي چې د همزه صدارت فوتېږي نو معطوف علیه به یې د مقام سره مناسب محذوف او مقدر وي: والتقدیر هکذا اتعبدوننا في ملتکم لو کنا طائعین وهذا هو المعطوف علیه المقدر، ولو کنا کارهین وهذا هو المعطوف.

سوال: تا خو دا خبره په خپل تفسیر کې نور ځایونه هم کړې ده، نو تکرار ته ددې خبره څه ضرورت وؤ؟

ځواب: هو! دا خبره ما دمخه هم کړې ده، لکن تکرار یې په سبب ددې دی چې طالبانو او مطالعه کونکو د تفسیر ته دا ښه ټینګ او مقرر سي، ولې چې ډېرو طالبانو بلکې بعض امامانو دا قانون تر اوسه نه دی اوربدلی.

قَدِ افْتَرَيْنَا عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اِنْ عُدْنَا فِيْ مِلَّتِكُمْ

نو به موږ پر خدای ﷻ درواغ ویلي وي که چېرې موږ عود وکړو ستاسي وملت ته، یعني ما خو تاسي ته ویلي وه چې زه نبي د خدای یم او زه یې امر کړی یم چې تاسي ته تبلیغ د توحید د خدای ﷻ وکړم، نو که زه بالفرض والتقدیر عود ستاسي وه ملت ته د شرک وکړم، نو هغه دمخه خبرې چې ما تاسي ته دمخه کړې دي، هغه نو تولې ما پر خدای ﷻ دروغ ویلي وه.

بَعْدَ اِذْ نَجّٰىنَا اللّٰهُ مِنْهَا ؕ

وروسته تر دې چې خدای پاک موږ ته نجات را په برخه کړی وؤ ستاسي له ملت څخه

پوه سه: چې ځواب د شرط محذوف دی په دلیل د ماقبل یعني قد افترینا آه، او کلمه د افترینا که څه هم ماضي ده لکن دلته په معنا د مضارع ده، ولي چې عود که وي خو آئینده به وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَا يَكُونُ لَنَآ أَنْ نَّعُودَ فِيهَآ

ای ما صح و ما ثبت لنا چې موږ به ګرځو په ملت سټاسې.

دروښ وايي: چې په دې عبارت سره شعیب علیه السلام خپل او د اصحابو اظهار د استقامت وکړی پر اسلام او اجتناب عن الشرک، لکن چونکه په دې اظهار کې شبه د نفس د تذکیه او د ملګرو وه او اظهار د خوف د مایؤل الیه الامر نه ؤ لان الخاتمة مستورة، دستي د تدارک اظهار وکړی په دې قول سره.

إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّنَا

مګر که خدای ﷻ اراده زموږ د خذلان وکړي "لان الکفر بمشیته تعالی یضل من یشآء ویهدي من یشآء لامرد لمشیته تعالی.

فائده: استثناً دلته مفرغ ده مستثنی منه یې محذوف دی یعني في حال من او وقت من الاوقات الا حالة مشیته تعالی ذالک او وقت مشیته تعالی ذالک ای العود الی ملتکم.

دروښ وايي: چې انبیاً علیهم الصلوة والسلام په اجماع سره مامون العاقبة دی لکن مع هذا دوی تزکیه د نفس نه کوي او کارونه ټوله حتی کفر او اسلام وه مشیت ته د خدای ﷻ سپاري ولهذا ورد في دعاً سید المرسلین ﷺ یا مقلب القلوب ثبت قلبي علی دینک.

دروښ وايي: چې صاحب د روح البیان ددې استثناً داسې ترجمه کړې ده چې شعیب علیه السلام د ربنا لفظ ووایه او عنوان د ربوبیت د خدای ﷻ یې ذکر کړی تنبیه یې پر دې وکړه چې مشیت د خدای ﷻ د ارتداد دده محاله ده قطعاً. لکن دا توجیه دده ضعیف ده علی مامر من توجیه الاستثنا علی رائ المحققین فافهم هداک الله.

وَسِعَ رَبُّنَا كُلَّ شَىْءٍ عِلْمًا

او فراخه دی رب زموږ از روی علم.

پوه سه: چې "علما" منصوب دی بنا پر تمیز دی چې دمخه فاعل ؤ او تقدیر یې داسې دی چې "وسع علم ربنا کل شئ" نو حاصل ددې آیت دادی چې خدای ﷻ خبر دی په حالاتو د بندګانو او په ما یؤل الله امر العباد من الکفر والایمان وبالعکس، په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حدیث کي د بخاري او مسلم داسي راغلي دي قال رسول الله ﷺ "الذي لا اله غيره" قسم په خدای ﷻ چي يو ستاسي عمل کوي په عمل د اهل النار حتی چي دده او د اور تر منځ يو گز ځای پاته وي مگر په نبز د خدای ﷻ جنتي ليکل سوی. نو هغه کتاب سبقت پر وکړی، نو بيا دی عمل مختاره کړي د اهل الجنة يعني ايمان راوړي او عمل صالح مختاره کړي. نو جنت ته داخل سي.

دروښ وايي: چي عکس يې کېدای سي کما جاً ايضاً في کتاب البخاري فتامّل في عکسه.

عَلَى اللّٰهِ تَوَكَّلْنَا

خاص پر خدای ﷻ دی توکل زمونږ چي پر ايمان مو ثابت ولري. او يقين مو پر خدای ﷻ ډېر کړي، او د اشرارو او د کفارو له شر څخه مو وساتي. بيا چي شعيب عليه السلام د قوم له ايمان څخه نا اميده سو، نو په مناجات د رب العالمين سره يې شروع وکړه.

رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ وَأَنْتَ خَيْرُ الْفَاتِحِينَ ﴿٨٩﴾

اې زمونږ خدايه ته حکم او قضاوت وکړې زمونږ يعني شعيب واتباعه او په منځ کي د قوم زمونږ يعني الکفار په حق فيصله سره چي محق او مبطل سره جلا کړي او ته اې خدايه خير د حکم کونکو او د فيصله کونکو او د قضاوت کونکو يې، سعدي شيرازي وايي.

چون فرو آيد بلابی دفعی — جز تضرع نبود ديگر دافعی

وَقَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ قَوْمِهِ لَئِنِ اتَّبَعْتُمْ شُعَيْبًا إِنَّكُمْ إِذًا لَخَاسِرُونَ ﴿٩٠﴾

او وويل هغه رئيسانو چي کافران وه له قوم څخه د شعيب عليه السلام يعني وخواري طبقې ته د قوم که چېرې تاسي متابعت وکړئ د شعيب په دين کي دده او خپل دين شرک پرېږدئ په تحقيق تاسي ياست په دغه وخت کي په تاوان کي، ولي چي تاسي بدل کړی خپل هدايت چي شرک دی، ددوی په زعم په ضلالت د شعيب ددوی په فاسد و فکرو سره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې په دې آیت کې قسم محذوف ستة چې لام مؤطئه د قسم د لالت پر وکړي او بل ان شرطیه سته چې دا دواړه جواب غواړي. نو "انکم اذاً لخاسرون" ساد مسد د دواړو د جواب ده ومثله في القرآن کثیر.

پوه سه: چې دا جمله یعني "قال الملأ" عطف ده پر هغه جمله "وقال الملأ الذین استکبروا الآیة" دا خبره دوی هلته وکړه چې کلکوالی د شعیب علیه السلام ومن معه من المؤمنین یې ولیدی او اشراف د قوم د شعیب علیه السلام وبهر بدل چې خواره طبقه د قوم د شعیب متابعت ونه کړي په دین کې دده د پاره د نفرت د خواري طبقې له دین څخه د شعیب علیه السلام پر طریقه د توکید قسمي لئن تبعتم الآیة.

فَأَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوا فِي دَارِهِمْ جٰثِمِينَ ﴿٩١﴾

نو دوی ونیول زلزلې، قال الکلبي رحمه الله نو دوی وګرځېدله په خپله مدینه او وطن کې ټوله مړه.

پوه سه: چې ابن عباس رضي الله عنه او نور راویان د واقعې وایي چې یوه دروازه د جهنم خدای پاک پر دوی را خلاصه کړه، نو دېره سخته ګرمي پر دوی مسلطه سول. چې تنفس ددوی به بند سو نه سایې فائده ورته کول او نه د غسل اوبو فائده ورته کول، نو دوی په زهر خاتو یا په غازو د غرو نتوتل، نو هغه ځایونه به دېر تاوده وه تر دې باندې، نو دوی ټوله ولوی دښت ته وتښتېدل، نو خدای پاک یوه وریځ پیدا کړه چې ددوی د سرو سایه وان سوه او بنه یخ باد هم چلېدی، نو یو وبل ته یې سره ناري کړې چې راسئ بنه یخ پیدا سو او بنه یخ باد هم چلېږي، نو دوی چې ټوله سره غونډ سوه "رجالهم ونسائهم، صغیرهم وکبیرهم" نو خدای پاک له وریځې څخه پر دوی باندې اور وپاشه یعني د اور باران شروع سو، نو ټوله وسوځل سوه.

پوښتنه: کلبي رحمه الله څو وویل چې زلزله پر شروع سوه؟

ځواب: دا دوه روایته منافات نه سره لري ولې چې هم د اور باران شروع سو او هم زلزله، د زلزلې فایده دا وه چې پر مځکه کښېنې او یوې او بل خوا ته ونه ځغلي، او قتاده رحمه الله وایي چې شعیب علیه السلام نبي ؤ د اصحاب الایکة او د اهل مدین دواړو، نو اصحاب الایکة په اور بدلو د اور خدای پاک هلاک کړه چې یوم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الظلة يې بولي ورځ د هلاک ددوی، او پر اهل مدين زلزله او صيحة د جبرائيل مسلطه سوه فهلکوا جميعاً.

دروښ وايي: چې دا جمع د روايا تو په زړه پورې ده، هلاک د قوم د شعيب، او هغه روايت چې جريري کړی دی چې اووه ورځې پر دوی باد چلېدی او بيا پر دوی ګرمي مسلطه سوه کمامر، بيا دوی له لېرې څخه يو غر وليدی دو غره ته پناه وروړه تر غره لاندې ښې ولې او چينې وې، نو دوی تولـه تر غره لاندې سره جمع سول، نو خدای پاک غر پر راوه نړاوه فذالک يوم الظلة.

دروښ وايي: چې دډې قول نه د دمخه روايا تو سره جمع ممکنه ده اوه په صحيح نقل د ثقاتو ثابت دی والعلم عند الله تعالى.

الَّذِينَ كَذَّبُوا شُعَيْبًا كَأَنْ لَمْ يَغْنَوْا فِيهَا ۚ

هغه کسان چې تکذيب يې د شعيب عليه السلام کاوه داسې وګرځېدل ګويا دوی په خپل وطن اقامت او استوګنه نه وه کړې يعنې استيصالاً هلاک سوه.

بوه سه: چې عرب وايي "غنيت بالمکان اذا اقمت به والمغاني المنازل مفردها مغنى" الذين سره د صلې مبتدأ ده "کان لم يغنوا الخ" يې خبر دی.

فائده: الذين کذبوا آه" جمله مستانفه ده لبيان شوم قولهم لنخرجنک يا شعيب والذين آمنوا معک من قريتنا آه.

الَّذِينَ كَذَّبُوا شُعَيْبًا كَانُوا هُمُ الْخَاسِرِينَ ۝

بل استيناف دی لپاره د بيان د عقوبت د قول اخير ددوی يعنې او لتعودن في ملتنا آه، والمراد چې شعيب عليه السلام او من معه ددوی ملت ته نه وروا وښتل چې دوی به نو خاسرين وای، بلکې اعدا د شعيب عليه السلام خسر الدنيا والآخرة سوه، د دنيا خسران هلاک بالاستيصال سو، او د آخرت خسران يې اوسېدل په دوزخ کې ابد الآبدين.

فَتَوَلَّىٰ عَنْهُمْ وَقَالَ يَا قَوْمِ لَقَدْ أَبْلَغْتُكُمْ رِسَالَاتِ رَبِّي وَنَصَحْتُ لَكُمْ ۖ فَكَيْفَ آسَىٰ عَلَىٰ قَوْمٍ كَافِرِينَ ۝

نو روی ګرداني وکړه شعيب عليه السلام چې ولاړ ؤ ددوی په منع کې چې پر دوی عذاب نازل سو، او شعيب عليه السلام وويل چې ای قومه زما والله ما تاسي ته په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تحقیق رسول وکړه د رسالت د خدای زما. یعني ما ارسلت به من التوحید وترک الشرک وغیرهما ولهذا جمع لفظ الرسالات. او نصیحت مي درته وکړی.

پوه سه: چي دا خبره شعیب علیه السلام له جهته د شدت غم وکړه پر هلاک د قوم بیرته یې پر خپل ځان انکار وکړی یعني تأسف پر هلاک د قوم نو زه څه غم او غصه کوم پر هلاک د قوم چي کافران وه. ولي چي کافران اهل ددې نه دي چي سړی غمجن سي پر هلاک د هغو. ولي چي مستحق د داسي عذاب استیصالي وه. وفي المثنوي المعنوي.

چون شوم غمگین که غم شد سرنگون　　غم شمابودید ای قوم حرون
کژ مخوان ای راست خواننده بین　　کیف آسی خلف قوم ظالمین

وَمَآ اَرْسَلْنَا فِيْ قَرْيَةٍ مِّنْ نَّبِيٍّ اِلَّآ اَخَذْنَآ اَهْلَهَا بِالْبَاْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمْ يَضَّرَّعُوْنَ ﴿۹۴﴾

او موږ نه دی استولی په یوه قریه کي (قریه عام لفظ دی ښار او کلي دواړو ته وایي) "من نبي" د "مِن" لفظ زائد دی د پاره د تاکید د نفي او دلته دا محذوف دی "وکذب اهلها" یعني چي تکذیب د هغه اهل د قریې "الا اخذنا"

پوه سه: چي "الا" استثناً مفرغ ده من اعم الاحوال، والمعنی ما ارسلنا في قریة من القری المهلکة نبیاً من الانبیا في حال من الاحوال، موږ نه دی استولی په یوه قریه کي چي هلاک سوی وي اهل ددې یو نبي له انبیاؤ څخه په هیڅ حال کي د احوالو مګر په داسي حال کي چي موږ نیولي دي اهل د هغې قریې په باساً سره یعني په مسکنت او فقر سره او په ضراً سره یعني په امراضو سره یا د خپل ځان یا د اهل او اولاد. د هغه قریې اهل شاید او دپاره ددې چي دوی به عجز مختاره کړي او ذلیل به سي. او د کبر او استغناً من امر الله عزوجل کالي به وکاږي او د نبي امر او نهي به قبول کړي.

فائده: له دې آیته دا ښکاره سوه چي ځینې علماً چي وایي چي لفظ د "عسی، کاد او لعل" چي په قرآن کي راسي واجبة الوقوع هغه کار چي په هغه کي دا دریې لفظه استعمال سوي وي غلطه ده، ولي چي په دې آیت کي لفظ د لعل استعمال سو او تضرع د کافرانو واجبة الوقوع نه سوه کما لا یخفی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ثُمَّ بَدَّلْنَا مَكَانَ السَّيِّئَةِ الْحَسَنَةَ حَتّٰى عَفَوْا وَّقَالُوْا قَدْ مَسَّ اٰبَآءَنَا الضَّرَّآءُ وَالسَّرَّآءُ

وروسته چې موږ بدل کړو سيئه يعني فقر او ناجوړي په حسنه سره يعني په فراخي د رزق او جوړوالي د بدن، او په بارانو وغيره.

پوه سه: چې دوه امره چې خداى پاک پر کفارو راولي د امتحان لپاره په دواړو شيانو سره يعني سيئه او حسنه حتى چې دوى ډير سي ازروى عدد النفوس والاموال، نو دوى دا امتحان الهي نه بولي او دعوت و ايمان ته يې نه بولي بلکې دوى وايي رسېدلى ؤ پلرو او ټيکه ګانو ته زموږ ضراً او سراً يعني داد زماني عادت دى چې ګاهي سراً نازل سي او ګاهي ضراً پر هل د زماني ونسوا خالق الارض والسما يعني داضراً او سراً زموږ ابتلاً او امتحان نه دى له طرفه د خداى ﷻ.

پوه سه: چې سختى، فقر او مرض ته سيئه وايي، ولي چې دا سړى په غم کې اچوي، او فراخى ته رزق او جوړوالي ته حسنه وايي، ولي د هغې د خوشالى اثر پر انسان محسوس کېږي، ورنه د سيئه اصله معنا فعل قبيحه دى، والله تعالى منزه عن الفعل القبيح.

فائده: سيئه او حسنه له هغو الفاظو څخه دي چې ذکر د موصوف يعني فعلة نه غواړي نه په حال کې د افراد او نه د جمع خو ه دوى صفت د اعمالو واقع سي او که د حالت من الرخا والشدة، يو شاعر وايي.

عفوا من بعد اقلال وكانوا زماناً ليس عندهم بعير

پوه سه: چې اعفاً اللحية چې په حديث شريف کې راغلې ده هم له دغه عفوا څخه ماخوذ ده.

فَاَخَذْنٰهُمْ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ

نو دوى موږ ونيول يعني عذاب مو پر نازل کړى ناببره او دوى علم نه درلودى پر وخت د نزول د عذاب.

پوه سه: چې نزول د عذاب ناببره افظع او اشد دى، ولي ځوک چې علامات د نزول د عذاب وويني نو څه ناڅه سره يې علاقه پيدا کېږي بخلاف بغتة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَوْ اَنَّ اَهْلَ الْقُرٰٓى اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا

او که چېرې اهل د قریو یعني چې انبیاً ور استول کېږي، فالام في القری للعهد الخارجي ایمان یې راوړی وای پر انبیاً او پېره د خدای ﷻ څخه به یې کولای او معاصي به یې ګم نه کولای.

لَفَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَرَكٰتٍ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ

موږ به خلاص کړي وا پر دوی برکتونه د اسمان له خوا یعني بارانونه به پر وخت د ضرورت پر اوربدلای، او برکتونه د محکي ای النباتات والزروع والثمار. واصل البرکة الزیادة والمواظبة علی شئ.

دروښ وایي: چې موږ داسي وویل چې بارانونه پر وخت، ولي باران چې پر وخت د حاجت نه وي هغه مهوو ته زیان رسوي، کلي او نړۍ والو ته هم ضرر عظیم په ارمغان راوړي لکه په سنه ۱۲۲۸ هـ د جمادي الاول والثاني پر پاکستان او افغانستان او نورو ځایو د دوبي په څیله کي پرله پسې بارانونه شروع سوه انګور او نوري مېوې چې پختیا ته رسېدلي وې تولي یې ورسټې کړې او ډېر کلي او باندې یې یوړه او لوی لوی سړکان یې قطع کړه چې آمد رفت پر ممکن نه وُ د موټرانو، حتی چې لوی پیپ لائن د قدرتي ګاز یې هم له بلوچستان څخه قطع کړی او خلګ یې د ډېرو مشکلاتو د ډوډۍ او د کتغ پخېدلو سره مخامخ کړه چې په تاریخ کي د پاکستان او افغانستان د ډېرو کلو را ایسته دومره درنې واقعاتي نه وې روه نما سوي، ولي باران که نعمت دی خو پرځپل وخت باندي، ونعلم یقیناً ان للحکیم المطلق في مثل هذه الواقعات حکم لاتخفی، منها تخویف الناس من عذاب الدنیا بسبب المعاصي، ومنها عدم التکبر بالاموال والزروع والنباتات والثمار، ومنها اظهار الله ﷻ قدرته التامة علی الحسنة والسیئة الی غیر ذالک مما لم یعلمه الا الله ﷻ.

وَلٰكِنْ كَذَّبُوْا فَاَخَذْنٰهُمْ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿٩٦﴾

لکن دوی تکذیب وکړی د رسولانو زموږ، دوی ونیول په عقوبت سره د ماکانوا چې دوی یې کسب کاوه من الکفر والمعاصي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَفَاَمِنَ اَهْلُ الْقُرٰٓى اَنْ يَّاْتِيَهُمْ بَاْسُنَا بَيَاتًا وَّهُمْ نَآئِمُوْنَ ﴿۹۷﴾

آیا په امن کي دي اهل د قریو، یعني هغه قریې چې رسولان ورغلي وي او دوی یې تکذیب کړی وي. فاللام للعهد الخارجي، له دې ځخه چې رابدسي ودوی ته عذاب زموږ د شپې او په داسي حال کي چې دوی بیده وي.

پوه سه: چې دا جمله عطف ده علی قوله "فاخذناهم بغتة" او نوري جملې اعتراضیه دي بین المعطوفین. والحاصل چې وروسته تر دې چې موږ په عذاب ونیول اهل القری من الکافرین السابقین، آیا په امن کي دي اهل القری من مکة وماحولها من القری الکافرین بنبوة خاتم المرسلین محمد ﷺ.

پوه سه: چې له "نائمون" ځخه مراد حقیقت نوم نه دی بلکې مراد ځني غفلت دی که بیده وي او که نه وي.

اَوَاَمِنَ اَهْلُ الْقُرٰٓى اَنْ يَّاْتِيَهُمْ بَاْسُنَا ضُحًى وَّهُمْ يَلْعَبُوْنَ ﴿۹۸﴾

او یا په امن کي دي اهل د قریو المکذبین للرسل چې دوی ته راسي عذاب زموږ په وخت کي د څاښت یعني د ورځې، یعني که حقیقت څاښت که څه کم یا څه بالا وي په داسي وخت کي چې دوی به غافله وي په لهو ولعب به اخته وي.

اَفَاَمِنُوْا مَكْرَ اللّٰهِ ۚ فَلَا يَاْمَنُ مَكْرَ اللّٰهِ اِلَّا الْقَوْمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۹۹﴾

آیا په امن کي دي اهل القری له استدراج ځخه د خدای ﷻ کافرانو لره چې تر یو وخته دروازې د نعمتو پر خلاصي کړي وروسته یې په عذاب ونسي من حیث لا یحتسبون او نه په امن کي له استدراج ځخه د خدای ﷻ مګر هغه قوم چې په خسران کي واقع وي.

اَوَلَمْ يَهْدِ لِلَّذِيْنَ يَرِثُوْنَ الْاَرْضَ مِنْۢ بَعْدِ اَهْلِهَآ اَنْ لَّوْ نَشَآءُ اَصَبْنٰهُمْ بِذُنُوْبِهِمْ ۚ وَنَطْبَعُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُوْنَ ﴿۱۰۰﴾

پوه سه: چې استفهام دلته لپاره د توبیخ او سرزنش دی او هدایت یې په لام سره متعدي کړی ولې چې د هدایت معنا دلته تبیین دی ای لم تبین لهم، او مفعول د "یهدی" محذوف دی ای العاقبة، او فاعل یې "ان لو نشأ" دی او تر استفهام وروسته معطوف علیه د "ولم یهد" محذوف دی ای اغفلوا ولم یهد لهم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او معنی د "یرثون الارض آه" چې دوی قائم مقام د هغو کسانو دي چې تر دوی دمخه تېر سوي من الامم المهلكة او ديار او كورونه و دوی ته په ميراث پاته سوي دي، والمراد بالموصول اهل مكة ومن حولها، والمعنى اولم يتبين لهم ويوضح لهم عاقبة امرهم ان سلكوا طريق اسلافهم والمراد بالعاقبة ان يهلكوا كما هلك اسلافهم، او كلمه د "ان" مخففه ده مثقل دی او اسم يې ضمير شان محذوف دی، او خبر يې جمله شرطيه ده يعني لو نشأ آه او د بذنوبهم سره مضاف محذوف دی ای بجزاء ذنوبهم كما اصبنا من قبلهم.

سليسه معنا په پښتو: آيا غافله دي دوی يعني اهل مكه ومن حولها، او دوی ته نه ده معلومه سوې دا چې شان دادی كه موږ وغواړو دوی ته به موږ ورسوو جزاء او عقوبت او عذاب د دوی د گنهو لكه چې موږ جزاء او عذاب د گنهو تر دوی دمخه كسانو ته وركړی وو، او موږ به مهر ولگوو پر زړو د دوی د پاره د عقوبت ددوی پر اصرار پر كفر باندي، نو دوی به نه اوري اخبار د تېرو امتو فضلاً عن التدبر فيها.

پوښتنه: مهر خو ددوی پر زړو لگېږي، نو پر دې باندي تفريع د عدم سماع څرنگه ده؟

ځواب: زړه رئيس دی د ټولو اعضاؤ د بدن، نو مهر پر زړه سبب دی د عدم السماع بالقبول للموعظة.

دروښ وايي: چې مقصود دادی چې د تېرو سوو امتو له عذاب څخه پر كفر دي وروسته امتونه پند او عبرت واخلي او هغه كارونه دي نه كوي، قال الشاعر

پند گير از مصائب ديگران — تا نگيرند ديگران زتو پند
نرود مرغ سوی دانه فراز — چو ديگر مرغ بيند اندر بند

كاشفي رحمه الله په تفسير حسيني كي وايي: گوش دل از استماع سخن حق فائده دارد نه گوش آب وگل، وفي المثنوي.

اين سخن از گوش دل بايد شنود — گوش گل اينجا ندار هيچ سود
گوش سر باجمله حيوان همدم است — گوش دل مخصوص نسل آدم است

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تِلْكَ الْقُرٰى نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ اَنْۢبَآئِهَا ۚ

دغه قریه یعني وطنونه د قرٰی ماضیه وو لکه قوم نوح، قوم عاد، قوم ثمود، قوم لوط، او قوم شعیب، موصول سره د صلې مبتدا او "نقص" یې خبر دی، مورې قصې کړي دي بعض خبرونه د هغو نه ټوله، نو "من" د پاره د تبعیض دی یعنې چې تاسي عبرت ځنې واخلئ.

وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ۚ فَمَا كَانُوْا لِيُؤْمِنُوْا بِمَا كَذَّبُوْا مِنْ قَبْلُ ۚ

او په قسم او تحقیق راتګ کړی وُ رسولانو ددوی په معجزاتو چې بنکاره شاهد دي ددوی پر صدق په رسالت کې، نو دوی نه وه چې ایمان دي راوړي.

پوه سه: چې "لیؤمنوا" منصوب دی په حذف د نون اعراب په سبب د "ان" مقدره وروسته تر لام د انکار او جحود.

سوال: وروسته تر نون مصدري خو دا لفظ مصدر ګرځي، نو بیا حمل پر ضمیر د کانوا څرنګه روا دی؟

ځواب: مصدر په معنا د فاعل دی او یا محمول دی په تقدیر د ذو، والتقدیر ماکانوا مؤمنین، او ماکانوا ذوی ایمان بعد مجئ الرسل بالبینات.

پوه سه: چې په "بما" کې کلمه د ما موصوله ده او عائد یې محذوف دی ای بما کذبوه من قبل ای من قبل مجئ الرسل یعني التوحید بلکې دوی مستمر وه پر اشراک وتکذیب الرسل، او یا یې معنی داده فما کانوا لیؤمنوا مدة عمرهم بما کذبوا به اولاً یعني بالرسالة والشرائع کلها حین جائتهم الرسل ولم یؤثر فیهم دعوتهم المطاولة والآیات المتتابعة.

كَذٰلِكَ يَطْبَعُ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِ الْكٰفِرِيْنَ ۝

"کذالک" لکه دغه سخت مهر چې پر زړو د امم ماضیه وو چې خدای ﷻ اینبی وُ یعني په سبب د محبت د دوی د شرک سره او د تقلید د آباؤ او اجدادو، خدای ﷻ مهر لګولی دی پر زړو د کافرانو یعني من قومک، نو دوی هم ایمان نه راوړي او زړونه یې نه نرم کیږي په آیاتو او معجزاتو ستا او په انذار ستا یعني یا محمد ﷺ او په دې سره تسلي ده و نبي علیه السلام ته.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَا وَجَدْنَا لِأَكْثَرِهِمْ مِّنْ عَهْدٍ

او موږ نه دی موندلی اکثرو لره د کفارو د مکې من عهد ای الوفا بالعهد الذي عاهدوا مع النبي ﷺ حین نزل علیهم ضر ومخافة، نو دوی به علیه الصلوة والسلام ته ویل چې دعا وکړه که دا مصیبت او قحط وغیره خدای دفع کړي، نو به موږ ایمان راوړو قال الله تعالی فلما کشفنا مابهم من ضر للجوا في طغیانهم یعمهون" او یا به یې وخدای ﷻ ته زاري کولې "لئن انجینا من هذه لنکونن من الشاکرین" که ته نجات راکړې موږ ته له دې مصیبت څخه موږ به ګرځود شاکرانو بندګانو څخه. خدای پاک چې به هغه مصیبت ځنې دفع کړی دوی به بیرته خپل کفر ته دوام ورکړی او وفا به یې نه وکړه.

دروښ وایي: چې په موږ مسلمانانو کې هم دا رواج موجود دی چې یو سړی چې په یوه ګناه اخته وي مثلاً زنی، شرب الخمر، لواطت وغیرها نو په یو مصیبت مبتلا سي لکه ناجوړي، فقر وغیره نو خدای ﷻ ته زاری کوي که دې زه له دې مصیبت څخه خلاص کړم زما پر هغو ګناهو چې ما کولې توبه ده، نو چې خدای پاک هغه مصیبت ځنې پورته کړي څو ورځې وروسته بیرته په هغه ګناه اخته سي. اللهم احفظنا من مثل هذه التوبة من اجل المصیبة لا من خوف الله ﷻ، په ترجمه کې د جلد اخیر د فتوحات مکیه داسې راغلي دي چې موسی علیه السلام ته خدای پاک وحي وکړې چې هر چا چې تاته امید درورې بې برخې کوې به یې نه، او هر چا چې ستا څخه امان وغوښتی امان به ورکوې، موسی علیه السلام په سیاحت کې وې چې نابیره یې کوتره پر وږه کښېنستله. د کوترې غرض خو امان وو له موسی علیه السلام څخه ولې چې وروسته باز په پسې وو، او تر کوترې وروسته باز راغلی د موسی علیه السلام پر وږه کښېنستی چې غرض یې د کوترې ښکار وو، کوتره په قصد د امان د موسی علیه السلام په لستونې ننوتله، باز په فصیح ژبه و موسی علیه السلام ته وویل چې ای ابن عمران ما بې برخې مه ګرځوه او زما او زما د رزق چې کوتره ده جدایي مه اچوه یعني پرې میږده چې خپل کوتره وخورم، موسی علیه السلام وویل چې څرنګه ژر امتحان راباندې راغلی یعني چې که

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اوس کوتري ته امان ورکوې باز يې برخي کېږي او که د باز امید ورپر ځای کوې د کوتري امان قطع کېږي. نو يې له جبهه څخه چاقو را وکښې په دې قصد چې خپل د ورانه څخه به غوښه پرې کوې او باز ته به يې ورکوې. نو هم به د باز امید پر ځای سي او د کوتري امان به هم پوره سي. نو باز او کوتري په فصیح ژبه ورته وویل چې اې د عمران زویه تلوار مه کوه موږ ملکي یو ستا د امتحان د پاره راغلي یو چې ته وفاً بالعهد کوې او که نه. ابیات

ایا سامعاً لیس السماع بنافع ... اذا انت لم تفعل فما انت بسامع
اذا کنت في الدنیا عن الخیر عاجزاً ... فما انت في یوم القیامة صانع

دروبش وایي: چې پر دې خبره خو اجماع ده چې ټولو انبیاً علیهم السلام وفاً په خپلو وعدو سره کړې ده یعني په ادا کې د رسالت او په تبلیغ کې د احکامو د خدای ﷻ او پر دې هم اتفاق دی چې فساقو که کافران وي او که مسلمانانو نقض العهد يې کړی دی وان کان في نقض عهودهم تفاوت. خبره په هغه چا کې ده چې دعوه د ایمان او فرمانبرداری کوي. لکن یوه ورځ يې هم وفا بالعهد نه وي یعني په ایمان راوړلو سره، او په صحیح حدیث کې چې روایت يې عبد الرحمن بن عوف بن مالک اشجعي ﷺ کړی دی داسي راغلي دي "کنا عند رسول الله ﷺ (سبع او ثمانیة او تسعة نفر) فقال رسول الله ﷺ الا تبایعون رسول الله ﷺ (آیا د خدای ﷻ د رسول سره بیعت نه کوئ. او زموږ لږ زمانه کېده چې موږ دده سره بیعت کړی وؤ، نو موږ ورته وویل) قد بایعناک یا رسول الله (نو اوس موږ پر څه شي ستا سره بیعت وکړو؟ ده مبارک راته وویل) تعبدالله ولاتشرکوا به شیاً وتقیموا الصلوة الخمس وتطیعوا یعني الله ورسوله (یوه خبره يې کرار وکړه) ولاتسئلوا الناس (له خلګو څخه به سوال نه کوئ. راوي وایي چې ما ځني ددغو کسانو ولیدله چې پر آس به سپور وؤ غمچینه به يې ولوبدله او کښته به خلګ هم وه له هغو یوه څخه يې دا سوال نه کاوه چې زما غمچینه راکړه یعني خوفاً من نقض العهد واهتماماً بامر الوفا. نو وګوره اې مخاطبه وحال ته ددغو کسانو چې غمچینه به يې له لاسه ایله سوه له چا څخه به

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يې سوال نه کاوه، نو نور د دراهمو او متاع سوال به يې څرنګه کاوه، لکن په اوسنۍ زمانه کې د پاره د د جمع المال والنقود د مخ غوښې يې ټوی کړي وي او ټول عمر په سوال اخته وي مع غنائه اللهم صبراً.

وَإِن وَجَدْنَآ أَكْثَرَهُمْ لَفَٰسِقِينَ ﴿١٠٢﴾

دروښ وايي: چې ددې آيت په تفسير کې کوفيان وايي چې کلمه د "ان" نافيه ده او لام په "لفٰسقين" کې په معنا د الا دی يعني ماوجدنا اکثرهم الا فٰسقين يعني ناقضي عهودهم. او بصريان وايي چې "ان" مخففه د مثقل دی نو پر دې مذهب "وجدنا" په معنی د علمنا دی لان کلمة د مخففه من المثقله لاتدخل الا علی الافعال الداخلة علی المبتدأ والخبر وهو ههنا علمنا، نو د بصريانو په نېز معنی د آيت داسې ده انه شان دادی علمنا اکثرهم لفاسقين.

ثُمَّ بَعَثْنَا مِنۢ بَعْدِهِم مُّوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ

پوه سه: چې ضمير د "من بعدهم" راجع دی و "رسل" ته في قوله تعالی "جاءتهم رسلهم آه" والمراد نوح و هود و صالح ولوط وشعيب و موسیٰ عليهم السلام "بآياتنا" په معجزاتو سره چې ذکر به يې وروسته راسي و فرعون ته.

پوه سه: چې فرعون د معين سړي نوم نه دی بلکې د عمالکه وو هر بادشاه ته فرعون وايي، لکه د فارسيانو هر باچا ته چې کسریٰ وايي، او د رومیانو هر باچا ته قيصر وايي او د چنايانو باچا ته خاقان وايي او د يمن باچا ته تبيع وايي او د حبشې هر باچاته نجاشي وايي او قيل و هر باچاته د عربو وايي، او خليفه و هر باچاته د بغداد وايي، او سلطان و هر باچا ته د اهل سلجوق وايي، او د امريکايانو هر رئيس جمهور ته جارج وايي، او د مسلمانانو هر امير ته چې د اهل وعقد په مشوره سره وټاکل سي امير المؤمنين وايي يعني که په توپک سالاری او زور سره چې مسلط سي هغه ته امير المؤمنين نه وايي بلکې هغه ته رئيس جمهور وايي. او د فرعون موسیٰ اصلي نوم بعض وايي چې قابوس ؤ او بعض وايي چې نوم مصعب بن وليد بن ريان ؤ وهو الاشهر عند اهل التواريخ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَبِلَآيٰتِنَا فَظَلَمُوْا بِهَا

او و اشرافو او رئیسانو ته د فرعون "فظلموا بها" ای بالآیات، نو دوی ظلم وکړی په آیاتو سره د خدای ﷻ.

پوه سه: چې ظلم وضع ده په غیر کې د خپل ځای، نو دلته هم حق د آیاتو او معجزاتو خو دا وو چې دوی قبولي کړي او ایمان یې راوړی وای وهم کفروا بها مکان الایمان بها، ولهذا قال الله ﷻ ظلموا بها موضع کفروا بها.

فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِيْنَ

ته وګوره چې څرنګه سو اخیر کار د مفسدینو یعنې فرعون وقومه وهو الغرق في الیم کلهم اجمعین.

وَقَالَ مُوْسٰى يٰفِرْعَوْنُ اِنِّيْ رَسُوْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ

او وویل موسیٰ چې د فرعون په دربار کې اجازه تر لاسه کړه، ای فرعونه زه رسول یم له جانبه څخه د رب العالمین یعنې ته او ستا قوم به عبادت کوئ د رب العالمین او ته به دعوه د خدایي پرېږدې، فرعون ورته وویل کذبت ما انت برسول، نو موسی علیه السلام ورته وویل.

حَقِيْقٌ عَلٰٓى اَنْ لَّآ اَقُوْلَ عَلَى اللّٰهِ اِلَّا الْحَقَّ

پوه سه: چې نافع رحمه الله له قراؤ سبعه وو څخه د "علی" لفظ "عَلَيَّ" وایي په تشدید د یاء ای واجب علیَّ، نو دا جمله مستأنفه ده په ځواب کې د تکذیب د فرعون د موسی في دعوی الرسالة کما مر آنفاً او نور قاریان یې تولې په الف مقصوره وایي، نو اصل د علّی علي وُ په شد سره کما في قرائة نافع رحمه الله نو یا مشدده یې په الف سره بدله کړه والله اعلم بالصواب في مراده في القرآن، او بعض مفسران وایي چې علی دلته حرف جر دی په ځای کې د باء راغلی لافائدة التمکن والقدرة کما هو لازم لمعنی اللام، فالمعنی حقیق بان لا اقول آه لکه په دې محاوره کې د عربو رمیت القوس مکان رمیت بالقوس، ددې توجیه تائید کوي قرائت د ابي بن کعب، او د اعمش حقیق بان لا اقول آه بایراد صریح الباء موضع علی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَدْ جِئْتُكُمْ بِبَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ فَأَرْسِلْ مَعِيَ بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ ۝

په تحقیق سره مارا تګ کړی دی په معجزه بنکاره سره چې زما د رسالت شاهده ده، نو زما سره واستوه بني اسرائیل یعني پریږده چې زما سره ولاړ سي ارض مقدسه ته چې ددوی آبایي استوګن ځای دی، دا خبره موسی علیه السلام ددې د پاره وکړه چې فرعون بني اسرائیل په مصر کي د مریانو په توګه استعمالول په چا به یې خښتي جوړولې به ځینو به یې د پوالونه وهل په ځینو به یې خاوري چلولې الی غیر ذالک من الاعمال الشاقة، او د بني اسرائیلو بنځو به د فرعونیانو د کورو جارو کښي او نان وایي او اشپزي الی غیر ذالک کولې.

قَالَ إِن كُنتَ جِئْتَ بِـَٔايَةٍ فَأْتِ بِهَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّـٰدِقِينَ ۝

فرعون په ځواب کي وویل که ته یې چې راتګ دي کړی وي په آیت سره یعني معجزه پر صدق د رسالت ستا، نو ته یې راوړه یعني بنکاره یې کړه که ته یې د رښتیا ویونکو له ډلې ځخه.

پوه سه: چې "ان کنت" شرط دی پر جزا باندې ماقبل دلالت کوي.

فَأَلْقَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِينٌ ۝

نو موسی علیه السلام لکړه له لاسه ځخه ایله کړه، نو نابیره لکړه آپي مار سو.

پوه سه: چې ضمیر مؤنث و "عصا" ته راجع دی چې مؤنث سماعي ده، او ثعبان و لوی نر مار ته وایي.

پوښتنه: په بل ځای کي د قرآن کریم راغلي دي "کانها جان" او جان ځو نري مار ته وایي چې په پښتو یې کوچه مار بولي او په انسان پسي غورځي؟

ځواب: دا لکړه په جسد کي ثعبان مار وګرځېدله او په سرعت کي لکه جان داسي وه، او بعض مفسرین وایي چې اول وار به لکړه لکه جان مار داسي سوله کرار کرار به لوېدله ثعبان به ځني جوړ سو.

دروېش وایي: چې سید المفسرین عبد الله بن عباس رضي الله عنه او سدي رحمه الله وایي لکړه چې موسی علیه السلام ایله کړه نو ژړ مار به سوه او پر شا یې وېښتان وه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لکه لوی نهږي، نو ثعبان خوله خلاصه کړه اتیا ګزه او لاندې زامه یې پر مخکه کښېښول او لوړه زامه یې پر دېوالـه د قصر فرعون کښېښول او د فرعون پر خوا ور روان سو، فرعون ځنې میدان کړه او په پرتاګه کې اودس بې اختیاره ځنې مات سو، او خلګو له بېرې یو او بل په ډګو سره وهل او په دې ازدحام کې پینځه ویشت کسه هړه سوه، فرعون په منډه منډه کې موسی علیه السلام ته ورنږدې کړې چې زه تاته د هغه خدای روی نسم چې ته یې را استولی یې لکړه دې واخله زه به پر تا ایمان راوړم او بنې اسرائیل به ستا سره ازاد کړم هره خواته چې یې بیا یې بویه ځه، موسی علیه السلام چې مارته ورحمله کړه هغه پخوانۍ نږی لکړه سوه. بیا فرعون ورته وویل "هل معک" یعنې ته بله معجزه لرې.

وَنَزَعَ يَدَهُ فَإِذَا هِيَ بَيْضَاءُ لِلنَّاظِرِينَ ﴿١٠٨﴾

بیا موسی علیه السلام وروسته تر دې چې لاس په ګرېبان دننه کړې را وه یې کښی لاس، نو ناببره لاس دده سپین ږو کتونکو ته، یعنې په داسې سپین والې سره چې خارج عن العادة ؤ، لها شعاع غلب نور الشمس یعجب الناظرین، وروسته یې بیرته لاس په ګرېبان دننه کړې چې را وه یې ایستی پر پخوانۍ حالت ؤ غنم رنګه.

قَالَ الْمَلَأُ مِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَ إِنَّ هَٰذَا لَسَاحِرٌ عَلِيمٌ ﴿١٠٩﴾

وویل اشرافو له قوم څخه د فرعون په تحقیق سره دا موسی سحر ګر او ډېر ماهر دی په علم سحر کې، ولې دی چشم بندي کوي د خلګو چې ددوی په ستر ګو کې لکړه په صورت د مار بنکاره کوي وفي الحقیقة لیست العصا حیة، او غنم رنګه لاس د خلګو په نظر کې سپین بنکاره کوي ولیست الید في الحقیقة کذالک کما هو معنی السحر یعني ارائة الشئ علی خلاف ما هو علیه في الواقع.

سوال: په دې آیت اسناد د قول مذکوره و ملأ ته وکړی او په سورة الشعراء کې و فرعون ته، ولې او سبب یې څه دی؟

ځواب: دا قول له فرعون او ملأ دواړو څخه صادر دی ددوی په مشوره کې، نو خدای ﷻ حکایت د فرعون د قول وکړی په سورة الشعراء کې او دلته یې حکایت د ملأ د قول وکړی، او یا دا خبره اولاً فرعون وکړه او ملأ یې متابعت وکړی او ملأ دا خبر تر تابعانو پورې ورسول.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يُرِيدُ أَن يُخْرِجَكُم مِّنْ أَرْضِكُمْ فَمَاذَا تَأْمُرُونَ ﴿١١٠﴾

دا سړی یعنې موسی علیه السلام اراده لري چې تاسي وباسي له خپلې مځکې څخه یعنې مصر، او په ځای کې زموږ بنې اسرائیل پر سر د قدرت راولي، نو تاسي څه امر کوئ.

پوه سه: چې "ما" په "ماذا" کې په محل کې د نصب دی مفعول ثاني د "تأمرون" دی بحذف الجار ای فبما ذا والمفعول الاول محذوف، والتقدیر باي شئ تأمروننې، وکلمة فأ جزأ للشرط المحذوف ای اذا کان الامر کذالک یعنې دا سړی یرید الخ فما ذا آه.

فائده: احتمال لري چې دا کلام دې هغه باقي کلام د مشورینو و فرعون ته وي نو امر پر خپل حقیقت دی ولې چې فرعون خو آمر وؤ پر دوی او یا د تأمرون معنی دې تشیرون وي، او یا دا خبره اشرافو د فرعون په خپل منځ کې سره کوله، نو پر دې تقدیر یا معنی د تأمرون تشیرون ده، او یا پر خپل حقیقت دی، ولې چې مستشار منه د حیثیت معلم دی او مرشد دی نو گویا امیر دی پر مسترشد، او قائل ددوی فرعون دی و خپلو خواصو خلگو ته چې په ملأ سره تعبیر ځنې وسو، نو بیا حتماً تأمرون په معنا د تشیرون دی، ولې چې فرعون خو ملأ آمرین خپل نه گڼل فافهم.

قَالُوا أَرْجِهْ وَأَخَاهُ

دوی وویل فرعون ته چې ته د موسی او ده د ورور کار ځنډوه یعنې مه ایمان پر راوړه او مه یې وژنه او مه عذاب ورکوه، حتی چې دده حقیقت حال معلومیږي چې رسول دی که ساحر.

پوه سه: چې اصل د "ارجه" ارجئه بهمزة ساکنة و ها مضمومه، ومعنی الارجاء التاخیر ثم حذف الهمزة تخفیفاً وحذف ضمة الهاء بالجزم لکونه امراً فصار ارجه.

وَأَرْسِلْ فِي الْمَدَائِنِ حَاشِرِينَ ﴿١١١﴾

او واستوه و بنارونه چې په نواحي کې د مصر واقع دي چې په هغو بنارو کې استاذان د سحر موجود وه، مراد له حاشرین څخه عساکر د فرعون، او نور خلگ چې تولې غټ غټ ساحران د موسی علیه السلام د مقابلې د پاره جمع راولي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يَأْتُوكَ بِكُلِّ سَحِيرٍ عَلِيمٍ ﴿

تاته راولي هر ساحر چي فائق وي په علم سحر کي وکلمة عليم صيغة المبالغة ځکه دروښ په ترجمه کي فائق ووايه.

پوه سه: چي يأتوک جواب د امر دی يعني ارسل غرض ددوی دا وُ که موسی غالب سو پر ساحرانو نو موږ به دده تصديق وکړو او ايمان به پرې راوړو، او که ساحران غالب سوه پر موسی، نو موږ به پوه سو چي رسول نه دی بلکې ساحر دی، نو د ساحر کاذب په دعوی کي د رسالت به چال چلند ورسره وکړو يعني يا قتل يا حبس ياتعذيب، بغوي رحمه الله وايي چي ابن عباس رضي الله عنه او سدي او ابن اسحاق وايي چي فرعون چي د خدای ﷻ قدرت د موسی عليه السلام په لکړه کي ولیدی، نو يې وويل چي موږ پر موسی نه سو غالب کېدای مګر دده د قوم بني اسرائيلو په نفرو، نو يو څو ځوانان د بني اسرائيلو يې واستول يوې قريې ته چي عرما يې نوم وه چي هغو ته سحر وښيي، نو دوی و هغو ته د پر سحر ور وښودی، او فرعون د موسی عليه السلام د مقابلې د پاره يو وخت تاکلی وُ، نو فرعون و هغو ته سړی ور واستاوه چي تاسي څه وکړه هغه سړه د معلم راغله او فرعون ته يې وويل چي موږ دومره سحر زده کړی چي د مخکي ټوله ساحران زموږ سره مقابله نه سي کولای مګر د مقابل طرف کار د اسمان له خوا څخه دی يعني رسول بالحق دی لانه لاطاقة لنا به چي د مقابل طرف څخه موسی عليه السلام وُ، بيا فرعون په خپل سلطنت کي نفر واستول چي هر ځای چي لوی ساحر وي حاضر يې کړئ، مقاتل رحمه الله وايي چي د فرعون عسکرو دواووياً (۷۲) ساحران راوستل چي دوه د قبط د قبيلې وه چي يو په هغو دوو کي رئيس وُ او نوم يې شمعون وُ او اوويا کسه د بني اسرائيلو څخه وه.

دروښ وايي: چي د دوشپېته (۶۲) روايت د تفاسيرو په او تواريخو په کتابو کي دېر مشهور دی وبالقبول جدير، او کعب وايي چي ددولس زره کسه وه او سدي وايي چي دېرش زره کسه په څو زره بالا وه، او عکرمه وايي چي اوويا زره کسه وه، محمد بن المنکدر وايي چي اتيا زره کسان وه، دروښ وايي والله اعلم بعددهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَجَآءَ السَّحَرَةُ فِرْعَوْنَ قَالُوْٓا اِنَّ لَنَا لَاَجْرًا اِنْ كُنَّا نَحْنُ الْغٰلِبِيْنَ ﴿۱۱۳﴾

څه وخت چې ساحران سره د حاشرانو ددوی حاضر سوه فرعون ته دوی وویل دا جمله مستانفه ده چې ساحران فرعون ته ورغله، نو یې څه ورته وویل.

ترجمه: ساحران چې فرعون ته ورغله نو یې ورته وویل چې موږ لره غټه مزدوري پر تا واجب ده که موږ سوو غالبین پر موسی باندې.

بوه سه: چې نافع او ابن کثیر او حفص رحمهم الله "ان لنا لاجراً" په یوه همزه وایي چې جمله خبریه سي او معنی یې ایجاب الاجر سي، کانهم قالوا لابد من اجر، او تنکیر د "اجراً" د پاره د تعظیم دی، او نور قاریان یې په دوو همزو وایي یعنې "آاِن لنا آه" نو معنا یې استفهام دی یعنې آیا موږ ته به لویه مزدوري راکړې که موږ غالب سوو پر موسی:

قَالَ نَعَمْ وَاِنَّكُمْ لَمِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ ﴿۱۱۴﴾

فرعون ورته وویل هو! اجر خو به وي او په تحقیق تاسي زما په دربار کې د نژدې کسانو څخه یاست.

بوه سه: چې ځواب د فرعون پر تقدیر د اخبار دا یې معنا ده چې اجر عظیم ستاسي خو پر ما واجب دی، او پر تقدیر د استفهام خو یې معنا ظاهره ده.

دروښ وایي: چې که څه هم په ځواب کې د ساحرانو خو یوازې د نعم لفظ کافي وُ د فرعون له خوا، لکن فرعون د دې پر باعثه کولو د ساحرانو دا پیغام ورزیات کړی "وانکم آه" حقیقت حال دادی چې فرعون په دې ره بېره کې د موسی د لاسه په دې سبب چې سبب زما د زوال د سلطنت وښه ګرځي، نو له دې کبله یې کوشش هم دې پر کاوه او ساحرانو د انعام د "انکم آه" هم پیش کړی. لکن گفته اند که التقدیر یضحک علی التدبیر، قال الله تعالی وانا لنصر رسلنا. پس شک نیست که درجای مقابله حق وباطل حق غالب می آید وباطل مضحل میگردد.

قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى اِمَّآ اَنْ تُلْقِيَ وَاِمَّآ اَنْ نَّكُوْنَ نَحْنُ الْمُلْقِيْنَ ﴿۱۱۵﴾

ساحرانو وویل یا موسی یا به ته لکړه اچوې پر مخکه او یا به موږ خپلې لکړې او رسۍ اچوو پر مخکه باندې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې سبب د تخیر د موسیٰ علیه السلام اظهار د جلادة او قوة خپل ؤ یعنې زمونږ باک نه کېږي که ستا القاً دمخه سې او که زمونږ.

قَالَ أَلْقُوا۟ ۚ

موسی علیه السلام ورته وویل چې تاسې (القاً) اچول وکړي ددې لپاره موسی علیه السلام دا ورته وویل چې دوی داډه وه په خپل غلبه سره.

سوال: سحر خو ګناه کبیره ده نو موسی علیه السلام دوی څرنګه امر کړه په القاً؟

ځواب: دا اجازه او امر د سحر نه دی، ولې چې دوی خو سحر کاوه البته صرف خبره یې په تقدیم او تأخیر کې ده نو دوی ته یې وویل القوا.

فَلَمَّآ أَلْقَوْا۟ سَحَرُوٓا۟ أَعْيُنَ ٱلنَّاسِ

چې ساحرانو خپلې لګړې او رسۍ پر مځکه واچولې دوی سحر وکړی پر ستر ګو د خلګو. یعنې سترګې یې د خلګو په واړولې له ادارک څخه د حقیقت د لګړو او د رسۍ، بلکې د خلګو په سترګو داسې معلومېدلې چې دا لګړې او دا رسۍ ددوی افې ماران دي لکه غرونه په یوه میل مځکه کې او دلته چې شپله هغه ددوی د جعلي مارانو څخه ډک سوه.

وَٱسْتَرْهَبُوهُمْ وَجَآءُو بِسِحْرٍ عَظِيمٍ ﴿١١٦﴾

او خلګ یې ویږول او راتګ یې وکړی په لوی سحر سره.

وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنْ أَلْقِ عَصَاكَ ۖ

موږ وحي وکړې وموسی علیه السلام ته هغه وخت چې په زړه کې د موسی بهره پیدا سوه په دې معنی چې زه که لګړه ورغورځوم زما لګړه به هم یو افعي مار سي، نو حق او باطل به څرنګه سره جلا سي په بل ځای کې د قرآن مبارک راغلي دي" القِ ما في یمینک تلقف ما صنعوا انما صنعوا کید ساحر ولا یفلح الساحر حیث اتی" نو باره موسی خپله لګړه ومیدان ته ور وغورځول.

فَإِذَا هِىَ تَلْقَفُ مَا يَأْفِكُونَ ﴿١١٧﴾

نو ناګاه لګړه د موسی لوی مار سو چې ځغاستی، ابن زید وایي چې اجتماع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د دوی په اسکندریه کي وه، او لکی د مار تر بحیرة وه آخوا ته تپره سوه خوله یې وازه کړه اتیا گزه.

فَوَقَعَ الْحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١١٨﴾

چي د لکړي د موسی علیه السلام چي دونه عظیم مار ځندي جوړ سو په خوله نه نیستی او تیر یې هغه ماران چي په درواغوجوړ سوی وه یعنې په سحر یعنې هغه لکړي او رسی چي د خلگو په سترگو کي ماران ایسپدله.

پوه سه: چي کلمه د "ما" موصوله ده او عائد یې محذوف دی ای ماکانوا یعملونه، او یا مصدریه دی مصدر یې په معنی د مفعول دی، راوي وایي چي وروسته لکړي هغه سحر ساخته ماران وخوړل، نو پر حاضرینو یې مخ راواړوی خلگو په ډېر ازدحام سره میدان کړه حتی چي ډېر کسان د ازدحام له سببه هلاک سوه باره موسی علیه السلام ورحمله کړه فصارت عصی کما کانت، نو سحر گرانو سره وویل که دا سحر وای نو باید زموږ لکړي او رسی پر ځای پاته وای که څه هم چشم بندي د خلگو د منځه تللې وای اوس چي هغه تولي نیست او نابود سوې نو معلومه سوه چي دا کار په قدرت عظیمه د خدای وسو او دا ثابته سوه چي موسی لکه چي وایي رسول د خدای ﷻ دی.

فَغُلِبُوا هُنَالِكَ وَانْقَلَبُوا صَاغِرِينَ ﴿١١٩﴾ وَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سَاجِدِينَ ﴿١٢٠﴾

نو حق ثابت سو او باطل سوه هغه څه چي ساحرانو یې په سحر سره عمل کړی ؤ. نو فرعون او قوم دده مغلوبه سوه په دې مقابله کي د موسی علیه السلام او وگرځېدی خپل ښار ته ذلیل او خوار.

پوښتنه: چي القی مجهوله صیغه ده، نو معلومه صیغه یې ولي نه راوړه؟

ځواب: بعض وایي چي اظهار الحق دوی مجبوره کړه وسجدې ته او بې اختیاره یې سجده وکړه، او بعض مفسرین وایي چي خدای ﷻ ودوی ته الهام وکړی چي سجده وکړئ، نو دوی سجده وکړه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۙ رَبِّ مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ۝

نو سحره وو وویل چې موږ ایمان راوړی دی پر رب العالمین چې رب د موسیٰ او هارون دی.

پوه سه: چې رب ثاني بدل دی د رب اول څخه او وجه ددې ابدال داده چې څوک توهم ونه کړي چې مراد له رب العالمین څخه فرعون دی چې هغه خو هم دعوه د ربوبیت کړې وه. ابن عباس رضی الله عنه وایي چې سحرګرانو چې ایمان راوړی شپږ لکه خلګو د بني اسرائیلو هم اعلان د متابعت د موسی علیه السلام وکړی.

قَالَ فِرْعَوْنُ اٰمَنْتُمْ بِهٖ

وویل فرعون و سحرګرانو ته چې تاسي ایمان راوړی که په یوه همزه آمنتم وي چې جمله خبریه سي، او که په دوو همزو وي "اامنتم" نو جمله استفهامیه ده، والمعنی آیا تاسي ایمان راوړی، او دا دواړه قرائته متواتره دي او ضمیر د به راجع یا و لفظ الله ته دی او یا و موسی ته دی.

قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَكُمْ ۭ

دمخه تر دې چې ما اجازه درکولای تاسي ته یعني په حیث د مشر توب زما، باید تاسي زما سره صلاح په ایمان راوړو کې کړې وای.

دروښ وایي: چې فرعون چې په دومره لویه اجتماع کې خجل سو او بېرېدی چې قبط به هم ایمان راوړي، نو د خجالت د رفع د پاره یې و سحره وو ته په حضور د قوم داسي وویل.

اِنَّ هٰذَا لَمَكْرٌ مَّكَرْتُمُوْهُ فِي الْمَدِيْنَةِ لِتُخْرِجُوْا مِنْهَآ اَهْلَهَا ۚ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۝

په تحقیق دا یو چم و، ستاسي او د ده په مشوره تاسي دا چم په ښار کې د مصر وکړی، چې تاسي وباسئ له دې ښار څخه اهل د دې ښار چې قبطیان دي. او ښار به وتاسي ساحرانو او بني اسرائیلو ته پاته سي، ژر دی چې تاسي به پوه سئ یعني زه په تاسي څه کوم دا یو اجمالي پېښ رو د فرعون ؤ وساحرانو ته. او په تفصیل کې فرعون دوی ته داسي وویل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ مِّنْ خِلَافٍ

هر آینه زه به درپرې کړم لاسونه ستاسي او پښې ستاسي پر مخالف طرف، یعني راسته لاس او چپه پښه.

پوښتنه: په "من خلاف" پرېکولو کې حکمت څه دی؟.

ځواب: د فقهي شریفي د سرقه په بحث کې وایې که یو چا غلا وکړه اول دې راسته لاس ور پرېکړي. نو که یې عبرت واخستی خو ښه، او که یې بیا غلا وکړه چپه پښه دې ور پرېکړي حکمت یې دا بیان کړی دی چې که د سړي لاس او پښه دواړه پر یوه طرف پرېسي بیا پر لکړه هم نه سي تلای، او که یې جهت مخالف وبیا پر لکړه تلای سي، نو د فرعون هم شاید دا مطلب و، چې من خلاف لاسونه او پښې پرې سي، نو که له متابعت څخه د موسی یې لاس واخستی او مو پرېښولـه هغه به پر لکړه تګ کولای سي، او که مو عبرت نه واخستی. نو بیا فرعون ورته وویل.

ثُمَّ لَأُصَلِّبَنَّكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿١٢٤﴾

وبما قلنا ظهر وجه د ایراد د ثم په صلب کې فافهم، وروسته به مو زه په دار کړم ژوندي او په نسو کې به مو نهڅره وهم تر څو چې مړه کېږئ کما هو معنی الصلب في کتب اللغة. دا ظلم چې فرعون وکړی نو داسي یې وکړه چې پر غاړه د نهر مصر پر درختو د خرما یې دوی په دار کړه وهو اول من سن الصلب. نو چونکه دا یو سخت عذاب ؤ نو ځکه شریعت پاک د قطاع الطریق چې لوی مجرمان دي د پاره دغه صلب جزاً تاکلې ده. فرعون دوی ته وویل چې دا به ستاسي رسوایي وي او نورو ته به عبرت وي.

دروښ وایي: چې چونکه په زړو کې د مؤمنانو د سحره فرعون قوي ځای نیولی ؤ. نو ځکه یې داسي ورته وویل.

قَالُوا إِنَّا إِلَىٰ رَبِّنَا مُنقَلِبُونَ ﴿١٢٥﴾

مورږ چې په هر ډول مړه سو و خدای ﷻ ته راجع کېږو. خدای پاک به مورږ ته ثواب ونه د قتل فظیع ستاراکړي. قال المولوي المعنوي في مواضع شتی من مثنویه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جا نها بسته اند ر آب و گل چون رهند از آب وگلها شاد دل
در هوا یی عشق حق ر قصان شوند همچوقرص بدربی نقصان شوند
چون نقاب تن برفت از روی روح از لقای دوست دارد صد فتوح
میزند جان درجهان آب گون نعره یالیت قوی یعلمون

وَمَا تَنقِمُ مِنَّآ إِلَّآ أَنْ ءَامَنَّا بِـَٔايَـٰتِ رَبِّنَا لَمَّا جَآءَتْنَا

او ته اې فرعونه مبغوض او منکر نه بولي زموږ څخه مګر دا فعل چې موږ ایمان په دلائلو سره د قدرت د رب زموږ چې موږ ته راغلې او موږ ولیدلې پر لاس د موسی علیه السلام نو موږ ایمان راوړی یعنون لا اله الا الله وموسی رسول الله، او دا فعل خو سبب د نفرت نه دی بلکې په عوض د عذاب کې باید تا موږ ته احسنتم ویلای وای او ته هم زموږ پر لار روان سوی وای.

دروبش وایي: چې ساحران د فرعون چې هر څو وه د زړه له کومې یې ایمان راوړی و، او د فرعون د سخت عذاب سره مخامخ سوه او پر ځان ببرېدله چې نباید د عذاب د فرعون له کبله بیرته ایمان له لاسه ورنه کړو، نو یې خدای ﷻ ته تضرع او خواست او زاری د صبر شروع کړې او د ثبات پر ایمان خدا داده یې داسي وویل.

رَبَّنَآ أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَتَوَفَّنَا مُسْلِمِينَ

اې زموږ خدایه پر موږ توی کړې لکه اوبه چې پر سړي توی کړې یعني لوی په دکه پیمانه موږ ته صبر راکړې پر عذاب موعوده د فرعون، چې خدای ناخواسته دا عذاب مفضي و ارتداد ته زموږ نه وسي، او موږ وفات کړې ثابتین پر دین اسلام، سعدي رحمه الله درباب تضرع الی الله وقت الابتلاً چنین گفته

چون فرود آید بلابی دافعی جز تضرع نبود دیگر شافعی

دروبش وایي: چې معرفت الهي او عشق الهي چې سحره وو ته حاصل سو، لکن مصرع که عشق آسان نمود اول ولي افتاد مشکلها، حافظ شیرازي رحمه الله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَقَالَ الْمَلَأُ مِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَ اَتَذَرُ مُوْسٰى وَقَوْمَهٗ لِيُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ

او وویل د فرعون د قوم اشرافو آیا ته پریږدي (استفهام انکاري دی) موسیٰ او قوم دده ددې د پاره چې فساد وکړي په مځکه کې (یعني ارض مصر) یعني خلګو ته دعوت ورکوي ستا و مخالفت ته یعني ستا ربوبیت نه منې.

پوه سه: چې مراد له قوم څخه د موسی هغه کسان دي چې بنې اسرائیل وه او پر موسی علیه السلام یې ایمان راوړی ؤ که څه هم دوی کار صلاح لکن ملأ فرعون له جهته د صلابت په ربوبیت کې د فرعون کارکردګي د موسی علیه السلام او قوم چې عین صلاح وه په نامه د فساد نامزده کړه.

وَيَذَرَكَ وَاٰلِهَتَكَ

چې تا پریږدي یعني ستا عبادت، او ستا معبودات فلا یعبدون لک ولالهها "ولیذرک" عطف دی پر "یفسدوا" باندې.

دروښ وایي: چې ددې آیت په تفسیر کې اختلاف دی، بعض مفسران وایي چې فرعون یوه غوا درلوده ډېره ښائسته وه د هغې عبادت یې کاوه، نو قوم فرعون چې به یوه ښه غوا پیدا کړه نو د هغې عبادت به یې کاوه، وهذا القول وان کان مرویاً عن ابن عباس رضی الله عنه لکن روایته عنه فیه ضعف في الاسناد فهو غیر مرضي لان فرعون مع دعواه انا ربکم الاعلی کې یعقل ان یعبد بقرة ویأمر قومه بعبادة البقرات، او بعض مفسران وایي چې د فرعون په غاړه صلیب ؤ د هغه عبادت یې کاوه، وهذا القول ایضاً ضعیف، او صحیح تفسیر هغه دی چې له سدي رحمه الله علیه څخه روایت دی او برسوي او الوسي هم دغه تفسیر صحیح بللی دی. چې فرعون خپل د شکل ډېر بتان جوړ کړل او قوم ته یې وویل چې تاسو ددغو بتانو عبادت کوئ ولې چې وهر سړي ته زما د شخص عبادت ګران دی. نو عمومي خلګ چې ددغو بتانو عبادت کوئ نو لکه زما عبادت چې کوي. نو له "الهتک" څخه دغه بتان مراد دي نو ځکه فرعون به ویل انا ربکم الاعلی یعني دغه بتان څو ستاسي آلهة او معبودات دي في الوقت وانا ربکم الاعلی والله اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالَ سَنُقَتِّلُ اَبْنَآءَهُمْ وَنَسْتَحْيٖ نِسَآءَهُمْ ۚ وَاِنَّا فَوْقَهُمْ قٰهِرُوْنَ ۝

فرعون وويل وخپلو اشرافو ته د قوم چې موږ به وژنو زامن يعني نوی نسل د بني اسرائيلو او ژوندي به پريږدو ښځينه عيال ددوی د پاره د خدمت زمونږ.

پوه شه: چې تسميه په نسا سره په اعتبار د مايؤل اليه ده كما في قوله تعالى في سورة يوسف "اني اراني في المنام اني اعصر خمراً" اى عنباً يؤل الى الخمر يعني كما فعلنا ببني اسرائيل من قبل، او په تحقيق موږ پردوی غالب او لاس لوړي يو. او بني اسرائيل لكه پخوا مغلوب دي، ابن عباس رضي الله عنه وايي چې فرعون نوزائده زامن د بني اسرائيلو وژله په سبب ددې چې كاهنانو ورته ويلي وه چې په بني اسرائيلو كې يو هلك زېږي چې ستا د سلطنت د زوال سبب به هغه گرځي، هغه وخت چې فرعون خوب ليدلی ؤ چې پر مصر يو اور راوگرځي چې قبط تولې وسوځي او بني اسرائيل ژوندي پاته سي، نو اوس فرعون وخپل قوم ته وويل چې بيا از سرنو قتل الابنا راگرځوم تاچې بني اسرائيل په دې پوه سي چې موږ پر خپل قهر او غلبه پاته يو او دا تو هم څوک ونه كړي چې موسى هغه مولود دی چې سبب زما د زوال د مملكت دي وگرځي لكه كاهنانو چې ماته زما د خوب په اثر كې ويلي وه، نو بيا يې قتل عام د ابنا د بني اسرائيلو از سرنو شروع كړی، نو بني اسرائيلو و موسى عليه السلام ته داسي شكايت كوی له كار او عذابه د فرعون.

قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهِ اسْتَعِيْنُوْا بِاللّٰهِ وَاصْبِرُوْا ۚ

موسى عليه السلام وخپل قوم ته وويل چې مرسته وغواړئ له خداى ﷻ څخه په تضرع او عاجزی سره او دعا او توكل پر هغه باندې وكړئ، او صبر وكړئ پر هغه ازار چې تاسي ته رسېږي د فرعون او د قوم له خوا څخه، ولې چې دا تولې په اراده د خداى ﷻ دي او ستاسي د پاره امتحان دی.

اِنَّ الْاَرْضَ لِلّٰهِ ۙ يُوْرِثُهَا مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ۭ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ ۝

په تحقيق مځكه د خداى ﷻ ده په ميراث يعني په تصرف او ملكيت يې هغه چاته وركوي چې د خداى ﷻ خوښه يعني كافر اكان او مؤمناً لا اعتراض عليه تعالى لاحد كما قال في موضع آخر لا يسئل عما يفعل وهم يسئلون، او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جزاً د حسناتو او ابدي نېک بختي او جنت وغیرها د پاره د هغو کسانو دی چې خپل حیات فاني په ببره کې د خدای پاک تېر کړی وي چې هغه ببره سبب دی د امتثال د اوامرو د خدای ﷻ او پرهېز له منهیاتو څخه. نو باید مؤمن صبر وکړي پر مصائبو د دنیا په طلب د اجرت او ثواب باقي د دار الآخرة.

فائده: جزاً ته د فعل عقبی او عاقبت وایي له دې کبله پر عقب د عمل راځي لکن عقبی او عاقبت په ثواب او نېه جزاً د حسناتو سره خاص دی او دغه رنګه عقب مختص بالثواب دی او عقوبت او عاقبت او عقاب خاص په عذاب او سوء جزاً د سیئاتو پورې خاص دی فتأمل في هذه الآيات القرآنية تدرک تلک الخصوصية. قال الله تعالى اولئک ای المؤمنين لهم عقبى الدار ونعم عقبى الدار ايضاً في المؤمنين وخير عقباً في ثواب المؤمنين فحق عقاب في الكافرين شديد العقاب ای للكافرين وان عاقبتم فعاقبوا بمثل ماعوقبتم في اجزية السيئات. احتمال سته چې ان الارض لله الی اخیره وعده د خدای دي د اسرائیلو سره چې محکمه د مصر به تاسي ته میراث وروسته تر هلاک د فرعون و تاسي ته به خدای ﷻ درکړي کومک او ظفر پر فرعون باندي وقد كان كذالک اذ لاخلف في وعده.

قَالُوْٓا اُوْذِيْنَا مِنْ قَبْلِ اَنْ تَاْتِيَنَا وَمِنْۢ بَعْدِ مَا جِئْتَنَا ؕ

بنې اسرائیلو موسی علیه السلام ته وویل چې موږ ته ازار رسېدلی وُ د فرعون له خوا یعني بقتل الابناً دمخه تر دې چې موږ ته راتلې په نبوت او رسالت سره، او وروسته تر دې چې ته موږ ته په رسالت راغلې باعادة فرعون قتل الابناً علينا وهو المعنى الاظهر من سياق الآيات، او بعض مفسرین وایي چې له دې آیت څخه مراد دادی چې فرعون مسخر کړي وه بنې اسرائیل په سختو کارو سره تر نصف نهار پورې بلا اجر او خبنتي به یې وهلي له محکي څخه د فرعون او چې موسی راغلی تو له ورځ به یې سخت کارونه په کول او د خپلو محکو خبنتي به یې په منبلي.

قَالَ عَسٰى رَبُّكُمْ اَنْ يُّهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِى الْاَرْضِ فَيَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُوْنَ ۧ

وویل موسی علیه السلام وبنې اسرائیلو ته چې شکایت د ازار د فرعون یې وموسی ته وکړی بقولهم ومن بعد ماجئتنا چې شاید ستاسي دښمن به هلاک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړي يعني فرعون او تاسي ته به خلافت د مخکي د مصر درکړي او خدای ﷻ به وګوري چي تاسي څرنګه عمل کوئ، يعني چي د خدای ﷻ شکر وایاست او د خدای طاعت کوئ او ناشکري او معصيت کوئ.

پوه سه: چي خدای پاک په دې آيت وعده وکړه د بني اسرائيلو سره په نصر او بري پر فرعون، او اشاره يې ودې ته هم وکړه چي پر تاسي شکر واجب دی چي دا نعمت د خلافت د مصر تاسي ته وسپاري لکه په مخه آيت يعني "واصبروا" سره اشاره يې و واجب والي ته د صبر کړې وه عند ابتلاً بالشر، او خدای ﷻ خپله وعده پر ځای کړه چي فرعون يې غرق کړی او خلافت د مصر يې ودوی ته وسپاری لکن دوی په شکر کي ددې نعمت ناکامه سوه هين عبدوا العجل.

تاريخ خبري کوي او وايي چي څه وخت چي ساحران د فرعون مغلوبه سوه او رسالت د موسی عليه السلام و اوج ته د قبول ورسېدی او لکه لمر په اسمان کي درخشان سو، نو د بني اسرائيلو شپږ لکو کسانو ايمان پر راوړی او وعده د تقوی له شرک څخه يې د موسی عليه السلام سره وکړه، نو خدای ﷻ ددوی په باره کي په مخکني آيت کي "والعاقبة للمتقين" وعده ورکړه.

فائده: له دې آيتو څخه دا معلومه سوه چي استعانت بالله او صبر پر اذی له باب د تقوی دی، حافظ شيرازي وايي.

آنکه پيرانه سرم صحبت يوسف بنواخت
اجر صبر بيست که کلبه احزان کردم

او د فرعون د لوی جاه و جلال سره سره د هلاک او غرق څخه بني اسرائيلو لوی پند او عبرت بايد اخستی وای او په خلاف کي د دين سماوي د موسی عليه السلام يې بايد هيڅ وخت قدم نه وای پورته کړی لکن دوی داغسي ونه کړه، سعدي رحمه الله

پند گير از مصائب ديگران — تانگيرند ديگران زتو پند
نرود مرغ سوی دانه فراز — چو ديگر مرغ بيند اندر بند

وَلَقَدْ اَخَذْنَآ اٰلَ فِرْعَوْنَ بِالسِّنِيْنَ

لام موطئه د قسم محذوف دی ای والله لقد اخذنا او په قسم موږ آل د فرعون

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یعني قوم د فرعون او اهل دین دده لان آل الرجل هو خاصة یعني پردوی مسلط کړه قحط بعد قحط کما یدل علیه لفظ سنین بصیغة الجمع.

پوه سه: چي سنین جمع د سنة ده چي مطلق کال ته وایي لکن په غلبه د استعمال د کاختی کال ته وایي لکثرة ذکره في افواه الناس چنانچه یو وبل ته وایي د فلانی کاختی کال دی په یاد دی مثلاً، او تاریخ ګرځېدلی دی خلګ وایي خلګ وایي چي زه د لوی کاختی په کال زېږېدلی یم مثلاً حتی چي سنة لکه نوم د کاختی دی لکه لفظ د النجم غلب علی الثریا یعني پېرونی.

وَنَقْصٍ مِّنَ الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ ﴿١٣٠﴾

او په کم والي سره د ډول ډول مېوو کما یدل علیه لفظ الجمع په سبب د ډېرو آفتو لکه بېوخته بارانونه، قتاده رحمه الله وایي چي لوی تاثیر د کاختی پر اهل بوادي وو دی او لوی تاثیر د نقص الثمرات پر اهل د بښارو او پر اهل د هغو قریو چي ثمرات پکښې ډېر وي.

پوه سه: چي اصل د "یذکرون" یتذکرون" وُ تا یې په ذال بدله کړه او په ذال کي یې مدغمه کړه یعني چي شاید دوی به پند واخلي او فکر به ووهي چي دا مذکوره آفات په سبب د کفر ددوی او د ګهنو ددوی او زړونه به یې نرم سي. او رجوع و خدای ﷻ ته وکړي او ګنهونه به پرېږدي.

فَإِذَا جَاءَتْهُمُ الْحَسَنَةُ قَالُوا لَنَا هَٰذِهِ ۖ

پس هغه وخت چي را به غله یعني وبه رسېدله ودوی ته یو ښه خصلت لکه فراخي د رزق او عافیت، نو دوی به وویل چي موږ لره دغه حسنه یعني موږ یې مستحق چي عادت زموږ دادی چي ارزاق به مو فراخه وي یعني دا یې نه ویل چي دا احسان دی د خدای ﷻ تاچي شکر یې ویلای پر هغو د رب ﷻ.

وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَطَّيَّرُوا بِمُوسَىٰ وَمَن مَّعَهُ ۗ

او که به دوی ته ورسېدی یو خصلت سیئه یعني بد لکه کاختي یا امراض وغیره دوی به بد فالي کوله په موسی ومن معه یعني المؤمنین بموسی علیه السلام. او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دوی به ویله چې موسی ومن معه چې پیدا سوه مونږ په بلا وو مبتلا سوو یعني وخپلو بدو ته یې نسبت نه کاوه، سعید بن الجبیر او محمد بن المنکدر وایي چې بادشاهي د فرعون څلور سوه کاله وه او ټول ژوند یې شپږ سوه اوشل کاله وو. او په زمانه کې د سلطنت ده هیڅ مکروه رنځ وغیره نه ولیدلی. او نه یې تبه. لوږه لیدلې وه ولي که یې دا مکروهات لیدلي وای د خدایي دعوه به یې نه کولای.

دروښ وایي: چې څه وخت چې موسی علیه السلام مبعوث سو و فرعون او قوم ته ددې او ده یې له ایمان راوړلو څخه انکار وکړی او خدای ﷻ عذاب د سنین او نقص من الاموال پر مسلط کړی د پاره ددې چې دوی به شاید فکر وکړي چې دا دومره وخت دا آفات نه وه چې موسی راغلی او مونږ انکار وکړی، نو ددې آفاتو مخ سو، نو سبب به یې زمونږ کفر او عصیان دی، نو په ایمان راوړي لکن دوی هغسي ونه کړه بلکې بالعکس یې تسلسل د آفاتو د موسی علیه السلام او مؤمنانو شوم وبالـه دا ددوی غایت حماقت وو او اغراق ددوی په درياب کې د غباوت او قساوت قلبي وو، ولي چې دوی ته تر مشاهده د معجزات باهره وو د موسی علیه السلام په دې نه سوه پوه چې د حسناتو تسلسل پر مونږ صرف او صرف تفضل او احسان الهي وو او په عین حال کې زمونږ د شکر امتحان وو، لکن دوی هغسي ونه کړه او دعوت ته د موسی علیه السلام او معجزاتو باهره وو ته ددې یې په نظر د سحر وکتل او وعصیان او کفر ته یې دوام ورکړی. اخذتهم السنة وغیرها من الآفات لشوم اعمالهم عقوبة، نو دوی ته څکه خدای پاک ددوی د تطیر بموسی داسي وویل.

أَلَآ إِنَّمَا طَٰٓئِرُهُمْ عِندَ ٱللَّهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٣١﴾

آګاه اوسه چې طائر او شوم ددوی عندالله دی چې کفر او عصیان دی لکن وو پر خلګ په خپل شوم نه پوهېږي چې خپل شومي په بل پوري تړي کما قال قوم فرعون.

فائده سنیه: في لفظ الطائر والطیرة، پوه سه! چې د طیر معنی بدفالي ده والاسم المشتق منه الطیرة وهو الفال الردي واصلي ذالک ان العرب في الجاهلیة یو کار یا سفر چې به یې کاوه په مرغه یې فال کاوه، نو یو مرغی چې په یو مقصد پسي تلی او یو مرغه به یې خپل ولاړ کړی، نو هغه مرغه پر راسته طرف دده تهر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سو نو ده به مبارک او نېک فال وباله یعني دا کار کېږي او زما مقصد تر سره کېږي، دې ته دوی سانځ وایه، او که به مرغه پر چپه (کین) طرف دده تېر سو دوی به بد فالي په کوله او دا به ویل چې دا کار نه کېږي. او دې ته دوی بارح ویل نو دی بیرته کورته راتلی، لکن دا لفظ که څه هم په مرغه کي مستعمل سو لکن وروسته عام سو و هر شي ته چې نېک فالي او بد فالي په کېږي که څه هم مرغه نه وي، لکن علیه الصلوة والسلام طیره باطله بللې ده او داسې یې ویلي دي "الطیرة شرک" درې واره یې دا خبره وکړه.

پوه سه: چې شرک یې په دې اعتبار وبلله چې ددوی دا عقیده وه چې طیره ودوی ته جلب د نفع او دفع د ضرر کوي، نو چې دوی په مقتضی د طیره عمل وکړی، نو خدای پاک ته یې شریک پیدا کړی، وفي المحیط اذا صاحت الحمامة فقال رجل یمیت المریض الذي في الدار المذکورة کفر القائل عند بعض المشائخ. واذا اخرج الرجل من داره الی السفر فصاح العقعق فرجع من سفره کفر ایضاً عند بعض الفقهاً، په حدیث صحیح کي راغلي دي "الشوم في المرئة والفرس والدار، شوم المرئة سوءخلقها او غلاً مهرها وقیل ان لاتلد چې وچه وي، وشوم الفرس عدم انقیاده لصاحبها. وقیل ان لایغزی علیه وشوم الدار ضیقها او سوء جارها" عکرمه وایي چې په نېږد ابن عباس رضی الله عنه کارګه تېرېدی او د کاغ کاغ ناري یې وهلې، نو سړی دلته ناست وُ هغه وویل خیر خیر، یعني بد فالي یې په وکړه ابن عباس رضی الله عنه ورته وویل لاخیر ولا شر.

دروښ وایي: چې فقهاً ټوله اجماعاً لاباس ان یتفائل بالفال الحسن، ویدل علیه ما روی باسانید کثیرة ان رسول الله ﷺ یحب الفال ویکره الطیرة" فال حسن دادی چې یوه کلمه حسنه له یو چا څخه واوري مثلاً یو مسلمان په طلب کي د یو شي وُ بل مسلمان ورته وویل یاواجد ویا نجیح ده نېک فالي په وکړه چې خدای ﷻ به دا کر وکړي چې زه یې په طلب کي یم، یا یو مسلمان پر یو خوا په سفر ځي یو بل مسلمان ورته ووایي یا راشد یعني یا واجد دی په خوشاله سي او نېک فالي په وکړي، او یا یو سړی مریض وي بل سړی ورته ووایي یا سالم دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نېک فالي په وکړي فالتفائل بالامور المشروعة مشروع والطيرة منهي عنها، په حدیث کي د بخاري شریف راغلي دي چي علیه الصلوة والسلام په یوه استقا کي قلب الرداً وکره وذکر في الهداية انه كان تفاولاً من حضرت النبوة يعني قلب علينا قحوط المطر كما قلبنا ردائنا وكيفية ذالک القلب مذكور في الفقه وشروح احاديث البخاري فليراجع.

د تاریخ واقعي: په تاریخ کي راغلي دي چي د بعض امراً المسلمین په زمانه کي به د شپې له خوا ستوري ډېر لوېدل، امیر وېرېدی چي زما د مملکت د زوال یا د تفرق الرعایا خو به دلیل نه وي، نو یې منجمین او علماً راوغوښتل او ورته وه یې ویل چي ددې تساقط النجوم په کثرة تر عادت څه وایاست، نو هغو هیڅ جواب ورنه کړی چي د امیر دي زړه په پوره سي، نو جمیل چي یو شاعر ؤ داسي یې وویل:-

هذی النجوم تساقطت ..... لرجوم اعداً الامیر

نو امیر نېک فالي وکړه په دې شعر سره او زړه یې مطمئن سو او شاعر ته یې ښه انعام ورکړی.

وَقَالُوا مَهْمَا تَأْتِنَا بِهِ مِنْ آيَةٍ لِّتَسْحَرَنَا بِهَا فَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِينَ ۝

وویل فرعون او قوم ده و موسی علیه السلام ته هر شی چي ته راتګ په هغه سره وکړې د یوې معجزې او د علامې څخه پر صدق ستا په دعوی کي د نبوت چي ته سحر وکړې په هغه یعني پر سترګو زمونږ او اشتباه وکړې پر مونږ او مونږ وا ړوې له دینه زمونږ، نو نه یو مونږ تالره مصدقین په دعوی کي د رسالت.

پوه سه: چي ضمیر د مذکر و "مهما" ته راجع کول یعني به او بیا ضمیر د مؤنث ورته راجع کول یعني بها په اعتبار د لفظ مهما چي مفرد مذکر دی او په اعتبار د معنی د مهما چي مراد ځني آیات دی چي جمع مؤنث ده.

سوال: دوی څرنګه وما آتی به موسی علیه السلام ته آیت ووایه او سره ددې آیت خو معجزې او دلیل ته د صدق وایي او دوی خو هغه ما اتی به موسی دلیل او معجزه نه بلل؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: تسمیه په آیت سره پر زعم د موسی علیه السلام وه چې آیت یې بلی او یا یې استهزاءً ایت ورته وویل لا لاعتقادهم ذالک، ولذالک قالوا التسحرنابها، نو موسی علیه السلام چې دوی دا دردناکه خبره ورته وکړه دوی ته یې بښیرا وکړه.

فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الطُّوفَانَ وَالْجَرَادَ وَالْقُمَّلَ وَالضَّفَادِعَ وَالدَّمَ آيَاتٍ مُّفَصَّلَاتٍ

نو موږ راواستوی پر دوی طوفان یعني دېر باران چې سړی به کور ناست و اوبه به یې حلق ته رسېدلې او ملخان چې ددوی کښتونه به یې خوړله او شپږمې چې ددوی د غنمو په دانو کې به پیدا کېدلې او غنم دانې به یې خوړلې او خالي پوستکي په پاته کېدل، او هر طعام او اوبه چې په دوی خوړل او یا به یې اوبه ځیښلې په هغو کې به چنګوښې وې، حتی چې هره ګوله د بنسورو او غیره چې به دوی پورته کړه پر هغه به چونګوښه ناسته وه، او د لوښي سربسته اوبه چې به دوی ځیښلې چونګوښه به پکښې وه، او هري اوبه چې به دوی ځیښلې سړې وینې به وې او دا آیات مفصلات وه.

پوه سه: چې لفظ د آیات مفصلات حال دی له مذکوره شیانو څخه او د مفصلات معنی بعض مفسران داسي کوي لایخفی علی العاقل انها من عند الله ددوی د تعذیب د پاره، او بعض وایي چې مذکوره شیان یو له بله څخه په جلا جلا وختو کې پر دوی راتله چې د هرو دوو تر منځ به یوه میاشت او بعض وایي چې امتداد د هر عذاب خو به یې یوه هفته وه او فصل په منځ کې د دوو آیتو به یوه میاشت وه، تفصیل الآیتین (۱) مهما اسم شرط دی دوو فعلو ته جزم ورکوي کقولک ومهما تفعل افعل، هر کار چې ته یې کوې زه یې کولای سم (۲) طوفان هر دېر باران او سېل ته وایي چې کښتو او کورونه د خلګو خرابوي (۳) د جراد ترجمه حسیني په ملخ پرنده کړې ده قالوا لیس في الحیوة اکثر فساداً د اقوتو د انسانانو تر ملخانو.

مسئله: اجمع المسلمون علی اباحة اکله قال الآئمة یحل اکله سواء کان حتف انفه یعني په خپله او یا یې څوک حلال کړي یا یې مجوسي بنکار کړي یا مسلمان. والدلیل علی عموم الحدیث الصحیح قال رسول الله ﷺ احلت لنا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دمان الكبد والطحال وميتتان السمك والجراد (۴) ځيني لكه قبلا تېره سوه په شپوږي د غنمو چي سبوس يې هم بولي، او تفسير حسيني په ملخ پياده ترجمه کړې ده چې په پښتو يې تمبل ملخ بولي او کرک بازان يې کرکانو ته ورکوي، او ځيني مفسران وايي چې لوی منګوړان دي چې قردان يې هم بولي جمع د قرد. دا منګوړان آفت ؤ چې ددوی پر اوښانو به مسلط ؤ، ضرب المثل اسمع من قراد فلانی بنه اوري تر منګوړ، عرب وايي چې منګوړ د اوښ د پښو ترپی د يوې ورځې له منزله څخه اوري، نو لاري ته په حرکت سي چې قافله د اوښانو راسي پورې ومنبلي يعني د ښځو اوښو په غولانځو پورې، او حسن بصري رحمه الله دا لفظ قمل وايي بفتح القاف وسكون الميم چې مراد دغه شپوږي دي چې په بدن او وېښتانو کې د انسانانو پيدا کېږي چې صفايي د بدن او وېښتانو نه کوي.

تجربه غربيه: ښځه چې حامله وي او څوک دا غواړي چې دا معلومه کړي چې حمل به نر وي او که به ښځه، نو يوه شپږه راواخله د لوی يا د کوچني په لاس کې يې کښېږده او حامله ښځه دي په زوره شيدې پر ولوشي، نو که شپږه ژوندۍ تر شيدو ووتل، نو حمل يې ښځينه دی او که نه ووتل حمل يې نر دی، والله اعلم وما جربته انا (۵) ضفادع جمع د ضفدع ده على وزن خنصر وهو الاشهر الصحيح من حيث اللغة، او بعض خلګ چې يې په فتحه د دال وايي مثل درهم خليل پر هغه انکار کړی دی.

دروېش وايي: چې د چونګوښې دېر اقسام دي ابن سينا وايي که يو کال تر عادت بالا چونګوښې پيدا سي تر هغه وروسته وبا نازلېږي.

سوال: دا خبره اخبار بالغيب نه دی که څه رنګه؟

ځواب: دا خبره د ابن سينا د تجربې له کبله ده لکه دا اکثران چې وايي چې دا شربت يا ګولۍ د فلاني مرض دوا ده، وفي الوقعات المحمودية ان رؤية الضفدع في المنام نقصان خفي في ماله (۶) د طوفان ترجمه دمخه مورږ ذکر کړه لکن بعض اصحاب التواريخ الاسلامية وايي چې پر قوم د فرعون اته ورځې مسلسل باران وورېدی سره د ظلمة شديدة چې هيڅ څوک له کوره نه سوای وتلای، او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اوبه ددوی کوروته ورننولې حتی چې تر غاړو پورې د هر سړي ورسېدلې، او په کورو د بنې اسرائیلو اوبه نه ننوتلې که څه هم کورونه د قوم فرعون او بنې اسرائیلو سره گډوډ وه او دا د باران اوبه یې پر زراعتي مځکو یعنې د فرعون د قوم ودرېدلې چې دوی یې له کښت څخه منع کړه او اووه ورځې دا سلسله جاري وه (۷) فرعونیانو او په خپله فرعون هم موسی علیه السلام ته وویل چې ته خواست وکړه وخدای ﷻ ته چې دا باران زمونږ څخه دفعه کړي مونږ به پر تا ایمان راوړو او بنې اسرائیل به درسره کړو هرې خواته چې یې بیا یې، نو موسی علیه السلام خواست وکړی باران ودرېدی نو پر مځکه داسې رنگارنگ وابنه راشنه سوه چې دوی په ژوند نه وه لیدلې، نو فرعونیانو به په خپلو منځو کې سره ویل چې باران زمونږ د پاره نعمت سو، نو بیا یې و موسی علیه السلام ته وویل چې قسم دی که مونږ پر تا ایمان راوړو ونقضوا العهد او پر خپل کفر سالم یوه میاشت باقي وه (۸) بیا خدای پاک د موسی علیه السلام په ښېرا پر دوی مچغ مسلط کړل داسې په زرهاو ملخان وه چې یو پر بل به سره لوېدله یو گز پورته سوله و اکلوا زروعهم وثمارهم بلکې د لرگو دروازې یې هم وخوړلې او د فرعونیانو کالي یې هم وخوړله او د بنې اسرائیلو په کورو نه ورننوتل، په یو حدیث کې چې مظهري نقل کړی داسې راغلې دي چې د هر ملخ پر ځیگر به نوشته وه جند الله الاعظم یعنې لوی لښکر د خدای ﷻ، بیا دوی لکه مخنی وعده موسی علیه السلام ته ورکړه یعنې الایمان بک وارسال بنې اسرائیل معک، نو موسی علیه السلام صحرا ته ووتی او په لکړه به یې ملخانو ته اشاره کوله نحو المشرق والمغرب، نو ټوله مچغ ورک سوه فلم یبق جرادة واحدة چې ددوی په مځکو کې اووه شبانه روزه تېر کړي وه، نو د فرعونیانو په بعض اطرافو کې څه وابنه او کښتونه باقي وه، نو دوی سره وویل چې دا وابنه او کښتونه سږ کال زمونږ بس دي، نو موسی علیه السلام ته یې بیا خواب ورکړی چې مونږ پر تا ایمان نه راوړو او نه بنې اسرائیل درسره کوو ونقضوا العهد، نو بیا د موسی علیه السلام په ښېرا خدای پاک چونگوبنې مسلطي کړې، نو ددوی کورونه له چونگوبنو څخه ډک سوه او لوبنې یې هم ډک سوه، نو یو چا چې به د لوبنې سره لاس کړی د اوبو یا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د طعام نو چونگوښي به پکښې وې، او یو سړی چې به ناست و چونگوښي به یې تر زنې پورې وې او که په سړي اراده د خبرو کړې وای، نو چونگوښه به یې خولې ته وروغورځېدله، او د ددوی په کتو کې به چونگوښي موجودي وې، فیفسد علیهم طعامهم، او یو سړی چې به پرېوتی چونگوښي به پر سپرې سوې خوب یې هم نه سوای ځنې کولای، او سړي چې به خوله خلاصه کړه چې یو طعام وخوري، نو چونگوښه به تر گولې دمخه په خوله ورننوتل او کتو چې به یې پر اور باندې کړه د چونگوښو به ډکه سوله الی غیر ذالک، نو دوی چې له دې عذاب څخه تنگ سوه، نو موسی علیه السلام ته یې بغاري کړې چې ته خدای ته سوال وکړه چې دغه عذاب زمونږ څخه دفعه کړي نتوب ونوٴمن بک ونرسل معک بني اسرائیل، او بیا رجوع و کفر او عصیان ته نه کوو، نو موسی علیه السلام ددوی وعدې واخستې او سخت سخت قرارداد ونه یې ځنې واخستل، نو د موسی علیه السلام په خواست چونگوښي دفع سوې چې د یوې شنبې له ورځې څخه تر بلې شنبې تر ورځې پورې پر دوی مسلطي وې، نو یوه شپه دوی په ښه عافیت کې ژوند وکړی.

(۹) بیا دوی خپل عهود او وعدې د موسی علیه السلام سره ماتې کړې و عادوا الی کفرهم، بیا موسی علیه السلام له خدای پاک څخه بل عذاب وغوښتی هغه چې خدای پاک پر دوی باندې په صورت د وینو مسلط کړی حتی رود نیل به د وینو بهېدی، او ددوی د څښلو اوبه به وینې گرځېدلې، نو دوی چې به د څاهانو او د ولو اوبه راواخستې وجدوا دماً عبیطاً تازه سړې وینې به وې فشکوا الی فرعون فقال قد سحرکم، نو قوم و فرعون ته وویل کیف سحرنا او مونږ نه پیدا کوو په څاهانو او چینو کې مگر خالص وینې، تر دې اندازې پورې چې په یوه لوښي کې به اوبه وې د پاره د تجربې اسرائیلي او قبطي به په یوه وار خوله پر کښېښول د اسرائیلي خوا په خالص اوبه وې او د قبطي خوا به سړې وینې وې، او تر اندازې پورې معامله د وینو ورسېدله چې یوې ښځې به د آل فرعون د ډېرې تندې له کبله اسرائیلي ښځې ته وویل چې ته خو ستا له ژې (گودې) څخه یو څه اوبه زما ژې ته واچوه یعنې اسرائیلي ښځې به خالص اوبه ورواچولې د هغې په ژې کې به خالص سړې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وينې وگرځېدلې، تر دې اندازې پورې د خدای ﷻ قدرت ورسېدی چې قبطي
بنځې به اسرائيلي بنځې ته وويل چې ته ستا په خوله کې اوبه راواخله او زما په
خوله کې يې واچوه، اسرائيلي بنځې چې په دغسې وکړه نو د قبطي بنځې په
خوله کې به اوبه سرې وينې وگرځېدلې، راوي وايي چې فرعون عليه اللعنة ترې
سو په اوبو خو خبرې چې وينې گرځي، نو مجبور سو چې د لندو درختو بلگونه به
يې ژوول چې د تندي دفعه په وکړي نو چې وبه يې ژوول هغه اوبه به ده ته تروې او
سختې ترخې وگرځېدلې فمكثوا في ذالك سبعة ايام من سبت الى سبت (۱۰) بيا
فرعون او قوم دده و موسی عليه السلام ته راغله او ورته وه يې ويل چې ته خدای ته
سوال وکړه چې دغه عذاب د وينو زمونږ څخه پورته کړي، نو مونږ به پر تا ايمان
راوړو او بني اسرائيل په د تا سره درسره کړو هرچېرې چې ځې، نو هغو چې عذاب
د وينو خدای پاک پورته کړی، يوه مياشت يې بيا په عافيت کې تېره کړه
وروسته خدای پاک وايي.

فَاسْتَكْبَرُوا وَكَانُوا قَوْمًا مُّجْرِمِينَ ﴿١٣٣﴾

دوی بيا کبر وکړی له ايمان راوړلو څخه پر موسی او دوی وه قوم مجرمين،
يعني عادتهم الجرم على الجرم، والتكذيب على التكذيب.

تبصره: دروېش وايي: چې ددغو آفاتو چې پر فرعون او پر قوم دده مسلط
گرځېدلې وه او په قرآن کريم کې ذکر سوې دي، نو که څوک انکار له يوه څخه
هم وکړي کفر دی لانه تکذيب للقرآن، واما تفاصيل تلك الآفات لكه مونږ چې
ذکر کړې په کتابو کې د تفاسيرو مذکور مع الاختلاف بين التفاسير في
الاختصار والاطناب، او د تفاسيرو د اقوال استناد يا و سيد المفسرين عبدالله بن
عباس رضي الله عنه ته دی يا و قتاده ته يا عکرمه ته يا کلبي ته وغيرهم رحمهم الله تعالى
ته دی فالانكار عليها بدعة وغير جائز.

سوال: په تفصيل کې بعض حيرت انگېزه واقعات وي نو د هغو په باره کې
ستا څه نظر دی؟

ځواب: دا قرآني يعني په قرآن کې ذکر سوي آفات وارده پر فرعونيانو توله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حیرت انگیزه آفات دي، نو د عقل ادراک قاصر دی، نو دروښ ددې په باره کې بې تسلیمه بل څه نظر ظاهر کې لان الآفات المذکورة کلها صادرة بقدرة العزیز المتعال لا ینبغي للعاقل بل لا یجوز اظهار النظر لان العقل قاصر وقدرة الله تعالی عن امثال هذه اعلی واجل والتسلیم اسلم طریقة الناظر.

پوه سه: چې بعض جاهلان کتب فروشان او د پلار د ازار عاق کسان پر دروښ د حسد ژبه راباسي او ستر گي پټي کړي خوله وازه چې عبید الله په تفسیر کې داسي واقعات راوړي، او بیا که څوک نصیحت ورته وکړي چې د عبید الله یې څه هغه څو نقل له تفاسیرو څخه کړی دی پر ناقل څو تصحیح د نقل لازمه ده وبس، حاسد عذر از گناه بدتر جواب ورکړي چې عبید الله څو نو سارق دی، خواننده محترم برین جاهل فرق میان نقل وسرقه پوشیده مانده نمیدانند که مبنی دین اسلام همه و همه بر نقل است همگی تفسیرات شما مطالعه فرمائید مثل تفسیر الکبیر للعلامة الفخر الرازي رحمه الله وتفسیر القرطبي وتفسیر روح المعاني وتفسیر المدارک وتفسیر المظهري وتفسیر روح البیان الی غیر ذالکدرهمگی های این تفاسیر نقلیات بسیار بنظر شما می آید شما مهربانی کرده مقدمه درالمختار مطالعه نمائید که چه قدر از حاسدان نالیده، دروښ میگوید که حسد رسم قدیم است اول که حسد همراه کبر سرزدشده از ابلیس لعین بوده ثم وثم الی الآن اگر حسد نمی بودی علاج آن بسید البشر ﷺ خداوند متعال درسورة الفلق نیاموختی "قل اعوذ برب الفلق" الی ان قال ومن شر حاسد اذا حسد.

و لا انا من قید الحسود بآمن و لا طاعن یعیب ولا یتدبر
هم یحسدوننی وشر الناس کلهم من عاش في الناس یوما غیر محسود

به تاریخ ابن سعد رحمه الله آمده است که یک شخص از عالم بزرگ وکلان بغداد فرسید که شما درباره بغداد چه نظر دارید که کدام چیز دربغداد نباشد پس وضع بغداد خوبتر میگردد آن عالم حاسد گفت شراب خوری وزنا ومذهب ابی حنیفه پس اینچنین علمای کبار صاحب المذهب که زیر بار حسد حاسدان آمده اند که

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عبید الله درصف تعالی آنانست از حاسدان خود چه گله نماید، بلکه شادان باید باشد که حسنات حاسدان از دفتر ایشان محو شده به او می آید.

درتاریخ بلکه درکتب تفاسیر و احادیث شریفه خوانده باشی که انکار علما یهود که دین حضرت البشر ﷺ قبول نمیکردند مبنی آن حسد وحب الجاه والجلال بوده "یعرفونه کما یعرفون ابنائهم" درشان ایشان نازل شده، دربخاری آمده که وقتیکه عبد الله بن سلام رضی الله عنه که عالم برجسته یهود بودند باپسران عم شان ایمان اوردند، امیر المؤمنین عمر رضی الله عنه روزی از عبدالله رضی الله عنه پرسید درآیت "یعرفونه آه" که شما چه طور بودید عبد الله رضی الله عنه گفت که شناخت من بحضرت الرسالة بالاتر بوده از شناخت پسرخود، عمر رضی الله عنه گفت چرا؟ عبد الله رضی الله عنه گفت که شناخت من بحضرت الرسالة از جهت کتاب الله تورات بوده که درو هیچ گنائش کذب نبوده یعني معرفت من بحضرت الرسالة ﷺ از نعوت او بوده که درتورات مذکور بوده، و اما پسر من چه یقین دارم که درواقع پسر ما است چرا که امکان دارد که مادرپسر من خیانت کرده باشد، یعني زناً، پس عمر رضی الله عنه سر عبدالله رضی الله عنه را بوسیده که ایمان همان طور باید بود. ع... این سخن پایان ندارد

وَلَمَّا وَقَعَ عَلَيْهِمُ الرِّجْزُ

دروبش وایي: چي اکثره مفسرین پر دې رایه دي چي مراد له رجز څخه هغه مذکوره عذابونه من الطوفان وغیره لکن سعید بن جبیر رضی الله عنه وایي مراد له رجز څخه طاعون دی چي شپږم عذاب دی چي دمخه نه دی ذکر سوی چي په دې طاعون اوویا زره کسان په یوه ورځ مړه سوه. نو تر مابنامه یې په دفن اخته وه.

دروبش وایي: چي دلته بحث د قبطیانو په عذابو کي ؤ، ځکه صاحب د روح البیان په تفسیر کي د رجز وایي ای العذاب المذکور من الطوفان وغیره وهکذا فسره السید الآلوسي، او تفسیر مظهري هم داسي ویلي دي ای جنس العذاب من الطوفان وغیره، واما الطاعون الذي ذکره سعید بن الجبیر رحمه الله مخالف دی له هغه حدیث څخه چي روایت یې اسامه بن زید کړی دی، او بخاري، مسلم او ترمذي ذکر کړی دی قال قال رسول الله ﷺ الطاعون رجز علی بني اسرائیل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الی اخیر الحدیث والله اعلم بالصواب وعنده علم ما في الكتاب.

پوه سه: چې د سعید بن جبیر ﷺ پر قول دا سوال هم وارد ېږي چې پر تقدیر د سعید بن جبیر ﷺ دا قول چې دی وایي چې دا شپږم عذاب دی چې دمخه نه دی ذکر سوی حاصل د سوال دادی چې په سابقه آیاتو کې خو نهه (۹) عذابه ذکر سوي دي او دا طاعون چې ورسره ضم کړې خو لس عذابه گرځي وهو یخالف صریح قوله تعالی "ولقد آتینا موسی تسع آیات آه"

دروښ وایي: چې ددې سوال ځواب ځینې مفسرینو په یحتمل ولیټ سره ورکړی دی چې په عالم التوجیه کې دې باندې جواب دی والله اعلم.

علامه بغداد السید محمود الآلوسي رحمة الله عليه په خپل تفسیر روح المعاني کې وایي په تفسیر کې د رجز د ابي عبدالله ﷺ څخه په روایت چې دا رجز سره واوروه چې هیڅ چا له قوم څخه د فرعون نه ولیدلی نو ده پر خلګ تر لاندې مړه سوه انتهی.

دروښ وایي: چې پر دې تفسیر هم هغه سوال وارد ېږي لکه پر تفسیر د ابن جبیر رضي الله عنه چې دا عذاب خو دمخه نه و ذکر سوی، نو دا عذاب و هغو عذابو ته ورضم کړي، نو خو عذابونه لس گرځي وهو یخالف قوله تعالی ولقد آتینا موسی تسع آیات الخ.

دروښ وایي: چې د تفسیرو سره سره هغه اول تفسیر اولی او ارجح دی یعنې چې مراد له رجس څخه هغه نهه عذابونه دي پر قوم د فرعون مسلط سوي المذکورة في الآیات السابقة من الطوفان والجراد والضفادع الی اخیرها.

قَالُوا يٰمُوسَى ادْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِنْدَكَ

(قالوا) یعني فرعون وقومه یعني في کل مرة من وقوع الرجز هکذا فسره اکثر المفسرین، اې موسی ته دعا وکړه زمونږ د پاره یعني په رفع کې د عذاب.

پوه سه: چې حرف جر متعلق دی په "ادع" پورې او ما مصدریه دی. والمعنی بعهده تعالی عندک والمراد به هو النبوة کما قال عطا رحمة الله عليه.

پوښتنه: نبوت ته ولې عهد وایي؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: عهد ویل خو له جهته د مبالغې دی، ولې چې اصلاً معهود به دی فانه تعالی لما بعثه رسولاً اوصاه بتحمل اعباء الرسالة والشفقة والرفق بالناس ومن مقتضی الرفق الدعاء لهم برفع البلاء عنهم، او یا کلمه د ما موصوله ده ای بالذي عهد الیک من اجابة دعوتک او کشف العذاب منا ان آمنا.

لَئِنْ كَشَفْتَ عَنَّا الرِّجْزَ لَنُؤْمِنَنَّ لَكَ وَلَنُرْسِلَنَّ مَعَكَ بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ ﴿١٣٤﴾

لام موطئه د قسم دی یعنې زموږ دې ستا په نبوت قسم وي که تا لهرې او دفع کړی له زموږ څخه دغه عذاب یعنې ستا په دعاء خدای ﷻ راڅخه دفع کړی هر آئینه موږ پر تا باندې ایمان راوړو، او موږ په ستا سره استوو بنې اسرائیل و شام ته، یعنې ستا دوې مطالبې وې زموږ څخه چې ایمان او ارسال د بنې اسرائیلو د تا سره وشام ته هغه موږ پوره کوو.

فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ الرِّجْزَ إِلَىٰٓ أَجَلٍ هُم بَٰلِغُوهُ إِذَا هُمْ يَنكُثُونَ ﴿١٣٥﴾

هروخت چې موږ په دفع کړی یعنې پورته به مو کړی یعنې په دعاء د موسی له دوی څخه عذاب تر وخته پورې د اجل چې په علم کې د خدای ﷻ وۀ، چې دوی په و هغه اجل ته رسېدونکي دي چې وخت د غرق دی یا د مرګ.

پوه سه: چې "اذا هم ینکثون" جواب دی د "لما" یعنې بعد کشف العذاب عنهم، نابېره به دوی خپل وعده ماته کړه نه به یې ایمان راوړی بلکې پر کفر به یې اصرار وکړی او نه به یې بنې اسرائیل ازاد کړه، د نابېره معنی داده چې بېله تأمله به یې نقض العهد وکړی او په خپلو وعدو کې به یې فکر نه واهه.

فَٱنتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَأَغْرَقْنَٰهُمْ فِى ٱلْيَمِّ بِأَنَّهُمْ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا وَكَانُوا۟ عَنْهَا غَٰفِلِينَ ﴿١٣٦﴾

نو موږ لقمت ورکړی او کسات د کفر مو واخستی، اصل معنی د لقمت عذاب دی، نو موږ دوی تر وله قبطیان یعنې سره د فرعونه غرق کړه په دریاب کې چې پای یې چا ته نه دی معلوم، والمشهور هو النیل وقیل بحر قلزوم. دا انتقام په سبب د ددې وۀ چې دوی تکذیب د آیاتو زموږ کاوه یعنې هغه معجزې چې پر لاس د موسی علیه السلام موږ ودوی ته ښکاره کړې او دوی وه له هغو آیتو څخه غافله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: دوی هغه آیات په خپلو سترګو ولیدل، نو حکم د غافلین پر دوی څرنګه دی؟

ځواب: چونکه دوی په مقتضی د آیاتو چې ایمان دی عمل ونه کړی، نو لکه د هغو څخه غافل کما مر مثل ذالک في سورة البقرة في تفسیر قوله صم بکم عم الخ.

دروښ وایي: چې ددې پوره مصداق د جزاً سیئة بمثلها، په مجمله توګه بیان د غرق د فرعون او د قبطیانو چې خدای پاک امر کړی موسی علیه السلام چې بني اسرائیل له مصره وباسه، نو په امر د موسی علیه السلام د بني اسرائیلو تولي ښځي امر سوې چې له هغو ښځو څخه د قبطیانو چې تاسي یې د کورو خدمتونه کوئ زیورات په عاریت وغواړئ په بهانه ددې چې په موږ بني اسرائیلو کې یو واده دی، نو هغسي دوی وکړه، نو خدای ﷻ موسی علیه السلام امر کړی چې په اول کې د شپې تاسي له مصره ووځئ، چې تعداد یې شپږ لکه نر، ښځي، لویان او کوچنیان وه، نو سهار فرعون ته خبر ورسېدی چې بني اسرائیل د شپې ښتېدلي دي، نو فرعون په یو کروړ او دوه لکه نفرو پسي ووتی، چې لمر راوختی د لهړي یې سره ولیدل، موسی علیه السلام ته خدای پاک امر وکړی چې دریاب یا رود دوولس ځایه په لکړه ووهه په سبب د اسباطو د بني اسرائیلو حتی وروسته تر ضرب د موسی علیه السلام د خدای په قدرت دوولس وچې کوڅې پیدا سوې، وروسته فرعون او قوم یې را ورسېدل هغه ټوله په دغو کوڅو ورداخل سوه، موسی علیه السلام دریاب په لکړه وواهه اوبه روانې سوې، فرعون او فرعونیان ټوله همه وهمه غرق سوه.

پوښتنه: د فرعون د قوم شمېر تا څپر لوړ نه کړی بیان؟

ځواب: ما خو نه دي شمېرلي لکن د تفاسیرو په کتابو کې هم دومره نه سوول سوي دي او باید دغونه وي، ولي چې فرعون خبر سو په تېښته د بني اسرائیلو امان چې دده صدر اعظم وُ د شپږ لکو کسانو پر مقدمة الجیش یې واستاوه او فرعون ورته وویل چې ته چتک ځه "وارسل فرعون في المدائن حاشرین ان هؤلاء لشرذمة وانهم لنا الی اخیر الآیة" نو چې فرعون پر مقدمة الجیش چې هغه په اصطلاح د جنګي لښکر یو څو محدود کسان وي تاچې د نور لښکر د پاره کار

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سازي وکړي، او ده بيا په خپلو بنارو کي جمع کونکي واستول چي تولـه رعيت را وبولي او د شپږو لکو بني اسرائيلو شرمه قليله يعني يوه کوچنۍ ډله يې وبلل، نو بايد دده تولـه عسکر او رعيت دده دومره وي لکه مفسرينو چي بيان کړي دي او دروښ يې نقل وکړی والله اعلم بالصواب.

وَأَوْرَثْنَا الْقَوْمَ الَّذِينَ كَانُوا يُسْتَضْعَفُونَ مَشَارِقَ الْأَرْضِ وَمَغَارِبَهَا الَّتِي بَارَكْنَا فِيهَا ۖ

او موږ په ميراث ورکړه هغه قوم ته چي مراد ځني بني اسرائيل دي چي په خوا يعني پـه زمانـه کـي د فرعـون د سـلطنت ضـعيفان او بيچـاره گـان گڼـل کېدل، يعني لکه مريان فرعون به ددوی نر او ښځي داسي استعمالول او زامن به يې ځني ذبح کول او پـه ښځـو بـه يـې د قبطيـانو د کـورو خدمتونـه کـول، اطراف مشرقي د مځکي او اطراف مغربي د مځکي هغه مشارق او مغارب چي موږ برکت ايښی ؤ پـه هغـو کـي پـه بهانـدو رودو او ولـو او مېـوه داري درختـي لکـه انگـور، انـار زيتـون او نـوري مېـوې او فراخـي د رزق او بشـه کلي يعنـي ارض مصر والشام واردن او فلسطين وغيرها.

اعرابي فائده: د "قـوم" لفـظ مفعـول اول دی د "اورثنـا" او مشـارق الارض آه مفعول ثاني دی د اورثنا او الذين سره د صلې صفت دی د قوم.

پوه سه: چي وروسته تر عمالقـه وو او وروسـته تر فراغنـه وو تولـه مذکوره مځکـي د بنـي اسـرائيلو پـه لاس ورغلـې او دوی پـه هغـو کـي قـرار او سـکونت اختيـار کړی.

وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ الْحُسْنَىٰ عَلَىٰ بَنِي إِسْرَائِيلَ ۛ بِمَا صَبَرُوا ۖ

پوه سه: چي "حسنی" مؤنث ده احسن صفت د کلمې دی، يعني پای او درجه تکميل ته ورسېدل پر بني اسرائيلو په سبب ددوی صبر پر شدائدو د فرعون، کلمه د باء سببيه ده او کلمه د ما مصدريه ده، يعني مواعيد چي خدای پاک ددوی سره کړي وې چي عبارت د کومک او تمکين في ارض المصر پوره يې کړې، چي کلمه حسنی په دې عبارت قرآني کي راغلې ده "عسی ربکم ان يهلک عدوکم ويستخلفکم في الارض" په هم دې سورت کي، او په سورت قصص کي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په دې عبارت راغلې ده " وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى ٱلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ ٱلْوَٰرِثِينَ ﴿٥﴾ وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ وَنُرِىَ فِرْعَوْنَ وَهَٰمَٰنَ وَجُنُودَهُمَا مِنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَحْذَرُونَ ﴿٦﴾

ژباړه: او موږ اراده وکړه ددې چې موږ احسان وکړو د هغو کسانو سره چې دوی ضعیف کړل سوي وه په مخکه کې یعني د مصر، د فرعون او د قبطیانو له خواځخه چې بنې اسرائیل وه او موږ وګرځول دوی امامان یعني مقتدیان او موږ یې وګرځوو میراث خواړه د فرعونیانو او موږ قدرت ورکړی و ودوی ته په مصر او اطرافو کې او موږ وویني په فرعون او هامان او په لښکرو ددوی هغه شی چې دوی ځني ببرېدله.

وَدَمَّرْنَا مَا كَانَ يَصْنَعُ فِرْعَوْنُ وَقَوْمُهُۥ

او موږ خراب کړه هغه شیان چې فرعون او قوم ددې کوله یعني القصور العالیة کقصر هامان وغیرها.

پوښتنه: خدای پاک خو دمخه وویل و اورثنا القوم الآیة، نو ددې قصورو د تخریب په څه وجه وي، او څه حکمت الهي دی چې مصر یې سره د قصورو د فرعون وقومه و بنې اسرائیلو ته ونه سپارله؟

ځواب: هغه مناسب د حاله سره د بنې اسرائیلو چې مؤمنان وه هغه خو یې نه دي خراب کړي لکن هغه چې متکبرین وه او متجبرین عمارات عالیه وه هغه یې خراب کړه تاچې په مؤمنانو کې چې بنې اسرائیل وه تبجر او تکبر پیدا ای نه سي په سبب د دغو قصورو عالیه وو د فرعونیانو لان المسکن والملبس والمفروش لهما تاثیرات.

وَمَا كَانُوا۟ يَعْرِشُونَ ﴿١٣٧﴾

او هغه میوې پر مناګانو پورته کړي وي من الثمار والاعناب وهذا قول الحسن البصري رحمه الله، او یا معنی داده ماکانوا یرفعون من الابنیة والقصور فهذا بمنزلة البیان کقوله ماکان یصنع فرعون وقومه، وهذا قول مجاهد رحمه الله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې تر دې ځايه پوري قصه د فرعون وقومه پای ته ورسېده له او س خدای پاک هغه قصه کوي د امور شنيعه چې بني اسرائيلو احداث کړی و وروسته تر دې چې خدای پاک احسان وکړی پر دوی د لوی لوی نعمتو کمامر او دوی په خپلو سترګو ولیدلې معجزات د موسی علیه السلام په وخت کې د مقابلې د فرعون، نو دوی باید لوی عبرت اخستی وای.

وَجَاوَزْنَا بِبَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱلْبَحْرَ

مونږ تېر کړه بني اسرائيل تر دریاب.

پوه سه: چې "جاوز" له بابه څخه د مفاعل دی لکن په معنی د جاز مجرد دی يقال جاز وجاوز بمعنی واحد وجاوز الوادي اذا قطعه ومعنی جاوز بغیره البحر عبر به یعنی تر پورې يې ایستی. فالباء في قوله ببني اسرائيل آه للتعدية، قال الحسيني وبگذرانيدم بني اسرائيل را از دريا بسلامت.

اختلاف: بعض علماء وايي چې مراد له بحر څخه رود نیل دی وهو المشهور. روح البيان وايي چې داشهرت غلط دی بلکې مراد بحر القلزوم دی وفي القاموس القلزوم كقنفذ بلد بين مصر ومكة قريب الطور واليه ينسب بحر القلزم لانه على طرفه، په یوه روایت کې راغلي دي چې صحیح روایت دی چې موسی علیه السلام او قوم دده له دریابه په سلامتي تېر سوه هغه ورځ د عاشوره وه، نو تولو بني اسرائيلو روژې ونیولې شكراً لله تعالى في الانجاء من فرعون.

فَأَتَوْا عَلَىٰ قَوْمٍ

نو دوی ورغلې پر یو قوم چې دا قوم د عمالقه کنعانیانو وو، او علامه زمخشري وايي قبيلة بمصر، او بعض وايي چې د لحم قبیله وه من اليمن او له دغې قبیلې څخه د عربو بادشاهان وه په جاهلیت کې.

يَعْكُفُونَ عَلَىٰٓ أَصْنَامٍ لَّهُمْ

چې دوی به همېشه کاوه عبادت د دغو بتانو. قيل في تاج المصادر "العكوف" گرد چیزی در آمدن ودر جای مقیم شدن.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالُوْا يٰمُوْسَى اجْعَلْ لَّنَآ اِلٰهًا كَمَا لَهُمْ اٰلِهَةٌ ؕ

بني اسرائيلو وويل اې موسی عليه السلام مورِ ته هم وګرځوه يو معبود بت چې مورِ به يې عبادت کوو لکه دې قوم لره چې معبودان بتان دي.

سوال: په دې وينا سره دوی نه سوه کافران چې د بتانو عبادت يې غوښتی او خدای ﷻ لره يې شريک جائز وباله؟

ځواب: بغوي رحمه الله وايي چې ددې خبرې شک نه وُ د بني اسرائيلو له خوا په وحدانيت کې د خدای ﷻ بلکې معنی او غرض ددوی دا وُ چې يو شی زمورِ د پاره وای چې مورِ يې عبادت کولای او خدای ﷻ ته مو د هغه په عبادت سره تقرب کولای، وهذا القول صادر منهم لكمال جهلهم ولخفة عقولهم وكذا قال لهم موسى.

قَالَ اِنَّكُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُوْنَ ۝

تاسې يو قوم ياست چې ناپوهي خبرې کوئ، موسی عليه السلام دوی ته دا خبره د تعجب له لاري وکړه. يعني وروسته تر دې چې تاسې د فرعون آيات او معجزات وليدلې، نو اوسنی خبرې ستاسې د جهالت سه ناشي ده.

اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ مُتَبَّرٌ مَّا هُمْ فِيْهِ وَبٰطِلٌ مَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝

په تحقيق دغه قوم چې د بتانو عبادت کوي هلاک کړه شده دي هغه څه چې پکښې بخت دي، يعني بت فرستي او باطل دی هغه عمل ددوی، که کلمه د ما مصدريه سې او که ما موصوله سې، نو عائد و "ما" ته محذوف دی ای ما يعملونه.

پوه سه: چې د "متبر" څخه دا معلومه سوه چې خدای ﷻ به دغه دين ددوی ورنړوي او بتان به يې تو تو تو سې بقدر ته تعالی او د باطل حاصل دادی چې دا بت پرستي دوی نه نژدې کوي و خدای ﷻ ته بلکې دا عبادت د بتانو ددوی بعد المشرقين له خدايه لېرې کوي كما قال مشركوا مكة انما نعبدهم ليقربونا الى الله زلفى، موسی عليه السلام ورته زياته کړه.

قَالَ اَغَيْرَ اللّٰهِ اَبْغِيْكُمْ اِلٰهًا وَّهُوَ فَضَّلَكُمْ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ۝

پوه سه: چې د موسی عليه السلام استفهام د پاره د انکار او توبيخ او تعجب دی د دوی وجهل ته.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ترجمه: آیا غیر د خدای زه و طلبه یم ستاسي د معبود په توګه او حال هم دادی چي خدای ﷻ تفصیل درکړی دی تاسي ته پر عالمیانو باندي ای عالمي زمانهم، یعني خدای ﷻ تاسي خاص کړي یاست په داسي نعمتو چي بل چا ته یې نه دي ورکړي چي آیات ظاهره د تورات دي او معجزات باهره د موسی علیه السلام دي، او خلاص والی له قبطیانو څخه چي تاسي یې لکه مریان تر تصرف لاندي راوستلي واست کمامر من قبل، او تاسي مقابله د ټولو نعمتو د خدای ﷻ چي تفضلاً یې ستاسي سره کړي وه چي پر خدای ﷻ واجب نه وه، او تاسي مقابله په دې سره وکړه چي اخس د مخلوقاتو چي اصنام دي د خدای ﷻ په عبادت طلب د شراکت کوي، حافظ شیرازي رحمة الله علیه وایي.

خلق را نیست سیرت پدران همه بر سیرت زمانه روند

په حدیث شریف کي راغلي دي چي روایت یې واقد لیثي رضی الله عنه کړی دی. وایي مونږ د علیه الصلوة والسلام سره وه تو د حنین غزا ته فمررنا بسدرة مونږ وویل یا رسول الله مونږ ته وټاکه یوه درخته ذات انواط لکه چي کفار ذات انواط لري او کفارو به ځپلي اصلحې پوري ځړولې چي هغې درختي ته یې ذات انواط وایه او بیا په یې پر هغې درختي طواف کاوه. فقال رسول الله ﷺ الله اکبر داخو تاسي داسي مطالبه وکړه لکه چي بني اسرائیلو و موسی علیه السلام ته وویل اجعل لنا الهاً کمالهم آلهة انکم لترکبون سنن من قبلکم رواه البغوي. یعني ذات انواط او طواف پر کول هم شرک دی.

وَإِذْ أَنجَيْنَاكُم مِّنْ آلِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ سُوءَ الْعَذَابِ

او په یاد کړئ یا بني اسرائیلو هغه وخت چي مونږ نجات او خلاصون یې درکړی تاسي ته من آل فرعون یعني د فرعون له قوم څخه د هغه چي قبط وه، نو کلمه د اذ منصوب المحل عامل یې مقدر دی یعني اذکر.

پوه سه: چي یسومونکم جمله مستأنفه ده د پاره د بیان د ما انجاکم منه د پاره، او روح البیان وایي بدل دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يُقَتِّلُونَ أَبْنَاءَكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ نِسَاءَكُمْ وَفِي ذَٰلِكُم بَلَاءٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَظِيمٌ ﴿١٤١﴾

دا جمله بیان دی د سوء العذاب چې در وژل یې په کثرت سره کما هو مقتضی باب تفعیل، ژامن ستاسي چې زهږ بدل به یعني په سبب د فرعون له خوفه کمامر تفصیله، او ژوندی به یې پرې ښوولې ستاسي ښځي یعني د پاره د خدمت د کورو د فرعونیانو.

سوال: نسا څو لوی ښځي ته وایي او دوی څو په وخت کې د زهږ بدلو ژوندی پرې ښولې؟

ځواب: دا مجاز دی په اعتبار د مایئول الیه کما في قوله "اني اعصر خمراً" او په دغه مذکور عذاب کې تکلیف او محنت وپر تاسي یا په دغه انجا کې نعمت ؤ.

پوه سه: چې د بلاٗ معنی ابتلاٗ او امتحان دی، امتحان د خدای ﷻ ګاهي په محنت سره وي چې صبر د بندګانو معلوم کړي او ګاهي په نعمت سره چې د شکر حال معلوم سي له جانبه څخه د رب ستا لوی.

وَوَاعَدْنَا مُوسَىٰ ثَلَاثِينَ لَيْلَةً وَأَتْمَمْنَاهَا بِعَشْرٍ

او وعده کړې وه مورږ د موسی علیه السلام سره یعني د ورکړي د کتاب چې تورات دی د هږش شپې او بیا مو پوره کړې د هږش په لسو نورو.

پوه سه: چې ابن ابي حاتم د ابي العالیة څخه روایت کړی دی چې د هږش شپې د میاشتي د میاشتي او لس نورې د لوی اختر له میاشتي څخه ور ضم کړې.

پوه سه: چې محي السنة علامه بغوي رحمه الله وایي چې موسی علیه السلام د بني اسرائیلو سره چې دوی په مصر کې وه وعده کړې وه چې خدای پاک چې زمورږ دښمن فرعون هلاک کړی، نو زه به د خدای ﷻ له خوا څخه یو کتاب راوړم چې په هغه کې اوامر او منهیات د خدای ﷻ موجود دي، نو چې خدای ﷻ فرعونیان له منځه یووړه، نو موسی علیه السلام له خدایه د کتاب غوښتنه وکړه، نو خدای پاک دی امر کړی چې یوه میاشت روژې ونسه، نو چې د هږش ورځې پوره سوې، نو د موسی علیه السلام د خولې لږ ساه (بوی) ولاړ بدی نو یې مسواک وواهه د پاره د تیاری د کلام الله، نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ملکو ورته وویل چې ستا د روژو په ایام کې پر موږ بوی د مشک ولاړ ښدی او تا فاسد کړی هغه بوی په مسواک وهلو سره، نو خدای پاک دی امر کړی چې لس ورځې نوري روژې ونسه، او خدای پاک ورته وویل چې خلوف د خولې د صائم اطیب دی من ریح المسک، او فتنه د بنې اسرائیلو چې د سامري له خوا ورته جوړه سوه کما سیأتي بیانها، په دغه لسو زیاتو ورځو کې جوړه سوه فانظر تفصیلها.

فَتَمَّ مِيقَاتُ رَبِّهِ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً

نو پوره سو هغه وخت چې خدای پاک ورکړی ؤ د خبرو د پاره او د کتاب د ورکړې د پاره.

وَقَالَ مُوسَى لِأَخِيهِ هَارُونَ اخْلُفْنِي فِي قَوْمِي وَأَصْلِحْ وَلَا تَتَّبِعْ سَبِيلَ الْمُفْسِدِينَ

او وویل موسی علیه السلام چې دی کوه طور ته روانېدی للمناجات و خپل مشر ورور ته چې هارون یې نوم ؤ ته زما خلیفه او جای نشین یې په قوم کې زما او ته اصلاح کوه د امورو د قوم یعنې په طاعت د خدای ﷻ یې امر کوه، او ابن عباس رضي الله عنه وایي چې معنا د اصلح داده چې نرمي ورسره کوه او ته متابعت مه کوه د لاړې د فساد کونکو، یعنې چې معصیت کوي او یا په منځ کې د قوم فساد کوي یعنې د هغو په خوله ته مه کوه بلکې دوی له معصیت څخه ولاړې ته د طاعت رابولـه او د افساد څخه یې و وصلاح ته رابولـه، د "اربعین" لفظ له "میقات" څخه حال دی او لفظ د "لیلة" تمییز دی د "اربعین"

پوښتنه: خدای پاک اربعین لیلة ووایه او یوماً یې نه ووایه حکمت یې څه دی؟

ځواب: قرآن چونکه موافق د کلام او اصطلاح د عربو نازل سوی دی او مدار د عربو د میاشتو پر رؤیت د هلال دی، نو هغه خو مانبام وي، نو ځکه یې لیلة ووایه.

سوال: هارون خو شریک ؤ د موسی علیه السلام سره په نبوت کې لکه په بل ځای کې د قرآن مجید چې قوله د موسی په باره کې د هارون داسې ویلي دي "واشرکه في امري" نو څرنګه موسی علیه السلام پر هارون علیه السلام د خلیفه اطلاق وکړی؟

ځواب: دوه کسه چې په یو شي سره مأمور سي لاینفرد احدهما بفعله الا بامر صاحبه فکذالک قال اخلفني الخ، او بله وجه داده چې اصل په نبوت کې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

موسی ؤ هارون علیهما السلام یې کومکي ؤ، ولهذا ورد في القرآن في موضع آخر نقلاً عن قوله موسی په باره کي د هارون فارسله معي ردئا یصدقني ای معیناً له دې سببه کلیم الله موسی علیه السلام ؤ او راوړونکی د کتاب هم دی دی. او بله خبره داده چې درجات د انبیاً کرامو فرق سره لري کما قال عز من قائل "تلک الرسل فضلنا بعضهم علی بعض"

دروېش وایي: چې دا سوال او جواب د پاره د علماؤ د ظاهر دی لکن لا اعتراض علی الاکابر عند الاکابر. ولي چې اکابر یعني صوفیه کرام رحمهم الله په دې پوهېږي چې حرکات د اکابرو یعني الانبیاً علیهم السلام په الهاماتو الهیه وو سره او په کشوفاتو قلبیه وو سره دي فحینئذ لا اعتراض علی التحقیق حتی یحتاج الی التوفیق، وقصة الخضر علیه السلام مصاحبة موسی علیه السلام حیث قال الخضر علیه السلام لموسی علیه السلام مافعلته امري ای عن عند نفسي آه، وتفصیل تلک القصة في موضعه.

وَلَمَّا جَآءَ مُوسَىٰ لِمِيقَٰتِنَا

نو څه وخت چې موسی علیه السلام پر هغه خاص وخت چې خدای پاک ورته تاکلی ؤ وهو تمام الاربعین کمامر، نو لام د پاره د اختصاص دی او په معناد "عند" ته دی کما توهم بعضهم والمیقات بمعنی الوقت.

پوښتنه: څه حکمت ؤ د خدای پاک چې د موسی علیه السلام د پاره یې غر وتاکی باوجود ددې چې فوق السموات العلی او تحت الثری یو دی عند حضرته تعالی المنزهة عن الجهات؟

ځواب: له دې سببه چې په جبل کي وصف د ثبات سته او د علو او د تفرد عن سائر الارض لان الارض ما استقرت علی الماً حتی جعل الله الارض او تاداً لها کما ورد في موضع آخر من القرآن، ولهذا قیل الجبال کراسي الانبیاً والاولیاً کالطور لموسی، وجبل غار حراً لنبینا ﷺ قبل النبوة وغار جبل الثور ایضاً لسیدنا محمد علیه السلام حین الهجرة ثلاث لیال، او شرح الصدر د علیه الصلوة والسلام اول وار په غره کي وه چې دی مبارک کوچنی ؤ او د دایي (حلیمي) په کور کي ؤ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې د تولو اولیاً الکاملین مزارات او قیام ګاه چې ما لیدلي دي اکثره په غرو کې دي.

وَكَلَّمَهُ رَبُّهُ

او خدای ﷻ خبري ورسره وکړې من غیر واسطة الملک وکیفیة، او جبرائیل ورسره وُ لکن د خدای پاک خبري موسی علیه السلام اوریدلي ولذا خص باسم الکلم، ولي چې د نورو انبیاً کرامو سره په واسطه د ملکي او د کتاب خدای پاک خبري کړي دي یعني په محکه کې.

دروښ وايي: چې قید د محکي ما ووایه له دې سببه چې د نبینا محمد ﷺ سره خبري د خدای پاک فوق السموات العلی یعني په شپه د معراج هم بېله واسطې د ملکي وې کما ثبت في شروح الاحادیث الشریفة، او دې ته شیخ سعدي په دې بیتو سره اشاره کړې ده ولله دره.

چنان گرم د تیه قربت براند — که درسدره جبرئیل ازوباز ماند
بدوگفت سالاربیت الحرام — که‌ای حامل وحی بر ترخرام
بگفتا فراتر مجالم نماند — بماندم که نیروی بالم بماند
اگر یک سر موی برتر فرم — فروغ تجلی بسوزد پرم

وفي الحدیث ثم زج بي في النور فخرق بي سبعون الف حجاب الی اخیر الحدیث.

دروښ وايي: چې تفصیل د معراج نبوي ﷺ به په تفسیر کې د جزء د سبحان الذي اسری آه په زړه پورې تفصیل سره په دې تفسیر کې راسي ان شاء الله تعالی العزیز.

قَالَ رَبِّ أَرِنِي أَنظُرْ إِلَيْكَ

موسی علیه السلام شوقاً الی رؤیة المتکلم جل سلطانه بعد ما سمع کلامه وویل اې ربه زما ته به ووینې خپل ځان چې زه پورته وګورم وتاته. حسن بصري رحمه الله علیه وایي چې په موسی علیه السلام کې جوش د رؤیة الهي پیدا سو په دې ګمان چې رؤیة الهي په دې دنیا هم کېدای سي لکه په اخیرت کې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالَ لَنْ تَرٰىنِیْ

خدای پاک ورته وویل چي هر ګز ته ما نه سې لیدلای یعني په دنیا کي ولي که څوک ما په دنیا کي وویني مات من ساعته، موسی علیه السلام ورته وویل چي ستا کلام چي مي واورېدی اشقت الی النظر الیک ولان النظر الیک ثم اموت احب الي من اعیش ولا اراک بل من کل محبوب.

نکته: خدای پاک چي "لن ترانی" ووایه چي معنی یې داده چي ته مي نه سې لیدلای اشاره ودې ته ده چي زما رؤیت که څه هم ممکن دی لکن ته مي نه سې لیدلای یعني في الدنیا، ولي چي بنیه د انسان او اعضا ددې چي په هغه کي بصر هم شامل دی دومره ضعیف دی چي قابل د رؤیت نه دی، که چېرې رؤیت د خدای ﷻ نه وای اصلاً نو خدای پاک به په جواب کي داسي ویلي وای لن اری بصیغة المجهول یعني زه قابل د رؤیت نه یم، نو په دې آیت کي دلیل پر امتناع د رؤیت في الآخرة نسته کما زعمه المتعتزلة حیث قال رئیسهم في التجرید من علم الکلام ورؤیة الله تعالی في الآخرة کما یزعمه اهل السنة والجماعة باطل، بیا نو پر دې باندې یې دلائل عقلیه ویلي دي چي حاصل د ټولو یې دادی چي ده قیاس د آخرت پر دنیا کړی دی مع انه قیاس مع الفارق. قال المولوي المعنوي رحمه الله علیه.

لن ترانی میر سد از طور موسی راجواب
هر چه آن از دوست میآید سر بنه گردن متاب
قیل: چون مستعد نظر نیستی وصال مجوی
که جام جم نکند سود وقت بی بصری

وَلٰكِنِ انْظُرْ اِلَى الْجَبَلِ

لکن وګوره و غره ته خدای پاک د موسی علیه السلام د قناعت د پاره چي ته ما نه سې لیدلای په دنیا کي دا خبره یې ورته وکړه لکن آه، دا غریو لوی غر دی په مدین کي چي زبید ورته وایي، مظهري رحمه الله علیه په نقل د سدي رحمه الله علیه وایي چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

داسي يې ويلي دي چې د موسی عليه السلام سره چې خدای پاک خبرې وکړې ابليس په مخکه ننوتی او په منځ کې د پښو د موسی عليه السلام راووتی او وسوسه يې وراچول چې داستا سره يې خبرې کولې داشيطان وٴ، نو ځکه موسی عليه السلام سوال د رؤيت وکړی انتهی.

دروښ وايي: چې دا وجه دپره له عقل څخه لهرې ده.

پوښتنه: موسی عليه السلام په دې پوهيدی چې دا خبرې کونکی زما سره خدای پاک دی حتی وروسته يې سوال د رؤيت وکړی؟

ځواب: قاضي بيضاوي وايي اوربدې له هره اړخه څخه په دې معنی چې موسی عليه السلام به هر جهت ته مخ واړاوه هغه خبرې به يې له هغه جهته اوربدلې وليس کلام الخلائق بهذه الصفة کما لا يخفٰی.

پوښتنه: موسی عليه السلام به يا په دې خبرو چې رؤيت د خدای پاک په دې دنيا کې نه سي واقع کيدای يا به نه وٴ خبر، که خبرو نو يې سوال ولې کاوه، او که نه وٴ خبر نو دا خو جهل دی په شيون د خدای عليه السلام او دا منافي د مقام سره د نبوت دی؟

ځواب: موسی عليه السلام تر دغه وخته پورې چې "لن تراني" له خدايه اوربدله نه وٴ خبر وليس هذا جهلاً بالله تعالی وصفاته بل ببعض احکامه وهذا لا ينافي منصب النبوة لکه نوح عليه السلام چې د نجات د پاره د خپل کافر زوی کنعان خواست وخدای پاک ته وکړی حيث کما في قصة نوح ان ابنی من اهلي وانت ارحم الراحمين، خدای عليه السلام جواب ورکړی په دې سره چې "انه ليس من اهلک" نو په حکم چې کافر د مؤمن اهل کيدای سي نوح عليه السلام تر دې وخته نه وٴ خبر، او ابراهيم عليه السلام سئل مغفرة آباه آذر، ورسول الله ﷺ سال مغفرة عمه ابي طالب حتی نزل هذه الآية "ماکان للنبي والذين آمنوا ان يستغفروا للمشرقين ولو کانوا اولی قربی" وسال عليه الصلوة والسلام مغفرة بعض المنافقين فنزل استغفر لهم او لا تستغفرلهم ان تستغفرلهم سبعين لن يغفر الله لهم" وحين صلی رسول الله ﷺ علی جنازة ابن ابی رئيس المنافقين فنزل قوله تعالی "ولا تصلي علی احد منهم مات ابداً الآية" نو رسول الله ﷺ تر وخته پورې د نزول د دغو آيتو په دې نه وٴ خبر چې سوال په د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مغفرت په حق کې د کافر نه قبلېږي، نو دغه تاخیر تیا د منصب سره د نبوت د نوح علیه السلام یا د ابراهیم علیه السلام یا د محمد ﷺ منافي وه لا والله فافهم.

دروښ وایي: چې په قصه کې د مناجات د موسی علیه السلام د خدای پاک پر کوه طور داسې راغلي دي چې خدای ﷻ پر طور اووه فرسخه شاه وخوا ظلمت او تاریکه راوګرځوله او له دغه مسافت څخه یې شیطانان او موزر هوام لکه لړم، مار، کیکه، غومانشه وغیرها هم وشړل او هغه دوې ملکي کرام کاتبین د موسی یې ګونبه کړې، او خدای پاک و اسمانو ته دروازې ورکړې، نو ملکي په هوا کې ملکي ولاړې ولیدلې او عرش هم خدای پاک ورښکاره کړی فکلمه الله تعالی او مناجات یې ورسره شروع کړه او سره ددې چې جبرائیل علیه السلام د موسی علیه السلام سره ورسره وُ لکن کلام الهي او مناجات د موسی علیه السلام یې نه اورېدی وهذا نموذج قدرته تعالی والله علی کل شئ قدیر آمنا بذالک فاغفرلنا ذنوبنا واسرافنا في امرنا برحمتک یا ارحم الراحمین وصلي وسلم علی سید المرسلمین شفیع المذنبین مولنا ومولی العالمین محمد و علی آله وصحبه اجمعین آمین.

دروښ وایي: چې هغه ډله چې رؤیت د خدای ﷻ په اخرت کې هم ممتنع بولي سره د دلائلو عقلیه کما اشرنا الیه په دې آیت سره چې لن ترانی د لیل وایي دوی وایي چې کلمه د "لن" د پاره د تابید د نفي د رؤیت دی په دنیا او په اخرت کې.

دروښ وایي: چې کلمه د "لن" د تابید لپاره ګرځول لوی غفلت دی د معتزله وو، او د تعصب ددوی په مذهب کې چې د ټولو اهل صرف چې هغه وایي چې کلمه د لن لپاره د تاکید د نفي ددوی تر پښو لاندې کړه، نو دلته په آیت کې "لن ترانی" کې هم لپاره د تاکید د نفي رؤیت په دنیا کې لکه مقصود چې وُ د موسی ﷺ، والشاهد علیه قوله تعالی اخباراً عن الیهود ولن یتمنوه ابداً (ای الموت) مع انه تعالی اخبر عن تمنی الکفرة کلهم الموت یوم القیامة، قال الله تعالی ونادوا (ای اهل النار) یا مالک (چې د خزنه د جهنم لوی قوماندان دی) لیقض علینا ربک (یعني فیصله د مرګ وکړئ پر موږ باندې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې د دوزخ له عذابه خلاص سو) او بل خای خدای پاک د قول د اهل نار داسې حکایت کړی دی چې هر یو دا وایي، یالیتنې کنت تراباً (کاشکې زه خاورې وای، دا تمنی دوی هغه وخت کوي چې د حیوانات د ظلم قصاص یو پر بل خدای ﷻ واخلي او وروسته ورته ووایي کونوا تراباً هغه خاورې سي، ولې چې حیوان لره نه جنت سته نه دوزخ) او بعض علماً وایي چې د موسی علیه السلام سوال د پاره د الزام د قوم چې دده سره ورسره وه، او موسی علیه السلام ته یې داسې وویل ارنا الله جهرة، مظهري رحمه الله دا خبره په شدت سره رد کړې ده وقال هذا خطأً فاحش، ولې چې په دې مناجات کې خو موسی علیه السلام یوازې ؤ قوم نه وو ورسره، ولې چې په دې وار کې خدای ﷻ دده سره خبرې وکړې کمامر او تورات یې مکتوب علی الالواح ورکړی، او سوال د رؤیت یې حباً لله وکړی، او خدای پاک و موسی علیه السلام ته سرزنش هم نه کړی ور بلکې طریقه د عدم رؤیت یې وروښوول یعني سبب د نه رؤیت بقوله تعالی لکن انظر الی الجبل آه، او په هغه وخت کې چې د موسی علیه السلام سره اوویا کسان د قوم ورسره وه د پاره د معذرت عن عبادت العجل او قوم چې دا وویل ارنا الله جهرة د هغو سوال تعنتاً او انکاراً ؤ من ان المتکلم مع موسی علیه السلام هو الله تعالی، نو خدای پاک و هغو ته عذاب ورکړی کما جاً في القرآن "فاخذتهم الصاعقة بظلمهم حیث لم یکونوا مستحقین بها" او بله خبره داده که د سوال د پاره د تبکیت د قوم وای نو پر موسی علیه السلام واجبه وه چې ددوی د شبهې ازاله ورکړې او دوی ته یې ویلې وای چې تاسې جاهلان یاست کما فعل بهم حیث اجعل لنا الها کما لهم آلهة حیث لهم محال لهم بل انتم قوم تجهلون.

فَإِنِ اسْتَقَرَّ مَكَانَهُ فَسَوْفَ تَرَانِي

که د سره صلابت دده کې قرار ولري پر خای او تو ته نه سو.

پوه سه: چې مراد له غره څخه هغه غر دی چې موسی علیه السلام لیدی، کلبي وایي چې دا هغه لوی غر دی په مدین کې چې زبیر به باله پر وزن د امیر، کې قرار ونیوی پر خپل خپل خای نو ژر دی چې ته به ما وینې مراد دادی چې ته اې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

موسی د رؤیت زما طاقت نه لري لکه غر چي یې نه لري، مظهري رحمه الله وایي چي د تعلیق د رؤیت د خدای ﷻ په استقرار الجبل پوري دلیل دی د جواز د رؤیت الهي په دنیا کي لان المعلق بالممکن ممکن.

دروبش وایي: چي مظهري رحمه الله د وهب بن منبه او د ابن اسحاق چي دواړه معادن د عجائبو دي یو حیرت انګیزه قصه نقل کړې ده چي نه په هیڅ کتاب کي د احادیثو راغلي ده او نه په بل هیڅ تفسیر کي لکه تفسیر بیضاوي روح المعاني بهله روح البیان، تفسیر کبیر، تفسیر قرطبي، تفسیر خازن نه ده نقل کړې والله اعلم چي څرنګه ده دا قصه را نقل کړې ده دی خو لوی محقق او محدث وٌ، نو تاسي دا قصه د مظهري په تفسیر کي وګورئ د حیرت ځای به درته ښکاره سي.

فَلَمَّا تَجَلّٰى رَبُّهٗ لِلْجَبَلِ

پوه سه: چي بعض مفسران یې دا ترجمه کوي ای ظهر بعض انواره او جلال الدین السیوطي رحمه الله اظهر من نوره قدر نصف انملة الخنصر.

دروبش وایي: چي په دې کي ډېر اختلاف دی،

(۱) ابن عباس رضي الله عنه وایي ظهر نوره للحیل.

(۲) ضحاک رحمه الله وایي دومره نور یې له حجاب څخه ښکاره کړی لکه د غوایي سرمه.

(۳) عبدالله بن سلام او کعب احبار رضي الله عنهما وایي چي له نور څخه د خدای ﷻ دومره قدر ښکاره سو لکه د ستني سپم.

(۴) سدي رحمه الله وایي چي تجلی د نور په قدر د کوچنۍ ګولې وه.

(۵) ابو شیخ هم وایي چي نور په اندازه د خچنې ګوتې وٌ، دوی ټوله وایي چي په مقدار مذکوره غر ټوټه سو، علامه بغداد په تفسیر روح المعاني کي داسي تفسیر ددې آیت کړی دی ای ظهر له (غره ته) علی الوجه اللائق بجانبه تعالی، او علامه بغداد تر نقل د بعض اقوالو مذکوره وو داسي ویلي دي وهذا کما لا یخفی من المتشابهات التي یسلک فیها طریق التسلیم وهو اسلم واحکم، او التاویل بما یلیق بحلال ذاته، او په تفسیر حسیني کي وایي (یعنی ظاهر گردانید از نور خود

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خود یا از نور عرش بمقدار سوراخ سوزن) او شیخ ابو منصور الماتریدي رحمه الله وایي چي معنی د تجلی للجبل ماقاله الاشعري رحمه الله چي خدای ﷻ په غره کي حیوة او علم او رؤیت پیدا کړی حتی چي غره خدای پاک ولیدی نو.

جَعَلَهٗ دَكًّا

وګرځاوه خدای ﷻ دا غر توته توته.

پوه سه: چي "دک" مصدر دی په معنا د مفعول ای مدکوکاً او دک ودق سره مرادف غوندي دي. په قاموس کي وایي چي دق او دک او هدم ما استوی من الرمل.

پوه سه: چي د دک متقارب المعنی ترجمې سوي دي، له ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چي غر په مځکه ننوتی حتی وقع في البحر او په دریاب کي روان دی یعني من القطعة التي عليها موسى عليه السلام، او عطیه وایي چي ریګ روان وګرځېدی، وفيه ايضاً العناية السابقة آنفاً، او کلبي رحمه الله وایي چي کوچني کوچني غرونه سوه، په روح البیان کي وایي چي دا حال د غره وسره د غایت صلابت د هغه، نو ستا څه خیال دی په ابن آدم ضعیف سره چي موسى عليه السلام دی کذا في تفسير الكواشي، بعض اکابر د علماً وایي چي غر خدای ﷻ فداً د موسى عليه السلام وګرځول او که دی مدهوش نه وای دی به داسي توته توته سو وای لکه غر، علماً وایي چي په سبب د تجلی الهي تولي ترخې او تروې اوبه خوږې (شهریني) سوې او هر لېونی پرسد سو او هر مریض جوړ سو، او د څوز درلودونکو درختو څوزان ورژبدل او مځکه سربزه او شاداب سوه، او د مجوسیانو تولې اوړونه مړه سوه، او بتان پرمخي پر مخ باندي ځغوار سوه او د ملکو آوازنه قطعه سوه له هیبت څخه.

دروښ وایي: چي نور دهر نادر روایتونه هم راغلي دي، په تفسیر حسیني کي وایي، اجب سری است که کوه بآن عظمت تحمل دیدار نداشت ودل انسان بحکم ولکن ینظر الی قلوبکم طاقت آن نظر هست، نکته دراین آنست که تجلی بر کوه بنظر هیبت بود وتجل بر دل بنظر رحمت است آن نظر هیبت کوه را ویران ساخت واین نظر رحمت دل را معمور سازد انتهی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَخَرَّ مُوْسٰى صَعِقًا

او غوځار سو موسی عليه السلام چې بېهوشي پر راغله من هول ما رئ. ابن عباس رضي الله عنه وايي چې د پنځښنبي له ورځې څخه چې هغه د عرفات ورځ هم وه د جمعې د ورځې تر مازديګره پورې بېهوشه وۀ، حضرت رومي رحمه الله وايي:

جسم خاک از عشق بر افلاک شد (کوه در رقص آمد وچالاک شد)
عشق جان طور آمد عاشقاً　　طور مست وخر موسی صاعقاً

واقدي رحمه الله وايي چې موسی عليه السلام چې بېهوشه سو ملکو د اسمانو وويل ما لابن عمران وطلب الرؤية اى في الدنيا.

فَلَمَّآ اَفَاقَ قَالَ سُبْحٰنَكَ تُبْتُ اِلَيْكَ وَاَنَا اَوَّلُ الْمُؤْمِنِيْنَ

ښوه سه: چې مولى ابو سعود رحمه الله وايي چې افاقه رجوع د عقل او فهم ده وروسته تر دې چې زائل سوى وي په سبب د اسبابو لکه د موسی عليه السلام په مانحن فيه چې زائل سوى وۀ په سبب د هيبت د مارئ.

ترجمه: هغه وخت چې په هوش کې راغلى موسی عليه السلام وه يې ويل پاکي ده تالره يعني چې زه بېله اذنه له تا څخه بيا سوال نه کوم، او بعض مفسرين وايي چې سبحانک کلمه د تعجب له هغه څه څخه چې ده وليدل، په تحقيق زما توبه ده وتاته چې اقدام او جرئت پر سوال کوم بېله اذنه ستا. او زه اول د مؤمنانو يم. ولې چې د هر نبي ايمان مقدم دى تر ايمان د امت دده.

قَالَ يٰمُوْسٰٓى اِنِّى اصْطَفَيْتُكَ عَلَى النَّاسِ بِرِسٰلٰتِىْ وَبِكَلَامِىْ
فَخُذْ مَآ اٰتَيْتُكَ وَكُنْ مِّنَ الشّٰكِرِيْنَ

خداى پاک ورته وويل چې په تحقيق ما ته غوره کړى او مختاره کړى مې يې پر خلګو يعني چې ستا په زمانه کې دي په خپلو رسالاتو سره.

ښوه سه: چې امام شافع او ابن کثير رحمهما الله يې په افراد وايي يعني "برسالتي" د هغه توجيه خو ظاهره ده يعني په رسول والي سره چې رسول مې ګرځولى يې. او نور قاريان يې په صيغه د جمع وايي لکه په مطبوعه مصاحفو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کي، نو توجیه د جمعي یې داده چي هر رسول د خدای ﷻ له خوا څخه مشترکه بین الادیان راوړی دی لکه توحید د خدای پاک و بعث بعد الموت وغیرها او احکام مختلفه باعتبار الازمان راوړي دي، په قصه کي د موسی علیه السلام راغلي دي والله اعلم بصحته چي د موسی علیه السلام سره خدای پاک خبري وکړې هیڅ چا طاقت نه درلودی چي دده مخته وګوري ولي چي دده مخ په نور سره پټ وو او تر مرګه پوري یې دده پر مخ پرده وه، یو وخت دده ماینې ورته وویل چي زه د هغه وخت څخه چي تا د خدای پاک سره خبري کړي دي لکه ستا په ژوند کي چي کوندې یم، یعني ستا مخ مي بیانه دی لیدلی، نو موسی علیه السلام مخ ورت لاړ کړی، نو د ماینې پر مخ یې لکه د لمر وړانګې ولګېدلې، نو ماینې یې سترګي ومخ ته ونیولې او پر سجده پرېوتل و خدای ﷻ او ماینې یې ورته وویل چي ته خدای پاک ته خواست وکړه چي ما په جنت کي ستا زوجه وګرځوي، موسی علیه السلام ورته وویل ذالک لک، که تا وروسته تر ما مېړه ونه کړی لان المرئة لاخیر زوجها في الجنة.

دروېش وایي: چي معتزله له رؤیت څخه د خدای پاک په جنت کي منکر دي او په دغو آیتو سره چي په شان کي د موسی علیه السلام د سوال نازل سوي دي "رب ارني انظر الیک" الی اخیرها استدلال وایي وقد مر الجواب عنه چي دا سوال د موسی علیه السلام او جواب د خدای پاک لن تراني الی اخیرها خو ددې دنیا په رؤیت کي وو، حتی چي صاحب الکشاف په دې هره سپینې سترګي او بې حیایي لپاره د تشنیع پر اهل سنت او جماعت او لپاره د ګمراه کولو د اهل سنت والجماعة کثرهم الله داسي ګمراه کن خبره کړې ده چي عربي عبارت یې دادی ثم تعجب من المتسمین بالاسلام (یعني چي صرف د اسلام نوم پر پروت دی ددې معنا داده چي په واقع کي خو مسلمانان نه دي) المتسمین باهل السنة والجماعة (یعني خپل ځانونه یې په اهل السنة والجماعة سره معرفي کړي دي، یعني په واقع کي اهل السنة والجماعة نه دي) کیف اتخذوا هذه العظیمة مذهباً (یعني دوی څرنګه ګرځولي دي دا لوی درواغ یعني رؤیت د خدای ﷻ په جنت کي سته خپل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مذهب) ولا يغرنک تسرتهم بالبلكفة فانه من مصوبات اشياخهم (يعني تا دي خطائه باسي چي دوی په درواغو ځانونه اهل السنة والجماعة معرفي کوي، ولي چي دا د هغو غمو څخه دی چي شيخانو پر دوی تپلی دی) والقول ما قال العدلية فيهم (او صحيح قول هغه دی د عدليه وو يعني معتزله چي خپل ځانونه اهل عدل بولي، ددوی په باره کي يې ويلي دي.

لجماعة سموا هواهم سنة　　لكنهم حمر لعمري موكفة

هر آئينه هغه جماعت چي دوی مسمّی خواهشاتو نفسيه ته ددوی سنت وايي يعني اهل السنة لكن دوی خره دي زما دي قسم په خپل عمر سره او کپړي په خولو کي دی.

دروېش وايي: چي بعض اهل السنة والجماعة وده ته په دغو ابياتو جواب ورکړی دی.

عجبنا لقوم ظالمين تلقبوا　　بالعدل مافيهم لعمري معرفة

تعجب دی و هغه قوم ته چي ظالمان دي او ځان يې معرفي کړی دی په عدل سره چي دغه معتزله دي چي نسته په دوی کي زما دي په خپل عمر قسم دي يو لږ معرفت هم. نو تنويل د معرفي لپاره د تقليل دی.

قدجائهم من حيث لا يدرونه　　تعطيل ذات الله مع نفي الصفة

او دوی ته راغلی دی له داسي ځايه ځخه چي دوی په ځان نه پوهيږي يعني چي دا د اسلام مسلک دی او که د فلاسفه وو. هغه څه چي دوی معطل ګڼلی دی د خدای ﷻ له تولو افعالو څخه، او سره د نفي صفاتو د خدای ﷻ، ولي چي د معتزله مذهب لکه فلاسفه دادی چي ان الواحد لا يصدر عنه الا واحد. نو چونکه خدای پاک يو دی نو يو عقل يې اول پيدا کړی دی وبس. په عقل اول کي چونکه يو صفت د وجوب غيري و نو په هغه جهت يې عقل ثاني پيدا کړی. او يو جهت د امکان ذاتي وُ چي په هغه جهت فلک اول پيدا کړي ثم وثم الی ان يصير العقول عشرة والافلاک تسعة، او دا مذهب ددوی د صريح قرآن سره منافي دی "والله خلقكم وما تعملون، ان الله يخلق مايشآء" الی غير ذالک من الآيات الدالة على

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خالقيته تعالى وربوبيته تعالى لكل شئ، او هغه دِله نفي د صفاتو د خداى ﷻ هم كوي ولي چي دوى لكه فلاسفه واى چي صفات د خداى عين ذات دي.

وقال المولى ابراهيم رحمه الله في رد مقالتهم.

رضيا كتاب الله للفصل بيننا وقول رسول الله اوضح فاصل
وتحريف آيات الله ضلالة وليس بعدل رد نص الد لائل

پوه سه: چي د خداى ﷻ د آيتو تغير معتزله كوي مثلاً قوله تعالى وجوه يومئذ ناضرة الى ربها ناظرة، معتزله يې تحريف داسي كوي الى ثواب ربها ناظرة او مثلاً والله خالق كل شئ، دوى تحريف داسي كوي اى بالوسائط الى غير ذالك من تحريفاتهم وتهويشاتهم. او عدل نه دى رد د تصريح د دلائلو يعني د قرآن او احاديث مبارکه وو.

وتضليل اصحاب الرسول وذمهم وتصويب رائ النظام و واصل

او گمراه بلل د اصحابو د رسول الله ﷺ او د هغو ذم ويل چي معتزله او شيعه يې دواړه وايي چي د خلافت حق بعد رسول الله ﷺ لعلي ﷺ، او ابوبكر صديق، عمر فاروق، و عثمان ﷺ ته غاصبان وايي او ډېر بد او پوچ ورته وايي، او صواب گڼل د نظام معتزلي او د واصل معتزلي د رأيي.

دروښ وايي: چي احاديث صحيحه په روايت د بخاري او مسلم او اصحاب السنن متواترة المعنى دي په رد كي د معتزله وو د قول بلكې د جميع اهل هوا من الشيعة والكرامية وغيرهما، نو د هغه احاديثو مبارکه وو چي ستفترق امتي ثلاث وسبعون فرقة كلهم في النار الا الناجية. مصداق د ناجيه بدون تعصب والاعتساف دغه فرقه ده چي مسمى په اهل السنة والجماعة سره ده.

ولو كان تكذيب الرسول عدالة فاعدل خلق الله عاص بن وائل

كه تكذيب د رسول الله ﷺ عدالت واى لكه معتزله چي خپل خانونه اصحاب عدل بولي او سره د هغه متواترة المعنى احاديث د رسول الله درواغ بولي، نو لوى عادل د خداى ﷻ په مخلوق كي به عاص بن وائل واى چي يو سرسخت دښمن او مكذب د رسول الله ﷺ و.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فلولاک جار الله من فرقة الهوٰی لکنت جدیراً باجتماع الفضائل

که نه وای ته یا جار الله (په حذف د حرف ندآ، جار الله د مخشري لقب دٞ) له دلي څخه د اهل هوآ یعني معتزله، نو ته به مجمع د علومو د فضائلو وای مثل النحو والادب والمعاني والبیان وغیرها، یعني څپل فضائل دي په دې بیالول چې معتزلي یې.

دروښ وایي: چې مظهري رحمه الله په روایت د بغوي رحمه الله له کعب احبار څخه داسي روایت نقل کړی دی چې موسی علیه السلام په تورات کې ولیدل نو یې داسي وویل اني اجد یعني في التوراة امة خیر الامم اخرجت للناس یأمرون بالمعروف وینهون عن المنکر ویؤمنون بالله وبالکتاب الاول وبالکتاب الاخیر، ویقاتلون اهل الضلالة حتی یقاتلون الاعور الدجال رب اجعلهم من امتي قال یا موسی هي امة محمد ﷺ، دا خبره یې دومره اوږده کړې ده چې پوره صفحه یې په ډکه کړې ده والله اعلم چې بغوي رحمه الله په کوم سند سره دا خبره و کعب الاحبار ته رسولې ده چې په سند کې یې څوک څپل نظر ښکاره کړي، په بخاري، مسلم، ابو داود، ترمذي، ابن ماجه او نسائي کې خو دا حدیث نسته. او داغه رنګه په طحاوي، موطأ د امام مالک رحمه الله او په موطأ کې د امام محمد رحمه الله هم دا حدیث نسته.

وَكَتَبْنَا لَهُ فِي الْأَلْوَاحِ

او موږ نوشته کړه و موسی علیه السلام ته یعني ملکو نوشته کړه په امر زمونږ په تختو کې، چې هغه تختې یا اووه یا لس وې، او په حدیث شریف کې راغلي دي چې دا تختې له سدره څخه د جنت را ایستل سوي وې چې هره تخته دوولس ګزه وه او حسن بصري رحمه الله دا قدر ویلي دي کانت الالواح من خشب، او کلبي رحمه الله وایي چې د زبرجد وې، او سعید بن جبیر وایي چې د یاقوت احمر وې، او ابن جریج وایي د زمرد وې، په هر صورت جبرائیل علیه السلام خدای عزوجل امر کړی چې دا تختې یې له جنت عدن څخه راوړې فکتبها بالقلم الذي کتب به الذکر والمداد من نهر النور.

دروښ وایي: چې نور روایات هم مظهري راوړي دي مطالعه یې کړه.

مِنْ كُلِّ شَيْءٍ مَّوْعِظَةً وَتَفْصِيلًا لِّكُلِّ شَيْءٍ فَخُذْهَا بِقُوَّةٍ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

له هر شي څخه يعني چي بني اسرائيل ضرورت ورته لري له امورو څخه د دين "موعظة" يعني اوامر او منهيات چي له ترک څخه د اوامرو او له کولو څخه د منهياتو دي وبهربوي، په قاموس کي وايي "وعظه موعظة ذکره مايلين قلبه من الثواب والعقاب" نو موعظة مصدر ميمي دی، او مفصل بيان د هر شي من الحرام والحلال والحدود والاحکام من الفرائض والواجبات.

پوه سه: چي "تفصيلاً" بدل دی د "کل شئ" لانه في محل النصب چي مفعول به د "کتبنا" دی وکلمة من مزيدة لاتبعيضية ای کتبنا له کل شئ من المواعظ وتفصيل الاحکام. مقاتل رحمه الله وايي چي په اوله لوحه کي د تورات دا نوشته وه اني انا الله الرحمن الرحيم لاتشرکوا بي شيئاً ولاتقطعوا السبيل ولاتزنوا ولا تعقوا الوالدين "فخذها" عطف دی پر "کتبنا" په اضمار د قول ای فقلنا خذها، ولي بېله تقديره د قلنا يلزم عطف الانشا على الاخبار او ضمير مؤنث راجع دی يا الواح ته يا "وکل شئ" ته ولي هغه شی په سبب د دخول د کل چي معنی د اشياو دي يا د رسالاتو ته والاحوت هو الاول لمقرب المرجع والثالث ابعد لبعد المرجع والثاني بين بين "بقوة" يعني په قوت د زړه او په صحيح عزيمت سره او په جد او اجتهاد سره لئلا يقع الفتور في اجرائها.

وَأْمُرْ قَوْمَكَ يَأْخُذُوا بِأَحْسَنِهَا

او امر کړه قوم ستا يعني بني اسرائيل چي اخستل دي کوي يعني عمل دي کوي په هغه د پر بنه د الواحو يا د رسالاتو کمامر من قبل قريباً.

پوه سه: چي کلمه د با زائده ده په مفعول کي بعض مفسرين وايي چي له احسن څخه مراد عزيمت دی په هر عمل کي او له حسن څخه مراد رخصت دی په عمل کي مثلاً روژه نيول په سفر کي عزيمت دی او نه يې نيول رخصت دی، يا مثلاً درې واړه پرېول د اعضاؤ په اوداسه کي سنت او عزيمت دی او يو يا دوه واړه پرېول يې رخصت دی وعلى فقس، او بعض مفسران وايي چي مراد له احسن څخه تفضيل پر غير نه دی، ولي هر شی چي په کتاب الله کي وي هغه حسن بالغ غاية الحسن دی لايحتمل النقيض، ولا يجوز انيکون شئ حسناً منه،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو دا له دې قبيلې څخه دی چې يو سړی ووايي چې دوبی ډېر تود دی تر ژمي، نو په ژمي کې خو هيڅ ګرمي نسته، دا تفسير د قطرب رحمه الله دی.

او بعض مفسران وايي چې له احسن څخه مراد فرائض، واجبات، سنن او نوافل دي يعني چې په فعل کې يې ثواب وي او له حسن څخه مراد غير د ماذکر دی يعني المباحات چې په فعل کې يې ثواب نه وي وفسر بغير ذالک.

سَأُورِيكُمْ دَارَ الْفَاسِقِينَ ﴿١٤٥﴾

ژر دی چې زه به ووينم په تاسې کې دار د فاسقانو، بعض مفسرين وايي چې مراد له دار فاسقين څخه کورونه د فرعون او دده د قوم دي، او کورونه د عاديانو او د ثموديانو وامثالهم تاچې تاسې عبرت څنې واخلئ، نو تاسې به فسق نه کوئ بمخالفة ما امرتم به من الاحکام في التوراة. نو په هر تقدير بهرول ددوی مراد دی، او يا مراد څنې د سفر مځکه ده، او مځکه د جبابره او د عمالقه وو په شام کې، ومعنى الارائة الادخال على طريق الايراث، نو پر دې تقدير مراد ترغيب دی، او وعده د بنې اسرائيلو سره، او سدي رحمه الله وايي چې مراد څنې هلاک سوي ځايونه د کفارو اولينو دي، نو هم مقصود تحذير دی، او قتاده رحمه الله وايي چې هغه ځايونه مراد دي چې دوی په اسفارو کې و شام ته پر هغو ځايو تېرېږي من منازل عاد وثمود والقرون الذي اهلکوا، نو پر دې تقدير مقصود ددوی عبرت او تحذير دی، کما قال السعدي قدس سره.

پند گېر از مصائب ديگران — تانگيرند ديگران زتو پند
نرود مرغ سوی دانه فراز — چو ديگر مرغ بيند اندر بند

و ابعد التفاسير ما قيل دار الفاسقين مصيرهم في الآخرة الى جهنم، لانه يابا ه سياق الكلام.

سَأَصْرِفُ عَنْ آيَاتِيَ الَّذِينَ يَتَكَبَّرُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ

ژر دی چې زه به مصروفه کړم له آياتو څخه زما هغه کسان چې تکبر کوي په مځکه کې بېله حقه.

يوه سه: چې د "بغير الحق" قيد اتفاقي دی، ولې چې تکبر خو وي ناحق.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تکبر عزازیل راخوار کرد　　بزندان لعنت گرفتار کرد

دروښ وايي: چې ددې آيت ترجمې مفسرينو مختلفې کړې دي، سيد آلوسي بغدادي رحمه الله په روح المعاني کې وايي چې دا جمله په قول د شيخ الاسلام استيناف دی لپاره د تحذير د بني اسرائيلو له تکبر څخه چې موجب د عدم تفکر دی في الآيات المکتوبة في الواح التورات المتضمنة للمواعظ والاحکام، او نور آيات چې له جملې څخه د هغو ارائته تعالی دار الفاسقين، ومعنی صرفهم عنها منعهم بالطبع علی قلوبهم، نو قريب به نه وي چې دوی دي فکر ووهي په دې آيتو کې او عبرت دي څنې واخلي، او دا طبع علی قلوبهم له دې کبله څخه پيدا سوه چې دوی ټينګ دي پر خپل تجبر او تکبر.

پوه سه: چې باب د تفعل لپاره د تکلف دی يعني يرون انفسهم کبراً ويرون ان لهم ارتفاعاً في العالم السفلی ومزيد علی الخلق فلا ينتفعون بالآيات والنذر، او بعض مفسرين وايي چې معنا د آيت داده ساصرفهم عن ابطال آياتي بحذف المضاف عن آياتي المنزلة في التوراة او المعجزات او له دې څخه چې دوی دي نور د خدای ﷻ لغوه او مړ کړي ددوی په خولو لکه فرعون چې دا قصد کړی ؤ لکن آيات او معجزات پر ځای پاته سوله او فرعون له منځه ولاړی "والله متم نوره ولو کره الکافرون" او بعض مفسرين وايي ساصرف عن قبول آياتي المنزلة في التورات والتصديق بها بالحرمان عن الهداية لعنادهم الحق، وهذا التفسير راجع الی تفسير العلامة البغدادي رحمه الله کما لايخفی.

وَإِنْ يَرَوْا كُلَّ آيَةٍ لَا يُؤْمِنُوا بِهَا

او که ووينې دغه منکرين هر آيت منزلة في الکتاب او المعجزة المنصوبة لدرک الحق، دوی ايمان نه پر راوړي په سبب د عناد ددوی لکه کفارو د قريشو يا يهودانو د مدينې، او يا ايمان نه پر راوړي په سبب ددې چې دوی په خواهشاتو نفسانيه وو کې دوب دي هغو ددوی عقول ورفاسد کړي دي لکه ويل سوي چې دي

الشمس شمس وان لم يرها عين الفرير

والعسل عسل وان لم يدرک طعمه فاه المرير (ای الصفراوي)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِنْ يَّرَوْا سَبِيْلَ الرُّشْدِ لَا يَتَّخِذُوْهُ سَبِيْلًا ۚ

او که دوی ووینې یعنې په ستر ګو د سر لابعین القلب لار د هدایت په نبوونه د انبیاً کرامو او یا په موعظت د علماً الحق، دوی نه ګرځوي دغه لار د ځان لپاره یعنې عمل نه پر کوي، ولې پر چې پر دوی نفس او شیطان غلبه کړې ده.

وَإِنْ يَّرَوْا سَبِيْلَ الْغَيِّ يَتَّخِذُوْهُ سَبِيْلًا ۚ ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَكَانُوْا عَنْهَا غٰفِلِيْنَ ۞ وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَلِقَآءِ الْاٰخِرَةِ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ ۚ هَلْ يُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۞

او که دوی ووینې لار د ضلال او ګمراهي په نبونه د نفس او د شیطان نو دوی هغه لار ګرځوي د ځان لار د سلوک او تګ دا په سبب ددې چې دوی تکذیب کاوه د آیات زمونږ مراد له آیاتو یا آیات قرآنیه دي یعنې چې دا آیات قرآنیه دوی من عندالله نه بلل بلکې افتراً د علیه الصلوة والسلام یې وبلل او یا مراد له آیات ځخه معجزات د علیه الصلوة والسلام دي چې دوی د هغو تکذیب کاوه یعنې سحر او جادو یې باله، او دوی له هغو آیاتو ځخه غافله وه نه یې په آیاتو قرآنیه وو کې فکر واهه او نه یې معجزاتو ته د علیه الصلوة والسلام په غور کتل.

او هغه کسان چې تکذیب کوي د آیاتو زمونږ چې آیات قرآنیه دي یا معجزات النبي ﷺ زمونږ له خوا ځخه او تکذیب کوي په ملاقات د اخرت چې آخرت نه منې، لغوه اعمال ددوی یعنې که بعض اعمال حسنه وکړي پر هغو ثواب خدای پاک نه ورکوي لعدم شرطها وهو الایمان. او دوی ته جزاً نه ورکول کېږي په ورځ د آخرت مګر د هغو شیانو چې عمل یې کاوه من الکفر والمعاصي، نو "هل" استفهام انکاري دی، نو ځکه استثناً د الا ځندي صحیح سوه.

تکبر مکن زینها رای پسر — که روزی زدستش بر آیی بسر

دروښ وایي: چې مقابل د تکبر تواضع ده، د تکبر اول عامل شیطان دی حیث قال انا خیر منه ای من حین امر بالسجود له.

تواضع بود خوی دین پروران — تواضع بود خوی صاحب دلان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاتَّخَذَ قَوْمُ مُوْسٰى مِنْۢ بَعْدِهٖ

او جوړ کړی قوم د موسی علیه السلام یعنی بنی اسرائیلو وروسته تر تګ ده ومیقات ته د خدای ﷻ د دېرشو شپو لپاره چې لس شپې یې پر زیاتي کړې چې څلو ېښت شپې ځندي جوړي سوې "فتم میقات ربه اربعین لیلة".

سوال: دا کار چې وروسته په راسي یوازي سامري کړی ؤ، نو ګرده قوم ته یې ولې نسبت وکړی؟

ځواب: اکثره خلګ د موسی علیه السلام د قوم په دغه کار کې ور شریک وه او راضي وه نو ددې نسبت مثال داسي دی لکه ېنوا فلان قتلوا مع ان القاتل واحد منهم.

فائده: د بعض مفسرینو په نېز "اتخذ" متعدي و دوو مفعوله ته دی، اول مفعول یې "عجلاً" دی او مفعول ثاني یې محذوف دی یعنی "الها" نو دغه مفسر اتخذ په معنی د صیر بولي، نو ځکه یې ترجمه داسي کړې ده ای صیروا العِجل الهاً.

مِنْۢ حُلِيِّهِمْ عِجْلًا جَسَدًا لَّهٗ خُوَارٌ

یعنی د هغو زېوراتو څخه چې د بني اسرائیلو ېنځو د قوم فرعون له ېنځو څخه په عاریت راوړي وه په بهانه د یوه واده هغه وخت چې موسی علیه السلام او بني اسرائیلو اراده د وتلو درلوده له مصر څخه.

سوال: دا زېورات خو د بني اسرائیلو نه وه، نو څرنګه یې اضافت و بني اسرائیلو ته وکړی؟

ځواب: دا حلیه او زېورات خو ددوی په لاس کې وه چې فرعون او قوم یې هلاک سوه دوی یې مالکان سوه.

بوه سه: چې "عجل" د غوا ګیلګي (سخندر) ته وایي چې جمع یې عجاجیل ده

فائده: دا عجل سامري (چې اصل نوم یې موسی ؤ او منسوب و سامره ته ؤ چې د یوې قریې نوم دی) او دی زرګر ؤ، نو څه وخت چې موسی علیه السلام لس ورځې وځندېدی کمامر، نو سامري وبني اسرائیلو ته وویل چې سبب د ځنډ د موسی علیه السلام دادی چې ستاسي سره زېورات د آل فرعون موجود دي، نو خدای

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پاک تاسي په دغه ګناه ونیولاست او موسی علیه السلام یې درځخه ورک او منع کړی نو ورسئ هغه زبورات ټوله راوړئ چې وه یې سوځو شاید چې موسی علیه السلام به بیرته راسي، خلګو یې په خوله وکړه او زبورات یې ټوله جمع کړه او سامري خپل حصه زبورات هم راوړه ټوله یې و اور ته واچول، نو سامري د شپې دا ګیلګی جوړ کړی.

پوښتنه: باعث پر سامري څه و چې تخصیص د ګیلګي یې وکړی نه د بل حیوان؟

ځواب: سامري ولیدل چې د بني اسرائیلو د غوایي و عبادت ته شوق کېږي، ولي هغه وخت چې دوی پر عمالقه وو تېر بدله او هغو د بتانو پر شکل د بقر عبادت کاوه، نو بني اسرائیلو و موسی علیه السلام ته وویل اجعل لنا الها کمالهم الهة "جسداً" بدل دی من "عجلاً" ومعنی جسداً بدناً.

پوه سه: چې ابن عباس، حسن او قتاده او یو جماعت مفسرینو ویلي دي چې سامري چې دا ګیلګی جوړ کړی، نو په خوله کې یې د جبرائیل علیه السلام د پښو خاوري وروا چولې، مظهري وایي فصار ذا لحم ودم.

دروښ وایي: چې د سامري د قصې بیان او د سبب د معرفت د سامري جبرائیل لره او ددې خاورو د تاثیر بیان به په تفسیر کې د سورت "طه" به راسي ان شاء الله تعالی "له خوار" یعني ده ناري د ګیلګي (سخندر) وهلې، راویان وایي چې هر وخت به دا ګیلګي ناره وکړه دوی به پر سجده ورته پرېوتل چې هغه به ساکت سو دوی به سرونه راپورته کړه، سدي رحمه الله وایي چې دا ګیلګي به ناري وهلې او تګ یې هم کاوه، او وهب وایي چې خوراک یې کاوه او تګ یې نه کاوه وهذا ضعیف جداً.

دروښ وایي: چې د ډېرو خلګو په زړونو کې دا سوال ورګرځي چې دا د زبوراتو ګیلګی چې سامري ورجوړ کړی او بیا خاوند د لحم او دم سو کما قاله المظهري رحمه الله نو سامري ته څه ضرورت وو چې دومره تکلیفونه او زبورات یې ضائع کوله خو د شپې به تللی وای یو د غوا ګیلګی به یې رانیولی وای؟

ځواب: باعث پر سامري دا وو چې ددوی دمخه سره ګیلګی اولاً د زبوراتو جوړ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړی او چې په خوله کې يې خاورې وارواچولې ذا الحم او دم وګرځېدی او نارې د ګیلګې يې ویلې داد تعجب وړ خبره ده، نو ځکه سامري ورته وویل هذا الهکم وآله موسی. او دوی سجدې ورته شروع کړې، او دوی څلویښت ورځې دې ګیلګې ته سجدې وکړې، نو خدای پاک ودوی ته په عوض کې د یوې ورځې یو کال سرګردانې ورپښنه کړه په مقام تیه کې کمامر، وسیأتي ان شاالله تعالی.

پوه سه: چې د څلویښتو ورځو عبادت کول د ګیلګې مبنې پر دې دی چې په اول د ورځې چې موسی علیه السلام طور ته ولاړی سامري دا ګیلګی جوړ کړی او له تهر سوې بیان څخه چې موسی علیه السلام چې لس ورځې وځنډېدی، نو سامري دا کار وکړی نو د ګیلګې عبادت خو لس ورځې بنې اسرائیلو وکړی والله اعلم بالصواب.

دروښ وایي: چې صاحب د روح البیان خو هم اول دا ویلې ده لکه مظهري صار دماً ولحماً او روح المعاني هم ویلي ذي لحم ودم، لکن وروسته روح البیان په قیل سره دا هم ویلي دي چې هغه ګیلګی چې سامري جوړ کړی له زهوراتو څخه پر هغه صورت باقي وه چې خاورې به يې په خوله کې وارواچولې پر هغه صورت به يې نارې د ګیلګې وهلې وهذا عجب من الاول لکن رده المظهري، والله اعلم بالصواب.

فائده: په شپږ لکه بنې اسرائیلو کې دوولس زره پاته سوه، نورو ټولو د ګیلګې ته سجدې کولې او رقص يې ورته کاوه.

دروښ وایي: چې قرطبي په خپل تفسیر کې د طرتوشي رحمة الله علیه څخه نقل کړی دی چې له ده څخه چا پوښتنه وکړه چې یو قوم چې په یو ځای کې سره جمعه سي یعني پیر او مریدان او یو قاري پر دوی لږ قرآن ووایي، او بیا وروسته یو غزلي شعر شروع کړي، نو خلګ رقص ورته کوي او دریې او دولونه ورته وهي او نور آلات د لهو ولعب، آیا ددې په مجلس کې حضور روا دی؟ ده په جواب کې ورته وویل چې مذهب د صوفیه کرامو خو دادی چې داسې کار ضلالت او جهالت دی وما الاسلام الا کتاب الله ﷻ وسنة رسول الله ﷺ، و اما الرقص والتواجد فاول من احدثه اصحاب السامري فهو دین الکفار وعبدة العجل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او په حدیث کي د بخاري و مسلم وغیرهما داسي راغلي دي چي نبي ﷺ به د صحابه کرامو رضي الله عنهم سره ناست و، نو اصحاب کرام به په ډېر وقار او اطمنان سره ناست وه کان علی رؤسهم الطیر. او و سلطان ته د مسلمانانو او نائبانو د سلطان ته دا وظیفه ده چي ورته کسان په هیڅ ځای کي پرې نږدي خصوصاً في المساجد او هیڅ چا ته نه ده روا چي ایمان یې پر خدای ﷻ او پر رسول ﷺ او په ورځ د آخرت وي چي د ورته کسانو په مجلس کي به حاضر پوي او یا به پر دغه باطل کار کومک وسره کوي. وهذا مذهب ابي حنیفه. ومالک. والشافعي، واحمد. وغیرهم من ائمة المسلمین رحمهم الله تعالی اجمعین، روح البیان جز۹ سورة الاعراف ص۲۴۳.

دروېش وایي: چي داسي څوک چي هیڅ په ځان نه پوهېږي او حرکات یې لکه د مرتعش وي او بغاري او ناري او وجد او تواجد کوي. مشائخ هغه سړی ملامت نه بولي لانه معذور. سعدي شیرازي رحمه الله ددغسي خلګو په شان کي وایي.

مکن عیب درویش مدهوش ومست — که غرقست ازان می زند پاودست
نگویم سماع ای برادر که چیست — مگر مستمع رابدانم که کیست
گر از برج معنی پرد مرغ او — فرشته فروماند از سیر او
اگر مرد بازی و لهو است ولاغ — قوی تر شود دیوش اندر دماغ
چه مرد سماعست شهوت پرست — باواز خوش خفته خیزد نه مست

دروېش وایي: چي قول د سعدي قدس سره هو الفرق بین العاشق الحقیقي وبین متبع الهوی النفساني، وایضاً بین المحق والمبطل من المرشدین في الزمان الحاضر والله اعلم بالظواهر والسرائر.

دروېش وایي: چي د عاشقانو د طائفې سید او پېشوا د حقیقي مرشد انو خواجه عبدالله انصاري هروي قدس سره درکتاب فیض مآب خود چنین در فراگنده را درنظم نفیس خود جمع نموده وچنین میگوید

جبذا قومی که داد بندگی را داده اند
ترک دنیا گفته اند وزهمه ازاده اند
روزها باروزها درگوشها بنشسته اند

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نفس خود را قهر کرده روح کرده پر فتوح
زاد تقوی بر گرفته بهر مرگ آماده اند
طرفة العین نبوده فاغل نبوده از حضرت ولی
سیلها با این همه از دیدها بکشاده اند
یکزمان از نوحه همچون نوح فارغ نیستند
همچو یحی گوئیا از بهر زاری زاده اند
زآب تاب تب الی الله غسل کرده آن کسان
روی خود بر خاکپای اسجدوا بنهاده اند
ربنا گویند از ان لبیک عبدی بشنوند
جمله سرمست الست از جرعه این باده اند
راحتی دیدند وذوقی یافتند از انس وجان
روز وشب در کنج خلوت بر سر سجاده اند
تا بدنیا آمدند از کلبه کتم عدم
سوی حضرت جز نیاز ونالـه نفرستاده اند
پیر انصاری تو میدانی که ایشان کیستند
فرقه بی کرد پروز مرهٔ دل ساده اند

دروپش میگوید: نام نهاد مرشدان زمانه حاضر وچندین زمان قبل ازین پیری ومریدی را بضاعت جمع آوری نقود ونفقه عیال گردانیده اند و از مریدان مثل دروپش خرقه بدوش چنده وصول میگرند وعیش ونوش ومفروشات عالیه پیر صاحب از امور مذکور مریدان هزار گونه بالاتر میباشد واگر درخانه مرید خود مهمان شود کدام مصلی یا قالین وغیره که درخانه مرید به بینند بزبان حال سوال میکنند ومیگویند این چه خوب مصلی است وغیره مرید مسکین میگوید که صدقات شوم این مصلی وغیره برای حضرت شما است پس مرید آن چیز را بردوش گرفته همراه پیر صاحب تاخانه مرشد خود میبرد ودرعین حال مرید بیچاره خوش باشد که پیر صاحب فلان چیز مرا قبول نموده.

این سخن پایان ندارد باز گرد سوی تفسیر کلام الله گرد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَلَمْ يَرَوْا اَنَّهٗ لَا يُكَلِّمُهُمْ وَلَا يَهْدِيْهِمْ سَبِيْلًا

آيا نه وينې يعنې نه پوهېږي دغه خره چې ګيلګی يې خدای وګرځاوه په دې چې دغه ګيلګی ددوی سره خبرې نه سې کولای او نه ودوی ته ورښوولای سې يوه لار، يعنې دغه چې دوی يې عبادت کوي قادر نه دي چې پر هغو کارو چې افراد د بشر پر هغه کارو قدرت لري چې عبارت له خبرو څخه دی او يا لار ښوونه و يو چاته، نو څرنګه دوی ګمان پر کوي چې دا معبود د دوی به خالق السموات والارض وما فيهما وي، والمعبود يلزم انيكون كذالك يعني خالق السموات والارض ومافيهما وي.

اِتَّخَذُوْهُ وَكَانُوْا ظٰلِمِيْنَ ﴿۱۴۸﴾

دوی وګرځاوه دغه ګيلګی معبود او دوی په سبب د دغه اتخاذ ظالمين دي.
د ظلم معنا ده وضع الشيئ في غير موضعه او دوی هم دغسې وکړه چې عبادت چې حق دی د خالق السموات والارض په جماد ګيلګي کې يې کښېښو.
پوښتنه: د "اتخذوه" دوهم وار څه ضرورت و، آيا داسې کافي نه وه وكانوا ظالمين؟
ځواب: کافي خو وه لکن لپاره د مزيد ذم ددوی يې اتخذوا دوهم وار راوګرځاوه، در تفسير حسيني مېګويد، که در لطائف امام قشيري رحمه الله مذکور است که چه دوری است ميانی امتی که مصنوع خودرا پرستند وامتي که عبادت خالق وصانع خود ميکنند، بيت

آنرا که تو ساختی نسازد کارت　　سازنده کارت دردو عالم همان رب

وَلَمَّا سُقِطَ فِيْٓ اَيْدِيْهِمْ

پوه سه: چې "سقط" پر صيغه د مجهول مسند دی و وروسته ظرف ته وهذه العبارة كناية عن شدة الندم، يقول زجاج معناه سقط الندم في ايديهم اى في قلوبهم ونفوسهم تشبيهاً لما يحصل في القلب والنفس وهو الندم لما يحصل في اليد فيكون بمرئي منه او عام مفسرين وايي چې سړی چې سخت پښېمانه سي پر يو کار خپل لاس په خوله کي ورکړي او له ډېره غمه څخه يې په غاښو چيچي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو دده لاس ګوياپه خوله کي ولوهدی، د عربو دا محاوره ده چي هر څوک پښېمانه سي پر يو کار دوی وايي فلان سقط في يده.

پوه سه: چي دا پښېمانه دوی هغه وخت وکړه چي موسی عليه السلام راغلی او دوی ته يې ډېر عتاب او سرزنش ورکړی پر عبادت د عجل.

وَرَأَوْا أَنَّهُمْ قَدْ ضَلُّوا

او ددوی علم راغلی پر دوی چي په تحقيق سره ګمراهان وو په عبادت العجل او توبه يې وکښل او داسي يې وويل.

قَالُوا لَئِنْ لَمْ يَرْحَمْنَا رَبُّنَا وَيَغْفِرْ لَنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴿١٤٩﴾

دوی وويل که چېرې پر موږ رحم ونه کړي رب زموږ، او موږ ته ښخښنه ونه کړي يعني د عبادة العجل، نو حتماً او يقيناً موږ يو له ډلې څخه د تاوان کونکو يعني په دنيا او اخرت کي، په "لئن" کي لام موطئه د قسم محذوف دی يعني جواب د قسم محذوف دی والتقدير والله.

وَلَمَّا رَجَعَ مُوسَىٰ إِلَىٰ قَوْمِهِ غَضْبَانَ أَسِفًا

چي رجوع وکړه موسی عليه السلام وخپل قوم ته يعني وروسته تر څلو ښښتو ورځو په داسي حال کي چي په غضب ؤ يعني ددوی د بت پرستی له سببه. ابو الدرداء رضي الله عنه وايي چي شديد الغضب ؤ. او ابن عباس رضي الله عنهما وايي چي ډېر غمجن هم ؤ په سبب مذکوره سره.

قَالَ بِئْسَمَا خَلَفْتُمُونِي مِنْ بَعْدِي

وه يې ويل وعبدة العجل ته بد کار ؤ هغه تاسي زما په خلافت کي يعني تاسي ما خپل قائم مقام وګرځولاست تاسي دا فعل مذموم غاية الذم چي عبادت د عجل ؤ وکړی، او بعض مفسرين وايي چي خطاب و هارون عليه السلام ته ومن معه من المؤمنين دی "من بعدي" تر ما وروسته يعني چي زه و ميقات ته د رب عزوجل ولاړم، او يا معنا داده چي وروسته تر دې چي تاسي زما څخه واوړېدی توحيد د خدای عزوجل او تنزيه له شرک څخه في الخلق والعبادة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې "بئس" له افعال ذم څخه دی، او کلمه د ما موصوفه ده، تفسیر دی ضمیر مستکن په بئس کې ای بئس شیئاً او مخصوص بالذم محذوف دی، والتقدیر بئس خلافة خلفتموني خلافتکم هذه یعني چې ستاسي په حضور عبادت العجل کېدی، دا هلته دی چې مخاطب هارون علیه السلام و من معه من المؤمنین وي، او که مخاطب عبدة العجل وي، نو یې معنا داده چې بد کار وکړی یا عبدة العجل تر ما وروسته او زما په غیاب چې زه میقات د رب جل جلاله تللی وم.

أَعَجِلْتُمْ أَمْرَ رَبِّكُمْ

آیا تاسي تلوار وکړی تر امر د خدای جل جلاله یعني چې زه یې څلوېښت ورځې و میقات ته غوښتی وم لپاره د اعطاء التورات او تاسي دا توهم وکړی چې موسی مړ دی نو مو دین ته چې توحید او تنزیه ده تغیر ورکړی وشرک ته، لکه بعض نورو امتو هم دین د خپلو انبیاء کرامو علیهم السلام تغیر ورکړی دی وروسته وفات د انبیاء کرامو ددوی، والهمزة لانکار الواقع یعني دا کار منکر کار وکړی تاسو.

فائده: عجله عمل د شي، قبل الوقت کالصلوة قبل وقتها فلهذا صارت العجلة مذمومة في الشرع بخلاف السرعة فانها العمل بالعبادة في اول وقته فلذا کانت غیر مذمومة که څه هم بعض وخت ممدوح هم نه وي لکه صلوة الظهر في اول وقتها في الصیف عند ابي حنیفة رحمه الله.

وَأَلْقَى الْأَلْوَاحَ

وایې چولې هغه تختې چې تورات پکښې نوشته وۀ پر مځکه د سخت غضب له وجهې په لاړ کې د خدای جل جلاله، د ابن عباس رضي الله عنه په صحیح حدیث ثابته ده چې ده ویلي دي چې تورات په اوو تختو باندې د زبردج نوشته وۀ وفیها بیان کل شئ وموعظة وغیر ذالک، نو موسی علیه السلام چې راغلی او قوم یې مجتمعین پر عبادة د عجل ولیدله، تورات یې له لاسه ایله کړی، نو تختې ماتې سوې، نو خدای جل جلاله شپږ حصې بیرته پورته کړې یوه حصه پاته سوه، بغوي رحمه الله وایي چې هغه تختې چې اخبار بالغیب پکښې وۀ هغه پورته سوې، او هغه حصه چې په هغې کې توحید او نور عقائد او بیان د حلال او حرام او موعظة پکښې وۀ هغه پاته سوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: بیان د نبوت د علیه الصلوة والسلام او حلیه دده مبارک خو په تورات کي اوس هم سته نو دا اخبار بالغیب دی؟

خواب: دا که اخبار بالغیب هم دی لکن د عقائدو او موعظة په سبب پاته سو، یعني ایمان بالنبي اخیر الزمان محمد ﷺ د معتقداتو له قسمه څخه دی، لکه چې یهودانو دمخه تر ظهور د نبوت دده مبارک طلب د فتح پر مشرکانو به یې په برکت د نبي اخیر الزمان کاوه کما یدل علیه قوله تعالی "وکانوا یستفتحون به" لکن وروسته تر ظهور د علیه الصلوة والسلام او مدینې ته تر هجرت د یهودانو ملایانو هغه آیتونه چې نعت د علیه الصلوة والسلام پکښې دی یا یې پټ کړه یا یې بعض د نعتو دده مبارک بدل کړه حسداً وطلباً لریاسة علی عوامهم او لپاره د بدو چې ملایانو به یې له عوامو څخه اخستې "فلما جائهم ماعرفوا کفروا به" واشتروا ثمناً قلیلاً"

پوښتنه: موسی علیه السلام خو خدای ﷻ په طور کي خبر کړی په دغه فتنه د قوم یعني عبادة العجل "انا فتنا قومک" نو د تورات تختې یې یا په طور کي یا پر لارې ولي نه غورځولې؟

خواب: له ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چې احمد او طبراني راوړی دی قال قال رسول الله ﷺ لیس الخبر کالمعانیة ان الله اخبر موسی بما وضع قومه في العجل فلم یلق الالواح فلما عاین ماصنعوا القی الالواح فانکسرت کمامر عنقریب.

سوال: موسی علیه السلام ته په اخبار د خدای ﷻ په طور کي یقین نه دی حاصل په معاینه سره ورته حاصل سو او که څرنګه!؟

ځواب: په دې آیت کي فکر ووهه:

"وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِـۧمُ رَبِّ أَرِنِى كَيْفَ تُحْىِ ٱلْمَوْتَىٰ ۖ قَالَ أَوَلَمْ تُؤْمِن ۖ قَالَ بَلَىٰ وَلَٰكِن لِّيَطْمَئِنَّ قَلْبِى ۖ قَالَ فَخُذْ أَرْبَعَةً مِّنَ ٱلطَّيْرِ فَصُرْهُنَّ إِلَيْكَ ثُمَّ ٱجْعَلْ عَلَىٰ كُلِّ جَبَلٍ مِّنْهُنَّ جُزْءًا ثُمَّ ٱدْعُهُنَّ يَأْتِينَكَ سَعْيًا ۚ ﴿٢٦٠﴾" (البقرة)

حاصل د جواب دادی چې په معاینه سره خو اطمنان قلبي پیدا کیږي وهو فوق مرتبة الیقین کما دل علیه الآیة المتلوة فافهم غایة الفهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاَخَذَ بِرَاْسِ اَخِيْهِ يَجُرُّهٗۤ اِلَيْهِ ؕ قَالَ ابْنَ اُمَّ

او ونیوی موسی علیه السلام وروز دده هارون علیه السلام تر سر یعني تر وېښتانو د سر بحذف المضاف او راکش یې کړی د ځان و خواته، بغوي رحمه الله وایي چې د څنو او ږېرې یې ونیوی.

دروښ وایي: چې له دې آیت څخه ږېرې نه فهمېږي، نو ولې بغوي ږېره ورسره راوړه البته په بل ځای کې د قرآن مبارک ږېره راغلې ده. د موسی علیه السلام دا خیال سو چې هارون په منع کې د قوم د ګیلګې د عبادت تقصیر کړی دی.

پوه سه: چې هارون تر موسی علیهم السلام درې کاله مشر ؤ او بنې اسرائیلو ته تر موسی هارون محبوب ؤ لانه کان بطئ الغضب یعني حلیم ؤ ژر درد نه ورتلی، وهذا منشأ توهم موسی علیه السلام في تقصیره في المنع کما لا یخفی.

فائده: دا تروېښتانو کشول د هارون معاتبه وه ولا اهانة اعاذ الله موسی من ذالک.

پوه سه: چې اصل د "قال ابن ام" یا ابن امي حذف حرف النداء کما في قوله تعالی "یوسف اعرض عن هذا" ای یا یوسف، وروسته یې یاء دا ای حذف کړه لدلالة کسرة المیم علیها تخفیفاً، وروسته یې کسره د میم په فتحه بدله کړه لزیادة التخفیف کما في الکافیة.

تنبیه: موسی او هارون علیهم السلام په مور او پلار کې سره ورونه وه لکن هارون مور ذکر کړه لپاره د جلب د شفقت لان الام اشفق علی الولد من الاب.

اِنَّ الْقَوْمَ اسْتَضْعَفُوْنِيْ وَكَادُوْا يَقْتُلُوْنَنِيْ ۫

په تحقیق قوم یعني عبدة العجل چې اکثره حصه د بنې اسرائیلو هم دوی وه، زه یې په خیال ضعیفه ورغلم او زما په خوله یې نه کول، او قریب وه یعني دوی قصد کړی ؤ چې ما ووژني، حاصل د هارون علیه السلام د کلام دادی چې ما تقصیر په منع کې ددوی له عبدة العجل څخه نه دی کړی بلکې خپل تولې جدجهد مې وکړی حتی دوی زه مغلوب کړم، نو ته توهم د تقصیر پر ما مه کوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَلَا تُشْمِتْ بِيَ الْأَعْدَاءَ وَلَا تَجْعَلْنِي مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ۝

نو ته مه خوشاله کوه په ما سره دښمنان يعني داسي زما سره مه کوه چې سبب د خوشالی د دښمنانو وګرځي، په قاموس کي وايي چې شماتة اظهار د خوشالی دی په مصيبت او بلا سره د دښمن، او ته مامه ګرځوه په انتقام او په غضب کي د هغه قوم سره چې ظالمان دي يعني عبدة العجل.

پوښتنه: موسی عليه السلام چې دی د سر تر وېښتانو ونيوی او ځان ته يې راکش کړی، نو هغه فعل موسی عليه السلام دده سره وکړی چې دښمنان په خوشاله سره د هارون عليه السلام د نهي څه معنا ده؟

ځواب: د هارون عليه السلام مقصد دا وو چې يا مذکور فعل ته ادامه ورنه کړي او يا تر هغه اشد کار ورسره ونه کړي، فافهم.

قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِيْ وَلِاَخِيْ

وويل موسی (دا جمله مستأنفه ده) ماته وبخښې زما ګناه چې ما کوم وضعيت د ورور سره وکړی بېله ګناه او موجب بلکې پر صرف توهم د تقصير في المنع، او زما ورور ته بخښنه وکړې که له ده څخه تقصير سوی وي په منع کي د عبدة العجل عن عبادته.

پوه سه: چې موسی عليه السلام اولاً استغفار د ځان لپاره وغوښتی، لپاره د راضي کولو د ورور په ابهام ددې چې زما ملامتيا وه چې ته مي د سر تر وېښتانو ونيولې او ځان ته مي راکش کړې او لپاره د دفع د شماتت د دښمنانو په ما فعل بهارون. او د ورور دپاره طلب د بخښي وکړی لپاره ددې چې دی محتاج دی و استغفار ته ولي چې عبدة العجل چې مرتدان وه له دين څخه، نو ده بايد جنګ ورسره کړی وای او تر خپل سر تپر سوی وای. او مظهري رحمه الله وايي چې د موسی عليه السلام مقصود د ورور بخښنه وه ځان چې يې ورضم کړی لپاره د رضا د ورور ودفعاً لشماتة الاعداء.

دروښ وايي: چې له موسی عليه السلام څخه خو تقصير وسو چې پر صرف احتمال د تقصير د ورور په منع کي د عبدة العجل يې دی د سر تر وېښتانو کشاوه، او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بيا مظهري لپاره ددې چې مقصود د موسی علیه السلام استغفار د ورور ؤ بله وجه د استغفار د ځان لپاره داسې بيان کړې ده چې سنت د استغفار وبل ته دادی چې سړی شروع خپل په استغفار کوي لپاره د دفع د توهم د ځان د تزکيه، او بله وجه يې دا بيان کړې ده چې دعاً وغير ته وروسته تر استغفار د ځان اقرب و اجابت ده فان الذنوب مانعة عن الاجابة.

دروبش وايي: چې دا خبره د مظهري که څه هم په عمومي خلګو کې صحيح ده ولې هر سړی په ځان کې ګناه لري، نو بايد تر استغفار د بل استغفار د ځان وغواړي، لکن مظهري خو د موسی علیه السلام د تقصير منکر ؤ، صرف په ورور کې يې احتمال د تقصير ؤ نو دلته به د مظهري قانون څرنګه تطبيق سي، الا ان يقال چې مظهري رحمه الله د موسی علیه السلام د ګناه منکر ؤ لکن په موسی کې پرته له دې زلات وه له قسمه څخه د حسنات الابرار سيئات المقربين، نو له دې کبله بايد خپل د ځان لپاره يې استغفار د زلاتو ذمخه کړی واى، كما في قوله تعالى خطاباً لسيد المرسلين ﷺ "واستغفر لذنبك وللمؤمنين والمؤمنات فانه فسر الذنب المذكور في هذه الآية بالذلة، يعني من قبيل حسنات الابرار سيئات المقربين لانه عليه الصلوة والسلام معصوم من الكبائر والصغائر لكه دروښ چې ددې مسئلې پوره تحقيق کړی دی په نقل له صحيح کتابو څخه په يوه رساله کې چې نوم يې كشف الغطاً عن عصمت الانبياً دی چې د ډېرو کلو راهيسته کتاب فروشانو چاپ کړې ده، او په مکتبو کې موجوده ده، که څوک ددې مسئلې د تحقيق خواهشمند وي بايد په مکتبو کې يې تر لاسه کړي وبالله التوفيق.

وَاَدْخِلْنَا فِیْ رَحْمَتِكَ ۖ وَاَنْتَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ۝

او موږ داخل کړی ستا په رحمت کې يعني په دنيا او اخرت کې وبمزيد الانعام علينا في الدارين او ته اې خدايه ډېر رحم کونکی يې تر ټولو رحم کونکو پر بندګانو باندې، پښتانه وايي اې تر مور او پلار مهربانه خدايه پر موږ رحم وکړې د پښتنو دا قول ډېر زيبا دی او ددې سره پوره سمون لري.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ الَّذِينَ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ سَيَنَالُهُمْ غَضَبٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَذِلَّةٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا

په تحقیق هغه کسان چې ګیلګی یې الله او معبود وګرځولی وُ ژر دی چې دوی ته به ورسېږي غضب یعنې اثار د غضب له جانبه څخه د رب ددوی یعنې په دنیا کې وهو ما امروا به من قتل انفسهم کمامر في تفسیر سورة البقرة.

پوه سه: چې "غضب" چې منصوب سي وخدای ﷻ ته پر خپل معنا حقیقي نه دی بلکې په معنا د انتقام دی لان حقیقة الغضب ثوارن الدم في القلب للانتقام وهذا المعنی لایتصور في حق الباري تعالی کما لایخفٰی "وذلة آه" معطوف دی پر "غضب" یعنې غضب او ذلت به دواړه په دې دنیا دوی ته ورسېږي او دا ذلت ددوی خروج وُ له خپلو وطنو څخه په تسلط د بخت نصر البابلي پر دوی باندې یعنې وروسته تر زمانې د موسی علیه السلام او یا دا چې پر اولادو د هغو بالوسائط ذلت په دنیا کې راسي لکه چې پر بني قریضه و او بني نضیر چې خدای ﷻ علیه الصلوة والسلام او مؤمنان مسلط کړه چې بعض یې ووژل او بعض یې جلا وطنه کړه کما في الاحادیث الصحیحة.

پوښتنه: د نحو په کتابو کې وایي چې کلمه د "سین" لپاره د استقبال قریب ده او "سوف" لپاره د استقبال بعید ده او سره ددې چې تسلط د بخت نصر بابلي پر دوی، او یا تسلط د مسلمانانو پر بني النضیر او قریضه په سوو کلنو وروسته وُ فما معنی السین في سینالهم؟

ځواب: هغه شي او کار چې تقدیر الهي پر هغه سوی وي که بعید وي هم قریب دی ولذالک قال العلماً ما ابعد مافات وما اقرب ما هوات.

وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُفْتَرِينَ

دغه سي ده جزاً د درواغو ګویه، نو په قصده سره.

ابو قلابة رحمه الله وایي: نعم! والله جزاً کل مفتر الی یوم القیامة ان یذله الله تعالی في الدنیا الی یوم القیامة، او سفیان بن عیینه رحمه الله وایي هذا جزاً کل مبتدع الی یوم القیامة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې کلام د سفيان منقوص دی. ولې چې دهر مبتدعان په دور حاضر کې پر سر قدرت او مستقل حکومتونه لري کما لا يخفى.

وَالَّذِينَ عَمِلُوا السَّيِّاٰتِ ثُمَّ تَابُوْا مِنْۢ بَعْدِهَا وَاٰمَنُوْٓا اِنَّ رَبَّكَ مِنْۢ بَعْدِهَا لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝

دروښ وايي: چې مظهري رحمه الله په قرينه د سابق کلام چې په شان کې د بنې اسرائيلو وُ چې د سامري د ګيلګي عبادت يې ځلوېښت ورځې کړی وُ، ددې آيت ترجمه يې داسې کړې ده يعني "الذين عبدوا العجل من قوم موسى ثم تابوا من ذالک" ای عبادة العجل وآمنوا يعني بالتوحيد بعد ما كفروا واشركوا بعبادة العجل "وقتلوا انفسهم" ای قتل من لم يعبد العجل الذين عبدوا العجل بامر الله تعالى "ابتغاء مرضات الله" نو په تحقيق ستا رب اې موسى عليه السلام وروسته تر توبې مبالغ المغفرة او رحيم دی وان كانت ذنوبهم عظيمة متكثرة، او ان سره له اسمه او خبره خبر د موصول دی يعني والذين آه انتهى بعضه بلفظه وبعضه بالترجمة، وبعضه بالزيادة من جانب العاصي لتوضيح كلام المظهري رحمه الله.

علامه بغداد السيد محمود الآلوسي رحمه الله په روح المعاني کې دا آيت جمله معترضه بولي په منځ کې د احوالو د بني اسرائيلو او د موسى عليه السلام او خاص يې په بني اسرائيلو پورې نه بولي لکه مظهري رحمه الله، ولې علامه بغداد داسې وايي والذين عملوا السيئات "ای سيئة كانت لعموم المغفرة ولانه لا داعي للتخصيص ای بني اسرائيل" ثم تابوا من بعدها "وهو تصريح بما يقتفيه ثم" وآمنوا، چونکه دلته دا سوال پيدا کېدی چې توبې لره خو ايمان شرط دی نو څرنګه ايمان وروسته تر توبې ذکر سو. نو آلوسي رحمه الله دا سې جواب ورکړی دی وآمنوا "ای اشتغلوا بالايمان وما هو مقتضاه من الاعمال الصالحة وهو عطف على تابوا" يعني مراد له امنوا څخه حيقيت ايمان نه دی، ولې چې هغه تر توبې دمخه دی بلکې مراد اعمال صالحه دي التي هي من مقتضى الايمان وعدم الاصرار على السيئات، او بل جواب يې دا ورکړی دی چې آمنوا دي حال وي په تقدير د قد يعني وقد آمنوا ای قبل التوبة وروسته يې دا سې ويلي دي چې پر هر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تقدير آمنوا ذكر د خاص دی بعد العام للاعتناء به لان التوبة عن الكفر هو الايمان فلا يقال التوبة بعد الايمان كيف جائت قبله. او سيد آلوسي نور جوابونه هم ورکړي دي د سوال مذکور.

دروښ وايي: چي ابو نواس رحمه الله دا دوه په زړه پوري شعرونه د عاصيانو د خوشاله کولو لپاره راوړي دي.

يا ربي ان عظمت ذنوبي كثرةً ... فلقد علمت بان عفوک اعظم

ان كان لايرجوک الا محسن ... فبمن يلوذ ويستجير المجرم

او روح البيان لکه روح المعاني دا آيت جمله معترضه بولي او په بني اسرائيلو پوري يې خاص نه بولي، حيث قال والذين عملوا السيئات اى سيئة كانت ثم تابوا من تلك السيئات وآمنوا ايماناً صحيحاً خالصاً واشتغلوا بما هو من مقتضيات الايمان من الاعمال الصالحة.

دروښ وايي: چي وبهذه العبارة دفع البرسوي رحمه الله السوال المذكور كالآلوسي وقد مر ذكره، قال المولى الرومي في المثنوي

گر سيه کردی تو نامهٔ عمر خويش ..... توبه کن زانها که کرد ستی تو پيش

عمر اگر بگذشت بخيش اين دم است ..... آب توبش ده اگر او بی نمست

چون بر آرند از پشيمانی انين ..... عرش لرزد از انين المذنبين

وَلَمَّا سَكَتَ عَنْ مُوسَى الْغَضَبُ أَخَذَ الْأَلْوَاحَ

چي ارام سو د موسى عليه السلام غضب او درد په سبب د اعتذار د هارون او په پښيمانی د قوم او په توبه د دوی، نو يې راواخستلې هغه باقي مانده تختي چي تورات باندي نوشته وُ او شپږ حصې يې بيرته اسمانو ته پورته سوي وې او يوه حصه يعني اوومه حصه يې پاته سوه.

سوال: سکوت خو مقابل د تکلم دی، نو په ځای کي د سکت چي سکن راغلی وای نبه به نه وای او که څرنګه؟

ځواب: په عبارت قرآني کي مبالغه ده يعني دا غضب د موسى عليه السلام يې داسي وګرځاوه لکه يو امر پرده په فعل بهارون عليه السلام، نو ځکه يې په سکت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تعبیر وکړی د سکن په ځای کې گویا هغه آمر دده ساکت سو.

دروښ وایي: چې ددې ځواب په روح البیان کې په ښه تفصیل سره ذکر دی او مظهري مجمله اشاره ورته کړې ده او روح المعاني یې نوع د مجاز بیان کړې ده حیث قال وفي الکلام استعارة مکنیة حیث شبه الغضب بشخص آمر علی موسی واثبت له السکوت علی طریق الاستعارة التخییلیة، او په دې کې یې طویل کلام کړی دی خو اخیراً یې دا ویلي دي ففي الکلام مبالغة وبلاغة لایخفٰی علو شانها، او قرطبي هم په خپل تفسیر کې ورته ځواب راوړی دی بلکې په ټولو تفاسیرو کې ژه استفاده او نقل ځندي کوم.

دروښ وایي: چې حاسدانو ته ښه بهانه جوړه سوه چې ما سارق بولي دوی بېچاره گان د نقل او د سرقه په فرق نه پوهېږي، خدای ﷻ دي انصاف ورکړي او په خپل جهل دې پوه کړي.

وَ فِیْ نُسْخَتِهَا هُدًی وَّ رَحْمَةٌ لِّلَّذِیْنَ هُمْ لِرَبِّهِمْ یَرْهَبُوْنَ ﴿۱۵۴﴾

او په نسخه کې د الواحو هدیً یعني لاربنوونه وه د گمراهي او د حق یعني الفرق والتمییز بین الضلالة والهدایة او رحمت ؤ له عذاب ځخه لپاره د هغه کسانو چې له خدای ﷻ ځخه ویرېږي.

پوه سه: چې کلمه د لام په "لربهم" کې مزید ده لپاره د تاکید د عمل ده، او کسائي رحمه الله وایي چې کلمه د لام یې له دې سببه پر داخله کړه چې د فعل عمل په سبب د تاخیر ضعیف سو، وهذا تفصیل لما قبله کما في قوله تعالی للرویا تعبرون، او قطرب وایي چې لام په معنا د من دی یعني من ربهم، وهذا اوفق بعلم الصلات، او بعض علماً وایي چې لام د تعلیل دی یعني یرهبون من المعاصي لاجل خشیة ربهم، قوله "في نسختها" الواو حالیة ای والحال چې هغه چې نسخ سوي په الواحو کې او نقل سوي له اصل ځخه چې لوح محفوظ دی، ولي نسخ عبارت دی له نقل ځخه د اشکالو د کتابت وتحویلها من الاصل المنقول عنه یو سړی چې یو کتاب له بل کتاب ځخه حرفاً حرفاً نقل کړي. نو دا سړی وایي نسخت هذا الکتاب من ذالک الکتاب ای نقلته منه، هذا ما قال بعض

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

المفسرين چي "نسخة" فعلة دی په معنا د مفعول ای المنقول عن غيره او عطا وايي ای فيما بقي منها، او ابن عباس رضي الله عنه او عمرو بن دينار رحمه الله وايي چي موسی عليه السلام چي الواح وغورځولې او ماتي سوې نو څلويښت ورځي ده روژه ونيول فردت اليه في لوحين.

دروېش وايي: چي دا قول چي تولـه تورات او الواح پـه دوو تختـو کـي راوګرځول سو، لاينافي ما سبق چي شپږ تختې چي پـه هغـو کـي مغيبات نوشتـه وه هغـه يکلخـتـه ولاړې، نو مراد دادی چي هغـه د عقائد او حلال و حرام او نور احکام چي پکښې وه هغـه تختـه هم ماتـه سوې وه، هغـه تختـه پـه دوو صحيح سالمو تختو کي راوګرځول سوه والله اعلم بالصواب.

وَاخْتَارَ مُوسَىٰ قَوْمَهُ سَبْعِينَ رَجُلًا لِّمِيقَاتِنَا

او مختار کړه موسی عليه السلام له خپل قوم څخه اوويا (۷۰) کسان لپاره د ميقات زمونږ يعني د هغه وخت لپاره چي مونږ وعده ورکړې وه و موسی عليه السلام ته چي پر دغه به تاسي راځئ کوه طور ته.

پوه سه: چي پـه "قومه" کي من جاره محذوف دی ای من قومه، يعني اختار چي متعدي پـه من سره ومفعول تـه سي حرف جر ځندي حذف کړي او فعـل يې پـه خپلـه متعدي کړي چي دې تد پـه نحو کي حذف او ايصال وايي.

فائده: دا اوويا کسان د هغو بني اسرائيلو څخه وه چي عبادت د عجل يې نـه و کړی. حاصـل د قصې دادی چي خدای پاک موسی عليه السلام امر کړی چي پـه اوويا کسـه سره يـه د بني اسرائيلو کـوه طور تـه راځي ماتـه بـه عذر کـوې پـه بـاره کـي د عبادة العجل نو موسی عليه السلام پـه دوولس سبطه کي له هر سبطه څخه ددوی شپږ کسه مختاره کړه، نو مجموعه يې دو اوويـاه کسـه سوه، نـو موسی عليه السلام ورتـه وويل چي دوه کسـه دي پاتـه سي، نو ددوی پـه دې کي اختلاف سره پيدا سو چي د کوم سبط دوه کسـه بـه پاتـه ږي، نو موسی عليه السلام ورتـه وويل چي هر څوک چي پـه خپلـه رضا پاتـه سي هغـه تـه خدای پـاک د تلونکـو ثـواب ورکـوي، نـو کالـب او يوشع پاتـه سوه. نو موسی عليه السلام او باقي اوويا کسـه سره رارهي سوه د کـوه طور

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پر لور، نو دوی چې طور ته ورنژدې سوه، یوه وریځ پیدا سوه چې ټوله یې په خپل لمن کې ونیول او ګرده پر سجده سوه، نو دې اوویا کسانو اوریدله چې د موسی علیه السلام سره یو څوک خبرې کوي او امر او نهي ورته کوي، نو وریځ پورته سوه، نو ودغو اوویا کسانو ته موسی علیه السلام وویل چې دا خبرې خدای پاک کولې، نو دوی ورته وویل چې موږ ستا تصدیق نه کوو چې دا تکلم د خدای ﷻ وُحتی نری الله جهرة تر څو چې موږ خدای پاک ونه وینو بې حجابه، نو پر دوی نازله سوله تکه یا د غره ټبور ېدل یعني زلزله، نو ټوله اوویا کسان د تکې یا زلزلې له کبله مړه سوه، وهذا قول السدي رحمه الله. او ابن عباس رضي الله عنه وایي چې دغو اوویا کسانو چې وه یې ویل لن نؤمن لک حتی نری الله جهرة فاخذتهم الصاعقة" دمخه تر هغو اوویا کسانو چې زلزله پر وسوه ابن عباس رضي الله عنه زیاته کړې ده دغه اوویا کسان د دعا لپاره خدای پاک ورغوښتي وه نو دوی د دعا ګانو په لړ کې دا دغا هم وکړه اللهم اعطنا مالم تعطه احداً قبلنا ولا تعطه احداً بعدنا فانکر الله ذالک السؤال الاخیر فاخذتهم الرجفة یعني الزلزلة والله اعلم.

فَلَمَّآ أَخَذَتْهُمُ ٱلرَّجْفَةُ

هغه وخت چې دوی رجفه وینول.

سوال: ددوی د رجفه سبب ددوی هغه مخکښې دعا وه کمامر آنفاً او که بل شی و؟

ځواب: جلال الدین السیوطي رحمه الله په روایت د ابن عباس رضي الله عنه وایي چې سبب د زلزلة شدیده دا و چې دغو اوویا کسانو که څه هم عبادة العجل نه و کړی لکن د عبدة العجل سره یو ځای اوسېدل ځندي جلا سوي نه وه انتهی، نو موسی علیه السلام چې یې حالت ولیدی زړه یې پر وسو او وبهر بدی چې له دغې زلزلې څخه مړه نه سي او دا د دوی زلزله پر موسی علیه السلام سخته پر هو تل ولې چې دا اوویا کسان د موسی علیه السلام وزیران وه او دده د خبرو سامعین او دده مطعین وه فعند ذالک دعی وبکی وناشد ربه تبارک وتعالی.

قَالَ رَبِّ لَوْ شِئْتَ أَهْلَكْتَهُم مِّن قَبْلُ وَإِيَّاىَ

نو موسی رب یعني یا رب که ستا خوښه وای یعني اراده دې وای دوی په دې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هلاک کړي وای دمخه تر راتګ و طور ته او زه به دي هم هلاک کړی وای، بعض مفسران وایي چي موسی علیه السلام خپل ځان د تفویض و ارادې ته د خدای ورسره جوت کړی ورنه مقصود یې دا وو چي دوی به دي هلاک کړي وای دمخه تر راتګ زما سره تاچي بني اسرائیلو یې مرګ لیدلی وای، نو زه به یې نه متهم ولای په قتل ددوی، او بعض مفسرین وایي چي دا خبره موسی علیه السلام ترحماً پر دوی وکړه کمامر انهم کانوا وزراً له ومطیعین له، نو یې معنا داده چي موسی علیه السلام دا تمنی وکړه چي دوی او زه به دي هلاک کړي وای په بل سبب سره چي دا موضوع مو نه وای لیدلې یعني لن نؤمن لک حتی نری الله جهرة کمامر في قول السدي رحمه الله او یا مراد دا و چي ته اې خدایه قادر وې پر هلاک ددوی دمخه تر دې یعني فرعون به دې پر مسلط کړی وای چي وژلي یې وای او یا دي په دریاب کي لکه فرعون او قوم دده غرق کړي وای، نو تا اې خدایه پر دوی رحم وکړی یعني په دې دوو هلاکتو دي نه کړه هلاک، نو یو وار بیا رحم پر وکړې اوس دا هلاکت ځندي لهړي کړه.

دروښ وایي: چي دا ډېره ښه توجیه ده قد صرح به صاحب روح المعاني و المظهري واشار اليه صاحب روح البيان والله اعلم بمراده في كتابه.

أَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ السُّفَهَاءُ مِنَّا

آیا ته موږ هلاکوې په هغه کار چي زموږ ناپوهانو کړی وُچي یا دلاوري ده پر طلب د رؤیت په دنیا کي لکه بعضو چي دا طلب وکړی او یا عبادة العجل دی، مبرد وایي چي دا استفهام لپاره د طلب د مهربانی د خدای پاک دی ای لاتهلكنا

پوه سه: چي موسی علیه السلام خو په دې پوهېدی چي خدای یو سړی د بل په ګناه نه نسي لکن بیا هم ادباً ده دا سوال وکړی.

إِنْ هِيَ إِلَّا فِتْنَتُكَ

نه وُ دا خصلت چي طلب د رؤیت وُ او یا عبادة العجل مګر نه ستا ابتلا وه د بني اسرائیلو.

دروښ وایي: چي ما د خصلت لفظ ذکر کړی لپاره د مرجع مؤنث د هي،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

امتحان په دې معنا و چې دوی خبرې واورېدلې ددوی شوق د رؤیت پیدا سو، او طلب د رؤیت یې وکړی، او په ګیلګي کي د سامري خو خاورو ژوند پیدا کړی، نو دوی یې عبادت شروع کړی.

تُضِلُّ بِهَا مَنْ تَشَآءُ وَتَهْدِیْ مَنْ تَشَآءُ اَنْتَ وَلِیُّنَا فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا وَاَنْتَ خَیْرُ الْغَافِرِیْنَ ۝

ته ګمراه او بې لارې کوي هغه څوک چې ستا اراده ورته وسي لکه هغه کسان چې طلب د رؤیت قبل الوقت یې وکړی او یا یې عبادة العجل وکړی، او ته هدایت ورکوې هغه چاته چې ستا اراده ورته وسي نو ایمان یې لا قوي سي، ته زموږ ناصر او دوست یې، نو ته موږ وبخښې یعني زموږ ګنهونه او رحم راباندې وکړې او ته یې اې خدایه ښه د غافرینو یې.

پوه سه: چې غافرین یې په صیغه د جمع راوړه او خدای یې خیر تر ټولو وباله، وجه یې داده چې د خدای پاک د ګنهګار بنده چې طلب د مغفرت وکړي او پر ګناه توبه وکاږي خدای پاک یې سیئات په حسناتو وربدلوي او نورهم عظیم رحم پر کوي بخلاف العباد الغافرین لمن اسأ لهم، او بله په زړه پوري وجه یې داده چې بنده د بل بنده تر ګناه ورتېرېږي او بخښنه ورته کوي هغه یا د اغرض لپاره وي چې مغفور به زما د پېر صفت د خلګو په مخ کي وکړي، او یا له خدای ﷻ څخه ثواب جزیل غواړي او یا یې غرض په بخښنه کي د خپل زړه قسوت دفع کول وي، واما الله تبارک وتعالی فیغفر ذنوب عباده لا لاجل غرض ولاعوض ولا نفع اخر راجع الیه تعالی بل یغفر بمحض الفضل والکرم، نو دا خبره حق ده چې خدای پاک خیر الغافرین دی او ارحم الراحمین دی.

دروېش وایي: چې فاغفر یا مولای ذنوبي کلها بمحض فضلک وجودک وکرمک واحسانک واغفر لوالدي وارحمهما کما ربیاني صغیرا آمین.

وَاكْتُبْ لَنَا فِیْ هٰذِهِ الدُّنْیَا حَسَنَةً وَّفِی الْاٰخِرَةِ اِنَّا هُدْنَآ اِلَیْكَ ؕ

پوه سه: چې د "کتابت" معنا نوشته نه ده بلکې په معنا د ثبت لنا موږ ته په ذې دنیا کي حسنه یعني توفیق الطاعة والصحة والعافیة والنعمة والخلاص من

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درک الشقا وغلبة الاعدا وغیرها من نعم الدنیا او په اخیرت کي هم حسنه راکړي یعني مغفرت د ګنهو او رحمت او جنت دار الکرامة بلا حساب وعتاب، مورِ ته "هدنا من هاد یهود ای رجع" یعني توبه مو کښلی ده وتاته من اعادةٍ وهغو اعمالو ته چي پخوا مو کول، بیت

الهي تبت عما کان مني ... فکفر سیئاتي واعف عني
الهي عبدک العاصي آتاکا ... مقراً بالذنوب وقد دعاکا
فان ترحم فانت لذالک اهل ... وان طرد فمن یرحم سواکا

قَالَ عَذَابِيٓ أُصِيبُ بِهِۦ مَنْ أَشَآءُ ۖ وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ

وویل خدای ﷻ په جواب کي د دعا د موسی علیه السلام عذاب زما زه یې رسوم دغه عذاب و هغه چاته چي زما ورته اراده وي من عبادي.

پوه سه: چي مفعول د "اشا" محذوف دی ای اشا تعذیبه او رحمت زما فراخه دی وهر شي ته صغیراً او کبیراً.

دروښ وایي: چي په دنیا کي رحمت د خدای ﷻ عام دی مؤمن او کافر، مکلف او غیر مکلف بلکې حیواناتو ته، د بر او بحر ته چي دا نعمت صحت او عافیت او بنین وبنات دي ومواشي وذهب وفضه وغیرهما.

پوښتنه: په اخیرت کي ولي کافران له دې رحمت عامه څخه محروم دي؟

ځواب: دوی په خپله ابا وکړه له رحمت څخه د خدای ﷻ په اخیرت کي حیث جعلوا له شریکاً یا یې عزیر ابن الله وباله یا یې عیسی علیه السلام ابن الله وباله یا یې ملائکه بنات الله وبللې وغیرها من انواع الکفر، په حدیث شریف کي راغلي دي چي روایت یې بخاري کړی دی "کل امتي یدخلون الجنة الا من ابی" زما ټوله امتیان به جنت ته داخلیږي مګر نه هغه څوک چي منع وکړي له دخلو څخه د جنت، پوه سه! چي له امت څخه عام مراد دی که امت اجابت وي که امت دعوت وي "قیل ومن ابی؟ قال من اطاعني دخل الجنة ومن عصاني فقد ابی" چا و علیه الصلوة والسلام ته وویل چي څوک به وي منکر یعني له دخول څخه د جنت؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل چي هر څوک چي زما اطاعت وکړي هغه به داخلیږي وجنت ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او څوک چې زما نافرماني وکړي په تحقيق هغه ابا وکړه له دخول څخه د جنت.

ای کریمی که از خزانه عیب — گیر وترسا وظیفه خور داری
دوستان راکجا کنی محروم — تو که با دشمنان نظر داری

فَسَأَكْتُبُهَا لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَوٰةَ وَالَّذِينَ هُم بِآيَاتِنَا يُؤْمِنُونَ ۝

ژر به زه واجب وګرځوم په اخيرت کې يعني تاسې ته اې بني اسرائيلو هغه کسانو ته چې له کفر او معاصي څخه ځان وباسي، او هغه کسان چې ورکوي زکوٰة که د نقودو وي او که د مواشيو وي. او هغه کسان چې دوی په ټولو آياتو يعني کتابو باندې ايمان راوړي. يعني که څه هم بعض کتابونه منسوخ سوي وي له جانبه د خدای ﷻ.

دروښ وايي: چې امنت بالله وملائكته وكتبه ورسله واليوم الآخر والقدر خيره وشره من الله تعالى والبعث بعد الموت انتهى.

الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الْأُمِّيَّ

هغه کسان چې له خدايه ويرېږي، هغه کسان دي چې متابعت وکړي په دين کې د رسول چې نبي دی چې مراد څندي محمد ﷺ دی چې رسول دی نسبت و خدای ﷻ ته چې خدای پاک را استولی دی لپاره د هدايت د خلګو او نبي دی نسبت و بندګانو ته چې بندګانو ته دين الهي ورسوي او دا نبي امي دی.

پوه سه: چې "الذين" خبر د محذوفي مبتدأ دی ای هم الذين يعني الذين يتقون.

پوه سه: چې "امي" منسوب و ام ته دی يعني لکه چې مور زېږولی وي پر هغه حال پاته دی لم يكتب ولم يقرأ.

دروښ وايي: چې اميت که څه هم په نورو خلګو کې عيب دی لکن په عليه الصلوة والسلام کې معجزه ده، له دې جهته که عليه الصلوة والسلام کاتب او تاريخ دان شخصيت وای خلګو به ويلای چې دا قرآن دی له تاريخو څخه وعربي ت را نقل کړي او دا قصص قرآنيه هم له تاريخو څخه نقل کوي لکن چونکه دی امي دی نو دا تو هم دفع سو. ولي داسې قرآن چې د عربو بلغا او شاعران د ايتان د اقصر سورة ددې قرآن عاجزه دي، نو يقيني ده چې دا قرآن من عند الله دی، عليه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الصلوة والسلام وايي انا امية لاتكتب ولا تحسب الى اخير الحديث (بخاري ومسلم)

او بعض مفسرين وايي چي امي منسوب و امت ته دى لكثرة امته، مسلم له انس ﷺ څخه روايت كړى دى چي انا اكثر الأنبيا تبعاً يوم القيامة وانا اول من يقرع باب الجنة آه ويوئيده ما ورد، چي اهل جنت د قيامت په ورځ يو سل وشل صفه وي وعلم الصف الواحد عند الله، په دې يو سل وشل صفه كي اتيا صفه امت د عليه الصلوة والسلام وي، او څلوېښت صفه به د نورو انبياؤ امتيان وي، ويوئيده ما ورد في الحديث الصحيح چي عليه الصلوة والسلام وويل ارجوا انيكون امتي ثلثى اهل الجنة، بيت

نگار من كه بمكتب نرفت وخط ننوشت.... بغمزه مسأله صد مدارس سفت

دروبش وايي: چي پر تقدير ددې چي منسوب و امت ته سي، نو اصل د امي امتي ؤ تا يې په نسبت كي له جهته څخه د كثرت استعمال څندي حذف كړه كما في المكي والمدني، او بعض مفسرين وايي امي منسوب دى و ام القرى ته چي مكه مكرمه ده، مفسرين وايي چي په دغه قيد سره يعني "الذين يتبعون آه" هغه بني اسرائيل خارج دي چي زمانه د عليه الصلوة والسلام يې نيولې وي او ايمان يې نه وي پر راوړى وبقى في الحكم المذكور يعني الذين يتقون الخ، هغه بني اسرائيل چي زمانه د نبوت د نبي عليه السلام يې نه وي نيولې كما لايخفى.

الَّذِيْ يَجِدُوْنَهٗ مَكْتُوْبًا عِنْدَهُمْ فِي التَّوْرٰىةِ وَالْاِنْجِيْلِ

هغه نبي امي چي بني اسرائيل يې پيدا كوي دى ليكلى په نېز ددوى په تورات كي د موسى عليه السلام، او په انجيل كي د عيسى عليه السلام، مثنوي معنوي،

پېش ازانكه نقش احمد رو نمود..... نعت او هر گبر را تعويذ بود

سجده ميكردند كه اى رب بشر..... درعيان آريش هرچه زود تر

نقش او مى گشت اندر راه شان..... دردل ودرگوش درافواه شان

له حضرت انس ﷺ څخه رايت دى چي يو يهودي هلك ؤ چي گاهي گاهي به يې د عليه الصلوة والسلام خدمت كاوه، نو هغه څوانكى مريض سو، عليه الصلوة والسلام يې پوښتنې ته ورغلى، د هلك پلار يې و سر ته ناست ؤ تورات

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یې پر وایه، نو علیه الصلوة والسلام یې پلار ته وویل چې اې یهودي زه تاته په خدای ﷻ قسم درکوم هغه خدای چې تورات یې پر موسی نازل کړی دی چې تا زما نعت او صفت او مخرج په تورات کې نه دی لیدلی، یهودي ورته وویل لا، ځوانکې مریض ورته وویل بلی یعنې موږ لیدلی دی په تورات کې ستا نعت او صفت او مخرج یا رسول الله واني اشهد ان لا اله الا الله وانک رسول الله، نو علیه الصلوة والسلام ورسره صحابه کرامو ﷺ ته وویل چې دا یهودي یعنې د ناجوري پلار ځندي ولاړ کړئ او تاسې د ځپل ورور ګور او کفن او تلاوت د قرآن پرده پر ځپله غاړه واخلئ، فمات ﷺ فولی امره الصحابة الکرام ﷺ.

له حضرت علي ﷺ څخه روایت دی چې د یو یهودي پر علیه الصلوة والسلام باندې یو ځو دیناره پور باندې وو، نو راغلی و علیه الصلوة والسلام ته یې وویل چې زما پور راکړه! ده مبارک ورته وویل چې اوس خو زه ستا د پور مبلغ نه لرم، یهودي ورته وویل چې تر هغو زه ستا څخه نه جلا کیږم چې پور مې را نه کړې، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې نو راسره کښېنه زه درسره ناست یم، یعنې نه کور ته نه پر بله خوا درځخه ځم، راوي وایي چې علیه الصلوة والسلام د ماښپښین لمونځ، د مازدیګر، د ماښام، د ماخستن او د سهار لمونځ دالته وکړی، نو صحابه کرامو د ستر ګو په اشاره یا د ګوتې په اشاره یا تر ستوني نیولو په اشاره یهودي ته په پته د علیه الصلوة والسلام پېښ رو واهه، اخیر علیه الصلوة والسلام ددوی په اشاره پوه سو، نو دوی یې له پېښ رو څخه منع کړه او ورته وه یې ویل چې زه خدای پاک د کافر معاهد له ظلم څخه منع کړی یم، دا بله ورځ چې لمر ښه راپورته سو یهودي راغلی و علیه الصلوة والسلام ته کښېنستی و علیه الصلوة والسلام ته یې وویل اشهد ان لا اله الا الله واشهد انک رسول الله ونصف مالي في سبیل الله، او دا یهودي دېر شتمن وو، او یهودي ځپل عذر چې ما له تا سره دومره سختي وکړه داسې بیان کړی چې ما ستا حال د تورات د آیتو سره مقاسیه کاوه چې په تورات کې داسې راغلي دي محمد بن عبد الله مولده بمکة ومهاجره بطیبة یعنې مدینة وملکه بالشام یعنې ینتهی ملکه الی الشام چې د بني اسرائیلو لوی مرکز وو ولیس بغذ ای

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بد طبعیته ولا غلیظ ای نه سخت طبعیته ولا سخاب في الاسواق او نه لوی لوی ناري وهي په بازارو کي او د هغه نیم مال په باره کي یهودي داسي وویل فاحکم فیه بما اراک الله، رواه البیهقي في دلائل النبوة.

ښهانه فائده: دروښ وایي چي د تفسیر د متعلمینو په زړو کي به دا ورګرځي چي په دومره ممتد (اوږده) زمانه کي علیه الصلوة والسلام ته د چای جواب یا د اودس تازه کولو او د خوب عذر نه پیښیدی او که څرنګه او داغه رنګه یهودي ته ورته یا کم تر عذرو نه پیښیدی او که څرنګه؟ نو ددي ځواب دادی چي دا عذرونه خو بهشکه رونما کیدل لکن علیه الصلوة والسلام ته چي به عذر پیښ سو هغه به یې خارج المسجد پوره کړی بهر ته به راغلی د یهودي سره به کښېنستی، او یهودي ته چي په عذر پیښ سو هغه به یې خارج المسجد پوره کړی بهر ته به راغلی د علیه الصلوة والسلام سره به کښېنستی او د دوارو خوب په مسجد نبوي کي ؤ فافهم هداک الله تعالی.

يَأْمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوْفِ

دا نبي دوی امر کوي په توحید وشرائع الاسلام وکلما یعرف حسنه شرعاً کالصلوة والزکوة والصوم والحج وغیرها.

وَيَنْهٰهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبٰتِ

او دوی منع کوي د هغه شي چي حسن شرعي نه لري بلکې شرع یې منکر بولي او طبع مستقیم او طبع سلیم هم منع ځندي کوي کالشرک وکفران المنعم وعصیانه والزنی والواطة وسائر القبائح الشرعیة، او دا نبي حلال ګرځولي وه و بني اسرائیلو ته هغه شیان چي په تورات کي ودوی ته حرام سوي وه په سبب د بغي ددوی او په سبب د شوم عمل ددوی لکه شحوم یعني وازګي ولحوم الابل او د اوښانو غوښي، او یا اهل جاهلیت من المشرکین وځان ته حرامي بللي لکه بحیره، سائبه، وصیله، وحام کمامر تعریفهما قبل هذا.

وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبٰٓئِثَ

کالدم والخنزیر والمیتة والربوا والرشوة وغیرهما مما کان الیهود او المشرکین یتعاطونها.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ

او دا نبي د بني اسرائيلو څخه خاص لهري کوي. او سپکوي هغه درنې درنې وعدې چې د بنې اسرئيلو څخه اخستل سوي وې على العمل بما في التورات.

وَالْأَغْلَالَ الَّتِي كَانَتْ عَلَيْهِمْ ۚ

او هغه درانه بارونه چې پر بني اسرائيلو وه په تورات کي مثل قتل النفوس في التوبة وقطع الاعضاء الخاطئة وقرض موضع النجاسة عن الثوب وتعيين القصاص في القتل العمد والخطأ وتحريم اخذ الدية بالصلح في العمد او مطلقاً في الخطأ وترک کل عمل دنيوي في يوم السبت وعدم جواز الصلوة في غير کنائسهم، او نور ورته د دغو کارو من الشدائد.

پوه سه: چې اصل د "غل" جمع کول د لاس د غاړې سره په وسپنه کې او دا شدائد يې هم د اغلال سره مشابه کړه.

فَالَّذِينَ آمَنُوا بِهِ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَاتَّبَعُوا النُّورَ الَّذِي أُنْزِلَ مَعَهُ ۙ

نو هغه کسان چې پردې نبي امي ايمان راوي يعني په نبوت عامه يې ومنې او دده تعظيم کوي په تقويت د دين دده او کومک ورسره کوي په دفع کې د دښمنانو دده، او متابعت وکړي د هغه نور چې نازل کړه سوی سره د نبوت دده چې مراد څندي قرآن مجيد دی.

دروښ وايي: چې قرآن عظيم الشان يې نور وبالله دې سببه چې قرآن مبارک په سبب د اعجاز ظاهر قرآنيته يعني کونه من عندالله او مظهر د احکامو او د نورو امور حقه وو دی کما هو معنى النور في اللغة.

أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ۝

دغه کسان چې دا مذکوره کارونه وکړي دوی دي بری پيدا کونکي پر رحمت ابدي الهي في الدارين.

صاحب کشاف داسي سوال کړی دی ما معنى "الذي انزل معه" او سره ددې چې قرآن خو د جبرائيل عليه السلام سره نازل سوی دی. بيا يې جواب ورکړی دی چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

معنی د "انزل معه" انزل مع نبوته، ولي چي نبي والی د علیه الصلوة والسلام مصحوب او ملګری وُ د نزول سره د قرآن کما یدل علیه قوله تعالی في ابتدا نبوته ﷺ اقرأ باسم ربک الذي خلق ﷻ انتهی بزیادة.

نو معه متعلق دی په انزل پوري حال دی له ضمیر څخه د انزل بحذف المضاف والتقدیر انزل ذالک النور مصاحباً لنبوته، او مظهري رحمه الله داسي ځواب ورکړی دی چي انزل متعلق دی په اتبعوا پوري.

نو معنا د آیت داده اتبعوا النور الذي انزل وهو القرآن المجید واتبعوا معه ای مع النبي ﷺ ای ما مع النبي فیکون المراد السنة النبویة، نو په دې آیت کي اتباع د قرآن منزل او د سنت نبوي دواړه ذکر سوي دي.

قُلْ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ جَمِيْعًا

ته ووایه یا محمد ﷺ چي اې خلګو یعني که عرب یاست او که عجم که اهل شرق یاست یا غرب اهل شمال یاست یا اهل جنوب، او که احمر یاست او که اسود په تحقیق زه استول سوی د خدای ﷻ له لوري یم ستاسي ټولو وخواته.

فائده: اضافت د رسول الله لپاره د عهد خارجي دی یعني الرسول النبي الامي الذي مر ذکره، او جمیعاً حال دی له ضمیر څخه د الیکم.

پوه سه: چي رسول الله ﷺ وټولو خلګو ته مبعوث دی کمامر من التعمیم آنفاً بل الی الجن ایضاً بخلاف سائر الانبیا فانهم مبعوثون الی اقوامهم خاصة. په حدیث د مسلم او ترمذي له ابو هریره رضي الله عنه څخه داسي راغلي دي چي علیه الصلوة والسلام وویل چي زه بالا کړل سوی یم، یعني خدای ﷻ بالا کړی یم پر نورو انبیا کرامو په شپږو شیانو سره.

(۱) ماته راکړل سوی دی جوامع الکلم یعني عبارت یې لږ وي او معنی یې جزیله او ډېره وي.

(۲) نصرت "زما سره کومک کړل سوی دی په بېره د دښمن زما څخه وفي روایة مسیرة شهر.

(۳) واحلت لي الغنائم او ماته روا سوي دي غنیمتونه د کفارو چي نفع زه او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

امت پر واخلو، او په وړاندې امتونو کې داغسې نه وه بلکې غنیمتونه به یې جمع کړل له اسمانه به اور راغلی ټوله به یې وسوله.

(۴) او ماته ګرځول سوې ده مځکه مسجد یعنې د لمانځه ځای، او د نورو امتونو لمونځونه ددوی په کنائسو سره خاص وه یعنې ددوی په عبادت ځایو سره لکه زمور مساجد، او داغه رنګه مځکه زما لپاره پاکې ده یعنې د تیمم لپاره.

(۵) وارسلت الی الخلق کافة وختم بیَ النبوة.

دروښ وایي: چې په اکام المرجان کې وایي چې هره طائفه له مختلفو طائفو ځخه پر دې خبره سره متفق دي چې خدای پاک محمد ﷺ و انس او جن، عربو او عجمو ټولو ته په رسالت سره راستولی ؤ.

پوښتنه: و سلیمان بن داؤد ﷺ ته خو نبوت عام ؤ د انس او جن لپاره؟

خواب: سلیمان ﷺ د رسالت او تبلیغ و جن ته نه و مبعوث بلکې د ملک او سیاست او ضبط و سلطنت لپاره عام ؤ، وشتان بین الرسالة وتبلیغ الدین وبین التسخیر والسلطنت کما لا یخفی فتدبراً.

الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۚ لَآ إِلٰهَ إِلَّا هُوَ يُحْيِۦ وَيُمِيتُ

پوه سه: چې "الذین آه" یا صفت موضحه دی د الله، او یا منصوب دی په حذف د اعني او یا مرفوع دی په تقدیر د هو چې په دې ته په نحو کې منصوب علی المدح وایي یا مرفوع علی المدح وایي، او یا مبتدأ د خبر یې جمله لا اله الا هو ده، هغه خدای چې ده لره خاصه بلا مشارک ولا معین سلطنت او تصرف او خلق دی د اسمانو یعنې مافیها او د مځکې یعنې مع ما علیها من الحیوانات والنباتات وغیرها ومع مافیها من الکنوز والخزائن والدفائن چې هغه خالق دی د حیوة په احیاؤ کې او د موت فیها.

پوه سه: چې دا جمله لپاره د مزید تقریر او اختصاص د الوهیت او د معبودیت په خدای ﷻ پورې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الَّذِيْ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَكَلِمٰتِهٖ وَاتَّبِعُوْهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ۝

پوه سه: چې مخاطب په دې آیت کې اهل کتابیین دي، یعني التوراة والانجیل وهم الیهود والنصاری. او دا آیت مربوط دی په هغه آیت پورې "الذین یتبعون الاية" نو تاسي ایمان راوړی پر خدای ﷻ باندې په توحید او په عدم الولد سره او ایمان راوړی پر رسول د خدای ﷺ هغه چې نبي امي دی یعني چې ستاسي څخه عهد او میثاق اخستے سوی دی پر ایمان دده په کتب متعدده وو یعني التوراة والانجیل، وفي التوراة ینابئ مقربخ کاموخ الی وتسماعون ځ هغه نبي امي چې دی ایمان لري پر خدای ﷻ او پر کلماتو د خدای الذي انزلت الیه وسائر المرسلین من کتب الله ووحیه.

پوه سه: چې بعض قرأ "کلمته" په افراد سره وایي، نو مراد څنډې جنس کلمه ده فیتناول المفرد مثل الجمع جمیع الکتب الالهیة. او د هغه نبي امي متابعت وکړئ لپاره ددې چې تاسي به هدایت او راه حق پیدا کړئ فعلی هذا کلمه د لعل په معنی د لام ده.

وَمِنْ قَوْمِ مُوْسٰٓى اُمَّةٌ يَّهْدُوْنَ بِالْحَقِّ وَبِهٖ يَعْدِلُوْنَ ۝

او له قوم څخه د موسی علیه السلام یعني بني اسرائیل یو جماعت داسي ستے چې هدایت او لار ښوونه کوي خلګو ته متلبسین بالحق، نو حال دی له ضمیر څخه د یهتدون، او یا کلمه د باء سببي ده ای بسبب الحق الذي هم علیه او په حق سره دوی عدالت کوي په خپل منځو کې.

دروښ وایي: چې په بیان کې ددغه قوم مظهري رحمه الله په روایت د ضحاک او د کلبي په مختصره توګه یوه غریبه قصه راوړې ده، دوی وایي چې دا یو قوم دی په نهایت کې د چین د طرف شرق په پای کې، چې له بني اسرائیلو څخه دي او دوی پر یوه واله پراته دي چې په رېګو کې بهېږي چې نهر اوراق یې بولي او ددوی مال یو له بل سره شریک دی یعني چې کښتونه وکړي یو ځای یې جمع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کوي د هر چا چي ورته ضرورت وُ هغه قدر ځندي اخلي. د شپې باران پر باران پر اوري او د ورځي لمر وي او کښتونه کوي، او هيڅ څوک زموږ څخه دوی ته نه سي رسېدلای او دوی پر دين حق د موسی عليه السلام دي او دغه راويان وايي چي په شپه د معراج نبوي جبرائيل عليه السلام آنحضرت ﷺ دوی ته وروستی، نو جبرائيل په صورت بشري ددوی په ژبه دده سره خبري وکړې، نو جبرائيل عليه السلام ورته وويل چي دا زما سره راسره سړی پېژنئ؟ دوی ورته وويل لا جبرائيل ورته وويل هذا محمد ﷺ النبي الامي فآمنوابه فقالوا يا رسول الله ان موسی اوصانا ان من ادرک احمد ﷺ نو تاسي زما سلام ورته وواياست، نو عليه الصلوة والسلام د موسی عليه السلام د سلام ځواب ورکړی او بيا عليه الصلوة والسلام ودوی ته لس سورتونه د قرآن مجيد چي په مکه کي نازل سوي وه ورته تلاوت کړه او دوی يې امر کړه په لمانځه او زکوٰة سره او دوی يې امر کړه چي دلې اوسېږئ، دوی د سبت يعني د شنبې د ورځي د تعظيم پوښتنه ځندي وکړه، عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي د سبت تعظيم پرېږدئ د جمعې لمونځ کوئ، انتهى القصة التي اورده المظهري، او بعض مفسرين وايي چي په آيت مذکوره کي مراد له امت څخه د قوم موسی هغه بني اسرائيل دي چي ايمان يې پر عليه الصلوة والسلام راوړی وُ لکه عبدالله بن سلام او دده د اکا زامن او نور رضي الله عنهم، بغوي وايي چي هغه اوله قصه اصح ده او وروسته يې ويلي دي نقضاً لما قال والاول اصح والظاهر ان الاول قول غريب، وجه يې دا ويلې ده چي په شپه کي د معراج خو د جمعې لمونځ نه وُ مشروع سوی بلکې په مدينه منوره کي مشروع سو، او بله يې دا وجه ويلې ده چي په لسو سورتو کي چي په مکه کي نازل سوي وه تولـه احکام د اسلام نه وه مظهري رحمه الله په پای کي ويلي دي والله اعلم.

دروېش وايي: چي روح البيان هم دا قصه راوړې ده او ډېره اوږده ده او دا وجه يې هم ويلې ده چي دغو کسانو ته په رسېدلو کي شپږ کاله لګېږي او نوري نادري نادري د تعجب وړ د انکار لائقي خبري يې هم کړي دي تاسي يې لطفاً مطالعه کړئ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: تا ولي د مظهري رحمه الله عليه قصه ذکر کړه او د روح البيان راوړي قصه دي نه کړه ذکر؟

ځواب: يو ځو ډېره اوږده وه چې د مظهري رحمه الله عليه قصه يې مشت نمونه خروار وه، او بل په قصه کې د روح البيان داسې نادري او غرائبي ذکر سوي دي چې عقل په درياب کې د تحير غرقوي، نو ځکه ما خپل د تفسير متعلمان له درياب څخه د تعجب راوګرځول.

دروښ وايي: چې زه د صاحب روح البيان سپکاوی نه کوم بلکې خپل تفسير له نادرو خبرو څخه ساتم، او البته روح البيان به له بل چا څخه ناقل وي که څه هم ده اشاره ونقل ته نه ده کړې.

وَقَطَّعْنٰهُمُ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ اَسْبَاطًا اُمَمًا

او موږ ګرځولي وه بني اسرائيل تولي تولي، دوولس.

پوه سه: چې تميز د "اثنتی عشرة" محذوف دی، چې قطعنا دلالت پر کوي يعني اثنتی عشرة قطعة، او اثنتی عشرة مفعول ثاني دی د قطعناهم چې په معنی د صيرناهم دی او يا حال دی.

پوه سه: چې "اسباطاً" جمع د سبط ده چې په معنی د ولد الولد ده، او بني اسرائيل دوولس قبيلې وه چې اولاد د دوولس زامنو د اسرائيل يعني يعقوب عليه السلام وه.

پوه سه: چې اسباطاً د اعراب له لاري بدل دی له اثنتی عشرة څخه او تميز يې نه دی کما توهم کما تقرر في النحو ان تمييز لما فوق العشرة لايكون جمعاً "أمماً" جمع د امت ده صفت دی د اسباطاً يا بدل بعد البدل دی.

دروښ وايي: چې دا يو ځو بيته د مثنوي د جلد ثالث په معجزه کې د سيد الكائنات عليه من الصلوات اتمها ومن التسليمات اكملها واورئ.

از انس رضي الله عنه فرزند مالک امده است..... که به مهمانی او شخصی شده است او حکایت کرد کز بعد طعام..... دید انس دستار خوانرا زرد فام چرک آلوده وگفت ای خادمه..... اندر افگن در تنورش یکدمه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

در تنور پر ز آتش در فگند..... ان زمان دستار خوانرا هوشمند جمله مهمانان در ان حیران شدند.....انتظار دود کند وری بودند بعد یک ساعت بر آورد از تنور..... پاک و اسپید وازان اوساح دور قوم گفتند ای صحابی عزیز..... چون نسوزید و منقا گشت نیز گفت زانکه مصطفی دست ودهان..... بس بمالیذاندرین دستار خوان ای دل ترسیده از نار وعذاب.....باچنان دست ولی کن اقتراب چون جمادی را چنین تشریف داد.....جان عاشق را چهاخواهد کشاد

سوال: تا دا بیتونه بې ځایه نه راړه؟

ځواب: مشت نمونه خروار،زه چې الله الله وایمه پر خوله لیلی لیلی راځینه ع

بروای مدعی نادان چې دانی حال مستان را.

د علیه الصلوة والسلام محبت وجداني شی دی چې ژبه یې له بیانه قاصره ده اما اطاعت د علیه الصلوة والسلام هغه ظاهر دی.

وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ إِذِ ٱسْتَسْقَىٰهُ قَوْمُهُۥٓ أَنِ ٱضْرِب بِّعَصَاكَ ٱلْحَجَرَ

او موږ وحي وکړې و موسی علیه السلام ته هغه وخت چې له ده څخه طلب د اوبو وکړی قوم دده یعني بنې اسرائیلو چې دوی د تیه په لوی دښت کې وه چې ووهه په لکړه سره ډبره.

فَٱنۢبَجَسَتْ مِنْهُ ٱثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا ۖ قَدْ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ ۖ

دا تفریع ده پر محذوف باندې ای فضرب فانبجست آه، او مفرع علیه یې حذف کړه اشاره ودې ته ده چې موسی علیه السلام په امر الهي کې توقف نه دی کړی او بل اشاره ودې ته ده، ضرب د موسی علیه السلام صرف سبب ظاهري دی او موثر حقیقي نه ؤ لان خالق الماء من الحجر هو الله تعالی ومعنا الانبجاس هو الانفجار، والمعنی پس له ضربه د موسی علیه السلام راووتلې له ډبري څخه دوولس چینې یعني په عدد اسباطو د بني اسرائیلو او معلوم ؤ هرو خلګو ته یعني هر سبط خپل مشرب یعني لښتی د اوبو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَظَلَّلْنَا عَلَيْهِمُ الْغَمَامَ وَاَنْزَلْنَا عَلَيْهِمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوٰى ؕ

او موږ سائبان کړې په هغه تیه کې پر دوی باندې وریځ چې له ګرمۍ څخه د لمر یې وساتي، او موږ نازل کړه د اسمان له خوا یعنې د خوراک لپاره پر دوی من چې ترنجبین یې بولي، او که یې څوک نه پېژنې د هر یونانې طبیب په دکان کې ترنجبین سته رایې نسه او خوند یې وګوره او سلوی څوک وایې تارو ګان وه وهو الاولی، او څوک وایې کرکان وه او دا سلوی به هم پاخه په غوړو بریان ودوی ته راتله هره ورځ په قدر د کفایت د یوې ورځې:

كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ ؕ وَمَا ظَلَمُوْنَا وَلٰكِنْ كَانُوْۤا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ۝

په تقدیر د قول ای وقلنا لهم خورئ له طیباتو څخه (یعنې هم حلال دي او هم خوندور دي) د هغه شي چې موږ تاسې ته په رزق درکړې یعنې المن والسلوی.

پوه سه: چې معنا د طیباتو بعض علما په حلالاتو سره کوي، او بعض علما یې په مستلذاتو سره کوي یعنې خوندور، ما په ترجمه کې دواړه جوت کړل.

دروېش وایي: چې پوره بیان د دغو آیاتو په تفسیر کې د سورة بقره ددې کتاب مطالعه کړئ، ولې چې دېره اوږده قصه ده چې زه یې بیانوم دېر اوراق به وغواړي

پوه سه: چې دا جمله "وما ظلمونا آه" عطف ده پر محذوفه جمله لپاره د ایجاز ای فظلموا په دې سره چې دوی ناشکرې د دغو جلیلو نعمتو وکړه او پر موږ یې ظلم نه دی کړی بلکې دوی وه چې پر خپلو ځانو یې ظلم وکړی چې دغه مستلذ رزق یې تکلفه او بې مشقته په دنیا کې او بېله حسابه په اخرت پر ځانو قطع کړي.

دروېش وایي: چې ددې قطع رزق مذکور سبب هم په تفسیر د سورة بقره کې ملاحظه کړئ چې دېر اوږد بیان یې دی او ما خپل عذر د عدم تکرار نژدې در ته ذکر کړی.

پوه سه: چې بنې اسرائیلو چې ناشکرې د نعمت د تیه وکړه او موسی علیه السلام ته یې وویل لن نصبر علی طعام واحد چې ومن او سلوی وه اګر که من او سلوی دوه طعامه وه ددوی مراد له وحدت څخه دا وو چې دا طعام همېشه یوه نوع ده تبدل نه کوي نو موږ ځندې خواتورې سوو او دوی ویل "فادع لنا ربک یخرج لنا مما تنبت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الارض من فومها" څوک وایي مراد ددوی غنم وه او څوک وایي وږه "وعدسها" یعني ماش او دال "وبصلها" او پیاز، نو خدای پاک ودوی ته وویل.

وَإِذْ قِيلَ لَهُمُ اسْكُنُوا هَٰذِهِ الْقَرْيَةَ وَكُلُوا مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ

چې وویل سوه له جانبه څخه د موسی علیه السلام په امر د خدای ﷻ چې تاسي سکونت وکړئ په دغه قریه کي چې اریحا یا بیت المقدس ؤ، او تاسي خوراک کوئ له دغې قریې څخه هرچېرې چې ستاسي خوښه وي یعنې هغه مطلوب شیان ستاسي چې فوم وغیره وه.

وَقُولُوا حِطَّةٌ وَادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا نَغْفِرْ لَكُمْ خَطِيئَاتِكُمْ ۚ سَنَزِيدُ الْمُحْسِنِينَ ﴿١٦١﴾

نو تاسي چې قریه ته داخلېږئ حطة به وایاست ای امرنا ومسؤلنا بخښنل د ګنهو ده، او په دروازه د قریې چې تاسي داخلېږي سرونه به کښته کوئ یعنې سجده د تعظیم به کوئ یعنې لکه ورونو د یوسف علیه السلام چې ته ده ورته سجده وکړه نو زه به وبخښم تاسي ته ستاسي ګنهونه، او موږ به زیاتوب وکړو په نعمت کي واحسان کونکو ته یعنې چې حطة ددوی کلمه د استغفار وه او چې سجده وکړي په وخت کي د دخول د باب القریه یعنې سرونه کښته کړي.

فَبَدَّلَ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْهُمْ قَوْلًا غَيْرَ الَّذِي قِيلَ لَهُمْ

نو بدل کړی هغو کسانو چې ظالمان وه قولاً غیر له قول څخه چې ودوی ته ویل سوی ؤ یعنې د حطة په ځای کي یې داسي وویل حنطة غنم غواړو في شعرة په وږو کي، او په بل تفسیر کي راغلي دي چې فعل یعنې الدخول بالسجدة هغه یې هم بدله کړه، ولي چې دوی په خپلو کي سره وویل چې دخول بالانحناء به هم نه کوئ، چونکه د قریې دروازه خو جګه وه جبرائیل علیه السلام دومره راکښته کړه چې بېله انحناء یې دخول ممکن نه ؤ، نو دوی چې راغله دروازه کښته وه او دوی وعده کړې وه چې انحناء به نه کوو، نو پر کونه به کښېنستل بېله انحناء به په دروازه د قریې ننوتل.

دروښ وایي: چې دا ددوی نهایت وقاحت ؤ (ای بې شرمي) له امر څخه د خدای ﷻ چې قول او فعل یې دواړه بدل کړه ع بې ادب محروم ماند از فضل رب.

نو له دې سببه خدای پاک وایي:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِجْزًا مِّنَ السَّمَاءِ بِمَا كَانُوا يَظْلِمُونَ ﴿۱۶۲﴾

نو موږ نازل کړی پر دوی باندې یو عذاب د اسمان له خوا څخه په سبب ددوی چې ظلم یې وکړی، یعنې د خدای ﷻ د امر سپکاوی یې وکړی، د هغه عذاب ذکر که څه هم مظهري نه دی کړی اکتفاً بما ذکره في تفسیر سورة البقرة لکن هغه رجز طاعون وُ چې په یوه ورځ کې څلویښت زره کسه د طاعون نذر سوه جزاً بما کانوا یظلمون چې عصیان یې د خدای ﷻ د امر په څای کې کښېښنو کما هو معنی الظلم یا اهانت د امر الله یې په څای کې د تعظیم د امر الله وضع کړی وهو امر آخر من الظلم، قانون الهي دی چې هغه څوک چې قدر د نعمت نه پېژني یقرع باب البلاً لیجري علیه احکام القضاً.

فائده: دغه کسان د بني اسرائیلو چې خدای پاک د ظالمانو په نامه یاد کړه فاسد کړه پر ځانو اووه نعمته د خدای ﷻ چې من او سلوی وغیرهما وه که څه هم د هغو نعمتو تدارک في الجملة وسو في القریة په دې دنیا کې او نعمت د عقبی چې عفو او مغفرت دی او تدارک یې هم نه سي کېدای.

دروښ وایي: چې د داوُد علیه السلام په زمانه کې یوه قریه وه چې د ایله په نامه یادېدله او د بني اسرائیلو یو قوم پکښې اباد وه چې ددوی عمومي رزق د مایانو غوښې وې چې په دریاب کې یې ښکارولې. لکن یوه د سبت ورځ چې ددوی د عبادت ورځ وه په دې ورځ ودوی ته د ماهیانو ښکار ناروا وُ، نو د خدای پاک امتحان وُ چې د سبت ورځ چې به وه لوی لوی ماهیان به د دریاب په غاړه کې ګرځېدلې پرې به یې تر اوبو را ایستلي وې، او چې د سبت ورځ به تېره سوه ماهیان به په دریاب کې سره متفرق سوه چې بیا به دوی په ډېر زحمت یو یا دوه ماهیان ښکارول، چې ددې په بیان کې خدای پاک داسي وایي.

وَسْئَلْهُمْ

ته سوال وکړه له بني اسرائیلو څخه چې معاصرینو د علیه الصلوة والسلام د زمانې وه.

پوه سه. چې په دې سوال سره غرض دا نه دی چې نبي علیه السلام دي له دوی څخه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اخذ او زدکړه وکړي د یهودانو د قصې، ولي چې علیه الصلوة والسلام دمخه خدای پاک په دې قصه خبر کړی وُ، بلکې مقصود د سوال دا وُ چې علیه الصلوة والسلام دوی مجبوره کړي چې دوی به اقرار کوي په نافرمانیو قدیم سره د اسلافو ددوی چې اهل د ایله وه او تجاوز د اسلافو ددوی تر حدود د خدای پاک ومخالفت اسلافهم عن امر انبیائهم، او په عین حال کې بیان ددې قصې موافق د تاریخ سره د یهودانو معجزة داله سې علی ان رسول الله ﷺ نبي علی الحق من عندالله ولي چې رسول الله ﷺ نبي امي وُ، او د اهل کتابو سره یې هم ګډون نه درلودی او دا قصه ده مبارک پر داسې وجه بیان کړه یعنې خدای پاک په قرآن مجید کې ورته بیان کړه عیناً لکه په تاریخ کې د یهودانو چې محفوظه وه بلا زیادة ولا نقصان، علم ان ذالک بالوحي والوحي لایکون الا الی نبي فبهذه المعجزة علم نبوته علیه الصلوة والسلام کالشمس علی رابعة النهار.

عَنِ الْقَرْيَةِ

ای له حال څخه د هغې قریې چې پر دوی په سبب د سر غړونې د خدای ﷻ له امر څخه بلا پر مسلطه سوه کما یجئ.

فائده: عرب بنار ته هم قریه وایي نو له دې سببه دا سوال نه وارد ېږي چې ایله خو بنار وه،

الَّتِي كَانَتْ حَاضِرَةَ الْبَحْرِ إِذْ يَعْدُونَ فِي السَّبْتِ إِذْ تَأْتِيهِمْ حِيتَانُهُمْ يَوْمَ سَبْتِهِمْ شُرَّعًا

هغه قریه چې نژدې وبحر ته وه یعنې د دریاب پر غاړه وه، چې دوی تجاوز کاوی تر امر د خدای ﷻ چې دوی یې امر کړي وه په تعظیم د سبت په عبادت سره او منع کړي یې وه په دغه ورځ له ښکار ه.

پوه سه: چې کلمه د "اذ" ظرف ده "یعدون" چې راتله به دوی ته ماهیان چې دوی به د سبت تعظیم کاوه "شرعاً" جمع د شارع ده من شرع اذا دنا یعنې نژدې د اوبو غاړې ته وهو حال من حیتانهم.

وَيَوْمَ لَا يَسْبِتُونَ لَا تَأْتِيهِمْ

او هغه ورځ چې دوی به تعظیم د سبت نه کاوه یعنې دا نوري ورځې د هفتې، ماهیان به غاړې ته د بحر نژدې نه راتله بلکې په بحر کې متفرق وه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: شیطان و بعضو بني اسرائیلو ته دا وسوسه وراچول چي تاسي له دریاب څخه یو لښتی وکاږئ او په پای کي د لښتي یو حوض غوندي ځای ورته جوړ کړئ او اوبه پر را ایله کړئ، نو چي د شنبې ورځ سي ماهیان د دریاب غاړي ته راسي په یو لرگي یې پر لښتي برابروي چي حوض ته ولاړ سي او هوري سره جمع سي مازدیگر چي کور ته ځئ د لښتي خوله ورته وتړئ د یکشنبې په ورځ به ماهیان په حوض کي سره جمع وي بېله تکلیفه به یې ونیسئ خیر دا کار چي یې وکړی نورو هم ځندي زده کړی په دې هیله د ماهیانو ښکار دې پر مخ ولاړی.

كَذَٰلِكَ نَبْلُوهُم بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ ﴿١٦٣﴾

ای مثل ذالک الابتلاً العظیم مورِ معامله وکړه ددوی سره معامله مختبر. وانما قلنا ذالک لان حقیقة الاختبار والامتحان محال علی الله القادر اذ هو یعلم الظواهر والسرائر وحقیقة الامتحان انما یکون للجاهل بامر المختبر عنه کما في المکاتب والمدارس. په دې سبب چي دوی فسق مستمردر نو دی په فعل او په ترک کي، نو دوی دې هره زمانه دا د ماهیانو ښکار کاوه حتی چي دې هر پر دلاوره سوه او دا بې هم ویل چي د شنبې د ورځي حرمت زمورِ څخه پورته سو، نو ماهیان یې هم نیوله او هم به یې خرڅول او رانیوله، نو اهل قریه پر دري قسمه سوله مجموع اهل قریه تخمیناً اوویا زره کسان وه د یوې دریمي څخه بالا یې دا کار شروع کړی، یوې دریمي دوی ته نصیحت کاوه او له ښکاره یې منع کوله او یوې دریمي نه ښکار کاوه او نه یې څوک منع کوله. د دریمي حصې په باره کي خدای پاک فرمایي.

وَإِذْ قَالَتْ أُمَّةٌ مِّنْهُمْ لِمَ تَعِظُونَ قَوْمًا ۙ اللَّهُ مُهْلِكُهُمْ أَوْ مُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا ۖ

او په یاد کړئ هغه وخت چي وویل یوې ډلي ددوی چي ساکته ډله وه و وعظ کونکي ډلي ته د څه لپاره تاسي نصیحت کوئ و هغه قوم ته یعني چي ښکار یې کاوه چي خدای ﷻ ددوی هلاک کونکی دی او یا عذاب ورکونکی عذاب سخت في الاخیرة.

پوه سه: چي دا منفصله مانعة الخلو ده جمع یې روا ده.

قَالُوا مَعْذِرَةً إِلَىٰ رَبِّكُمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿١٦٤﴾

وویل دا ناصح او منع کونکي ډلي په ځواب کي د ساکتي ډلي حیث قالوا الم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تعضون ؒ چې خدای ﷻ به زمونږ څخه باز خواست وکړي چې تاسي ولې نهي عن المنکر نه کوئ او بل ددې لپاره مونږ نهي عن المنکر کوو چې شاید دغه فاعلین د خدای ﷻ له منکر څخه وبهیږي او دا منکر پریږدي. ځکه نا امیدي د فاعل د منکر هغه وخت راځي چې فاعل د منکر پر هغه منکر باندې مړ سي یعنې تر څو چې فاعل د منکر ژوندی وي امید د منکر د پریښولو ورته ستة.

پوه سه: چې معذرة خبر د محذوفي مبتدأ دی ای موعظتنا معذرت بنکاره کول د عذر وخدای ﷻ ته.

فَلَمَّا نَسُوا مَا ذُكِّرُوا بِهِ أَنجَيْنَا الَّذِينَ يَنْهَوْنَ عَنِ السُّوءِ وَأَخَذْنَا الَّذِينَ ظَلَمُوا بِعَذَابٍ بَئِيسٍ بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ ﴿١٦٥﴾

پس هغه وخت چې عاصیه ډلې هېر کړی یعنې عمل یې نه وکړی په هغه وعظ د ناهیینو له خوا څخه چې دوی ته کېدی، نو مونږ نجات ورکړی هغو کسانو ته چې نهي عن المنکر یې کوله، او مونږ ونیوله هغه کسان چې ظالمان وه یعنې فاعلان د منکر چې بشکار د ماهیانو په یوم السبت په داسي عذاب سره چې ډېر سخت وۀ کما سیجیئ په سبب ددې چې دوی خپل فسق ته دوام ورکاوه. حاکم روایت کړی دی چې ابن عباس ﷺ وایي چې ما په دې آیتو کې له خدای ﷻ څخه دا واورېدل "انجینا الذین ینهون عن السوء او دا مو هم واورېده واخذنا الذین ظلموا بعذاب بئس" نو زه نه یم خبر هغه فرقه ساکته څرنګه سوه یعنې نجات یې پیدا کړی او که هلاک سوه، عکرمه ﷺ ورته وویل جعلني فداک زه دي تر تا قربان سم چې د فرقه ساکته خو هم په زړه کې بد ایسېدل هغه فرقه عاصیه که څه هم وعظ او منع په خوله نه ورته کول کمایدل علیه قوله تعالی لم تعظون قوماً الله مهلکهم" نو شاید په بغض قلبي به فرقه ساکته له عذابه نجات مندلی وي. او عکرمه ﷺ وویل چې که خدای پاک د فرقه ساکته په باره کې لکه انجیناهم چې نه دی ویلی اهلکناهم خو یې هم نه دی ویلی. عکرمه ﷺ وایي چې زما توجیه و ابن عباس ﷺ ته خوند ورکړی او په راضي سو، او ماته یې په طور د انعام د یوې لیک داره کشمیري کالي هم راکړه. وهذا قول الحسن والمجاهد رحمهما الله تعالی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې هغه خبره چې روح البيان له ابن عباس رضي الله عنه څخه نقل کړې ده چې هالک دوې ډلې وې العاصية والساكتة لان الساكتة مداهنون للعاصية آه. ليس بصحيح لما سمعت قول عكرمه رضي الله عنه في نجات الساكتة ورضي به ابن عباس رضي الله عنه.

فَلَمَّا عَتَوْا عَنْ مَّا نُهُوْا عَنْهُ

نو هر وخت چې تکبر او سرکښي وکړه فرقه عاصيه له هغه شي څخه چې دوی ځندي منع سوي وه له هغه څخه يعني الاصطياد يوم السبت بلکې و عصيان مذکور ته يې ادامه ورکړه او د منع کونکو په وعظ او تبليغ يې عمل ونه کړی.

قُلْنَا لَهُمْ كُوْنُوْا قِرَدَةً خٰسِـِٕيْنَ ﴿۱۶۶﴾

نو موږ دوی ته وويل وګرځئ بيزوګيان خوار او ترتلي.

پوه سه: چې دا امر تکوين دی امر تکليف نه دی، ولې چې د چا خو خپله بيزو والی په قدرت نه دی پوره.

فائده: بعض مفسرين وايي چې خدای پاک اوله پر دوی سخت عذاب مسلط کړی کما يدل عليه قوله تعالى "واخذنا الذين ظلموا بعذاب بئيس" چې په هغه عذاب دوی عبرت وانه خستی او خپل عصيان ته يې ادامه ورکړه، نو بيا خدای پاک ورته وويل "كونوا قردة آه" او بعض مفسرين وايي چې عذاب شديد او كونوا آه سره يو دي.

دروښ وايي: چې وهذا التفسير يعني چې عذاب بئيس او عذاب د كونوا آه سره يو دی اصح دی عندي لانه لم ينقل من احد من الرواة ان العذاب الشديد من ای نوع كان فافهم، يعني څوک چې عذاب بئيس او كونوا قردة سره جلا بولي هيڅ راوي نه دي ويلي، راويان د قصې وايي چې څه وخت چې نهي کونکي نا اميده سوه له عاصينو څخه يعني چې زمونږ په خوله نه کوي نو واعظينو دا هم خپل جرم باله چې د عاصينو سره يو ځای اوسېږي، بعض مفسرين وايي چې واعظين له قريې څخه بار سوه او د خپمو ژوند يې کاوه او بعض وايي چې قريه يې ورسره تقسيم کړه يعني په منځ کې يې ديوال وواهه يوه دروازه د واعظينو وه او يوه د عاصينو وه، او څه وخت چې داؤد عليه السلام غوښتنه د لعنت پر دوی له خدای پاک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څخه وکړه، او دوی ټوله په خپلو کورونو کې ییزوګیان سوه، نو په سهار کې د هغې شپې چې منع کونکي راووتل او د معتدینو څخه یې هیڅ څوک ډباندې نه ولیدی، نو د معتدینو دروازې یې ورو ټکولې خو د هیڅ چا ږغ یې نه واورېدی باره دوی پر دهوالو وروا وښتل که څه ګوري چې ټوله سرا ینو د معتدینو د ییزوګیانو وک دي، نو دوی نه پېژندل چې دا ییزوګیان کوم خلګ دي زمونږ له قریبانو څخه لکن ییزوګیانو خپل اقربا پېژندل. نو هره ییزو به خپل قریب ته ورغله کالي به یې بوی کړه او تر سترګو به یې اوښکې بهېدلې. او ییزوګیان به پر دوی شاوخوا راګرځېدل او اوښکې به یې تویولې، قریبانو به ورته ویل چې مونږ تاسي له عصیان څخه نه واست منع کړي ییزوګیانو به سره ورته ښورا وه یعني نعم تاسي مونږ منع کړي وو، نو دري ورځې دغه ییزوګیان ژوندي وه خلګ به د عبرت لپاره ورته، وروسته تر درو ورځو ټوله مړه سوه کما هو عادة الممسوخ لانه لایبقا للمنسوخ ولا نسل له، نو دا غلطه خبره ده چې د اوسنۍ زمانې ییزوګیان د هغو نسل دی، وعلی هذا انعقد اجماع الامة المرحومة.

پوښتنه: په یوه حدیث کې راغلي دي چې یو امت د بني اسرائیلو ورک سوی دی لا ادري مافعلت او زما خیال دی چې دوی به مونږکان سوي وي، ولي مونږک ته چې اوس شیدې کښېږدي نه یې څیښي او نورو حیواناتو ته چې شیدې کښېږدي څیښي یې لکه د بني اسرائیلو چې هم دا مسلک دی، او په بل حدیث کې راغلي دي چې علیه الصلوة والسلام ته یو چا پخه سمسارې راوړه د خوراک لپاره علیه الصلوة والسلام یې له خوراک څخه منع وکړه او داسي یې وویل لا ادري لعله من الامم الممسوخة؟

ځواب: اول خو دغه دوه حدیثه په هیڅ کتاب کې د صحاح سته وو نه دي راغلي فالله اعلم بصحتها وعلی تقدیر التسلیم دا دوه حدیثه هغه وخت علیه الصلوة والسلام ویلي دي چې ده ته په وحي سره دا نه وه معلومه چې ممسوخ بقا او نسل نه لري، وروسته په وحي خفي دا ورته معلومه سوه چې ممسوخ لره نسل نه وي، والله اعلم بالصواب والیه المرجع والمآب، واما عدم شرب الفارة للبن الابل وشرب غیره من البان ان صح فلعله طبع للفارة تعلم بالشم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكَ

ابن عباس رضي الله عنه وايي د "تأذن ربک" معنی ده قال ربک، او مجاهد رحمه الله وايي چي معنی يې امر ربک ده، او عطا رحمه الله وايي چي معنی يې حکم ربک ده.

دروښ وايي: چي دا تفاسير مقاربة المعنی دي، تفسير روح المعاني وايي چي "تأذن" په معنی د "آذن" دی يعني اعلن مثل توعد په معنی د اوعد او په معنی د عزم مصمم راغلی دی او پر هر تقدير.

لَيَبْعَثَنَّ عَلَيْهِمْ

ځواب د قسم محذوف دی ای والله ليسلطن الله علی اليهود.

إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَن يَسُومُهُمْ سُوءَ الْعَذَابِ ۗ

تر ورځي پورې د قيامت داسي ځوک چي دوی ته تکليف رسوي په بد عذاب سره.

پوه سه: چي مظهري رحمه الله وايي چي د "تأذن" معنی قصد مصمم دی الذي لا يخلف عنه او دا جاري مجری القسم دی، نو پر دې تقدير "ليبعثن" جواب د قسم دی.

پوه سه: چي سوء العذاب قتل دی او سبي ده او جزيه اخستل دي له دوی ځخه نو اول سليمان عليه السلام خدای پاک پر دوی مسلط کړی چي دوی يې سره دربدره کړه او بيا يې بخت نصر بابلي پر مسلط کړی هغه ددوی کورونه ورخراب کړه او ددوی جنګي کسان يې ور مړه کړه او ددوی ښځي يې په سبي ځندي بوتلې او پر پاته خلګو يې جزيه واچول او دوی جزيه و مجوسيانو ته ورکول حتی بعث الله محمداً ﷺ فقتل بني قريضه من اليهود وسبی نسائهم وذراريهم، او بني نضير يې جلا وطنه کړه او بني قنقاع يې وخيبر ته وشړل، او حضرت عمر رضي الله عنه په خپل خلافت کي دوی له خيبر او فدک ځخه هم وشړل.

إِنَّ رَبَّكَ لَسَرِيعُ الْعِقَابِ ۖ وَإِنَّهُ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٦٧﴾

په تحقيق خدای ستا ژر ورکونکی د عذاب دی و هغه چاته چي له خدايه سرکښي وکړي، يعني په دنيا کي لکه يهودان او خدای ﷻ بخښونکی دی او مهربان دی لمن تاب وآمن.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شهانه فائده: دروېش وايي چې يهودان خو د ځو کالو راپه دېخوا په بيت المقدس او په شاوخوا کې د بيت المقدس خپل مستقل حکومت لري حتی چې دېر اسلامي مملکتونه ځان دېر په خطره کې ځندي بولي لکه مصر، فلسطين، شام وغيره او ددوی حکومت ايتم بم لري چې دېره خطرناکه سلاح ده د جنګ، او دنيا خرابونکې ده، نو اوس خلګ يعني دښمنان د اسلام د دين داسوال کوي چې په مخکښي آيت کې خدای پاک داسي وويل "لَيَبْعَثَنَّ عَلَيْهِمْ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَن يَسُومُهُمْ سُوءَ الْعَذَابِ ۗ" نو د يهودانو دا مستقل حکومت نو کومه دی چې سوء العذاب ودوی ته ورکوي؟

ځواب: دا حکومت د يهودانو په اصل واقع کې اډه ده د امريکايانو د عربي نړۍ په منځ کې ايتم بم يې هم د امريکايانو تيکنالوجي ده او دوی فقط برائې نام حکومت د اسرائيل دی ورنه دوی د امريکايانو غلامان دي، امريکايان بالذات په عربي نړۍ کې مداخلت نه سي کولای ولي دنيا مخ ور اړوي، نو يهودان يې لکه سپي دلته روزلي دي، هر حکومت د عربي نړۍ چې د امريکايانو د سياست سره موافق نه وي، نو دا دست پروده سپي ورشکاري ګاهي مصر ته، ګاهي شام او ګاهي فلسطين ته، نو عذاب ښيس ددوی امريکايان دی الی يوم القيامة، دغو امريکايانو دوی يهودان همېشه د بل اسلامي عربي مملکت سره په جنګ اچولي دي چې په دې ضمن کې پر دوی باندې فدائي حملې کېږي او هر ګړی يهودان ددغسي سيمې لکه د امريکايانو سپي په جنګ اخته وي، نو تر دې به لوی ښيس عذاب څه وي، او په رسميت پېژندل د يهودانو د حکومت په نړۍ کې هم د امريکايانو پاليسي ده مثال يې لکه يو سړی چې مځکه او پتهی لري لکن د هغې مخکې او پتهي د ساتنې لپاره يې پر هغه مځکه سپي ايله کړي وي، همېشه په جنګو کې د عربي ممالکو سره همدغه يهودو ته کشتار ور رسېدلی دی، امريکا چې د نړۍ لوی شيطان ملک دی اوس يې په افغانستان او عراق کې هم نام نهاد رئيسان جمهور مقرر کړي دي چې د يوه بندي د ايله کولو توان نه لري بلکې پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ماینو او کورو یې امریکایان پهره کوي. نو دا عذاب بنیس د یهودانو نه دی؟
دا وځواب د هغو دښمنانو چې سوال یې وکړی،

وَقَطَّعْنٰهُمُ فِی الْاَرْضِ اُمَمًا

ما دوی یعنې یهودان سره فرقه فرقه کړل یعنې په جلا جلا وطنو کې امتونه یعنې پر یوه ځای مې جمع نه پریښوول تاچې دوی لره شوکت او قوت نه سې پاته
دروښ وایي: چې هم دا سر دی چې یهودان ځنې په امریکا کې ځنې په جرمنې کې بلکې داسې مملکت نادر دی چې په هغه کې دې یهودان بې شوکته ژوند نه کوي.

مِنْهُمُ الصّٰلِحُوْنَ

ځنې ددوی صالحان دي، بعض مفسرین وایي چې صالحین هغه یهودان دي چې ایمان یې پر محمد ﷺ باندې راوړی وي لکه عبدالله بن سلام واضرابه رضی الله عنهم او د پر مفسرین وایي چې مراد هغه یهودان دي چې پر دین د موسی قائم وه دمخه تر نسخ د دین د موسی علیه السلام بلا تغیر في التورات والتبدیل.

وَمِنْهُمْ دُوْنَ ذٰلِكَ

یعنې کم تر اولې ډلې په صلاح کې یا هغه کسان مراد دي چې ایمان یې پر علیه الصلوة والسلام نه وي راوړی لکه یهودان د مدینې منورې او یا د مخه تر نسخ د دین د موسی علیه السلام فساق او فجار او کافران وه لکه هغه یهودان چې په زمانه کې د عیسی علیه السلام وه یا په زمانه کې د داؤد او سلیمان علیهما السلام وه چې هغو پر دغو انبیاؤ ایمان نه و راوړی او کافران وه.

وَبَلَوْنٰهُمْ بِالْحَسَنٰتِ وَالسَّيِّاٰتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۱۶۸﴾

او موږ امتحان ددوی کړی ؤ په نعمتو او په عذابو سره، یعنې ګاهې به موږ دوی ته صحت او عافیت او کثرة الاموال والاولاد به مو امتحان کړه او ګاهې به مو په مرضو او قلة الارزاق وعدم العافیة سره امتحان کړه ددې لپاره چې دوی فکر وکړي او په خپلو حالاتو متفاوته وو کې به غور وکړي، نو یا شکراً للنعم او یا حذراً عن النقم (ای العذاب) به رجوع وکړي له کفر څخه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَخَلَفَ مِنْ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ

نو وروسته پیدا سوه یعني تر مذکورینو.

پوه سه: چي خلف قرن بعد قرن ته وایي کما في القاموس، ابو حاتم رحمه الله وایي چي خلف مصدر دی یعني اذا کان بسکون اللام الاولاد الواحد والجمع فیه سواً وقال البیضاوي الخلف بسکون اللام مصدر لغت به یعني کزید عدل، او ابن عربي رحمه الله وایي چي خلف بالفتح صالح اولاد ته وایي او خلف بسکون اللام نا صالح اولاد ته وایي، او محمد بن جریر وایي چي اکثر ما یجیئ في المدح یفتح اللام وفي الذم بسکونها. وقیل غیر ذالک والمراد في القرآن بالخلف بسکون اللام الیهود المذمومین الذین کانوا في زمن النبي ﷺ لم یؤمنوا به کبني قریضة وبني النضیر حتی قتل رسول الله ﷺ بني نضیر رجالهم وسبي ذراریهم ونسائهم واخذ اموالهم واجلا بني قریضة الی الخیبر واریحا وهذا جزاً المکذبین.

وَّرِثُوا الْكِتٰبَ يَأْخُذُوْنَ عَرَضَ هٰذَا الْاَدْنٰى

دوی ته په میراث پاته سوي کتاب یعني التورات من آبائهم ویطلعون بما فیها لکن لم یعملوا بها، چي دوی اخلي په عوض د کتاب الله التورات نعمتونه د هذا العالم الادنی یعني دنیا چي مشتق له دنو څخه ده یعني نژدې او یا مشتق له دنائت څخه بمعنی الخصیص والعرض المتاع نقوداً کان او ای مال قل او کثر، والمراد بهم بالاتفاق علماً الیهود یأخذون من جهالهم النقود وغیرها وکتموا لذالک نعوت علیه الصلوة والسلام وحرفوا کتاب الله التوارت خوفاً علی زوال جائهم وما یأخذون من الجهلة في الصدقات والرشي.

پوه سه: چي جمله د "ورثوا الکتاب" صفت د خلف دی، او جلمه "یأخذون آه" حال دی له ضمیر څخه د "ورثوا"

وَيَقُوْلُوْنَ سَيُغْفَرُ لَنَا ۚ

او دوی وایي چي ژر دی چي په ورځ د قیامت دا زمونږ جنایات به بې توبې راوبخښي، ولي چي زمونږ اجداد انبیاً وه هغه زمونږ شفاعت کوي.

پوه سه: چي فعل مجهول مسند دی وجار مجرور ته.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تفريع: مسلمانان بايد داسي ونه كړي چي گنهونه كوي او توبه هم نه پر كاړي اعتماداً على ان رسول الله ﷺ يشفع لنا يوم القيامة لانه وان كان شفاعة الرسول الكريم حقاً لكن لمن وهذا غير معلوم، ولا يعتمد على قول السعدي رحمه الله عليه.

عطای شفاعت چنانش دهند ..... كه امت تمامی زدوزخ رهند

مع ماثبت ان بعض العصات من امة محمد ﷺ يدخلون النار لكن لا للخلود كالكفار بل بقدر عصيانهم.

دروښ وايي: چي عاقل لره په كار ده چي متيقن شى چي طاعت دى بلا عصيان او يا عصيان مع التوبة دي پر محتمل شي چي شفاعت دى مع العصيان بلا توبة له لاسه ورنه كړي، ولي كه مسلمان پر طاعت بحسب الطاقة مړ سي او يا پر عصيان مع التوبة مړ سي شفاعت د رسول الله ﷺ خو دده له لاسه نه وځي لانه عليه السلام يشفع له لرفع الدرجة في الجنة لكن په توبه على العصيان كي دي تاخير نه كوي، يعني سوف اتوب سوف اتوب بتسويل الشيطان يو محقق شاعر وايي.

توبه بكن امروز تو هرگز نگو فردا كنم
شايد بمردى صبحدم پردا نيابى درشمر

وَإِنْ يَأْتِهِمْ عَرَضٌ مِّثْلُهُ يَأْخُذُوهُ

يعني علماً د بني اسرائيلو كه څه هم د مغفرت ناړې خو وهي لكن كه ودوى ته راسي عرض يعني دنياوي له قسمه د رشوت وغيره هغه هم اخلي.

پوه سه: چي دا جمله حال ده له ضمير څخه د "يقولون" معنى چي دوى د مغفرت ناړې وهي او د هغه سره پر خپل گناه تينگ دي، ولي بله پلا داسي نو عرض پېښ سي بيا اخلي، نو توبه يې د زړه له كومي نه ده كښلې.

مسئله: كه څوك د توبې ناړې وهي او پر گناه مصر وي، دا د توبې ناړې يې هم گناه ده، او په صحيح حديث كي راغلي دي چي دوه قاضيان په اور كي وي او يو په جنت كي، يو هغه قاضي دى چي علم پر شرع او د شرع شريفي پر احكامو نه لري او په منځ كي د خصوم حكم بالراى كوي فهو في النار، او بل هغه قاضي دى چي علم شريعت خو ورته حاصل وي لكن حكم خلاف الحق المعلوم كوي يا ده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رشوت له سببه یا د عصبیت له سببه فهو في النار، او بل هغه قاضي دی چې ده ته د شریعت احکام خو معلوم وي او مطابق د حق معلوم دی فیصله په منځ کې د خصوم کوي فهو في الجنة، او کما قال رسول الله ﷺ.

دروښ وایي: چې ددې حدیث سره موافق او د یهودو د ملایانو د حال سره مناسب دا حکایت دی چې د یهودانو د فیصلو لپاره دریې قاضیان دوی مقرر کړي وه (۱) ادنی (۲) اوسط (۳) اعلی، یعنې یو قاضي د ابتدائیه محکمې قاضي ؤ، او بل د مرافعې قاضي ؤ، او بل د تمیز د قضا لوی قاضي ؤ، ددې دریې قاضیانو له مقرر کولو څخه مطلب دا ؤ چې د متخاصمینو دعوې به اول ابتدائي محکمې ته وړاندې کیدل په هغه محکمه کې به یو خصم ملامت سو، هغه حق درلودی چې د مرافعه طلب یې کړی وای، او که مرافعه محکمه کې به هم هغه سړی محکوم سوی وای هغه حق د طلب د محکمې د تمیز درلودی، نو که په هغه محکمه کې به ملامت سوی وای، نو بالا حق یې نه درلودی او دعوه یې باطل وه او مدعي حق پر ثابت ګرځیدی، نو خدای جلت قدرته که څه هم ازلاً معلوم وه لکن د امتحان لپاره یې یوه ملکه پر صورت د انسان چې پر نبه مادیاني سپور ؤ را وایې ستاوه، ملکه چې راغله پر یو څاه باندې خلګو یعنې یهودانو ټپلي مواشي اوبولې چې په هغو کې د یو سړي سره غوا او ګیلګی هم ورسره وه، ملکې د غوا و ګیلګې ته اشاره وکړه ګیلګی راغلی د مادیاني سره ودریدی، غوا والا چې په خپل ګیلګي پسې راغلی نو هغه د مادیاني څخه په هیڅ توګه نه جلا کیدی، ملکې ورته وویل که ستا د غوا ګیلګی وای نو ستا سره به تللی وای نو دی ځان د مادیاني زوی بولي، اخیر غوا والا په محکمه ابتدائیه عرض پر وکړی ملکې پېش قدمي وکړه، قاضي ته یې د ابتدائیه محکمې رشوت ورکړی مدعي چې راغلی قاضي حکم پر وکړی چې ګیلګی په حقه سره د مادیاني زوی دی، د مدعي مرافعه طلب سوه په مرافعه کې، نو هم په سبب د رشوت اخستلو ګیلګی د مادیاني زوی وباله سو او مدعي یې ملامت کړی، اخیر الامر غوا والا تمیز وغوښتی قاضي ته د تمیز چې ورغله غوا والا او ملکه، قاضي د تمیز ورته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وويل چي زه اوس په حيض کي يم حکم شرعي نه سم کولای، ملکي ورته وويل چي نر ته څرنګه حيض ورتلای سي، قاضي ورته وويل چي نر ته چي حيض نه ورځي، نو ګيلګی هم د مادياني زوی نه سي کېدای، نو ګيلګی يې د غوا والا په لاس ورکړی، نو ملکي وويل هغه دوه قاضيان في النار وقاضي في الجنة.

اَلَمْ يُؤْخَذْ عَلَيْهِمْ مِّيْثَاقُ الْكِتٰبِ اَنْ لَّا يَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ اِلَّا الْحَقَّ وَدَرَسُوْا مَا فِيْهِ

پوه سه: چي همزه لپاره د انکار دی، او نفي د نفي اثبات دی، يعني اخست سوی پر دوی تينګول د کتاب يعني التورات، او اضافت په معنی د في دی يعني في الکتاب چي دوی به نه وايي پر خدای ﷻ مګر حق خبره، او دا دعوه د ملايانو ددوی سيغفرلنا آه غلطه ده لانه ليس في التورات ميعاد المغفرت مع الاصرار على الذنب. لکه ملايان د يهودو دغسي کوي چي تينګ پر ګناه دي او دعوه د مغفرت هم کوي.

پوه سه: چي "درسوا" درس د کتاب يعني قرائته وتدبره مرة بعد اخرى، يعني دوی پوهيږي چي دا عمل چي مونږ کوو خلاف د تورات او دا دعوه کول معصيت دی.

پوه سه: چي "ودرسوا" يا عطف دی پر "الم يوخذ" په اعتبار د معنی لانه قد مر انه بمعنی اخذ دی، نو "درسوا" چي فعل مثبت دی پر فعل منفي چي الم يوخذ دی صحيح دی او يا عطف دی پر ورثوا.

وَالدَّارُ الْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ ۭ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ

او ثواب د دار اخرت چي جنت دی ښه د هغو کسانو لپاره چي له خدای ﷻ څخه ويريږي، نو ايمان پر نبي ﷺ راوړل بهتر دی ملايانو لره د يهودانو تر دنياوي توکو چي دوی يې له سفله وو څخه تر لاسه کوي که دوی له خدايه ويريدلای لاعرضوا عن حطام وامنوا بالنبي الموجود في کتابهم التورات يعني محمد ﷺ.

پوه سه: چي په "افلا يعقلون" کي کلمه د فا عطف ده کمامر من قانون جمع همزة الاستفهام مع حرف العطف والتقدير ه، ايختارون حطام الدنيا ويترکون الخير وهو الايمان بالنبي ﷺ والهمزة للانکار على المحذوف المذکور فلا يعقلون، نو دوی لره عقل نسته، نو فلا يعقلون منزل منزلة اللازم دی. ولي چي د عقل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مقتضی داده چې خیر تر شر مختاره کړی، او دوی په عوض کې د نعیم مخلد په جنت کې یو ادنی شی واخستی چې مقتضي د عذاب مخلد في النار ته به سي، یعني ترک الایمان بالنبي ﷺ واخذ حطام الدنیا علی مامر تفصیله.

وَالَّذِيْنَ يُمَسِّكُوْنَ بِالْكِتٰبِ

او هغه کسان چې تمسک کوي په امورو کې د دین په کتاب سره، مجاهد رحمه الله وایي چې مراد له کتاب الله څخه تورات دی یعني په تورات کې تغییر او تبدیل نه وي کړی او نه یې پټ کړی وي او سبب یې د خوراک د امو الو د خلګو نه وي ګرځولی لکه عبدالله بن سلام واصحابه رضي الله عنهم، او عطا رحمه الله وایي چې مراد څنډې امت د علیه الصلوة والسلام دی او له کتاب څخه قرآن مراد دی.

دروښ وایي: چې والاول هو الاوفق للسیاق.

وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ ۭ اِنَّا لَا نُضِيْعُ اَجْرَ الْمُصْلِحِيْنَ ۝

او بریایه کوي لمونځ مراد څنډې جنس دی چې پینځو سرو فرض لمونځو ته شامل سي، مونږ نه ضائع کوو اجر او ثواب د اصلاح کونکو بلکې اجر جزیل ورکوو او ثواب عظیم.

پوه سه: چې دا عطف د خاص دی پر عام باندې ولې چې په امورو کې د دین خو صلوة هم داخل دی لتنبیه علی اشرفیة الصلوة لانها عماد الدین کما ورد في الحدیث الصحیح، او لمونځ افضل د عباداتو دی وروسته تر ایمان فاقردت بالذکر لذالک الشرف.

خانه دین خویش را چوخدا — بر ستون نماز کرد بنا
بی شکی تاستون بجای بود — خانه دین حق بپای بود

پوه سه: چې بعض مفسرین وایي چې په دې عبارت کې منهم ورسره مقدر دی ای المصلحین منهم او بعض مفسرین وایي چې په دې عبارت کې وضع د اسم ظاهر ده په ځای کې د مضمر والاصل اجرهم فاقام مقامه الاسم الظاهر ای المصلحین مقام الضمیر لپاره د تنبیه پر دوی چې اصلاح مانع ده له نضیع څخه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاِذْ نَتَقْنَا الْجَبَلَ فَوْقَهُمْ

کلمه د اذ منصوب المحل ده په اذ مقدر سره، والمعنی اذکر هغه وخت چې موږ غر له بېخه راوکیښ او پورته مو کړی د بني اسرائیلو پر سرو.

شان نزول: څه وخت چې خدای پاک و موسی علیه السلام ته تورات په یوه پلا ورکړی او موسی علیه السلام و بني اسرائیلو ته احکام د تورات مفصلاً بیان کړه، په دې احکامو کې ډېر اوامر وه چې بني اسرائیل نه وه ورسره عادت او داسې منهیات وه چې دوی به ورسره عادت وه، نو بني اسرائیلو منع وکړه له قبول څخه د احکامو د تورات، نو خدای پاک جبرئیل علیه السلام امر کړی چې دومره غر له بېخه راوکاږه چې ددوی د ټولو پر سرو برابر وي او یو قامت یې لوړ ونسه، نو موسی علیه السلام دوی ته وویل چې د تورات احکام قبلوئ که غر درباندې رایله کړل سي، دوی پر سجده پرېوتل او د تورات د قبولیت وعده یې وکړه او په عین حال کې یې سجده د مخ پر یوه بغل وکړه او په یوه سترګه یې غره ته کتل چې رایله یې نه کړي او تر اوسه پورې یهودان ورته سجده کوي. له دوی څخه چې پوښتنه وکړل سي چې ولي یکبغله سجده کوئ؟ دوی وایي چې موږ په داغسې سجده له خدای له عذابه خلاص سوو یعني چې غر راباندې ایله نه سو.

كَاَنَّهٗ ظُلَّةٌ وَّظَنُّوْٓا اَنَّهٗ وَاقِعٌۢ بِهِمْ

داغر لکه سائبان ددوی پر سرو ؤ یعني نژدې ؤ، او ددوی یقین سو چې غر راباندې ایله کوي یعني که موږ قبول د احکامو د تورات ونه کړو.

خُذُوْا مَآ اٰتَيْنٰكُمْ بِقُوَّةٍ وَّاذْكُرُوْا مَا فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۱۷۱﴾

په تقدیر د قول ای وقلنا درواخلئ هغه کتاب یعني تورات چې موږ درکړی ؤ تاسي ته یعني ستاسي پر نبي موسی علیه السلام مو نازل کړی ؤ په عزم او ټینګ کوشش سره او تاسي په یاد کې ساتئ هغه احکام الهیه چې په دې کتاب کې سته

پوه سه: چې "بقوة" حال دی له فاعل څخه د "خذوا" ددې لپاره چې تاسي به په دغه تذکر سره د خدای ﷻ له عذابه وېرېږئ نو قبائح د افعالو به نه کوئ او رزائل د اعمالو به په زاویه کې د هجران وغورځوئ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تنبیه: د امت سره د علیه الصلوة والسلام خدای پاک د هر لوی احسان وکړی په برکت او شرافت د علیه الصلوة والسلام هغه داچې فرائض د اسلام او منهیات د اسلام یې په تدریج سره نازل کړه سورةً سورةً آیةً آیةً په دوله زمانه کې د نبوت یعنې درویشت کاله، نو هیڅ چا له مسلمانانو څخه لکه قوم د موسی علیه السلام انکار ونه کړی او که فرضاً قرآن کریم په یوه پلا نازل سوی وای او فرائض د اسلام او محرمات د اسلام په بشپړه دول شاید راغلي وای العیاذ بالله امت د علیه الصلوة والسلام به هم ورته د قوم د موسی علیه السلام انکار کړی وای، وروسته چې احکام د دین اسلام پایه تکمیل ته ورسېدله او د آنحضرت ﷺ شپې او ورځې د فراق او د هجرت و دار الآخرة ته رانژدې سوې خدای پاک لپاره د خبرتیا دا آیت نازل کړی "الیوم اکملت لکم دینکم واتممت علیکم نعمتي ورضیت لکم الاسلام دیناً" فلله الحمد علی رحمته مع تلک الامة المرحومة اللهم ارحم هذه الامة في دار الآخرة.

وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِي آدَمَ مِنْ ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَأَشْهَدَهُمْ عَلَىٰ أَنْفُسِهِمْ أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوا بَلَىٰ شَهِدْنَا

والمعنی اذکر یا محمد ﷺ چې ظاهر کړی رب ستا له اولاد څخه د آدم.

پوه سه: چې په دې آیت کې اختصار دی، والتقدیر من آدم وبني آدم. دا ولې چې ذریة خو مختصه په اولاد سره د آدم نه وه بلکې ذریة خو خپله آدم علیه السلام لره هم وه له شاوخوا څخه ددوی.

پوه سه: چې لفظ د من ظهورهم بدل بعض دی من بني آدم، ولې چې توله بني آدم لره خو ذریة نسته، ولې که بني آدم خو قبل البلوغ هم مړه کېږي او بعض بني آدم بعد البلوغ قبل النکاح مړه کېږي او بعض بني آدم بعد النکاح عقیم وي ددوی اولاد که نر وي او که ښځې، او دوی یې شاهدان کړه پر خپلو ځانو او داسې یې ورته وویل آیا زه نه یم ستاسې رب یعنې خالق او تربیه کونکی؟ ټولو ورته وویل هوا ته زمونږ رب یې. له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی ده وویل قال رسول الله ﷺ لما خلق الله آدم مسح ظهره بلا کیف فهذه اللفظة من متشابهات هذا الحدیث فسقط من ظهره، نو له ملا څخه د آدم علیه السلام راووتل ټوله انسانان چې خدای ﷻ یې پیدا کوي تر ورځې پورې د قیامت له ذریة څخه دده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې په بعضو نورو رواياتو کې راغلي دي مثل الذر لکه کوچني مېږان لکن پر صورت د انسان" او خدای پاک ګرځولې وه په منځ کې د دوو ستر د هر انسان برېښنا او نور، نو دا ټول اولاد خدای پاک و آدم عليه السلام ته پېښ کړه. نو آدم عليه السلام وويل ای رب من هؤلاء دا څوک دي؟ خدای پاک ورته وويل دا ټوله ستا اولاد دي يعني بالذات او بالواسطة او بالوسائط. نو آدم عليه السلام يو نفر په دوی کې وليدی چې رنا د مابين د ستر ګو يې آدم عليه السلام ته خوند ورکړی، نو آدم وويل ای رب من هذا؟ قال هذا داؤد. نو آدم عليه السلام چې څو عمر دي دده لپاره ټاکلی دی خدای پاک وويل چې شپېته کاله، آدم عليه السلام ورته وويل چې څلوېښت کاله زما له عمر څخه ورکړه يعني چې سل کاله يې عمر سي، قال رسول الله ﷺ چې د آدم عليه السلام چې عمر په څلوېښت کاله کم پوره سو، ملک الموت ورته راغلی يعني لپاره د قبض روح، آدم عليه السلام ورته وويل چې زما څو څلوېښت کاله عمر لا پاته دی، عزرائيل عليه السلام ورته وويل چې هغه خو تا و داؤد ته بخښلی وُ، نو آدم عليه السلام ورته منکر سو، عليه الصلوة والسلام وايي چې دا انکار يې په اولاد کې هم پيدا سو، او آدم عليه السلام په هېره سره د شجرة منهي عنها څخه خوراک وکړی نو هېره يې په اولاد کې هم پاته سوه، او خطاوتی آدم عليه السلام نو خطاً يې په اولاد کې هم پاته سوه.

دروښ وايي: چې ورته روايت سره د اختلافه د بعض الفاظو د حديث ترمذي هم کړی دی له ابو درداً ﷺ څخه.

دروښ وايي: چې په ځای کې د اخذ ميثاق له اولاد څخه د آدم عليه السلام دېر اختلاف دی چې راوړل يې فائده نه لري، والاحوت تفويض علم ذالک الی الله تعالی، مظهري رحمه الله دومره دېر مختلف حديثونه راوړي دي چې متعلم ته بېله اضطراره بله فائده نه لري تاسي يې مطالعه کړئ زما د خبري صدق به درمعلوم سي ان شاً الله، ولله درصاحب روح البيان حيث صرف النظر عن هذه الاختلافات مع کونه عالماً فاضلاً واما کاملاً في علم التفسير وجامعاً بين الظواهر والبواطن المتوفي بسنة ۱۱۲۷ هـ ق والمظهري رحمه الله توفی بسنة ۱۲۲۵ هـ ق، وصاحب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

روح المعاني علامة بغداد قد بين في هذه الايات التحقيقات النحوية والبيانية وصرف النظر عن هذه الاختلافات. المتوفي بسنة ۱۲۷۰ هـ ق.

نو دروښ هم په دغو مفسرينو پسې اقتدا وکړه او اختلافات يې صرف نظر کړه او ماته خو ببخي ضروري ده چې اختلافات به صرف نظر کوم، ولي چې د علمي تفسير پښتانه مطالعه کوي چې يا خوانندہ عوام وي يا طالبان وي او يا کم علمه امامان وي. دا تولہ ولي د درانه بار د اختلافاتو طاقت نه لري. واما العلماء المتبحرين من عصر الفقير فلا يحتاجون الى مطالعة تفسير الفقير بل يأخذون مايحتاجون اليه في تفسير القرآن العزيز من التفاسير العربية وهي كثيرة بحمده تعالى.

پوښتنه: په آيت مذکوره کې خدای پاک دا سې وويل "واذ اخذ ربک من بني آدم من ظهورهم" مع ان الاحاديث دلت على انهم اخرجوا من ظهر آدم عليه السلام؟

ځواب: اخرج الله تعالى ذرية آدم بعضهم من ظهور بعض على نحو مايتوالدون نو ذکر ته ضرورت نسته، ولي چې دا هر چاته معلومه ده چې دا تولہ خو اولاد د آدم عليه السلام دي فلذالک لم يذكر ظهر آدم في الآية.

پوه سه: چې "شهدنا" د بلى سره تعلق لري، نو دا اخبار د خدای ﷻ له خوا څخه د قول د بني آدم يعني المعنى بلى شهدنا.

اَنْ تَقُوْلُوْا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

دا خطاب دی د خدای ﷻ ودوی ته، نو "ان تقولوا" علت دی د اخذ الميثاق منهم فالتقدير اخاطبكم بالست بربكم كراهة ان تقولوا اولئلا تقولوا چې تاسې ونه واياست په ورځ د قيامت.

اِنَّا كُنَّا عَنْ هٰذَا غٰفِلِيْنَ ﴿۱۷۲﴾

په تحقيق موږ وُ له تخصيص څخه د ربوبيت ستا غافله.

سوال: دا اخذ الميثاق به په ورځ د قيامت څرنګه حجت سې پر خلګو او سره ددې چې د هيڅ چا خو اخذ الميثاق نه دی په ياد؟

ځواب: په ورځ د قيامت خدای ﷻ ودوی ته دا اخذ الميثاق ور پيادوي، او په دې دنيا کې چې مخبر صادق المؤيد بالمعجزات دوی ته خبر ورکړي په ذريعه د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قرآن منزل پر هغه مخبر صادق ﷺ نو دوی یعني کافران نه عذر په دنیا کي لري او نه په قیامت کي.

أَوْ تَقُولُوا إِنَّمَا أَشْرَكَ آبَاؤُنَا مِن قَبْلُ وَكُنَّا ذُرِّيَّةً مِّن بَعْدِهِمْ ۖ أَفَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ الْمُبْطِلُونَ ﴿۱۷۳﴾

او یا په ورځ د قیامت دا عذر ونه کړي چي ووایاست چي نه و شرک کړی مګر نه زمونږ پلرو او نیکه ګانو تر مونږ دمخه او مونږ ددوی اولادونه وو او ددوی متابعت مو وکړی په شرک کي، آیا ته اې خدایه مونږ هلاکوې؟ یعني عذاب راکوې په هغه کار سره چي شرک دی چي مبطلون یعني زمونږ اسلاف چي پر باطله لار روان وه، و حاصل الآیتین کراهة ان تعتذروا بالغفلة کما في الآیة السابقة او بالتقلید للاباء ولي چي دا یو عذر مسقط د عذاب ددوی نه دی لان منهم ایضاً اخذ المیثاق کما من الآباء.

وَكَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ الْآيَاتِ وَلَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿۱۷۴﴾

او داغسي کمامر مونږ بیانوو آیات قرآنیه تاچي فکر ووهي په هغو کي بندګان او ورپیاد سي هغه شی چي دوی هېر کړی وو.

پوه سه: چي جمله د "ولعلهم یرجعون" عطف ده پر محذوف باندي تقدیره لعلهم یتدبرون ولعلهم یرجعون من الشرک الی التوحید، مظهري رحمه الله وایي کذا قال السلف الصالح وجمهور المفسرین ویشهد به الاحادیث، غرض یې دادی چي دا سوال وجواب په منځ کي د خدای ﷻ او د ذریة آدم یعني الست بربکم قالوا بلی محمول پر حقیقت دی، والمعتزلة انکروا هذه الآحادیث وحملوا هذه المقاولة المذکورة علی التمثیل والمجاز، والبیضاوي ومن تبعهم دا آیات محمول پر تمثیل بولي فارجع الی تفسیره.

وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ الَّذِي آتَيْنَاهُ آيَاتِنَا فَانسَلَخَ مِنْهَا

او ته تلاوت وکړه ای محمد ﷺ پر یهودانو خبره او قصه د هغه چا چي مونږ ته ورکړی وو علم د آیاتو زمونږ، نو دی زمونږ ووتی له آیاتو څخه زمونږ یعني اعراض

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يې ځندي وکړی او کافر سو په هغو آيتو سره، ابن عباس رضي الله عنه وايي چې داسړی بلعم بن باعور نومېدی او له قوم څخه د بني اسرائيل وۀ، ولهذا قال الله تعالى واتل عليهم اى على بني اسرائيل.

وقصه: لکه څرنګه چې ابن عباس رضي الله عنه او ابن اسحاق او سدي وغيرهم ذکر کړې ده داده چې موسى عليه السلام چې قصد د جنګ د جبابره سره وکړی ونزل ارض بني کنعان من ارض الشام، نو يو څو کسان و بلعم مذکور ته ورغله چې دده اسم اعظم شريف زده وۀ، او ورته وه يې ويل چې موسى عليه السلام يو سخت مزاجه سړی دی او ډېر لوی لښکر ورسره دی، او دی ددې لپاره را روان دی چې موږ له خپلو وطنو څخه وباسي او يا مو مړه کړي او پر ځای زمونږ بني اسرائيلو ته ځای ورکړي او ته څو يو مجاب الدعوة شخصيت يې، نو مخ ته يې زمونږ سره ووزه، او خدای ته خواست وکړه چې دده مخ زمونږ څخه چپ کړي، بلعم بن باعور ورته وويل ويلكم هو نبي ومعه الملائكة والمؤمنون، نو زه څرنګه ودوی ته بښېرا وکړم او زه د خدای عزوجل له خوا خبر يم په هغه شي چې علم پر لرم يعني الاسم الاعظم او که زه دا کار وکړم دنيا او اخرت به له لاسه ورکړم او زه خو ستاسي لپاره دنيا او اخرت نه خرابوم، بيا ځلګ ورته راغله او ډېر الحاح يې ورته وويل چې دا کار به کوې، بلعم ورته وويل چې زه به په دې باره کې د خدای عزوجل سره مصلحت وکړم، راوې وايي چې د بلعم دا قانون وۀ چې چاته يې بښېرانه کول تر څو چې په خوب کې نه واى په امر سوى، نو ددې بښېرا په باره کې يې هم پر ځان خوب واچاوه يعني استخاره يې وکړه، نو په خوب کې ورته وويل سوه چې بښېرا موسى عليه السلام ته مه کوه، نو ځلګ چې صبا ورته راغله چې ما استخاره وکړه لکن په خوب کې خدای پاک زه له دې بښېرا څخه منع کړم، نو ځلګو لويه هديه ورته راوړه بلعم ځندي قبوله کړه، وروسته ورته راغله چې ته به حتماً دا بښېرا کوې، نو بلعم ورته وويل چې زه په خوب کې د خدای عزوجل سره مشوره کوم، نو خوب چې يې پر ځان واچاوه هيڅ شى يې په خوب ونه ليدى، نو ځلګ چې ورته راغله نو بلعم ورته وويل چې ما په خوب هيڅ شى ونه ليدى، نو ځلګو ورته وويل چې دا معلومه سوه چې د خدای خوښه ده، ولې که

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يې نه واى خوښه نو ته به يې ځني منع کړى واى لکه په دمخه استخاره کې چې يې منع کړې، نو خلګ په پسې وه او زارى يې ورته کولې چې دا کار وکړه حتى چې بلعم يې په فتنه اخته کړى، نو بلعم پر خره سپور سو راهي سو و هغه غره ته چې له هغه څخه د موسى عليه السلام لښکر معلومېدى چې د هغه غره نوم حسان ؤ يو څو ګامه چې خرې واخستل چې بلعم پر سپور ؤ خره پرېوته، نو خلګو خره په لرګو او شلاخو ووهله خره بيرته ولاړه سوه بيا بلعم پر سپور سو، بيا چې خرې يو څو ګامه واخستل بيا بلعم خره ووهله په قدرت د خداى ﷻ خره پر خبرو راغله وكلمتها حجة عليه، نو خرې ورته وويل ويحک يا بلعم اين تذهب چېرې ځې ته الا ترى الملائكة امامي تردني عن وجهي هذا تذهب الى نبي الله والمؤمنين تدعوا عليهم آيا ته نه وينې چې ملکې زما په مخ کې ولاړې دي او ما راګرځوي له پر مخ تتلو څخه آيا ته ځې و نبي ته د خداى ﷻ او مؤمنانو ته ښېرا ورته کوې، نو د خرې په خبرو بلعم عبرت نه واخستى بلکې خپل قصد ته يې ادامه ورکړه، نو خداى ﷻ د خرې مخ ايله کړى خره روانه سوه حتى چې خره پر جبل حسان وختل، نو بلعم چې په موسى او مؤمنانو ته ښېرا کول ژبه به يې د قوم و خواته په ښېرا ګويا سوه، او هره پلا چې به ده د قوم وخواته د خير دعا کول پر ژبه به يې د مؤمنانو لپاره د خير دعا جارې سوه، نو قوم ورته وويل چې ته څه کوې يا بلعم ته مور ته ښېراوې کوې او مؤمنانو ته د خير دعاوې کوې، بلعم ورته وويل چې زما په طاقت کې داغه قدر سته هذا شيئ قد غلب الله عليه، وروسته د بلعم ژبه تر خوله راووتل پر ځيګر يې پرېوتل، نو بلعم خلګو ته وويل چې اوس زما څخه دنيا او اخرت دواړه ولاړه، نو اوس ما ته يوه حيله پاته ده هغه دا چې خپلې ښځې ښې ښائسته کړې او څه څه شيان د خرڅلاو په بهانه ورکړې او د موسى وقوم ته يې ورواستوئ، او خپل ښځې امر کړې چې هر چا چې ستاسي سره د زنا غوښتنه وکړه ځان مه ځني منع کوئ يعني زنا ورسره کوئ، بلعم ورته وويل که يو سړى هم د موسى په قوم کې زنا وکړي ستاسي کافي ده يعني د موسى عليه السلام او د مؤمنانو په شکست کې، نو خلګو د بلعم په قول داغسي هم وکړه، نو څرنګه چې ښځې د موسى عليه السلام و

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عسکرو ته داخلي سوې سره د زېب او زېنت، نو یوه ښځه کنعانیه چې ډېره ښائسته وه چې کنیت یې بنت صوریا و، د نضر چې له رؤساوو څخه د بني اسرائیل و چې نوم یې زمري بن شلوم و چې رئیس د سبط د شمعون و، نو دا رئیس ور ولاړ سو ښځه یې تر لاس ونیول او موسی علیه السلام ته یې وویل چې ستا به دا خیال وي چې دا ښځه و ماته حرامه ده؟ موسی علیه السلام ورته وویل چې ستا به دا خیال وي چې دا ښځه و ماته حرامه ده؟ موسی علیه السلام ورته وویل نعم هي حرام علیک، هو! دا ښځه تاته حرامه ده ولي چې نکاح ستا او ددې تر منځ نسته، کار ورسره ونه کړې، هغه سړي ورته وویل فوالله لا اطیعک في هذه قسم په خدای دی که زه ددې په باره کې ستا په خوله وکړم، دستي یې په خېمه دننه کړه او زنا یې ورسره شروع کړه، نو خدای پاک دستي پر قوم طاعون او وبا مسلطه کړه، او د موسی علیه السلام سره یو قومندان وو چې نوم یې فنحاص بن العیزار بن هارون وو چې په هر کار کې په موسی علیه السلام پر دغه قومندان ډېر کاوه او دا قومندان په بدن ډېر غټ وو او په زور ډېر قوي وو، او دا قومندان په دغه وخت کې چې زمري بن شلوم د ښځي سره په خېمه کې زنا کوله غائب وو او په بني اسرائیلو طاعون ګډ وو، فنحاص مذکور چې راغلی خلګو د زمري د زنا په خېمه کې خبر ورکړی، نو فنحاص خپله توره چې تولې وسپنه وه راواخستل او په خېمه یې ورننوتی، زمری او کنعانیه سره پراته دي، نو یې دواړه په توره ووهل او سره یې کړل او دواړه یې په نیزو وډبیل او د اسمان وخواته یې پورته کړه او توره یې په لاس کې ده او پر ډډې یې لاس نیولی وو او دا یې ویل اللهم هکذا یفعل بمن یعصیک، فرفع الطاعون خدای ﷻ بالفور طاعون بند کړی، راوي د قصې وایي چې په دغه وخت کې چې زمری د کنعاني سره په خېمه کې په زنا اخته وو او فنحاص دواړه ووژل اوویا زره کسه د بني اسرائیلو په طاعون مړه سوه.

دروښ وایي: چې په شان کې د دغه بلعم خدای پاک دغه آیت نازل کړی "واتل علیهم نبأ الذین ﷺ"

فائده: نژدې ودغه قصه طویل ته نور روایات هم په باره کې د بلعم راغلي دي له مقاتل رحمه الله څخه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې په بلعم کې اختلاف دی څوک وايي چې کنعاني ؤ لکن انسب د مقام سره د توبيخ د بني اسرائيل داده چې بعلم له علماؤ څخه د بني اسرائيلو ؤ کما في الارشاد، وفي منهاج العابدين للامام الغزالي رحمه الله، او هغه علماً چې وايي چې کنعاني دی د هغه سبب دادی چې دی خو په قوم د بني اسرائيلو ؤ لکن په کنعانيانو کې زو کړی ؤ او اوسېدی فنسب اليهم.

دروبش وايي: چې په يو روايت د ابن عباس رضي الله عنه والله بصحته داسې هم راغلي دي چې دا آيت د بني اسرائيلو په يو سړي کې نازل سوی دی چې ده ته الهاماً دري دعاوې منجانب الله ورکړه سوې وې او دې سړي يوه ماينه درلوده او له هغې څخه يې زامن هم درلوده، دده ماينه په درو مستجابو دعاؤ خبره وه، نو يو وخت يې و مېړه ته وويل چې ته خو په هغو درو دعاو کې يوه ماته راکړه، مېړه ورته وويل بنه دی، يو خواست يې ستا نو ته څه غواړې؟ بنځې ورته وويل چې ته خواست وکړه چې ما تر ټولو بنائسته بنځه د بني اسرائيلو وگرځوي، مېړه چې يې خواست وکړی په قدرت د خدای ﷻ دا تر ټولو اجمله د بني اسرئيلو د بنځو وگرځېدله، نو بنځه له کوره وتله مېړه يې ورته وويل چې چېرې ځې؟ دې ورته وويل چې ځم داغسې بنائسته سړی لکه زه مېړه کوم، مېړه ته يې درد ورغلی او خدای ﷻ ته يې خواست وکړی اللهم اجعلها کلبة نباحة فصارت، نو دوه خواسته خو يې ولاړه، نو د بنځې زامن چې د سړي هم زامن وه، خپل پلار ته راغله چې زموږ مور دې سپی کړه داخو خلګ موږ ته پېغور راکوي، پلار ورته وويل چې نو څه غواړئ، زامنو ورته وويل چې خدای ته خواست وکړه چې زموږ مور پر سابقه حالت باندې وګرځوي، ده هم خواست وکړی ماينه يې د پخوا پر حال سوه او دده دعاګانې ثلثه مستجابه خلاصې سوې،

دروبش وايي: چې عبدالله بن عمرو، سعيد بن المسيب رضي الله عنهم او زيد بن اسلم او ليث بن سعد رحمهما الله تعالى وايي چې دا آيت يعني وتل عليهم نبأ "په امية بن ابي الصلت الثقفي کې نازل سوی دی، د هغه قصه داده چې اميه مذکور کتابونه د تاريخ مطالعه کړي او دی ډېر صاحب د حکمت ؤ او ډېر ژيارې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شخصیت وٗ. نو ده ته د کتابو له لاري دا معلومه سوې وه چې خدای پاک یو رسول را استوي او دده امید دا وٗ چې هغه رسول به زه یم. نو چې خدای پاک محمد اخیر الزمان ﷺ نبي کړی، نو د امیه په زړه کې حسد ورسره پیدا سو او د نبوت څخه یې منکر سو او له مکې څخه ولاړی او بعض ملکو د باچهانو سره یې صحبت مختار کړی. او د بدر واقعه چې پیښه سوه او امیه په خبر سو نو یې ویل که محمد نبي وای نو یې خپل قومان او خپلوان ولي وژل. مراد یې ځندي هغه اوویا کسان وه د مشرکانو د مکې چې په بدر کې ووژل سوه. راوي وایي چې امیه چې مړ سو، نو دده خور فارعه رسول الله ﷺ ته راغله مدینې منورې ته. نو علیه الصلوة والسلام د امیه د مړینې په باره کې پوښتنه ځندي وکړه. نو خور یې وویل چې امیه بیده وٗ د خونې بام پورته کړل سو او دوه کسه راکښته سوه، نو یو یې و سر ته کښېنستی او بل یې و پښو ته. نو د پښو والا نفر د سر نفر ته وویل اوعي هو؟ د سر نفر ورته وویل وعي، بیا پښو والا ورته وویل اذکي؟ قال ذکي، خور یې وویل چې ما ورته وویل چې دا څرنګه دوه کسه وه او څه یې سره وویل، ده راته وویل خیر اربد به، نو دی ولاړ سو او غوڅار سو او بېهوشه سو چې په هوش کې راغلی دا درې بیتونه یې وویل.

کل عیش وان تطاول دهراً ..... صائر مرة الی ان یزولا

لیتني کنت قبل مابدائی ..... في قلال الجبال ارعي الوعولا

یوم الحساب یوم عظیم ..... شاب فیه الصغیر یوماً ثقیلاً

علیه الصلوة والسلام یې وخورته وویل چې ته ځینې نور اشعار ستاد ورور راته ووایه. خور یې د خپل ورور ځینې قصیدې ورته وویل. نو علیه الصلوة والسلام وویل آمن شعره وکفر قلبه فانزل الله تعالی وتقدس اتل علیهم نبأ الذین

دروښ وایي: چې د امیه قصائد روح المعاني په تفصیل راوړي دي.

فائده: دغه بیان کړل سوی بیان دروښ د دغو تفاسیرو څخه نقل کړی له بعضو څخه لږ له بعضو څخه زیږ.

(روح المعاني، روح البیان، تفسیر مظهري، بیضاوي، تفسیر قرطبي وغیره)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَاَتْبَعَهُ الشَّيْطٰنُ فَكَانَ مِنَ الْغٰوِيْنَ ﴿۱۷۵﴾

نو شیطان په پسې سو او دده لار د دین یې قطع کړه، نو وګرځېدی د ګمراهانو له ډلې څخه.

وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنٰهُ بِهَا وَلٰكِنَّهٗٓ اَخْلَدَ اِلَى الْاَرْضِ

که زمونږ اراده وای نو دی به مو پورته کړی وای په دغو آیتو سره و منازلو ته د علماً ابرار، ده میل وکړی یعني بلعم بن باعور ودنیا ته، نو مونږ هم اراده ددې ونه کړه چې دی پوره کړو و درجې ته د علماً ابرار.

پوه سه: چې اخلاد وشي ته میل و هغه شي ته سره د اطمنان د زړه او تعبیر له دنیا څخه یې په محکه سره وکړی، ولي چې په محکه کې کښتونه کېږي او تولې متاع الدنیا له محکې څخه پیدا کېږي.

پوه سه: چې اخلاد ومحکي ته کنایه ده له اعراض عن الآیات والعمل بمقتضاها، قالوا ان الکنایة ابلغ تر صریح ده.

وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ

او ده متابعت د خواهشاتو نفسیه وو وکړی یعني مراعات د قوم او د هدایاوو ددوی یې وکړی کمامر او مراعات د آیات الله یې پریښول لان هوی النفس راغب الی الامور الدنیویة وهارب من الامور الاخرویة کاتباع الآیات فیما نحن فیه. قاضي بیضاوي وایي چې خدای پاک اولاً رفع د بلعم و منازلو ته د ابرار معلق وګرځول په خپل مشیت پوري بیرته استدراک د نفي د مشیت الهي په دې سره وکړه ولکنه اخلد آه، یعني سبب د مشیت الهي فعل د عبد دی چې دی خپل همت مبذول کړي و اتباع ته د آیاتو والعمل بها لکن په بلعم کې دا سبب نه سو پیدا نو مسبب یې هم منتفي سو چې مشیت الهي دی، مرزا غالب رحمة الله علیه دې پر په زړه پوري شعر ویلی دی.

همت بلند دار که نزد خدا وخلق　　باشد بقدر همت تو اعتبار تو

یو بل شاعر بیا داسي بیت ویلیی دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نقصان ژقابل است وگرنه علی الدوام .... فیض سعادتش بهمه کس برابر است

عبدالرحمان بابا وایي

دا باران چي پر همه و مخکو اوري ..... مشرف کی ذات د کیمیا ولي

فَمَثَلُهُۥ كَمَثَلِ ٱلْكَلْبِ ۖ إِن تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ أَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَث

نو صفت خسیس غایة الخسة د بلعم بن باعورا لکه صفت خسیس د سپي دی چي که ته یعني اې مخاطبه هر څوک چي صالح د خطاب وي که ته حمله پر وکړې یعني وسې شړې او چغه یې کړې ده خوله وازه نیولې وي ژبه یې رایستلې وي او که یې ته پرېږدي او چغه یې نه کړې هم سپې خوله وازه نیولې وي او ژبه یې رایستلې وي. له دې سببه په سپي کي ضعف القلب دی چي اخراج د گرمي هوا له باطنه څخه او د تازه هوا کشولو په دې هر تکلیف سره کوي بخلاف سائر الحیوانات فان تنفسهم سهل علیهم لقوة قلوبهم. داغه رنگه د بلعم ژبه چي له خولې څخه راووتل او پر ځیگر یې پرېوتل، نو همیشه به یې خوله وازه نیولې وه لکه سپی بئس مثل القوم الظالمین۞.

دروبش وایي: چي اوس خدای پاک دا مثال عام کوي هر هغه چاته چي تکذیب د ایات الله وکړي شاملوي فقال.

ذَّٰلِكَ مَثَلُ ٱلْقَوْمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا

او دغه مثال دی د هغه قوم چي دوی تکذیب د آیاتو د خدای ﷻ کوي. یعني که یې ته وبهروې او نصیحت ورته وکړې ایمان نه راوړي. او که یې نه وبهروې او نصیحت نه ورته وکړې هم ایمان نه راوړي "إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ءَأَنذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ۝٦" (البقرة)

فَٱقْصُصِ ٱلْقَصَصَ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ۝

داغسي قصې د بني اسرائیلو ته کوه ولي چي دا قصې ددوی د حالاتو سره پوره سمون لري، شاید دوی به فکر ووهي او له کفر او طغیان څخه به رجوع وکړي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سَآءَ مَثَلًا الْقَوْمُ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَاَنْفُسَهُمْ كَانُوْا يَظْلِمُوْنَ ﴿۱۷۷﴾

بد دی مثال او حال د هغه قوم چې تکذیب کوي د آیاتو زمونږ او خانونه ددوی داسې وه چې ظلم یې کاوه.

پوه سه: چې په "ساء" کې ضمیر مبهم دی چې تمیز یې مثلاً دی او "انفسهم" مبتدأ ده او "کانوا یظلمون" یې خبر دی او دا جمله عطف ده پر "کذبوا" داخله په صله کې د "الذین"

سوال: کذبوا" خو جمله فعلیه ده او "انفسهم آه" خو جمله اسمیه ده، نو عطف یې څرنګه روا دی؟

ځواب: جمله معطوفه په سبب د راوړلو د کانوا هم فعلیه ده کما لایخفی علی من القی السمع وهو شهید.

پوه سه: چې د "انفس" ظلم راجع دی ودوی ته په اعتبار د افعال سیئه وو ددوی.

مَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِيْ ۚ وَمَنْ يُّضْلِلْ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۱۷۸﴾

چې چاته هدایت وکړي خدای پاک نو هغه پر سمه لار دی، او څوک چې خدای پاک ګمراه کړي نو هغه کسان په خسران او تاوان کې دي.

تنبیه: چې ضمیر عائد و "من" ته په دواړو ځایو کې محذوف دی یعني من یهده الله ومن یضلله، او په اول کې چې یې ضمیر د "فهو" مفرد راوړی په اعتبار د لفظ من او په دویمه جمله کې چې فاؤلئک یې په لفظ د جمع راوړی په اعتبار د معنی د من.

پوښتنه: مهتدي یې ولي مفرد راوړی او په دویمه جمله کې یې "خاسرون" جمع راوړی؟

ځواب: د مهتدین چونکه یو مسلک دی چې دین د اسلام دی، نو ګویا ټوله یو شخص دی او د ضلال لاري چونکه ډېرې دي لکه یهودیت، شرک، مجوسیت، دهریت، نصرانیت وغیرها نو ځکه یې خاسرون جمع راوړی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرًا مِّنَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ

او مونږ پیدا کړی دی دوزخ لپاره ډیر د پیرانانو او ډیر د انسانانو هم المصرون على الكفر في علمه تعالى في الازل.

ډوه سه: چې جهنم د خدای پاک بندي خانه ده په اخیرت کې، او جهنم چې یې بولي په سبب د ډیر لیرې والي د پای دده، لکه څرنګه چې د عربو په محاوره کې وایي بئر جهنام اذا كانت بعيدة القعر، او په جهنم کې یو ځای ګرم سته په غایه حرارت کې، او بل ځای چې د زمهریر په نامه یاد ږي ډیر ځنک دی في غاية البرودة هذا ما قاله البروسوي رحمه الله، او بعض مفسرین وایي چې زمهریر له جهنم څخه خارج دی، او په منځ کې د اعلی د جهنم او د اسفل دده د پینځه اوویا سوه کالو لار ده "اللهم نج المؤمنين والمؤمنات منها.

پوه سه: چې لام په "لجهنم" کې لپاره د عاقبت دی لکه په لدوا للموت کې وابنوا للخراب کې یعني عاقبت د ولادت موت دی او عاقبت د بنا خراب دی، ددې سبب دادی چې هغه څوک چې خدای ﷻ په ازل علم پر لري چې دی پر کفر مري په خپل اختیار، نو د هغه عاقبت به حتماً دوزخ وي.

فائده: جن مشتق دی له اجتنان څخه وهو الاستتار لان الجن مستورين عن الاعين في الاكثر.

پوښتنه: جن یې هر ځای په قرآن کریم کې تر انس دمخه راوړی وجه یې څه ده؟

ځواب: جن اکثر دی په عدد کې تر انس او په خلقت کې هم تر دمخه دی.

مسئله: جن مکلف دی په احکامو د اسلام بصریح نص القرآن وبالاحادیث المتواترة المعنى وباجماع الامة على الخصوص في هذه الامة وان نبينا ﷺ رسول الثقلين، ولاشک انهم مكلفون في الامم الماضية ايضاً لقوله تعالى "اولئک الذين حق عليهم القول في امم قد خلت من قبلهم من الجن والانس انهم كانوا خاسرين"

تنبیه: امام مظهري رحمه الله وایي چې لام د "لجهنم" چې لپاره د عاقبت بولي دا مذهب د معتزله وو دی،

دروښ وایي: چې په روح المعاني کې وایي چې لام د عاقبت دی عند كثير آه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او په روح البیان کي هم وایي چي لام د عاقبت دی، آیا علامه بغدادي او علامه بروسوي معتزلیان وه او که څرنګه.

لَهُمْ قُلُوبٌ لَّا يَفْقَهُونَ بِهَا

دوی زړونه لري چي په هغو کي استعداد د پېژندلو د حق نسته او په دلائلو او معجزاتو کي د هغه حق هم فکر نه وهي بلکې پر سحر یې حمل کوي.

وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لَّا يُبْصِرُونَ بِهَا

او دوی لره سترګي سته چي په هغو سترګو دوی دلائل د حق نه وینې یعني اعتبار او عبرت په سترګو یعني که یې څه هم ظاهراً وینې والا لاآمنوا.

وَلَهُمْ آذَانٌ لَّا يَسْمَعُونَ بِهَا

او دوی غوږونه لري چي په هغو غوږو حق نه اوري یعني آیات قرآنیه او مواعظ حسنه په اورېدلو د تامل فیها.

أُولَٰئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ

دوی لکه چارپایان غوندي دي په نه پوهېدلو کي د حق او په نه لیدلو کي د حق او په نه اورېدلو کي د حق، بلکې عقلونه او حواس ددوی بند دي پر اکل او شرب او جماعو لکه چارپایان چي هغه پر دغو کارو محصور دي، بلکې دوی تر چارپایانو دېر ګمراهان دي، ولي چي چارپایان خپل مربي او مالک پېژني او د هغه احترام کوي، ته نه ګوري چي یو تکړه خروړی سپی چي د یو چا په کور کي وي، او هغه مالک وده ته ډوډی، غوښې وغیره مهیا کوي، نو دغه مالک بلکې د کور کوچنیان که دغه سپی هر څو ووهي سپی خوله نه وراچوي، او غیر مالک چي ورته نژدې سي په څټ کي ورسپرېږي، او دغه کافران د مالک حقیقي او رازق حقیقي چي خدای ﷻ دی احترام نه کوي او امر او نهي یې نه اوري او د هغه په امر ایمان نه راوړي، او دغه حیوانان په خپل ضار او نافع شعور لري، له ضار څخه ځان ساتي او له نافع جلب کوي.

ته نه وینې پیشي چونکه د د خپلي معدې په حال شعور لري چي معده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کمزورې او مسهل ده، نو ځکه چې سپینې غوښې وروا چوې نه یې خوري، او داغه رنګه که له بنوروا ځخه غوړه ګوله وروا چوې هم یې نه خوري او که وچه ډوډۍ وروا چوې هیڅ ځکه نه په کوي او که هډوکي وروا چوې غاښونه پر باسي خو هغه هډوکي خوري، نو ځکه د پیشې چکر لکه پوچي غوندې وي، او اسهالي چکر د پیشې به چا نه وي لیدلی، ولې چې دا له سهل خورکه ځخه پرهېز کوي، او دغه کافران خپل ضار او نافع چې کفر او اسلام دی نه سره پېژني بلکې همېشه په ضار کې ولاړ دي، بلکې بعض کفار لکه یهودان پر نار مؤبده باندې ورځغلي عناداً مع العلم بان عملهم موجب للنار المؤبدة "یعرفونه کما یعرفون ابنائهم" وجحدوا بها واستیقنتها انفسهم ظلماً وعلواً.

اُولٰٓئِكَ هُمُ الْغٰفِلُوْنَ ﴿۱۷۹﴾

او هم دغه کسان غافله دي په کمال غفلت سره لاغیر هم کما یدل علیه ضمیر الفصل. سعدي شیرازي قدس سره وایي.

غبار هوا چشم عقلت بدوخت — سموم هوا کشت عمرت بسوخت
بکن سرمه غفلت از چشم پاک — که فردا شوی سرمه در چشم خاک

یو محقق وایي

دریغ آدمی زادهٔ بر محل — که باشد چو انعام بل هم اضل

وَلِلّٰهِ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى فَادْعُوْهُ بِهَا ۪

او د خدای پاک نومان ډېر ښه دي چې پر ښوو معانیو دلالت کوي، نو تاسي بولئ په دغو نومانو سره او ذکر یې په دغو نومانو سره کوئ، او په صحیح حدیث کې راغلي دي "ان لله تسعة وتسعین (۹۹) اسماً مائة الا واحد، من احصاها دخل الجنة هو الله الذي لا اله الا هو الرحمن الرحیم الملک القدوس السلام المؤمن المهیمن العزیز الجبار المتکبر الخالق البارئ المصور الغفار القهار الوهاب الرزاق الفتاح العلیم القابض الباسط الخافض الرافع المعز المذل السمیع البصیر الحکم العدل اللطیف الخبیر الحلیم العظیم الغفور الشکور العلي الکبیر الحفیظ المقیت الحسیب الجلیل الکریم الرقیب المجیب الواسع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الحكيم الودود المجيد الباعث الشهيد الحق الوكيل القوي المتين الوليِ الحميد المحصي المبدئ المعيد المحي المميت الحي القيوم الواجد الماجد الواحد الصمد القادر المقتدر المقدم المؤخر الاول الآخير الظاهر الباطن الوالي المتعال البر التواب المنتقم العفو الرؤف مالك الملك ذو الجلال والاكرام المقسط الجامع الغني المغني المانع الضار النافع النور الهادي البديع الباقي الوارث الرشيد الصبور جل جلاله وعم نواله.

فائده: قديم مشائخ وايي چي شروع دي كوي اولاً په دې دول اللهم اني اسئلك يا رحمن يا رحيم تر اخيره پوري، نو په ټوله اسماً الحسنى مصدر سي په حرف نداً سره، او په اخير كي دي درود پر عليه الصلوة والسلام ووايي په دې دول ان تصلي على محمد وآله واصحابه وان ترزقني وجميع من يتعلق بي، بتمام نعمتك ودوام عافيتك يا ارحم الراحمين كما في الاسرار المحمدية.

پوه سه: چي نومان د خداى ﷻ حصر په دغه نومانو كي نه دي چي په دې حديث كي راغلي دي او په قرآن كي نسته، لكه الحنان، المنان، الجواد، الفرد والوتر والصادق والجميل والقديم والبار والوافي والطاهر والمبارك چي دا نومان بيا په متفرقو احاديثو كي راغلي دي.

مسئله: اسماً د خداى ﷻ حصر په هغو كي نه دي چي په قرآن او احاديث كي راغلي دي دي، ولي چي په يوه رايت كي راغلي دي چي خداى ﷻ په تورات كي خپل نومان زر (۱۰۰۰) راوړي دي فلابد من الايمان بجميع اسمائه تعالى مجملاً، په دې حديث كي اشاره ودغه ايمان اجمالي ته ده چي عليه الصلوة والسلام په دعاً كي داسي ويل اللهم اني اسئلك لكل اسم هو لك سميت به نفسك وانزلته في كتابك او علمته احداً من خلقك او استأثت به في علم الغيب عندك.

دروښ وايي: چي ددغو اسماً الحسنى معاني او خواص د هغو په شرح كي د اسماً الحسنى راغلي دي للامام الهمام محمد الغزالي رحمة الله عليه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَذَرُوا الَّذِيْنَ يُلْحِدُوْنَ فِيْٓ اَسْمَآئِهٖ

او تاسي پرېږدئ اې مؤمنانو هغه کسان چې عدل له حق څخه کوي په ټومانو کې د خدای ﷻ. الحاد او لحد میل دی د حق، یعقوب بن السکیت رحمه الله وایي چې الحاد عدول له حق څخه وادخال مالیس منه. بعض مفسران وایي چې ملحدون په اسماً کې د خدای ﷻ مشرکین دي یا په زیادت یا په نقصان سره مثلاً دوی لات د الله له لفظ څخه جوړ کړی دی او عزی یې د العزیز له لفظ څخه مشتق کړی دی او منات یې د منان له لفظ څخه جوړ کړی دی فسموا بها اصنامهم. هذا قول ابن عباس رضي الله عنه ومجاهد رحمه الله. او اهل معاني وایي چې اسماً د خدای ﷻ توقیفي دي، نو نه ده روا تسمیه د خدای ﷻ په داسي نامه چې نه په قرآن کې وي او نه په حدیثو کې، نو د جواد اطلاق پر روا دی او د سخي دا نه دی پر روا که څه هم معنا یې یوه ده، او عالم خدای ﷻ ته ویل کېږي او عاقل نه دی ورته روا او د رحیم وینا وخدای پاک ته روا ده او د رقیق دا نه ده روا.

پوه سه: چې په قرآن کریم کې راغلي دي "یخادعون الله وهو خادعهم" او داغه رنګه په قرآن پاک کې راغلي دي "ومکروا ومکر الله" او سره ددې خادع یا مکار وخدای ﷻ ته نه دی روا او "قائما بالقسط" په قرآن کریم کې راغلي دي، او قائم و خدی ﷻ ته نه دی روا او یا "خالق کل شیئ" اطلاق پر خدای ﷻ روا دی او یا خالق القردة والخنازیر نه دی روا که څه هم په کل شیئ کې قردة او خنازیر هم داخل دي، او داغه رنګه یا کبیر من زید اطلاق نه دی روا که څه هم زید اکبر وي تر ملوک د دنیا بل یدعی الله باسمائه التي وردبها التوقیف یعني السماع.

پوښتنه: په هغو اسماو سره تسمیه روا ده چې په تورات کې راغلي دي اخذاً من الیهود؟

ځواب: لا لعدم الاعتماد علیهم لکن له هغه چا څخه چې مسموع وي چې هغه احبار د یهودو وي او اسلام یې راوړی وي وحسن اسلامه هغه پروا نه لري بېله انکاره د هیڅ چا کعبد الله بن سلام وامثاله رضي الله عنهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سَيُجْزَوْنَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿۱۳۹﴾

ژر دی چې خبر به ورکړل سي و هغو ملحدینو ته د اسمائو د خدای ﷻ بما کانوا یعملون په هغه کار چې دوی یې عمل کاوه.

پوښتنه: پارسي ژباڼان وایي یا خداوند او یا بخښنده وغیر ذالک او پښتانه وایي اې خدایه یا اې بخښونکې یا اې څښتنه وغیر ذالک، دا روا دی او که څرنګه؟

ځواب: دا روا دی ولې چې ترجمه ده په ژبه د بعض نومانو د خدای ﷻ مثلاً خدای او خداوند ترجمه ده د لفظ الله په پښتو او په پارسي سره، او بخښنده او بخښونکی ترجمه د غفور ده په پارسي او پښتو، او د څښتن ترجمه مالک دی په پښتو کې الی غیر ذالک فتدبر. قال الحافظ

دهقان سالخورده چه خوش گفت باپسر ...ای نورچشم من بجز کشته نه دروی

دروېش وایي: چې صاحب د روح المعاني په نهم جزء ص ۱۲۱ ډیر په زړه پورې تحقیق په مسئله کې د الحاد في اسماء الله کړی دی ان شئت فارجع الیه.

وَمِمَّنْ خَلَقْنَا أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِالْحَقِّ وَبِهِ يَعْدِلُونَ ﴿۱۸۱﴾

او له هغو انسانانو څخه چې موږ پیدا کړي دي یوه ډله ستهچې خلګو ته لار ښیي د حق او په حق سره عدالت او قضاوت کوي په منځ کې د خلګو، بغوي وایي چې عطاء رحمه الله له ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت کړی دی یرید امة محمد ﷺ من المهاجرین والانصار والتابعون لهم بالاحسان الی یوم القیام، قتاده رحمه الله وایي چې موږ ته داخبره را رسېدلې ده چې علیه الصلوة والسلام چې به دا آیت ووایه، نو به یې داسي وویل هذه لکم وقد اعطی القوم بین یدیکم مثلها قال الله تعالی ومن قوم موسی امة یهدون بالحق وبه یعدلون، له عبدالله بن المبارک رحمه الله څخه روایت دی انه کان یتجر ده تجارت کاوه او دا به یې ویل که پینځه کسه نه وای ما به تجارت نه کولای یعني ددغو پینځو کسانو د صله رحمي د پاره یې کوم هغه پینځه کسان ده دغه یاد کړه سفیان ثوري، سفیان بن عیینه، فضیل بن عیاض، ابن السماک او ابن علیة، یعني دغه کسان مسکینان علماً وه، نو عبدالله بن المبارک رحمه الله به دوی ته خرچه د عیالِ ورکوله، یو کال چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عبد الله بن المبارک رحمه الله له تجارته څخه راغلی ابن علية قاضي سوی ؤ، نو عبد الله بن المبارک ته ملاقات ته ورغلی او نه يې صله ورواستول، نو ابن علیه په خپله ورغلی د ملاقات د پاره، نو عبد الله سر لا نه کړی ورته پورته او نه يې خوش آمدید ورسره وکړی، وروسته ابن المبارک دا بیتونه ورواستول.

یاجاعل العلم بازیاً..... یصطاد اموال المساکین

اې هغه سړی چې له علم څخه دي باز جوړ کړی دی، چې په ښکاروې د مسکینانو مالونه.

احتلت الدنیا ولذاتها..... بحیلة تذهب بالدین

تا حیله جوړه کړل و دنیا ته او لذاتو ته د دینا، په خپل لاس سره چې دین پکښې له لاسه وځي.

فصرت مجنوناً بعد ما..... کنت للمجانین دواً

نو ته اوس لېونی سوی يې وروسته تر دې چې ته لېونیانو ته دوا وې.

این روایاتک..... لترک ابواب السلاطین

څه سول هغه روایتونه چې تا به کول په باره کې د ترک د دروازو د بادشاهانو

ان قلت اکرهت فذا باطل..... زل حمار العلم في الطین

که ته وایې چې زه حکومت مجبور کړم پر قضا نو دا خبره باطله ده. بلکې دا صحیح ده چې خر د علم په خټو کې ونښووېدی.

نو ابن علیه ته چې دا بیتونه ورسېدل، هارون رشید ته چې د هغه وخت خلیفه ؤ ورغلی نو خلیفه ته يې د ډېرې زارۍ وکړې چې زه قضا نه سم کولای او استعفا يې ورته پېش کړه، هارون يې استعفا ومنله او له قضا څخه يې سبکدوش کړی، ولنعم ماقیل:

بو حنیفه قضا نه کرد وبمرد تو بمیری اگر قضا نه کنی

دروېش وایي: ومن بلاغات بعض العلماء في غایة الدقة والمتانة، هذا البیت

اعدل تکن من صروف الدهر متلعاً..... فالصرف ممتنع للعدل في عمر

فتأمل في البیت غایة التأمل وتذکر من کتب النحو عدم انصراف عمر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا سَنَسْتَدْرِجُهُمْ مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝

هغه کسان چې تکذیب کوي په آیتو سره زمونږ چې مراد ځنې کفار مکه دي لانهم اول من کذبوا بایات القرآن، مونږ به یې و هلاک ته درجه پر درجه ورنژدې کړو، له داسې ځایه چې دوی به علم نه پر لري، کلبي رحمه الله وایي چې خپل بد عملونه او کفر به دوی کوي تر څو چې هلاکیږي، او له استدراج څخه د خدای پاک یوه شعبه دا هم ده چې سړی ګناه وکړي خدای ﷻ نعمت ورکړي، قال الضحاک رحمه الله سفیان ثوري رحمه الله وایي چې نعمتونه به ډېر وي شکر به یې هېر وي دا هم نوع د استدارج ده.

وَاُمْلِيْ لَهُمْ ۭ اِنَّ كَيْدِيْ مَتِيْنٌ ۝

زه مهلت ورکوم او عمر یې ورډېروم او اعمال سیئه په نظر کې ښه ورکوم تاسې ښه په عصیان کې ډوب سې او مستحق د هلاک وګرځي.

پوه سه: چې "واملئ لهم" عطف دی پر "سنستدرجهم" باندې، او "کید" په لغت کې چم ته وایي وهو محال علیه تعالی فالمعنی هـ ان اخذي بالعذاب شدید مکریه صورة او تشبیهاً وباله، ولي چې ظاهر یې احسان دی او په باطن خذلان دی، بعض راویان وایي چې یوه ډله وه چې په قرآن او اسلام به یې پسخند واهه دی، بعض راویان وایي چې یوه ډله وه چې په قرآن او اسلام به یې پسخند واهه په خپلو کې د شپې په مجلسو کې، نو خدای پاک ټوله په یوه شپه هلاک کړل.

اَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوْا ۭ مَا بِصَاحِبِهِمْ مِّنْ جِنَّةٍ ۭ اِنْ هُوَ اِلَّا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۝

آیا فکر نه ویهي کفار مکه په دې کې، نسته په صاحب کې ددوی (محمد ﷺ) جنون. او ستاسې خاوند خو د عقل سلیم کامل خاوند دی چې قبل النبوة تاسې هم په دې قانع واست حتی چې دی مو امین مکه باله، مګر بهرونکی له عذاب څخه د دنیا او آخیرت که چېرې تاسې پر خپل کفر دوام وکړي، کلمه د "من" د پاره د استغراق د نفي ده، ولي مجنون مختل العقل وي.

اَوَلَمْ يَنْظُرُوْا فِيْ مَلَكُوْتِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا خَلَقَ اللّٰهُ مِنْ شَيْءٍ ۙ

آیا دوی نظر، فکر او استدلال نه کوي په ملک کې، نو ملکوت پر وزن د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فعلوت دی د پاره د مبالغة في الملک په دې معنا چې دغه نظام د اسمانو او مځکو پر وجه بدیع هرو مرو یو مبدع غواړي، نو هغه مبدع د عبادت لائق دی لااصنامکم، وروسته خدای پاک تعمیم بعد التخصیص وکړی او وې ویل "وما خلق الله من شیئ" بلکې د هر شي په خلق کې تاسي فکر وکړئ چې بې خالقه هیڅ شی ولو که مهږی وي وعالم وجود ته نه سي راوتلای.

برگ درختان سبز درنظر هوشیار ..... هر ورقی دفتریست معرفت کردگار

وَّاَنْ عَسٰٓى اَنْ يَّكُوْنَ قَدِ اقْتَرَبَ اَجَلُهُمْ ۚ

او دوی نظر نه کوي په نژدې والي کې د آجالو د موت ددوی حتی چې تلوار وکړي په طلب کې د حق ای الایمان والطاعة.

پوه سه: دا جمله عطف ده پر "ملکوت السموات آه" والتقدیر او لم ینظروا في ان عسی آه. او همزه د "اولم یتفکروا الخ" او د "اولم ینظروا آه" د پاره د انکار او تعجب ده.

قانون نحوي: هر ځای چې په قرآن مجید کې تر حرف استفهام وروسته حرف عطف راسي هغه معطوف پر محذوف دی، مناسب د مقام سره، والتقدیر هَ الم یؤمنوا بالقرآن والنبي ﷺ ورموه بالجنون ولم ینظروا آه.

دروښ وایي: چې دا قانون ما په دې تفسیر کې څو ځای نور ذکر کړی فائده د تکرار یې داده چې دا یو غریب قانون دی چې په اذهانو کې د مطالعه کونکو نښه تقرر پیدا کړي.

فَبِاَيِّ حَدِيْثٍۢ بَعْدَهٗ يُؤْمِنُوْنَ ۝

نو په کومه خبره سره وروسته تر قرآن کفار مکه ایمان راوړی یعني قرآن مبارک چې معجز دۍ یعني چې څوک یې راتګ په مثل سره نه سي کولای او د اخبار بالغیب او علم او حکمت څخه غالب دی او پر داسي چا نازل دی چې هغه امي دی او متهم په کذب سره نه دی هیڅ وخت، نو چې پر دې قرآن لا هم دوی ایمان نه راوړي نو پر څه شي به ایمان بلکې داسي معلومېږي چې اجل د عذاب ددوی نژدې دی، یو عزیز وایي:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

زان پیش که اجل تر رسد تنگ — وایام عنان ستاند از جنگ
بر مرکب فکر خویش نه زین — مردانه درآی در ره دین

مَنْ يُضْلِلِ اللّٰهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ ۭ وَيَذَرُهُمْ فِيْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ۝

څوک چې خدای پاک ګمراه کړي، نو هغه لره هدایت کونکی نسته.

پوه سه: چې دا آیت علت دی د اعراض د کفارو له دین څخه د اسلام، ددې آیت معنا داده چې څوک چې په علم ازلي کې د خدای ﷻ معلوم وي چې دا سړی وروسته تر اخراج له کتم څخه د عدم به په خپل اختیار کافر کېږي او پر کفر به اصرار کوي تر مرګه پوري، نو هغه لره هدایت کونکی یعنې په دین مشرف کونکی نسته لانه یلزم خلاف علمه تعالی وهو محال. نو دا سوال نه وارد ېږي چې کافر والی د کافر او اصرار پر کفر چې له جانبه د خدای ﷻ دی، نو کافر ته پر څه عذاب ورکول کېږي وقس علیه هدایت الاسلام. فلا یرد ان هدایت المؤمن ودوامه علی الهدایت چې له جانبه د خدای ﷻ دی نو دی ولې مستحق د جنت دی، او دا معنا د هغه قول د اهل عقائدو چې بنده کاسب دی او خالق خدای ﷻ دی فتامل فیه جداً. او خدای ﷻ دوی یعنې کافران پرېږدي په خپله سرکښي او کفر کې یترددون متحیرین.

پوه سه: چې ابن جریر رحمه الله له قتاده رحمه الله څخه روایت کړی دی چې قریشو علیه الصلوة والسلام ته وویل چې زموږ او ستا تر منځ قرابت دی ته موږ ته ووایه چې قیامت کله دی فانزل الله تعالی هذه الآیة.

يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ السَّاعَةِ اَيَّانَ مُرْسٰىهَا ۭ

قوم او قریش له تا څخه پوښتنه کوي د ساعت په باره کې چې څه وخت دی اثبات او وجود د قیامت.

پوه سه: چې ساعت په اصطلاح د قرآن او شریعت له اسماً غالبه وو څخه دی د قیامت کالنجم للثریا في قوله تعالی "والنجم اذا هوی" سورة النجم، چې مراد له نجم څخه علی الاصح في تفسیره کما سیئاتي بیانه في تفسیر سورة النجم ان شاء الله تعالی ثریا یعنې پېرونی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وجه تسمية القيامة بالساعة اما وقوعها بغتة او سرعة حسابها، او يا نظر وعلم ته د خدای ﷻ د قیامت سره د ډېر اوږد والي لکه يو ساعت دی.

فائده: مرسی" مصدر ميمي دی په معنی د ارسا چې معنی يې ثابت او استقرار ده. او ابن عباس ﷺ يې په منتهی سره تفسير کړی دی. او قتاده ﷺ يې په قيام سره والکل صحيح.

قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّي

ته ورته ووايه چې د قيامت د قيام علم فقط د خدای ﷻ سره دی چې نه خدای ملکه مقربه په خبره کړې ده او نه يې نبي مرسل په خبر کړی دی. البته علامات د قرب يې و عليه الصلوة والسلام ته خدای ﷻ نبوولی دی چې په احاديث مبارکه وو کې راغلی دی.

لَا يُجَلِّيهَا لِوَقْتِهَا إِلَّا هُوَ ثَقُلَتْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ

چې نه بنکاره کوي قيامت په خپل وخت مگر خدای ﷻ فاللام بمعنی في. په روح المعاني کې وايي کبرت وعظمت على اهلها حيث لم يعلموا وقوعها يعني درنه ده پر اهل سموات والارض دا چې دوی يې په وقوع د قيامت نه دي خبر، ويؤيد ما روى عن السدي رحمه الله چې پر يوڅا د يو شي علم پوشيده وي پر هغه ډېر درونه وي دا جهل. او قتاده رحمه الله ددې آيت په تفسير کې وايي چې د قيامت ورځ پر اهل سموات والارض درنه ده په دې معنا چې دوی د دغې ورځې له سختيو څخه بهر ږدي.

دروښ وايي: چې د روح المعاني و تفسير ته ورته تفسير په روح البيان او تفسير مظهري کې هم راغلی دی.

لَا تَأْتِيكُمْ إِلَّا بَغْتَةً

نه راتلې وتاسي ته ورځ د قيامت مگر ته نابيره. په مختلفو رواياتو کې د احاديث صحيحه وو ددې نابيره راتلو په بيان کې داسي راغلي دي، بخاري او مسلم له ابو هريره ﷺ څخه داسي روايت کړی دی چې رسول الله ﷺ وويل "لتقو من الساعة. ولقد نشر الرجلان الثوب بينهما ولتقو من الساعة وهو ينيط

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حوضه فلا يسقى فيه، ولتقو من الساعة وقد انصرف رجل بلبن لقحته فلا يطعمها، ولتقو من الساعة.

ژباړه: قیامت به قائم سي يعني په نفخ د اسرافیل په اوله نفخه، نو يوه جامه يا كمبله به په منځ كي دوو كسانو سره نيولې وي يعني د خرڅلاو يا رانيولو د پاره نو به دوی نه خرڅلاو سره وكړي او نه به يې سره توله كړي يعني نفخ الصور به پر وكړل سي، او قيامت به قائم سي په داسي وخت كي چې يو سړی خپل حوض گلماله كوي، نو په هغه حوض كي به دی اوبه ونه څيښي، يعني نفخ الصور به پر وكړل سي، او قيام به قائم سي په داسي حال كي چې يو سړي به د غوا يا اوښي شيدې راخستي وي څكه به په ونه كړي، او قيامت به قائم سي په داسي حال كي چې يو سړي به د دوډی يا د بنورو اگوله د خولې وخواته پورته كړې وي او وه به يې نه خوري، او له ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی "لينفخن في الصور والناس في طرقهم واسواقهم ومجالسهم حتى ليكون بين الرجلين يعني ثوباً فيما ومان فما يرسله احدهما من يده حتى ينفخ في الصور فيصعق به وهي التي قال الله تعالى "ماينظرون الا صيحة واحدة.

دروښ وايي: چې نور ډېر ورته احاديث صحيحه سته وفي ذكرناه كفاية لمن له عقل سليم.

يَسْـَٔلُونَكَ كَأَنَّكَ حَفِيٌّ عَنْهَا ۖ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ اللَّهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٨٧﴾

دوی ستا څخه سوال د قيامت كوي لكه تاچې ډېر سوال كړی دی او مبالغه دي په سوال كي د ورځي د قيامت كړې ده او ځان دي په خبر كړی دی، ته ورته ووايه يعني سائلانو ته د ورځي د قيامت چې علم د ورځي د قيامت په نېز د خداى ﷻ دی، لكن ډېر كسان نه پوهېږي چې علم د قيامت خداى ﷻ د ځان سره ساتلی دی نه يې ملكي مقربي ته بنوولی دی او نه يې نبي مرسل ته.

قُل لَّا أَمْلِكُ لِنَفْسِي نَفْعًا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ ۚ

ته ورته ووايه اې محمد ﷺ چې زما په ملك او طاقت كي نسته د ځان د پاره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جلب د نفع او نه دفع د ضرر له ځان څخه مګر هغه چې د خدای ﷻ مشیت او اراده وي من جلب النفع ودفع الضرر چې یا نفعه ماته ورسوي او یا دفع له ضرر څخه وکړي یو شاعر وایي

تولہ اندازہ د خیر او شر بولہ لہ خدایہ څخہ
کلہ پیښېږي نېک وبد لہ خپلي رایي څخہ

وَلَوْ كُنْتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ ۖ وَمَا مَسَّنِيَ السُّوءُ ۚ

کہ چېرې زہ وایي په غیب سره خبر ما به ډېره منافع وځان ته راجلب کړي وای او دفع د ضرر به مي له ځان څخه کړې وای حتی یو وخت به هم ماته سوء نه وای رسېدلی، او نه به زه مغلوب وای په بعض جنګو کې لکه احد او غالب په بعض مغازیو کې لکه بدر، او بعض مفسرین رحمهم الله د توجیه له لارې داسې ترجمه کوي که زه په غیب خبر وای چې زه به کله مرمه مابه ډېر والی کړی وای په عمل صالح کې او ماته به نه وای رسېدلی سوء یعني اجتنب من الشر والفتنة. او بعض له رایي څخه دا ترجمه کوي که زه خبر وای په غیب سره یعني چې ورځ د قیامت کله ده مابه تاسي ته خبر درکړی وای، نو تاسي به ایمان راوړی وای او زه به نه وای مسه کړی سوء د تکذیب ستاسي.

دروېش وایي: چې پرته له اولي ترجمې څخه نوري ټولي ترجمې خود رایي دي اعتماد نسته وربانديي والله اعلم بما في كتابه من الصواب.

إِنْ أَنَا إِلَّا نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿١٨٨﴾

نه یم زه مګر ډېرونکی له عذاب څخه د خدای ﷻ کافرانو لره، او زېرې کونکی یعني په جنت سره و هغه قوم ته چې ایمان یې راوړی وي یعني زما پر رسالت او د قرآن پر حقیقت او پر ورځ د قیامت.

هُوَ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَجَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا لِيَسْكُنَ إِلَيْهَا

او خدای ﷻ هغه ذات قادر دی چې تاسي یې پیدا کړي یاست له یوه نفس څخه چې آدم علیه السلام دی، او پیدا کړی یې دی له هغه نفس څخه یعني جسده څخه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"ماچي ترجمه په نفس سره وکړه د پاره د مراعات د ضمیر مؤنث او بیا چي ترجمه په جسد سره وکړه ددې د پاره چي زوج د آدم علیه السلام چي حوا رضی الله عنها ده خدای پاک د آدم علیه السلام د جسد یعني یوې پوښتنې څخه پیدا کړه داسي چي پرده یې داسي خوب مسلط کړی لکه په ننني زمانه کي چي ډاکټر د یو چا اپریشن کوي یعني د نشې ستن ورولګوي. وروسته یې د آدم علیه السلام چپه پوښتنې څندي اپریشن کړه او د حوا رضی الله عنها ماده یې وګرځول بقدرته تعالی او د زوجې د پیدا کېدلو یو سبب دا وُ چي دی الفت ورسره وکړي او له یوازي والي د ډېغت له دریابه ووځي. لکه په اوسنۍ زمانه کي چي یو سړی مایئنه نه لري نا آرامه او ډېغ وي قرار نه لري او چي مایئنه پیدا کړي آرام سي او له دربدری څخه خلاص سي.

فَلَمَّا تَغَشّٰىهَا حَمَلَتْ حَمْلًا خَفِيْفًا

چي دا یې پټه کړه، دا لفظ کنایه ده له جماع څخه، حوا رضی الله عنها حمل واخستی یعني امیدواره سوه په سپک حمل سره یعني دومره تکلیف نه وُ وربانديي لکه پر نورو حوامل ښځو چي تېر ېږي غالباً په وخت کي د حمل.

فَمَرَّتْ بِهٖ

نو دې همېشه توب وکړی پر حمل یعني ضائع او نقصان نه سو. او یا معنی داده چي حمل چي نطفه یا علقه او یا مضغه وي سپک وي پر تولو ښځو. او ولاړ او ناسته کولای سي، دا تر هغه وخت پوري چي عیال یې په نس کي نه و لوی سوی کما یدل علیه قوله تعالی.

فَلَمَّآ اَثْقَلَتْ

هغه وخت چي دا درنه سوه په حمل سره یعني ولد یې په بطن کي غټ سو چي ولاړه او ناسته پر تکلیف وه کما في اکثر النسآ وقت کبر الولد في رحمها.

دَّعَوَا اللّٰهَ رَبَّهُمَا لَئِنْ اٰتَيْتَنَا صَالِحًا لَّنَكُوْنَنَّ مِنَ الشّٰكِرِيْنَ ۝

نو آدم او حوا خدای جل جلاله ته چي رب د دواړو وُ دعا وکړه که چېرې تا موږ ته راکړی له دې حمل څخه صالح اولاد یعني په بدن سره برابر لکه موږ غوندي هر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ائینه به موږ ستا شکر وایو. دا سوال له دې سببه دوی کاوه چې چونکه د حوا ﷺ دا اول حمل ؤ، نو آدم او حوا په دې نه پوهېدل چې څه شی به په نس کې وي د نوع د انسان او که بل شی به وي. لکن وروسته چې آدم او حوا له حمل سره آموخته سوه اضطراب يې دفع سو نو په هر حمل کې به يې دعا نه کول. په بعض رواياتو کې راغلي دي چې حوا ﷺ غبرګه لنګېدله يو نر او يوه ښځه په يې راوزل، او حوا پينځه سوه بطنه له آدم ﷺ څخه لنګه سوه چې نر عياله يې پورهٔ کړه.

پوه سه: چې بغوي رحمه الله وايي چې مفسرين يعني بعضهم وايي چې حوا چې اميدواره سوه، نو ابليس په صورت د يو سړي ورته راغلی او دې ته يې وويل چې ته خبره يې چې ستا په نس کې څه شی دی؟ حوا ﷺ ورته وويل يا نه يم خبره ابليس ورته وويل چې زه بېرېږم چې ستا په نس کې دي يو چارپای وي يا دي سپی وي يا دي سرکوزی وي. او ته په دې پوهېږې چې دا شی به ترکومه خوا راوځي، که تر دُبره راوځي خو تا وژني، او يا به دي تر خوله راوځي او يا به دي نس څيري، نو حوا وېرېدله او دا خبره يې آدم ﷺ ته وکړه، نو دوی دواړه په غم کې وه چې دا قصه به څرنګه سي، يو څو ورځې وروسته بيا شيطان ورته راغلی او ورته وه يې ويل چې د خدای ﷻ د قرب يو منزلت لرم فان دعوت ان يجعله خلفاً سويا مثلک چې دا ستا مافي البطن ستا غوندې انسان وي او له تا څخه يې وتل هم اسانه سي، آيا ته عبدالحارث نوم پرايږدې او د ابليس يو نوم قبل اللعنة حارث ؤ، نو دې آدم ﷺ ته دا خبره وکړه، نو آدم ﷺ ورته وويل چې شايد دا سړی به هغه څوک وي چې زه او ته يې له جنت څخه را ايستلي يو يعني ابليس، څو ورځې وروسته بيا ابليس ورته راغلی بيا يې هغه دمخه خبره ورته تکرار کړه، نو همېشه ابليس تلی او راتلی څو چې دوی يې خطا يستل چې هلک پيدا سو نوم يې عبدالحارث پر کښېښو.

پوه سه: چې احمد او ترمذي يو حديث راوړی دی چې حسن يې بللی دی او حاکم هم په مستدرک کې راوړی دی او هغه صحيح بللی دی چې په رتبه کې د ترحسن بالا دی کما تقرر في علم اصول الحديث "عن همزة بن جندب رضي الله عنه قال

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قال رسول الله ﷺ لما ولدت حواً طاف بها ابليس يعني في سورة الرجل وكان لايعيش لها ولد" يعني ددې عيال نه پائيدی، نو ابلس ورته وويل د عبدالحارث نوم پر کښېږده، نو دې چې دا نوم پر کښېښود نو هغه خدای ﷻ وپائيوی فکان ذالک من وحي الشيطان. بغوي رحمه الله چې ابليس آدم او حواً دواړه خطايستلي دي يو وار په جنت کي چې غنم يې په وخوړل چې خدای ﷻ ځندي منع کړي وه، نو له جنت څخه يې راوه ايستل والقصة مشهورة وفي هذا التفسير مذكورة، او يو وار يې په محکه کي خطايستل چې پر زوی يې د عبدالحارث نوم کښېښو.

فَلَمَّآ اٰتٰىهُمَا صَالِحًا جَعَلَا لَهٗ شُرَكَآءَ فِيْمَآ اٰتٰىهُمَا

چې خدای ﷻ ورکړی ودوی ته "صالحاً" زوی يعني "بشراً سوياً" دوی دوو گرځول خدای ﷻ لره شريکان په ورکړه کي د زوی.

پوه سه: چې صاحب د روح المعاني وايي چې دا آيت د آيتو مشکل ترين دی په قرآن مجيد کي، مظهري رحمه الله وايي چې ابوبکر رحمه الله دا لفظ د قرآن مبارک چې "شرکاً" دی مصدر بولي چې معنی يې شرک دی، او نور قاريان يې په صيغه د جمع وايي کما هو المشهور في المصاحف المطبوعة كلها، بغوي رحمه الله وايي چې عبدالواحد وايي چې د "شرکاً" په لفظ د جمع هم معنا شرک دی يعني جمع يې په معنا د مفرد ده، نو مظهري رحمه الله وايي چې د عبدالحارث تسميه اشراک په عبادت کي نه دی او نه ددوی يعني آدم او حواً عليهما السلام دا عقيده وه چې حارث رب ددوی دی فان آدم عليه السلام كان نبياً معصوماً عن الشرک.

دروبش وايي: چې آدم عليه السلام له تولو مغاصيو څخه لکه نور توله انبياً کرام معصوم دی كما اثبته في رسالتي كشف الغطاً عن عصمة الانبياً، بلکې ددوی قصد دا وُ چې د عبدالحارث په نوم اينبولو سره به سبب د نجات د ولد وگرځي او د سلامتيا د مور يې يعني حواً، مظهري رحمه الله زياته کړې ده چې له عبد څخه مربی نه دی مراد لکه رب چې اطلاق يې روا دی پر هغه چا چې د قائل معبود نه وي ځندي مراد لکه يو سړي ته چې مهلمه راسي دی ورته ووايي تواضعاً انا عبد الضيف، وليس مراده ان الضيف ربه، وقال يوسف عليه السلام لامرئة العزيز حين

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

طلبت منه الزنا "معاذ الله انه ربي احسن مثواى" ولم يرد يوسف انه اى عزيز معبود دده دى كما لايخفى.

دروېش وايي: چې تسميه په عبد الحارث سره يې ولي شرک وبلل تعظيماً بان الاولى لآدم و حواً عليهما السلام الاجتناب عن ذالک الاسم اى عبد الحارث.

فائده: حسن بصري او عكرمه رحمهما الله تعالى په نقل د مظهري رحمه الله وايي چې معنا د "جعلا له شركا" ان اولادهما ولو بالوسائط الكثيرة يعني كفار مكه وغيرهم له تعالى شركاً فيما آتى اولادهما على حذف المضاف في الموضعين واقامة المضاف اليه مقامه، والمراد "فلما آتاهما" اى اولادهما "جعلا" اى اولادهما، نو پر دې تقدير لفظ د شركاً پر ځپل جمعيت صحيح دى لان الاولاد لكه كفار د مكې وېر شريكان خداى عليه السلام ته ويل لكه عزى، لات، منات وغير ذالک وسموا اولادهم عبد العزى عبد المناف وغير ذالک، نو ددې مثال يعني حذف د مضاف او اقامت په ځاى كې د هغه دا قول د خداى عليه السلام دى "واذ قتلتم نفساً" يا "ثم اتخذتم العجل" ولي مخاطب په دې دوو آيتو كې خو يهودان د عصر نبوي دي، او سره ددې د عليه الصلوة والسلام د زمانې يهودانو نه قتل د نفس كړى ؤ او نه يې اتخاذ العجل كړى ؤ، فالتقدير بحذف المضاف اى قتل آبائكم نفساً او اتخذ آبائكم العجل الهاً.

دروېش وايي: چې صاحب د روح البيان هم دغه ترجمه مختاره كړې ده او صاحب د روح المعاني په دې طويل بحث سره دغه لار خپله كړې ده، او صاحب د روح المعاني په خپله توجيه يعني حذف المضافين دې پر په زړه پورې سوالونه راوړي دي او بيا يې جوابونه وركړي دي او په اخير كې يې داسې عبارت راوړى دى والانصاف ان الاسئلة قوية والآية على هذا الوجه من قبيل اللفظ انتهى.

دروېش وايي: چې حذف د مضاف په دوه ځايه كې او د سياق د كلام وتل ولې سوق د كلام خو د آدم او حواً عليهما السلام سره ؤ او كسب د فعل د اولاد ودوى ته كه څه هم ظاهراً وي كومه معمولي خبره نه ده، نو د دروېش په ناقص عقل سره د مظهري رحمه الله اول قول به دې زړه وي كه لفظ د شركاً په صيغه د جمع نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وای او یا په معنا د مفرد وای هذا بیان الآیة المذکورة علی وجه الاختصار والله اعلم بالصواب في کل باب.

دروښ وایي: چي هغه قرائت چي په هغه کي "شرکاً" په لفظ د مفرد راغلی دی زما حیرت نه ؤ مگر په لفظ کي د "شرکاً" په صیغه د جمع راغلی زه متفکر وم، او واحدي رحمه الله چي د "شرکاً" ترجمه کړې وه هم زه حیران وم، ولي د ترجمې په مفرد سره په قرار د ما تقرر في المعاني هلته صحیح ده چي جمع معرف باللام وي او لام یې د پاره د جنس وي، نو جمعیت یې لغوه کېږي او په معنا د مفرد گرځي دلته لفظ د شرکاً معرف باللام نه دی حتی چي تلاش ته یې ادامه ورکړه او په بعض تفاسیرو کي مي ولیدل چي په لفظ کي د جمع تنبیه پر دوی ده چي په شرک کي د یوه او جمع فرق نسته، یعني که څوک خدای پاک ته یو شریک ووایي لکه ثنویه او که ډېر شریکان ورته ووایي لکه وثنیه یعني مثل کفار مکة بلا فرقه، که دی في احکام الدنیا من الجهاد معهم و وجوب قتلهم او په احکامو کي د اخیرت من وجوب الخلود في النار فاطمئن قلبي وحمدت الله في دفع اضطراب قلبي في جمعیة الشرکاً مع ان الصادر من آدم وحواً علیهما السلام لفظ واحد وهو تسمیة ولدهما بعبد الحارث.

فَتَعٰلَى اللّٰهُ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۱۹۰﴾

نو ډېر لوړ دی خدای جل جلاله له هغه مرتبې څخه چي دوی شرک کوي، یعني الاصنام وکذا مابعدها من الآیات. بغوي رحمه الله وایي قیل هو ابتداً کلام یعني د آدم او حواً د قصې سره تعلق نه لري بل اراد به اشراک اهل مکة، او که چېرې تعلق د ماقبل قصې سره ولري، نو هم صحیح کېږي من ان الاولی بحال آدم وحواً علیهما السلام ان لا یفعلا ما فعلا من الاشتراک في التسمیة لابنهما بعبد الحارث که څه هم ددوی حقیقت اشراک نه ؤ مراد. یعني چي حارث معبود دی بلکې غرض ددوی حفاظت د ولد بهذا الاسم کمامر.

پوښتنه: ضمیر د تثنیې یې ولي نه راوړی؟

ځواب: اجلالاً لآدم و حواً علیهما السلام لعدم ارائتها الشرک حقیقة. جلال الدین

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

السیوطي رحمه الله وایي چي دا جمله معطوفه ده پر خلقکم وما بینهما جملي معترضه دي. فالتقدیر هو الذي خلقکم فتعالی عما یشرکون.

دروښ وایي: چي پر دې تقدیر هغه سوال او ځواب چي آنفاً تېر سو ضرورت نسته فافهم. ابن کیسان رحمه الله وایي چي مراد په دې آیت کي مشرکان دي چي پر خپلو اولادو به یې د عبدالعزی، عبداللات، عبدالمناف، عبدالشمس نومان اینبول انتهی.

دروښ وایي: چي د ابن کسان په نېز هم دا آیت ابتداً کلام ده. نو د جمع د ضمیر توجیه ته ضرورت نسته وکون هذه الآیة ابتداً کلام هو الاحوط عند الفقیر وان هذا یستغنی المتعلم عن المتکلفات.

اَیُشْرِکُوْنَ مَا لَا یَخْلُقُ شَیْئًا وَّهُمْ یُخْلَقُوْنَ ۝

استفهام انکاري دی ای لا ینبغي لهم ذالک. آیا دوی ای کفار مکه وغیرهم من المشرکین د خدای ﷻ سره شریکان بولي هغه شیان چي بتان دي او یا ملکي دي او یا لمر دی، هغه کسان چي د بتانو، د ملکو یا د لمر عبادت کوي چي هغو شریکان نه دي پیدا کړی هیڅ شی او دغه ددوی معبودان په خپله مخلوق دي او لائق د عبادت نه دي. مګر هغه څوک چي خالق وي. دا کلام مبتدأ دی بالاتفاق.

وَلَا یَسْتَطِیْعُوْنَ لَهُمْ نَصْرًا وَّلَآ اَنْفُسَهُمْ یَنْصُرُوْنَ ۝

او قدرت نه لري دغه اصنام ودوی ته یعني عابدینو ته د کومک په یو مهم کي، او نه د خپلو ځانو مرسته کولای سي، یعني که څوک دغه بتان ماتوي دوی خپل ځانونه نه سي خلاصولای.

وَاِنْ تَدْعُوْهُمْ اِلَى الْهُدٰى لَا یَتَّبِعُوْكُمْ ؕ

او ته رابولي دغه شریکان وهدایت ته چي توحید او دین د اسلا دی، دوی ستا متابعت نه کوي یعني تقلیداً للآبا الضالون.

سَوَآءٌ عَلَیْكُمْ اَدَعَوْتُمُوْهُمْ اَمْ اَنْتُمْ صَامِتُوْنَ ۝

برابره ده وتاسي ته که تاسي دعوت ودوی ته ورکړی او که ساکت اوپټه خوله ناست یاست چي تبلیغ او موعظت نه ورته کوئ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې مراد له تسویه څخه پر مسلمانانو دعوت او صمت په دې معنی دی چې ستاسي مقصود چې د دوی هدایت دی نه حاصلیږي، که څه هم په تبلیغ سره خدای ﷻ ومسلمانانو ته ثواب ورکوي، ولهذا جاء في سورة البقرة "إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ءَأَنذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ۝"

إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ عِبَادٌ أَمْثَالُكُمْ فَادْعُوهُمْ فَلْيَسْتَجِيبُوا لَكُمْ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ۝

په تحقیق هغه شیان چې تاسي یې عبادت کوئ اې مشرکانو پر ته له خدایه، او تاسي عبادت کوئ او آلهه یې بولئ هغه شیان بندګان او مخلوق د خدای ﷻ لکه تاسي او د خدای ﷻ تر حکم لاندې دي یعني اصنام، نو تاسي دوی ته خواست وکړئ یعني یو شی ځندي وغواړئ دوی دي ستاسي قبلونه وکړي هغه مطلب چې تاسي ځندي غواړئ هغه دي تاسي ته درکړي که تاسي چېرې رښتیا وایاست چې دوی آلهه دي، ولي چې آلهه او معبود باید خپل د عابد مقصود ور ترسره کړي مع انهم لا یستطیعون ذالک فکیف یکونون آلهة.

پوښتنه: الذین آه" خو د ذوی العقول د پاره مستعملیږي ددوی آلهه څو جمادات وه؟

ځواب: دا لفظ ددوی پر زعم یا ګمان مستعمل سو.

سوال: عباد خو انسانانو ته وایي، نو بتانو ته څرنګه استعمال سو؟

ځواب: دوی دغه بتان پر صورت د انسانانو جوړ کړي وه.

أَلَهُمْ أَرْجُلٌ يَمْشُونَ بِهَآ أَمْ لَهُمْ أَيْدٍ يَبْطِشُونَ بِهَآ أَمْ لَهُمْ أَعْيُنٌ يُبْصِرُونَ بِهَآ أَمْ لَهُمْ أُذَانٌ يَسْمَعُونَ بِهَا

پوه سه: چې استفهام د پاره د انکار دی، او کلمه د "ام" د پاره د انتقال ده د یوه مطلب و بل ته، او په معنا د بل دی، همزه استفهامي یې د پاره د انکار دی ایضاً آیا دوی ستاسي خدایانو لره پښې سته چې تګ پر کولای سي، آیا دوی لره غوږونه سته چې شی په هغو اوري، یعني تاسي عابدین دغه مذکوره توله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اعضاً لري او له هغو اعضاوو څخه فوائد مذکوره اخلي او ستاسي خدایان یې نه لري، نو تاسي خو اعلی حالاً یاست تر دوی نو تاسي څرنګه دوی خدایان او معبودان ګرځوئ. او څرنګه معبود اسو حالاً وي تر عابد.

پوه سه: چې ددې آیت دا معنا نه ده چې په معبود کې دا اعضا او قوی ضروري دی حتی چې پوښتنه وکړي چې خدای پاک خو هم جسم نه لري، او نه هم دا اعضاً لرئ بلکې مقصود دادی چې معبود باید اعلی رتبةً وکمالاً وي تر عابد انو دده او خدای پاک خو خالق السموات والارض دی او علم تام لري حتی پر زراتو د عالم الی غیر ذالک من الصفات الجمالیة والجلالیة، چې نسبت د عابد انو و ده ته کالعدم دی فافهم.

قُلِ ادْعُوا شُرَكَاءَكُمْ ثُمَّ كِيدُونِ فَلَا تُنظِرُونِ ﴿١٩٥﴾

ووایه ته یا محمد ﷺ وکفارو ته د مکې چې راوبولئ هغه ستاسي شریکان چې تاسي یې د خدایه سره شریکان بولي په عبادت کي. بیا تاسي او ستاسي خدایان په اصابة المکروه کي د پره مبالغه وکړي زما په مرګ کي یا په اصابة المکروه کي وماته، چې تاسي او ستاسي خدایان به پر دې قدرت ولري؟ نو ماته مهلت مه راکوئ یعني زما باک نه کېږي، ولي چې زما اعتماد او ایمان دی چې خدای ﷻ ما ساتي.

إِنَّ وَلِيِّيَ اللَّهُ الَّذِي نَزَّلَ الْكِتَابَ ۖ وَهُوَ يَتَوَلَّى الصَّالِحِينَ ﴿١٩٦﴾

په تحقیق ساتونکی زما الله ﷻ دی، هغه الله ﷻ چې کتاب یعني القرآن یې نازل کړی دی او هغه خدای ﷻ تولی او حفاظت کوي د نفس د صالحینو بندګانو فضلاً عن الانبیا علیهم السلام ولا یضرهم عداوة والاعداً.

وَالَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِهِ لَا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَكُمْ وَلَا أَنفُسَهُمْ يَنصُرُونَ ﴿١٩٧﴾

او هغه بتان چې تاسي یې عبادت کوئ بېله خدایه هغه طاقت نه لري ستاسي د کومک او نه د خپل ځان کومک کولای سي، یعني که یې څوک په ډبره وولي او یا یې ماتوي دوی ځانونه نه سي ځندي خلاصولای لکونها جمادات لا یشعرون بشیئ ولا یقدرون علی شیئ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِنْ تَدْعُوهُمْ إِلَى الْهُدٰى لَا يَسْمَعُوْا ؕ

او تاسي يا كفار مكه دا خدايان ستاسي چي بتان دي ولار ښوونې ته، يعني ورته ووايست چي موږ ته د نجات لار راوښايست، له دنيوي عذاب څخه دا خواست ستاسي دوی يعني بتان يې نه اوري لكونها جمادات لاسمع لهم.

وَتَرٰىهُمْ يَنْظُرُوْنَ اِلَيْكَ وَهُمْ لَا يُبْصِرُوْنَ ۝

او ته وينې اې مخاطبه غير معينه دا بتان چي دوی گوري وتاته لكن حال دادی چي په ستر گو هيڅ شی نه وينې.

پوه سه: چي كفارو د مكې خپل بتان د انسانانو پر شكل جوړ كړي وه او ستر گي يې وركړي وې، د چا به دا خيال سو چي دا بت ماته گوري.

دروښ وايي: چي ددې آيت په تائيد كي يوه تاريخي واقعه واوري، راوي وايي چي سلطان محمود الغازي الغزنوي رحمه الله يوه ورځ شيخ رباني ابو الحسن الخرقاني قدس سره د ملاقات او زيارت د پاره ورغلی، وروسته تر يو څه گفت وشنيد محمود رحمه الله وده ته وويل چي ستا څه عقيده ده په باره كي د ابي يزيد بسطامي رحمه الله، نو ابو الحسن رحمه الله ورته وويل چي ابو يزيد رحمه الله داسي شخصيت وُ چي چا ليدلی واى خداى ﷻ هدايت كاوه وه هغه سړي ته، محمود رحمه الله ورته وويل وكيف ذالك او سره ددې چي ابو جهل خو رسول الله ﷺ ليدلی وُ او هدايت او سعادت يې نه سو په برخه، او له څاه څخه د شقاوت او شرک نه ووتی، ابو الحسن رحمه الله وويل چي ابو جهل رسول الله ﷺ نه دی ليدلی بلكې محمد بن عبد الله يتيم د ابو طالب يې ليدلی دی، ولو رئی رسول الله ﷺ يعني په عنوان د رسالت خرج من الشقاوة ودخل في السعادة، يعني د ستر گو ليدل په كار نه دی بلكې د زړه ليدل په كار دی، ثم قال الشيخ ومصداق ذالك قوله تعالى "وتراهم ينظرون اليك وهم لا يبصرون.

پوه سه: چي د زړه د ليدلو په باره كي يو شاعر ډير په زړه پوري بيت ويلی دی

برای دیدن روی تو چشم دیگرم باشد
که این چشم که من دارم جمالت رانمی شاید

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خُذِ الْعَفْوَ

ته واخله یا محمد ﷺ یعني خپل عادت وګرځوه عفو یعني درګذشت له اخلاق او له اعمالو څخه د خلګو او هغه عمل چي ودوی ته اساني پکښې وي، مثلاً که عذر درته وکړي عذر یې قبلوه او عفوه ورته کوه او تساهله او اساني ورسره کوه او ظاهر ته ګوره باطن یې پر خدای ﷻ سپاره او تجسس د احوالو د خلګو مه کوه او له خلګو څخه طلب د هغه شي مه کوه چي پر دوی سخت تمامیږي کذا قال عبد الله بن الزبیر ﷺ ومجاهد رحمه الله، بخاري له ابن عباس ﷺ څخه روایت کړی دی چي عیینة بن الحصن الفزاري رحمه الله مدیني منورې ته راغلی او دده د ورور زوی الحر بن قیس پر کور یې وارول یعني مهلمه سو، او الحر بن قیس له هغو نفرو څخه وو چي امیر المؤمنین عمر فاروق ﷺ په خپل مجلس کي د ځان سره کښیناوه، او د عمر ﷺ دا عادت وو چي دده د مجلس خلګ به قاریان وه که به ځوانان وه او که به ګډ وډ بښتي او ددوی سره به یې په هر کار کي مشوره کوله، نو عیینه مذکوره د خپل وراره ته وویل چي ته دومره اعتبار لرې پر عمر ﷺ باندې چي ماته اجازه راواخلې چي زه دده مجلس ته ورسم، وراره یې ورته وویل چي زه به اجازه ستا د ورتګ ځندي واخلم فاستأذن الحر لعیینة المذکور، نو عمر ﷺ هم اجازه ورکړه، نو عیینه چي د عمر ﷺ دربار ته ورغلی داسي یې ورته وویل یا ابن الخطاب والله لا تعطینا الجزل" موږ ته له بیت المال څخهډېري روپۍ نه راکوې ولا تحکم بیننا بالعدل، فضب عمر ﷺ، نو ده ته درد ورغلی حتی چي قصد یې وکړی ان یوقع به یعني چي یو عذاب ورکړي، فقال الحر یا امیر المؤمنین ان الله ﷻ قال لنبیه ﷺ خذ العفو وامر بالعرف واعرض عن الجاهلین وان هذا یعني عیینه من الجاهلین چي داسي سختي بېځایه خبرې تاته وکړي، راوي وایي "والله ماجاوزها عمر حین تلاها" قسم په خدای ﷻ دی چي عمر ﷺ تر دغو آیاتو چي حریه یې تلاوت وکړی نه سو تېر، یعني عیینه ته یې هیڅ نه وویل او یو ترخه خبره یا ضرب وغیره یې ورنه کړه، او د عمر ﷺ دا عادت وو چي ده به و کتاب الله ته غاړه ایښوول یعني تجاوز تر کتاب الله یې نه کاوه، او له انس بن مالک ﷺ څخه روایت دی چي د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قیامت په ورځ چې عباد ذ حساب د پاره حاضر کړل سي. نو حدیث بطوله ذکر کړي او په هغه حدیث کې یې دا خبره هم ذکر کړه "ثم نادی منادٍ لیقم من کان اجره علی الله فلیدخل الجنة" یو ناره کونکي به ناره وکړي چې ولاړ د سي هغه کسان چې اجر یې پر خدای پاک سته او جنت ته دي داخل سي، چا وویل "ومن ذا الذي اجره علی الله قال یعني المنادی العافون عن الناس" یعني په دنیا کې به یې و خلګو ته ددوی د بدچلن عفوه کول راوي وایي چې په زړو مسلمانان به ولاړ سي او جنت ته به یې حساب ولاړ سي رواه الطبراني.

روح البیان یو صحیح حدیث راوړی دی له جابر ﷺ څخه چې علیه الصلوة والسلام له جبرائیل ﷺ څخه پوښتنه وکړه "ما الاخذ بالعفو" له اخذ بالعفو څخه څه مراد دی؟ جبرائیل ﷺ ورته وویل "لاادري" زه به له خدایه پوښتنه دروکړم، جبرائیل ولاړی او بیرته راغلی "وقال ان ربک یأمرک ان تعطي من حرمک" چې ته هغه چاته شی ورکوه چې ته یې محروم کړې له ورکړي څخه د شي "وتصل من قطعک" او ته صله رحمي کوه د هغه چا سره چې ستا سره یې قطع د صلې کړې وي "وان تحسن الی من اسأ الیک" او ته احسان کوه د هغه چا سره چې ستا سره بد وکړي.

دروښ وایي: چې دا خصلتونه په انبیاؤ ﷺ کې او په صحابه کرامو ﷺ کې کمامر من قصة عمر ﷺ مع ابن عیینة او په نورو کامل اولیاؤ کې پیدا وه او په اوسني زمانه کې ددې خویو لکه د عنقا نوم سته مسمی یې نسته، ددې خویو کونکي نسته الا من شذ وندر.

وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ

او امر کوه خلګ په معروف سره یعني په ښو و افعالو سره شرعاً وعقلاً، له ابي سعید خدري ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وویل چې که چا ولیدی منکر یعني د شرع شریفې مخالف کار نو دي تغیر ورکړي په لاس سره یعني صاحب المنکر دي ووهي یا دې تر لاس تینګ کړي چې دا کار بله ورځ مه کوه یعني که یې په طاقت پوره وه که هغه سړي جنګ نه درسره کاوه "فان لم یستطع فبلسانه" یعني په خوله دي نصیحت ورته وکړي، او که یې د خولې د نصیحت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

طاقت هم نه درلودی یعني یو جابر ظالم حاکم یا رئیس جمهور ؤ فبقلبه نو په زړه دي نصیحت ورته وکړي، یعني بد ایسوي په سبب ددغه بد کار "وذالک اضعف الایمان" یعني تر دې کښته درجه د ایمان نسته.

دروښ وایي: چې په اوسنۍ زمانه کې ملایان د بیوه منکر نه بلکې د ډېرو منکراتو مرتکبان وي لکن دوی ورسره هم په خندا ژوند کوي او په زړو کې بد ځه چې د ډېر ښه ایسي په شرط ددې چې دراهم ورکوي، او د اوس وخت علماً علی الاکثر هغه منکرات چې په مقتدیانو کې یې وي په خپلو مواعظو کې یې پر خوله نه راوړي، نو په داسې ملایانو کې هغه ضعیف ایمان هم نسته والی المشتکی: چوکفر از کعبه بر خیزد کجا ماند مسلمانی.

وَأَعْرِضْ عَنِ الْجٰهِلِيْنَ ﴿۱۹۹﴾

یعني مخ واړوه له جاهلانو څخه، که یې یوه د بې عقلۍ خبره درته وکړه یا یې نېکنځل درته وکړه ته مکافات ودوی ته په مثل د افعالو ددوی مه ورکوه، وهذا مثل قوله تعالی "واذا خاطبهم الجاهلون قالوا سلاماً. جعفر صادق ﷺ وایي چې خدای ﷻ امر کړی علیه الصلوة والسلام په مکارم اخلاقو سره او دی وایي لیس في القرآن اجمع لمکارم الاخلاق من هذه الآیة یعني خذ العفو الی ههنا.

وَإِمَّا يَنْزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطٰنِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ إِنَّهٗ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۰۰﴾

پوه سه: چې اصل د "اما" ان ما دی. نو کلمه د ما زائده ده سره د ان شرطیه. په حدیث کې د عبدالرحمن بن زید ﷺ راغلي دي چې دا آیت چې نازل سو "خذ العفو" قال النبي ﷺ کیف یا رب الغضب؟ فانزل الله تعالی واما ینزغنک ﷺ. والنزغ، والنخس وهل دي د چا د ګوتو په سرو مراد څندي دلته تحریک ورکول دي وشر ته او باعثه کول دي پر شر بالوسوسة، نو معنا داده که تاته ورسېدی تحریک د شیطان له خوا څخه پر غضب و یو چاته نو پناه له خدای ﷻ څخه ددې تحریک.

پوه سه: چې جواب د امر محذوف دی ای یزیله عنک خدای ﷻ به یې درڅخه واخلي دغه نزع، په تحقیق خدای ﷻ سمیع دی ستا د استعاذه او علم لري ستا پر التجا وبما فیه صلاح امرک، ولنعم ماقیل:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چون فرود آید بلا بی دافعی　　جز تضرع نبود دیگر دافعی

فائده: په دې کې اختلاف دی چې له شیطان څخه مراد ابلیس دی او که د سړي ملګری له اولاد څخه د ابلیس مراد دی چې قرین یې بولي، نو ظاهره داده چې زموږ په حق کې څو قرین مراد دی کما یدل علیه قوله سبحانه وتعالی "ومن یعش عن ذکر الرحمن نقیض له شیطاناً فهو له قرین" او په حق د علیه الصلوة والسلام مراد ابلیس دی، ولې زموږ په باره کې څو موږ ته ضرر نه رسوي مګر قرین زموږ، نو سړی څو له هغه چا څخه پناه په خدای ﷻ غواړي چې د هغه ضرر وده ته متوجه وي وهو القرین، واما ابلیس فلا یضرنا بشیئ فلا معنی للاستعاذة منه. واما النبي ﷺ فان قرینة قد اسلم کما جاً في حدیث البخاري، نو استعاذه له هغه څخه څه فائده کوي او څه معنا یې ده، نو استعاذه د علیه الصلوة والسلام له بل موذي څخه ده ولیس هو الا ابلیس او اکابر جنوده فافهم واحفظ هذه الفائدة السنیة.

إِنَّ الَّذِينَ اتَّقَوْا إِذَا مَسَّهُمْ طَائِفٌ مِّنَ الشَّيْطَانِ تَذَكَّرُوا فَإِذَا هُم مُّبْصِرُونَ ۝

په تحقیق هغه کسان چې د خدای ﷻ او د خدای ﷻ له عذابه ویرېږي چې دوی مسه کړي یعني وسوسه ورواچوي یو طواف کونکی چې "لمة" یې بولي چې یو ضعیف خیال فاسد ته وایي، نو طائف اسم فاعل دی من طاف یطوف اذا دار حول الشیئ، نو گویا دا لمة پر سړي باندې شاوخوا راگرځي یعني گاهي د زنا وسوسه وي گاهي د شراب خوری خیال وي الی غیر ذالک.

فائده: مراد له شیطان څخه جنس دی، ولې چې "الذین اتقوا" خو د هر کسان دي نو شیطانان ددوی هم د هر دي په دې معنا چې د هر سړي یو شیطان سته وهو قرینة کمامر، نو له دې سببه یې وروسته د جمع ضمیر راجع کړی یعني في قوله تعالی "واخوانهم" نو ددوی ورپیاد سي امر او نهي د خدای ﷻ او ثواب پر مأموربه ورکول او عقاب پر فعل د منهي عنه نو دوی پوه سي، که یې په ترک د مأموربه وسوسه ور اچولې وي او که یې په اتیان د منهي عنه خیال فاسد ور اچوي چې دا لمة د شیطان ده، وهذا معنی قوله تعالی "فاذاهم مبصرون" یعني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دوی د لمة الشیطان په ضرر پوه سي، نو احتراز ځندي وکړي.

وَإِخْوَانُهُمْ يَمُدُّونَهُمْ فِي الْغَيِّ ثُمَّ لَا يُقْصِرُونَ ۝

یعني ورونه د شیطانانو چې مراد ځندي فساق او فجار او بدکاران د انسانانو دي، کومک کوي د شیطانانو په ګمراهي کي د نورو مسلمانانو، بیا دا اخوان الشیطین تقصیر نه کوي په ګمراه کولو کي د مسلمانانو، او دا اخوان الشیطان د خپل دغه کار په بدي نه پوهیږي چې توبه ځندي وکاږي فهم لایبصرون، بخلاف المؤمنین اذا طاف بهم طائف هغه پوه سي ولذا قال الله تعالی "فاذا هم مبصرون"

له یوه عالم ځخه نقل دی چې زه له شیطانانو ځخه دومره نه بېرېږم لکه د اخوان الشیطاین ځخه چې ببرېږم ولي د شیطانانو دفع خو په اعوذبالله من الشیطان الرجیم سره ده، او د اخوان الشیاطین دفع خو په اعوذ بالله سره هم نه کېږي.

دروښ وایي: چې والامر کذالک کما یدل علیه التجربة. اعاذنا الله من الشیاطین واخوانهم من الفساق والفجار من المسلمین.

وَإِذَا لَمْ تَأْتِهِم بِآيَةٍ

چې ته یا محمد ﷺ راتګ ونه کړې دوی ته په آیت، ځینې مفسرین وایي چې مراد آیت قرآني دی ولي چې قریشو به د علیه الصلوة والسلام ځخه دا مطالبه کوله چې ستا په قرآن کي داسي یو آیت نازل کړه چې زمونږ د خدایانو مدح پکښې وي، او بعض مفسران وایي چې مراد له آیت ځخه معجزه ده یعني هغه معجزه چې دوی به تعنتاً غوښته مثلاً د صفا غر دي سره زر وګرځي چې مونږ له فقر او لوږې په ووځو، یا به یې ویل چې مکه چې تولې غرونه دي غرونه یې ایسته کړه او جاري وباله پکښې روانه کړه چې مونږ زراعت پکښې کوو، نو نوري ورته معجزې چې د تعنت له لارې یې دوی غوښتنه کوله دوی به ویل.

قَالُوا لَوْ لَا اجْتَبَيْتَهَا

ولي ته اختراع او له ځانه جوړول نه کوې د دغه آیت، بعض علماً وایي چې ته له خدایه ولي طلب نه کوې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې د اجتبا اول معنی مراد وي یوازې پر معنی اول د آیت جوړېږي ولې چې ددوی خو دا عقیده وه چې محمد ﷺ دا قرآن جوړوي، نو داسې آیت دې هم جوړ کړي چې زمونږ د خدایانو مدح پکښې وي بخلاف المعنی الثاني من الآیة لانه لایمکن اتیان امثال الآیات الثانیة من عند نفسه ﷺ او که له اجتبا څخه معنی ثاني وي چې له خدای ﷻ څخه ولې طلب نه کوي، نو دوارې معناوي د آیت صحیح دي فتدبر.

قُلْ إِنَّمَا أَتَّبِعُ مَا يُوحَىٰ إِلَيَّ مِن رَّبِّي ۚ هَٰذَا بَصَائِرُ مِن رَّبِّكُمْ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٢٠٣﴾

ته ورته ووایه یا محمد ﷺ چې زه متابعت نه کوم مګر د هغه شي چې ماته یې وحي وکړل سي زما د خدای ﷻ له خوا څخه او دا قرآن سترګي د زړو دی چې حق او باطل په لیدل کېږي او صواب و خطأ په معلومېږي، او یا د بصائر معنی حجج او دلائل دي چې په هغو سره صدق د دعوی د نبوت زما معلومېږي، وحاصل الجواب د خدای ﷻ له خوا وقریشو ته دادی چې زه خو تابع د وحي یم زیادت او نقصان په کتاب الله کې نه سم کولای او نه مي اتیان د آیاتو تعنتیه وو په وسه دی او نه د داسې کارو چې تعنتاً وي له خدای ﷻ څخه کوم. البته ماته قرآن بصائر د رب ستاسي له خوا راغلی دی او هغه قرآن بصائر هدی او رحمة د هغه قوم د پاره چې ایمان یې راوړی وي.

وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿٢٠٤﴾

او چې ویل کړه کېږي قرآن نو تاسي غوږ ورته ونسي او پته خوله اوسئ یعني په وخت کې د تلاوت القرآن خبرې مه کوئ ددې د پاره چې پر تاسي به رحم وکړل سي، یعني د خدای ﷻ له خوا څخه.

دروښ وایي: چې مظهري رحمه الله په روایت د ابن ابي حاتم له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې علیه الصلوة والسلام پر لمانځه ولاړ وُ ما سلام ورواچاوه ده جواب رانه کړی او دمخه به لمونځ کونکي په لمانځه کې خبرې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کولې او وېل چاته به يې خپل حاجت امر کاوه، نو علیه الصلوة والسلام چې له لمانځه څخه فارغه سو ماته يې د سلام ځواب راکړی او علیه الصلوة والسلام وویل چې "ان الله یفعل ما یشآ وانها نزلت اذا قرئ القرآن فاستمعوله وانصتوا لعلکم ترحمون" او بل مظهري د عبدالله بن مغفل ﷺ څخه په روایت داسې حدیث هم نقل کړی دی لکه هغه دمخه حدیث، او له قتاده ﷺ څخه نقل دی چې مسلمانانو به یو د بل سره اول خبرې کولې ما امروا بها حتی چې یو سړی به راغلی خلګ به پر لمانځه ولاړ وه، نو هغه نږدې سړي ته به يې وویل کم صلیتم څو رکعته لمونځ مو کړی دی هغه به ورته ویل دومره رکعته فانزل الله تعالی هذه الآیة فامروا بالاستماع والانصات.

مسئله: امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله وایي چې په لمانځه کې خبرې کول که عامداً وي او که ناسیاً که کرار وي که په زوره یا یې بل سړی په وکړي او که عالم وي په تحریم د خبرو او که جاهل وي په تحریم د خبرو نه وي خبر، که لږ خبرې وي که ډېرې لمونځ فاسدوي، مګر سلام ګرځول په هېره سره لمونځ نه فاسدوي، او ائمه ثلاثه وایي که خبرې په لمانځه کې په هېره سره او یا جاهل بالتحریم وي او یا پر خوله ورغلې لمونځ نه باطلوي وان طال.

فائده: امام اعظم رحمه الله په دغه آیت سره دلیل وایي چې انصات پر مقتدي واجب دی وان قرائة الامام له قرائة، نو قرائت به مقتدي خلف الامام نه وایي که سري لمونځ وي او که جهري، ولي چې خدای ﷻ پر مصلي دوه شیان واجب کړي دي، یو استماع یعني قرآن ته غوږ نیول، او بل انصات پټه خوله والی، نو په سري لمانځه کې د امام که استماع نسته انصات خو پر واجب دی.

سوال: انصات مأموربه في الصلوة خو نهي له خبرو څخه دی لامن القرائة؟

ځواب: مفسرین رحمهم الله ټوله وایي چې اعتبار عموم لره د لفظ دی خصوص لره سبب نه دی، او لفظ د قرآن خو عام دی خبرو او قرآئت دواړو ته شامل دی، علاوه چې یوه ډله د مفسرینو وایي چې دا آیت په لمانځه پورې خاص دی حین کانوا ای الصحابة رضي الله عنهم یقرؤن القرآن خلفه ﷺ، په اشباه او نظائر کې وایي چې قرائت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خلف الامام مکروه دی په کراهة التحریم سره کما في شرح المجمع لابن ملک رحمه الله، له حضرت علي رضي الله عنه څخه روایت دی من قرأ خلف الامام فقد اخطأ الفطرة ای الطریقة المسنونة.

پوه سه: چې په تاریخ کې د امام اعظم رحمه الله راغلي دي چې یوه ډله له سني علماؤ څخه و امام اعظم رحمه الله ته راغله ددې د پاره چې امام اعظم رحمه الله قرائة خلف الامام ممنوع بولي، نو دده سره به مناظره وکړي او ملزم و ملامت یې کړي او له دغه حکم څخه یې الزاماً واړوي، نو امام اعظم رحمه الله ورته وویل چې زه خو د دومره کسانو سره مناظره نه سم کولای. نو تاسې خپل د مناظرې امر خپل یو عالم ته وسپارئ زه به د هغه سره مناظره وکړم نو هغو و یوه نفر ته اشاره وکړه، امام اعظم رحمه الله ورته وویل چې دغه ستاسې لوی عالم دی؟ هغو ورته وویل هو! امام علیه الرحمة ورته وویل که ما دی ملامت او مغلوب کړی تاسې ټوله ملامت او مغلوب یاست؟ دوی ورته وویل نعم؟ امام علیه الرحمة ورته وویل چې څرنګه تاسې وایاست چې مغلوبول دده زمونږ مغلوبول دي. دوی ورته وویل چې دی زمونږ امام دی نو دده خبره زمونږ خبره ده، نو امام علیه الرحمة ورته وویل چې مونږ چې په لمانځه کې یو سړی امام مقرر کړو فقرائته قرائة لنا، نو ټولو اقرار وکړی په الزام سره او د امام علیه الرحمة مذهب یې ومانه.

پوښتنه: استماع او انصات پر هغه چا چې خارج الصلوة وي او ده ته ورسېږي قرائت د هغه چا چې په لمانځه کې قرائت وایي او یا خارج الصلوة قرائت وایي لازم دی او که څرنګه؟

ځواب: قاضي بیضاوي رحمه الله وایي عامة العلماً پر دې دي چې خارج الصلوة ته استماع او انصات مستحب دی علامه ابن همام صاحب د فتح القدیر وایي وفي کلام اصحابنا مایدل علی الوجوب یعني په دوو صورتو کې استماع او انصات واجب دی بلکې په مطلق جهر په قرائت کې واجب دی، په خلاصه کې وایي که یو سړی ؤ د فقهي شریفي کتابت یې کاوه او وده ته نژدې یو سړی ؤ قرآن شریف یې په جهر وایه چې فقیه یې استماع نه سوای کولای، نو فقیه نه دی ګناه ګار

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پلکې قاري ګناه کار دی.

دروښ وايي: چې تخصيص د کتابة الفقه اتفاقي دی که يې تفسير ليکی يا يې حديث ليکل هم يې حکم داغه دی چې ګناه پر قاري ده، او که يو سړي په چهر سره قرآن وايه او خلګ بيده وه دا قاري ګناه کاره دی. وهذا کله يدل علی الوجوب انتهی قول ابن الهمام رحمه الله.

دروښ وايي: چې بعض امامان د روژې په مياشت کې چې خلګ وسحري يا پښلمی ته را ويښوي، نو په لاوډ سپيکر کې قرآن شريف وايي چې ټوله خلګ يې اوري په دې وخت کې بعض نر او ښځې پر اودس مات ناست وي او بعض خلګ د ماينې سره په جماع اخته وي، نو دا ټوله ګناه د قاري په غاړه ده.

پوه سه: چې مظهري رحمه الله چې خپل ځان لکه مجتهد چې ګڼي د بعض دلائلو د مذهب د ابو حنيفه رحمه الله جوابونه ورکړي دي حيث قال واجيب بان حديث معاوية حجة علی ابي حنيفة لاله آه، وهذا ديدنه في تفسيره عبدالله بن المبارک رحمه الله چې لوړ محدث بلا انکار دی وايي:

وحسبي من الخيرات كلها ..... دين الاسلام واعتقادي مذهب النعمان

فما بالمشرقين له نظر ..... ولا بالمغربين ولا بكوفة

الی اخير القصيدة او مظهري رحمه الله د بل په خوله خبري کوي يعني هر مذهب وال يا اصحاب ظواهر الحديث چې د امام اعظم رحمه الله د مذهب پر دلائلو سنوالونه کړي دي هغه رانقل کوي.

دروښ وايي: چې که چاته تقوی، فقاهت او محدثيت د امام ابو حنيفه رحمه الله نه وي ور معلوم، نو د درمختار يا د رد مختار مقدمه دي په غور سره مطالعه کړي او د دروښ يوه شرحه چې پر ابو المنتهی باندي ده په پښتو ژبه په هغه کې مناقب د امام الائمة ابو حنيفه رحمه الله حواله د تواريخو معتمده ؤمي پکښې بيان کړي دي هلته يې مطالعه کړئ.

وَاذْكُرْ رَّبَّكَ فِيْ نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَّخِيْفَةً

او ته ذکر کوه د خدای ﷻ يا محمد ﷺ او دا هم روا ده چې مخاطب دي ټوله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسلمانان وي فالمعنى اذكر يا ايها المخاطب "ربک" ستا رب په زړه کي.

پوه سه: چي تضرعاً او خيفةً دواړه مصدر دي او حال دي له ضمير څخه د "اذكر" نو په معنى د متضرعاً وخفياً دي يعنې ته له خداى ﷻ څخه ببر ببرې، ابن عباس رضي الله عنهما وايي چي مراد له ذكر څخه قرائت دى چي هغه به په سري لمانځه کي لکه ماپښين او مازديګر في نفسک وايي يعني دومره مقدار چي په خپله يې اوري.

وَدُونَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ

او کم تر دې جهر په جهري لمانځه کي يعني دې شديد جهر دي نه کوي بلکې جهر دي په خفض الصوت او ارام سره کوي چي من خلف سامعان يې اوري كذا قال ابن عباس رضي الله عنهما في تفسير الآية.

دروښ وايي: چي په بعضو ملايانو پسې پينځه کسه ولاړ وي مثلاً بيا هم دى قرائت په دومره لوړ اواز سره وايي چې خارج المسجد خلګ يې هم اوري او په اوسنۍ زمانه کي لمونځونه په لوډ سپيکر کي ورکوي او سره ددې چي دده اواز تولې مقتديان اوري تر دغه آيت لاندي ودون الجهر من القول ددغه آيت امتثال نه کوي حتى چي بعض ملايان چي قرائت په لوډ سپيکر کي وايي د بل مسجد خلګ يې هم اوري او دده د قرائت له سببه په لمانځه کي خطاوزي، وعندي هذا الفعل اشد كراهة، نو مفهوم د آيت دادى چي په صلوة جهريه کي دي جهر متوسط کوي كما في قوله تعالى "ولاتجهر بقولک ولاتخافت بها واتبع بين ذالک سبيلاً" په حديث کي د ابي هريره رضي الله عنه راغلي دي كانت قرائته النبي ﷺ بالليل يعني في التهجد يرفع ظوراً ويخفض طوراً او جمهور د علماؤ پر دې دي چي مصلي د تهجد بالخيار دى ان شاً جهر وان شاً خفية، وبهذا يقول ابو حنيفه وابو يوسف رحمهما الله تعالى ثم القائلون بالتخيير منهم من قال الا اخفاً افضل لكونه ابعد من الرياً وقال محمد رحمه الله الجهر افضل لما في الاحاديث من جهره ﷺ في صلوة التهجد على الاكثر امام همام ابو حامد محمد الغزالي رحمه الله په احياً العلوم کي وايي چي طريقه د جمع په منځ کي د احاديثو چي په جهر او اخفاً کي راغلي دي يعني په صلوة التهجد کي راغلي داده چي اسرار ابعد دى له رياً څخه نو څوک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي له ریا څخه پېرېږي د هغه د پاره اسراً افضل دی او که پر ریا نه پېرېدی جهر افضل دی لان العمل في الجهر اکثر وهو رفع الصوت او بل په جهر سره د قاري زړه بیداره کېږي او خوب ځندي دفع کېږي او نشاط او خوشالي په زړه کي پیدا کېږي او غوږونه په اورېدلو د قرآن مشرف کېږي فهما حضر الشیئ من النیات المذکورة فالجهر افضل وان اجتمعت النیات ثواب یې مضاعف کېږي، لکن پوه سه! چي په جهر بالقرآن في صلوة التهجد کثیرة والآثار المنقولة من الصحابة رضی الله عنهم والتابعین رحمهم الله اکثر من ان تحصی لکن دا په هغه چا کي چي خوف د ریا نه وي پکښې او که چېرې خوف د ریا وي او یا نور کسان ویده وي چي هغه د تهجد د لمانځه سره عادي نه وي په جهر سره د هغه وینښېدل او یا پر بل متهجد لمونځ ګډوډ کېدی، نو بیا متهجد ته جهر بالقرائة نه دی روا

پوه سه: چي اصل د "خیفة" خِوفة" و واو په سبب د سکون او انکسار د ماقبل په یا بدل سو، ابن الشیخ وایي چي دا خوف شامل دی خوف لره د تقصیر في العمل او خوف لره د خاتمي.

بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ وَلَا تَكُنْ مِّنَ الْغٰفِلِيْنَ ۝

پوه سه: چي حرف جر متعلق دی په "اذکر" پوري او "غدوة" جمع د غدوة ده، په قاموس کي وایي چي غدوة بالضم البکرة یعني اوله ورځ او مابین صلوة الفجر الی طلوع الشمس وهو المراد ههنا "والآصال" جمع د اصیل ده یعني اخیر النهار او مابین صلوة العصر والمغرب وهو المراد ههنا.

فائده: تخصیص د دې دوو وختو چي لانهما افضل اوقات الذکر، او مه ګرځه ته له غافلانو څخه یعني په هیڅ وخت کي د اوقاتو.

اِنَّ الَّذِيْنَ عِنْدَ رَبِّكَ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِهٖ وَيُسَبِّحُوْنَهٗ وَلَهٗ يَسْجُدُوْنَ ۝

په تحقیق هغه کسان چي په نېږ د خدای ﷻ دي عندیةً بالکرامة والفضل لا عندیةً جسمانیةً فانها ممتنع في حقه لاستحالة کونه جسماً هغه کسان تکبر نه کوي له عبادت څخه د خدای ﷻ او تسبیح د خدای ﷻ وایي یعني سبحانه یا سبحان ربي الاعلی کما هو تسبیح السجود وغیره من الالفاظ الدالة علی جلال

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذاته وكمال صفاته وخاص خداى ﷻ ته سجدې كوي والمراد بالموصول الانبيا والملائكة وصالحوا المؤمنين. له ثوبان ﷺ څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وويل چې ابن آدم چې آيت د سجدې ووايي شيطان گوښه سي او ژاړي او وايي يا ويلني اى هلاک او افسوس ما لره، ابن آدم امر سو په سجده سره او سجده يې وكړه فله الجنة، او زه امر سوم په سجده سره ما منع وكړه فلي النار رواه مسلم.

له معدان بن طلحة ﷺ څخه روايت دى چې زه ملاقي سوم د ثوبان ﷺ سره مولى رسول الله ﷺ ما ورته وويل ماته خبر راكړه په داسي يو عمل سره چې زه يې وكړم خداى ﷻ به ما داخل كړي وجنت ته؟ دى ساكت سو، بيا مې سوال څندي وكړى بيا سكت سو بيا مي دريم سوال څندي وكړى، نو ثوبان ﷺ وويل چې ما دغه سوال له عليه الصلوة والسلام څخه وكړى فقال عليك بكثرة السجود لله فانک لاتسجد لله سجدة الا رفعک الله بها درجة وحط عنک بها خطيئة. فقال معدان ﷺ ثم لقيت ابا الدرداء ﷺ فسألته يعني هغه مخكنى سوال مې څندي وپوښتى چې ما له ثوبان ﷺ څخه كړى وٌ فقال لي ماقال ثوبان ﷺ رواه مسلم.

دروښ وايي: چې دا آيت د سجدې دى او سجده تلاوت واجب دى پر تالي او پر اورېدونكو.

مسئله: په اجتماع كي يو قاري قرآن وايه، نو مستحب داده چې قاري د سجدې آيت كرار ووايي تاچې نور سامعان په ترک سره د سجده تلاوت په گناه كي واقع نه سي.

مسئله: يو سړي كه د قرآن مبارک تلاوت كاوه چې پر آيت د سجدې به راغلى هغه بې نه وايه دا فعل اشد كراهة دى، ولي چې د سجدې سره لعزه وله ده.

فائده: كه څوک څورلس آيته د سجدې ووايي په قرآن كي او د هر آيت د پاره سجده وكړي هر مهم چې لري وخداى ﷻ ته دې عرض كړي اميد قوي دى چې خداى ﷻ به يې هغه عرض قبول كړي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner




بسم الله الرحمن الرحيم

سورة الانفال مدنية، وقيل مكية، وقيل اكثرها مدنية وبعض مكية، ددې سورت آيات څنې وايي پينځه اوويا دي او څنې وايي شپږ اوويا آيته دي.

سُوْرَةُ الْاَنْفَالِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ خَمْسٌ وَّسَبْعُوْنَ اٰيَةً وَّعَشَرُ رُكُوْعَاتٍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْاَنْفَالِ ؕ

صحابه رضي الله عنهم له تا څخه پوښتنه کوي د غنائمو د حکم چې په جنګ کې له کفارو څخه تر لاسه سي، نو سوال د طلب د فتوى دى لا من قبيل قول القائل سألته درهماً لانه ح ء الى المفعول الثاني بنفسه لا بكلمة عن والسوال الاستفتائي يعدي الى المفعول الثاني بعن فافهم هذا الفرق.

فائده: نفل په لغت کې زيادت ته وايي، نو غنيمت ته له دې سببه نفل وايي چې غنيمت زائد عطاً الهي ده پر هغه شي چې خداى ﷻ يې وعده کړې ده د مجاهدينو في سبيل الله سره من الثواب في الآخرة او بل غنيمت زائد شى دى چې خداى ﷻ امت محمدي ته ورکړى دى، په نورو امتو کې به چې يو شى به يې تر لاسه کړى له کفارو څخه، نو له اسمانه به اور نازل سو هغه هر څه چې به وه هغه به يې وسوځل او هم ددې سببه صلوة نافله نفل بولي چې زائد دى تر فرضي لمانځه، او دغه رنګه لمسي يا کړوسي ته نافله وايي چې زائد دى تر اصلي ولد د سړي، او په اصطلاح کې د مغازي نافله هغه ته وايي چې امام المسلمين يې د بعض دلاوره مجاهدينو سره وعده وکړي زائد تر سهمه دده په غنيمت کې.

فائده: د مسلمانانو په منځ کې اختلاف په غنائمو کې د بدر په ورځ وشلو کې وځ، نو ځکه يې د عليه الصلوة والسلام څخه پوښتنه وکړه چې دا غنائم د بدر په مهاجرينو او پر انصارو رضي الله عنهم علي سوا وېشل کېږي او که څرنګه، او تولې د قسمت به يې د چا په لاس کې وي او دا غنيمتونه به په څه شي کې مصرف کېږي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یعني الات د جهاد به په رانیول کېږي او که بې مجاهدین پر خپلو عیالو مصرف کوي، نو دا آیت نازل سو "یسئلونک عن الانفال"

پوښتنه: د "یسئلونک" ضمیر خو و اصحاب بدر ته راجع دی، نو دا به انصار قبل ذکر المرجع نه وي؟

ځواب: یا! ولي چې اصحاب بدر خو متعین وه په غزا کې د بدر فلا حاجة الی ذکرهم.

پوه سه: چې ابو داؤد او نسائي او حاکم او ابن حبان او نورو ګڼ شمېر محدثینو رحمهم الله له ابن عباس رضي الله عنهما څخه داسې روایت کړی دی چې علیه الصلوة والسلام یوه ورځ داسې وویل "من قتل قتیلاً فله سلبه" سلب و هغه جنګي ته وایي چې په جنګ کې ورسره وي لکه توره زغره غشی وغیره، نو مطلب دادی چې دغه سلب په غنیمت کې نه دی داخل بلکې یوازې د قاتل دی، نو ځوانانو د غازیانو د بدر په وژلو د کفارو لاس پورې کړی، او سپین ږیرې کسان د اهل بدر تر بیرغو لاندې ولاړ وه. نو د ځوانانو چې جنګ سوړ سو او مشرکان اوویا کسان ووژل سوه او اوویا کسان اسیران سوه، دا غنیمت یې یوازې خپل حق باله ولي چې دوی جنګ وکړی او کفارو ته یې شکست ورکړی، نو سپین ږیرو ځوانانو ته داسې ویل چې موږ هم په دې غنیمت درسره شریکان یو، ولي چې موږ ستاسې شا خوندي کول چې په عربي یې ردوا بولي او که تاسې ته یو شکست درپه برخه سوی وای موږ ته راتلاست، نو دا موضوع و علیه الصلوة والسلام ته پېش سوه، نو د دفع د اختلاف د اصحاب کرامو رضي الله عنهم دا آیت نازل سو.

قُلِ الْاَنْفَالُ لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ ۚ

ته ورته ووایه دوی ته چې انفال د خدای جل جلاله دی یعني ملکاً او د رسول دی از روی تصرف دی به یې وېشي څرنګه چې خدای جل جلاله یې امر کوي. ابن عباس رضي الله عنهما وایي چې تصرف او وېش د غنائمو د بدر خلګو له لاسه خدای جل جلاله وکښی او د علیه الصلوة والسلام په لاس یې ورکړی، نو علیه الصلوة والسلام ټوله غنائم د بدر یعني ماسوی د سلبه په منځ کې د مسلمانانو یعني که ځوانان وه او که

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سپین ږیري او که مهاجرین وه او که انصار علی السواً یې ووښی، نو دغه وه تقوی او ښېره له خدای ﷻ څخه او دغه ؤ طاعت د خدای ﷻ او د رسول الله ﷺ او هم دغه وه اصلاح د ذات البین یعني د اختلافاتو ددوی کما بینا من قبل آنفاً لکه چې خدای پاک وایي.

فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَصْلِحُوا ذَاتَ بَيْنِكُمْ

نو له خدای ﷻ څخه وېرېږئ او مشاجره مه سره کوئ، او تاسي ښه وګرځوئ هغه صفت چې په تاسي کي ؤ له پخوا څخه، یعني یو له بل سره به مو کومک او مرسته کول چې په عربي یې مواسات بولي او الفت ته هم وایي یعني په هغه شي کي چې تاسي ته په بدر کي درنصیب سو من الغنائم په هغه تاسي خپل پخوانی عادت مه هېروئ او تسلیم سئ و امر ته د خدای ﷻ او د رسول ددې لکه پخوا چې واست.

وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١﴾

یعني فرمانبرداري د خدای ﷻ او د هغه د رسول ﷺ که تاسي یاست کامل الایمان، موږ کامل ووایه، ولي چې په ایمان کي د بدریانو شک نه ؤ.

دروښ وایي: چې په مناسبت د کمال الایمان دا ابیات د مثنوي معنوي ډېر موذون دي.

پوه سه: چې دا بیتونه په مانحن فیه سره مربوط نه کړئ بلکې دا ابیات صرف او صرف د کمال د ایمان بیان دی.

بود گبری در زمان بایزید ..... گفت اورا یک مسلمان سعید
که چه باشد گر تو ایمان آوری ..... تا بیابی صد نجات و سروری
گفت این ایمان اگر هست ای مرید ..... انکه دارد شیخ عالم بایزید
من ندارم طاقت آن تاب آن ..... که آن فزون آمدز کوششهای جان
گرچه ور ایمان ودین نامؤ قنم ..... لیک در ایمان او پس مؤمنم
مؤمن ایمان او یم در نهان ..... گرچه مهرم هست محکم بردهان
باز ایمان گرخود ایمان شما است ..... نی بدان میلستم ونی اشتهامست
آنکه صد میلش سوی ایمان بود ..... چون شمارا دید آن باطل شود

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

زانکه نامی بیند و معنیش نی.....چون بیابان را مفازه گفتی

اللهم ارزقنا حقیقة الایمان و اوصلنا الی درجة العمل بالاحسان.

پوه سه: چې قاضي بیضاوي رحمه الله هغه د وعدې د نافله مشروطي د علیه الصلوة والسلام په دې دول راوړی دی شرط رسول الله ﷺ لمن له غنا یعنې فائدة في القتال ان ینفله فتسارع شبانهم حتی قتلوا سبعین واسروا سبعین. ثم طلبوا نفلهم وکان المال قلیلاً فقال الشیوخ والوجوه الذین کانوا عند الرایات کنا ردءً لکم وفئتةً تتحازن الیها فنزلت الآیة المتلوة فقسمها رسول الله ﷺ بینهم علی سواء یعني لم یعط للشبان النفل الموعود وهذا ایضاً بالوحي.

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ

"المؤمنون" یعني الکاملین في الایمان لان الافعال والصفات الآیة انما هي للکاملین" په تحقیق سره مؤمنان یعني هغه کسان دي چې خدای رحمه الله ورپیاد کړل سي یعني تلاوت د قرآن ورته وسي یا کلمه طیبه "لا اله الا الله" ورته وویل سي او یا فقط الله الله واوري وبهر ېږي زړونه یې له استعفام یعنې د لوی والي او هیبته د جلال د خدای رحمه الله

پوه سه: چې کلمه د "انما" د حصر ده په معنی لا والا ده ای لیس الکاملون في الایمان الا هؤلاً چې دا هغه خلګ له مسلمانانو څخه دي چې قصد د معصیت د خدای رحمه الله وکړي او بل څوک ورته ووایي اتق الله او دوی هغه د معصیت قصد ترک کړي خوفاً من عقابه فالمعنی بحذف المضاف ای اذا ذکر وعید الله کذا قال المظهري رحمه الله.

دروښ وایي: چې په مجرد ذکر سره له خدای رحمه الله څخه بهر ېدل لازم دی د اهل کمال سره د ایمان سواً کان ملکاً مقرباً او نبیاً مرسلاً او مؤمناً تقیاً نقیاً بخلاف خوف العقاب فانه لا یحصل بمجرد ذکر الله بل بملاحظة المعصیة د ذکر عقاب الله انتقاماً من العصات فعلی هذا المعنی الذین ذکره المظهري رحمه الله بلفظ قیل ضعیف خصوصاً اذا اجتاح عبارة القرآن الی حذف المضاف ولعل المظهري اشار الی ضعفه بایراده بلفظ قیل فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا

او چې ولوستل سي پر دوی آیات د خدای ﷻ یعنې آیات د قرآن کریم ودوی ته زیات کړي دغه آیات ایماناً یعنې اطمنان قلوبهم ببرکة تلاوة القرآن لنزول البرکات عند تلاوة آیات القرآن.

پوه سه: چې مشهوره عقیده د اهل سنت داده چې ایمان زیادت او نقصان نه قبلوي لان زیادة الایمان ونقصانه بزیادة المؤمن به او نقصانه او مؤمن به د ټولو یو دی یعنې وروسته تر وفات د علیه الصلوة والسلام کما یدل علیه قوله تعالی "الیوم اکملت لکم دینکم واتممتم علیکم نعمتي ورضیت لکم الاسلام دیناً" البته په طاعاتو سره او په ډیر والي سره د دلائلو نور د ایمان په زړه کې پیدا کیږي او زړه ته اطمنان پیدا کیږي وهذا معنی قولهم الایمان یقبل القوة الضعف کایمان العالم بالبراهین علی صحة عقائد الاسلام والعامي الجاهل بالبراهین.

تفریع: مراد په آیت کې زیادت حقیقي دی في وقت حیاة النبي ﷺ لزیادة المؤمن به یوماً فیوماً، ولي چې دین د اسلام کامل سو په دیارلس کاله کې د حیات نبوي ﷺ او که د وروسته زمانو خلګو ته وایي نو مراد ځندي اطمنان القلب ببرکة القرآن العظیم وزیادة نوره في القلب وهذا هو المعنی من القوة والضعف، ویدل علیه قوله تعالی في شان ابراهیم ﷺ "وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ أَرِنِي كَيْفَ تُحْيِ الْمَوْتَىٰ ۖ قَالَ أَوَلَمْ تُؤْمِن ۖ قَالَ بَلَىٰ وَلَٰكِن لِّيَطْمَئِنَّ قَلْبِي" نو ابراهیم ﷺ لره ایمان وۍ چې موتی خدای ﷻ ژوندي کوي په قیامت کې لکن د هغه ایمان بالغیب سره چې مشاهده ضم سي اطمنان د زړه پیدا کیږي او قوت د ایمان رونما کیږي، ولذا قال ابراهیم ﷺ "لیطمئن قلبي" او علامه تفتازاني رحمه الله وایي وتبعه المولی ابو السعود في تفسیره ان نفس التصدیق الذي هو الایمان علی التحقیق یقبل الزیادة والنقصان للفرق الظاهر بین ایمان النبي ﷺ وارباب المکاشفات وبین یقین الامة، او دغه فرق سته چې یو چا ته یو دلیل حاصل وي او بل ته لس دلائله حاصل وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې دا ټوله چې دوی ذکر کړه راجع دي و قوت او اطمنان القلب ته نه زیادت حقیقي ته لما قلنا ان المؤمن به للکل واحد فافهم.

وَّعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ۝

او خاص پر خدای ﷻ ددوی توکل وي، یعني تفویض د کارو خاص الخاص و خدای ﷻ ته کوي نه له چا څخه ببر ښوي او نه و چاته طمع کوي.

پوه سه: چې که خدای ﷻ تر دې اوسه پوري اولاً اعمال حسنه د زړو ذکر کړه من الخشیة والوجل عند ملاحظة عظمت جلاله تعالی والاخلاص والتوکل، تر هغو وروسته اوس بعض عبادات بدنیه او مالیه ذکر کوي او وایي.

اَلَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ

هغه کسان دي چې لمونځ کوي والمراد به الجنس وهو الفرائض برپایه کوي.

دروښ وایي: چې په اتفاق د مفسرینو او په اجماع د محدثینو رحمهم الله او په یوه خوله د فقهاؤ رحمهم الله اقامت د لمانځه عبارت دی له اداً څخه د لمانځه سره د کامل مراعات د شرائطو من الوضوء وطهارة الثوب والمکان او سره د مراعاتو د ارکانو او واجباتو او سنن او مستحباتو والخشوع والخضوع و تعدیل الارکان نه نفس لمونځ کول هر ډول چې وي لکه لمونځ بعض عوامو. نو ځکه علماً وایي چې لمونځ کونکی ډېر دي او مقیمي الصلوة ډېر لږ دي، نو له دې سببه په حدیث د بخاري وغیره کې راغلي دي چې هغه اعرابي چې په لمانځه کې یې تعدیل الارکان نه کاوه، رسول الله ﷺ دوه واړه لمونځ په راوګرځاوه او دریم وار چې هغه مصلي سوال د کیفیت د لمانځه وکړی. نو علیه الصلوة والسلام پوره لمونځ وروښود.

دروښ وایي: چې په ټوله قرآن کریم کې قیام الصلوة د منافقینو په باره کې آیت کریمه واذا قاموا الی الصلوة قاموا کسالی.

وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ۝

له هغه مال څخه چې ما ورکړی بعض نفقه کوي، نو کلمه د "من" په مما کې لپاره د تبعیض ده، نو که زکوٰة مفروضه وي هغه خو دی بعض مال کما تقرر في کتب الفقه، او که صدقه نفلیه وي. نو من تبعیضي تنبیه ده چې ټوله مال دي په نفلي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صدقه کي نه ورکوي، ولي چي سړی او عیال دده هم احتیاج ونفقې ته لري.

أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا

دغه کسان چي ددوی حالات دمخه تېر سوه وقد ذکرتها قریباً دوی مؤمنان دي په حق سره، نو حقاً صفت د مفعول مطلق دی ای ایماناً حقاً.

مسئله: استثناً یعني ان شاءالله ویل په سوال کي د سړي چي له تاسي څخه یې وکړي چي مؤمن یې صحیح ده او که نه، له حسن بصري رحمه‌الله څخه چا پوښتنه وکړه امؤمن انت؟ ده ورته وویل چي که د داسي ایمان پوښتنه راڅخه کوې امنت بالله وملائکته وکتبه ورسله والیوم الآخر والقدر خیره وشره من الله تعالی والبعث بعد الموت فانا مؤمن او که ته سوال ددې آیت را څخه کوې "انما المؤمنون الذین اذا ذکر الله وجلت قلوبهم واذا تلیت علیهم آیاته الی اخیر الآیة فلا ادري امنهم انا ام لا.

پوه سه: چي مراد د حسن رحمه‌الله دا وُ چي کمال د ایمان په اخلاص او په تفضیة الباطن او په تزکیه پوري د نفس له زائلولو څخه او تحلیه پوري د جوارحو په طاعاتو سره او په ترک پوري د ټولو معاصیو اړه لري او دا یو امر نادر دی ژه نه یم خبر چي په ما کي به وي او که نه واما نفس الایمان فموجود بفضله تعالی، نو دا قول د حسن رحمه‌الله استثناً في الایمان نه ده کما توهمه بعض الناس.

له علقمه رحمه‌الله څخه روایت دی چي موږ په یو سفر کي وُ او یو قوم په مخه راغلی موږ ورته وویل من انتم؟ تاسي څوک یاست یعني کافران یا مسلمانان، دوی راته وویل انا مؤمنون حقاً. نو موږ بالانه پوهېدلو چي موږ نو څه ورته ووایو حتی چي موږ د عبدالله بن مسعود رضي‌الله‌عنه سره ملاقي سو او دا قصه مو ورته وکړه. ده راته وویل چي تاسي نو څه ورته وویل؟ موږ ورته وویل چي موږ نه پوهېدلو چي نور نو څه ورته ووایو ده راته وویل چي ورته ویلي به مو وای چي ا من اهل الجنة انتم ان المؤمنون من اهل الجنة، سفیان ثوري رحمه‌الله وایي چي له دې خبري څخه د عبدالله بن مسعود رضي‌الله‌عنه غرض دادی چي که چا وویل چي زه مؤمن یم حقاً او دا شاهدي یې نه کړه اداً چي زه جنتي یم فقد آمن بنصف الآیة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې امام الائمة ابو حنيفه رحمه الله دا قول يعني انا مؤمن ان شاء الله تعالى مكروه باله، ولي چې له دې قول څخه توهم ددې كېږي چې دى په خپل اعتقاد في الحال كې شک دى، بل يقول انا مؤمن حقاً باعتبار حصول الاعتقاد الجازم في الحال لا بمعنى الجازم في الخاتمة لانها مستورة، فالاختلاف انما هو في اللفظ دون المعنى لكن مع هذا الاحوط قول ابي حنيفة رحمه الله، راوي وايي چې امام اعظم رحمه الله وقتاده رحمه الله ته وويل چې ته ولي ان شاء الله په ايمان كې روا بولئ، قتاده رحمه الله ورته وويل اتباعاً لابراهيم عليه السلام حيث قال والذي اطمع ان يغفرلي خطيئتي آه، نو ابراهيم عليه السلام لفظ د طمع ووايه او جرم يې ونه كړى، نو امام اعظم رحمه الله ورته وويل چې په هغه قول د ابراهيم عليه السلام به دې اقتداً پسې كوله حيث قال الله تعالى له اولم تؤمن قال بلى ولكن ليطمئن قلبي، ولي چې د ابراهيم عليه السلام ددې قول معنا خو دا وه چې مؤمن يم يعني الجزم بالايمان ولكن د سوال د كيف تحيي الموتى آه غرض مې دا وُ چې اطمنان قلبي راته حاصل سي بانضمام المشاهدة بالبصر مع الايمان بالقلب فافهم.

لَهُمْ دَرَجٰتٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ

دوى لره درجې د كرامت او فضل او احسان دي په نېز د خداى عزوجل يعنې په ورځ كې د قيامت في الجنة.

پوه سه: چې درجات يې په لفظ د جمع راوړى لما روى عن عبادة بن الصامت رضي الله عنه ده وويل چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل چې په جنت كې سل درجې دي، په منځ كې د هرو دوو درجو دومره مسافت دى لكه د اسمان او د مځكې او فردوس تر ټولو بالا درجه ده، له فردوس څخه څلور ولې راوځي اوبه. شيدې، عسل او شراب، او د فردوس تر درجې لوړ عرش الرحمن دى فاذا سألتم الله فاسلوا الفردوس، رواه الترمذي.

وَمَغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ۝

او دوى لره بخښنه سته د بعضې تقصيراتو كه له دوى څخه صادر سوي وي، او ښه رزق سته چې خداى عزوجل اراسته كړي دي، ومحمل بيانه مالا عين رأت ولا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اذن سمعت يعني بالتفصيل ولا يخطر ببال احد يعني هر څوچي سړی ووايي جنت به يې هکذا وهکذا وي جنت تر هغه بالا دی او لوی کرامت يې دادی لاينقطع ابداً رزقنا الله واياکم جنته الفردوس ومغفرة لذنوبنا بلا عقاب ولا عتاب ورزقنا الله بفضله الرزق الکريم انه على کل شيئ قدير وهو تعالى ارحم الراحمين

ندارم تو شه راه قيامت ..... بجز شرمندگی و آه آهی
ندارم طاقت مقبول درگاه ..... بجز اشک ندامت وروه سياهی

كَمَآ أَخۡرَجَكَ رَبُّكَ مِنۢ بَيۡتِكَ بِٱلۡحَقِّ وَإِنَّ فَرِيقٗا مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ لَكَٰرِهُونَ ۝

لکه چې ته اې محمد ﷺ وه ايستی رب ستا له بيت څخه ستا چې خونه د عائشې رضي الله عنها وه، او بعض مفسرين رحمهم الله وايي چې مراد خودي مدينه ده. ولي چې مدينه منوره ځای د هجرت دده وه. فختصه به کاختصاص البيت لصاحبه "بالحق" ای اخراجاً متلبساً بالحق والحكمة والصواب لقتال المشركين ببدر.

پوه سه: چې تشبيه چې په دې آيت کې ذکر ده معنی يې داده بتقدير المبتدأ چې دا حال يعني كون الانفال لله والرسول وتقسيم رسول الله ﷺ الانفال بين الناس على السوية مع كراهة بعض الناس وهم الشباب المقاتلون ثابت كحال اخراجک الله للحرب وكراهتهم له كما سيئاتي في الآيات الآتية تفسيره ان شاء الله تعالى.

پوه سه: چې واو په "وان من المؤمنين آه" کې د پاره د حال دی ای والحال دا چې يوه ډله ده له مؤمنانو څخه سته چې دا ستا خروج يې مکروه وباله.

سوال: څرنګه مؤمنانو فعل د عليه الصلوة والسلام مکروه وباله مع انه ورد في القرآن ما اٰتاكم الرسول مخذوه الآية؟

ځواب: دا کراهت اختياري نه دی بلکې طبع له جنګ څخه کراهت لري او يا له دې سببه چې مسلمانان خو ځانونه وجنګ ته نه وه اماده کړي بلکې لکه خالي السلاح وه كما سيئاتي، حاصل د قصې دادی چې يوه قافله وه د قريشو په مشری د ابو سفيان بن حرب له شام څخه راروان وه او په دې قافلې کې ډېر تجارتي اموال د قريشو وه او څلويښت سپاره ورسره وه منهم ابو سفيان رئيس القافلة وعمرو بن العاص ومخزمة بن نوفل وكان في السنة الثانية من الهجرة،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو جبرئیل ﷺ و علیه الصلوة والسلام ته ددې قافلې خبر ورکړی، نو علیه الصلوة والسلام مسلمانانو ته وویل چې ددې قافلې مخ ونسئ او تاراج یې کړئ او ورسره خلګ یې قتل کړئ په دې سبب چې په دې قافله کې مالونه ډېر دي او خلګ یې لږ دي، بعض منافقان یا یهودان چې په مدینه منوره کې وه ابو سفیان ته یې خبر ورکړی چې مسلمانان ستاسي د قافلې مخ نسي او تاسي وژنې او قافله په غنیمت وړي، نو ابو سفیان ضمضم بن عمرو الغفاري مزدور او مکې ته چټک واستاوه چې قریشو ته خبر ورکړي او ورته ووایي چې محمد ستاسي د قافلې مخ نیوی کوي، او راوه یې پاروه چې راووځي د قافلې د ساتنې د پاره او ابو سفیان سره د خبر استولو بېرېدی چې کومک د مکې والو به نه راورسېږي، مورِ به محمد مړه کړي او مالونه او اوښان به په غنیمت یوسي. نو د مدینې له لارې څخه یې مخ چپ کړی د دریاب پر غاړه په امن او امان تېر سوه، او سمدلاسه یې سړی واستاوه چې قریش خبر کړي چې مه رائځئ زه تېر سوم د مدینې تر حدودو په سلامتیا، خیر تر دې خبر دمخه ضمضم ور رسېدلی ؤ او قریش یې له ماجرې څخه خبر کړي وه، د ضمضم خبر چې مکې ته ورسېدی، ابو جهل د کعبې شریفې بام ته وختی او ناري یې کړې یا اهل مکة النجاء النجاء ځانونه خلاصوئ والمراد القافلة علی کل صعب وذلول پر هر اوښ که په سپرتیا اموخته وي او که نه وي عیرکم و اموالکم ای تدارکوها ان اصابها محمداً ﷺ لن تفلحوا بعدها ابداً که دا قافله محمد ﷺ ته په لاس ورغله بیا تاسي تر ابده پر محمد بری نه سئ پیدا کولای، راوي وایي چې دمخه تر رسېدلو د ضمضم عاتکه چې د عباس خور وه او عباس تر دې وخته پورې نه وه مسلمان سوی عاتکې خپل ورور ته وویل چې ما بېګاه عجیب خوب ولیدی چې یوه ملګه د اسمان له خوا راکښته سوه له یوه غره څخه یې غټه ډبره راواخسټله او پر مکې یې لوړه را وغورځول او د مکې یو کور پاتې نه سو چې ددې ډبرې ټوټې دې نه وي پکښې لوېدلی، نو عباس دا خوب دده یو اشنای عتبه بن ربیعه ته ذکر کړی عتبه دا خوب خپلې لور ته ووایه خیر د خوب قصه مشهوره سوه او تر ابو جهل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورسېدله، نو ابو جهل و عباس ته وویل یا ابا الفضل چې د عباس اسم کنیه وه چې ستاسي نر یعني محمد ﷺ چې عباس یې اکا وُ دده په نبوت مو قناعت ونه کړی چې ښځو مو هم د نبوت دعوه وکړه یعني عاتکې، خیر ځو ابو جهل د زړو کسو په شاوخوا کې لښکر جوړ کړی او لسو کسو په نوبت د ورځې لس اوښان ذبح کول د لښکر د خوراک د پاره. راوي وایي چې د قریشو لښکر په لار کې وُ چې د ابو سفیان د خوا خبر ورته راورسېدی چې موږ په امان تر مدینې راتېر سوو او د مسلمانانو له خطره خلاص سوو، دا خبر چې د ابو جهل لښکر ته راورسېدی نو د لښکر خلګو ده ته وویل چې نور نو موږ څه کوو چې روان یو قافله تېره سوه نو خلګو ته دعوت ورکړه چې بیرته مکې ته وګرځي ابو جهل ورته وویل یا مکې ته نه ځو بلکې بدر ته ورځو هلته به شپې او ورځې تېرې کړو او شرابونه به څیښو او ښځې به رقصونه راته کوي دول، سورنا او ربابونه به اورو، نو عرب به ټول زموږ په شجاعت خبر سي او محمد خو قافله نه کړه لوټ لکن موږ یې وځان ته وکارولو، خیر ابو جهل سره د لښکره بدر ته ورسېدی په بدر کې اوبه وې یا ځاهان یا کاږه چې عربو به په جاهلیت کې یوه ورځ مېله پکښې کوله او د تجارت مالونه به یې خرڅول او رانیول، وروسته علیه الصلوة والسلام د اصحابو کرامو ﷺ سره مشوره وکړه چې ابو جهل د دې پر درانه فوج سره له مکې څخه راوتلی دی علی کل صعب وذلول، نو ستاسي غیر خوښ دی یعني قافله او که نفیر یعني که د ابو جهل د لښکر سره جنګ کوئ خلګو ورته وویل بل العیر احب الینا من لقآ العدو فتغیر وجه رسول الله ﷺ وروسته یې دا خبره ورته وکړه چې عیر پر ساحل البحر تېر سو وهذا ابو جهل قد اقبل ابوجهل دادی راروان دی، د علیه الصلوة والسلام مراد دا وُ چې د دښمن سره چې مشرکان د مکې دي جهاد افضل دی تر عیر او فائده د مسلمانانو د پاره من الظفر علی العیر، ولي چې د نفیر په جنګ کې شوکت او دبدبه د کافرانو له منځه ځي او اظهار د دین حق د اسلام پر ټولو ادیانو تاثیر کوي یعني د قریشو شکست ګویا د ټولو کافرانو شکست دی، بیا خلګو ورته وویل یا رسول الله علیک بالعیر ودع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

العدو ای النفیر فغضب رسول الله اشد غضباً فقام ابوبکر وعمر رضی الله عنهما یعني بالتوبة یعني غضب د علیه الصلوة والسلام چې یې ولیدی نو ده ېرې په زړه پورې خبرې یې وکړې هر یوه په وار سره په اتباع د مراد د علیه الصلوة والسلام یعني الجهاد مع العدو وهو النفیر. ثم قام سید الخزرج یعني مشر د قبیلې د خزرج سعد بن عبادة رضی الله عنه علیه الصلوة والسلام ته یې وویل ته په خپل حال کې فکر ووه او هر امر چې ستا خوښ سو پر هغه رفتار ورکړه فوالله لو سرت الی عدن ابین ماتتخلف عنک رجل من الانصار. وروسته مقداد بن عمرو رضی الله عنه وویل چې رفتار وکړه پر هغه لار چې ته خدای جل جلاله په امر کړی یې موږ له تاسره ملګري یو تر هر ځایه چې ستا خوښه وي او موږ تاته نه وایو لکه بني اسرائیلو چې موسی علیه السلام ته وویل اذهب انت وربک فقاتلا انا ههنا قاعدون لکن موږ داسي درته وایو اذهب انت وربک فقاتلا انا معک مقاتلون ما دامت عین ناظرة. فتبسم رسو الله صلی الله علیه وسلم، وروسته علیه الصلوة والسلام وویل: ماته مشوره راکړئ اې خلګو او مراد د علیه الصلوة والسلام انصار وه وذالک لان الانصار کانوا عاهدوا رسول الله صلی الله علیه وسلم لیلة العقبة في مکة ان ینصر مادام في المدینة واذا خرج منها لایکون علیهم نصرته ومعاونته. نو د علیه الصلوة والسلام مراد دا وو چې تاسي انصار ماته د زړه خبره وکړئ چې تاسي پر هغه پخوانۍ قرارداد معاهده باندې یاست او که په دې جنګ کې چې زه یې خارج المدینة کوم شرکت او معاونت راسره کوئ. نو سعد بن معاذ رضی الله عنه ولاړ سو او وه یې ویل چې ستا موږ انصار مد نظر یو. قال علیه الصلوة والسلام اجل انو سعد بن معاذ رضی الله عنه وویل قد آمنا بک وصدقناک وشهدنا ان ماجئت به الحق واعطیناک علی ذالک عهودنا ومواثیقنا، نو درځه یا رسول الله صلی الله علیه وسلم لما ارت پر هره خوا چې ستا اراده وي نو په خدای جل جلاله دي زموږ قسم وي چې ته یې بعث کړی یې په حق سره یعني رسول یې را استولی یې په حق سره چې که ته موږ تاته ووایه چې په دغه لوی دریاب کې ولوېږئ چې غالباً د مرګ ځای دی موږ به خانونه ور اچوو. زموږ له انصارو څخه به یو فرد هم ستا تخلف ونه کړي او موږ مکروه نه بولو یعني په طبعیت کې چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ته مورِ د دین دښمن ته ورباسي مورِ صبر کوو په وخت کي د جنګ او شاید زمورِ له خوا به تاته ولیدل سي هغه شی چي تاته مسرت په حاصلېږي یعني ته په خوشاله کېږي. نو رسول الله ﷺ د سعد بن معاذ ﷺ په خبره خوشاله سو. نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل سیروا علی برکة الله فان الله وعدني احدی الطائفتین ای العیر والنفیر یعني عیر خو تېر سو پر ساحل البحر باندي نو مورِ ته اوس نفیر پاته دی او علیه الصلوة والسلام زیاته کړه چي قسم په خدای ﷻ دی چي زه اوس لکه چي وځایو ته د هلاک د قوم یعني ابو جهل ومن معه ګورم، نو حاصل د آیت دادی چي خدای ﷻ ته وه ایستي له خپل کوره څخه لان تترک التوجة الی العیر وتوثر علیه مقاتلة النفیر في حال کراهة فریق من اصحابک ما اثرته من محاربة النفیر وقد مر بیان تلک الکراهة.

يُجَادِلُونَكَ فِي الْحَقِّ بَعْدَ مَا تَبَيَّنَ

ستاسره ناحقه بحث کوي په حق کي جنګ د نفیر دی ولي چي ددوی تلقی د عیر خوښه وه، وروسته تر دې چي ښکاره سو ودوی ته.

پوه سه: چي "بعد" منصوب دی په "یجادلونک" سره یعني ظرف یې دی او کلمه د ما مصدریه ده والمعنی یخاصمونک په حق کي وروسته تر تبیین الحق یعني چي حق ودوی ته ښکاره سو یعني ستا په وینا سره چي خدای ﷻ زمورِ مرسته کوي هري خواته چي مو مخ سي یعني که عیر وي او که نفیر او دوی تاته ویل یعني دمخه تر اتفاق پر نفیر باندي ماکان خروجنا الا للعیر. او تا ولي نه راته ویل چي ان الخروج لمقاتلة النفیر چي مورِ خانونه ورته تیار کړي وای او مورِ به د جنګ تیاري نیولې وای.

كَأَنَّمَا يُسَاقُونَ إِلَى الْمَوْتِ وَهُمْ يَنظُرُونَ ۝

لکه دوی چي روان کړل کېږي ومرګ ته، او دوی ومرګ ته ګوري. په حدیث صحیح کي راغلي دي چي د علیه الصلوة والسلام ټوله مجاهدین دري سوه دیارلس کسه وه لکه وروسته چي په راسي. لکن تر دې عدد بعض راویان یو لږ بالا وایي لکن په بخاري کي راغلي دي چي د رسولانو عدد دري سوه دیارلس ؤ لکه عدد د اهل بدر. نو ددوی سره یوازي دري دانې اسان ورسره وه چي یو د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

زبیر ؓ بل د مقداد ؓ ؤ، اوویا دانې اوښان ورسره وه، شپږ زغرې او اته توري ورسره وې، او مشرکین په عدد او جنګي اسبابو کې د مسلمانانو مضاعف وه بلکې بالا تر مضاعف وه، مثنوي مېګوید.

شیر دنیا جوید اشکاری و برگ .....شیر مولی جوید آزادی ومرگ
چونکه اندرمرگ بیندصدوجود .....همچو فروانه بسوزاند وجود
کل شیئ هالک جزء وجه او .....چون نه ئی هستی مجو دروجه او
هرکه دروجه او باشد فنا.....کل شیئ هالک نبود جزاء

وَاِذْ يَعِدُكُمُ اللّٰهُ اِحْدَى الطَّآئِفَتَيْنِ اَنَّهَا لَكُمْ

په یاد کړئ اې مؤمنانو هغه وخت د وعدې د خدای ﷻ ستاسي سره، یوه د دوو ډلو، یعني ابو سفیان والعیر او ابو جهل والنفیر.

پوه سه: چې "واذ یعدکم آه" منصوب دی په اذکر مقدر سره او "انها لکم" بدل اشتمال دی د احدی الطائفتین، مبین لکیفیة الوعد ای یعدکم ان احدی الطائفتین کائنة لکم مسخرة لکم مخصوصة بکم یعني تاسي به پر مسلط سئ لکه مالکان پر خپلو اموالو.

وَتَوَدُّوْنَ اَنَّ غَيْرَ ذَاتِ الشَّوْكَةِ تَكُوْنُ لَكُمْ

او ستاسي خوښه ده چې هغه ډله دي شوکت او دبدبه نه لري یعني ابو سفیان او عیر لا ذات الشوکة چې د ابو جهل ډله ده چې زر کسه مقاتل ورسره دي او د ابو سفیان سره صرف څلوېښت کسه وه.

وَيُرِيْدُ اللّٰهُ اَنْ يُّحِقَّ الْحَقَّ بِكَلِمٰتِهٖ وَيَقْطَعَ دَابِرَ الْكٰفِرِيْنَ ۙ﴿۷﴾

او خدای پاک اراده لري چې حق ثابت او عالي وګرځوي په امر سره ستاسي په قتال سره، او بعض مفسرین رحمهم الله وایي چې په امر سره د ملکو ستاسي په امداد سره، او خدای ﷻ قطع کړی اخیر د کافرانو یعني استیصال یې وسي، والحاصل چې ستاسي رسیدل ومال ته خوښ دی بېله اصابته د مکروه لکه په عیر کې او د خدای پاک منظور اعلاء د دین اسلام او د کلمة الله ده او ستاسي د پاره یې فوز د دارینو خوښ دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لِيُحِقَّ الْحَقَّ وَيُبْطِلَ الْبَاطِلَ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُونَ ﴿٨﴾

چې خدای پاک ثابت او محکم وګرځوي حق چې دین د اسلام دی او محو او نابود کړي باطل چې کفر او شرک دی که څه هم د مجرمانو چې کفار د مکې دي دا غلبه د اسلام او شکست د کفر یې نه دی خوښ.

پوه سه: چې حرف جر متعلق دی په یقطع پورې، د بدر د قصې راویان وایي چې وروسته علیه الصلوة والسلام کوچ سو له اذقران څخه چې د یو ځای نوم دی او په هغو غرو کې تېر سو چې اصافر یې بولي اصافر جمع د اصفر ده هغه غرونه دي چې وحجفة ته نژدې دي، بیا ورشوه سو یوه بنارګوټي ته چې ریه یې بولي ثم نزل قریباً من بدر، وروسته علیه الصلوة والسلام او ابو بکر ﷺ پر اوښ باندې سپاره سوه حتی چې یو سپین ږیری د عربو یې ولیدی نو یې د قریشو او د محمد او د اصحابو پوښتنه ځنې وکړه، او شیخ ته یې وویل چې ته څه معلومات لرې ددوی په باره کې؟ نو شیخ ورته وویل چې ماته یو چا خبر راکړی دی چې محمد او دده اصحاب په فلاني ورځ راوتلي دي له مدینې څخه، نو که د هغه مخبر خبره رشتیا وي نو به دوی په فلاني ځای کې وي، هغه ځای یې ورپاد کړی چې علیه الصلوة والسلام او ابوبکر ﷺ په هغه ځای کې وه في الحال یعنې چې دوی د شیخ سره خبرې کولې، او شیخ ورته وویل چې ماته چا خبر راکړی دی چې قریش له مکې څخه په فلاني تاریخ او په فلاني ورځ راوتلي دي نو هغه د هغه خبره رشتیا وي، نو به قریش اوس په فلاني ځای کې وي هغه ځای یې یاد کړی چې قریش هم هلته وه.

پوښتنه: دا شیخ په غیبو څخه خبر و؟

ځواب: په غیبو خو نه ؤ خبر لکن د مسافت حساب یې ورته کاوه، نو شیخ ورته وویل چې تاسې ځوک یاست؟ علیه الصلوة والسلام تورية او کنایةً ورته وویل نحن من ماء ای من ماء دافق چې نطفه ده، د شیخ دا خیال سو چې یو ځای پر یوه چینه پراته دي، بیرته علیه الصلوة والسلام خپلو اصحابو ته سره د ابوبکر ﷺ راغلی، نو چې شپه سوه علي بن ابي طالب، زبیر بن عوام، سعد بن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ابي وقاص او يو څو نفره نور هم ورسره وه ﷺ و اوبو ته د بدر يې واستول چې د قريشو معلومات که مو راوړی، دوی په شپه کې دوه کسه يو اسلم د زامنو د حجاج مريی او بل ابو يسار چې د بني العاص غلام ؤ چې ژی يې ډک کړی ؤ او قريشو ته يې اوبه ورلې، نو د معلومات د پاره يې په زوره عليه الصلوة والسلام ته راوستل په دې وخت کې عليه الصلوة والسلام پر لمانځه ولاړ ؤ، اصحابو ﷺ پوښتنې ځندي شروع کړې چې مونږ د مسکينانو او بې کسه د قريشو يو او مونږ قريشو د اوبو راوړلو پر کار مجبوره کړي ؤ، نو د اصحابو په خيال دا ورغله چې درواغ يې وويل، نو اصحابو د هغو ضرب او کوب شروع کړی هغو دوو کسانو ورته وويل چې وهئ مو مه زه به رشتيا درته ووايم مونږ د ابو سفيان نفر يو، نو اصحابو هم دوی پرېښول عليه الصلوة والسلام له لمانځه څخه سلام وګرځاوه او اصحابو ته يې وويل چې دې دوو کسانو چې رشتيا درته وويل تاسي ضرب وکوب پر شروع کړی او چې درواغ يې درته وويل خوشي مو کړه والله انهما لقريش، باره عليه الصلوة والسلام ورته وويل چې د قريشو خبر راکړئ يعني چې اوس چېرې دي؟ هغو ورته وويل چې ددغه غره وشاته دي چې ددغي شېلې پر لوړه غاړه دي، نو عليه الصلوة والسلام پوښتنه ځندي وکړه چې قريش به څو نفره وه؟ هغو ورته وويل چې ډېر دي په صحيح شمېر يې مونږ نه يو خبر، نو عليه الصلوة والسلام ورته وويل چې څو اوښان يې د و رځي حلالول؟ هغو ورته وويل چې يوه ورځ يې نهه اوښان حلالول او بله ورځ يې لس اوښان حلالول، نو عليه الصلوة والسلام تخمين ولګاوه چې په منځ کې د نهه سوه او د زرو کسانو دي، بيا عليه الصلوة والسلام ورته وويل چې د اشرافو او رئيسانو څخه د قريشو څوک پکښې دي؟ هغو ورته وويل چې عتبه او شيبه چې زامن د ربيعه دي او ابو البخری بن هشام، حکيم بن حزام، نوفل بن خويلد، حارث بن عامر، طميمه بن عدي، نضر بن الحارث، ربيعه اسود، ابو جهل بن هشام، اميه بن خلف، نبيه و منبه د حجاج زامن، سهل بن عمر او عمر بن عبدود، نو عليه الصلوة والسلام داسي ارشاد وفرمايه چې دا مکه ده چې مونږ ته يې خپل د هيني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

توتې راواستولې يعني خپل مشران ، له دې خبرې څخه د عليه الصلوة والسلام مطلب دا وُ چې دغه کسان تولـه په بدر کې وژل کېږي لکه يو څوک چې د هيني توتې د کباب د پاره ور واستوي، د قصې راوي وايي چې قريش دمخه تر عليه الصلوة والسلام او اصحابو ﷺ د بدر پر اوبو اړولي وه او غلبه يې پر کړې وه، او عليه الصلوة والسلام پر ريګو چې د بدر په لوړه حصه کې وه خپمې ودرولې، نو مسلمانان دېر تږي سوه نه يې د څښلو لو اوبه درلودې او نه يې د اوداسه او غسل اوبه درلودې، نو شيطان ددوی په زړو کې دا وسوسه ورواچول چې تاسي وايست چې په موږ کې د خداى ﷻ رسول موجود دی او مشرکانو پر اوبو غلبه درڅخه وکړه او داسې د لمانځه او اوداسه د پاره او د جنابت د غسل د پاره د ابو ضرورت لرئ، نو په هم دغه شپه خداى ﷻ باران وورواوه چې د مسلمانانو پر ريګو نرم باران کېدی چې دا قانون دی چې پر ريګو باران ووري ريګ تخته سي تر نورې محکې ښه تګ راتګ پر کېږي او د ريګو په مينځو کې ډب ځايونه وه هغه ټوله د اوبو حوضونه ځندي جوړ سوه او د مسلمانانو د څښاک اوبه د اوداسه اوبه او د غسل اوبه ډېرې سوې او د شيطان وسوسه هم له زړو څخه ووتل او زړونه و جنګ ته ډېر محکم سوه او دغه باران د قريشود لښکر پر حدود ډېر غټ څاڅکی باران چې په عربي يې وابل بولي شروع وه، په يوه روايت کې راغلي دي چې دمخه ورځ چې مسلمانانو اوبه نه درلودې عليه الصلوة والسلام و ابو جهل ته سړی ورواستاوه چې زموږ يو څو کسه به درځي ستاسي د څاهانو څخه به اوبه راوړي چې موږ تږي يو د جنګ خبرې به پر مخ گورو، ابو جهل ورته وويل چې موږ ستاسي په مرګ پسې راروان يو تاسي اوبه لاهم غواړئ، داشپه چې هغه څاڅکي باران پر دوی وورېدی او په څاهانو يې خړي اوبه ننو تلې چې د څښلو نه وې دا بله ورځ چې د مسلمانانو په مځکو صافي اوبه ولاړې وې. نو ابو جهل عليه الصلوة والسلام ته يو څوک ورواستاوه چې زموږ خلګ به درځي ستاسي له حوضو څخه به اوبه راوړي چې زموږ اوبه في الحاله د څښاک نه دي، ساقي د حوض کوثر ﷺ ودوی ته اجازه ورکړه او خپل کريمانه اخلاق يې په کار واچول او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ددوی د بد عمل مکافات یې ورنه کړی، وروی ابن ابي شيبة واحمد ومسلم و ابو داؤد والترمذي عن عمر ابن الخطاب ﷺ ده وویل چې ورځ د بدر سوه او رسول الله ﷺ وکتل ومشرکینو ته چې هغه زر کسه وه او خپل و اصحابو ته یې وویل چې هغه درې سوه دیارلس کسه وه او یا درې سوه نولس کسه وه. نو علیه الصلوة والسلام مخامخ وقبله ته یعنې په خپله خیمه کې کښېنستی او دواړه لاسونه یې د پر پورته کړه، نو خدای ﷻ ته یې نارې کړې او وه یې ویل اللهم انجزلي ماوعدتني اللهم آتيني ماوعدتني، خدایه ته پوره کړې ماته هغه څه چې تا زما سره وعده کړې وه، او خدایه راکړې هغه څه چې تا زما سره وعده کړې وه اشاره دده و هغه ایت ته وه "ان احدى الطائفتين لكم" چې عیر ؤ یا نفیر اې خدایه که ته هلاکه کړې دغه ډله د علیه الصلوة والسلام مراد ځندي ځان او اصحاب وه لاتعبد في الارض ستا عبادت به بیا نه کېږي په مځکه کې، نو همېشه د علیه الصلوة والسلام داغه نارې وې پر خدای ﷻ باندې لاسونه یې د قبلې پر خوا پورته کړي وه حتی چې پتو یې له وږو څخه ولوېدی. نو ده ته ابوبکر ﷺ ورغلی پتو یې پر وږو بیرته وروواچاوه او بیا یې د شاله خوا په ځان پورې ټینګ کړی او ورته وه یې ویل کافي دی زاری او عجز ستا و خدای ﷻ ته. ولې چې خدای ﷻ به ژر پوره کړي هغه شی چې د تاسره یې وعده کړې وه چې عبارت د نصرت دی پر مشرکانو، په یوه روایت کې داسې هم راغلي دي چې حضور اکرم ﷺ چې زغره یې هم اغوستې وه چتک ولاړ سو او داسې یې وویل.

اِذْ تَسْتَغِيْثُوْنَ رَبَّكُمْ

په یاد کړه هغه وخت چې تاسي طلب د غوث یعنې معونت او د فوز یعنې برې او د نصر کاوه له خدایه څخه ستاسي.

پوه سه: چې "اذ" منصوب دی په اذکر مقدر سره.

چون فرود آید بلا بی دافعی ..... جز تضرع نبود دیگر شافعی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَاسْتَجَابَ لَكُمْ أَنِّي مُمِدُّكُمْ بِأَلْفٍ مِّنَ الْمَلَائِكَةِ مُرْدِفِينَ ﴿٩﴾

نو قبلونه يې وکړه تاسي لره يعني ستاسي د مرستي غوښتني الې اى باني بحذف الجار چې زه مدد کونکى يم ستاسي په يو زر ملکو سره چې مردفين به وي يعني يو تر بل وروسته به نازلېږي، نو گويا هره وروسته ملکه ردیف ده د ملکي الى ان ينتهى الى الالف په صحيح حديث کې راغلي چې عليه الصلوة والسلام يو گړى بيده سو په کوډل کې يعني له لرگيو څخه جوړه سوې منا، يې رابيدار سو، نو ابو بکر ﷺ چې دلته ورته ناست ؤ وه يې ويل چې په هيئت د بشر جبرائيل ﷺ چې مول يې وهلى ؤ يه لنگوته سره چې رنگ يې ژړ ؤ آخذ بعنان فرسه الى اخير الحديث.

وَمَا جَعَلَهُ اللَّهُ إِلَّا بُشْرَىٰ وَلِتَطْمَئِنَّ بِهِ قُلُوبُكُمْ ۚ وَمَا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِندِ اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿١٠﴾

او نه دى دا امداد د ملکو مگر نه لپاره د خوشالي ستاسي او ددې لپاره چې ستاسي زړونه ارام سي چې زمونږ سره زر ملکي ملگري دي، نو مونږ حتماً پر کفارو غالبه کېږو، ولي چې عادت دى چې د هر خلگ پر لږ خلگو غالبه کېږي او نه دى کومک مگر د خداى ﷻ له جانبه څخه په تحقيق خداى ﷻ غالب دى او خاوند د حکمت دى هر کار چې کوي.

تشبيه: د نبي ﷺ د حال مثال په بدر کې چې مضطرب الحال ؤ او خداى ﷻ ته يې د هرې زارۍ کولې وروسته تر دې چې خداى ﷻ د نصرت وعده هم ورسره کړې هم وه داسي ؤ لکه حال د ابراهيم ﷺ حيث قال "وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ أَرِنِي كَيْفَ تُحْيِي الْمَوْتَىٰ ۖ قَالَ أَوَلَمْ تُؤْمِن ۖ قَالَ بَلَىٰ وَلَٰكِن لِّيَطْمَئِنَّ قَلْبِي"

شجاعت نبوي ﷺ: صحابه کرام ﷺ وايي چې د نبي ﷺ شجاعت دومره اندازه ؤ چې مونږ په جنگ کې د بدر نژدې ومشرکينو نه تر عليه الصلوة والسلام نه دى ليدلى او د هر سخت جنگ يې هم کاوه لوڅوقه بنصره تعالى.

دعايي ضعيفان اميدوار ..... زبازوى مردى به آيد بکار

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پر حدیث نبوي اعتماد: شیخ اکبر محي الدین ابن العربي په فتوحات مکیه کي وایي چي زمونږ په وخت کي یو سړی د جذام یعني آتشک په مرض مبتلا و اعاذنا الله منه، نو طبیبانو ټولو وده ته ویلي وه چي ستا د مرض هیڅ علاج نسته، نو یو محدث چي سعد سعود یې ورته ویل چي دی محدث ایمان کامل پر قول او پر حدیث د علیه الصلوة والسلام درلودی، جذام والا ته یې وویل چي ته ولي د خپل مرض علاج نه کوې، هغه ورته وویل چي طبیبانو په اتفاق ماته ویلي دي چي چونکه ستا جذام د پای درجې ته رسېدلی دی. نو علاج یې امکان نه لري سعد السعود رحمه الله ورته وویل طبیبان درواغ وایي والنبي ﷺ احذق او نبي علیه السلام ویلي دي چي حبة السوداء یعني په عربي یې شونیز هم بولي او په فارسي یې سیاه دانه بولي او په اردو یې کلونجي بولي او په پښتو یې تورواڼه بولي شفاء لکل داء د هر مرض شفاء ده ستا مرض جذام خو هم په کل داء کي داخل دی، جذامي ته یې وویل ورسه حبة السوداء او عسل راوړه هغه چي ورته راوړه جذامي یې سر تر نوکه پوري په ولاړه یعني مخ او سر تر پښو پوري او یو څه یې د خوراک لپاره ورکړه او یو ساعت قدر یې مریض پرېښو، بیا شیخ مذکور جذامي ته غسل ورکړی له مریض څخه پخوانی پوست ټوله وختي اوښوی پوست یې پر بدن پیدا سو او هغه وښان چي د مریض تنوی سوي وه نوي وښتان په قدرت د خدای ﷻ په ځای کي پیدا سوه وبرء وعاد الی ماکان علیه قبل المرض فتعجب الاطباء والناس قوة ایمانه بالحدیث النبوي ﷺ. تجربة العبد في الاعتقاد والتقین المحکم بالحدیث النبوي، زه تخمیناً څلویښت کاله دمخه مي په معده کي یوه لویه دانه پیدا سوې وه یو وار له کندهار څخه وکونې ته راغلم یوه میاشت مي په سیول هسپتان کي تېره کړه او ډېري روپۍ مي هم مصرف کړې لکن علاج ونه سو، کندهار ته چي ولاړم هغه زه هغه مي تکلیف. وروسته کابل او د ابن سینا هسپتال کي داخل سوم چي د جراحي لوی ډاکټر یې امریکایي وؤ، قصه به لنډه کړو، خو هغه وؤ چي ډېر لوی افرېشن یې راوکړی لکن کامیابه سو چونکه دوې میاشتي زه په هسپتال کي پاته وم، نو ځینې نرسانې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ښځي چې د مریضانو خدمت به یې کاوه چونکه ما لمونځ اودس کاوه او عائدین مې ډېر وه ددې نرسانو پر ما د ښه سړي ګمان ؤ یو وخت دوی راته وویل چې ماته د فلاني شي تعویذ راوکړه، خیر ما چې به ورکړی هغه به خدای ﷻ ښه ولګاوه ثم وثم حتی د وزیر اکبر خان د هسپتال ښځي او نر به تعویذو ته راتله، او اوازه سوه چې په ابن سینا کې یو بزرګ ملا سته چې تعویذ یې خطا نه لري، خیر خو یو نفر ؤ له هیرات څخه یې خپل پېغله لور د داخلي امراضو په داخلي شعبه کې د هسپتال داخله کړه، ناجوړې هر څه چې وه له هغې ناجوړۍ څخه خدای ﷻ جوړه کړه، لکن په دواړو سترګو ړنده سوه هرڅه چې ډاکټرانو یې علاج وکړی سترګې یې نه سوې بینا، یو چا ورته وویل چې په جراحي کې ملا سته یعنې دروېش ته یې اشاره وه، هغه ته یې راوله ګوندې هغه یې یو علاج وکړي خو پلار یې ماته راغلی، زه چې وروسته ورغلم د ښځي روغې سترګې دي لکن شی نه په وینې، نو زما د بخاري شریفي هغه حدیث را په یاد سو "الکمائة من المن ومائها شفاً للعین" پر دې قول مې تینګ یقین ؤ د نجلۍ پلار ته مې وویل چې بازار ته ولاړ سه یو څو داني پوڅکی ماته راوړه، خیر هغه بازار ته ولاړی لنډې پوڅکی خو نه وې وچې پوڅکی یې راوړې، نو ما د خاصې په ټوکر کې غوټه کړې او په اوبو کې مې کښېښولې، سهار مې هغه پوڅکی سره کښلې چې اوبه ځنډې راووتلې، نو ما خدای ﷻ ته دا خواست کاوه اشف عینې هذه المرئة وصدق رسولک فیما قال، نو ورغلم د نجلۍ په سترګو کې مې درې درې څڅکه وروا چول تقریباً تر یوې هفتې دا کار دوام درلودی او په فضل د ذوالجلال والاکرام د هغې نجلۍ دواړې سترګې بیرته بینا سوې د ټول هسپتال ډاکټران ورته حیران پاته سوه والله یفعل ما یشاً دا وه د دروېش شخصي تجربه.

إِذْ يُغَشِّيكُمُ النُّعَاسَ أَمَنَةً مِّنْهُ

پوه سه: چې "نعاس" نوم خفیف ته وایي چې په پښتو یې "نوږی" یا پینکی بولي والمعنی درپیاد کړئ دا نعمت چې تاسي به پټولاست نوم خفیف.

پوښتنه: دا نوم خفیف ئو ولي نعمت دی؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خواب: په داسي حال کي چي درې سوه دیارلس کسه په مقابل کي د زرو کسو قرار لري او هرګړی د شپې او د ورځي د قریشو د حملې احتمال موجود و نو نوم خفیف نعمت عظیم دی، نو ځکه خدای پاک وایي دا امن و ستاسي په زړو کي د خدای ﷻ له جانبه.

وَيُنَزِّلُ عَلَيْكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ مَآءً لِّيُطَهِّرَكُمْ بِهٖ وَيُذْهِبَ عَنْكُمْ رِجْزَ الشَّيْطٰنِ وَلِيَرْبِطَ عَلٰى قُلُوْبِكُمْ وَيُثَبِّتَ بِهِ الْاَقْدَامَ ۝

پوه سه: چي "وینزل" عطف دی پر "اذ یغشیکم الله" باندي، او دا بل نعمت د خدای ﷻ دی چي د بدر مسلمانانو ته خدای پاک ورکړی او نازل کړی خدای پاک پر تاسي باندي اوبه د اسمان له خوا څخه، ینزل چي باب د تفعیل دی اشاره ودې ته ده چي پر کرار کرار دول اوبه له اسمانه پر تاسي نازلي کړې بخلاف الکفار کمامر في القصة چي تاسي یې پاک کړلاست د اوداسه او غسل لپاره او ستاسي څخه لهرې کړي وسوسه دشیطان کمامر في بیان القصة نو زړونه به مو محکم سي و جنګ ته چي دا معجزه تاسي ولیدل او پښې به مو په ریګو کي تینګې سي کل ذالک قد مر في بیان القصة. بیت

دلا ور عاشقی ثابت قدم باش..... که درین ره نباشد کار بی اجر
علی المرء ان یسعی لتحسین حاله..... ولیس علیه ان یساعده الدهر
توانگرا دل درویش خوبدست آوره..... که مخزن زر و گنج درم خواهد ماند

اِذْ يُوْحِيْ رَبُّكَ اِلَى الْمَلٰٓئِكَةِ اَنِّيْ مَعَكُمْ

چي وحي وکړي هغو ملکو ته چي لپاره د امداد د مسلمانانو یې را استولي وې چي زه ستاسي ملګری یم په اعانت کي د مؤمنینو.

پوه سه: چي له "معکم" څخه دا مطلب نه دی چي د ملکو له زړه څخه بهر؛ ووځي له کافرانو څخه، ولي ملکي خو د کافرانو څخه نه بهر ږدي بلکي صرف تعظیم د امر د مسلمانانو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَثَبِّتُوا الَّذِينَ آمَنُوا

تاسي تينګ کړی جهاد الذين آمنوا بمحاربة اعدائهم وتكثير سوادهم او زهری د نصرت ورته وکړئ، مقاتل رحمه الله وايي ملکه په صورت د بشر ده د مسلمانانو د صف تر شا به روانه وه او دا به يې ويل ابشروا فان الله ناصركم.

سَأُلْقِي فِي قُلُوبِ الَّذِينَ كَفَرُوا الرُّعْبَ

ژر دی چې زه به واچوم په زړو کې د هغو کسانو چې د کفر په فعل اخته وي رعب.

پوه سه: چې رعب امتلاء القلب من الخوف يعني الخوف من المؤمنين، نو تاسي وهئ دوی تر غاړې سربېره يعني پر سر باندې او تاسي وهئ له دوی څخه پر بنډو د ګوتو کما قال الله تعالى.

فَاضْرِبُوا فَوْقَ الْأَعْنَاقِ وَاضْرِبُوا مِنْهُمْ كُلَّ بَنَانٍ

دروښ وايي: چې د فاضربوا مخاطب څوک دي، تفسير مظهري وايي چې مخاطب ملکي دي، او مظهري رحمه الله دې هر احاديث راوړي دي چې ملکو په بدر کې جنګ کاوه او بعض مشرکان د ملکو په لاس مړه او قتل سوي دي فارجع الى التفسير المظهري وطالع تلك الاحاديث فان في نقلها اطناب لايليق بموضوع هذا لتفسير يعني تفسير ايوبي، او د روح المعاني ميل هم ودغه ته دی چې مخاطبين ملکي دي او دوی قتل د کفارو کړی دی، وروسته روح المعاني په قيل سره دا قول راوړی دی چې مخاطب مؤمنان دي او په اخير کې يې ولي دي وهذا القول اضعف الاقوال آه، او روح البيان وايي "فاضربوا" سره مخاطب مؤمنان دي فلا دلالة فيها على قتال الملائكة انتهى.

پوښتنه: که ملکو جنګ کولای او دوی هم زر نفره وي کما نطق به القرآن، نو دا زر ملکي خو کافي وې د زرو کسو مشرکانو د وژلو لپاره، نو بدري مسلمانانو ته ولي لوړ مقام ورپه برخه سو، او بله پوښتنه داده چې په بدر کې ځورلس کسه مسلمانان شهيدان سوله نو ملکو دا کسان له مرګه نه سوه خلاصولای.

ځواب: والجواب الفيصل لحل هذا الاشكال چې يقيناً مخاطب په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فاصبروا آه کي ملکي دي او قول د روح البيان چي مخاطب د فاضربوا مؤمنان دي ضعيف دی کما صرح به صاحب روح المعاني. لکن دا خبره هم غلطه ده چي زرو ملکو په تمام قوت سره جنګ کاوه بلکي خدای ﷻ خو ملکو ته داسي وويل فثبتوا الذين آمنوا يا په تکثير د جماعت د مسلمانانو او يا د زهري د نصرت ناري پر وهي. او هغه احاديث چي مظهري راوړي دي هم پر دي دلالت نه کوي چي ملکو په استيعاب کلي جنګ کاوه بلکي په هغو احاديثو کي داسي راغلي دي چي يو صحابي وايي چي ما د يو مشرک د قتل اراده وکړه چي زه به نه وم ور رسېدلی د هغه سر به چا پرې کړی دغه د ملکو قتل وُ. حاصل دادی چي ملکو جزوي جنګ ددې لپاره کاوه چي د مؤمنان زړونه زياته شي چي زمونږ سره ملکي راسره دي نو شجاعت يې نور زياتېدی او په هغه احاديثو کي دا هم راغلي دي چي عليه الصلوة والسلام و جبرائيل ﷺ ته وويل چي دا کومه ملکه وه چي پر آس يې زغ اقدم يا حلزوم او د کافر سر قطعه سو؟ جبرائيل ورته وويل چي زه خو يې نه پېژنم، نو جنګ کلي د بدر غازيانو او دلاوره صحابه کرامو ﷺ وکړی ځکه يې ځورلس کسه شهيدان ورکړه لکن د مسلمانانو د زړونو قوت مزيد شجاعت په ملکو سره وُ چي دوی يې اثار وليدل.

دروښ وايي: چي دا تحقيق، تفصيل او حل د ټولو سوالو او توهماتو د بعض الناس به په مطاوئ کي تفاسير عظام به راسي والله المحمد الذي وفقني لهذا التحقيق الانيق وما انا بهذا التحقيق مفتخر بل لتوفيق الله اياى مظهر. وانما الاعمال بالنيات حديث صحيح رواه البخاري.

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ شَآقُّوا۟ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ ۚ

اشاره وضرب ته ده والامر به والخطاب لرسوله ﷺ (ذالک مبتدأ ده خبر يې دا وروسته جمله ده) په سبب ددې دی چي دوی يعني کفارو د قريشو عناد کاوه له خدای ﷻ او له رسول ﷺ سره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَنْ يُّشَاقِقِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَاِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۱۳﴾

پوه سه: چې ربط د خبر چې "فان الله آه" په من موصوله چې متضمن معنا لره د شرط دی په حذف د عائد دی یعني "لهم" دی، والتقدیر فان الله شدید العقاب لهم.

ذٰلِكُمْ فَذُوْقُوْهُ وَاَنَّ لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابَ النَّارِ ﴿۱۴﴾

تاسي څکئ یعني وړ یې یاست، او په تحقیق کافرانو لره عذاب د اور دی،

پوه سه: چې دا خطاب د کفارو سره دی علی طریقة الالتفات من الغیبة الی الخطاب او محلاً مرفوع دی په حذف د مبتدأ ای الأمر ذالکم "واو" په معنی د مع دی ای ذوقوا ماعجل لکم في الدنیا مع ما احل لکم في الآخرة وهو عذاب النار.

مسئله: مسلمان ته که یو څه عذاب ورکړل سي یعني په دنیا کي په سبب د معصیت دده، نو هغه کفاره ده ولا یعذب بها في الآخرة ان شاء الله. د علي ﷺ روایت دی چې ده خلګو ته وویل الا انبئکم بافضل آیة في القرآن صدقنا بها رسول الله ﷺ وما اصابکم من مصیبة فبما کسبت ایدیکم ویعفو عن کثیر "علیه الصلوٰة والسلام وویل چې زه به ژر ددې آیت تفسیر درته بیان کړم، یا علي ما اصابک من مرض او عقوبة او بلاء في الدنیا بما کسبت ایدیکم والله ﷻ اکرم من ان یثنی علیهم العقوبة وما عفی الله عنه في الدنیا فالله احکم من ان یعود بعد عفوه.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا لَقِيْتُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا زَحْفًا فَلَا تُوَلُّوْهُمُ الْاَدْبَارَ ﴿۱۵﴾

اې هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی چې تاسي ملاقي سئ د الذین کفروا په زحفاً سره، نو به ور ګرځئ ودوی ته شاوي.

پوه سه: چې زحفاً مصدر دی حال د فاعل او مفعول د لقیتم الذین آه. نو په معنا د متزاحفین دی، یعني مسلمانان او کافران چې په جنګ کي ښځي سره نژدې سي. د "زحف" اصل معنی پر کوونه څکېدل د کوچني.

پوه سه: چې چونکه "زحفاً" مصدر دی نو ځکه یې جمع نه کړی، نو تاسي مه ګرځئ شاوي خپلي ودوی ته یعني کفارو ته د شکست او تښتي پر دول.

مسئله: مراد له زحف څخه تښتنه ده له جنګه چې ګناه کبیره ده عند اکثر اهل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

العلم وبه قال الائمة الاربعة رحمهم الله . لکن دا هلته ګناه کبیره ده چې مسلمانان پر نیمایي د کافرانو وي، او که اکثر یا تر نیمایي کم وه یا ثلث د کفارو وه یا ربع بیا تولی روا ده ګناه کبیره نه ده، قوله تعالی "الآن خفف الله عنکم وعلم ان فیکم ضعفاً فان کان منکم مائة صابرة یغلبوا مائتین الآیة. عطاء بن ابي رباح رحمه الله وایي چې اول آیت پر اطلاق دی لکن منسوخ دی په دې آیت الآن خفف الله عنکم ﴿۶۶﴾.

وَمَنْ يُوَلِّهِمْ يَوْمَئِذٍ دُبُرَهٗٓ اِلَّا مُتَحَرِّفًا لِّقِتَالٍ اَوْ مُتَحَيِّزًا اِلٰى فِئَةٍ فَقَدْ بَآءَ بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ وَمَاْوٰىهُ جَهَنَّمُ ؕ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿۱۶﴾

او که څوک وروګرځوي و کفارو ته په دغه ورځ شا یعني د جنګ په ورځ في حال من الاحوال فالاستثناء مفرغ مګر نه چې دی جنګ ته حیله جوړوي یعني چې ظاهراً دښمن ته دا په نظر ورکوي چې ما شکست وکړی نو دښمنان چې ده ته رانژدې سي چې حمله پر وکړي دی نابیره حمله پر وکړي او قتل یې کړي یعني داسي شا ګرځول روا دی، ولي چې دا خو په حقیقت کې فرار نه دی، عربي تعبیر یې دادی یریه الفر وهو یرید الکر غرة، او یا ځان رسوي و جماعت ته د مسلمانانو یو ګړی ځان وسا کوي او بیرته جنګ ته عود کوي، ولي دا خو هم فرار نه دی، نو که دغه دوه حاله نه وي او شاوګرځوي فقد باء نو یې رجوع وکړه متلبساً په غضب د خدای ﷻ او ځای یې جهنم دی او بد ځای د ورتلونکو دی جنهم.

مسئله: په کفارو سره په جنګ کې هر چم او حیله روا ده مثلاً کافر پر مسلمان ټک وکړي مګر مردک دده د غوږ سره تپر سو مسلمان ځان محکي ته ایله کړی چې زه ځو سخت وویشتل سوم، نو چې هغه پر رامیدان کړه چې توپک وغیره ځندي تر لاسه کړي نو په دې وخت کې ده ټک پر وکړی او مړ یې کړی، مګر غدر نه دی روا چې کافر ته ووایي چې راسه تاته آمان درکوم هغه چې راسي دی یې مړ کړي والفرق ظاهر عند التامل في الامثلة.

فائده: علماء کرامو رحمهم الله کبیره ګنهونه تر اوویا پورې رسولي دي چې یو یې له هغو څخه فرار عن الزحف ګڼلی دی کما یدل هذه الآیة صراحةً.

پوه سه: چې څه وخت چې مسلمانان د بدر له جنګه فارغه سوه، نو یوه به ویل چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ما فلانی مشرک مړی کړی بل به ویل چې ما فلانی قتل کړی، نو دا آیت نازل سو.

فَلَمْ تَقْتُلُوهُمْ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ قَتَلَهُمْ

تاسي کفار نه دي وژلي یعني په خپل طاقت سره بلکې خدای پاک دوی ووژل په حقیقت کې چې امداد د ملکو یې درواستاوه او ستاسي زړونه یې قوي کړه او د کفارو په زړونو کې یې رعب واچاوه.

فائده: کلمه د فا جزاً د شرط محذوفه ده والتقدیر ان افتخرتم بقتل الکفار فقد اخطأتم في هذا الافتخار لانکم لم تقتلوهم ولکن الله قتلهم.

دروښ وایي: چې په صحیح روایت کې راغلي دي چې قریش چې پر عقنفل چې د یوې غونډۍ نوم دی راوختل او د شهلې پر خوا راروان سوه علیه الصلوٰة والسلام وویل هذه قریش بخیلائها وفخرها یکذبون رسولک یرید نفسه المبارکة ﷺ اللهم انني اسئلک ما وعدتني، مراد یې نصرت پر اعداؤ، نو جبرئیل ورته راغلی او ورته وه یې ویل چې ته یو موټ له خاورو څخه راواخله او دوی په وولې، نو څه وخت چې قریش او مسلمانان سره مخامخ سوه علیه الصلوٰة والسلام، وعلي ﷺ ته وویل اعطني من حصبا الوادي فرمی بها في وجوههم وقال شاهت الوجوه ای قبحت" نو یو ددغو زرو کسانو د قریشو نه سو پاته چې دغه شیګي یې په سترګو او غوږونو کې نه وي لوېدلي، نو قریشو شکست وکړی مسلمانان په پسې سول وژل یې او بندي کول یې، فنزلت هذه الآیة

وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ رَمَىٰ

تا ویشتل نه دي کړي یا محمد ﷺ اذ رمیت حقیقةً وتاثیراً، یعني صورةً وظاهراً، لکن خدای ﷻ ویشتل وکړه، ولي رسېدل د یوه موټ شګو سترګو او غوږونو ته د زړو کسانو رسول د طاقت بشري له امکان څخه خارج دی، بل هو من شان خالق القوی القدر دی.

دقیقه: په دمخه آیت کې چې تفاخر ځیني کسانو کاوه چې ما فلانی مشرک قتل کړی، او د خدای ﷻ فخر نه دی خوښ، نو په هغه آیت کې یې نفي د قتل له دوی څخه وکړه حیث قال "فلم تقتلوهم" او په دې ځای کې چې علیه الصلوٰة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والسلام د عجز او انکسار لار خپله کړه خدای پاک نفي د رمي له ده څخه نه وکړي بلکې وه يې ويل "اذرميت" بايزيد بسطامي قدس سره وايي.

چاز چيز آورده ام شاها که در گنج تو نيست
عاجزی و مسکينی فقر و گناه آورده ام

دروښ وايي: چي داد رمي واقعه هغه وخت منځ ته راغله چي د مسلمانانو او مشرکانو صفونه يېخي سره نژدې سوه، له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چي بخاري هم راوړی دی وايي چي زه په صف کي ولاړ وم، يوه بغل ته چي مي وکتل يو ښائسته ځوان ولاړ دی او پر بل ارخ مي هم تنکی ځوان ولاړ دی، زما په زړه کي دا اند ښښنه سوه چي دا دوه هلکان خو بې تجربې دي يعني د جنګ تريخ خوند يې نه دی څکلی، که مازي جنګ شروع سو نو دا دواړه ځوانان زما ارخ خالي کوي فتمنيت ان اکون بين اضلع منهما، زما تمنا وه چي کاشکي د يوه قوي سړي په ارخ کي ولاړ واى تر دغو دوو هلکانو چي په عين حال کي يوه ځوان پټ راته وويل، هل تعرف اباجهل، ما ورته وويل يا ابن اخي ته ابو جهل څه کوې؟ ده راته وويل چي ما اورېدلي دي چي دی و عليه الصلوٰة والسلام ته تکذيب کوي او بنکنځل هم ورته کوي، نو ما چي له کوره تنوره راواخستل په زړه کي مي دا وه چي که ما ابو جهل وپېژندی زه به له ده څخه جلا نسم حتی چي د هر يوه اجل دمخه ؤ هغه به وژل کېږي يعني که زه وم او که ابو جهل، ما چي وده ته د جواب اراده وکړه، نو د دا بل ارخ ځوان هم پټ ورته خبره راته وکړه، نو ابو جهل په خپل لښکر کي ولاړ ؤ ما دغو دوو ځوانانو ته وويل هغه سړی ګوره هغه ابو جهل دی، دوی د مسلمانانو له لښکر څخه په ابو جهل پسي په هوا لکه بازان چي په کوتري پسې ځي ورغله او هوري دواړو ابو جهل په تنوره وواهه، ابو جهل چپه سو دوی دواړه بيرته سالم له منځه څخه د کفارو راووتل توري يې د ابو جهل په وينو سرې وې الى اخير القصة.

وَلِيُبْلِيَ الْمُؤْمِنِينَ مِنْهُ بَلَاءً حَسَنًا

چي خداى ﷻ نعمت ورکړی و مسلمانانو ته د هغه فعل په سبب چي په بدر کي پر دوی راغلی نعمت عظيمة في الدنيا من المغانم وفي الآخرة نعيماً مقيماً دائماً.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې "ليبلي آه" معطوف دی پر محذوف باندې، والتقدير فعل ما فعل ليظهر دينه ويقهر اعدائه وليبلي آه.

پوښتنه: خدای ﷻ خو پر دې قادر وُ چې کفار يې هلاک کړي وای بېله جهاده د مؤمنانو او بېله قتاله ددوی او بېله د امداد د ملکو. او بله پوښتنه داده چې يوه ملکه د ملکو د خدای ﷻ کافي وه په اهلاک کي د کفارو کما في اهلاک بعض الکافرين في الامم السابقة قال الله تعالى في شان اهلاک قوم من الکافرين انکانت الا صيحة واحدة فاذا هم خامدون" نو څه فائده وه په امداد د زرو ملکو وروسته بيا د پينځو زرو ملکو؟

ځواب: دغه آيت ځواب دی ددې ټولو توهماتو لپاره، وحاصل الجواب چې موږ داسې وکړه دا احسان د خدای ﷻ وُ پر مؤمنانو باندې چې اجر او ثواب پيدا کړي او نصرت پر اعداُ الدين او الفت په منځ کي د ملکو او مجاهدينو کي راسي، او که خدای پاک په خپل قدرت سره کفار د بدر وژلي وای او يا په صيحت د يوې ملکې ولم يبق من المشرکين احد. مانال المؤمنون اجر الجهاد والشهادة والغنيمة والفضل وايضاً مانال الملائکة ذالک الفضل الحاصل لهم في امداد المؤمنين.

ښهانه فائده: في فضائل اهل البدر، بخاري له زمعة بن رافع ﷺ څخه روايت کړی دی چې جبرئيل راغلی و عليه الصلوٰة والسلام ته او ورته وه يې ويل چې ته څرنګه درجه ورکوې و اهل بدر ته په مسلمانانو کي؟ عليه الصلوٰة والسلام ورته وويل چې موږ يې افضل د مسلمانانو بولو. جبرئيل ورته وويل کذالک من شهد بدراً من الملائکة. او امام احمد رحمه الله له حضرت جابر ﷺ څخه روايت کړی دی چې رسول الله ﷺ وويل لن يدخل النار رجل شهد بدراً والحديبية. او ابو داؤد او ابن ماجه روايت کړی دی له ابو هريره ﷺ څخه قال رسول الله ﷺ چې زما اميد دی چې نه به سي داخل و اور ته ان شاً الله احد ممن شهد بدراً او الحديبية.

دروښ وايي: چې نور د هر احاديث په فضائلو کي د اهل بدر راغلي دي وفي نقل کلها خوف الاطناب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: تنبیه! دروېش وایي چي اهل تجربه د اولیاً الله رحمهم الله وایي که څوک نومان د اهل بدر پر هغه ترتیب چي په بخاري شریف کي مذکور دي ولیکي او غسل په وکړي او دوه رکعته نفل هم وکړي او یو څه خوشبویي هم استعمال کړي، نو هغه نومان نوشته کړي او دړې پوښه د پاکي جامي هر رنګ چي وي ورکړي او وروسته د ساخت پوښ هم ورکړي مګر نه د موچي په لاس. ولي چي هغه لوی تعویز نه ګنډي د خپل وهم څخه چي پر ما تاثیر ونه کړي دوه دړې واړه نیږه په تعویز کي دننه بنوروي چي بعض الفاظ خراب سي، بلکي په ډېر احتیاط سره دې په خپله په چمړه کي پوښ کړي او پر راسته موټ دي وتړي ان شاً الله تعالی هیڅ سلاح به تاثیر پر ونه کړي او د سرو مردکو په منځ کي به خدای ﷻ نجات ورکړي.

تنبیه: دا عمل مخصوص دی په مجاهدینو في سبیل الله پوري وه غله یا ناحقه بدي دار ته هیڅ فائده نه کوي. او څوک چي دا عمل کوي باید چي پر خدای ﷻ یې یقین کامل وي لکه دړې سوه دیارلس مسلمانان چي یې د زرو کسو څخه خلاص کړه او اوویا کسه یې په شمول د ابو جهل مردار کړه او اوویا کسه یې په حصارت ونیول او ملکي یې ورته راواستولې، او دا به یې یقین وي چي ماته به هم پر کافرانو خدای ﷻ کومک راکړي او دوی ته به هزیمت او شکست ورکړي.

تتمة قتل ابو جهل: دروېش وایي چي مورږ دمخه ذکر کړه په روایت د ابن مسعود رضي الله عنه چي ابو جهل دوو تنکیو ځوانانو په خپل لښکر کي په توره وواهه او چپه یې کړی لکن مړ نه وۀ. دا دوه ځوانان یو معاذ او بل معوذ ابنی عفرا رضي الله عنهما وه دا دوه ځوانان راغله و علیه الصلوٰة والسلام ته یې وویل چي مورږ ابو جهل مړ کړی یعني ددوی په خیال یوه ویل ما مړ کړی بل ویل ما قتل کړی، علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل هل مسحتما سیفیکما تاسي خپل توري له وینو څخه پاکي کړي دي دوی ورته وویل یا، علیه الصلوٰة والسلام چي توري وکتلې داسي یې ورته وویل کلاکما قتلهما ولي چي اثر د وینو پر دواړو توروباندي وۀ لکن سلب یې د معاذ دی، ولي چي د هغه توره ډېره په بدن کي د ابو جهل بنخه سوې وه،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بخاري رحمه الله روایت کړی دی له انس بن مالک رضي الله عنه څخه چې علیه الصلوٰة والسلام د بدر په ورځ وویل چې څوک به وګوري چې د ابو جهل حال څرنګه سوی دی، نو ابن مسعود رضي الله عنه پسې ورغلی او ابو جهل یې پیدا کړی مړ خو نه وُ لکن اخیري نېټه د ژوند یې وه، نو یې تر ږیره ونیوی او ورته وه یې ویل انت ابو جهل، ابو جهل ورته وه یې ویل هل فوق رجل قتلتموه او ټوره ورته پرته وه په هغه توري یې سر ور پرې کړی، او قاضي عیاض رحمه الله په شفا کې وایي چې ابو جهل په هغه ورځ چې ابنی عفراً پرده حمله وکړه ده په توره د معوذ بن عفراً لاس غوټ ورپرې کړی وُ، نو معوذ خپل لاس په لاس کې را اخستی وُو علیه الصلوٰة والسلام ته د خپل پرې سوي لاس سره راغلی، نو علیه الصلوٰة والسلام یې پر پرې سوي ځای ورټوه کړه او هغه جلا سوې ټوټه یې پوري ونیوله لاس یې بیرته سم لاس سو، وهذه معجزة جلیلة او شفا د قاضي عیاض په حدیثو کې د اعتماد ور کتاب دی.

دروښ وایي: چې دا یوه حیرت انګیزه معجزه د آنحضرت ﷺ وه.

إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٧﴾

په تحقیق خدای ﷻ اورېدونکی دی یعني لا بجارحة السمع لعدم کونه تعالی جسماً فمرجعه الی العلم بالمسموعات یعني په استغاثه د مؤمنانو او په دعاً وو ددوی خبر دی په قلة ددوی.

ذَٰلِكُمْ وَأَنَّ اللَّهَ مُوهِنُ كَيْدِ الْكَافِرِينَ ﴿١٨﴾

"ذالکم" یا اشاره و بلاً حسن ته ده یا قتل د کفارو یا رمي بالحصی ته ده، او په تحقیق خدای ﷻ ضعیف کونکی د حیلو د کافرانو دی چې کفار قریش دلته ځندي مراد دي.

پوه سه: چې ذالکم مرفوع محلاً دی خبر یې محذوف دی ای المشار الیه بذالکم حق.

إِن تَسْتَفْتِحُوا فَقَدْ جَاءَكُمُ الْفَتْحُ ۖ وَإِن تَنتَهُوا فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ

که تاسي اې مؤمنانو طلب د فتح کوئ پر کفارو د قریشو نو فتح راغله تاسي ته چې قتل د ابو جهل دی سره د اوویا کسانو، او که تاسي ای کافرانو د مکې له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شرک بالله څخه او له قتال څخه د نبي د خدای منع سئ دا تاسي لره خیر دد یعني په دنیا او اخیرت کي.

وَاِنْ تَعُوْدُوْا نَعُدْ ۚ

او که تاسي بیا و قتال ته د نبي ﷺ اماده سئ زه به هم لکه په بدر کي د خپل نبي او مؤمنانو ته راوګرځم یعني بیا لکه په بدر کي امداد به ورسره وکړم.

وَلَنْ تُغْنِيَ عَنْكُمْ فِئَتُكُمْ شَيْـًٔا وَّلَوْ كَثُرَتْ ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝

او هر ګز فائده نه کوي یعني دفع نه سي کولای ستاسي جماعت تاسي ته هیڅ شی که څه هم جماعت ډیر وي، او په تحقیق خدای پاک معاون دی د مؤمنانو والمعاونة هي المراد بالمعية كما لايخفى.

پوه سه: چي بعض مفسرین لکه روح البیان وایي چي خطاب د ان تستفتحوا خطاب د مشرکینو ته د مکي دی، له عکرمه ﷺ څخه روایت دی چي د مکي مشرکینو به ویل ما نعرف ماجاء به محمد فافتح بیننا وبینه بالحق مورږ نه پیژنو هغه دین چي محمد راتګ په کړی دی، نو ته خدایه فیصله وکړې زمورږ او دده تر منځ په حق سره یعنون چي هر یو پر حق وي هغه ته غلبه ورکړې پر جانب مقابل باندي، نو پر دې تقدیر ترجمه د آیت داسي ده "که تاسي چېرې زما قضاوت او فیصله غواړئ هغه قضاوت وتاسي ته ورسېدی په بدر کي، ولي حق په جانب کي د محمد ﷺ ؤ نو ستاسي د وینا سره سم ما و محمد ﷺ ته برې ورکړی او تاسي ته شکست په نصیب سو، فهذا قضائي الذي تطلبونه.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَلَا تَوَلَّوْا عَنْهُ وَاَنْتُمْ تَسْمَعُوْنَ ۝

اې هغه کسانو چي ایمان یې راوړی دی تاسي فرمان برداري کوئ د الله او د رسول دده او تاسي مخ مه اړوئ یعني نافرماني مه کوئ د رسول د خدای او حال دادی چي تاسي اورئ قرآن او مواعظ او تاسي یې تصدیق هم کوئ.

پوښتنه: په آیت کي خدای او رسول ذکر سوه، نو ضمیر یې ولي مفرد راوړی؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: اصل مقصود په ایت کي امر په اطاعت سره د رسول ﷺ والنهي عن الاعراض عنه، او ذکر د ځدای ﷻ لپاره د تنبیه پر دې چي اطاعت د ځدای ﷻ په طاعت کي د رسول ﷺ دی، او ځینې مفسرین رحمهم الله وایي چي ضمیر راجع دی د جهاد ته کما یدل سیاق الآیات السابقة.

وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ قَالُوا سَمِعْنَا وَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ ﴿٢١﴾

او تاسي مه ګرځئ لکه هغه کسان چي مراد ځندي هغه کسان دي چي دعوی د سماع او تصدیق یې کوله او حال دادی چي دوی نه اوریدی قرآن او ځبري د علیه الصلوة والسلام یعني په سماع د قبول قلبي بل سماع ددوی صرف په غوږونو وه.

إِنَّ شَرَّ الدَّوَابِّ عِندَ اللَّهِ الصُّمُّ الْبُكْمُ الَّذِينَ لَا يَعْقِلُونَ ﴿٢٢﴾

په تحقیق سره بد د دوابو ای مایدب علی الارض "الصم" جمع د اصم ده یعني کانه یعني چي په سماع قبول شی نه اوري "البکم" جمع د ابکم ده په معنی د ګونګي چي نطق ددوی په کلمه د توحید او په رسالت د علیه الصلوة والسلام د زړه د کومي نه دی وهم المنافقون ایضاً.

وَلَوْ عَلِمَ اللَّهُ فِيهِمْ خَيْرًا لَّأَسْمَعَهُمْ وَلَوْ أَسْمَعَهُمْ لَتَوَلَّوا وَّهُم مُّعْرِضُونَ ﴿٢٣﴾

او که خدای ﷻ په دوی کي د خیر یعني د استعداد د قبول د حق او کانوا في علمه الازلي من اهل السعادة، نو به دوی اوریدلی وای په سماع د قبول او تفهم، او که چېرې خدای ﷻ په دوی اوریدلی وای په سماع د قبول او د خدای په علم ازلي کي دا معلومه وای چي په دوی کي خیر نسته هر آینه به دوی روی ګرداني کړې وای وروسته تر ایمان او تصدیق یعني بیرته به مرتد سوي وای لامتناع تخلف علمه تعالی او دوی به اعراض کونکي وای بعد ظهور الحق عناداً. او بعض مفسرین رحمهم الله وایي چي دوی به علیه الصلوة والسلام ته ویل چي ته موږ ته قصی بن کلاب راژوندی کړه چي یو شیخ مبارک وُ چي هغه ستا په نبوت سره شاهدي ادا کړي نو موږ به هم ایمان راوړو. نو د آیت ترجمه داسي ده که زه راوروم کلام د قصی لتولوا وهم معرضون عناداً وتکبراً.

دروېش وایي: چي راوي بیان کوي چي علیه الصلوة والسلام په ځینې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سفرو کي چي صحابه کرام رضي الله عنهم به هم وسره وه چي يو سړی په مخ کي ورته ودرېدی او ورته وه يې ويل چي زه يو باغ لرم چي زه له هغه باغه د ځان او د عيال نفقه تر لاسه کوم او په دې باغ کي ما اوښي درولي دي چي په دوی به مي له ځاء ځخه اوبه راکښلې او باغ به مي په اوباوه، اوس اوښي راته ياغيانې سوي دي چي وباغ ته ددوی له بهر نه سم ورتلای کله محض وربنکاره سوم غرغړې کړې راپسې ميدان کړي له باغه بيرته ځني ووځم، نو عليه الصلوة والسلام له اوښه کښته سو او اصحاب رضي الله عنهم هم پياده وربسره روان سوه د باغ دروازې ته چي ورغله عليه الصلوة والسلام راته وويل چي د باغ دروازه خلاصه کړه ما ورته وويل چي زه له اوښانو ځخه بهر يم عليه الصلوة والسلام راته وويل چي دروازه خلاصه کړه ماچي خلاصه کړه د اوښانو ترپی او غرغړې سوې د دروازې پر خوا راروان دي اوښانو چي څرنګه عليه الصلوة والسلام وليدی چوکي سوې او سرونه يې د عليه الصلوة والسلام پر پښو مبارکو کښېښول عليه الصلوة والسلام تر سروو ونيولې او مالک ته يې په لاس ورکړې او ورته وه يې ويل چي کارونه په کوه لکن نبه ورسره کوه يعني مناسبه نفقه ورکوه وهذا معجزة له صلعم.

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ

اې هغه کسانو چي ايمان يې راوړی دی تاسي قبولونه کوئ يعني په طاعت سره د خدای جل جلاله او د رسول وبولي تاسي وداسي شي ته چي تاسي په ژوندي کېږئ يعني تاسي ته فائده وي په اخيرت کي.

فائده: سدي رحمه الله وايي چي مراد ايمان دی لان الکافر ميت. قتاده رحمه الله وايي هو القرآن ولي چي په قرآن سره حيوة القلوب او نجات د دوارېدارينو په قرآن پوري مربوط دی، مجاهد رحمه الله وايي هو کل ما يکون حقاً او ابن اسحاق رحمه الله وايي هو الجهاد في سبيل الله ولي چي په جهاد سره مسلمانان له ذلت ځخه وعزت ته نقل کېږي او قتبي رحمه الله وايي هو الشهادة في سبيل الله لقوله في حق الشهداً بل احياً يرزقون الخ.

پوه سه: چي تقيد په ما يحييكم سره احترازي نه دی ولي چي توله دعوات

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الرسول خو لپاره د ما یحییکم دی بلکې که یې دا تقید لپاره د مدحې دی.

سوال: په آیت کې لله وللرسول ذکر سو او په اذا دعاکم کې ضمیر مفرد راوړی؟

ځواب: دعوت د خدای ﷻ په دعوت د رسول ﷺ دی نو دا دواړه دعوته ویوه ته چې دعوة الرسول راجع دی.

فائده: مراد له حیات څخه حیاة القلب وطرد الغفلة عنه لان القلب رئیس جمیع الاعضاً ففي حیوٰته حیوٰة جمیع اجزاً الجسد کما ورد في الحدیث النبوي اذا صلحت ای المضغة في الجسد صلح البدن کله الی اخیر الحدیث.

پوه سه: چې ترمذي او نسائي یو حدیث له ابي هریرة ﷺ څخه نقل کړی دی چې ترجمه یې داده چې یوه ورځ علیه الصلوة والسلام پر ابی بن کعب تېرېدی او هغه پر لمانځه ولاړ ؤ، علیه الصلوة والسلام راوبولی ابی ژر لمونځ پوره کړی او بیا علیه السلام ته راغلی یعني یو څه وځنډېدی علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې څه شي ته منع کړې چې ما دعوت درکړی او ته دستي نه راغلې ابی ورته وویل چې زه پر لمانځه ولاړوم علیه الصلوة والسلام دغه آیت ورته تلاوت کړی "یا ایها الذین آمنوا" تر اخیره پوري، نو ابی ورته وویل لاجرم یا رسول الله لاتدعوني الا اجبت وان کنت مصلیاً.

مسئله: ځینې علماً کرام رحمهم الله وایي چې اجابت د رسول الله ﷺ لمونځ نه قطع کوي یعني وروسته تر اجابت دي بیرته لمونځ له هغه ځایه شروع کړي، او ځینې علماً رحمهم الله وایي که بلنه د علیه السلام د داسي شي لپاره وه چې د هغه تاخیر نه کېدی تر لمانځه تر اخیره پوري فللمصلي ان یقطع الصلوة لاجله والا فلا.

دروښ وایي: چې امام مظهري رحمه الله په دې مبحث یوه مسئله راوړې ده چې که یو روند سړی پر لار روان ؤ او په مخ کې یې څاه ؤ او بل سړی پر لمانځه ولاړ ؤ که مصلي لمونځ قطع نه کړی رونډ وځاه ته واقع کېږي نو قطع د لمانځه پر هغه واجب ده لانه امر دیني مهم آه، فقیر وایي چې د اجابت د علیه الصلوة والسلام خو خاصه د علیه السلام ده حتی چې په اجابت دده لمونځ نه قطع کېږي بلکې د اجابت سره سره مصلي پر لمانځه دی کما دل علیه الحدیث المذکور او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قطع د لمانځه لپاره د ړانده خو واجب ده لکن لمونځ يې فاسد سو بيرته به يې له سره راګرځوي کما ذکره المظهري رحمه الله نو قطع د لمانځه لپاره د اجابت د دعوت د رسول کريم ﷺ او د قطع د لمانځه د ړانده لپاره څه فرق دی. نو مظهري رحمه الله چې په تفسير کې دا مسئله راوړې ده په دې عبارت قيل اجابة الرسول لا يقطع وهو الحق او قياس د ړانده د قطع الصلوة قياس مع الفارق دی فافهم.

وَاعْلَمُوٓا اَنَّ اللّٰهَ يَحُوْلُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهٖ وَاَنَّهٗٓ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ۝

او په دې پوه سئ چې خدای ﷻ حائل دی په منځ کې د سړي او د زړه دده. او په دې پوه سئ چې خاص خدای ﷻ ته تاسي حشر کېږئ يعني په ورځ د قيامت لا الی غيره تعالی ولهذا قدم المجرور علی عامله والحاصل چې حشر ستاسي و خدای ﷻ ته دی لپاره د حساب او جزاً د اعمالو فحاسبوا قبل ان تحاسبوا.

پوه سه: چې په قاموس کې وايي اذا حجز بين الشيئين فقد حال بينهما په روح البيان کې وايي چې دا تمثيل د غايت قرب د خدای ﷻ او په مابين د زړه د سړي يعني ان الله تعالی اقرب من قلبه منه يعني تر سړي، او په دې تمثيل کې تنبيه ده پر دې چې خدای ﷻ عالم دی پر پټو خبرو د زړو چې شايد سړی له هغو څخه غافله وي ولهذا قال علي رضي الله عنه اللهم اغفرلي ما انت اعلم به مني او يا باعثه کول دي پر دې باندې چې سړی بايد تلوار کوي پر اخلاص د زړو او پر پاکولو د زړو د خبيث اعمال القلوب څخه لکه رياً او سمعه دمخه تر دې چې خدای ﷻ حائل ګرځي په منځ کې د زړه او د سړي يعني بالموت، ولهذا قيل موتوا قبل ان تموتوا او يا معنی داده چې خدای ﷻ حائل دی يعني عالم دی په منځ کې د انسان ومايتمناه قلبه من طوال الحيوة، نو له دې سببه په توبه کې د ګناه تاخير کوي او وايي سوف اتوب او يا سستي کوي په امورو کې د دين. ولهذا عليه الصلوة والسلام به دعا دې ره کوله يا مقلب القلوب ثبت قلبي علی دينک الی اخير الحديث. نو مسلمانانو لره په کار ده چې همېشه تضرع او التجا کوي د خدای ﷻ ته خصوصاً چې خاتمه هم مستوره ده، سعدي شيرازي رحمه الله وايي

بجای که دهشت خورد انبيا ..... تو عذر گناه را چه داری بيا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او مسلم د علیه السلام دا دعا رانقل کړې ده یا مصرف القلوب صرف قلوبنا علی طاعتک.

دروښ وایي: چې ما په دې دوو حدیثو کې هغه الفاظ د حدیث نه راوړه چې له متشابهاتو څخه وه تاچې زما د تفسیر مطالعه کونکي د حدیثو د الفاظو پر غلطه معنا حمل نه کړي والله یعلم السرائر.

وَاتَّقُوا فِتْنَةً لَّا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنكُمْ خَاصَّةً

او تاسي ځانونه ساتئ له هغې فتنې یعني مصیبت څخه چې نه رسېږي هغه فتنه یعني عذاب د هغې فتنې و هغو کسانو ته چې دوی ظلم کړی وي یعني هغه مصیبت یې کړی وي له تاسي څخه خاص بلکې که عذاب په دنیا کې نازل سي یواځې مرتکب ته د ګناه نه رسېږي بلکې عذاب یې عام وي مرتکب ته د ګناه او غیر مرتکب ته دواړو ته رسېږي، پښتانه وایي چې ځنګل اور واخلي وچ او لانده دواړه پکښې سوځي فقولهم کانه تفسیر لمضمون هذه الآیة.

پوه سه: چې "لاتصیبن" نهی دی مؤکد په نون ثقیله دی کما تقرر في النحو او ضمیر د لاتصیبن راجع دی و "فتنة" ده لکن په تقدیر د قول یعني یقال فیها لاتصیبن او یا نفي دی.

سوال: نفي خو په قانون نحوي مؤکد په نون ثقیله نه راځي؟

ځواب: دا نفي چونکه په ضمن کې د نهي سته نو ځکه مؤکد په نون ثقیله سوې.

دروښ وایي: چې قرطبي په خپل تفسیر کې وایي چې خدای ﷻ په بل ځای کې د قرآن مبارک ویلي دي "ولا تزر وازرة وزر اخری" او په بل ځای کې یې ویلي دي "کل نفس بما کسبت رهنیة" او په بل ځای کې یې ویلي دي "لها ماکسبت وعلیها ما اکتسبت" نو ددې آیتو مضمون خو دادی چې د یوه په ګناه مواخذه بل نسته، واجاب مسلمانان چې په خپل منځ کې تظاهر د منکر وویني فالفرض علی کل واحد ان یغیره فان سکتوا فکلهم عاص، عاصي په خپل فعل سره او په دې سبب چې رضا په معصیت سره معصیت دی والسکوت دلیل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الرضا او په حکم د خدای ﷻ معصیت او رضا بالمعصیة یو دی فلذا عمم بالعذاب انتهی، عاصي وایي چي اولی ځواب دادی چي آیات مذکوره خاص په احکامو کي د اخرت دی وهذا لعموم في عذاب الدنیا کما قال ابن عباس ﷺ امر الله المؤمنین ان لایقروا المنکر بین ایدیهیم واظهرهم فیعذب ویعمهم بعذاب الظالم وغیر الظالم، ابوبکر ﷺ وایي چي تاسي دا آیت واياست "یا ایها الذین آمنوا علیکم انفسکم لایضرکم من ضل اذا اهتدیتم" ابوبکر ﷺ وایي چي ما له رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چي ده داسي وویل "اذا روا الظالم فلم یاخذوا علی یدیه او شک ان یعمهم الله بعقاب من عنده، دا آیت هم خاص په عذاب پوري د دنیا دی فصح الجواب الاولی الذی مر آنفاً.

وَاعْلَمُوٓا اَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۲۵﴾

په تحقیق سره خدای ﷻ سخت دی عذاب دده ای في الدنیا کمادل علیه السباق او في الدنیا والآخرة.

وَاذْكُرُوٓا اِذْ اَنْتُمْ قَلِيْلٌ مُّسْتَضْعَفُوْنَ فِي الْاَرْضِ تَخَافُوْنَ اَنْ يَّتَخَطَّفَكُمُ النَّاسُ فَاٰوٰىكُمْ وَاَيَّدَكُمْ بِنَصْرِهٖ وَرَزَقَكُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۲۶﴾

بعض مفسرین ﷺ وایي چي دا خطاب وه مهاجرینو ته دی، نو ترجمه د آیت داسي ده چي یاد کړئ یا ایها المهاجرون هغه وخت چي تاسي لږ واست یعني في مکة او ضعیف واست في ارض مکة او داسي ببرېدلاست چي خلګ یعني قریش د مکې به مو په یوه حمله له منځه یوسي، نو خدای ﷻ تاسي ته ځای درکړی په مدینه منوره کي عند الهجرة من مکة او تاسي محکمه کړلاست په خپل کومک سره چي انصار د مدینې یې پر تاسي مهربانه کړه لکه وروڼه او تاسي ته یې رزق درکړی د پاکو او لذیذو خوړو یعني د انصارو له باغو څخه د خورما ددې لپاره چي تاسي شکر ددې نعمت د خدای ﷻ ووایاست، او بعض مفسرین ﷺ وایي چي مخاطب ټوله عرب دي چي عرب ټوله ذلیل وه په لاسو کي د فارس او روم، او فارسیان او رومیان ستاسي ضد وه او ستاسي سره یې عداوت درلودی، نو خدای ﷻ وتاسي ته مأوی او عزت درکړی په بعثت د نبي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اخیر زمان ﷺ په تاسي عربو کي حتی چي رفته رفته محمد عربي ﷺ پر ټول اهل ملل باندي غالب سو.

دروښ وايي: چي زما په عقیده ټوله مسلمانان مخاطب دي که مهاجرین دي او که انصار ﷺ. ولي په مدیني او شاوخوا کي د مدیني د یهودانو غلبه وه حتی علیه السلام فتح د بني قریضه او د بني النضیر وکړه نو په مدینه منوره او شاوخوا کي غلبه د مسلمانانو سوه او یهود مغلوبه یا په قتل ورسېدله لکه بني قریضه او یا یې اذرعا یا اریحا ته د ارض الشام یې وشړل.

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَخُونُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ وَتَخُونُوا أَمَانَاتِكُمْ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٢٧﴾

اې هغه کسانو چي ایمان یې راوړی دی تاسي خیانت مه کوئ د خدای ﷻ او د رسول ﷺ سره او داسي خیانت مه کوئ په اماناتو چي ستاسي تر منځ وي لکه یو څوک چي بل ته امانت نقود وغیرها کښېږدي نو خیانت دي نه پکښي کوي چي یا پر سر یې منکر سي او یا په مقدار کي چي هغه زر روپۍ. مثلاً امانت ورته ایښي وي دی ورته ووایي چي روپۍ خو پینځه سوه وې.

پوه سه: چي قرض او دین مؤجل هم د امانت له قسمه څخه دی باید څوک خیانت پکښي ونه کړي نه په مقدار کي او نه په کیفیت کي او دادی چي ته خپل په خیانت پوهېږې.

فائده: "تخونوا" دوهم عطف دی پر تخون اول باندي او مجزوم دی په کلمه د لاناهیه په اول کي. او یا معنا ده وانتم تعلمون چي تاسي هغه ښه کار او بد کار سره پېژنئ. ابن عباس ﷺ وایي لاتخونوا الله بترک فرائضه ولاتخونوا الرسول بترک سننه واما ناتکم ما یخفی عن اعین الناس من فرائضه تعالی في حقوقکم کما بین مثالها آنفاً.

پوه سه: چي اکثره مفسرین پر دي دي چي دا آیت په باره کي د ابو لبابه عبد المنذر ﷺ نازل سوی دی. لکن د ابن عباس ﷺ د حدیث معنا داده چي عبرت عموم لره لفظ دی خصوص لره د مورد نه دی قصة خیانة ابي لبابة. لکه څرنګه چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بغوي رحمه الله يې روايت کړی دی چې علیه السلام بني قريضه چې د يهودانو يو قوم دی محاصره کړه يوويشت شپې، نو دوی له علیه السلام څخه غوښتنه وکړه د صلح لکه د بني النضير سره چې بل قوم د يهودانو وُچې تا صلح کړې وه چې ادزعات او اريحا ته د شام دي فراره سي، زمونږ سره هم هغه صلح وکړه. علیه السلام له دې څخه منع وکړه او دوی ته يې وويل چې تاسي پر حکم د سعد بن معاذ قانع کيږي بني قريضه له هغه څخه انکار وکړی او دوی ورته وويل چې مونږ ته ابو لبابه بن عبدالمنذر چې ستر صحابي رضي الله عنه وُچې ابو لبابه د بني قريضه طرفدار وُپه دې سبب چې عيال او مال د ابو لبابه رضي الله عنه په بني قريضه کې وُنو يهودانو يعني بني قريضه ابولبابه رضي الله عنه ته وويل چې مونږ ته مشوره راکړه چې مونږ د سعد بن معاذ رضي الله عنه پر حکم قناعت وکړو، ابو لبابه پر خپل ستوني د چړې پر ډول لاس تېر کړی چې د سعد حکم ذبح ده ستاسي، ابو لبابه رضي الله عنه وايي چې زما پښې پر ځای دې يعني پر دين د اسلام چې دا اشاره مي وکړه پوه سوم چې پښې دي وښوو بدلې او خيانت دي وکړی د خدای او د رسول سره، نو زه پښېمانه سوم فاسترجعت يعني انا لله وانا اليه راجعون مي ووايه او خلګ يعني علیه السلام او صحابه رضي الله عنهم او بني قريضه ماته منتظر دي زه د قلعې ترشا تېر سوم بله لار مي واخسټل مسجد نبوي صلی الله علیه وسلم ته راغلم او علیه الصلوة والسلام لا نه وُ راغلی مدينې ته، قصه د بني قريضه هغه وه چې پر حکم د سعد بن معاذ رضي الله عنه قلعه بندي خلاصه سوه او سعد بن معاذ په مدينه کې مريض و نو علیه السلام سړی پسې واستاوه، سعد رضي الله عنه چې راغلی او پر خره سپور وُ علیه السلام وتولو صحابه وو ته وويل قوموا الی سيدکم، خير سعد بن معاذ رضي الله عنه چې له خره څخه راکښته سو علیه السلام ورته وويل چې هؤلاء يعني بني قريضه قد نزلوا علی حکمک، سعد بن معاذ رضي الله عنه ورته وويل چې زما حکم دادی چې بالغان ددوی يعني چې قابل د جنګ وي تولـه دي ووژل سي او کوچنيان دې سبي سي او اموال دې غنيمت سي، علیه السلام چې د سعد بن معاذ رضي الله عنه دا حکم واورېدی وه يې ويل الله اکبر حکمت بحکم الملک يعني الله تبارک وتعالی خير د قريضه وو سره هغه چارچلند وکړی چې حکم د سعد بن معاذ رضي الله عنه وُ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اوس به د ابو لبابه رضي الله عنه حال وڅېړو چې په بخاري او د حدیثو په نورو کتابو کې راغلي دي وایي چې ما په یوه تنبه (ستن) پورې د مسجد نبوي چې تر اوسه پورې یې استطوانة التوبة بولي ځان تینګ وتاړه او دا مي وویل چې تر هغو پورې به ترلی یم چې یا مرم یا مي توبه قبلېږي، او نه به زه طعام خورم او نه به اوبه څښنم علیه الصلوٰة والسلام تر اوسه د بني قریضه په کار اخته وُ چې د ابو لبابه حال یو چا ورته بیان کړی یعني چې په تنبې پورې یې ځان ترلی دی، علیه الصلوٰة والسلام وویل که دی هوړې ماته راغلی وای ما طلب د بخښنې دده وخدای ﷻ ته کاوه، اما اوس چې ده ځان وتاړه په اسطوانه پورې، نو زه یې نه خلاصوم چې خدای ﷻ یې توبه قبوله نه کړي، راوي وایي چې اووه شبانه روزه دی ترلی وُ چې نه یې ډوډۍ وخوړل او نه یې اوبه څښلې اوومه ورځ بېهوشه سو او خدای ﷻ یې توبه قبوله کړه یعني علیه الصلوٰة والسلام وده ته د قبلېدلو زېړی ورکړی.

سوال: ابو لبابه چې ځان ترلی و نو لمونځونه یې څرنګه کوله؟

ځواب: په سبیل الرشاد کې ددې سوال ځواب داسي راغلی دی چې د لمانځه په وخت کې به یې ماینه ورغله دی به یې خلاص کړی اودس به یې تازه کړی نو ضرورت د بولو وغیره به یې پر ځای کړی او لمونځ به یې وکړی، بیرته به ماینې تینګ وتړی، نو دا آیت نازل سو "وآخرون اعترفوا بذنوبهم خلطوا عملاً صالحاً وآخر سیئاً عسی الله ان یتوب علیهم ان الله غفور رحیم" راوي وایي چې د سدس ثالث د شپې په وخت کې دا آیت نازل سو او علیه الصلوٰة والسلام په خوښه کې د ام سلمة رضي الله عنها وُ راوي وایي چې علیه الصلوٰة والسلام وخندل، ما پوښتنه وکړه چې د خندا سبب څه وُ یا رسول الله ﷺ؟ علیه الصلوٰة والسلام راته وویل چې سبب د خندا او خوشالی مي دا وُ چې د ابو لبابه توبه قبوله سوه، ام سلمة رضي الله عنها ورته وویل چې زه به زېړی پر وکړم؟ علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل پر ویې کړه ان شئت فقامت علی باب حجرتها او داسي یې وویل، زېړی مي درباندې یا ابا لبابه توبه دي خدای ﷻ قبوله کړه.

پوه سه: چې دا زېړی د ام سلمه رضي الله عنها پر ابو لبابه رضي الله عنه هغه وخت وُ چې پر ښځو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

باندي د حجاب پابندي نه وه، په مسجد کي چي خلګ موجود وه هغه وروغورځېدل چي ابو لبابه د مسجد د تنبې (ستنې) څخه خلاص کړي هغه ورته وويل لا والله حتى يكون رسول الله هو الذي يطلقني فلما خرج رسول الله ﷺ الى صلوة الصبح اطلقه" يعني له تنبې څخه يې خلاص کړي، نو ابو لبابه و عليه الصلوٰة والسلام ته وويل چي زما د تمام څخه د توبې دادی چي زه هجرت کوم له کلي څخه زما د قوم چي ما هوړې دا ګناه وکړه چي په بني قريضه وکي واوزه تر ټوله مال صدقةً لله تبريم، عليه الصلوٰة والسلام ورته وويل يجزيک الثلث ان تصدقت به، يعني ثلث تا لره کافي دی چي صدقه يې کړې. نو د ابو لبابه ﷺ په باره ک دا آيت نازل سو "يا ايها الذين آمنوا لاتخونوا الله والرسول الآية"

پوه سه: چي اصل معنا د خون نقض ده لکه د اصل د وفا چي تمام دی واستعماله في صد الامانة دی.

پوښتنه: په صحيح حديث کي راغلي دي چي "المستشار مؤتمن" رواه احمد عن حديث ابي هريرة ﷺ نو يهودانو چي د ابو لبابه ﷺ سره مشوره وکړه نو که ابو لبابه ﷺ هغه فعل نه واى کړى چي ده وکړى يعني پر حلق يې لاس ورته تېر کړى اشاره يې وذبح ته وکړه لزمه الخيانة في المشورة، نو له دې کاره څخه خو ده چاره نه درلوده نو يې ځکه وکړى حفظاً لامانة؟

ځواب: له خيانت څخه د خلاصېدلو لاره وه بېله اشارې وحلق ته چي يا يې سکوت مختاره کړى واى او يا يې داسي ورته ويلي واى چي زه تاسي ته مشوره درکوم قد بدأ بيني وبينكم العداوة والبغضاً ابداً حتى تؤمنوا بالله ورسوله، نو چي داسي يې ونه کړه ځکه ده ته لوى خطر پېښ سو كما سمعت في قصته والله اعلم بالصواب.

وَاعْلَمُوٓا اَنَّمَآ اَمْوَالُكُمْ وَاَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ ۙ

او په دې پوه سئ چي اموال ستاسي نه دي او اولاد ستاسي نه دي مګر فتنه.

پوه سه: چي اصل معنى د فتن اينبوول دي د سرو زرو پر اور باندي تاچه جوړه يې معلوم سي، په روح البيان کي وايي چي فتنه قد تطلق على الآفة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والبلاء وقد تطلق على الابتلاء والامتحان، نو پر اول تقدير يې معنا داده چې اموال او اولاد ستاسي اسباب دي د فتوع ستاسي په آفت کې يعني معصيت په دنيا کې، والوقوع في عذاب الآخرة او پر دويم تقدير يې معنا داده چې اموال او اولاد ستاسي ذريعه ددې ده چې سړی دې په امتحان او ابتلاء کې د خدای ﷻ واقع کوي حيث يظهر من اتبع الهوى ممن آثر رضي المولى.

پوه سه: چې بعض مفسران رحمهم الله وايي چې دا آيت هم په شان کې د ابو لبابه ﷺ نازل سوی دی. او ځينې وايي چې دا آيت عمومي بيان دی د اموالو او اولادو که څه هم په عموم کې يې ابو لبابه ﷺ هم داخل دی وکلاهما صحيح.

وَّاَنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗۤ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ۝

او د خدای ﷻ په نېز ثواب دی لوی وهو جنة النعيم مؤبداً فعلى العاقل ان يختار الجنة على محبة الفتنة ويختار طاعة المولى على متابعة الهوى.

دران روز کزفعل پرسند وقول ..... اولو العزم راتن بلرزد زهول

ويختار جانب الطاعة على جانب المعصية.

درآن روز که دهشت خورد انبیاً ... تو عذر گناه را چه داری بیا

ويختار جانب الخمول على جانب الشهور

بر فلک بر تر بود اسرار او ..... شيئاً لله شيئاً لله کار او

ويختار العجلة الى التوبة ..... على التسويف والمهلة

توبه بکن امروز تو هرگز مگو فردا کنم

شاید بمیری صبحدم فردا نیابی در شمر

ويختار الهمة على الكسالة

همت بلند دار که نزد خدا وخلق ..... باشد بقدر همت تو اعتبار تو

ويختار حب الفقر على محبة الغنى

آنانکه زره وار بصورت محقر اند ..... فردا زخیال وناز بفردوس نه گرند

ويختار العجز والانكسار ..... في جانب الملك الجبار

چار چیز آورده ام شاها که در گنج تو نیست

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عاجزی ومسکینی فقر گناه آورده ام

ویختار متابعة الرسول علی متابعة الغرور (وهذا اسم من اسماء الشیطان)

آنانکه تابعان رسولند بهتر اند ..... وآنانکه تابعان غرورند کمترند

ویختار الایثار والکرم ..... علی البخل واللحم

بخیل اربود زاهد بحر وبر ..... بهشتی نباشد بحکم خبر

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تَتَّقُوا اللَّهَ يَجْعَل لَّكُمْ فُرْقَانًا

اې هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی که چېرې تاسي وېرېږئ له خدای ﷻ څخه سراً وعلانیةً بطاعته وترک معصیة خدای ﷻ به وګرځوي تاسي لره فرقان یعني بصیرت د زړونو چې په منځ کې د حق او د باطل په هغه بصیرت قلبي سره فرق کولای سي، یعني بدون تعلیم المعلم، او هم دادی مراد بقوله علیه الصلوٰة والسلام اتقوا فراسة المؤمن فانه ینظر بنور الله رواه البخاري في التاریخ، او دا دی مراد بقوله علیه الصلوٰة والسلام استفت نفسک وان افتاک الفتون رواه البخاري، په اصطلاح د صوفیه کرامو ودې ته کشف قلبي وایي او به بل عبارت الهام ورته وایي لکن یحصل هذه المرتبة بعد تصفیة النفس عن الرزائل، او هم ودې مرتبې ته حقیقة التقوی وایي، او مجاهده رحمه الله وایي چې مراد له فرقان څخه مخرجاً في الدنیا والآخرة عما یحذرون وقیل غیر ذالک.

پوه سه: چې فرقان مصدر دی کالغفران.

وَيُكَفِّرْ عَنكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ

او محو به کړي تېر ګنهونه ستاسي، او تاسي ته به بخښني ګنهونه.

پوښتنه: د تکفیر السیئات او غفران فرق څه دی، او که فرق نه سره لري نو تکرار یې څه فائده لري؟

ځواب: مظهري رحمه الله یې دا فرق کړی دی چې مراد له غفران څخه بخښنه ده نه شکر ویولو د نعمتو د خدای ﷻ دی پر بنده باندې، او ده په دې باره کې روایت د انس رضي الله عنه راوړی دی چې یو ډېر اوږد حدیث دی او د تکفیر د سیئاتو نور ګنهونه مراد دي فلا تکرار، او علامه بغداد رحمه الله په روح المعاني کې یو فرق دا کړی دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي مراد له تکفیر څخه ستر في الدنیا دی او مراد له مغفرت څخه تجاوز دی تر هغو په اخیرت کي. او بل فرق یې دا کړی دی چي مفعول د یغفرلکم محذوف دی ای الذنوب او مراد له ذنوب څخه کبائر ګنهونه دي. او مراد له سیئات څخه صغائر ګنهونه دي او بل فرق یې په ماتقدم او ما تاخر سره کړی دی.

وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿۲۹﴾

او خدای ﷻ مالک د لوی فضل دی، والمقصود خدای پاک وایي چي دغه چي ماستاسي سره وعده کړې ده پر تقوی باندي دا زما فضل او احسان عظیم دی پر تاسي باندي لانه لایحب علی الله شیئ کما هو معتقد اهل السنة والجماعة خلافاً للمعتزلة، دوی وایي ثواب د حسناتو او د سیئاتو د بنده چي بلا توبه مړ سي په دوزخ سره پر خدای ﷻ واجبه ده والدلائل والجوابات في کتب العقائد.

دروېش وایي: چي قاضي بیضاوي په تفسیر کي د سورة البقرة وایي چي دوام پر صغیره ګناه مفضي وکبیره ته ګرځي، او همېشه توب پر کبیره ګناه منجر وکفر ته ګرځي اعاذنا الله، دروېش د مثال په توګه وایي چي یو سړی چي د نامحرمي ځواني بنځي سره په خلوت کي کښېني بلا حجاب او خبري ورسره کوي دا خو صغیره ګناه ده وروسته لمس بالشهوت او مچه ځندي واخلي دا هم صغیره ګناه ده اخیر الامر زناً ورسره وکړي دا خو کبیره ګناه ده، که چېرې دا سړی پر دې ګناه همېشه توب وکړي شیطان دا فکر په زړه کي وربیدا کړي چي دا بنځه بدون الجبر والاکراه زما سره زنی کوي بلکې په خپله خوښه دا کار زما سره کوي او زه هم په عوض کي د زنی روپی ورکوم نو دا ولي ګناه ده، مېره خو هم ولور ورکړي او دا بنځه په عوض کي د ولور جماع ورسره کوي او هغه خلګ روا بولي، او ما چي ورته کار وکړی زما دا ګناه ده؟ یعني په زړه کي یې د ګناه انکار پیدا سي فاذا بلغ هذا الحد فقد خلع ربقة الایمان عن عنقه.

دروېش وایي: چي وعلی هذا فقس سائر المعاصي الکبیرة بادنی تغییر في الزام الکفر علی المرتکب، خدای ﷻ دي نجات راکړي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا

پوه سه: چې دا جمله عطف ده پر "اذ انتم قليل آه" والمعنى اذكر اذ يمكربك الذين كفروا واذ قالوا اللهم آه" ولې چې دا سورت خو مدني دی وهذا المكر والقول كان بمكة.

پوه سه: چې ابن اسحق او نورو ګڼ شمېر راويانو رحمهم الله له ابن عباس او نورو ګڼ شمېر راويانو رضي الله عنهم څخه داسې روايت کړی دی چې د مکې قريشو چې وليدل چې انصارو د مدينې ايمان راوړی، نو ددوی دا خيال سو چې محمد ﷺ په غير کې د بلد ددوی چې مکه وه ډله پيدا کړه او دا يې هم وليدل چې د مکې مسلمانان په پټه مدينې ته هجرت کوي، نو دوی په دې پوه سوه چې دې سړي يعنې محمد ﷺ جلا دار او جوار پيدا کړی، او له دې څخه چې عليه الصلوة والسلام که هجرت وکړي هوړې به لښکر برابر کړي او پر موږ به حمله وکړي، نو د مکې د کافرانو سرداران په دار الندوة کې چې دا سرای د قصی بن کلاب وچې قريشو به هره مهمه مشوره په دغه سرای کې کوله سره جمع سوه او دا ورځ دوی يوم الزحمة بلله، او د سرای په دروازه کې يې نګهبان ودراوه چې هيڅ څوک مه راپرېږده زموږ پېله اجازې، نو شيطان له موقع څخه په استفادې سره څان د يو معتبر شيخ په لباس کې چې چپنه يې پر اوږو اچولې وه راغلی د سرای په دروازه کې ودرېدی، دروازه وان ورته وويل من الشيخ؟ ابليس ورته وويل شيخ من نجد، ما واورېدل چې تاسې په امر کې د محمد مشوره سره کوئ فاحضرمعكم زه به هم حاضر يم چې تاسې په دې مشوره کې څه واياست او نبايي چې زه به خپله رايه هم پېش کړم قريشو ورته وويل اجل ادخل فاجتمع ابليس معهم، او په دې مجلس کې تولې اشراف د قريشو حاضر وه لکه عتبه، شيبه، ابنا ربيعة، وطعيمة بن عدي والنضر بن الحارث وابو البختري بن هشام وزمعة بن الاسود وابوجهل بن هشام نبيه ومنبه ابنا حجاج وامية بن خلف وابو سفيان بن الحرب وجبير بن مطعم وحكيم بن خرام او دغه درې کسه وروسته مسلمانان سوي دي او پرته له مذکورو کسانو څخه نور کسان هم وه يا له قريشو يا له غير قريشو څخه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو یوه وبل ته سره وویل دا سړی یعنون محمداً ﷺ قد کان من امره مارئیتم یعني چې د توحید اعلان یې وکړی او زمونږ خدایان یې شرک وبالله او زمونږ ابا واجداد یې کافران وبلل الی غیر ذالک او زه په قسم سره دا وایم چې ډېره لېرې نه ده چې دا سړی به له خارجه څخه یعني له مدینې څخه پر مونږ حمله وکړي فاجمعوا فیه رأیاً وتشاوراً، نو تاسي خپل فکرونه سره متفق کړئ او ستره مشوره وکړئ، نو ابو البختري بن هشام وویل چې بندي یې کړئ او پښو ته یې زولنې ورواچوئ او دروازه پسې بنده کړئ بیا نو انتظار وکړئ وده ته د هغه شي چې دده امثالو شاعرانو ته چې تر ده دمخه وه لکه زهیر او نابغه ته ورپېښ سوی وٴ یعني الموت، نو شیخ نجدي علیه اللعنة وویل ما هذا لکم برائ دا ستاسي بنه رایه نه ده، ولي که تاسي دی بندي کړئ په یوه خونه کې او دروازه پسې را وتړئ نو دده امر به د جاسوس په ذریعه خپلو اصحابو ته په مدینه کې رسېږي، نو قریب ده چې دده اصحاب به پر تاسي حمله وکړي او ستاسي سره به جنګ شروع کړي تاسي به د هغو سره اخته یاست دی به له حبس څخه وباسي، قالوا صدق الشیخ النجدي، وروسته بیا ابو الاسود، ربیعة بن عمرو وویل چې له مکې څخه یې وباسئ فلا یضرنا ماصنع واین وقع اذا غاب عنا وفرغنا عنه، مونږ به په مکه کې خپل خورو ژوند کوو، شیخ نجدي علیه اللعنة دا رایه هم رد کړه، او وه یې ویل چې تاسي محمد نه دی لیدلی څه خورو ژبی دی او د خلګو زړونه په سبب د بلاغت او فصاحة او حلاوت و ځان ته راجلبوي، شیخ نجدي وویل که تاسي دا رایه وچلوئ دی خو به له مکې څخه وباسئ لکن ده په مدینه کې قومونه قومونه ملګري پر خپل دین پیدا کړي، نو جماعت چې پوره سي پر تاسي یرغل راوړي، نو نیست او نابود به مو وګرځوي او هر څه چې یې زړه غواړي په تاسي به هغه کار وکړي، بله تر دې بنه رایه مختاره کړئ قالوا صدق الشیخ النجدي لعنه الله، نو ابو جهل وویل چې زه هم یوه رایه لرم چې تاسي وهغې رایې ته تر اوسه نه یاست رسېدلي، خلګو ورته وویل وما هو یا ابو الحکم (د ابو جهل کنیت وٴ په عربو کې تولي قومي فیصلې به ده کولې) نو ابو جهل وویل چې د هر څو قبیلو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مشران چې دلته جمع دي هره قبيله دي يو دلاوره ځوان توره په لاس کې واخلي چې سره جمع سوه وردي سي ټوله دي په يوه صلاح محمد په توره ووهي او مړ دې کړي، وروسته به نو دده قوم بني هاشم او بني عبدمناف څه وکړي ددې ټولو قبيلو سره خو جنګ نه سي کولای اخير به په ديت راضي سي ديت چې سل اوښان دي مونږ به يې سره اندازه کړو غاړه به يې په وباسو.

دروېش وايي: چې د ډېرو خلګو په زړو کې دا سودا پيدا کېدل چې دومره قريش د محمد ﷺ څخه په عذاب وه او وژلو ته يې تړي وه، خو تر دې پخوا به يې يو سړی امر کړی وای چې ورسه محمد مړ کړه، ددې سودا ځواب د ابو جهل له رايي څخه معلومېږي چې که يو سړي عليه الصلوٰة والسلام وژلی وای د هري قبيلې څخه چې وای بني هاشمو د هغې سره جنګ کاوه او يوې قبيلې د بني هاشمو د جنګ توان نه درلودی لکثرتهم وشجاعتهم في الحروب، نو ځکه ابو جهل ملعون غوښتل چې دده قتل پر ټولو قبيلو تاوان وي، نو بني هاشم بيا د ټولو قبيلو سره د جنګ طاقت نه لري نو په ديت به راضي سي، شيخ نجدي عليه اللعنة وويل القول الحق ماقال هذا الرجل، نو جلسه پر قول د ابو جهل متفق پای ته ورسېدله، او شيخ نجدي عليه اللعنة پر تصويب د ابو جهل ملعون دا دوه شعرونه وويل.

الرائ رايان رائ ليس يعرفه ..... هاد ورائ كنصل السيف معروف
يكون او له عز و مكرمة ..... يو ماً وآخره حمد و تشريف
لعن الله تعالى قائلهما ابداً

ژباړه: رايه دوه قسمه ده يوه رايه هغه ده چې نه په پوهېږي هادي سړی، او بله رايه داسي ده لکه سر د توري چې هر سړی په پوهېږي، او د دويمي رايي اول عزت او مکرمت وي او اخير يې حمد او تشريف وي.

دروېش وايي: چې د قريشو جلسه چې ختمه سوه او پر قول د ابو جهل او د شيخ نجدي په تصويب پای ته ورسېدله، نو جبرائيل عليه السلام و عليه الصلوٰة والسلام ته راغلی او ورته وې ويل چې ته ننه شپه پر هغه ځای په کور کې چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ته پخوا پر بدبدي مه پر بدبڼه او د قریشو د اختلاف او اتفاق ټوله بیان یې ورته وکړی او ورته وه یې ویل چي ته ولاړ سه مدیني منورې ته هجرت وکړه.

نو چي ماخستن سو د شپې هغه ځوانان د مختلفو قبائلو سره د تورو راغله د علیه الصلوٰة والسلام پر کور راوګرځېدله او دې ته منتظر وه چي بیده سي نو به اجتماعي حمله پر وکړو.

سوال: ولي یې حمله په ویښه نه پر کوله. علیه الصلوٰة والسلام خو نه محافظ ببله خدایه درلودی او دوی دپر هم وه؟

خواب: لکه دمخه چي تېره سوه ابو جهل ودوی ته وویل چي ټوله په یوه پلا حمله پر وکړئ او وه یې وژنئ، نو د علیه الصلوٰة والسلام د بیداری په صورت کي خو داسي نه وه ممکنه، ولي د بیداری په صورت کي اول سړي چی دی په توره وهلی وای شاید په هغه وار یې علیه الصلوٰة والسلام وژلی وای، نو بیا به د ضارب پر قبیله تاوان وای او چي علیه الصلوٰة والسلام بیده وي ددوی زعم باطل دا وُ چي شاوخوا به پر راوګرځېږو او د ټولو د توري په ضرب سره به دی مړ کړو. نو علیه الصلوٰة والسلام ته چي ددوی اجتماع معلومه سوه، نو یې علي ﷺ ته وویل چي ته راسه زما پر ځای پرېوزه او زما هغه شین پټو چي پخوا علیه الصلوٰة والسلام پکښې بیدبدی پر ځان واچوه او بېغمه بیده سه تاته هیڅ ځوک ضرر نه سي رسولای.

دروبش وایي: چي دغه فراش د علیه الصلوٰة والسلام که څه هم ظاهراً د وینو فراش وُ لکن علي ﷺ په دې پر شوق بېغمه پر بیده سو، نو ابو جهل چي ددوی ملګری وُ داسي یې ووېل محمد وایي چي که تاسي زما متابعت وکړئ یعني پر ما ایمان راوړئ تاسي به شاهان د عربو وګرځئ او تاسي ته به داسي باغونه او جنتونه درکړل سي لکه د اُردن باغونه، او که تاسي دغسي ونه کړئ، نو ده لره به تاسي ذلیل یاست او ذبیح، بیا به وروسته تر مرګ تاسي ژوندي کېږي نو تاسي به داخلېږئ و اور ته او پکښې سوئ به، نو علیه الصلوٰة والسلام له کوره راووتی او یو مټ خاوره ورسره وه او علیه الصلوٰة والسلام د ابو جهل د خبري په جواب کي چي ابو جهل هم اورېدل داسي وویل نعم انا اقول ذالک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وانت احدهم، او خدای ﷻ ددوی پر سترګو د قدرت پرده واچول چې هیڅ چا نه لیدی او د هر یوه پر سر خاوري اچولې او دا آیت یې وایه یس ۞ وَالْقُرْاٰنِ الْحَكِيْمِ ۞ الی قوله فهم لا یبصرون" ولم یبق منهم رجل الا وقد وضع رسول الله ﷺ علی رأسه تراباً او دوی ټوله په ناستي لکه نشه داسي وه او علیه الصلوٰة والسلام ځندي ولاړی حیث اراد یعني د ابوبکر ؓ کور ته، وروسته وهغه خلګو ته چې د علیه الصلوٰة والسلام د وژلو لپاره راغلي وه یو بل سړی چې ددوی سره نه و راغلی، هغه راغلی پر خلګو یې ږغ وکړی چې څه کوئ چې لاناست یاست؟ هغو ورته وویل چې د محمد د وژلو انتظار کوو، هغه راغلي سړي ورته وویل خیبکم الله عزوجل والله خرج علیکم محمد او بیا ده ستاسي د ټولو پر سرو خاوري دراچولي دي او دی په خپل کار پسي ولاړی نو هر سړي چې به پر سر لاس کښېښو پر سر به یې خاوري پرتې وې، نو خلګو چې د دروازې تر چولو د علیه الصلوٰة والسلام کورته وکتل د علیه الصلوٰة والسلام پر بستر علي ؓ پروت دی او پر ځان یې د علیه الصلوٰة والسلام شین پټو اچولی دی. او دې خلګو د شپې سره وویل والله هذا محمد نائم علیه بردة فقام علي عن فراشه صلعم، نو دوی سره وویل چې رشتیا ده چې محمد د شپې وتلی دی.

دروښ وایي: چې نوره قصه به د علیه الصلوٰة والسلام د هجرت د سورة التوبة په تفسیر کې راسي ان شاء الله تعالی.

پوه سه: چې حاکم له علي بن الحسین بن علي ؓ څخه داسي بیان نقل کړی دی چې ځان یې رانیوی لپاره د طلب د رضا الهي علي ؓ وٴ، او هم داشعر علي ؓ ویلی دی:

وقیت بنفسي حر من وطی الحصی ..... ومن طاف بالبیت العتیق وبالحجر
رسول الله أخاف ان یمکروا به ..... فنجاه ذو الطول الا له من المکر

لِيُثْبِتُوْكَ اَوْ يَقْتُلُوْكَ اَوْ يُخْرِجُوْكَ ؕ وَيَمْكُرُوْنَ وَيَمْكُرُ اللّٰهُ ؕ

چې تا بندي کړي او ودي ټړي لکه ابو البختري چې د قریشو په اجلاس کې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دغه توجیه کړې وه، او یا تا مړ کړي لکه ابو جهل چې دا تجویز په مجلس عام کې پیش کړی ؤ او شیخ نجدي لعنة الله علیه هم په دغه تجویز راضي سوی ؤ، او یا تا له مکې څخه وباسي لکه اخو بني عامر چې دا تجویز ومجلس ته وړاندې کړی ؤ، او دوی چم کاوه ستا وقتل ته او خدای ﷻ دوی ته چم وکړی.

پوه سه: چې مکر چم ته وایي او حقیقت د چم پر خدای ﷻ محال دی ولې چې چم کول شان د عاجز دی، نو مراد ځندې جزاً د مکر ددوی ده چې علیه الصلوٰة والسلام یې ددوی له مکره وساتی کمامر تفصیله لکن تعبیر مکر سره للوقوعه مجاوراً لمکرهم کما في قوله تعالی جزاء سیئة بمثلها.

وَاللّٰهُ خَيْرُ الْمَاكِرِيْنَ ۝

او خدای ﷻ د جزاً ورکونکو دی مکر کونکو ته.

پوه سه: چې ابن جریر رحمه الله له سعید بن جبیر رضي الله عنه څخه داسي روایت کړی دی چې علیه الصلوٰة والسلام په ورځ د بدر څو کسه صبراً ووژله (صبر قتل دا بولي چې په جنګ کې یې بندي ونسي او بیا یې قتل کړي) نو د بدر په غزا کې خو اوویا کسه اشیر بندیان سوه نو عقبه بن ابي محیط او طعمه بن عدي او نضر بن الحارث هغه دوه دمخه کافران چې علیه الصلوٰة والسلام قتل کړه او د نضر بن الحارث په قتل سره چې علیه الصلوٰة والسلام امر وکړی او مقداد بن الاسود رضي الله عنه دا نفر گرفتار کړی ؤ، نو مقداد و علیه الصلوٰة والسلام ته وویل چې دا خو زما بندي دی غرض یې دا ؤ چې د قتل امر زما په لاس کې دی، علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل چې نضر بن الحارث هغه نفر چې د کتاب الله قرآن دده هغه وینا وه چې په دې آیت کې خدای ﷻ داسي فرمایلي دي.

وَإِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا قَالُوْا

چې تلاوت وکړه سي پر دوی د آیاتو زمونږ چې قرآن کریم دوی وایي.

پوښتنه: د وروسته قول قائل خو یوازي نضر بن حارث ؤ، نو قالوا په صیغه د جمع څرنګه راوړه؟

ځواب: چونکه د کفارو نور قریش په قول د نضر راضي وه نو ځکه اسناد او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نسبت يې وتولو ته وکړی کما في قولهم بنو فلان قتلوا مع ان القاتل واحد منهم وکما في قوله تعالى "فعقروها" او سره ددې چې عاقر د صالح عليه السلام د اوښي يوازې قدار بن سالف چې اشقي الثمود ؤ اما نسبت د قتل د اوښي وتوله ثمود يانو ته وکړی ولي چې توله ثمود يان په قتل د سالف راضي وه، او په بل ځای کې د قرآن مجيد يې يوازې قدار ته کړی دی کما في قوله تعالى "اذ انبعث اشقاها"

قَدْ سَمِعْنَا لَوْ نَشَآءُ لَقُلْنَا مِثْلَ هَٰذَآ

مونږ قرآن واورېدی لکن که مونږ وغواړو مونږ ويلای سو مثل د قرآن.

دروېش وايي: چې دا ددوی غايت حماقت ؤ او مکابره ده له حق سره چې قرآن مبارک ؤ او نهايت عناد ؤ د عليه الصلوٰة والسلام سره ولي که ددوی د طاقت سره مثل د قرآن ويل پوره وای نو چا منع کړې وه جوړ کړی به يې وای. او سره ددې چې خدای پاک په قرآن مجيد کې دوی ته اعلان وکړی وَإِن كُنتُمْ فِى رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا فَأْتُوا۟ بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِۦ وَٱدْعُوا۟ شُهَدَآءَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٢٣﴾ (سورة البقرة)

او په بل اعلان کې يې ورته وويل قُل لَّئِنِ ٱجْتَمَعَتِ ٱلْإِنسُ وَٱلْجِنُّ عَلَىٰٓ أَن يَأْتُوا۟ بِمِثْلِ هَٰذَا الاية (سورة البقرة)

او لس کاله دا اعلان نه جاري وه لکن دوی مثل د يوه سورت د قرآن مجيد نه کړی جواب اخير الامر ومقارعة السيوف ته مجبوره سول نو ددوی طاقت د مثل د قرآن درلودای نو تر مقارعة السيوف خو مقارعة الالسنة اسانه وه.

إِنْ هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٣١﴾

نه دی قرآن مگر سطره الاولون ای کتبوه يعني اخبار د امم ماضيه ؤ.

پوه سه: چې اساطير جمع د اسطورة ده چې په معنی د مکتوبة ده کما قال صاحب روح البيان و امام المظهري، بغوي رحمه الله وايي چې نضر بن الحارث تاجر ؤ دی به فارس او حيرة ته په تجارت تلی، هورې به يې د رستم او اسفنديار قصې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او نوري قصې د عجمو به يې اورېدلې او هغه به يې سره جمع کولې، نو چې مکې ته راستون سو وه يې ليدل چې عليه الصلوٰة والسلام و قريشو ته قرآن وايي، نو نضر دا خبره وکړه قد سمعنا لو نشأ الآية، او قريشو ته به يې ويل قرآن او محمد د يوسف او د امرئة العزيز قصې درته کوي زه بيا د رستم او اسفنديار د جنګو قصې درته کوم.

وَإِذْ قَالُوا اللَّهُمَّ إِنْ كَانَ هَٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِنَ السَّمَاءِ أَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣٢﴾

په ياد کړه و مسلمانانو ته هغه وخت چې کفارو د مکې به ويل چې اى خدايه که چېرې وي دا قرآن حق او ستا له جانبه وي، نو پر موږ وه اوروه ډبرې د اسمان له خوا، يعني ولې چې موږ خو ځندي منکر يو لکه پر اصحاب الفيل او يا پر قوم لوط چې دي وه اورولې، او يا موږ ته راتګ وکړې يعني نازل کړې يو بل عذاب مولم درد ورکونکى.

پوه سه: چې دا خبره "اللهم آه" دوى استهزاء بالقرآن کوله او خلګو ته يې دا ښکاره کوله چې زموږ يقين دى پر بطلان د قرآن او پر کذب د حامل القرآن يعني محمد ﷺ.

پوه سه: چې نضر بن الحارث چې هغه دمخه خبره وکړه يعني لو نشأ لقلنا مثل هذا، عثمان بن مظعون ﷺ ورته وويل ان محمداً يقول لا اله الا الله، نضر ورته وويل فانا اقول لا اله الا الله لكن هذه يعني الاصنام بنات الله يعني د خداى لونې دي، نو ځکه يې موږ عبادت کوو تقرباً الى الله وروسته يې وويل "اللهم ان كان آه نو قائل ددغه قول هم نضر بن الحارث دى لكن صيغه د جمع يعني قالوا چې يې راوړه ولې چې نور قريش هم د نضر په دغو خبرو راضي وه.

دروېش وايي: چې پر دې خبره چې قائل ددې قول يوازې نضر بن الحارث و هغه آيت قرآني دلالت کوي سئال سائل بعذاب واقعٍ" ولې چې په هغه ځاى کې سائل په صيغه د مفرد راغلى دى فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَ اَنْتَ فِيْهِمْ ۚ وَمَا كَانَ اللّٰهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ ﴿۳۳﴾

نه دی خدای ﷻ چې دوی په عذاب کړي. کلمه د لام لپاره د تاکید د نفي ده او حال دادی چې ته اې محمد ﷺ په دوی کې یې یعنې په مکه کې او نه دې خدای پاک ودوی ته عذاب ورکونکی چې دوی طلب د مغفرت له خدایه څخه کوي او دوی وایي غفرانک ای نطلب غفرانک، ولي عذاب چې نازل سي عام وي د هم دې سببه خدای ﷻ پر هیڅ قوم د کافرانو عذاب د استیصال نه دی نازل کړی تر هغو چې نبي او مؤمنان له هغه قومه تللي نه وي.

اشاره: په دې آیت کې تنبیه ده پر تعظیم د نبي ﷺ او حفظ د حرمت دده دی عند الله، ولي چې علیه الصلوٰة والسلام خدای پاک رحمة للعالمین را استولی دی کما جاء في القرآن "وما ارسلناک الا رحمة للعالمین" والرحمة والعذاب ضدان چې نه سره جمع کېږي.

پوه سه: ځینې علماء رحمهم الله وایي چې ذات انور د علیه الصلوٰة والسلام هو الامان الاعظم او وروسته تر ده چې سنت او طریقه دده جاري وي هم امان اعظم دی، وهذه الآیة دلیل علی شرفه علیه الصلوٰة والسلام واحترامه عند الله، ولي دده وجود شریف په مکه کې یې سبب د امان د عبادو وګرځاوه وعدم نزول العذاب علیهم، ولو کانوا کافرین.

پوښتنه: عیسی ﷺ خدای پاک و اسمانو ته پورته کړی او د علیه الصلوٰة والسلام وجود شریف یې په مځکه کې وروسته تر مرینې پرېښو؟

ځواب: دده په جسم طاهر پورې د عالم د نظام اصلاح مربوطه ده، شیخ عطار وایي: خویشتن خواجه عرصات گفت ... انما انا رحمة مهداة گفت

دروېش وایي: چې که جسد اطهر دده مبارک اسمانو ته وړل سوی وای، نو دا بغاري به عبد الرحمن الجامي قدس سره پر چا وهلای.

ز مهجوری بر آمد جان عالم ..... ترحم یا نبي الله ترحم
تو ابر رحمتی آن به که گاهی ..... کنی برحال لب خشکان نگاهی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قضاً می انگند از راه مارا ..... خدا را از خدا درخواه مارا

الی اخیر قصیدته في مدح النبي العربي ﷺ.

پوه سه: چي په "هم يستغفرون" کي اختلاف دی ځینې علماً رحمهم الله وايي چي مراد استغفار دی د من بقي فيهم د ضعيفه مسلمانانو چي د هجرت طاقت يې نه درلودی چي ددوی له منځه ولاړ سي، او ځینې علماً رحمهم الله وايي چي في اصلابهم من يستغفر الله، وقيل فيهم من يؤل اخير امره الى الاستغفار من الشرک لکه ابو سفيان وغيره چي وروسته مسلمانان سوله.

امير المؤمنين علي المرتضى رضي الله عنه وايي چي په مځکه کي دوه امانه وه يو خو پورته سو يعني وفات سو يعني رسول الله ﷺ، او يو امان باقي دی چي استغفار دی، او دا آيت يې دليل وګرځاوه "وماکان الله ليعذبهم وانت فيهم الى اخير الآية" په نفائس المجالس کې وايي چي مؤمن صادق په ايمان په اخيرت کي خدای ﷻ نه په عذابوي ولي چي ددوی نبي به په ورځ دقيامت ددوی په منځ کي وي، وقد قال الله تعالى وماکان الله ليعذبهم وانت فيهم الآية، يو محقق وايي

گفت حق کآمرزش ازمن می طلب ..... کان طلب مرعفورا باشد سبب

از پی هر گناه ار بشنوی ..... هست استغفار تریاقی قوی

دروېش وايي: چي محمد بن اسحاق رحمه الله ددې په تفسير کي داسي ويلي دي چي دا آيت حکايت دی د کفارو د قول او متصل په آيت اولی پورې دی چي پر موږ خدای پاک عذاب نه نازلوي، ولي چي "ونحن نستغفره" او خدای پاک هغه امت نه په عذابوي چي نبي يې ورسره وي او محمد ﷺ خو په موږ کي موجود دی انتهی، فقير وايي چي دا تفسير ليس بشيئ ولي چي کفار د مکې کله عقيده درلوده د عليه الصلوٰة والسلام د نبوت، که يې عقيده درلودای، خو ايمان به يې پر راوړی وای، دوی عليه الصلوٰة والسلام نبي نه باله بلکې کاهن يا شاعر يا مجنون يې باله نعوذ بالله من ذالک.

وَمَا لَهُمْ أَلَّا يُعَذِّبَهُمُ اللَّهُ

او څه سبب دوی لره چي دوی ته به عذاب نه ورکوي خدای ﷻ يعني لاحظ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لهم في ذالک بعد زوال المانع وهو کون علیه الصلوٰة والسلام فیهم وموجب د امهال چي استغفار و، دا ترجمه روح البیان، روح المعاني وغیره کړې ده، نو هغه تفسیر چي مظهري رحمه الله کړی دی وهذا عبارته وانت کنت فیهم وان کانوا یستغفرون انتهی مخالف لصریح نص القرآن یعني وماکان الله لیعذبهم ۞

وَهُمْ يَصُدُّونَ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ

او دوی منع کوي مذکورین کسان له مسجد حرام څخه یعني عن الطواف بالبیت الحرام کما وقع منهم هذا المنع څه وخت چي علیه الصلوٰة والسلام سره د ځورلس یا پینځه لس سوه اصحابو کرامو رضي الله عنهم په نیت د عمرې راغلي وه په کال د حدیبیه او کفار مکه یې مانع وګرځېدل چي بیان یې به وروسته پر خپل ځای راسي ان شاء الله تعالی.

پوه سه: چي د "یصدون" مفعول محذوف دی ای النبي ﷺ والمؤمنین، په "وهم" کي کلمه د واو حالیه ده.

وَمَا كَانُوٓا۟ أَوْلِيَآءَهُۥٓ

دوی نه وه متصرفان د مسجد حرام، حسن بصري رحمه الله وایي چي قریشو د مکې به ویل چي موږ اولیاء د مسجد حرام یو هر څوک چي منع کوو لکه علیه الصلوٰة والسلام و اصحابه رضي الله عنهم او هر چا ته چي اجازه د دخول ورکوو زموږ خوښه او اختیار دی فرد الله تعالی علیهم بهذه الآیة.

إِنْ أَوْلِيَآؤُهُۥٓ إِلَّا ٱلْمُتَّقُونَ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ۝

نه دي اولیاء د مسجد حرام مګر هغه چي له شرک څخه خلاص وي لکه علیه الصلوٰة والسلام او اصحاب کرام رضي الله عنهم، لکن اکثره د عربو په دغه نه پوهېږي چي قریش دی چي موږ لره دعوی د ولایت د مسجد الحرام نه ښایي، ولي چي مسجد حرام په ټوله نړۍ کي محترم او پاک ځای دی باید اولیاء یې هم پاک خلګ وي یعني له شرک څخه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِنْدَ الْبَيْتِ إِلَّا مُكَآءً وَتَصْدِيَةً فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُونَ ۝

او نه وُ صلوٰة ددوی یعني الدعا په نېږد بیت الله مګر نه مکا یعني شېپلکی (مکا په اصل کي د یو مرغه نوم دی په حجاز کي چې دی دا شېپلکی کوي نو پردې تقدیر مضاف محذوف دی ای الا صوت مکا)

پوه سه: چې تصدیه په پښتو کي وچک چکو ته وایي، نو تاسي خوند وځکئ د عذاب په سبب د کفر ستاسي، بغوي رحمه الله وایي چې ابن عباس رضي الله عنه (یعني رئیس المفسرین لکتاب الله تعالی) وایي چې قریشو پر بیت الله یکلخته لځ لغړ طواف کاوه شېپلکی او چک چکې به یې کولې دوی دا د عبادت یوه نوع ګڼل لکه بت پرستي چې ددوی په زعم فاسد سره عبادت د الله وُ، او مقاتل رحمه الله وایي هغه وخت چې علیه الصلوٰة والسلام په مکه مکرمه کي وُ او پر لمانځه به ودرېدی دوه کسه به راغله پر راسته بغل به ورته ودرېدل او دې دوو به شېپلکی کاوه او دوه کسه به چپه اړخ ته ورته ودرېدل هغو به چک چکي کولې او دا کسان د عبد الدار د قبیلې وه، غرض یې دا وُ چې پر علیه الصلوٰة والسلام لمونځ ګډوډ کړي.

دروښ وایي: چې پر دې تقدیر له صلوٰتهم ځخه دعا نه ده مراد بلکې شبه د صلوٰة ددوی په خیال یعني دغه ګډوډي په لمانځه کي د علیه الصلوٰة والسلام.

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ لِيَصُدُّوا عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ

په تحقیق سره هغه کسان چې کفر کوي (والمراد به الشرک ههنا) دوی خرڅوي او مصرفوي مالونه خپل ددې لپاره چې خلګ منع کړي له لاري ځخه د خدای ﷻ یعني دین الله وهو دین الاسلام بمتابعة النبي ﷺ.

پوه سه: چې بغوي رحمه الله وایي چې دا آیت په شان کي د هغو کسانو نازل سوی دی چې لښکر ته د مکې مکرمې یې چې د بدر پر ځوا راروان وُ دوډی او غوښي یې ورکولې چې هغه کسان دوولس نفره وه لکه ابو جهل بن هشام، عتبه، شیبه زامن د ربیعه، بنیه، منبه زامن د حجاج، ابو البختري زوی د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هشام، نضر بن الحارث، حكيم بن جزام، ابي بن خلف، زمعة بن الاسود، حارث بن عامر او عبا بن عبد المطلب وكلهم من قريش او هر يوه پسه نوښ سره لس اوښان حلالول، ابن اسحاق په خپل سند سره وايي چې قريشو ته چې قتل او مصيبت د مخورو کسانو او ددوی د رئيسانو بې ساری ورپيښ سو چې د چا زامن او د چا پلرونه او د چا ورونه پکښې قتل سوه او پسه دې شرمناکي ماتي سره مکې ته راغله، نو عبدالله بن ابي او عکرمه بن ابي جهل او صفوان بن اميه او نور ځلګ د قريشو هم ورسره وه، نو دوی و ابو سفيان ته ورغله او خبري يې ورسره وکړې او هر چا چې به د ابو سفيان په قافله کې مال درلودی دې ورغلو کسانو وه ابو سفيان او نورو تجارت درلودونکو کسانو ته وويل چې محمد زموږ ټوله خيار او اشراف راووژل، نو دغه اموال تجارتي دي د محمد سره پر جنګ ولګول سي شايد چې موږ به له ده څخه خپل واړي کسات واخلو، نو د قافلې ټولو تجارانو ددوی خبره ومنله ففيهم نزل هذه الآية "ان الذين كفروا ينفقون اموالهم الى قوله يحشرون".

پوښتنه: تا دمخه وويل چې دا آيت په باره کې د دوولس کسانو نازل دی چې لښکر ته د کفارو چې بدر ته روان وه غوښتي او دوهمه يې ورکوله؟

ځواب: دا دواړې واقعې د بدر د جنګ سره تعلق لري، ځو امکان لري چې آيت دي په دواړو کې نازل وي يعني بتکرار النزول كما قالوا في سورة الفاتحة انها نزلت مرتين فاحفظ هذا السانح العزيز لعلك لاتجده في غير هذا التفسير ومن الله التوفيق.

فَسَيُنفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ يُغْلَبُونَ ۗ

ژر دی چې دوی به نفقه او مصرف کړي مالونه وروسته به دغه مصرف کړي مالونه ودوی ته غم او پښېماني وګرځي يعني په دنيا کې چې په صرف اموال سره اصل مقصود چې ورکول د دين د اسلام وَ او يا قتل د عليه الصلوٰة والسلام او د مؤمنانو وَ ددوی په لاس نه ورغلی نو به کاشکي کاشکي وايي چې مالونه مونه واى مصرف کړي او دا غم د اموالو به ددوی سره ورسره وي "ثم يغلبون" يعني اخير

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الامر به دوی مغلوب سي وان کان الغلبة لهم احیانا کما في غزوة احد لان الحرب سجال، جنګ لکه د څاه سولاغه یو وار یو اوبه په راکاږي بل وار بل څوک.

وَالَّذِينَ كَفَرُوا إِلَىٰ جَهَنَّمَ يُحْشَرُونَ ﴿٣٦﴾

او هغه کسان چي کافران وي په هره نوع چي کافر وي وه دوزخ ته به د ملکو له خوا سوق او شړل کیږي.

لِيَمِيزَ اللَّهُ الْخَبِيثَ مِنَ الطَّيِّبِ

چي خدای ﷻ سره جلا کوي کافر او مؤمن، او یا معنی داده چي فساد چي کفر دی د اصلاح څخه چي ایمان دی جلا کوي.

پوه سه: چي کلمه د لام متعلق ده په یحشرون یا یغلبون پورې، او یا مراد له خبیث څخه هغه مال دی چي کافرانو په عداوت کي د علیه الصلوٰة والسلام مصرف کاوه، او له طیب څخه هغه مالونه مراد دي چي مسلمانانو په نصرت کي د دین اسلام او د علیه الصلوٰة والسلام مصرفول.

وَيَجْعَلَ الْخَبِيثَ بَعْضَهُ عَلَىٰ بَعْضٍ فَيَرْكُمَهُ جَمِيعًا فَيَجْعَلَهُ فِي جَهَنَّمَ ۚ أُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴿٣٧﴾

پوه سه: چي مراد دلته له خبیث څخه لازما کافر مراد دی، او "یجعل" منصوب دی عطف دی پر یمیز باندې چي هغه منصوب ؤ په ان مقدره سره وروسته تر لام جاره کما هو القانون النحوي. او ګرځوي خدای پاک خبیث یعني الکافر علی بعض پر بل کافر، نو جمع کوي دوی یو د بل سره تولـه بیـا بـلا فصـل په جهنم کي غورځوي او دا کسان دي خسران او تاوان والا، ای الکاملون في الخسران، ولي چي دوی په خپلو اموالو دوزخ وڅان ته رانیوی، سعدي شیرازي قدس سره د عبرت په بیتو کي وایي:

کوس رحلت بکوفت دست اجل ..... ای دوچشم وداع سر بکنید
ای کف ودست وساعد وبازو ..... همه تو دیع یکدیگر بکنید
برمن افتاده مرگ دشمن کام ..... اخیر ای دوستان حذر بکنید
روز گارم بشد به نادانی ..... من نکردم شما حذر بکنید

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قُلْ لِّلَّذِينَ كَفَرُوٓا إِن يَنتَهُوا يُغْفَرْ لَهُم مَّا قَدْ سَلَفَ

ته ووایه و هغو کسانو ته چې کفر یې کاوه که چېرې دوی نهي او منع سي له کفر څخه او د عداوت د رسول او د جنګ سره دده، وه به بخښل کړل سي ودوی ته ما مضی د کفر او فساد او نور ګنهونه لکه عداوة بالرسول.

پوه سه: چې له جنګیانو څخه د بدر او د احد ډېرو کسانو وروسته ایمان راوړی دی لکه ابو سفیان بن حرب، صفوان بن امیه عکرمه بن ابي جهل، عمرو بن العاص وغیرهم خلق کثیر، او په بندیانو کې د بدر دغو کسانو وروسته ایمان راوړی دی عباس بن عبد المطلب، عقیل بن ابي طالب، نوفل بن حارث، ابو العاص بن ربیع، ابو عزیز بن عمیر، صائب بن ابي جیش، خالد بن هشام مخزومي، عبد الله بن ابي السائب، مطلب بن حنطب، ابو وداعة سهمي، عبد الله بن ابي خلف، وهب بن عمیر، سهل بن عمر، عبد الله بن زمعة چې د ام المؤمنین سودة رضي الله عنها وروروڼ، قیس بن سائب، نسطاس مولی امیة بن خلف، سائب بن عبید اسلم یوم بدر او فدیه د ځان چې پر اساری د بدر مقرره کړه سوې یې هم ورکړه، وعدي بن خیار اسلم یوم الفتح، الولید بن الولید، خالد چې فدیه یې ورکړه بیا یې ایمان راوړی، خلګو ورته وویل چې ایمان ته دي نیت ډ نو فدیه دي ولي ورکوله؟ ده ورته وویل ما فدیه له دې سببه دمخه ورکړه چې خلګ ونه وایي چې دی له بنده څخه په عذاب ډ او فدیه یې نه درلوده، نو ایمان یې راوړی، خالد چې ایمان راوړی او مکې مکرمې ته ولاړی خپل ماماګانو بندي کړی، نو علیه الصلوٰة والسلام د خالد د خلاصیدلو لپاره دعا قنوت وایه په لمانځه کې چې دې ته قنوت نازله وایي هغه قنوت د وترو نه دی مراد چې په وترو کې ویل کېږي

پوه سه: چې مسلم له عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې زه ورغلم و نبي علیه السلام ته د بیعت لپاره ما ورته وویل چې رسته لاس دي خلاص کړه یعني د بیعت لپاره، ده چې لاس خلاص کړی ما لاس تهول کړی ده مبارک راته وویل مالک یا عمرو یعني ولي دي لاس تهول کړی ما ورته وویل چې زه یو شرط ایږدم، ده مبارک راته وویل ما ذا یعني ستا شرط څه شی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی، ما ورته وویل چې ما ته به خدای ﷻ بخښه کوي د تېرو ګنهونو، ده مبارک راته وویل چې اسلام نروي دمخه ګنهونه وان الهجرة تهدم ماکان قبلها وان الحج یهدم ماکان، والمراد والله اعلم ماسوی حقوق العباد کالدین والغصب والسرقة وغیرها.

وَإِنْ يَعُودُوا فَقَدْ مَضَتْ سُنَّتُ الْأَوَّلِينَ ۝

او که کافران بیرته جنګ ته راوګرځي د علیه الصلوٰة والسلام نو په تحقیق دمخه تېره سوې ده طریقه زما د اولینو کافرانو سره چې دوی به د انبیا ﷺ ومخالفت ته دوام ورکړی مابه هلاک کړه، کما جری علی اهل بدر، نو دوی دې هم د هغه سنت په انتظار اوسي.

وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ ۝

او داسي جنګ کوئ اې مؤمنانو د کافرانو سره تر هغه وخته پورې چې فتنه او فساد په مځکه وي یعني چې کافران مسلمانان سي او یا جزیه ورکوي په ډېر ذلت سره کما قال الله تعالی او یعطوا الجزیة عن ید وهم صاغرون" او سي دین ټوله د خدای ﷻ.

پوه سه: پوه چې په دې آیت کې "کان" تامه دی او مراد له دین څخه دلته قهر او غلبه او حکم او ملک چې دا ټوله معاني د دین دي کما ذکره في القاموس.

سوال: له دین څخه ولې متعارفه معنا نه ده مراد چې ملت اسلام دی؟

ځواب: که ملت اسلام مراد سي نو معنا د آیت داسي کېږي چې دین د ټولو ځلګو دین د اسلام ګرځي، نو بیا یې د هغه آیت سره تعارض راځي او یعفوا الجزیة آه کما مر قریباً فافهم.

فَإِنِ انْتَهَوْا فَإِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ۝

که دوی یعني کافران نهي او منع سي له کفر څخه، نو په تحقیق خدای ﷻ خبر دی په هغه شي چې دوی یې عمل کوي یعني خدای ﷻ به دوی ته جزا ورکوي عن جمیع اعمالهم ان خیر فخیر وان شر فشر، عن ابن عمر ﷺ قال قال رسول الله ﷺ امرت ان اقاتل الناس حتی یشهدوا ان لا اله الا الله وان محمداً

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رسول الله ويقيموا الصلوٰة ويؤتوا الزكوٰة فاذا فعلوا ذالک عصموا مني دمائهم واموالهم الا بحق الاسلام، قال السيوطي رحمه الله هذا حديث متواترة، او يا د آيت معنا داده ان نتهوا عن القتال اما بالاسلام او باعطاء الجزية فان الله بما يعملون بصير، يعني تاسي جنگ مه ورسره كوئ لعدم وجود شرط القتال وهو الكفر وعدم اعطاء الجزية لكن خداى عزوجل دوى ته د كفر او اسلام او د اعمال حسنه او سيئه جزاء وركوي.

مسئله: مسلمانان به د اهل ذمه وو سره چي جزيه وركوي داسي معامله كوي لكه د مسلمانانو سره يعني ظلم به نه پر كوي مالونه به يې ناحقه نه خوري او نور ورته كارونه به نه ورسره كوي حتى چي په حديث شريف كي راغلي دي چي روايت يې ابو داؤد كړى دى راغلي دي چي رسول الله ﷺ وايي "الا من ظلم معاهداً او انتقصه او كلفه فوق طاقته او اخذ منه شيئ بغير طيب نفس فانا حجيجه يوم القيامة، يعني زه د هغه اهل ذمه وو له خوا دليل ورسره وايم او باز خواست ځندي كوم.

ژباړه: آگاه اوسئ كه چا ظلم وكړى پر اهل ذمه باندي او يا يې حق كم وركړى او يا يې مكلف كړى په درنه جزيه سره دده تر طاقت بالا او يا يې واخستى له معاهد څخه يو شى بېله دده د رضا. نو عليه الصلوٰة والسلام وايي چي زه دلائل ورسره وايم د معاهد له خوا په ورځ د قيامت.

وَإِنْ تَوَلَّوْا فَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ مَوْلٰىكُمْ ۭ نِعْمَ الْمَوْلٰى وَنِعْمَ النَّصِيْرُ ۝

او كه اعراض وكړي كافران له قبول څخه د دين اسلام او له كفر څخه منع نه سي، او يا معنا داده تولوا عن الانقياد ولم ينتهوا عن القتال، نو پوه سئ چي خداى عزوجل مولى يعني ناصر دى، نو پر خداى پاك اعتماد وكړئ تاسي وقتال ته اماده سي او باك مه كوئ په عداوت سره ددوى كه څه هم دوى تر تاسي په سود وارونه ډېر وي كما في بدر، او بنه بادار دى خداى عزوجل چي خپل دوستان ضائع نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پرېږدي او ښه کومک کونکی دی چې نه سي مغلوبه کېدای هغه څوک چې خدای ﷻ يې ناصر او مدد گار وي.

اللهم انصر الاسلام والمسلمين ودمر واهلک اعداً الدين من المشرکين واليهود والنصارى خصوصاً الامريکيين، اللهم مزقهم کل ممزق مزقة لاعدائک انتصاراً لاوليائک اللهم دمرهم وزلولهم زلزالاً شديداً واشلبهم مدد الامهال وغلى ايديهم واربط على قلوبهم ولا تبلغهم الآمال اللهم اشغل الظالمين بالظالمين واخرج المؤمنين من بينهم سالمين وغانمين، واهدنا الى صراط المستقيم بحرمة القرآن العظيم.

دروښ وايي: چې چې د نهم جزء تفسير په خير او عافيت پر پينځلس د شعبان وقت الظهر سنه ۱۴۲۸ هـ وپای ته ورسېدی او تفسير د لسم جزء شروع کېدونکی دی ان شآ الله اللهم وفقني لتفسير هذا الجزء العاشر بالخير والعافية واجعله لي صدقة جارية الى يوم القيامة والحمد لله والصلوٰة على عباده الذين اصطفىٰ.

پوه سه: چې امام رباني مجدد الف ثاني شيخ احمد السرهندي قدس سره السامي په حصه اول دفتر اول کې صرف دا مصرع راوړې ده "فلا طبيب لها ولا راق" او په هامش کې داسې وايي روزی یک اعرابی بآواز بلند این ابیات می خواند آنحضرت ﷺ که شنیدند محضوظ شد وبتکرار آن امر نمود

کل صبح و کل اشراقی ..... تبکی عینی بدمع مشتاقی
قد لسعت حية الهوى کبدی ..... فلا طبيب لها و لا راقی
الا الحبيب الذي شغفت به ..... فعنده رقيتی و ترياقی


تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سکين او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner



الجزء العاشر

وَاعْلَمُوا



حضرت مولانا محمد عبيد الله الأيوبي

الكندهاري الحنفي النقشبندي

مكتبة التراث والجود

كاسي روڈ كوئٹه بلوچستان

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

پیل په تاریخ اوولس شعبان المبارک (برات) وروسته د سهار تر لمانځه په ورځ د چهارشنبې سنه ۱۴۲۸ هـ ق.

رَبِّ يَسِّرْ وَلَا تُعَسِّرْ وَتَمِّمْ بِالْخَيْرِ وَبِكَ نَسْتَعِينُ يَا فَتَّاحُ.

وَاعْلَمُوا أَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِنْ شَيْءٍ

پوه سئ اې مؤمنانو هغه مال چې تاسي په غنیمت راوړی وي یو لږ شی.

فائده: د کلمه "ما" حق دلته دا ؤ چې له "ان" څخه جلا لیکل سوی وای، ولې دا "ما" موصوله دی په معنا د الذي کما في قوله تعالى ان ما توعدون لآت" لکن متصل یې ولیکی لرسم المصحف العثماني ای الذي.

پوه سه: چې غنیمت هغه مال ته وایي هر شی چې وي چې له کافره په زوره او غلبه د مسلمانانو لاسته ورسي، والغنم في الاصل الفوز بالشيئ "من شيئ" حال دی له عائد څخه د موصول المقدر في غنمتم ای غنمتوه "شئ" یې نکره راوړی ددې لپاره چې هر شی چې وي حتی الخیط والمخیط لکن سلب د مقتول د قاتل دی که امام داسي حکم کړی ؤ من قتل قتيلاً فله سلبه.

مسئله: که یو یا دوه یا درې مثلاً کسان دار حرب ته داخل سي مسارقةً بغیر اذن الامام، هورې له بعض کافرانو څخه غنیمت تر لاسه کړي یا په حمله او یا په غلا سره په هغه مال کي چې دوی یې تر لاسه کړي خمس نسته پکښې، ولې چې خمس په هغه مال کي سته چې غنیمت وي او غنیمت کمامر هغه دی چې قهراً او غلبةً په لاس کښېوزي دلته خو داغسي نه ده، او امام شافعي رحمه الله خمس پکښې وایي.

مسئله: د کافرانو د بندیانو په باره کي امام لره اختیار دی که یې وژني او که یې مفت ایله کوي او که فدیه ځندي اخلي. عام مفسرین وایي چې دا آیت په بدر کي نازل سوی دی، او بعض مفسران وایي چې په غزا کي د بني قینقاع نازل سوی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی چي وروسته تر بدر یوه میاشت او دري ورځي چي دهرش میاشتي د هجرت نبوي پوره سوي، په حدیث کي د عبادة بن صامت ﷺ راغلي دي چي علیه الصلوٰة والسلام به مسلمانانو غازیانو ته ویل "ادوا الخیاط والمخیط" یعني یو سپینسی او ستن راوړی او که یې ځان ساتی له غلول ځخه یعني له غلا ځخدد غنیمت فانه عار علی صاحبه یوم القیامة رواه الترمذي.

مسئله: که مځکي او باغونه د غازیانو په لاس ورغلي ددې اختیار هم د امام په لاس کي دی پر هر چا چي یې تقسیموي.

فَأَنَّ لِلّٰهِ خُمُسَهٗ

خالص خدای ﷻ لره ده پینځمه حصه د هغه مال.

پوه سه: چي خدای ﷻ خمس الغنائم پر خپل ملک پرېښو او د غانمین هیڅ ملک نسته پکښي او باقي څلور حصې د غانمینو دي.

مسئله: حنیفیه وایي چي خمس د غنیمت حق قائم بنفسه دی واجب په ذمه کي د غنائمو نه دی ولي چې ددوی ملک نه دی لکه زکوٰة چي په ذمه کي د مکلفینو لازم دی، نو ځکه زکوٰة له اوساخ ځخه د خلګو دی چي نه رسول الله ﷺ او نه آل ته دده چي سادات کرام دي روا دی لشرافتهم، او خمس ورته روا دی.

فائده: د فأ کلمه یې ددې لپاره راوړه چي په "ما" کي معنی د شرط وه، جمله د "ان لله خمسه" محلاً مرفوع ده مبتدأ ده او خبر یې محذوف دی، والتقدیر ان لله خمسه حق" او یا خبر د مبتدأ محذوف دی ای فالحکم ان لله خمسه کذا في روح المعاني والمظهري وروح البیان.

پوه سه: چي خدای پاک وروستني آیت کي مصارف د خپل حق خاص بیانوي.

وَلِلرَّسُوْلِ وَلِذِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ

او د رسول ﷺ ته او وخاوندانو ته د قرابت د علیه الصلوٰة والسلام.

دروښ وایي: چي په ذوی القربی کي اختلاف دی، بعض علماً رحمهم الله وایي چي ټوله قریش دي، مجاهد او علي بن حسین رحمهم الله وایي چي فقط بني هاشم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دي، او امام شافعي رحمه الله وايي چي بنو هاشم، بنو عبد المطلب او بني عبد مناف دي، والاول مذهب الحنفية كما يفهم من عبارة المظهري.

دروښ وايي: چي دا مظهري دی چي د حنفيه مذهب او شافعيه مذهب يې سره جلا کړی کمامر من قبل، او علامه بغدادي په روح المعاني کي په تفسير کي د جزء عاشر مذهب د حنفيانو داسي بيان کړی دی "واربدبهم (ای بذی القربی) بنو هاشم وبنو المطلب المسلمون آه، يعني صرف بني عبدشمس او بني نوفل څندي وتلي دي.

پوه سه: چي د عليه الصلوٰة والسلام نسب دادی محمد ﷺ بن عبد الله بن عبد المطلب بن هاشم بن عبد مناف (د عبد مناف څلور زامن وه هاشم، مطلب، عبدشمس او نوفل. او د هاشم دوه زامن وه عبد المطلب و اسد او د عبد المطلب لس زامن وه عبد الله، ابو طالب، حمزة، عباس، ابولهب، حارث او زبير درې په کوچني والي مړه سوه) بن کلاب بن مرة بن کعب بن لوی بن غالب بن فهر بن مالک بن النضر بن کنانة، نو د نضر اولاد قريش بولي دون ولد کنانة ومن فوقه.

فائده: د جبير بن مطعم رضي الله عنه روايت دی چي عليه الصلوٰة والسلام سهم د ذوی القربی ووښی، نو بنو مطلب ته يې ورکړی، نو ابن جبير رضي الله عنه وايي زه او عثمان بن عفان ورغلو و عليه الصلوٰة والسلام ته مور ووېل يا رسول الله هٰؤلاءِ اخواننا بني هاشم لاتنکر نفسهم ولي چي ته په دوی کي داخل يې، لکن زمور ورونو بنو المطلب ته دي ورکړه او مور دي منع کړو او سره ددې چي قرابت زمور ؤ او بنو المطلب تاته يو دي کمامر في بيان النسب. عليه الصلوٰة والسلام ورته ووېل بنو هاشم وبنو المطلب شيئ واحد وشبک بين اصابعه.

دروښ وايي: چي د عليه الصلوٰة والسلام ددې وينا مطلب دادی چي يو وخت قريشو يو قرارداد سره تصويب کړی او کاغذ يې نوشته کړی ؤ چي نه به د بني هاشمو سره څوک کښېني او نه به شی پر خرڅوي او نه به نکاح ورسره کوي تر څو چي دوی محمد مور ونه سپاري چي مور يې قتل کړو په دې قرارداد کي بنو المطلب نه سوه داخل بلکې د بني هاشمو سره و شعب ابي طالب ته ولاړل کذا في السنن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والمغازي، حاصل دادی چي بني هاشم او بني المطلب په جاهليت او اسلام کي سره موافق وه او يو د بل نصرت يې کاوه لافي مجرد النسب فقط ای لکونهم من بني عبد مناف والا فبني عبد الشمس وبني نوفل کلهم من اولاد عبد مناف فافهم.

فائده: په "لذوی القربی" سره يې لام راوګرځوی او داسي يې نه وويل وللرسول وذی القربی تاچي څوک ددې توهم ونه کړي چي ذوی القربی د رسول په حصه کي ورګډ دي "والیتامی" جمع د يتيم ده وهو الصغير المسلم چي پلار يې مړ وي نو چي فقير په خمس کي يوه حصه دي وده ته ورکړي.

پوه سه: چي د يتيم قيد په صغير سره له دې جهته دی چي په صحيح حديث کي راغلي دي چي روايت يې له حضرت علي ﷺ څخه سوی دی لايتم بعد الاحتلام رواه ابو داؤد "والمساکين" جمع د مسکين ده چي اهل د فاقه او حاجت وي له مسلمانانو څخه.

وَابْنِ السَّبِيْلِ

د لاري زوی وهو المسافر البعيد عن ماله، وان کان له مال في وطنه.

دروښ وايي: چي لام د لله وللرسول ولذی القربی مع المعطوفات لپاره د استحقاق دی، نو له ظاهره د آيت داسي فهمېږي چي مصارف د خمس شپږ دي لکن جمهور د علماؤ او فقهاؤ رحمهم الله وايي چي ذکر د خدای ﷻ لپاره د تعظيم دی او لپاره د شروع د کلام په نامه د خدای ﷻ تبرکاً فان الدنيا والآخرة کلها له تعالی، نو د غنيمت خمس دي شپږ ځايه نه کوي بان يصرف سهم منها الی الله تعالی وذهب بعضهم الی انه يسدس ويصرف سدسه تعالی الی عمارة الکعبة که کعبه مبارکه نژدې وه، او که نه وه نژدې په يوه مسجد کي دې مصرف کړي په هغه ځای کي چېرې چي خمس واجب سوی وي، او بعض علماً رحمهم الله وايي چي و سهم الرسول ته دې ورضم کړي، او د رسول الله ﷺ سهم ساقط سو په وفات سره د عليه الصلوٰة والسلام لان الانبياً عليهم السلام لايورثون کما ورد في الحديث الصحيح، او ابن الشيخ وايي چي د عليه الصلوٰة والسلام خليفه په نبوت کي څوک نه وؤ، نو د سهم خليفه يې هم څوک نه سي کېدای هذا عند الامام الاعظم رحمه الله او امام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شافعي رحمه الله وايي چي د عليه الصلوٰة والسلام سهم دي و مسلمانانو و مصالح ته ومافيه قوة الاسلام ورضم كړل سي، او د ذوى القربى سهم هم په وفات سره د عليه الصلوٰة والسلام ساقط سو فلا يعطي لهم لاجل قرابتهم بل يعطي لفقرهم، او عليه الصلوٰة والسلام چي ذوى القربى ته سهم وركاوه په سبب د قرابت نه د فقر حتى چي عباس بن عبد المطلب رضي الله عنه ته يې هم برخه وركوله مع غناه وكثرة ماله، مطلب دادى چي ذوى القربى د نورو فقراؤ سره برابر دي يعني په فقراؤ كي داخل دي، نو ذوى القربى دي تر نورو مقدم كوي په سبب د قرابت ددوى او اغنياؤ ته د ذوى القربى دي نه وركوي.

مسئله مهمه: په شرح معاني الآثار للامام ابو جعفر الطحاوي رحمه الله اعلم الناس بمذهب ابي حنيفة رحمه الله كي وايي چي د امام ابو حنيفه څخه روايت دى چي صدقات تهوله كه فرضي وي او كه نفلي روا دي وبني هاشمو ته والحرمة كانت في عهد النبي ﷺ لوصول خمس الخمس اليهم لا لشرافة النسب، نو په وروستى زمانه كي يعني په وفات د عليه الصلوٰة والسلام چي دوى خمس الخمس له لاسه وركړى، نو دوى ته صدقه روا ده قال الطحاوي رحمه الله وبالجواز نأخذ.

فائده: چي د پينځو برخو څخه دوې ساقطي سوې يعني سهم الرسول وسهم ذوى القربى، نو خمس د غنيمت به ننه ورځ درې برخي كوي لليتامى سهم وللمساكين سهم ولابناء السبيل سهم، په تحفه كي وايي چي دا درې دلي مصارف د خمس دي عندنا يعني عند الحنيفية رحمهم الله او هغه هم پر طريقه د استيعاب نه دى يعني خامخا به يې دې دروسرو دلو ته څه څه وركوي حتى كه يې يوه صنف ته وركړي هم روا ده او جمعيت هم نه دى شرط حتى و يوه سړي ته يې هم صرف روا دى.

دروښ وايي: چي داؤ مختصر بيان چي د علم التفسير د موضوع سره چي قرآن مبارك دى برابر او اختلافات د مذاهبو او دلائل د هر مذهب او بيا جوابات وركول د فقهاؤ رحمهم الله د مختصرو كتابو او د فتاوى وو د مذهب حنفي او د مختصرو كتابو د شروح سره سمون لري، او امام مظهري رحمه الله د خپل عادت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سره برابر تر دې ځایه پورې د آیتو تفصیل کړی دی، شعر

ومن مذهبی حب الدیار لاهلها ..... وللناس فیما یعشقون مذاهب

دروښ وایي: چې د بني هاشمو په باري کې ما د طحاوي قول ذکر کړی یو خو ددې سببه چې طحاوي رحمه الله هم فقیه دی او هم محدث دی کما یظهر من مطالعة کتابه شرح معاني الآثار، او بل دا چې طحاوي رحمه الله په اتفاق د حنیفیانو اعلم الناس بمذهب ابي حنیفه رحمه الله ګڼل سوی دی، او بل سبب دادی چې زمونږ په بلادو کې یعني افغانستان او پاکستان کې له بني هاشمو څخه نور نفر نه دي مشهوره بهله هغه قوم چې سیدان یې بولي چې د فاطمة الزهرى رضي الله عنها اولاد دي، نو خلګ عموماً د سید احترام لري، نو مزدوري او خدمت نه په کوي، نو چې صدقه هم نه سي ورته روا، نو دا سادات کرام چې مسکینان وي باید له لوړې څخه مړه سي فاعتقادي هو اعتقاد الطحاوي رحمه الله.

دروښ وایي: چې علماً او اهل الله رحمهم الله په اجتماع سره دا وایي چې امر التقوى فوق امر الفتوى والى هذا اشیر في الحدیث النبوي الصحیح استفت قلبک ولو افتاک المفتون، نو له دې کبله اغنیاؤ ته د ساداتو دا په کار ده چې کامل احتیاط وکړي په اخستلو کې د صدقاتو خصوصاً الزکوٰة لانها وسخ الاموال بالاتفاق، ولي چې دا احتمال باقي دی چې سبب د حرمت د صدقاتو دي پر دوی د شرافت نسبیه له کبله وي والله اعلم بالصواب والعلم بالاسباب عند علام الغیوب، ایوبي وایي.

تقوٰی کوچ سوه د عالَم ..... خصوصاً بیا د عالِم

نادر له دې څه مستثنی دي ..... اکثري حکم خو دادی

اِنْ كُنْتُمْ اٰمَنْتُمْ بِاللّٰهِ وَمَآ اَنْزَلْنَا عَلٰى عَبْدِنَا يَوْمَ الْفُرْقَانِ

که تاسي ایمان لرئ پر خدای ﷻ باندي په توحید سره او په دې سره چې خدای قادر مطلق دی او ناصر لرسوله والمؤمنین او ایمان پر ما انزل علی عبدنا من الآیات والمعجزات په ورځ د فرقان یعني په ورځ د فرق بین الحق والباطل وهو یوم بدر.

دروښ وایي: چې مظهري رحمه الله دا آیت یکلخته د ماقبل سره اولاً بې تعلقه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تفسیر کړی دی، او بیا یې د ماقبل سره تعلق ورکړی دی حیث قال چې ان کنتم شرط دی جزاً یې محذوفه ده دل علیه واعلموا في ابتداً هذا الجزاً ای انت کنتم آمنتم بالله، فاعلموا چې خدای ﷻ ګرځولی دی خمس الغنیمة للمذکورین في الآیة فسلموه الیهم او قطع کړی خپلي طمعي له هغه خمس څخه او قناعت وکړئ په اخماس باقیه وو سره.

پوه سه: نفس علم مقصود بالذات نه دی بلکې مقرون بالعمل دی وهذا هو تعلق هذه الآیة له ماقبل سره، او روح المعاني بعینه هم دغه تفسیر کړی دی، او دا قدر یې زیاته کړې ده چې ولي جزاً محذوفه بولي هغه ماقبل فاعلموا نه بولي له دې سببه چې تقدم د جزا پر شرط پر صحیح مذهب د اهل عربیه نه دی روا.

پوه سه: چې "وما انزل" عطف دی پر لفظ د "الله" او کلمه د ما موصوله ده باتفاق المفسرین او عائد یې محذوف دی ای ما انزل به، او اضافت د عبدنا لپاره د تشریف د مضاف دی او مراد ځندي محمد ﷺ دی.

دروښ وایي: چې هوا د مظهري رحمه الله تفسیر یوازې د ما انزل الله علی عبدنا" په آیاتو او معجزاتو سره دده په تفسیر صحیح دی لګن انزال په معنا عام دی یعني ایصال النفع الی محمد ﷺ کیف ماکان، مظهري رحمه الله وایي د ما انزلنا په تفسیر کې من الملائکة والنصر والآیات المعجزة (آیات په معنا لغوي دی یعني علامات)

(۱) خدای ﷻ دده سره وعده کړې وه د احدی الطائفتین ای العیر والنفیر که څه هم د اصحاب میل وعیر ته وۀ لکن خدای ﷻ وعده په نفیر سره ورپوره کړه.

(۲) خدای ﷻ په بدر کې داسې باران وورواوه چې د مسلمانانو لپاره نعمت وۀ او د کفارو لپاره عذاب وۀ کمامر.

(۳) خدای ﷻ ملکو ته د بعض جنګ امر ورکړی تاچې د مسلمانانو حوصله افزایي وسي حیث سمعوا اولم یرو اقدم حیرون وهو فرس جبرئیل علیه السلام او مسلمانانو ولیدله چې د بعضي کافرانو سرونه له اوړو څخه پر مځکه لوېدله وهذا حق ضرب الملائکة بالسیاط.

(۴) آنحضرت ﷺ یو مټ شیګي وروغورځولې او د ټولو کافرانو چې تعداد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يې زر (۱۰۰۰) ته نژدې ؤ ولو ېدلې.

(۵) علیه الصلوٰة والسلام عقبه بن ابي معیط ته ویل که ته ما پیدا کړې دپاندې تر غرود مکې زه به تا صبر اوژنم او هغسې په بدر کې واقع سوه.

(٦) خدای ﷻ خپله وعده د مسلمانانو سره پوره کړه في قوله تعالی "ان یعلم الله في قلوبکم خیراً" حتی چې له عباس ﷺ څخه شل وقیه فدیه اخستل سوې وه د هغه په عوض کې وروسته تر اسلامه خدای پاک شل مریان ورکړه چې توله یې پر تجارت ګومارلې وه.

(۷) خدای ﷻ و علیه الصلوٰة والسلام ته خبر ورکړی چې عمیر بن وهب او صفوان بن امیه د علیه الصلوٰة والسلام د قتل مشورې په مکه کې سره کړې وې خدای پاک دی مبارک ځندې وساتی او عمیر بن وهب اسلام راوړی او داعي الی الاسلام د خلګو سو.

(۸) د خورما له وچ لرګي یا له بل وچ لرګي څخه صافه توره جوړه سوه. بیهقي او ابن عساکر رحمهما الله له عمر ﷺ څخه روایت کړی دی چې د عکاشه بن محصن ﷺ د بدر په ورځ د شدید جنګ له سببه توره ماته سوه، نو عکاشه ﷺ و علیه الصلوٰة والسلام ته راغلی چې زما توره ماته سوه، نو علیه الصلوٰة والسلام وچ لرګی د خورما وغیره په لاس ورکړی عکاشه ﷺ چې څرنګه د علیه الصلوٰة والسلام له لاس مبارک څخه لرګی واخستی سره وه یې بنوروی دده په لاس کې یوه اوږده توره وه، نو عکاشه ﷺ د فتح تر وخته په هغه توره جنګ کاوه. او دا توره یې عیون بلله. او عکاشه ﷺ به په هغه توره په غزواتو کې د علیه الصلوٰة والسلام جنګ کاوه تر هغه وخته پورې چې طلحة بن خویلد عکاشه ﷺ شهید کړی انا لله وانا الیه راجعون، بیا نو الله اعلم چې هغه توره څه سوه.

(۹) د بیهقي په روایت چې د سلمه بن اسلم ﷺ توره د بدر په ورځ په لاس کې ماته سوه، علیه الصلوٰة والسلام چې راغلی په لاس کې یې د خورما وچ لرګی ؤ نو هغه یې ورکړی او دا یې ورته وویل اضرب به فاذا هو سیف جید، نو دا توره به هم د سلمه ﷺ سره ورسره وه په نورو جنګو کې هم، حتی چې ابو عبیده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سلمه رضی الله عنه شهید کړی انا لله وانا الیه راجعون.

(۱۰) بیهقي روایت کړی دی چې د بدر په ورځ حبیب بن عدي رضی الله عنه پر اوږه په توره وهل سوی وُ چې اوږه پورې ځړېدله رسول الله ﷺ پر تو کړه او اوږه یې ورپورته کړه بیرته سمه اوږه سوه.

(۱۱) بیهقي له قتاده بن نعمان رضی الله عنه څخه روایت کړی دی چې دی پر سترګه وویشتل سو د بدر په ورځ حتی چې د سترګې حدقه یې پر یارخو ځړېدله، نو خلګو غوښتل چې سترګه ځنډي قطع کړي، نو خلګو د علیه الصلوٰة والسلام څخه په دې باره کې پوښتنه وکړه. علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل چې یا سترګه یې مه قطع کوئ، نو یې قتاده رضی الله عنه وروغوښتی نو د سترګې حدقه یې په ورغوي سره ور پورته کړه روغه سترګه سوه حتی چې دا فرق یې چا نه سوای کولای چې د قتاده کومه سترګه ټپي وه.

(۱۲) ابن سعید رحمه الله په طبقات کې وایي په روایت د اسحاق عن عبد الله بن نوفل، چې نوفل په بند یانو کې د بدر وُ، نو علیه الصلوٰة والسلام وده ته وویل چې ستا هغه نېزې په فدیه کې راکړه چې په جده کې دي، نوفل ورته وویل چې زما په نېزو ببله ما او خدایه بل هیڅ څوک نه وه خبر "اشهد انک رسول الله" او ایمان یې راوړی او په جده کې د نوفل رضی الله عنه زر نېزې پرتې وې.

(۱۳) بیهقي له زماعة بن رافع رضی الله عنه څخه روایت کړی دی چې زه د بدر په ورځ په سترګه کې وویشتل سوم او سترګه مې ړنده سوه، نو علیه الصلوٰة والسلام مې په سترګه کې را تو کړه او دعا یې راته وکړه، نو ماته دې سترګې بیا ازار نه دی رسولی.

دروښ وایي: چې په بدر کې بېخي ډېرې تعجب آوره معجزې ښکاره سوې حتی چې د علیه الصلوٰة والسلام رسالت وبداهت ته ورسېدی. بلکې له اجلي بدهیاتو څخه وګرځېدی مثل الکل اعظم من الجزء.

يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعٰنِ ۙ

چې سره یو ځای سوې دا دوې ډلې چې یوه حزب الله وه او بله حزب الشیطان وه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې اوولس شپې د روژې د میاشتې تېرې سوې وې، شپاړس میاشتې ورروستو د هجرت نبوي ﷺ.

وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۴۱﴾

او خدای پاک پر هر شي قادر دی لږ نفر لکه د بدر مسلمانان درې سوه دیارلس نفره پر ډېرو کسانو چې کفار مکه وه تخمیناً زر کسه غالب کولای سي.

فائده: د بدر غزا اوله غزا ده چې علیه الصلوٰة والسلام پکښې حاضر وو د مشرکانو سره لپاره د اعلاء د کلمة الحق.

اِذْ اَنْتُمْ بِالْعُدْوَةِ الدُّنْيَا وَهُمْ بِالْعُدْوَةِ الْقُصْوٰى وَالرَّكْبُ اَسْفَلَ مِنْكُمْ

هغه وخت چې تاسي واست پر غاړه د شېلې "الدنیا" مونث دی د ادنی یعنې هغه غاړه چې مدینې ته نژدې وه، او مشرکان پر لهرې غاړه د شېلې وه چې د یمن پر خوا وه له مدینې څخه، او قافله یعنې ابو سفیان و اصحابه تر تاسي کښته وه د دریاب پر غاړه چې درې میله له بدر څخه پر مسافت وه.

پوه سه: چې ددې جملې فائده داده چې دښمن ډېر قوي ؤ، له یوې خوا پر "عدوة القصوی" لوی لښکر له مکې څخه راغلی ؤ او له بلې خوا ابو سفیان او ملګرې هم پر لنډه مسافه او جنګ ته هم اماده وه او په عین حال کې عدوة الدنیا سسته ریګنه مځکه وه چې پښې په ننوتلې او تګ ډېر په مشکل پکښې کېدی او هلته اوبه هم نه وې یعنې تر باران دمخه بخلاف العدوة القصوی چې هغه کلکه مځکه وه او تګ راتګ پر اسانه ؤ او اوبه هم پکښې وې، نو په داسي حالاتو کې مغلوبیت د مسلمانانو کافرانو ته یقیني ؤ او غلبه د مسلمانانو له عادته لهرې کار ؤ لکن انعکس الامر بقدرته تعالی، یعنې په عدوة الدنیا کې د باران په سبب اوبه هم پیدا سوې او تګ راتګ ډېر پر اسانه سو او هم دغه باران پر عدوة القصوی چې د دښمن ځای ؤ ډېر سخت وورېدی چې اوبه یې ورخړې پرې کړې چې د څیښنګ وړ نه وې او هغه کسان یعنې کفار قریش چې خپله غلبه یې متیقن بالله مغلوبه سوه او ډېر مړې او بندیان یې له لاسه ورکړل کمامر او د شرمناکه شکست سره مخامخ سوه او هغه ضعیفه ډله د مسلمانانو چې درې سوه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ویارلس نفره وه چې غلبه یې خرق العادة ګڼل کېدل د خدای ﷻ په قدرت تامه په نصرت سره غالبه سوه او شتمنۍ د غنیمت یې هم لاس ته ورغله.

الاعراب: الرکب مبتدأ ده او اسفل منصوب علی الظرفیة دی او مرفوع المحل خبر د مبتدأ دی او ټوله جمله حال ده. او رکب بسکون الکاف جمع د راکب ده مثل صحب صاحب، او راکب په اصطلاح قدیم د عربو د اوښ سفاره ته وایي لکه چې فارس د آس سپاره ته وایي او د ابو سفیان قافله ټوله اوښان وه.

وَلَوْ تَوَاعَدْتُّمْ

او که چېرې تاسي ایها المؤمنون د کفارو سره د اجتماع د جنګ لپاره وعده کړې وای.

دروښ وایي: چې وههنا محذوف دل علیه جزاً، نو محذوف دادی (ثم علمتم قتلکم وکثرة عدوکم وقوتهم وشوکتهم وکثر السلاح معهم)

لَاخْتَلَفْتُمْ فِي الْمِيعَادِ وَلَٰكِن لِّيَقْضِيَ اللَّهُ أَمْرًا كَانَ مَفْعُولًا

تاسي مؤمنانو به مخالفت په وعده د اجتماع القتال له هیبته د کفارو او نا امیدي ستاسي له ظفر څخه پر دوی کړې وای "ولکن" ای لکن الله جمعکم من غیر میعاد، ولي چې تاسي د عیر د ابو سفیان په نیت له مدیني څخه راوتلي واست، او کفار مکه د قافلې د حفاظت لپاره له مکې څخه راوتلي وه، نو بېله میعاده په بدر کې سره یو ځای سو است، او ستاسي او د کفارو تر منځ جنګ جاري سو، چې خدای پاک جاري کړی هغه کار چې وګرځېدی کونکی، نو "کان" په معنا د صار دی هغه امر څه شی ؤ چې نصر د اولیا ؤ وخپل ؤ پر دښمنانانو او اعزاز د دین او په لویه پیمانه هلاک د کافرانو او اسارت ددوی او غنیمت جمع کول.

لِّيَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ عَن بَيِّنَةٍ وَيَحْيَىٰ مَنْ حَيَّ عَن بَيِّنَةٍ

تاچې هلاک او مړه سي هغه څوک چې مړه سي له کفارو څخه. سعدي چلپي المفتي رحمه الله وایي چې د "عن" کلمه په معنا د بعد ده کما في قوله تعالی عما قلیل لیصبحن نادمین. ولي اصل د عما عن ما ؤ دغه عن په معنا د بعد دی په اتفاق د مفسرینو رحمهم الله ای بعد قلیل من الزمان، نو په دې آیت معنا داده تاچه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هلاک د هالک ددوی وروسته تربینة یعني حجة ظاهرة، او پر حقیقت د اسلام چې په ستر گو یې ولیدی او ژوندي اوسئ څوک چې ژوندي پاته سي له کفارو څخه د مکې وروسته تر لیدلو د حجت ظاهره پر حقیقت د اسلام کما ذکرنا من المعجزات الظاهرات في غزوة بدر، حاصل داچې نه مړه او نه ژوندي ته به د عبرت ځای د قیامت په ورځ پاته وي په جناب کې د رب العزت ﷻ.

سوال: ژوندی خو به حجت ظاهره په ستر گو وویني لکن هالک به څرنگه حجت ظاهره وویني؟

ځواب: په هالک کې مجاز بالمشارفة دی ای من شارف الهلاک کما في قوله علیه الصلوٰة والسلام من قتل قتیلاً فله سلبه لان القتیل لا یقتل، نو علیه الصلوٰة والسلام نژدې ومرگ ته قتیل وبالله.

اعراب: لیهلک آه" بدل دی د "یقضی" څخه او یا متعلق دی په مفعولاً پورې، روح البیان، روح المعاني او مظهري.

وَإِنَّ اللَّهَ لَسَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٤٢﴾

په تحقیق خدای ﷻ خبر دی په کفر د من کفر او اعماله وعقابه او په ایمان د من آمن واعماله وثوابه.

پوښتنه: د سمیع او علیم په جمع کې څه فائده ده؟

ځواب: سمیع راجع و اقوالو ته د کافرانو او د مؤمنانو دی. او علیم راجع و اعتقادیاتو ته د کافرانو او مؤمنانو یعني سمیع هو العالم بالمسموعات لابحاسته السمع لانه تعالی منزه عن الجسمیة ومعنی علیم خبر په معتقداتو دواړو دلو.

إِذْ يُرِيكَهُمُ اللَّهُ فِي مَنَامِكَ قَلِيلًا ﴿٤٣﴾

"اذ" متعلق دی په اذکر مقدر پورې یعني په یاد کړه هغه وخت، یا متعلق دی په علیم پورې یعني خدای ﷻ خبر دی ستاسي په مصالحو چې دوی به تا لبدل په خوب کې ستا لږ کسان تاچې ته اصحاب کرامو ﷺ ته زېرې او اخبار وکړی چې جانب مقابل چې کفار مکه دي لږ خلگ دي او ددوی حوصله بلنده سي او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وجنګ ته اماده باش او تیار سئ او په زړو کي دلاوري پیدا سي.

واقعه: اهل حدیث د خوب داسي بیان کړی دی چي علیه الصلوٰة والسلام د بدر په ورځ ابتداً صحابه کرامو ﷺ ته داسي وویل چي جنګ به تر هغو نه شروع کوئ چي زه اجازه درنه کړم، او که کافران نژدې راغله په غشو یې ولئ یعني د علیه الصلوٰة والسلام مطلب دا وُ چي کفار چي لېرې وي غشي یې فائدې مه ورغورځوئ تاچي د غشو بچت وکړل سي کما جاً صریحاً في حدیث البخاري واستبقوا نبلکم آه، او دا یې هم ورته ویلي وه چي توري تر هغو له تیکي څخه مه کاږئ چي کافران په تاسي ګډ نه سي، نو علیه الصلوٰة والسلام په جوپړې کي بیده سو، نو ابوبکر ﷺ ناري کړې یا رسول الله قد دنا القوم ومالوا علینا چي کافران نژدې راغله او پر موږ حمله کونکي دي! علیه الصلوٰة والسلام له خوبه راویښ سو او په خوب کي خدای ﷻ په ده لیدلي وه قوم یعني کفار یې لږ په لیدلي وه که څه هم في الواقع ډېر وه، نو علیه الصلوٰة والسلام واصحابو ته خبر ورکړی.

سوال: د انبیاً علیهم السلام خوب خو وحي دي، نو څرنګه علیه الصلوٰة والسلام ته خدای پاک په خوب کي لږ معلوم کړه خلاف الواقع؟

ځواب: خدای پاک قلت معنوي د کفارو مصور کړی په قلت صوري حسي سره ولله ﷻ مصالح وحکم في کل فعل.

وَلَوْ أَرَىٰكَهُمْ كَثِيرًا لَّفَشِلْتُمْ وَلَتَنَازَعْتُمْ فِي الْأَمْرِ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ سَلَّمَ

او که کفار خدای ﷻ په تاسي لیدلي وای یعني په ذریعه د خوب د علیه الصلوٰة والسلام چي کافران ډېر دي، نو تاسي به بزدله سوي وای او په تاسي کي به اختلاف الآرا پیدا سوي وایي بعضو به ویلای چي جنګ به کوو که څه هم کفار ډېر دي، ولي چي خدای پاک زموږ ناصر دی کما ورد في القرآن کم من فئة قلیلة غلبت فئة کثیرة او بعضو به ویلای راځي چي فرار وکړو ولا تلقوا بایدیکم الی التهلکة کریمة، د "سلم" مفعول محذوف دی ای سلکم من الفشل والتنازع.

إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿٤٣﴾

په تحقیق خدای خبر دی په هغه څه چي د خلګو په سینو یعني په زړو کي وي من الجبن والشجاعة والایتلاف والاختلاف فلذا فعل مافعل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِذْ يُرِيكُمُوهُمْ إِذِ الْتَقَيْتُمْ فِي أَعْيُنِكُمْ قَلِيلًا

او په یاد کړئ هغه وخت چې خدای پاک په تاسې کافران لږ معلوم کړه هغه وخت چې تاسې ددوی سره په جنګ اخته سولاست تاچې تاسې پر دوی دلاوړه سئ. ابن مسعود ﷺ وایي چې کفار موږ ته دومره لږ معلوم سول په ستر ګو کې چې ما یوبل صحابي ته وویل چې کافران به نیوي (۹۰) کسه وي هغه راته وویل چې زما په خیال به سل کسه وي او دوی زر کسه وه، او موږ په دغه وخت کې د کفارو یو بندي ونیوی موږ ورته وویل چې تاسې څو کسه واست هغه راته وویل چې زر کسه.

وَيُقَلِّلُكُمْ فِي أَعْيُنِهِمْ

او تاسې یې ایها المؤمنون لږ ورکړلاست په ستر ګو کې د کافرانو یعنې تاچې دوی ونه تښتي، حتی چې ابو جهل وویل ان محمداً او اصحابه اکلة جزور، یعنې د محمد او دده د اصحابو د یوه اوښ غوښې بس دي، او ابن المنذر روایت کړی دی چې ابو جهل وخپلو خلګو ته وویل د بدر په ورځ "خذوهم اخذاً واربطوهم في الجبال ولا تقتلوا منهم احداً" یعنې تاسې نسئ اصحاب د محمد او ترئ یاست په مرانلدو او مه وژنئ له دوی څخه هیڅ څوک.

لِيَقْضِيَ اللَّهُ أَمْرًا كَانَ مَفْعُولًا ۚ وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ ﴿٤٤﴾

لپاره ددې چې خدای پاک هغه کار چې کېدونکی وُ پای ته ورسوی یعنې اعزاز د اسلام او اهل اسلام او اذلال د شرک او د حرب د شرک، او خدای ﷻ ته یعنې و ارادې او مشیت ته د خدای راجع کړل کېږي ټوله کارنه.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا لَقِيتُمْ فِئَةً فَاثْبُتُوا

اې هغه کسانو چې ایمان یې راوړی وي هغه چې ملاقي سئ تاسې یعنې د جنګ لپاره د یو جماعت سره یعنې د کافرانو لکن قید د کفر خدای ﷻ نه کړی ذکر، ولې چې مسلمانانو خو بیله کافرانو د بل چا سره جنګ نه کاوه.

پوه سه: چې اذا شرط دی په معنی د ظرف پکښې موجوده ده او فاثبتوا یې جزا ده، یعنې ځان مضبوط کړی یعنې تښتی مه لان الفرار من الزحف کبیرة کما

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورد في الحديث الصحيح، وورد في الحديث الصحيح لاتتمنوا لقاء العدو فاذا لقيتموهم فاصبروا، تاسي آرزو مه کوئ د دښمن د ملاقات او چي ورسره ملاقي سواست ددوی سره بيا نو صبر کوه يعني فرار مه کوی.

سوال: سبب د نهي له تمنی څخه د لقاء العدو مع ان الحرب مع العدو عبادة لان التمنی للقائه ينبغي عن الوثوق والاعجاب بقوته وهذا لاينبغي للمؤمنين، ولي چي حقيقي ناصر خدای ﷻ دی لاقوة المرء.

وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٤٥﴾

او ذکر د خدای ﷻ وپر کوئ شايد چي تاسي به نصرت پيدا کړئ په برکت د خدای ﷻ د ذکر.

دروښ وايي: چي ددې آيت په اثر مجاهدين د الله اکبر ناري وهي د جنګ په ميدان کي د کافرانو سره، نو شايد تاسي به په برکت د ثبات او ذکر د خدای ﷻ فلاح ومومئ يعني پر دښمن به غالبه سئ.

وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ

او تاسي اطاعت کوئ د خدای او د رسول په امورو کي د قتال يعني پر حکم د خدای او د رسول اعتماد کلي کوئ په امورو کي د قتال.

وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ

او تاسي يو د بله اختلاف الآرا مه کوئ کما في احد، نو تاسي په سبب د اختلاف الآرا به بزدل وګرځئ.

بوه سه: چي "فتفشلوا" جواب د نهي دی او وروسته وتذهب منصوب دی عطف پر جواب د نهي مذکور دی.

بوه سه: چي ريح په اصل کي باد ته وايي لکن دلته مستعار ده دولت او غلبې لپاره. او سدي رحمه الله وايي جرئتکم دلاوري ستاسي، او نضر بن شميل رحمه الله وايي قوتکم وهذه المعاني کلها متقاربة. او بعض مفسرين رحمهم الله وايي چي مراد له ريح څخه حقيقت يعني باد. ولي نصر پر اعداً پيدا کېږي چي د جنګ په وخت خدای پاک يو باد پيدا کوي چي ريح النصر يې بولي. ولهذا قال عليه الصلوة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والسلام نصرت بالصبا (ای باد الشرق) واهلکت عاد بالدبور (د کنبسې باد ای الغربي) متفق علیه، او له نعمان بن المقرن ﷺ څخه روایت دی چې ابن شیبه یې روایت کړی دی، نعمان ﷺ وایي چې زه حاضر سوی یم د علیه الصلوٰة والسلام سره په غزواتو کې د کفارو، نو چې جنګ به یې شروع نه کړی په اول کې د ورځې انتظار به یې کاوه تر هغه وخته پورې چې لمر به زوال وکړی او شرقي بادونه به پیدا سوه نو به یې جنګ شروع کړی، او داغه رنګه په قصه کې د احزاب د غزا چې مشهوره په غزوة الخندق سره ده، راغلي دي چې قریشو او غطفان قبیلې او بنو قریضه او بني نضیر یوه میاشت هغه خندق چې په مشوره د سلمان فارسي ﷺ چار چاپېره پر خپلو عسکرو نبي ﷺ راګرځولی ؤ، وروسته تر یوې میاشتې محاصرې د شپې له خوا سخت باد صبا پیدا سو چې د کافرانو چې ذکر سول خیمې یې دغه باد یوړې کتوې یې ورچپه کړې او کمبلي او بسترې یې باد یوړې او د خندق خاوري یې پر دوړولې حتی چې راغلي کافران پر خپل سر بهله جنګه وه تنبتبدل حتی چې یو په بل نه وه سره خبر لشدة الریح وکثافة ظلمة اللیل.

جمله ذرات زمین وآسمان ..... لشکر حق اند گاه امتحان
باد را دیدی که بادعان چه کرد ..... آب را دیدی که باطوفان چه کرد

وَاصْبِرُوْا إِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ۝

او صبر کوئ په سختیو کې د قتال مع الکفار ولي په تحقیق ملګری دی خدای ﷻ په عون او نصرت د صابرانو سره.

دروښ وایي: چې صبر یو جامع لفظ دی ټوله دین ته د اسلام باختلاف حرف التعدیة یعني صبر که متعدي په علی سي یعني صبر علی الشیئ ټولو مأموراتو ته شامل دی مثلاً پر لمانځه، روژه، زکوٰة او حج سره صبر وکړئ یعني دغه عبادات که څه هم پر نفس شاق دي باید مسلمانان صبر پر وکړي او که صبر متعدي په عن سره سي یعني الصبر عن الشیئ ټولو معاصیو او منهیاتو ته شامل دی، ولي چې معاصي او منهیات د نفس اماره د خواهشاتو سره دی کشرب الخمر والزنی واللواطة وغیرها، باید مؤمن صبر څنډي وکړي او د نفس

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اماره په خوله ونه کړي، او که صبر متعدي په في سره سي يعني الصبر في الشئ تولو مصائبو او کړاوو ته شامل دی کالمرض وموت الابوين والابن وغيرهما چې له دې جمله څخه دي سختي اوکړاو د قتال د کفارو بايد مسلمان صبر پکښې وکړي وهو اشد انواع الصبر لمافيه من تعريض الروح المحبوب الى الموت والهلاک فتأمل واحفظ هذه الفائدة الجليلة، بخاري په خپل صحيح کتاب کې له سالم ﷺ څخه روايت کړی دی قال کتب عبدالله بن ابي اوفى الي کتاباً فقرئته ان رسول الله ﷺ په بعضو ورځو کې چې ذی ملاقي کېدی د دښمن سره او انتظار يې وکړی چې لمر زوال وکړی، نو په خلګو کې ودرېدی يعني د اصحابو کرامو په منځ کې او داسي يې وويل يا ايها الناس لاتتمنوا لقآ العدو واسئالوا الله العافية فاذا لقيتم فاصبروا واعلمو ان الجنة تحت ظلال السيوف (اې خلګو تاسي تمنا مه کوئ د دښمن د ملاقات يعني جنګ او سوال کوئ له خدايه څخه د عافيت يعني د سلامتيا له جنګ څخه، او که د دښمن سره ملاقي سولاست يعني جنګ پيدا سو. بيا نو صبر کوئ پر سختيو د جنګ، او په دې پوه سئ چې جنت د تورو تر سايو لاندې دی يعني جنت ته رسېدل په استعمال د تورو دی په قتال کې د کفارو) ثم قال اللهم منزل الكتاب و مجرى السحاب وهازم الاحزاب اهزمهم وانصرنا عليهم (اې الله چې نازلونکی د کتاب يې يعني قرآن کريم او جاري کونکی د وريځې يې، او شکست ورکونکی د احزابو يعني د کفارو د ډلو شکست ورکړې يعني دغه موجوده في الحال کافرانو ته او موږ ته مرسته راکړې پر دوی باندې يعني وروسته يې جنګ شروع کړی)

پوه سه: چې خدای ﷻ چې امر وکړی ومسلمانانو ته د جهاد او صبر پر جهاد په وروسته آيت کې خدای ﷻ په اخلاص د نيت په جهاد کې ولې چې هر عمل چې وي د خير اعتبار نسته بېله اخلاصه د نيت يعني صرف او صرف به د سړي مرضات الله غرض وي لما في اول صحيح البخاري انما الاعمال بالنيات وانما لامرئ مانوى آه او داغه رنګه مسلم له ابو هريره ﷺ څخه روايت کړی دی قال قال رسول الله ﷺ په تحقيق خدای ﷻ نه ګوري ستاسي صورتو او اموالو ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لکن خدای ﷻ گوري ستاسي زړو او عملو ته، او داغه رنګه بخاري او مسلم په ګډه روایت کړی دی له ابن عباس ﷺ څخه دا قول د علیه الصلوٰة والسلام چې د یو حدیث طویل جمله ده ولکن جهاد ونیة.

دروېش وایي: چې دمخه تر تفسیر د آیتو د ریا تحقیق واورئ، ریا له رؤیت څخه مشتق ده یعني د خلګو لیدل او سمعه چې ګاهي له ریا سره یو ځای راځي له سماع څخه مشتق ده یعني شهرت او اوازه په خلګو کي، دې دواړو ته شرک خفي ویل سوی دی په شریعت کي، نو لکه عمل د خیرات او صدقات چې د شرک جلي سره ثواب او اعتبار نه لري لکه د مشرکینو د مکې دغه رنګه عمل د خیر په صورت د ریا او سمعه ثواب نه لري.

مسئله: د دین د فقهاوو رحمهم الله په اجتماع د فرضي عمل لکه لمونځ وغیره په نفس کولو کي ریا نسته البته په هیئت کي ریا سته مثلاً چې یوزای لمونځ کوي چټک چټک بېله مراعاتو د تعدیل الارکان کوي، او چې د خلګو په حضور کي وي په ښه خشوع او خضوع او تعدیل الارکان سره یې کوي. نو په دې صورت کي د ریا اصل فرضي لمانځه ثواب خدای پاک په اخیرت کي ورکوي او د هیئت ثواب یې نسته، او په نفل کي په اصل او هیئت دواړو کي ریا ځای لري، مثلاً چې یوازي وي نفلي لمونځ نه کوي او چې د خلګو په حضور کي وي بیا یې کوي او یوازي یې بېله هیئته د خشوع کوي او په اجتماع کي یې په هیئت سره د خشوع کوي، د مرائي مثال علماً رحمهم الله داسي وایي لکه په اوسنۍ زمانه کي چې د یو سړي په لاس کي یوه غټه بسته د جعلي روپو وي یعني ناچله، نو خلګ چې ورته ګوري داغه وایي چې ددې سړي څومره غټه بسته د روپو په لاس کي ده، نو دده صرف دغه د خلګو وینا فائده ده که چېرې دی دا بسته یو دکان ته وروړي نو یو ګز توکر مثلاً یا یو بل شی نه په رانیول کېږي.

به روی وریا خرقه سهل است دوخت ..... وگر باخدا درفروشی نکوست

حکایت: چشم دید واقعه دروېش وایي زه چې د ملا عالم په کلي کي ملاوم، نو یو بل ملا زما مېلمه وو او زما د مېلمنو کوټه پر بام وه چې په څینو کي به موږ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورختلو، ډوډۍ چې مو وخوړله ماخستن د لمانځه لپاره جامع مسجد ته ولاړو د لمانځه له خوا چې راغلو، نو مېلمه راته وویل چې زه خو د شپې د لمانځه عادت لرم که تکلیف نه وي یوه ګډوه اوبه رالره راوړه، ما له کوره یوه ډکه ګډوه ورته راویستل او د اوبو څیښلو سره بې هم ورته راوړې، خیر شپه تېره سوه سهار چې زه لمانځه ته تلم په ځینو کې ورپورته سوم چې د جماعت وخت ته به دی خبر کړې، ده زما تر پی واورېدی چابک له خوبه راوغورځېدی او ګډوه یې په ناوه کې چپه کړه یعني ماته یې دا په نظر کې راکوله چې ما خو ګډوه د تهجد د لمانځه لپاره استعمال کړې ده، د ریا کار په باره کې سعدي رحمه الله څه ښه ویلي دي

اګر سیم اندوده باشد نحاس ..... توان خرج کردن بر ناشناس
منه آب زر جان من بر پشیز ..... که صراف دانا نه گیرد به چیز
چه قدر آورده بنده خورد پیس ..... که زیر قبا دارد اندام پیس

په تاتارخانیه کې وایي چې یوه فتاوی ده ولا ریا في الصوم انتهی.

دروېش وایي: چې مراد د فتوی دادی چې په فعل کې د روژې ریا نسته.

سوال: که د چا نفلي روژه وي په خوله په مجلس کې د خلګو ووایي لپاره د اظهار د خپلې روژې ورځې بېښې اوږدې دي روژه یې زور غواړي مثلاً؟

ځواب: دا ریا د فعل نه ده د قول نعم په فعل کې د روژې داسې ریا راتلای سي چې یو سړی وي ډېر متقي، صالح او ولي سړي دی مرید الآخرة دی.

دروېش وایي: چې وګورئ دومره تکلیف پر ځان تېروي د خلګو لپاره او که دی عاقل وای دا دومره تکلیف به یې د خدای جل جلاله د رضا لپاره کښلی وای تاچې د اولیا، صالحین عند الله به ګرځېدلی وای، علما رحمهم الله وایي وما الدنیا حتی یطلبها العاقل بفعل الآخرة ویضع عمره الی حلول اجله.

وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ خَرَجُوا مِن دِيَارِهِمْ بَطَرًا وَرِئَاءَ النَّاسِ

او تاسې مه ګرځئ ایها المؤمنون په جهاد او جنګ کې د کفارو سره، لکه هغه کسان چې راووتل د خپلو کورو چې مراد ځندي مشرکین د مکې دي چې د ابو جهل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سره له مکې څخه راوتلي وه چې متکبرین وه چې تعداد یې زر کسه ؤ کمامر دابو سفیان د قافلې د ساتنې لپاره "بطراً" په فخر او کبر سره، بعض علما رحمهم الله وایي چې بطر دادی چې سکر یعني مستي له نعمته سړی مشغوله کړي له شکر څخه، لپاره د رؤیت د خلګو یعني خرجوا متکبرین بکثرة العدد والاموال چې خلګ ددوی مدح وکړي په شجاعت او جوانمردی ددوی او اقرار وکړي په عظمت ددوی،

وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللّٰهِ ؕ

او دوی خلګ منع کول له لارې څخه د خدای ﷻ چې ایمان بالله بالتوحید او ایمان بمحمد ﷺ بالرسالة راوړئ.

روای وایي ابو سفیان چې خپله قافله د دریاب پر غاړه د مسلمانانو تر حدود چې د قافلې د تاړاک لپاره له مدینې څخه راوتلي وه په سلامتیا تېره کړه، نو قریشو او ابو جهل ته یې حال ورواستاوه چې تاسي خو زما د قافلې د حفاظت لپاره له مکې څخه راوتلي واست، داده زما قافله په سلامتیا تېره سوه، نو تاسي بیرته مکې ته رجوع وکړئ، ابو جهل وویل والله لانرجع حتی نرد بدراً، نو په بدر کې به څو ورځې اقامت کوو، نو هلته به اوښان حلال وو او خلګو ته به دوه‌ډی ورکوو او شرابونه به څښلو او مینځیانې به رقصونه راته کوي او ټوله عرب به زموږ دا کارکردګي واوري بیا به زموږ د جنګ وخواته امادګي هم ونه کړي ابداً، خیر بدر ته راورسېدل، نو خدای پاک د خمر په ځای کې د مرګو ګلاسونه په دوی وڅښل، او په ځای کې د غزلو د مینځیانو یې د قریبانو ژړا په دوی واورېدل او په ځای کې د شجاعت د شهرت په عربو کې یې په دوی خجالت او شکست ولیدی، نو په دې آیت کې خدای پاک مسلمانان منع کړل د کفارو په شان له ریا کاري څخه په غزواتو کې د کفارو او امر یې کړه په اخلاص د نیت په ساتنه کې د دین او په مدافعت کې د نبي ﷺ.

وَاللّٰهُ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ۝

او خدای پاک پر هغو کارو چې قریشو یې عمل کاوه یعني ریاً محیط دی یعني علماً.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِذْ زَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ أَعْمَالَهُمْ

او په یاد کړه هغه چې ښائسته کړل ودوی ته شیطان اعمال ددوی، ددوی له اعمالو څخه عداوت د علیه الصلوٰة والسلام او دده مبارک د قتل اراده مراد ده لکه دمخه چې تېره سوه چې دوی چې په دار الندوة کې مشوره سره کوله شیطان د شیخ نجدي په صورت کې ورته راغلی. او رایه د ابو جهل چې په اجتماعي وژلو دي علیه الصلوٰة والسلام ووژل سي یې تصویب کړه، او په بدر کې ابلیس په صورت د سړي ابو جهل تر لاس نیولی وۀ.

وَقَالَ لَا غَالِبَ لَكُمُ الْيَوْمَ مِنَ النَّاسِ وَإِنِّي جَارٌ لَّكُمْ

او شیطان ورته وویل چې نسته غلبه کونکی پر تاسي ننه ورځ له خلګو څخه، ولي چې نفر مو هم ډېر دي او مالونه مو هم ډېر دي دا یې ددوی په خیال کې وراچوله چې دا کارونه چې تاسي کوئ دا د خیر کارونه دي یعني قتال د علیه الصلوٰة والسلام او د مؤمنانو سره.

پوه سه: چې ابلیس په دغه ورځ په صورت د سراقة بن مالک بن جعشم وۀ چې د بني کنانه مشر وۀ او قریش د بني کنانه څخه بېرېدل چې دوی په جنګ کې د مسلمانانو مرسته ونه کړي. نو ځکه شیطان ورته وویل وانې جار لکم یعني زه ستاسي پناه درکونکی یم د بني کنانه له خوا. یعني له بني کنانه څخه بېغمه اوسئ زه د هغو ذمه واره یم.

فَلَمَّا تَرَاءَتِ الْفِئَتَانِ نَكَصَ عَلٰى عَقِبَيْهِ

نو چې سره ولیدل دې دوو ډلو مؤمنانو او مشرکانو رجوع وکړه شیطان چې لاس یې په لاس کې د ابو جهل وۀ او په صورت د سراقه بن مالک وۀ د تېښتې پر خوا یعني مدبراً او لاس یې د ابو جهل له لاسه کش کړی، دا هلته چې ابلیس جبرائیل ولیدی، ابو جهل ورته وویل یا سراقة الست تزعم انک جار لنا، ده په جواب کې د دا وروسته آیت مضمون ورته ووایه.

دروښ وایي: چې مظهري رحمه الله په دې مقام کې یو حدیث راوړی دی په حواله د دېرو کتابو د رواتو چې ابن عباس رضي الله عنهما وویل چې امد الله نبیه ﷺ والمؤمنین بالف من

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الملائکة چې پر پینځه سوه باندې آمر جبرئیل وٗ او پر پینځه سوه باندې میکائیل.

دروښ وایي: چې دا حصه خو د قرآن او د احادیثو صحیحه وو سره د بخاري او مسلم او سنن اربعه موافق ده، وروسته مظهري رحمه الله په روایت د ابن عباس رضی الله عنهما ویلي دي چې ابلیس هم د شیطانانو یو لښکر راوستلی وٗ په صورت کې د رجال د بني مدلج او بیرغ د ابلیس په لاس کې وٗ او دی په خپله د سراقه بن مالک بن جعشم په صورت وٗ، ابلیس چې جبرئیل ولیدی سره د خپل لښکره وتښتېدی.

دروښ وایي: چې د ابلیس ظهور په صورت کې د سراقه بن مالک هم په صحیح احادیثو ثابته ده، اما دا توپه چې د ابلیس سره لښکر د شیطانانو په صورت کې د بني مدلج د رجال نهایته غریبه ده او په صحاح سته وو کې نه ده راغلې والله اعلم بالصواب.

وَقَالَ إِنِّي بَرِيءٌ مِّنكُمْ إِنِّي أَرَىٰ مَا لَا تَرَوْنَ إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ ۚ وَاللَّهُ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿٤٨﴾

او شیطان وویل کفارو ته د مکې چې زه ستاسي څخه بېزاره یم، زه هغه شی وینم چې تاسي یې نه وینئ یعني جبرئیل ومیکائیل والملائکة علیهم السلام زه پېژنم له خدای څخه او خدای ﷻ سخت دی عذاب دده.

سوال: شیطان څرنګه وویل چې اخاف الله او سره ددې چې خوف من الله د مؤمن کامل شان دی؟

ځواب: بغوي رحمه الله وایي چې ابلیس چې په صورت د سراقه وٗ دا خبره چې یې وکړه اني اری مالا ترون دا یې رښتیا وویل او دا چې یې وویل اني اخاف الله دا یې درواغ وویل والله مابه مخافة من الله لانه علم انه ملعون ابدي لکن دا د لعین کار دی چې خلګ و کفر او معاصي ته رابولي چې دوی پکښې واقع کړي. نو دوی خپله بېزاري څنډي بنکاره کړي او ووایي چې زه له خدایه بېرېږم لکه د بدر په موضوع کې چې د مکې کفار یې پر جنګ باعثه کول او ورته ویل یې لا اغلب لکم الیوم واني جارلکم څرنګه چې یې دوی د ملکو سره جنګ ته مخامخ کړه قال اني بريء منكم. او عطا رحمه الله وایي چې معنا یې داده اني اخاف ان یهلکني الله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې شيطان دا خبره له ډېرې وارخطايي څخه وکړه، کنه نو خدای پاک چې دی ملعون ابدي وگرځاوه ده مهلت څندي واخستی الی یوم یبعثون چې مراد څندي د قیامت ورځ ده او خدای پاک ده ته دا مهلت هم ورکړی.

کلبي رحمه الله وايي چې معنا يې داده چې زه بېرېږم چې جبرئیل به رانه سي او خلګو ته به مي رسوا کړي. عن طلحة بن عبيد الله رضي الله عنه ان رسول الله قال ما رائ الشيطان يوماً هو فيه اصغر ولا ادحر ولا احقر منه يوم عرفة وما ذالک الا لمايرى من تنزل رحمة الله وتجاوز الله عن الذنوب العظام يعني للحجاج الا ماكان يوم بدر قيل و ما رئ من يوم بدر قال اما انه قد رئ جبرئيل عليه السلام وهو يزع الملائكة، راوي وايي چې ابليس چې دا خبره وکړه حارث بن هشام چې بيا وروسته مسلمان سو دی و ابليس ته يې ورحمله کړه او د حارث دا خيال وُ چې سراقه بن مالک دی ابليس حارث په ځيګر کې وواهه حارث غوځار سو شيطان ولاړی حتی چې درياب ته ورسېدی او هلته يې داسي وکړه او لاسونه يې پورته کړه وقال يارب وعدک الذي وعدتني (يعني اطلب وعدک) اللهم اني اسئلک نظرتک اياي.

دروښ وايي: چې له دې روايته دا واضح سوه چې د شيطان هغه خبره رشتيا وه اني اخاف الله، لکن دا خوف خوف ايماني نه وُ لکه مؤمن چې له خدايه ببرېږي بلکې له قتله په دغه ورځ وببرېدی، لکن ابو جهل چې د سراقه تېښته وليدل د خلګو د ارامولو لپاره يې وويل چې تاسي د سراقه په تګ خطا نه وځي ولي چې ده دمخه د محمد سره دا ترون کړی دی چې زه به وتېښتم او د اهل مکې په زړه کې به خوف پيدا سي دوی به هم شکست وخوري او په قتل د عتبه او شيبه هم غمجن کېږئ مه، ولي هغو په جنګ کې تلوار وکړی او ابو جهل ورته وويل چې زما دي په لات او عزی قسم وي او موږ له دې ميدانه نه ځو تر څو چې موږ محمد او ده اصحاب په رسيو ونه ترو او چې دوی مو وترل هيڅ څوک دې وژني نه حتی موږ ودوی ته سوء صنيع ددوی ورښيو.

پوښتنه: خلګو يعني مکې والو ته دا څرنګه معلومه سوه چې سراقه په اصل کې شيطان وُ؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: مکې والو یعني کفارو د مکې سراقه په مکه کې ولیدی او ورته وه یې ویل چې زمونږ د جنګ صفونه دي ځرنګه رامات کړه او مونږ ته دي شکست راپه برخه کړی؟ سراقه ورته وویل والله ما علمت شیئاً من امرکم وماکنت فیکم حتی هزمتکم بهزیمتي، نو اهل مکه دده خبره نه منل حتی چې د فتح مکې په کال اکثره اهل مکه مسلمانان سوه، او دا آیتونه چې یې واورېدل نو ددوی یقین سو چې سراقه په اصل کې شیطان وٴ.

دروښ وایي: چې صاحب د روح البیان یو دقیق سوال سره له ځوابه ذکر کړی دی چې ددې سوال او ځواب په راوړلو سره د ډېرو خلګو شکوک او شبهات او د زړه خیري پاکي کړي دي، اول ددې سوال او پښتنې په عنوان وایي:

کیف یجوز ان یتمکن ابلیس ان یخلع صورة نفسه ویلبس صورة سراقة، ولو کان قادراً علی ان یجعل نفسه في مثل صورة انسان لکان قادراً علی ان یجعل غیره کالحمار والفرس وغیرهما انساناً اذ لافرق بین جعل نفسه انساناً وبین جعل غیره انساناً فاذا قدر علی الاول یلزم قدرته علی الثاني وهو محال بداهته، بیان روح البیان د تفسیر حدادي داسي ځواب رانقل کړی دی ان الله جعل ابلیس في غزوة بدرٍ علی صورة سراقة ولي ابتدءَ خدای ﷻ قادر دی چې یو انسان په صورت د سراقه پیدا کړي چې دغه سراقه وٴ، نو خدای پاک پر دې هم قادر دی چې ابلیس دي مصور په صورت د سراقه کړي انتهی مع زیادة من العاصي للتوضیح. او بیا روح البیان له قاضي ابو یعلی رحمه الله څخه یو نامعقوله ځواب رانقل کړی دی او زه یې نه نقل کوم ولي چې په مطالعه ددې تفسیر نور نوي شکوک او شبهات پیدا کېږي، وروسته یې ډېر معقول او په زړه پورې ځواب ورکړی دی چې جبرئیل علیه السلام سره ددې چې شپږ سوه وزر لري لکه علیه الصلوٰة والسلام چې په خپل صورت اصلي جبرئیل په مځکه کې لیدلی دی او بل وار یې د معراج په شپه لیدلی دی کما في جمیع کتب الاحادیث الشریفة والتفاسیر المعتبرة او سره د هغه به جبرئیل په قدرت د خدای ﷻ و علیه الصلوٰة والسلام ته ګاهي په صورت د دحیة بن خلیفة کلبي راغلی فاذا امکن هذا التبدل بقدرته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تعالى فعلى هذا قس جعله تعالى ابليس بصورة سراقة اذ لافرق نظراً الى قدرته تعالى بين التبديلين، بيا روح البيان د برصيصا په قصه سره چې دمخه په دې تفسير کې تېره سوه تمسک کړی دی فتذکر هداک الله تعالى هذا تحقيق المقام لعلک لا تراه مجموعاً في غير هذا التفسير بتوفيق الله العزيز.

إِذْ يَقُولُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ

پوه سه: چې کلمه د "اذ" منصوبه ده محلاً په اذکر مقدر سره والمعنى په یاد کړه هغه چې منافقینو د مدینې د اوس او د خزرج د قبیلې او هغه کسانو چې په زړو کې یې مرض ؤ دا خبره دوی هلته کوله چې علیه الصلوٰة والسلام په درې سوه دیارلس (۳۱۳) کسه مسلمانانو کې تخميناً وبدر ته ولاړی او کفار مکه په اندازه زر کسه وه، نو منافقینو وویل چې دا درې سوه او دیارلس کسه وجنګ ته د زرو کسو ووتل په خپل دین سره مغرور دي.

پوه سه: چې له "الذين في قلوبهم مرض" څخه مراد ځینې مفسرین رحمهم الله وایي چې داغه منافقین مراد دي.

سوال: عطف خو تغایر د معطوفینو غواړي؟

ځواب: تغایر وصفي په عطف کې هم کافي دی کما تقرر في کتب النحو، او بعض مفسران رحمهم الله وایي چې د مکې مشرکان ځندي مراد دي، او بغوي رحمه الله وایي چې مراد ځندي هغه مسلمانان دي دي چې په مکه کې وه او ضعیفه وه توان د هجرت یې نه درلودی او یا خپلو کافرانو قریبانو دوی له هجرته منع کول نو قریش چې بدر ته راتله دوی دغه مسلمانان په زوره د ځان سره له مکې څخه راویستل هغه چې بدر ته راغله او لږ والی د مسلمانانو یې ولیدی په زړو کې یې شک پیدا سو یعنې د اسلام په حق والي او مرتد سوله العیاذ بالله منه.

غَرَّ هٰٓؤُلَآءِ دِيْنُهُمْ

خطایستلي دغه کسان یعنې المؤمنین دین ددوی چې په درې سوه دیارلسو کسو جنګ کوي د زړو کسانو سره.

پوه سه: که قائلین ددې قول مرتدین د مکې سي کمامر قبیل ذالک نو دغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مرتدان تولـه پـه جنگ کـي د بدر ووژل سول وهم قيس بن الوليد وابو قيس چي د بني مخزوم د قبيلې وه والحارث بن زمعه وعلي بن اميه والعاص بن منبه وغيرهم.

وَمَنْ يَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ فَاِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ۝

او هغه څوک چي پر خداى ﷻ تکيه وکړي او تفويض د امورو و خداى ﷻ ته وکړي، نو په تحقيق خداى ﷻ غالب دى چي نه دليل وي هغه څوک چي پناه ده ته وروړي بلکې جدي نصرت ورسره کوي په جنگ کي د کافرانو وان قلوا كما في غزوة بدر بالمشاهدة او خداى ﷻ حكمت لري يفعل بحكمته البالغة ما يستبعده العقل كما فعل بكفار مكة وهم ألف مالم يكونوا يحتسبون من القتل بايدي ٣١٣ والهزيمة منهم.

دروښ وايي: چي تر دې ځايه خداى ﷻ ذكر كړى سوء عاقبت د مكې د كفارو "في الدنيا بالقتل والهزيمة بايدي رجال قليلة جداً" اوس ددوى د عاقبت بيان كوي بعد الموت.

وَلَوْ تَرٰٓى اِذْ يَتَوَفَّى الَّذِيْنَ كَفَرُوا الْمَلٰٓئِكَةُ يَضْرِبُوْنَ وُجُوْهَهُمْ وَاَدْبَارَهُمْ وَذُوْقُوْا عَذَابَ الْحَرِيْقِ ۝

دروښ وايي: چي مخاطب په دې سره عليه الصلوٰة والسلام دى.

سوال: ټوله مفسرين رحمهم الله د "ترى" چي مضارع ده ترجمه په رئيت سره كوي چي ماضي ده، سبب يې څه دى؟

ځواب: سبب يې قانون نحوي دى چي كلمه د لو چي پر مضارع داخله سي په معنى يې د ماضي گرځوي لكه ان شرطي چي پر ماضي داخل سي معنى يې د مضارع گرځوي، والمعنى لو رئيت يا محمد هغه وخت چي ملكي د وفات راځي والذين كفروا ته كه په بدر كي وې او كه بل ځاى كي، نو ملكي وهي مخان ددوى او شاوي ددوى په غم چينو سره د اور او پر شوند انو يې د وسپنو په غمچونو سره، وقوله وذوقوا عطف دى پر يضربون باندې په اضمار د قول اى ويقولون ذوقوا خوند وگورئ د عذاب د سونگ.

دروښ وايي: چي تعبير يې په ذوق سره وكړى ولي چي اصل عذاب خو دخول

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

النار دی في الآخرة دا د مرګ په وخت کي وهل او ټکول وهغه عذاب النار ته لکه ذوق دی یعني لکه یو سړی چي صرف د یو شي خوند ګوري.

پوه سه: چي د "لو" ځواب محذوف دی ای لرئیت امراً قطیعاً والملائکة فاعل د یتوفی او یضربون په تقدیر د قول حال دی له ملائکه ځخه.

ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيكُمْ وَأَنَّ اللَّهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيدِ ﴿١٨٢﴾

او دغه عذاب په دنیا او په وخت کي د وفات چي تاسي ته درکول کېږي په سبب د هغه کارو من الکفر والمعاصي چي تاسي دمخه کړي وي، کفر که څه هم په لاسونه دی لکن تعبیر له نفس ځخه په بالیدین وکړی لان اکثر الاعمال یزاول بالیدین، او په تحقیق خدای ﷻ نه دی ظالم پر بندګانو.

پوه سه: چي صیغه د "ظلام" دلته لپاره د مبالغې نه ده "لانه یفسد المعنی لانه یتوهم منه مطلق ظلم منه تعالی" بلکې په معنی د ذی ظلم ده مطلقاً للعبید د بندګانو لپاره چي ببله ګناه دې په عذاب کړي یا تر استحقاق د ګناه بالا عذاب ورکړي، مظهري رحمه الله وایي چي جمله وان الله لیس آه عطف ده پر ما قدمت باندي والتقدیر ذالک بما قدمت آه وبان الله آه، او روح البیان وایي چي وان الله لیس آه په محل کي رفع د علی انه خبر د مبتدأ محذوفي دی ای والامر ان الله لیس آه او جمله ټوله تذییل د مقرر ده مضمون د ماقبل.

كَدَأْبِ آلِ فِرْعَوْنَ ۙ

خبر د مبتدأ محذوفي دی ای دأب عادت د کفارو د قریشو په کبر او عناد ستا سره لکه عادت د آل فرعون ای اتباعه وقومه الذین مثلهم في الظلم والطغیان والکفر والعصیان په دې آیت کي خدای پاک تسلي د علیه الصلوٰة والسلام کوي.

پوه سه: چي اصل د دأب په لغت کي دوام ورکول دي و یو عمل ته کما یقال فلان یأدب في کذا ای یداوم علیه او ځان ښه پکښې ستړی کوي او وروسته ته هر عادت ته دأب وایي لان الانسان یداوم علی عادته.

وَالَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ كَفَرُوا بِآيَاتِ اللَّهِ

او هغه کسان چي دمخه وه تر آل فرعون لکه قوم د نوح او ثمود او عاد وغیرهم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"كفروا بايات الله" دا جمله بيان دى د دأب د كفارو او مراد له آياتو څخه دلائل د توحيد دي في الانفس والآفاق، او يا معجزات د انبياً عليهم السلام دي على الاطلاق.

فَأَخَذَهُمُ اللَّهُ بِذُنُوبِهِمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ قَوِيٌّ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿٥٢﴾

نو دوى خداى پاک ونيول يعني عذاب يې ورکړى په سبب د ګنهو ددوى من الكفر والمعاصي والطغيان، په تحقيق خداى پاک صاحب د قوت او قدرت دى او سخت د عذاب دده لمن عصاه في الاوامر والمنهيات.

پوه سه: چې اصل د تولو اوامرو توحيد دى او اصل د تولو منهياتو شرک دى.

ذَٰلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ لَمْ يَكُ

اى ترتب د عقاب پر كفر او عصيان د بندګانو دون ان يقع العذاب ابتداءً بدون العصيان كه څه هم خداى پاک پر ابتدائي عذاب هم قادر دؤ.

پوښتنه: ابتدائي عذاب بدون المعصية به ظلم نه وي؟

ځواب: يا! ولي چې بندګان تولـه ملک د خداى ﷻ دي والتصرف في ملكه كيف شاً ليس بظلم.

پوه سه: چې د "يک" اصل يكون ؤ لم جازمه چې پر داخل سو د نون حركت يې حذف کړى وروسته يې واو پسې حذف کړى لالتقاً الساكنين بيا يې وروسته نون پسې حذف کړى تخفيفاً په سبب د مشاهبت د حرف لين سره اى الواو والياً والالف لكون النون حرف غنة، نو لكه حروف لين چې په وخت کې د جزم حذف کېږي نون يې هم حذف کړى والباعث على ذالک كثرة استعمال فعل الكون ولم يحذف النون في لم يصن ولم يخن لقلة استعمالها كما لا يخفى.

مُغَيِّرًا نِّعْمَةً أَنْعَمَهَا عَلَىٰ قَوْمٍ

خداى ﷻ تغير ورکونکى دى په يو نعمت سره چې د هغه نعمت احسان يې کړى وي د يو قوم سره، يعني ددوى نعمت په عذاب نه بدلوي. لكه د اهل مكه نعمت كه څه هم كافران وه يعني نعمت د امن، عزت، رزق او منع د اصحاب الفيل له دوى څخه كما يدل عليه سورة الفيل دا تولـه د بيت الحرام د جوار په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سبب، لکن چونکه دوی ددې نعمت شکر ونه وایه او د اسلام او قرآن او نبوت څخه یې انکار وکړی، نو خدای ﷻ په عوض کې د مذکوره افعالو ددوی نقمت او عذاب د قتل او بند پر دوی مقرر او مسلط کړی د بدر په ورځ.

حَتّٰى يُغَيِّرُوْا مَا بِاَنْفُسِهِمْ ۙ

تر هغه وخته پورې چې وویني خدای پاک بدلوي هغه حال چې په دوی پورې تعلق لري او اداسي حال چې بد ترین حال وي لکه قریشو چې بدل کړی حال ددوی چې متابعت د دین د اسماعیل ﷺ او د ملت د ابراهیم ﷺ په بت پرستی سره او برسېره پر هغه په انکار له نبوت څخه د علیه الصلوٰة والسلام او عداوت دده مبارک او د مؤمنانو او منع کول د قریشو آنحضرت ﷺ واصحابه ﷺ په کال د حدیبیې له عمرې څخه او دوی سعي کول په وینه بیولو کې د هغه چا چې لا اله الا الله به یې ویله، او تکذیب بالآیات القرآنیة به یې کوله الی غیر ذالک من اعمالهم الخبیثة بعد بعثة النبي ﷺ.

وَاَنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ۙ

او په تحقیق خدای ﷻ اورېدونکی دی لابحاسة السمع او عالم دی په ټولو اعمالو د ټولو بندګانو وغیر ذالک من الامور.

كَدَاْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ ۙ وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۭ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ فَاَهْلَكْنٰهُمْ بِذُنُوْبِهِمْ ۭ وَاَغْرَقْنَآ اٰلَ فِرْعَوْنَ ۚ وَكُلٌّ كَانُوْا ظٰلِمِيْنَ ۝

پوه سه: چې کداٰب آه خبر د محذوف مبتدا دی یعني داٰب قریش وغیرهم من الذین کفروا بمحمد ﷺ لکه عادت د اتباعو د فرعون واکتفی الآل عن ذکره یعني داسي یې نه وویل کداٰب فرعون وآله، ولي د اتباعو حال یې انکار وله نبوت څخه د موسی ﷺ نو دده حال خو په طریق اولی داغه وؤ، او هغه کافران چې تر آل فرعون دمخه وه لکه قوم نوح، ثمودیان، عادیان وغیرهم دوی تکذیب وکړی د آیاتو د رب ددوی وقد مر قریباً تفصیل الآیات. نو ما دوی هلاک کړه بعض په رجفه سره او بعض په خسف سره وبعضهم بالریح وبعضهم بالمسخ، او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غرق مو کړی آل فرعون په دریاب کې او دا ټوله کافران ظالمان وه پر خپلو ځانو بالکفر والمعاصي، نو ددې کافرانو پر ډول موږ هلاک کړل کافران د بدر په ټورو د مسلمانانو، ولې خو دوی هم تکذیب وکړی په آیاتو د خدای ﷻ.

پوښتنه: مثل ددې آیت دمخه هم تېر سو په ادنی تغیر د عباراتو، نو بیا را ګرځول به یې تکرار نه وي؟

ځواب: مقصود له راګرځولو ځخه تاکید دی د انداز د قریشو کما قیل:

پند گیر از مصائب دیگران ..... تانه گیرند دیگران زتو پند
نرود مرغ سوی دانه فراز ..... چو دیگر مرغ بینند اندر بند

او په عین حال کې په راګرځولو کې اظهار د عظیم بلاغت د قرآن عظیم الشان دی کما لایخفٰی.

دروښ وایي: چې په دې آیتو سره اشاره ته و سوء حال ته د هغو مسلمانانو چې رضاً د مخلوق یې پر رضاً د خالق مختاره کړې وي او دین یې د تابع د دنیا ګرځولی وي لکه ریاً کاران له مسلمانانو ځخه، او یا دین په دنیا خرڅوي لکه د مسلمانانو جاسوسان وکافرانو ته، وهذا الداً قد عم حتی تجاوز من العوام الی الخواص کما لایخفٰی والامثلة غیر خافیة.

إِنَّ شَرَّ الدَّوَآبِّ عِندَ اللَّهِ الَّذِينَ كَفَرُوا فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٥٥﴾

پوه سه: چې "دواب" جمع د دابة ده وهي کل مایتحرک ویدب علی الارض اعم من الانسان وسائر الحیوانات، په تحقیق شر او بد د دابو په نېز د خدای ﷻ هغه کسان دي چې کافران دي، نو دوی ایمان نه راوړي.

نکته: خدای ﷻ شر الناس نه ووایه بلکې شر الدواب یې ووایه اشاره یې ودې ته ده چې دوی له انسانیته بالکل ګوښه دي البته په دواب کې به وي لکن په دوابو کې هم دوی تر ټولو دوابو بد دي عندالله، ولې دوابو لره خو عقاب بالنار نسته او دوی لره سته.

دروښ وایي: چې مظهري ﷺ وایي چې "فهم لا یؤمنون" احتراز دی له هغو کافرانو ځخه چې دمخه یې کفر کاوه او وروسته یې ایمان راوړی فحس

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اسلامهم انتهى، زه وايم چي د مظهري دا خبره به هلته صحيح واى چي په ځاى كي د فأ واو واى، نو دا جمله به حال او قيد واى نو بيا به قيد لپاره د احتراز واى د ماذكره المظهري، لكن دا عبارت په فأ د تفريع پر ماقبل راغلى نو د هغو خلگو دي، والحق ماقاله صاحب روح البيان حيث قال فلا يتوقع منهم الايمان لكونهم من اهل الطبع انتهى.

دروښ وايي: چي په اهل الطبع اشاره و هغه آيت ته وكړه بل طبع الله على قلوبهم الآية، او علامه بغداد الآلوسي هم په رايه د روح البيان دى حيث قال حكم مرتب على تماديهم في الكفر ورسوخهم فيه وتسجيل عليهم بكونهم من اهل الطبع ولا يلويهم صارف انتهى.

اَلَّذِيْنَ عٰهَدْتَّ مِنْهُمْ ثُمَّ يَنْقُضُوْنَ عَهْدَهُمْ فِيْ كُلِّ مَرَّةٍ

پوه سه: چي دا موصول بدل دى له الذين كفروا څخه، هغه كسان دي دا كافران چي تا وعده اخستې وه له دوى څخه او دوى هم قبوله كړې وه، نو ځكه يې باب د مفاعلة راوړى چي قبول د عهد يې په ځاى كي د عهد وباله، وزوسته دوى ماتوي وعده ددوى چي قبول ستا د عهد وُ په هر وار كي.

دروښ وايي: چي له "كل مرة" څخه دا معلومېږي چي ددوى سره عهود كثيره سوي وې او تولي دوى ماتي كړې.

دروښ وايي: چي دا كافران بنو قريضه وه من اليهود، راوي وايي چي د مهاجرينو او د انصارو ﷺ په حضور كي د بني قريضه سره عليه الصلوة والسلام داسي مكتوب نوشته كړى چي نسخه د مكتوب دوې ورقي وه په قول د ابو اسحاق رحمه الله په دې مكتوب كي يې دا نوشته كړه چي تاسي به كومك نه وركوي زموږ دښمن ته پر موږ باندي او ددوى په نفع يې دا نوشته كړه چي ستاسي مال او اولاد به محفوظ وي زموږ له يرغل څخه او دا وعده دوى ماته كړه چي په پټه به يې مشركانو ته سلاح لېږل، عليه الصلوٰة والسلام چي ددوى دا معامله دوى ته ذكر كړه دوى وويل موږ خطاوتو بيا عليه الصلوٰة والسلام نوې معاهده بالشرط المذكور ددوى سره وكړه دا وعده هم دوى ماته كړه د خندق په غزا كي چي غزوة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الاحزاب یې هم بولي او دوی د احزابو سره د کفارو مستقیماً په نفس او مال سره ملګري سوه، او د خندق تر غزا دمخه کعب بن الاسد په قول د روح البیان یا کعب بن الاشرف په قول د مظهري چې دا دواړه د بني قریضه له مشرانو څخه وه تخمیناً د اوویا کسانو سره مکې ته ولاړل او د ابو سفیان او د قریشو د نورو مشرانو سره یې عهد او ترون وکړی په حرب د مسلمانانو سره، نو ددې قرار له سببه غزوة الخندق منځ ته راغله او بني قریضه په دې غزا کې مستقیماً برخه واخستل.

دروښ وایي: چې په دې آیت سره اشاره و هغو کسانو ته هم ده چې د خدای ﷻ سره معاهده وکړي په ذریعه د توبې پر ترک د منهیاتو او معاصیو او بیا هغه توبه او عهد مات کړي او معاصي بیرته شروع کړي مرةً بعد اخری:

نه مارا درمیان عهد وفا بود ..... جفا کردی و بد عهدی نمودی
هنوزت آن درصلحت باز آی ..... کزان محبوب ترباشی که بودی

اشارة الی ان التائب من الذنب کمن لاذنب له.

وَهُمْ لَا يَتَّقُونَ ﴿٥٦﴾

او دوی له خدایه نه ببرېږي چې د علیه الصلوٰة والسلام له نبوت څخه انکار کوي بعد ما عرفوه کما یعرفون ابنائهم، ونقضوا العهود في کل مرة په صحیح حدیث کې چې روایت یې ابو نعیم او ابن جریر کړی دی چې معاذ بن جبل او بشر بن البراٗ او داوٗد بن سلمه ﷺ و یهودانو ته وویل چې تاسي به پر موږ چې موږ مشرکان طلب د فتح به مو په روی د محمد ﷺ کاوه او تاسي به هغه د بعث وخت نژدې دی او تاسي به موږ ته د هغه صفتونه بیانول اشارة الی قوله تعالی وکانوا یستفحون به فلما جائهم ما عرفوا کفروا به فلعنة الله علی الکافرین.

فَإِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ فِي الْحَرْبِ فَشَرِّدْ بِهِمْ مَنْ خَلْفَهُمْ

پوه سه: چې اصل د "اما" ان ما ؤ ان شرطیه دی او ما زائده دی جزاٗ د ان فشرد ده، په تاسو کې ثقفه کسمعه: صادفه ورسره یو ځای سو، او "اخذه" یا یې وښوی او ظفر به او ادرکه.

دروښ وایي: چې دا ټولې معانې دلته صحیح دي والانسب هو المعنی الثالث

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ای ظفر به کما لا یخفٰی، ای اذا کان حال ناقضي العهد من یهود بني قریضة مرة بعد اخری، نو که ته پر دوی بری پیدا کړې په جنګ کي.

پوه سه: چي تشریذ تفریق ته وایي سره د وارخطایي. ابن عباس ﷺ وایي چي معنا یې داده چي ته وارخطا کړې ددوی په تعذیب سره نور کسان چي تر دوی وروسته وي یعني افعل بهؤلاء الذین نقضوا عهدک من القتل والتعذیب چي په وه بیږې نور خلګ من اهل مکة والیمن، یعني د قتال خیال په زړه کي هم ور وه نه ګرځي. نو ددې آیت په امتثال کي چي څه وخت علیه الصلوٰة والسلام ته خدای پاک غلبه ورکړه پر دغو بني قریضه وو. نو نران چي بالغ وه هغه یې قتل کړ او ښځي یې ټولي مینځیاني وګرځولې او ددوی نابالغه اولادونه یې هم سبي وګرځول او ددوی مالونه یې پر غازیانو ووېشل، په حدیث کي د طبراني راغلي دي چي اسلم انصاري ﷺ وایي چي زه علیه الصلوٰة والسلام پر مشتبه نرانو د بني قریضه و مسلط کړم چي ګوره یې چي دوی بالغ دي او که نه.

پوه سه: چي د بالغ او نابالغ چي سپوخسه وکتل سي چي وېښتان پر ولاړ وي هغه بالغ دی او که نه وي نو نابالغ دی. اسلم وایي چي ما هم دغسي کوله چي د مشتبه نر سپوخسه به مي کتل که به چېري وېښتان پر وه سر به مي په توره ځندي پرې کړې او که به نه وه د سبي په ډله کي به مي دراوه.

لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ ﴿٥٨﴾

ددې لپاره چي من خلفهم به پند واخلي او نقض العهد به نه کوي. قال الشاعر:

پند گیر از مصائب دیگران ..... تا نه گیرند دیگران زتو پند
نرود مرغ سوی دانه فراز ..... چو دیگر مرغ بیند اندر بند

وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِنْ قَوْمٍ خِيَانَةً فَانْبِذْ إِلَيْهِمْ

او که ته ببرېدلي له یو قوم څخه "چي معاهدین وه" پر خیانت یعني نقض العهد چي اثار د نقض العهد پر ښکاره سوه. روح البیان وایي چي خوف دلته مجازاً په معنی د علم دی، نو ته ور وغورځوه ودوی ته عهد ددوی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې عهد يې مشابه کړی د يو ذی جسم شي سره، نو ځکه يې استعاره وويل فانبذ فافهم.

عَلٰى سَوَآءٍ

يعنې په برابري ستا او ددوی په علم کې د نقض العهد يعنې دوی خبر کړه دمخه تر جنګ چې ما هغه عهد چې زما او ستاسې تر منځ وٗ فسخ کړی.

پوه سه: چې خبرول هلته غواړي چې د عهد زمانه نه وي تېره سوې که عهد موقت وٗ لکه له نبذ څخه چې فهمېږي او يا عهد په زمانه پورې مقيد نه وي بلکې مطلق وي، نو بيا خبر بدل غواړي او دا خبر تيا ددې لپاره غواړي تاچې و رسول الله ﷺ ته د خيانت نسبت ونه کړل سي.

مسئله: نبذ العهد پر امام هلته لازم دی چې د کفارو خيانت په علاماتو ظنيه وو سره بنکاره سوې وي او که نبذ العهد د کفارو له خوا يقيني وٗ بيا د نقض العهد اعلان نه دی لازم لکه عليه الصلوٰة والسلام پر کفارو د مکې يرغل ورورې د فتح مکې په کال بېله خبرولو د اهل مکه او سره ددې چې عليه الصلوٰة والسلام او دوی معاهده سره کړې وه پر عدم قتال په کال د حديبيې د صلح، ولې اهل مکه عهد مات کړی چې د خزاعه د قبيلې چې په ذمه کې د عليه الصلوٰة والسلام وه په قتل يې لاس پورې کړی.

دروښ وايي: چې حافظ محمد يوسف صالحي ﷺ په سبيل الرشاد کې داسې وايي چې بني قينقاع اوله قبيله وه د يهودانو چې ددوی او د عليه الصلوٰة والسلام تر منځ عهد وٗ مات يې کړی او اظهار د بغي او حسد يې شروع کړی. نو بني قينقاع پر دغه حالت د اظهار نقض العهد والعداوة وه چې يوه ښځه له عربو څخه چې مسلمانه وه بازار ته د بني قينقاع راغله او بغره يې اغوستې وه.

دروښ وايي: چې د بني قينقاع سوق داسې يو بازار گوتی وٗ چې په هغه کې به کافران او مسلمانان دواړه موجود وه د خريد او فروخت لپاره او يو زرگر هم پکښې موجود وٗ، نو ښځه ورغله زرگر ته کښېنستله د زهورو د رانيولو لپاره. نو ودې ښځې ته چې هر څو خلګو وويل چې ته مخ لرې کړه دې نه لرې کاوه حياءً وستراً،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو زر گر چې کافرو د بنځې د شالـه خوا ورغلی چې دا یې په ځان نه کړل پوه ددې کالي یې په ځوز (ازغي) پوري غوټه کړه، خیر زهور چې یې رانیول دا چې ولاړه سوه بغره یا پورنی یې ځندي شوه سو او بې ستره سوه بنځې بغاري کړې چې د خدای پار دی مسلمانانو زه یې بې ستره کړم، یو مسلمان په جذبه د ایمان ور په هوا سو زر گر یې قتل کړی او یهودانو پر مسلمان حمله وکړه او هغه یې قتل کړی وغضب المسلمون فوقع الشر بینهم وبین بني قینقاع فنزلت هذه الآیة "واما تخافن الی اخیر الآیة" فقال رسول الله ﷺ انما اخاف من بني قینقاع فنبذ الیهم العهد، نو علیه الصلوٰة والسلام فوج کشي پر وکړه د اسلام بیرغ یې حمزة بن عبد المطلب ﷺ ته ورکړی او پر مدینه منوره یې ابو لبابه بن عبد المنذر ﷺ د خلیفه په توگه مقرر کړی، د علیه الصلوٰة والسلام فوج چې راغلی نو بني قینقاع په خپله محکمه قلعه ننوتل، نو علیه الصلوٰة والسلام دوی پینځه لس ورځې تر سخت حصار لاندې ونیول او خدای ﷻ یې په زړو کې بیره ورواچول، نو یې د علیه الصلوٰة والسلام ته د صلح داسي پېش نهاد وکړی چې ټوله مالونه، باغونه او سلاح یې ټوله ستاسي د مسلمانانو مور ته صرف بنځې او اولادونه راپرېږدئ، نو علیه الصلوٰة والسلام ورسره ومنله او امر یې ورکړی چې د مدینې یعني له اطرافو څخه ووځئ، درې ورځې وروسته دوی ووتل، نو علیه الصلوٰة والسلام خمس د غنیمت ځان ته وگرځاوه، ولي چې بني قینقاع بېله جنگه ووتل او څلور خمسه یې پر اصحابو کرامو ﷺ ووېشل وکان اول غنیمت بعد بدر.

إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْخَائِنِينَ ﴿٥٨﴾

په تحقیق د خدای ﷻ نه دي خوښ خائنان یعني عهد ماتونکي.

پوه سه: چې عدم حب کنایه ده له بغض څخه یعني یبغض الخائنین، ولي په جناب کي د خدای ﷻ واسطه په منځ کي د محبت او بغض نسته بالاتفاق.

فائده: چونکه خدای پاک علیه الصلوٰة والسلام امر کړی په نبذ العهد او په تصریح په هغه سره دمخه تر جنگ، نو د چا په زړه کي به دا توهم پیدا کېږي چې دښمن یعني کافران که په نبذ العهد خبر سي ځانونه به وجنگ ته اراسته کړي او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هر ممکن مدافعت د قتال چي ددوی په طاقت کي وي من السلاح والمعاونین به برابر کړي، نو به مسلمانانو ته د قتال مشکلات پیدا کړي او یا به وتښتي په هر تقدیر انتقام له دوی څخه په خطر کي واقع کېږي، نو دا به ته وایه نبه وي چي پر کافرانو صرف امارات د نقض العهد پیدا سوی وای دمخه تر تصریح په نبذ العهد پر دوی حمله سوې وای تاچي انتقام په اکمله وجه له دوی څخه اخستل سوی وای. نو خدای پاک ددې توهم ازاله په نزول ددې آیت وکړه.

وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا سَبَقُوا ۚ إِنَّهُمْ لَا يُعْجِزُونَ ﴿٥٩﴾

او ګمان دي نه کوي هغه کسان چي کفر کوي چي دوی دي فوت سي یعني پر دوی د مسلمانانو بری نه سي پیدا لکه هغه کسان چي له بدر څخه وتښتېدل یا په نورو معارکو کي د علیه الصلوٰة والسلام، ولي په تحقیق دوی نه سي عاجزه کولای طالب ددوی چي مسلمانان دي له ادارک څخه ددوی.

اعراب: لا یحسبن فعل غائب دی فاعل یې الذین کفروا دی، او مفعول اول یې محذوف دی ای انفسهم حذف هرباً عن تکرار ذکرهم او سبقوا یې مفعول ثاني دی په تاویل د مفرد ای سابقین تائبین.

وَأَعِدُّوا لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ

او تاسي اراسته کوئ یعني برابروئ اې مسلمانانو د ناقضی العهد لپاره او یا د مطلق کفارو لپاره، چي ستاسي وس پوره وي اعداد یې.

پوه سه: چي اعداد ذخیره کول دي د شي لپاره د حاجت د وخت، له قوت څخه مراد اسباب والآلات الحرب په اختلاف د زمانو هر څه اسباب د جنګ چي وي، او هغه عملونه چي تاسي ته قوت درکوي په وخت کي د جنګ لکه اسپ دواني او مصارعت یعني نېزه بازي پهلواني او سات تېرول په غشي ویشتلو سره وغیر ذالک. او د اعداد له قسمه څخه دی جمع کول د مال د جنګ د وخت د پار، له عقبه بن عامر رضي الله عنه څخه روایت دی ده وویل ما اورېدلي دي له رسول الله ﷺ څخه چي دی مبارک پر منبر ناست وؤ او ویل یې "واعدوا لهم ما استطعتم من القوة الا ان القوة هي الرمي الا ان القوة هي الرمي الا ان القوة هي الرمي الا ان القوة هي الرمي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې د آنحضرت ﷺ مراد حصر د قوت په رمي کې نه دی بل هو من قبيل ذكر العمدة وقت الحرب رواه مسلم.

فائده: دروښ وايي چې په قرار د هغه حديث نبوي ﷺ چې مسلم راوړی دی الجهاد ماض الى يوم القيامة جهاد به له کفارو سره جاري وي د قيامت تر ورځې پورې، لهذا قوت د عصر نبوي که څه هم مذکوره شيان وه لکن په مرور د زمانو لکه چې د کفارو قوت زياتېږي بايد په هغه مناسبت مسلمانان هم خپل قوت مخ پر زياتېدلو کې مثلاً بايد د حمل او نقل موټران ولري تانکونه بايد ولري کلاشنکوفونه بايد ولري او بمباري کونکي طيارې بايد ولري الى غير ذالک حتى چې که يې طاقت وُ بايد ايټم بم ولري، لکن په اوسنۍ زمانه کې چې د لوی قدرت خاوندان کفار دي لکه امريکا، روس، چين، انګليس، جاپان، فرانس وغيره د اسلامي مملکتو لپاره يې ايټم بم ممنوع ګرځولی دی او په خپله يې لري، ولي چې دوی له اسلامي جهاد څخه ډېر په رعب کې دي، نو ځکه يې د اسلامي ممالکو د جنګ قدرت محدود کړی، او داغه رنګه له عقبه بن عامر ﷺ څخه روايت دی چې بيا هم مسلم راوړی دی عليه الصلوٰة والسلام وويل "ستفتح عليكم الروم ويكفيكم الله فلا يعجز احدكم ان يلهو باسهمه" په صحيح حديث کې راغلي دي چې سعد بن ابي وقاص ﷺ د احد په ورځ زر غشي وويشتل او هر غشی چې به يې ويشتی عليه الصلوٰة والسلام به ورته ويل فداک ابي وامي.

مسئله: بعض علماؤ رحمهم الله وايي چې تفديه د مور او پلار چې مسلمانان وي مکروه ده، لکن امام نووي په شرح کې د مسلم وايي الصحيح انه جائز مطلقاً يعني که مور او پلار کافران وي او که مسلمانان لانه ليس فيه حقيقة الغدأ بل هو تلطف في الكلام واعلام بمحبته، او ترمذي او ابن ماجه روايت کړی دی له عقبه بن عامر جهني څخه چې عليه الصلوٰة والسلام وويل چې په يوه غشي خداى پاک درې کسه جنت ته بيايي (۱) صانع يعني جوړونکی يې يحتسب في صنعته الخير، چې دده په جوړولو کې د خير نيت وي مثلاً چې يو مسلمان ته به يې ورکړم او پر خرڅ به يې کړم چې جهاد په وکړي (۲) ومنبله چې غشي ورامي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ته په لاس ورکوي (۳) والرامي به او بل ویشتونکی دی د غشي.

دروښ وایي: چې د جهاد في سبیل الله په باره کې د قرآني آیاتو پرته احادیث متواتره المعنی هم په صحاح سته وو کې او په نورو صحیح کتابو کې د احادیثو دېر دي چې حصر یې تقریباً ممکن نه دی وفي ماذکرنا کفایة.

وَّمِنْ رِّبَاطِ الْخَيْلِ

دروښ وایي: چې بیضاوي وایي چې رباط اسم للخیل الذي یربط في سبیل الله، نو په اصل کې مصدر دۍ چې ترڅو یې معنا وه بیا د آس نوم سو. لکه خلق په معنا د مخلوق، نو پر دې تقدیر اضافت د رباط وخیل ته لپاره د بیان د معنی مراد دی په رباط سره، او روح البیان وایي چې رباط پر وزن د فعال دی بکسر الرأ په معنا د مطلق مربوط دی لکه لباس په معنی د ملبوس دی، نو اضافت د رباط وخیل ته اضافت د صفت و موصوف ته دی، فالمعنی خیل مربوطة لکه جرد قطیفة بمعنی قطیفة جردة، نو اضافت د عام چې رباط دی وخاص ته چې خیل دی لپاره د بیان دی، او یا لپاره د تخصیص دی لکه خاتم فضة.

سوال: په عبارت کې د بیضاوي داسي تېره سوه للخیل الذي آه په تذکیر د موصول، او په عبارت کې د روح البیان داسي راغله خیل مربوطة په تانیث د صفت وجه یې څه ده؟

ځواب: خیل اسم جنس دی پر قلیل او کثیر دواړو یې اطلاق کېږي فیجوز تذکیر الموصول بارادة فرد واحد ویجوز تانیث الصفة بارادة کثیر من الخیل.

سوال: رباط الخیل خو په قوت کې داخل ؤ چې ورڅخه یې آیت کې راغلی، نو د عطف یې څه فائده؟

ځواب: د عطف فائده یې تنبیه ده پر افضل د انواعو د قوت لکه عطف د جبرئیل او میکائیل پر ملائکو باندې، علماؤ رحمهم الله وایي چې جن هغه کور ته نه ورځي چې په هغه کې آس یا د جنګ سلاح في سبیل الله وي، او په صحیح حدیث کې راغلي دي که یو سړی اوربشي د خاک او خاشاک څخه پاکي کړي بیا یې آس ته کښېږدي او هغه یې وخوري د اوربشي پر هره دانه باندې ده ته نیکي نوشته کېږي او په بل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صحیح حدیث کي راغلي دي چي که چا آس وساتی "في سبيل الله احتساباً جواب وايماناً وتصديقاً بوعده تعالى فان شبعه" چي اميد د ثواب يې له خدای ﷻ څخه کاوه، مړول د هغه او اوبه ول د هغه او خوشايي د هغه في ميزانه يوم القيامة ای في كفة حسانة، په حديث کي د بخاري او مسلم راغلي دي په روايت د انس ﷺ ده وويل چي رسول الله ﷺ وفرمايله البركة في نواصي الخيل، او جرير بن عبدالله ﷺ وايي چي ما رسول الله ﷺ وليدی چي د آس دمخ وښتان يې په ګوته سره پېچل او په داسي حال کي يې داخبره وکړه الخيل معقود في نواصيها الخير الى يوم القيامة الاجر والغنيمة رواه مسلم، وعن ابي هريرة ﷺ الخيل ثلثة (آسان درې قسمه دي) هي لرجل وزر ولرجل ستر ولرجل اجر، فاما الذي له وزره (يعني هغه څوک چي ده لره د آس ساتل ګناه ده) فرجل ربطتها رياً وفخراً ونواً لاهل الاسلام (چي آس يې د رياً يا د فخر او يا لپاره د بلندی پر اهل اسلام تړلی وي. واما التي هي له ستر (يعني هغه سړی چي د عيال نفقه په برابروي) واما التي هي له اجر فرجل ربطتها في سبيل الله لاهل الاسلام الى اخير الحديث باختصار.

پوه سه: چي فرس مؤنث سماعي هم دی لکه اسم چي دی کمامر.

تُرْهِبُوْنَ بِهٖ عَدُوَّ اللّٰهِ وَعَدُوَّكُمْ وَاٰخَرِيْنَ مِنْ دُوْنِهِمْ ۚ

چي تاسي ببروئ په هغه سره دښمن د خدای ﷻ او دښمن ستاسي، او داغه رنګه ببروئ نور کافران غير له اهل مکي څخه، مجاهد او مقاتل وايي چي د غيرهم څخه بنو قريضه مراد دي، او سدي وايي چي کفار فارس مراد دي، او حسن بصري رحمه الله وايي چي منافقين ځندي مراد دي.

پوه سه: چي د "به" ضمير و "وما استطعتم" ته يا "اعداً" ته چي مصدر دی راجع دی،

لَا تَعْلَمُوْنَهُمْ ۚ اَللّٰهُ يَعْلَمُهُمْ ۚ وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ شَيْءٍ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ يُوَفَّ اِلَيْكُمْ وَاَنْتُمْ لَا تُظْلَمُوْنَ ۝

چي تاسي دا اخرين تفصيلاً نه پېژنئ خاص خدای ﷻ په خبر دی او هغه شی چي تاسي نفقه او مصرف کړئ په لار کي د خدای ﷻ يعني په جهاد کي يعني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

که دراهم او دنانیر وي او که اوښان یا افراس کامل او پوره به درکړل سي تاسي ته ثواب د هغه په ورځ د قیامت، رسول الله ﷺ وفرمایل "من جهز غازیاً فقد غزا" که چا کار ورسم کړی د غازي، نو ده هم غزا وکړه؛ متفق علیه، ابو مسعود انصاري ﷺ وایي چي یو سړي مهار کړې اوښه راوستل او علیه الصلوٰة والسلام ته یې وویل هذه في سبیل الله" علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل لک بها یوم القیامة سبعمائة الناقة کلها مخطومة، رواه مسلم، له انس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وویل جاهدوا المشرکین باموالکم ای بصرف اموالکم وانفسکم ای بقتال انفسکم والسنتکم" په ژبو سره بالوعظ والتبلیغ، ابو داؤد، نسائي و دارمي. وعن خزیمة بن مالک ﷺ قال قال رسول الله ﷺ من انفق في سبیل الله کتب له بسبعمائة ضعف" ترمذي و نسائي.

حضرت علي، ابو درداً، ابو هریرة، عبدالله بن عمرو، جابر بن عبدالله و عمران بن حصن ﷺ ټولو وایي چي رسول الله ﷺ وویل که چا واستول نفقه في سبیل الله یعني مجاهدینو ته یې ورکړه او دی په خپل کور کي پاته سو "فله بکل درهم سبعمائة درارهم، ومن غزاً بنفسه وانفق في وجهه فله ثواب سبعمائة الف درهم، ثم تلا هذه الآیة والله یضاعف لمن یشاً ابن ماجه، له عبدالرحمن بن حباب ﷺ څخه روایت دی چي علیه الصلوٰة والسلام د جیش العسرة چي د غزوة تبوک په نامه مشهوره ده او دېره سخته غزاً وه، نو علیه الصلوٰة والسلام مسلمانان پر مرسته د جیش العسرة باعثه کول، عثمان ﷺ ودرېدی او وه یې ویل چي پر ما سل اوښان دي "باحلاسها" احلاس جمع د حلس ده، هغه ځل ته وایي چي د اوښ پر شا یې اچوي "واقتابها" جمع د قتب ده چي په پښتو یې کتنه بولي چي سړی پکښي سپر ږدي "في سبیل الله" علیه الصلوٰة والسلام وخپلو خبرو ته ادامه ورکړه، عثمان ﷺ ورته وویل چي پر ما یې دوه سوه اوښان "باقتابها واحلاسها في سبیل الله" علیه الصلوٰة والسلام خپلي د مرستي وینا ته تسلسل ورکړی، عثمان ﷺ بیا ودرېدی چي پر ما یې درې سوه اوښان "باحلاسها واقتابها في سبیل الله فرئیت رسول الله ﷺ ینزل عن المنبر" او علیه الصلوٰة والسلام دوه یا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درې واره دا خبره وکړه ما علی عثمان ما عمل بعد هذا، ترمذي.

لله عبدالرحمن بن سمرة ﷺ څخه روایت دی چې عثمان ﷺ تر درې سوه اوښانو علاوه زر طلاوي په لستونې کې را اخستي وې د جیش العسرة د تجهیز لپاره د علیه الصلوٰة والسلام په لمن کې یې ورتوی کړې، نو علیه الصلوٰة والسلام په دینارو کې لاس وواهه او وه یې ویل "ماضر عثمان مافعل بعد الیوم مرتین" رواه احمد.

تنبیه: د دې هرو خلګو په زړو کې دا خیال ورګرځي چې عثمان ﷺ چې دومره غني شخصیت ؤ او د علیه الصلوٰة والسلام دوې لونې هم دده په نکاح کې راغلې وې، یعنې یوه چې وفات سوه بیا یې بله لور په نکاح ورکړه، بیا چې هغه وفات سوه علیه الصلوٰة والسلام وویل که ما درې یمه لور درلودای نو هغه به مې هم عثمان ته په نکاح ورکړې وای، نو د سوال حاصل دادی چې د علیه الصلوٰة والسلام زغره ولې د یهودي سره په نهه کاسې اوربشو ګرو وه، او علیه الصلوٰة والسلام ویلي دي کما في البخاري وغیره "ما شبع آل محمد من خبز شعیر یومین متتابعین" او نور ورته احادیث د علیه الصلوٰة والسلام د فقر او مسکنت په باره کې، په صحاح سته وو کې راغلي دي، نو اصل سوال دادی چې عثمان ﷺ د رسول الله ﷺ په حال ښه خبر ؤ، ولې یې مرسته نه ورسره کوله؟

ځواب: علیه الصلوٰة والسلام نه د چا نفلي او نه فرضي صدقه قبلوله، نو که عثمان ﷺ په نیت د صدقې د علیه الصلوٰة والسلام سره مرسته کړې وای، څرنګه به علیه الصلوٰة والسلام له ده قبلولای، او د هدې چې علیه الصلوٰة والسلام قبلوله د عثمان ﷺ په ورکولو نه جوړېدی کما لایخفی.

وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا

او که میل وکړی کافرانو وصلح ته، ته هم میل وصلح ته وکړه او معاهده ورسره وکړه.

سوال: د "سلم" لفظ خو مذکر دی، نو د مؤنث ضمیر څرنګه ورته راجع سو؟

ځواب: سلم یې پر نقیض د هغه حمل کړی دی چې حرب دی او حرب مؤنث سماعي دی، او یا تاویل د سلم په مسالمة چې مصالحت ته وایي هم کړل کېږي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي حسن بصري او قتاده رحمهما الله وايي چي دا آيت منسوخ دی بقوله اقتلوا المشرکین حیث وجدتموهم، او بیضاوي وايي چي دا آيت د اهل کتابو په باره کي دی لاتصالها بقتلهم.

دروښ وايي: چي دا دواړه قولونه صاحب د روح البیان چي وفات يې په سنه ۱۱۲۷ هـ ق کي سوی دی په جلد ۳ ص۳۶۶ کي وايي والامر في قوله فاجنح للاباحة والآية عامة لاهل الكتاب وغيرهم.

دروښ وايي: چي روح البیان په دې خبره الامر للاباحة قول د حسن او قتاده رحمهماالله رد کړی دی چي وايي دا آيت منسوخ دی او په دې عبارت والآية عامة آه قول د بیضاوي رد کړی دی، وروسته روح البیان ویلي دي والامر فيه مفوض الى رأى الامام وليس يجب عليه القتال ابداً ولا ان يسعفهم الى الصلح عند طلبهم ذالک ابداً بل يبني الامر على مافيه صلاح المسلمين فاذا كان للمسلمين قوة جداً فلا ينبغي ان يصالحم وينبغي ان يحاربهم ترڅو چي اسلام قبلوي يا جزيه ورکوي وان رأى المصلحة في المصالحة ، او د امام میل هم ومصالحت ته ؤ لايجوز ان يصالحهم سنة كاملة الا اذا كانت القوة والغلبة للمشركين، نو پر دې تقدیر صلح تر لسو کالو پورې روا ده، او تر لس کاله زائده صلح نه ده ورته روا اقتداً برسول الله ﷺ فانه عليه الصلوٰة والسلام فعل كذالک اى في الصلح مع كفار قريش چي لس کال يې معياد د صلح او عدم حرب وتهاکی، انتهى بالعبارة في البعض وبالترجمة في البعض.

دروښ وايي: چي مظهري رحمه الله چي وفات يې په سنه ۱۲۲۵ هـ ق کي سوی دی، يعني د روح البیان تر صاحب ډېر وروسته دی د حسن بصري، قتاده او بیضاوي رحمهم الله خبر يې په دې الفاظو سره رد کړې ده "قلت" يعني نسبت يې وڅان ته کړی دی لاوجه تخصيصها باهل الكتاب يعني كما قال البيضاوي ولا بالقول بانها منسوخة يعني كما قال الحسن وقتادة بل الامر للاباحة والصلح جائز مشروع ان رأى الامام فيه مصلحة انتهى.

دروښ وايي: چي له نقل څخه زه منکر نه يم ولي چي زه په خپله ناقل يم لکن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د منقول قول نسبت وځان ته نه کوم، او دا خبره به هم د هره مشکله وي چې مظهري رحمه الله به روح البیان نه وي مطالعه کړی او یا د دواړو د خبرو موافقت دی توارد الافکار وي فافهم.

وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۶۲﴾

او توکل پر خدای ﷻ وکړه له دې څخه مه ببر ویره چې د کافرانو په صلح، فریب او چم په خیال کې وي ولې چې خدای ﷻ ستا ساتونکی او مددګار دی له دوی څخه دي ساتي، او علم لري پر نیتو د کافرانو فیو اخذهم بنیاتهم.

وَاِنْ يُّرِيْدُوْٓا اَنْ يَّخْدَعُوْكَ فَاِنَّ حَسْبَكَ اللّٰهُ ؕ هُوَ الَّذِيْٓ اَيَّدَكَ بِنَصْرِهٖ وَبِالْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۶۳﴾

او که دوی یعني کافران اراده لري په صلح سره چې خطاباسي تا، چې دوی ستا وجنګ ته ځان مستعد وګرځوي او یا ستا د قتل لپاره یو وخت مساعد ولټوي، **پوه سه:** چې اصل خبر د ان محذوف دی یعني فلا تبال بمکرهم، او دلیل د جزا په ځای راوړی دی، یعني چې په تحقیق کافي دی تا لره خدای ﷻ، او خدای هغه ذات مقتدر دی چې ستا تائید کړي په خپل نصرت او په مؤمنانو کې مهاجرین دي او که انصار دي په انصارو کې که اوس دي که خزرج.

وَاَلَّفَ بَيْنَ قُلُوْبِهِمْ ؕ

یعني وروسته تر دې چې په جاهلیت کې به د اوس د خزرج تر منځ شر او فساد ان عداوت وګ کمامر في قوله تعالى في سورة آل عمران یعني قوله تعالى "اذ کنتم اعداءً فالف بین قلوبکم فاصبحتم بنعمته اخواناً، او په تفسیر ایوبي کې ددوی یعني د اوس او د خزرج عداوت ممتد او د قتل وقتال بیان تبر سوی دی.

لَوْ اَنْفَقْتَ مَا فِى الْاَرْضِ جَمِيْعًا مَّآ اَلَّفْتَ بَيْنَ قُلُوْبِهِمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ اَلَّفَ بَيْنَهُمْ ؕ اِنَّهٗ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿۶۴﴾

که تا اې مخاطب غیر معینه مصرف کړي وای تولې هغه چې په مځکه کې دي نه به دي وای اچولای په منځ کې د زړو ددوی الفت، لکن خدای ﷻ په قدرت عظیمه سره الفت پیدا کړی په منځ کې ددوی یعني ظاهراً وباطناً یعني هغه د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کلو کلو عداوت یې ددوی له زړو څخه وه ایستی، په تحقیق خدای ﷻ غالب دی او په شي کي حکمت لري. صدق الله العزیز.

يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ حَسْبُكَ اللَّهُ وَمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٦٤﴾

ای نبي کافي او بس دی تاله خدای ﷻ او هغه کسان چې ستا متابعت یې کړی دی له مؤمنانو څخه.

پوه سه: چې "من اتبعک" په محل کي د جر دی عطف پر کاف دی پر مذهب د کوفیانو چې عطف پر ضمیر مجرور بېله اعادې د جار روا بولي، او یا په محل کي د نصب دی مفعول معه دی. والتقدیر حسبک الله مع من اتبعک من المؤمنین، الله وهذا الاعراب بعید لفظاً قریب معنیً.

پوه سه: چې اسناد د کفایت و مؤمنین ته لکونهم اسباب ظاهرة لکفایة الله الذي هو الکافي الحقیقي، په حدیث صحیح کي د سعید بن المسیب ﷺ په روایت راغلي دي چې په مکه کي پر علیه الصلوٰة والسلام باندې درې دېرش (۳۳) نرانو او شپږوښځو ایمان راوړی وروسته عمر ﷺ ایمان راوړی او دده په ایمان سره څلوېشت پوره سوه، نو دا آیت نازل سو "یاایها النبي الآیة" لکن بعض مفسرین ﷺ وایي چې دا آیت پر دې دلالت کوي چې دا آیت مکي دی وسیاق الکلام یقتفي کونها مدنیة فان السورة نزلت بعد غزوة بدر، او دغه مفسرین ﷺ وایي چې دا آیت نازل سو په بیدا کي في غزوة بدر قبل شروع القتال لتقویة حضرت النبویة ﷺ وتسلیة الصحابة ﷺ، او ابن عباس ﷺ وایي چې دا آیت هغه وخت نازل سو چې عمر ﷺ اسلام راوړی.

سوال: د عمر ﷺ اسلام راوړل خو په مکه کي ؤ او دا سورت مدني دی کما مر من قبل هذا؟

ځواب: د ابن عباس ﷺ پر روایت آیت بې له شکه مکي دی لکن په مدني سورت کي په امر د رسول الله ﷺ نوشته سو هذا ماقاله روح البیان.

دروېش وایي: چې په قرآن کي داسي ډېره واقع کېږي چې په سورت مکي کي بعض مدني وي وبالعکس لکن بامر رسول الله ﷺ، که ته د سورتو د قرآن کریم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په مصاحفو کي نظر وکړې چې مکي او مدني سره جلا کوې په ډېرو سورتو کي په وويني السورة المكية الا الآية الفلانية فانها مدنيه او بالعكس به هم وويني ان شاء الله تعالى، حاصل د کلام دادی چې مدني والی د يو سورت منافي ددې سره نه دی چې بعض آيت دي مکي وي وبالعکس.

قصة اسلام عمر رضي الله عنه: د صحيح واقعاتو راويان او د احاديث واقعيه وايي چې عليه الصلوٰة والسلام د چهار شنبې په ورځ خدای پاک ته داسي خواست وکړی "اللهم اعز الاسلام" وفي رواية اللهم ايد الاسلام باحد الرجلين يعني بايمان احد الرجلين اما بابی جهل بن هشام واما بعمر بن الخطاب" (وجه تخصيص د ابو جهل داده چې ابو جهل يو مشر سړی ؤ او په قريشو کي يې لوی اعتبار درلودی حتی چې تولي فيصلې به ده کولې، نو حکه دی د جاهليت په زمانه کي په ابو الحکم سره مشهوره و، او وجه تخصيص د عمر رضي الله عنه داده چې دی ډېر دلاوره ؤ او د زړه ډک سړی ؤ کله څه هم دی په دغه وخت کي پينځه ويشت کلن يا شپږويشت کلن ؤ) نو د پنج شنبې په ورځ عمر رضي الله عنه ايمان راوړی، راويان وايي چې څه وخت چې دا آيت نازل سو "انكم وماتعبدون من دون الله حصب جهنم انتم لها واردون" نو ابو جهل بن هشام ته چې اسلام لقب ورکړی که څه هم په جاهليت کي دده لقب ابو الحکم ؤ کمامر آنفاً، او ابو جهل د عمر رضي الله عنه ماما ؤ، ولي چې د عمر رضي الله عنه مور د ابو جهل خور وه، او بعض اهل تاريخ وايي چې عمر رضي الله عنه مور د ابو جهل د اکا لور وه، په عربو کي وعصبة الام ته ماما وايي، نو ابو جهل د قريشو په مجموعه کي ودرېدی چې عمر رضي الله عنه هم پکښې حاضر ؤ او وه يې ويل يا معشر القريش ان محمداً قد شتم الهتكم وزعم انكم وآبائكم والهتكم في النار (محمد ستاسي خدايانو ته بنکنځل کوي، او دی وايي چې تاسي او ستاسي پلرونه او نيکه ګان او ستاسي خدايان به په اور کي ياست) فهل من رجل بقتل محمداً وله مائة ناقة حمراً وسوداً و الف اوقية من فضة" (ده وويل چې نسته داسي څوک چې محمد قتل کړي مونږ به وهغو ته سل اوښانې سرې او تورې ورکړو، او زر اوقيې به سپين زر چې يوه اوقيه څلوېښت درهمه وه چې زر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اوقيې څلوېښت زره درهمه ته رسېږي ورکړو) "فقام عمر بن الخطاب اتضمن ذالک یا ابا الحکم" (نو عمر بن خطاب ودرېدی ابو جهل ته یې وویل چې ته ضمانت ددغه انعام مذکوره پر قتل د محمد کوې) "فقال نعم یا عمر (نو ابوجهل ورته وویل هوا زه یې ضمانت کوم، نو عمر ابو جهل تر لاس ونیوی کعبې شریفې ته داخل سوه چې هلته ددوی یو لوی خدای وۥ، چې دوی هبل ورته وایه) "فتحالفا عنده واشهدا علی انفسهما هبل" (نو ابو جهل او عمر په حضور کې د هبل قسم سره وکړی، عمر پر قتل د محمد ﷺ او ابو جهل پر ورکړه د انعام مذکور او شاهد یې وګرځاوه هبل پر خپلو ځانو) "فانهم کانوا اذا ارادوا امراً من سفر او حرب او سلم او نکاح لم یفعلوا شیئاً حتی یستأمر هبل ویشهده علیه" (ولې قریش په جاهلیت کې داسې وه چې اراده د یو کار به یې وکړه که به سفر وۥ که به جنګ که به صلح وه او که به نکاح وه تر هغو یې کار نه کاوه چې له هبل څخه یې مشوره نه وای اخستې او هبل یې پر ځان نه وای شاهد کړی.

سوال: هبل خو له دېرې څخه جوړ جماد بت وۥ، نو دوی ته یې څرنګه مشوره ورکول؟

ځواب: د هبل سره شیطان مقرر وۥ شیطان به د لا او د نعم مشوره ورکوله ددوی به دا ګمان سو چې دا خبرې موږ ته هبل کوي، او په دغه وخت کې د کعبې شاوخوا پینځلس سوه بتان وه، په یوه روایت کې راغلي دي چې د محمد د قتل پر خبره چې ابو جهل او عمر وکړه ټوله بتان پر سجده سوه او لا اله الا الله یې وویل، ابو جهل و عمر ته وویل چې په دې خطا نه وزې محمد دومره لوی جادوګر دی چې زموږ په خدایانو یې هم سحر او جادو کړی دی، نو عمر تووره وغاړې ته واچول او بغل ځولی یې د غشو ډکه پر وږه کښېښول او دا یې وویل چې تر هغو به زه تووره له غاړې ونه کاږم او نه به شی خورم او نه به ارام کوم تر څو چې ما د محمد سر په دغه تووره نه وي پرې کړی، او په دغه وخت کې علیه الصلوٰة والسلام سره د مسلمانانو د زید بن الارقم ﷺ په سرای کې چې د صفا تر غره لاندې وۥ پټ وه یعنې دباندې نه سوای راوتلای، ډوډی وغیره به ښځو ورته راوړل، نو عمر چې د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

زید بن الارقم ﷺ وسرای ته ورغلی دروازه یې ونکول چې له دننه بنده وه، یو صحابي ورولاړ سو د دروازې تر چولې یې وکتل علیه الصلوٰة والسلام ته یې وویل چې عمر دی تورہ یې په غاړه ده، هغه سړي وویل چې د عمر اراده داسې پېکاري چې ستا وینه به تویوي او نور فساد به هم وکړي، علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل چې دروازه ورخلاصه کړه که د خیر په نیت راغلی ډیغني د اسلام راوړلو مودې به یې خندي قبول کړو، او که د شر په اراده راغلی ډمودې به یې په هغه تورہ سر وربرېکړو، عمر چې داخل سو رسول الله ﷺ ورته وویل "ما انتهی یا عمر حتی ینزل الله بک قارعة" بیا علیه الصلوٰة والسلام وروولاړ سو عمر یې تر کالو اود توري تر بند ونیوی او سره وه یې بنورلوه، عمر وربېدېدی له هیبته څخه د علیه الصلوٰة والسلام، او دی کښېنستی او دا یې وویل اعرض علي الاسلام یعني ماته اسلام پېش کړه الذي تدعوا الیه؟ علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل تشهد ان لا اله الا هو وحده لاشریک له وان محمداً عبده ورسوله، فقال عمر ﷺ اشهد ان لا اله الا الله وانک رسول الله، نو ناستو مسلمانانو ﷺ له خوشالیه په لوړ اواز سره وویل الله اکبر حتی چې د مکې په لارو کې دا تکبیر واورېدل سو، وروسته علیه الصلوٰة والسلام دري واره عمر ﷺ پر خیګر وواهه او داسې دعا یې وکړه اللهم اخرج ما في صدر عمر من غل وابدله ایماناً، عمر ﷺ وایي چې زه له سره تر نوکه په خولو کې غرق سوم دستي جبرئیل راغلی علیه الصلوٰة والسلام ته یې ووېل لقد استبشر اهل السما باسلام عمر ﷺ خوشاله سوه اهل سما یعني ملکي په اسلام د عمر ﷺ، مشرکین چې د عمر ﷺ په اسلام خبر سوه نو داسې یې ووېل لقد انتصف القوم منا، قسم په خدای ﷻ دی زمونږ نیم قوم راڅخه جلا سو، په روایت د عمر ﷺ چې له ده څخه یو چا پوښتنه وکړه چې څه سبب دی چې تاته رسول الله ﷺ د فاروق لقب درکړی دی؟ ده ورته وویل ما چې اسلام راوړی او علیه الصلوٰة والسلام او نور مسلمانان د زید بن ارقم ﷺ په سرای کې پټ ژوند کاوه، نو ما وعلیه الصلوٰة والسلام ته ووېل یا رسول الله الستا علی الحق ان متنا وان حیینا؟ آیا مونږ نه یو پر حق که مړه سو او که ژوندي؟ علیه الصلوٰة والسلام راته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وویل نعم، ما ورته وویل نو ولي مونږ دلته پټ کښېنو، عمر ﷺ وایي ما ورته وویل والذي بعثک بالحق داسي مجلس به زه نه پرېږدم چې په حال کې د کفر زه په هغه کې کښېې نستلی یم الا اظهرت فیه الاسلام غیر هائب، نه به هیبت رابانديې وي او نه به ببرېږم والله لانعبد الله سراً بعد الیوم، نو علیه الصلوٰة والسلام او نور ورسره مؤمنانو د زید بن الارقم ﷺ له سرایه راووتل او عمر ﷺ دمخه روان وو او توره یې کښلې وه او په زوره زوره ناري یې وهلې ﴿الله اکبر الله اکبر﴾ حتی چې د مسجد ته د حرم مکي ننوتل او عمر ﷺ لو ناره وکړه چې په قریشو یې واورېدل که څوک له ځایه وښورېدی په دغه توره به یې سره قلم کړم، بیا علیه الصلوٰة والسلام دمخه او مؤمنان په پسې وه پر کعبه شریفه یې طواف وکړی، بیا پر لمانځه په جماعت باندې ودرېدل او علیه الصلوٰة والسلام قرآن مجید په جهر سره وایه او علیه الصلوٰة والسلام او نورو مؤمنانو د عمر ﷺ د اسلام راوړلو څخه مخکې نه سوای کولای چې عند الکعبة دي لمونځ وکړي او یا دي قرآن مجید په جهر سره ووایي فسماه النبي ﷺ بالفاروق، لانه فرق بین الحق والباطل وجاً بسند حسن ان اول من جهر بالاسلام (یعني في مجامع القریش) هو عمر بن الخطاب ﷺ (په هغه وخت کې چې علیه الصلوة والسلام په مدینه کې وو او مکه شریفه هم فتح سوې وه) واستأذن عمر ﷺ في العمرة فاذن له علیه الصلوٰة والسلام وقال یا اخي لاتنسنا من دعائک، قال عمر ما احب ان لي بقوله یا اخي ما طلعت علیه الشمس.

ژباړه: عمر ﷺ له علیه الصلوٰة والسلام څخه اجازه وغوښتل د عمرې د تلو، نو علیه الصلوٰة والسلام اجازه ورکړه او داسي یې ورته وویل اې وروره مونږ په دعا کې مه هېروه، عمر ﷺ وایي زما نه ده خوښه په مقابل کې ددغه قول د علیه الصلوٰة والسلام یا اخي، تر تولې هغه چې لمر پرې راخېژي یعني تولې دنیا، په یوه حدیث کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وویل چې که تر ما وروسته نبي وای نو عمر به وای، په بل حدیث کې راغلي دي چې زما تائید خدای ﷻ کړی دی په څلورو وزیرانو سره، دوه د اهل سما دي یعني جبرئیل ومیکائیل، او دوه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د اهل الارض دي ابو بکر وعمر رضي الله عنهما. او نور مناقب د حضرت عمر رضي الله عنه نهایت ډېر دي په کتاب کي چې د الفاروق په نامه یاد ېږي مطالعه دي کړل سي.

دروېش وايي: چې خبره راڅخه اوږده سوه لکن مع الفوائد السنية اوس بيرته د تفسير پر خوا ان شاء الله تعالى.

يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى الْقِتَالِ ۚ إِنْ يَكُنْ مِنْكُمْ عِشْرُونَ صَابِرُونَ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ ۚ

اې نبي المراد به محمد ﷺ باعث کړه په دې ډېر شدت سره مؤمنان پر جنګ د کفارو که وي له تاسي څخه شل (۲۰) کسه نران چې صبر لري پر سختيو د جنګ يعني وخداى ﷻ ته يې د ثواب طمع هم وي غلبه به کوي پر دوو کسو د کافرانو.

وَإِنْ يَكُنْ مِنْكُمْ مِائَةٌ يَغْلِبُوا أَلْفًا مِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَا يَفْقَهُونَ ۝

او که وي له تاسي څخه سل کسه يعني نران "د صابر قيد يې نه کړی ذکر اکتفاً بما سبق" غلبه به کوي يعني بنصر الله پر زرو کسانو د هغو کسانو چې کفر کوي په سبب ددې چې کافران يو قوم دی چې نه پوهېږي. والمعنى چې کافران جاهلان په ثواب سره او جاهلان دي په خداى ﷻ چې شريک ورته وايي او جاهلان دي په ورځ د قيامت، نو دوی وتاسي ته ثبات نه سي کولای که تاسي صبر وکړئ پر قتال ددوی لطلب الثواب والدرجات العلى على تقدير الشهادة والحيوة، او کفار پر مرګ بېر پېرۍ، ولي طمع د ثواب نه لري په دې سبب چې دار الثواب نه منې.

پوه سه: چې دا جملې خبريه وې لکن په معنى د امر دي چې صبر به کوي يو مسلمان په مقابل کي د لسو کافرانو او خداى ﷻ وعده کوي چې که دوی يعني يو په لسو د کافرانو صبر وکړي دوی به غلبه پيدا کوي بعون الله وتائيده.

پوه سه: چې دا امر الهي په ورځ د بدر وو چې يو مسلمان به د لسو کافرانو سره جنګ کوی، له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې دا امر الهي چې يو مسلمان به د لسو کافرانو سره جنګ کوی او تښتی به نه، پر صحابه کرامو رضي الله عنهم د بدر درنه پربوتل، نو خداى پاک تخفيف ددې امر شاق نازل کړی او وه يې ويل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَلْئٰنَ خَفَّفَ اللّٰهُ عَنْكُمْ وَعَلِمَ اَنَّ فِيْكُمْ ضَعْفًا ۚ فَاِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ مِّائَةٌ صَابِرَةٌ يَّغْلِبُوْا مِائَتَيْنِ ۚ وَاِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ اَلْفٌ يَّغْلِبُوْٓا اَلْفَيْنِ بِاِذْنِ اللّٰهِ ۗ وَاللّٰهُ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ۝

اوس خدای ﷻ تخفیف وکړی په باره کي د جنګ او خدای پاک پر دې علم لري چي په تاسي کي ضعف سته یعني د ابدانو، نو اوس که وي له تاسي څخه یعني رجال سل کسه صبر کونکي غالبه به ګرځي پر دوه سوه یعني د مشرکانو او کافرانو، او که وي له تاسي څخه زر کسه غالبه کېږي به پر دوو زرو کسانو له کافرانو په اذن، اراده او نصرت سره د خدای ﷻ، او خدای پاک ملګری دی په عون او نصرت سره د صبر کونکو مؤمنانو، نو خدای پاک زد کړی امر له لسو څخه و دوه ته، ابن شبر رحمه الله وایي چي زما رایه داده چي امر بالمعروف او نهي عن المنکر پر دغه قیاس دی.

دروبش وایي: لانهما ایضاً قتال لکن لا بالسیف بل باللسان. فالجامع بین المقیس والمقیس علیه موجود.

فائده: څوک چي بل پر یو کار باعثه کوي لکه په مانحن فیه قتال الکفار، نو دی باید اقدام پر هغه کار بنفسه وکړي تاچي قوم اقتداً پسي وکړي، ولهذا کان النبي ﷺ اذا اشتد الحرب اقرب الی العدو من المؤمنین قال علي ﷺ "کنا اذا احر الباس (موږ وو چي تود به سو جنګ) ولقي القوم القوم اتقینا برسول الله ﷺ (او دوه قومونه یعني مسلمانان او کافران به سره ملاقي سوه، موږ به ځانونه ساتل په رسول الله ﷺ یعني دی به دمخه ؤ او موږ به په پسي وو) فما یکون اقرب الی العدو منه ﷺ (نه به ؤ ډېر نژدي و دښمن ته تر ده مبارک)

سلطان سلیم فاتح مصر رحمه الله ډېره ښه وینا کړي ده:

گر لشکر عدو بود از قاف تابقاف ..... بالله که هیچ روی نمی تابم از مصاف
چون آفتاب ظلمت کفر از جهان برم ..... گاهی چوصبح تیغ برون آرم از غلاف

په صحیح حدیث کي راغلي دي چي علیه الصلوٰة والسلام حمزه بن عبد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

المطلب ﷺ واستاوه او دپرش کسه سپاره یې ورسره کړه، نو د ابو جهل سره ملاقي سو چې درې سوه کسه سپاره ورسره وه، نو حمزه ﷺ وهغو ته شکست ورکړی، له ابه عباس ﷺ څخه روایت دی چې که یو مسلمان له درو سوو کسو څخه فرار وکړی دا ګناه کبیره نه ده او که یوه مسلمان له دو کسو څخه فرار وکړی، نو دا هغه فرار دی چې ګناه کبیره ده، حدادي ﷺ وایي چې دا هلته ګناه کبیره ده چې د مسلمانانو سره دومره سلاح وه لکه د هر یوه سره د دوو کافرانو او ده مقابله ونه کړه کان فاراً ومرتکباً للکبیرة واما ان لم یکن کذالک فلا یثبت حکم الفرار.

پوه سه: چې له عبدالله بن مسعود او له عبدالله بن عمر او له ابو هریره ﷺ څخه په مختلفو اسنادو سره روایت دی چې څه وخت یې د بدر بندیان راوستل نو په هغو کې عباس عم رسول الله ﷺ هم وۀ، له انصارو څخه یو سړي دی نیولی وۀ، نو انصارو دا اراده وکړه چې قتل یې کړي، دا خبره و علیه الصلوٰة والسلام ته ورسېدله فقال علیه الصلوٰة والسلام چې تېره شپه نه یم بیده سوی د عباس له سببه چې انصار دا وایي چې وژنو یې، نو عمر ﷺ ورته وویل چې زه ورسم انصارو ته؟ علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل هو! ورسه، نو عمر ﷺ انصارو ته ورغلی چې عباس خوشي کړئ یعني وژني یې مه، انصارو ووېل والله لانرسله یعني وژنو یې، نو عمر ﷺ ورته وویل چې په عدم قتل سره یې رسول الله ﷺ خوشاله کېږي، انصارو ورته وویل که په دې سره د رسول الله ﷺ خوشنودي وي خو بو یې زه، عمر ﷺ چې عباس را رهي کړی نو عمر ﷺ ورته وویل یا عباس اسلم یعني اسلام راوړه، قسم په خدای ﷻ دی چې ستا اسلام ماته محبوب دی تر اسلام د خطاب "چې د عمر ﷺ پلار وۀ" ولي چې علیه الصلوٰة والسلام ستا په اسلام خوشاله کېږي، لکن په دې وار عباس مسلمان نه سو.

پوه سه: چې عباس ﷺ یو له هغو لسو کسانو څخه دی چې د کفارو د ټولو لښکر ډوډۍ به یې کوله کوم چې د کفارو د مرستې لپاره د عیر د مکې راوتلي وه، او د بدر په ورځ یې شل وقیه سره زر کفارو ته ورکړه چې په بدر کې به

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مشرکان دوه‌ی په رانسي لکن جنګ جوړ سو دمخه تر دې چي عباس دا شل وقیه مصرف کړي وای پر کفارو، نو د جنګ په دوران کي هغه شل وقیه سره زر سره دده د مسلمانانو په لاس ورغله.

دروښ وایي: چي ددغو کړو وړو له سببه انصار و عباس ته په غضب وه کمامر نو څه وخت چي د بدر پر بندیانو فدیه مقرره سوه کما سیئاتي عنقریب بیانه في التفسیر، نو عباس رضی الله عنه و علیه الصلوٰة والسلام ته وویل چي هغه شل وقیه سره زر چي زما څخه غازیانو د بدر واخستل هغه دي زما په فدیه کي حساب کړل سي علیه الصلوٰة والسلام منع وکړه او ورته وه یې ویل چي هغه شل وقیه چي تا له کوره زموږ پر ضرر راخستي وې فلا اترکه لک.

پوه سه: چي بخاري او بیهقي له انس بن مالک رضی الله عنه روایت کړی دی چي بعض انصارو چي د عباس رضی الله عنه مور له هغې کورنۍ څخه وه، نو علیه الصلوٰة والسلام ته راغله فقالوا ائذن لنا فلنترک لابن اختنا عباس فدائه قال علیه السلام لا والله لاتذرن درهماً. نو علیه الصلوٰة والسلام عباس مکلف کړی چي ته به له خپل ځانه سل وقیه فدیه ورکوې زائداً علی فداً غیره، ولي چي تا قطع د صله رحمي وکړه چي زموږ پر ضد جنګ ته راغلې، او له دې یې هم مکلف کړی چي ده به خپل د ورور د دوو زامنو یعني عقیل بن ابي طالب او نوفل بن الحارث فدیه به هم څلوېښت څلوېښت وقیه ورکوې. نو عباس ورته وویل چي تا زه وګرځول چي دا فدیه زما څخه غواړې چي زه به آینده وقریشو ته د سوال لاس غځوم چي زما سره مرسته وکړئ زما په فدیه او زما د ورور د دوو زمانو په فدیه کي، غرض یې دا وې چي زما سره څه وقیې وې هغه مسلمانانو په غنیمت راڅخه واخستلې او زما سره شی نه سو پاته چي زه یې د ځان او د ورور د زامنو په فدیه کي درکړم، نو مجبور دې کړم ودې ته چي پر قریشو سوال او فقر وکړم.

پوښتنه: دا سوال او ځواب د علیه الصلوٰة والسلام او د عباس تر منځ هغه وخت یې راوړل مناسب وه چي د اصحابو رضی الله عنهم اتفاق پر فدیه اخستلو راغلی وای او هغه بحث تر اوسه نه دی راغلی؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: چونکه د عباس بحث له دمخه ځخه جاري ؤ، نو ځکه دا خبره ما دلته وکړه، اوس دا يې تاسي دا يې اُساری د بدر جريان او د اصحابو اختلاف او پر فديه اتفاق، او ددې خبري د عباس چې و عليه الصلوٰة والسلام ته يې وويل چې زه دي وفقر او سوال ته د قريشو اړ کړم، وروسته تر تمام د بحث د فديو د عليه الصلوٰة والسلام له خوا به و عباس ته ځواب ورکړل سي ان شاٰ الله تعالى.

بحث اساری بدر: د صحيح احاديثو راويان داسي وايي چې عليه الصلوٰة والسلام ټوله مسلمانان من المهاجرين والانصار ﷺ سره راغونډ کړل او داسي يې ورته وويل "ماتقولون في هوٰلاٰ الاساری" (تاسي ځه وايست په شان کي ددې بنديانو؟) قد ملكم الله وانما هم اخوانكم (خدای ﷻ تاسي ته پر دوی ملکيت درکړی يعني په بند مو بنديان کړل او دوی ستاسي ورونه دي) فقال ابوبكر ﷺ اهلك وقومك قد ظفر الله لك عليهم هوٰلاٰ بنوا العم والعشيرة والاخوان استبقهم (ابوبکر ﷺ وويل ته يې باقي پرېږده يعني وژنه يې مه، او زما رايه داده چې فديه ځندي واخله او هغه رقم د فديې به زمونږ قوت سي پر کفارو باندي يعني سلاح، اوښان او اسان به په رانسو د بلي ورځي د جنګ لپاره او ښايي چې خدای پاک به دوی ته هدايت وکړي يعني ايمان به راوړي او ستا به بازو سي يعني کومک په جنګو کي د کفارو، بيا عليه الصلوٰة والسلام عمر ﷺ ته وويل ماتقول يا ابن الخطاب عمر ﷺ ورته وويل يا رسول الله ﷺ دې خلګو يعني اسيرانو ستا تکذيب کړی دی او له مکې ځخه يې را ايستلی يې او جنګ يې درسره کړی دی، زما رايه داسي نه ده لکه د ابوبکر ﷺ، لکن زما رايه داده چې ماته قدرت راکړه پر فلاني بندي چې د عمر ﷺ قريب ؤ چې زه يې په توره سر له بدنه جلا کړم تاچې خدای پاک ووينې چې زمونږ په زړو کي محبت نسته للمشركين هوٰلاٰ صناديد قريش وائمتهم وقادتهم فاضرب اعناقهم، او عبدالله بن روحة ﷺ وويل يا رسول الله ﷺ يوه شپله وګورئ چې دېر وچ بوتي پکښې وي دغه بنديان لاس ترلي په هغه شپله کي کښېږدئ او اور پر بل کړئ، عباس ﷺ چې په بنديانو کي ؤ او دا دوې خبري يې واورېدلې نو عبدالله بن رواحة ﷺ ته يې وويل "قطعت رحمك" سِله رحمي دي ختمه کړه، نو عليه الصلوٰة والسلام کورته ځندي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ولاړی، نو ځینې صحابه وو رضي الله عنهم د ابوبکر رضي الله عنه رایه خوښه کړه او ځینو د عمر رضي الله عنه رایه تعقیب کړه او بعضو د ابن رواحة رضي الله عنه نظریه پسنده کړل، یو ګړی وروسته پیرته علیه الصلوٰة والسلام راووتی فقال ان الله تعالی لیلین قلوب اقوام حتی تکون الین من اللبن چې اشاره یې و ابوبکر او دده هم رایه خلګو ته وړه وه "وان الله (سخت ګرځولي) قلوب اقوام حتی تکون اشد من الحجر" چې اشاره یې وړه ته د عمر او ابن رواحة او د دوی هم فکره خلګو ته وه "مثلک یا ابابکر في الملائکة مثل میکائیل ینزل بالرحمة یعني چې د باد او باران تصرف یې په لاس کې دی ومثلک في الانبیاً مثل ابراهیم علیه السلام حیث قال من اتبعني فانه مني ومن عصاني فانک غفور رحیم ومثلک یا ابابکر مثل عیسی بن مریم علیه السلام اذ قال ان تعذبهم یعني الکفار فانهم عبادک یعني ستا د عذاب چاره نه لري وان تغفرلهم فانک انت العزیز الحکیم، ومثلک یا عمر في الملائکة جبرئیل حیث ینزل بالعذاب والشدة والنقمة علی اعدا الله ومثلک یاعمر في الانبیاً مثل نوح علیه السلام اذ قال رب لاتذر علی الارض من الکافرین دیاراً، ومثلک یا عمر مثل موسی علیه السلام اذ قال ربنا اطمس علی اموالهم واشدد علی قلوبهم فلا یؤمنوا حتی یروا العذاب الالیم، راوي وایي چې صبا ورځ چې سوه عمر رضي الله عنه د علیه الصلوٰة والسلام کور ته ورغلی فاذا رسول الله صلی الله علیه وسلم وابوبکر یبکیان فقال یعني عمر مایبکیکما فان وجدت بکاً بکیت والا تباکیت لبکائکما.

پوه سه: چې دا ژړا د علیه الصلوٰة والسلام او د ابوبکر رضي الله عنه له دې سببه وه چې علیه الصلوٰة والسلام دا فیصله وکړه "فلا یفلتن منهم احد الا بفداً او بضرب عنق" یعني نه به سي خلاص یو له دې بندیانو څخه مګر په فدیه او بضرب عنق، نو علیه الصلوٰة والسلام و عمر رضي الله عنه ته وویل خپل د ژړا او د ابوبکر رضي الله عنه د ژړا سبب "فکان یصیبنا في خلاف ابن الخطاب عذاب الیم ولو نزل العذاب ما افلت منه" نه به وای خلاص د هغه الا ابن الخطاب رضي الله عنه فانزل الله تعالی هذه الآیات.

مَا كَانَ لِنَبِيٍّ اَنْ يَّكُوْنَ لَهٗٓ اَسْرٰى حَتّٰى يُثْخِنَ فِي الْاَرْضِ

نه ده صحیح نبي لره یعني هیڅ نبي لره چې ثابت دي سي ده لره بندیان، نو "کان" تامه دی تر هغو چې ډبر سي په مځکه کې قتل د کفارو او مبالغه په قتل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کي حتی چي ذلیل سي کفر او حزب یې لږ سي او اسلام عزت پیدا کړي او اهل اسلام پر غالب سي.

پوه سه: چي اسری جمع د اسیر ده لکه قتلی جمع د قتیل ده، یا جرحی جمع د جریح ده، او ثخانه په لغت کي ثقل ته وایي، في القاموس اثخن فلاناً ای او هنه واثخن في العدو ای بالغ في الجراحة فیهم، او د "یثخن" مفعول محذوف دی ای یثخن الاسری في الارض یعني سړی چي ووژل سي درنبړي، چي دوی وژل سوي وای مځکه به په درنه سوې وای، مطلب دا چي دا اسری چي وژل سوي وای نبه به وای لکه د عمر ﷺ رایه چي وه، لکن علیه الصلوٰة والسلام د ابوبکر ﷺ په رایه عمل وکړی او فدیې یې پر واچولې والله اعلم بالصواب.

تُرِيْدُوْنَ عَرَضَ الدُّنْيَا ۖ وَاللّٰهُ يُرِيْدُ الْاٰخِرَةَ ۗ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ۝

تاسي اراده لرئ اې مؤمنانو "مراد هغه اکثره مؤمنان دي چي رایه د ابوبکر ﷺ یې خوښه ده عرض یعني بې بقا شی چي اخذ د فدیې ؤ، او خدای پاک اراده لري د اخیرت یعني نعیم الآخرة چي تاسي ته یې درکړي بقتل المشرکین الاسری ونصرکم دین الله واعزازه وهیبتة الاسلام في قلوب المشرکین، او خدای ﷻ غالب دی او په هر کار کي حکمت لري.

نکته: په اول کي د آیت خدای پاک وویل "ماکان لنبي آه" او په وروسته کي یې مخاطب مؤمنان کړل، له دې جهته چي د علیه الصلوٰة والسلام په زړه کي خو اراده د عرض الدنیا نه وه، بلکي د مؤمنانو په زړو کي وه. په روح البیان کي وایي چي اخذ د فدا شیمة د علیه الصلوٰة والسلام نه وه ولا لسائر الانبیا علیهم السلام ولي چي په صحیح حدیث کي راغلي دي علیه الصلوٰة والسلام وایي "مالي وللدنیا" یو محقق داسي وایي:

کین جهان جیفه است ومردار ورخیص ... برچنین مردار چون باشم حریص

فائده: سعدي چلپي مفتي وایي چي په آیت مذکوره کي مراد له ارادې څخه د خدای ﷻ یعني والله یرضی، نو یرید الآخرة دون یرضی الآخرة ذکر سول په سبب د مشاکله دی د ماقبل سره یعني ترید ون آه، نو دلیل د معتزله وو نه دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې خلاف د ارادة الله روا دی علی خلاف مذهب اهل السنة. دوی خذلهم الله وایي چې د خدای ﷻ اراده د ایمان ده وه کافر ته لکن دی پر خلاف د ارادې د خدای کافر سو وهکذا في المؤمن العاصي. دوی وایي اراده و عاصي ته د طاعت ده لکن عاصي پر خلاف د ارادې د خدای ﷻ عصیان کوي.

لَوْلَا كِتٰبٌ مِّنَ اللّٰهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيْمَآ اَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۶۸﴾

که نه وای حکم د خدای چې دمخه یې په لوح محفوظ کې لیکلي دي وهو ان لایعاقب المخطئ في اجتهاده او ان لایعذب اهل بدر، په اخستلو د فدیه تاسي ته به رسېدلی وای سخت عذاب.

پوه سه: چې کلمه د "في" په معنا د لام ده ای لاجل ما اخذتم من الفداً عذاب الیم، په صحیح حدیث کې راغلي دي چې علیه الصلوٰة والسلام وویل که عذاب نازل سوی وای، نو نجات به نه وای پیدا کړی غیر له عمر او سعد بن معاذ ﷺ، ولي چې هغه هم د عمر ﷺ رایه تائید کړه، ولي چې د بدر د بندیانو په مشوره کې عمر ﷺ و علیه الصلوٰة والسلام ته داسي خبره وکړه چې دا بندیان امامان د کفر دي قتل یې کړه، او ما ته اجازه راکړه چې دده یو قریب په بندیانو کې وژې زه یې سر په توره پرې کړم، او علي ﷺ ته امر ورکړه چې خپل ورور عقیل بن ابي طالب قتل کړي، او حمزه ﷺ ته امر ورکړه چې عباس قتل کړي، لکن د رسول الله ﷺ دا خبره نه سوه خوښه.

دروښ وایي: چې له هغه حدیثه چې نژدې تېر سو که عذاب نازل سوی وای، نو نجات به پیدا کړی وای بېله عمر ﷺ دا معلومه سوه چې غیر له عمر او له سعد بن معاذ ﷺ نور ټوله صحابه کرام ﷺ په فدیه راضي وه او خوښه یې وه ولهذا امر علیه الصلوٰة والسلام بالفداً خلاف رأی عمر وسعد ﷺ.

فَكُلُوْا مِمَّا غَنِمْتُمْ حَلٰلًا طَيِّبًا ۪ وَّاتَّقُوا اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۶۹﴾

نو تاسي خوراک کوئ د هغه شي چې په غنیمت تاسي ته په لاس درسي لکه په بدر کې. والمراد ان الفداً حکمه حکم الغنیمة لان الفداً حصلت لکم بالقتال مع الکفار.

دروښ وایي: چې هغه خبره چې ما په احوالو کې د عباس ﷺ دمخه وکړه چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ده و علیه الصلوٰة والسلام ته وکړه چې ترکتنې اتکفف قریشاً یعنې زه به سوال پر قریشو کوم، ولې چې زما سره هیڅ مال نسته علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل فاین الذهب الذي دفعته ام الفضل یعنې زوجته، یعنې هغه سره زر څه سوه چې تا خپلې مایندې ته ورکړه یعنې په هغه وخت کې چې ته له مکې څخه راوتلې یعنې د قافلې د ساتنې لپاره کمامر من قبل او تا ام الفضل ته وویل چې زه نه یم خبر چې ماته به څه پیښیږي سي په دې سفر کې، نو که تاسي ته یو ضرورت پیښ سو، نو دغه سره زر ستا او د عبدالله او د قثم دي چې دا دوه د عباس ﷺ زامن وه، نو عباس و علیه الصلوٰة والسلام ته وویل چې زما په دې سرو زرو ته چا خبر کړې او سره ددې چې په دغو سرو زرو بهله خدایه څوک نه دی خبر او دا سره زر ما دې ته په توره شپه کې ورکړه؟ علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل چې زه خدای ﷻ خبر کړم، عباس وویل چې زه دمخه ستا په نبوت کې شکې وم لکن دا خبره چې دې راته وکړه فاشهد انک صادق یعنې في دعوی النبوة واشهد ان لا اله الا الله وانت رسول الله عباس ﷺ مسلمان سو.

دروښ وایي: چې دا یو له حکمتو څخه د خدای ﷻ دی چې علیه الصلوٰة والسلام د عمر ﷺ خبره نه ومنل په قتل د بدر د اسیرانو، ولې چې په دې اسیرانو کې خو عباس ﷺ هم وُ.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ قُل لِّمَن فِيٓ أَيۡدِيكُم مِّنَ ٱلۡأَسۡرَىٰٓ إِن يَعۡلَمِ ٱللَّهُ فِي قُلُوبِكُمۡ خَيۡرٗا يُؤۡتِكُمۡ خَيۡرٗا مِّمَّآ أُخِذَ مِنكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٧٠

اې نبي زما ته ووایه هغه کسانو ته چې ستاسي په لاسو کې دي یعنې په تصرف کې دي له بندیانو څخه که خدای ستاسي په زړو کې پر خیر علم لري یعنې الایمان والاخلاص دربه کړي خدای تاسي ته خیر یعنې بالاضعاف تر هغه مبلغ چې ستاسي څخه واخستل سو یعنې په فدیه کې او خدای ﷻ به وبخښي تاسي ته ګنهونه ستاسي او خدای پاک غفور او مهربان دی، محمد یوسف الصالحي رحمه الله په سبیل الرشاد کې وایي چې یو څو کسانو د بندیانو منهم العباس دا دعوه وکړه چې موږ مسلمانان یو یعنې له مکې څخه موږ کفارو په زوره د جنګ میدان ته راوستلو، نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

زمونږ څخه پر څه فدیه غوښتل کېږي، نو دا آیت نازل سو.

پوه سه: چې نبي له القابو شریفه وو څخه د علیه الصلوٰة والسلام دی. والمعنی ایها المخبر عن جانبي الی الخق لتبلیغ احکامي الیهم. روی البخاري ان النبي ﷺ ده ته راوړل سو مال د بحرین (چې دده عامل له بحرین څخه را استولی وُ چې هغه د هر مبلغ وُ چې علیه الصلوٰة والسلام پر یوه ځای لیدلی دی یو لک درهم وه) علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل چې په مسجد کې یې کښېږدي، علیه الصلوٰة والسلام ددغو درهمو له ویش لپاره راووتی، عباس ﷺ ورته راغلی فقال یا رسول الله ﷺ ماته له دې نقودو څخه راکړه یعني د هر مبلغ کما یدل علیه دلیل العباس ﷺ. ما څو د خپل ځان فدیه درکړه او د دوو وروړو فدیه مي هم درکړې ده! علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل وایه خله هر څو چې اخلي. نو عباس ﷺ پټو ورته هوار کړی درهمونه یې پکښې راپوري وهل، نو چې په شا کول یې هغه درانه وه نه یې سوای په شا کولای. نو علیه الصلوٰة والسلام ته یې وویل چې ته یو چاته ووایه چې دا پلنډه ماته راپورته کړئ، علیه الصلوة والسلام لا، نو ده علیه الصلوٰة والسلام وویل چې ته یې راپورته کړه علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل چې یا! په بعضو روایاتو کې راغلي دي چې یو څه دراهم یې ځندي توی کړه بیا یې هم نه سوای پورته کولای، په ځینې روایاتو کې راغلي دي چې بیا د علیه الصلوٰة والسلام او دده تر منځ هغه خبره تکرار سوه، نو بیا یې یو څه دراهم ځندي توی کړه. دریم وار یې په شا کړه او عباس ﷺ وویل انما اخذ ما وعد الله فقد انجز او خدای ﷻ وعده پوره کړه.

دروښ وایي: چې عباس ﷺ و هغه قول ته د خدای ﷻ اشاره وکړه "یؤتکم خیراً مما اخذ منکم" نو عباس ﷺ چې رهي سو علیه الصلوٰة والسلام تر هغو پورې ورته کتل چې دی غائبېدی عجباً من حرصه فما قام رسول الله ﷺ وثم منها درهم.

فائده: په دې قول کې د خدای ﷻ شک "ان یعلم الله في قلوبکم آه" راجع موږ ته دی کما جاً مثله في دعاً الاستخارة ان کنت تعلم آه یعني موږ نه یو خبر چې د خدای ﷻ علم او اراده په في قلوبکم خیراً پورې نیولي ای او که نه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاِنْ يُّرِيْدُوْا خِيَانَتَكَ

او که دوی اراده د خیانت لري ستا سره یعني چې ستا سره وعده وکړي چې موږ به ستا په مقابل کې بیا جنګ نه کوو او دا وعده دوی په وخت کې د خلاصونه کړي وه په افتدا سره، نو دوی دغه وعده نه کړه پر ځای.

فَقَدْ خَانُوا اللّٰهَ مِنْ قَبْلُ فَاَمْكَنَ مِنْهُمْ ؕ

نو دوی داغسې خیانت د خدای ﷻ سره هم کړی ؤ دمخه په کفر سره چې د الست بربکم قالوا بلی وعده یې ماته کړه "فامکنک منهم" یوم بدر یعني تا ته یې قدرت درکړی پر دوی د بدر په ورځ کمامر قصته.

پوه سه: چې دا جمله د شرط محذوف جزا ده تقدیره ان یرید وخیانتک، نو عذاب ودوی ته راجع کېږي په دې دلیل چې ددوی خیانت دخدای پاک سره وکړی من قبل تاته خدای ﷻ قدرت درکړی پر دوی په بدر کې، نو که بیا وفا ونه کړي او بیرته ستا سره جنګ مختار کړي بیا به خدای پاک پر دوی باندې تاته قدرت درکړي مرةً اخرى، چنانچه ابن اسحاق رحمه الله وای چې علیه الصلوٰة والسلام احسان وکړی د علي بن ابي غزة سره د بدر په ورځ یعني مفت یې خوشي کړی بالشرط المذکور، یعني بیا به زما په مقابل کې جنګ ته نه راځې، هغه وعده ماته کړه په جنګ کې د احد د مشرکینو سره بیرته راغلی، نو د احد په ورځ یې بیرته ګرفتار کړی فقتله رسول الله ﷺ.

وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝

او خدای پاک خبر دی بما في قلوبهم من الوفا بالعهد او العذر والخیانة.

برو علم یکذره پوشیده نیست ..... که پیدا وپنهان بنزدش یکیست

په حدیث شریف کې راغلي دي چې خدای پاک و علیه الصلوٰة والسلام ته وویل یعني په وحي د جبرئیل چې ته قوي سړي ته ووایه چې خپل په قوت دي نه خطاوزي فان اعجبتک قوتک فادفع الموت عن نفسک، او غني سړي ته ووایه لا یعجبک غناک او غني ته ووایي چې تادي په تعجب کې نه اچوي خپله غنٰی ورنه زما مخلوق تدد یوې ورځې دوه ډوډۍ ورکړه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الهي عبدک العاصي اتاکا ..... مقراً بالذنوب و قد دعاکا
فان ترحم فانت لذالک اهل ..... وان تطرد فمن یرحم سواکا

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ

په تحقیق هغه کسان چي ایمان یې راوړی ؤ او هجرت یې کړی ؤ له خپل قوم او خپلوانو څخه او خپل محبوب وطن یې پرې اینبی ؤ چي مکه مکرمه وه حبا لله ورسوله، او خپل مالونه یې صرف کړه في سبیل الله سلاح د جنګ او اوښان او نور شیان چي په جنګ کي په کار رائحي رانیولي وه، او خپل ځانونه یې هم په جهاد کي صرف کړي وه په لاره کي د خدای ﷻ بمباشرة القتال واتیان کل ما امر الله به من العبادات البدنیة.

وَالَّذِينَ آوَوْا وَنَصَرُوا أُولَٰئِكَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ

او هغه کسان چي ځای یې ورکړی ؤ و علیه الصلوٰة والسلام او مهاجرینو ته د مکې په خپل وطن مدینه منوره کي، او دوی کومک د علیه الصلوٰة والسلام په جنګو کي د اعداً الله من المشرکین والیهود والنصاری وغیرهم سره کاوه، او هم دا سبب دی چي دوی د انصارو په لوړ نوم مشرف سوه په اسلامي نړۍ کي، دغه کسان یعني مهاجرین او انصار قریبان او دوستان دي یو له بله سره لا الکفار.

مسئله: مسلمانانو ته نه ده روا دوستي او قرابت پالنه د کفارو سره ولو کانوا آبائهم او ابنائهم او اخوانهم او یا یې د قوم او قبیلې سړی وي فضلاً عن الامریکائین جبرة الدنیا الیوم الذین جاؤا من وراً البحار یشغلون دیار المسلمین بالجبر والاکراه ویظلمون المؤمنین بذریعة الطیارات الحربیة خذلهم الله ودمرهم تدمیراً ومزقهم کل ممزق انتصاراً لدین الاسلام والمسلمین من اعداً الذین آمنوا یعني الامریکیین، سلطان سلیم اول میگوید:

شاهنشاهست آن که بود خاک راه او .... آزاد بنده که گرفتار مصطفاً است
آن سینه شاید کز غم او ساخت دل خرین .... وآن جان عزیز کز پی ایثار مصطفی است

پوه سه: چي د مکې تر فتح دمخه توارث په هجرت او نصرت سره ؤ لا بمجرد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

القرابة حتی چې مهاجر به وفات سو، نو دده هغه ورور انصاري به يې ميراث وړی چې د مهاجر قريب به وُ په مدينه کې، او ددغه متوفي مهاجر ورور يا زوی وغيرهما چې به په مکه کې وُ که څه هم مسلمان به وُ ميراث يې نه سوای ولايت ترڅو چې مکه فتحه سوه او د هجرت فرضيت منسوخ سو ثم توارثوا بمجرد القرابة وان واحد من الاخوة مثلاً بمكة والاخ الآخر بالمدينة كذا قال العلماً بالاجماع.

دروښ وايي: چې رئيس المفسرين عبدالله بن عباس رضي الله عنه وايي چې دا آيت د ميراث په باب کې راغلی دی چې موږ يې بيان وکړی قريباً لکن عبدالله رضي الله عنه وايي چې دا آيت منسوخ دی بقوله تعالى "واولو الارحام يبعض في كتاب الله انتهى" لکن مظهري رحمه الله وايي چې دا قول د ابن عباس رضي الله عنه منکر دی، او وايي قلت وعندي ان هذه الآية غير منسوخة وان كان بها الميراث آه. او دده د ابن عباس رضي الله عنه د قول داسې تاويل کړی دی هوړې يې مطالعه کړئ، او روح البيان د نسخ قائل دی.

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَمْ يُهَاجِرُوْا مَا لَكُمْ مِّنْ وَّلَايَتِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ حَتّٰى يُهَاجِرُوْا ۚ

او هغه چې هغه کسان دي چې ايمان يې راوړی وي او هجرت يې مدينې ته نه وي کړی، نسته تاسې لره له قرابت څخه د هغه هيڅ شی، ولې ده فريضه د هجرت ترکه کړې ده فيکون فاسقاً، نو له دې آيت څخه پردغه تقدير چې مراد له ولايت څخه قرابت او دوستي وي، نو دا مسئله هم وفهمېدله چې مسلمان ته په کار ده چې د قريب فاسق سره قرابت ونه پالي چې تر څو يې توبه نه وي کښلې او يا معنی د آيت داده چې دغه مؤمن غير مهاجر ته ميراث نه رسېږي لاختلاف الدارين تر هغو پورې چې دوی هجرت کوي.

بوه سه: چې دا آيت په ظاهره نفي دی لکن په معنی د نهي دی فافهم.

وَاِنِ اسْتَنْصَرُوْكُمْ فِى الدِّيْنِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ

که چېرې طلب درڅخه وکړی ستاسې څخه دغو مؤمنانو چې هجرت يې نه وُ کړی د کومک په دين کې يعنې پر اعداؤ د خدای رضي الله عنه چې اهل حرب دي، نو پر تاسې لازمه ده چې کومک به ورسره کوئ مالي او نفسي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِلَّا عَلَىٰ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِّيثَاقٌ ۗ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٧٢﴾

مگر نه پر هغه قوم به کومک نه ورسره کوئ چې ستاسي او ددوی تر منځ معاهده د عدم قتال وي، فانه لايجوز نقض العهد، ولهذا لم ينصر رسول الله ﷺ ابا جندل لکه په سورت فتح کې چې يې قصه تېره سوه، او خدای ﷻ پر هغه چې تاسي يې عمل کړی دی دانا دی، فکلمة "ما" مصدرية ولو كانت موصولة فالعائد محذوف ای بما تعملونه، په دې اخيري جملې کې دا آيت بېرول دې چې تر حدود د خدای ﷻ باید څوک تېر نه سي لکونه تعالى بصير.

وَالَّذِينَ كَفَرُوا بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ ۚ

او هغه کسان چې کافران دي بای نوع من الكفر هغه بعض ددوی اولیاء یعني دوستان او همکاران د هغه بل بعض دي، او حاصل ددې آيتو دادی چې مسلمان ته نه ده روا دوستي د کافرانو سره او نه کومک ورسره کول، قال رسول الله ﷺ لايرث المسلم الكافر ولا الكافر المسلم بخاري مسلم.

فائده: په مبسوط کې وايي که غارت او حمله وکړه بعض حربيانو پر يوه قريه د حربيانو چې په دې قريه کې مسلمانان مستأمنين اوسېدل دي مسلمانانو ته نه ده روا چې د حمله او غارت کونکو سره جنګ وکړي د کلي والو په کومک کولو سره، ولې چې کلي وال خو هم حربيان دي، نو مسلمانان که جنګ وکړي د کلي والو د خوا ولې چې دا جنګ لپاره د اعلاء د کلمة الله نه دی بلکې لپاره د اعلاء د کفارو د کلمې دی، مګر هغه وخت مستأمن مسلمان ته جنګ روا دی چې خپله وېښه وي يعني چې غارت کونکی ما هم وژني.

إِلَّا تَفْعَلُوهُ تَكُن فِتْنَةٌ فِي الْأَرْضِ وَفَسَادٌ كَبِيرٌ ﴿٧٣﴾

که تاسي دا کار يعني خپل په منځ کې تواصل او تناصر ونه کړی او قطع کول د دوستي د کفارو سره حتى چې ميراث مو هم يو دبله سره قطع دی، نو به واقع کان تامه دی فتنه په منځکه کې، تنوين د "فتنة" لپاره د تعظيم دی ای فتنة عظيمة وهي غلبة الكفار توقد نيران الكفر، او فساد كبير يعني ضعف الاسلام بترک الجهاد واختلاط المسلمين بالكفار او د کفارو کفر د سرطان دانې دي په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسلمانانو کي به هم پيداسي ولي چي کفر مرض ساري دی.

دروښ وايي: چي ملاحظه کول د مسلمانانو په عراق او افغانستان کي شاهد دی د فتنې او فساد کبير يعنې سنه ۱۴۰۵ هـ بيا تر سنه ۱۴۲۸ هـ پورې بلکې زيات تر دغه.

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَالَّذِيْنَ اٰوَوْا وَّنَصَرُوْٓا اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا ؕ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّ رِزْقٌ كَرِيْمٌ ﴿۷۴﴾

او هغه کسان چي ايمان يې راوړی وُ او هجرت يې هم کړی وُ او جهاد په لار کي د خدای ﷻ يې هم کړی وُ او هغه کسان چي مراد ځنډي انصار د مدينې دي چي مهاجرينو ته يې ځای ورکړی وُ او نصرت يې هم ورسره کړی وُ دغه دوي دلي مؤمنان په حق سره دوی لره بخښنه د خدای ﷻ له خوا ځخه او رزق کريم دی په اخرت کي.

پوه سه: چي حقاً مفعول مطلق دی د فعل محذوف ای حق دعواهم الاسلام حقاً ولي چي دوی هغه مقتضيات د اسلام پر ځای کړه چي هجرت وُ او بذل الاموال والانفس في سبيل الله، دا خو د مهاجرينو پر ځای کول د مقتضی د اسلام وه او ځای ورکول په خپل ښارو کي و مهاجرينو ته او ددوی مالي مرسته کول او بذل الاموال والانفس في سبيل الله هم دا د انصارو پر ځای کول وه د مقتضی د ايمان او پر خلاف ددوی دی، هغه کسان چي ايمان يې راوړی وي او هجرت او جهاد يې نه وي کړی ولي پر دوی خو هم اطلاق د مؤمن روا دی لکن کاملين في الايمان نه دی او حقاً صدق الايمان نه معلوميږي ولي احتمال د نفاق په ايمان کي ددوی سته کالمنافقين في العصر النبوي ﷺ.

فائده: د مخني آيتو په باره کي د تواصل بين المؤمنين او د اوسني آيت لپاره د ثناً ددوی دی او وعده ورکول دوی ته په لهم مغفرة آه لپاره د تائيد د ماقبل.

دا حديث صحيح نبوي د دواړو وړ دی قال رسول الله ﷺ "الاسلام يهدم ماقبله والهجرة تهدم ماقبلها انتهى" يعني من حقوق الله تعالى لا الديون وغيرها من حقوق الناس، وعلى هذا فقس التوبة النصوح من المعاصي بعد الاسلام فتدبر.

فائده: مهاجرين څو قسمه دي (۱) مهاجرين د هجرت اولى، هغه مهاجرين چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تر صلح د حدبیې یې دمخه هجرت کړی و (۲) ذوالهجرتین چې یو وار یې هجرت وحبشې ته کړی او بیا یې و مدینې ته چې یو له هغو څخه عثمان، جعفر الطیار او نور هم دي کسان ﷺ وه، او مراد په آیت اولی کې اهل د هجرت اولی دی لفضلهم علی غیرهم ثم الحق الله بهم اهل الهجرة الثانیة بقوله تعالی.

وَالَّذِينَ آمَنُوا مِن بَعْدُ وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا مَعَكُمْ فَأُولَٰئِكَ مِنكُمْ

او هغه کسان چې ایمان یې راوړی وي وروسته تر صلح د حدیبیې او بیا یې هجرت کړی وي یعني مدینې ته او بیا یې جهاد کړی وي ستاسي په غزواتو کې دغه کسان په تاسي کې حساب دي، ایها المهاجرین والانصار.

وَأُولُو الْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَىٰ بِبَعْضٍ فِي كِتَابِ اللَّهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿٧٥﴾

او خاوندان د قرابتو غیر ذوی الفروض والعصبات کما في السراجي في علم المیراث بعض ددوی په بعضو سره په میراث کې اولی دی تر بیګانه خلګو په کتاب کې د خدای ﷻ او په تحقیق خدای پاک په هر شي خبر دی.

فائدة في الهجرة من مكة: په حدیث شریف کې راغلي دي چې علیه الصلوٰة والسلام چې ولیدل پی درپی ازارونه پر مسلمانانو په مکه کې د کفارو له خوا څخه او علیه الصلوٰة والسلام هم قدرت نه درلودی چې مسلمانان له ازارو څخه د قریشو وساتي، نو علیه الصلوٰة والسلام ودوی ته وویل تفرقوا في الارض فأن الله سیجمعکم" تاسي په مځکه کې سره متفرق سئ خدای پاک به موږ بیر ته سره یو ځای کړي دوی ورته وویل الی این نذهب، موږ چېرې ولاړ سو، قال ههنا واشار الی ارض الحبشة، علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل هلته ده مبارک اشاره و مځکې ته د حبشې وکړه فان بها ملکاً عظیماً لا یظلم عنده احد وهي ارض صدق حتی یجعل الله لکن فرجاً مما انتم فیه، علیه الصلوٰة والسلام وویل چې په حبشه کې یو لوی د قدرت څښتن باچا سته چې دده په نېزمنې په سلطنت کې دده ظلم نه کړه کېږي پر هیڅ چا او حبشه د صدق مځکه ده تر هغو پورې چې تاسي دوړې اوسئ چې خدای پاک تاسي ته خلاصون درکوي له دغه تکلیفه چې تاسي پکښې یاست یعني من التفرق،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هجرت اوس هم باقي دی اولیاء الله په هغه مځکه کي نه اوسېږي چي ظلم او تواتر د ګنهو پکښې وي او دین نبوي پکښې پامالہ کېږي، روی في الحدیث من فر بدینه من ارض الی ارض ولو شبراً من الارض استوجب الجنة وکان رفیق ابیه خلیل الله ابراهیم ونبیه محمد ﷺ.

دروښ وایي: چي ددې حدیث سره مناسب هغه حدیث نبوي صحیح چي بخاري یې هم ذکر کړی دی، او پښتو ژباړه یې داده. علیه الصلوٰة والسلام وایي چي تر تاسي دمخه یعني د نورو امتو یو سړی چي نهه نیوي (۹۹) کسان یې وژلي وه نو اخیر یې په زړه کي پښېماني ورپیدا سوه، نو یې له خلګو څخه پوښتنه وکړه چي یو لوی عالم د اهل ارض راوښایاست یعني چي خپل د توبې پوښتنه څندي وکړم چي مالړه توبه سته او که نسته، نو یو عالم خلګو وروښو، نو دی هغه عالم ته ورغلی او ورته وه یې ویل چي ما نهه نیوي (۹۹) مړي کړي دي فهل لي من توبة؟ هغه عالم ورته وویل یا یعني توبه دي نه قبلېږي، نو ده هغه عالم هم قتل کړی یعني چي توبه نسته نو د نهه نیوي او سلو نو څه فرق سته، نو سل مړي یې پوره کړه لکن چونکه د زړه پښېماني ورسره وه، بیا یې د خلګو څخه پوښتنه وکړه چي یو ستر عالم راوښایاست. بیا خلګو بل عالم وروښو، نو هغه ته ورغلی ورته وه یې ویل چي ما سل مړي کړي دي فهل لي من توبة؟ هغه عالم ورته وویل من یحول بینک وبین التوبة. څوک ستا او د توبې تر منځ مانع کېدای سي یعنې توبه دي قبلېږي. لکن هغه عالم ورته زیاته کړه فلاني وطن ته ولاړ سه په هغه ځای کي یو قوم سته چي همېشه د خدای ﷻ په عبادت اخته وي ته به هم ددوی سره د خدای ﷻ عبادت کوې، او خپل وطن ته مه راځه هغه ستا د بد عمل مځکه ده، سړی رهي سو حتی چي تقریباً نیمی لاري ته ورسېدی اجل الموت حمله پر وکړه او د زکندن په وخت کي ملکي د رحمت او ملکي د عذاب دواړې ورته راغلې چي روح به یې څوک وړي، ملکو د رحمت ورته وویل چي دا سړی خو تائب ؤ او مقبل الی الله ؤ په زړه کي، ملائکو د عذاب ورته وویل چي دې سړي تر دا اوسه د خیر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کار نه دی کړی یوه بله ملکه په حکم د خدای ﷻ په شکل د انسان ورته راغله چې تاسي کچه کړی مابین موضع موته وموضعي الارضین ای وطنه الاصل چې ده مړي پکښې کړي وه او هغه ځای چې هورې روان ؤ، نو دا سړی نژدې ؤ و هغه مځکې ته چې دده د ورتلو اراده ورته وه لکن بېخي لرې ورنژدې ؤ، او په یوه بل روایت کې راغلي دي چې دغه سړی په واقع کې وطن المعصیة ته نژدې ؤ، نو خدای ﷻ امر ورکړی د وطن د خوا مځکې ته چې سره لېرې سه او د وطن ارادي مځکې ته یې امر وکړی چې نژدې سه، نو چې ملکو سره کچه کړی وطن ارادي ته یوه لوېشت نژدې ؤ انتهی، او کما قال رسول الله ﷺ.

دروېش وایي: چې دا سړی د هغه صحیح حدیث مصداق دی الندم هو التوبة.

پوښتنه: له دې حدیث څخه خو دا معلومه سوه چې ددې توبې قبلونه وسوه او خدای ﷻ وبخښې او سره ددې چې په ټولو کتابو کې د فقهي د ائمه اربعه ﷺ وایي چې په توبه سره حقوق العبد نه بخښل کېږي او قتل خو حق العبد دی فکیف التوفیق بین الحدیث وبین ماقالوا؟

ځواب: اذا تاب الغانم لغیره وقبل الله توبته یغفر الله له جمیع حقوقه من ترک المامورات وارتکاب المنهیات وما بقی علیه من حقوق الناس فهو في مشیته الله تعالی ان شآ ارضی خصمه بعوض من عنده وان شآ اخذ حق المظلوم من حسنات الظالم وهذا الحدیث من القسم الاول.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أعُوذُ بِاللهِ مِن غَضَبِ الجَبَّارِ
وَمِن عَذابِ النَّارِ

سُورَةُ التَّوبَةِ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ مِائَةٌ وَتِسعٌ وَعِشرُونَ اٰيَةً وَسِتَّةَ عَشَرَ رُكُوعًا

له ابي عطيه رحمه الله څخه روايت دی چي عمر بن الخطاب رضي الله عنه نوشته کړه يعني خپل عاملانو ته "تعلموا سورة البرائة" زده کړئ تاسي سورت برائت، ولي چي په دې سورت کي د مسلمانانو باعثه کول دي پر جهاد. وعلموا نسائكم سورة" او زده کړي په خپلو ښځو سورة النور يعني له دې سببه چي په هغه سورت نور کي باعثه کول دي د ښځو پر حجاب باندي. او د عثمان بن عفان رضي الله عنه روايت دی چي سورت انفال او سورت برأت يو بلل کېدل په زمانه کي د عليه الصلوٰة والسلام فلذالک جمعتهما يعني هغه وخت چي د قرآن مبارک سره جمع کاوه نو د سبع طوال څخه مي وګرځول يعني په منځ کي مي سطر د بسم الله نه وليکی.

فائده: ددې سورت د پر نومان دي:

(۱) سورة البرائة لان فيها برائة عن الكافرين (۲) سورة التوبة لان فيها توبة على المؤمنين (۳) والمقشقشة لانها تقشقشون اى تبرء الناس عن النفاق.
(۴) والمبعثرة لانها كشفت عن سرائر الناس (۵) سورة العذاب. له حذيفه رضي الله عنه څخه روايت دی چي دا سورت چي تاسي سورت توبه بولئ هي سورة العذاب والله ماتركت احداً الا نال فيها (٦) سورة الفاضحة هم ورته وايي ولي چي دې سورت منافقين رسوا کړل.

دروښ وايي: چي يوه وجه د ترک د بسم الله په اول کي د سورة برائة خو هغه وه چي عنقريب تبره سوه له حضرت عثمان رضي الله عنه څخه. او بله وجه يې داده چي په منځ کي د رحمت چي په بسم الله ذکر سوی دی او د تبری چي په اول کي د سورت برائت ذکر سوی دی مناسبت نسته.

مسئله: اعوذ بالله ويل واجب دی پر هر چا چي شروع په تلاوت د قرآن کوي، که له اوله د سورت ابتداً کوي د قرائت او يا يې له اجزاً څخه مطلقاً.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: که د درسي کتابو شروع يې کوله او شاګرد وه استاذ ته د کتاب عبارت وايه ای کتاب کان اغوذ بالله دي نه وايي.

مسئله: بسم الله ويل په اول کي د الحمد لله که په اول رکعت کي وي او که په دويم يا دريم کي وي يا خارج الصلوة الحمد لله وايي، او په اول کي د هر سورت بسم الله لاذمه ده پرته له سورت برائة څخه، او قاري اختيار لري که په منځ کي: اجزاً د هر سورت بسم الله وايي او که نه، لکن د سورت برائة د اجزاً په منځ کي کد قاري يو جزء د سورت وايه بسم الله به نه وايي کذا في شرح الشاطبية للجهميري عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وايي چي ما له حضرت علي رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه چي ولي د سورة برائة په اول کي بسم الله نه ويل کېږي؟ ده راته وويل چي بسم الله امان دی او سورت برائة په توره نازل سوی دی يعني بالجهاد مع الكفار بالسيف او بعض مفسرينو رحمهم الله يوه ډېره په زړه پوري خبره کړې ده چي په منځ د اصحابو کرامو رضي الله عنهم اختلاف ؤ بعضو ويل چي سورت برائة او سورت انفال يو سورت دی د قتال او جهاد په باب کي او دا سورت مجموع اووم سورت دی له سبع طوال څخه، وقال بعضهم هما سورتان، نو ددې دوو سورتو تر منځ لږ خالي ځای پرېښو لپاره د مراعات د هغه چا د مذهب چي وايي دا دوه سورته دي او بسم الله يې په اول کي نه کړه ورنوشته په مراعات د مذهب د هغه چا چي وايي چي سورت انفال او سورت برائة يو سورت دی.

پوه سه: چي بغوي رحمه الله وايي چي مفسرين رحمهم الله په اتفاق دا وايي چ عليه الصلوٰة والسلام سره د مسلمانانو وغزاً ته د تبوک روان سو چي غزوة عسرة يې هم بولي چي په مقابل کي د قيصر يو لک فوج موجود ؤ او ډېره سخته ګرمي هم وه او مسافت هم ډېر لېرې ؤ، نو منافقينو په مسلمانانو کي من جهة الغدر وغيره اقوال مضطربه ويله مثلاً ددې وار به عليه الصلوٰة والسلام او مسلمانان سلامت رانه سي چي په مقابل د قيصر دي لوی قوم دی او ټوله شاکي السلاح وغير ذالک من الاخبار الكاذبة المحرنة او مشرکانو چي د عليه الصلوة والسلام سره يې معاهدې درلودې ټولي يې ماتي کړې ولي چي ددوی زعم فاسد دا وچي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسلمانان د قیصر د لښکر مقامت په شام کي نه سي کولای او هیڅ امکان نه لري، نو علیه الصلوٰة والسلام خدای پاک امر کړی چي ته د نقض العهود اعلان کړه او داسورت یې نازل کړی چي په ابتدا کي یې اعلان د نقض العهد خدای ﷻ وکړی.

بَرَآءَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖٓ

زجاج رحمه الله وایي چي حاصل د معنی ددې آیت دادی قد برئ الله ورسوله (یعني بېزار دی خدای ﷻ او رسول د خدای ﷻ له دې څخه چي ددغو مشرکانو سره چي دوی اولاً نقض عهد وکړی چي ددوی سره عهود پر خپل ځای وساتي او وفا دي په وکړي) انتهی قول الزجاج مع الترجمة.

اعراب: قوله "برائة" خبر دی د مبتدأ محذوفي ای هذه برائة، برائة په لغت کي ضد د معاهدة دی و وزن برائة کدنانة، او کېدای سي چي برائة دي مبتدأ وي او الی الذین دې خبر وي، والتقدیر برائة واصلة من الله ورسوله الی الذین آه.

سوال: برائة خو نکره ده نو څرنګه مبتدأ واقع کېږئ؟

ځواب: په مبتدأ کي خو یوازي تعریف نه دی شرط بلکې تخصیص هم کافي دی د ابتدائیه لپاره، نو برائة که نکره ده تخصیص یې په صفت سوی دی کمامر ای برائة واصلة من الله ورسوله.

إِلَى الَّذِيْنَ عَاهَدْتُّمْ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۝١

چي تاسي ای رسوله والمؤمنون له مشرکانو څخه چي عهد او پیمان مو ورسره کړی ؤ، او دوی یې اولاً نقض وکړی، نو ستاسي د نقض اعلان دی.

فَسِيْحُوْا فِي الْاَرْضِ اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَّاعْلَمُوْٓا اَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِي اللّٰهِ ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ مُخْزِي الْكٰفِرِيْنَ ۝٢

نو تاسي سیاحت کوئ (فیه التفاوت من الغیبة في لفظ المشرکین الی الخطاب في قوله فسیحوا لانه امر مخاطب) والمعنی السیاحة تګ راتګ ده، یعني تاسي تګ راتګ کوئ لپاره د تجارت وغیرها یعني په پوره دا ده زړه ببله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خوفه له هيڅ چا څخه د مؤمنانو په محکمه کي څلور مياشتي او په دې پوه شئ چي خدای پاک تاسي نه سي عاجزه کولای له انتقام څخه، زهري رحمه الله وايي چي دا څلور مياشتي يوه شوال (د کوچني اختر مياشت) ذوالقعدة (د مياشي مياشت) ذوالحجة (د لوی اختر مياشت) والمحرم (د حسن حسين مياشت) زهري رحمه الله وايي چي سورت براثة په اول کي د شوال نازل سوی دی، او اکثره مفسرين رحمهم الله وايي چي ابتداً ددې څلورو مياشتو د لوی اختر له ورځي څخه او پای يې چي لس ورځي د د دوهمي خور تهر سي چي ربيع ثاني يې بولي.

دروبش وايي: چي د اکثره مفسرينو رحمهم الله دليل دادی چي عليه الصلوٰة والسلام چي فتح د مکې وکړه په اتم کال کي د هجرت، نو عتاب بن الاسيد رضي الله عنه يې آمر مقرر کړی لپاره د وقوف بالناس بعرفة بل في جميع مراسم الحج په دغه کال کي مسلمانان او مشرکان ټوله پر عرفات سره يو ځای وه چي سنه نهه د هجرت سوه، نو عليه الصلوٰة والسلام ابوبکر رضي الله عنه امير موسم الحج راواستاوه. نو ابوبکر رضي الله عنه چي د مکې پر خوا روان ؤ او عرج ته راورسېدی او د سهار د لمانځه اذان وسو ابوبکر رضي الله عنه وتکبير ته اماده ؤ چي تر شا يې د عليه الصلوٰة والسلام د اوښې ناري واورېدی چي جدعاً يې بلله، نو ابوبکر رضي الله عنه له تکبير څخه منع وکړه دده خيال دا ؤ چي اواز خو د عليه الصلوٰة والسلام د اوښي دی، نو لکه چي عليه الصلوٰة والسلام هم د حج قصد کړی دی او راروان سوی دی، نو تکبير صلوة يې له دې سببه وځنډاوه چي عليه الصلوٰة والسلام چي راسي لمونځ به دی مبارک په جماعت راکړي، دوی انتظار وکړی چي حضرت علي رضي الله عنه پر جدعاً اوښه باندې سپور ؤ راغلی خبر لمونځ يې وکړی ابوبکر وعلي رضي الله عنهما ته وويل امير انت ام رسول؟ قال علي لا بل رسول ارسلني. زه عليه الصلوٰة والسلام را استولی يم چي د سورت براثة اعلان و خلګو ته په مواقفو کي د حج وکړي، نو د اتم تر ورځي دمخه ابوبکر رضي الله عنه خطبه او وعظ و خلګو ته او مناسک د حج يې ورته بيان کړه چي ابوبکر رضي الله عنه فارغه سو بيا علي رضي الله عنه ولاړ سو او سورت براثة يې ټوله تلاوت کړی، نو چي يوم النحر سوه او د عرفات

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وقوف يې وکړی نو ابوبکر ﷺ بيا وعظ او تبليغ وکړی، نو رمي الجمار او نور افعال د حج يې وخلګو ته بيان کړه ابوبکر ﷺ چې فارغه سو بيا حضرت علي ﷺ سورت برائة تر پايه پورې وخلګو ته تلاوت کړی.

سوال: د سورت برائة اعلان خو ابوبکر ﷺ هم کولای سو، نو د علي ﷺ د را استولو څخه ضرورت وُ؟

ځواب: په عربو کې قديماً دا عادت وُ چې د چا له خوا عهد کول يا نقض عهد. يا له نسبي قريب بل چا نه سواى کولای، نو سورت برائة خو نقض العهد وُ د رسول الله ﷺ نو ځکه يې تر ابوبکر وروسته علي ﷺ پسې راواستاوه چې اقرب نسباً وُ تر ابوبکر ﷺ ځکه د عليه الصلوٰة والسلام څخه بعد الفراغ عن الحج چا پوښتنه وکړه چې تلاوت د سورت برائة به دي هم و ابوبکر ﷺ ته سپارلی واى؟ عليه الصلوٰة والسلام په ځواب کې ورته وويل "لا يؤدي عني الا رجل واحد مني او په ايامو کې د حج دا اعلان هم وسو، (۱) لا يطوف بالبيت عريان (۲) ولا يدخل الجنة الا نفس مؤمنة (۳) ولا يجتمع المسلمون والمشركون بعد عامهم هذا (۴) او د چا چې د عليه الصلوٰة والسلام سره عهد وي هغه تر خپلې مودې پورې پاته دی او چې عهد يې نه وي هغه څلور مياشتې عهد دی وبس.

وَأَذَانٌ مِّنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ إِلَى النَّاسِ يَوْمَ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ

او د اعلام دی د خداى او د رسول و خلګو ته په ورځ د حج اکبر، په يوم الحج الاکبر کې اختلاف دی، بعض صحابه او تابعين ﷺ وايي چې د عرفات ورځ ده لان الله تعالى يعتق عن النار مالا يحصى من عصات المؤمنين كما جاء في الاحاديث الصريحة الصحيحة المتواترة المعنى، او مختاره داده چې يوم الحج الاکبر د لوى اختر ورځ ده، ولي چې ترمذي د علي ﷺ څخه روايت کړی دی او وايي چې ما سوال وکړی له رسول الله ﷺ څخه په باره کې د يوم الحج الاکبر قال يوم النحر، او نور دېر حديثونه هم راغلي دي چې يوم الحج الاکبر د لوى اختر ورځ ده او دوې ورځې د منا ورسره دي، وجه تسميه ددې ورځې په دې نامه داده چې معظم افعال د حج په دغه ورځ کېږي کرمى الجمرة العقبة وطواف الزيارة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وذبح دم القران والتمتع "واذان" ای اعلام، فعال دی په معنی د افعال دی کالامان والعطاً، او اذان متعارف ته چې اذان وایي په دې سبب چې په دې اذان متعارف کې خلګ خبرول دي په اوقاتو د لمانځه.

پوه سه: چې رفع د اذان هغه دوې وجهې دي چې په اعراب کې د برائة تبرې سوې حذو النعل بالنعل.

دروښ وایي: چې د عجمو عوامو دا اصطلاح ده چې یوم الحج الاکبر هغه د عرفات ورځ ده چې د جمعې ورځ هم وي، لکن عرب وداسې ورځې ته د عرفات چې جمعه هم وي یوم حجة النبي ﷺ وایي، ولي چې د علیه الصلوٰة والسلام حجة الوداع پر داغسې ډول ؤ یعني یوم العرفة او یوم الجمعة سره یو ځای وه چې دا افضل د حجو دی چې بعض علماً وایي چې ثواب یې یو په اووه دی، او په رد محتار کې داسې هم راغلي دي چې ثواب یې یو په اوویا دی والله اعلم، او یوم حج اکبر د هر کال د لوی اختر ورځې ته وایي.

اَنَّ اللّٰهَ بَرِیْٓءٌ مِّنَ الْمُشْرِكِیْنَ ۙ۬ وَرَسُوْلُهٗ ؕ

بېشکه خدای ﷻ بېزاره دی له مشرکانو څخه او رسول ﷺ هم بېزاره دی له دوی څخه.

پوه سه: چې بعض قرأ رحمهم الله "رسوله" په نصب سره یې عطف یې بولي پر اسم د ان چې الله، او دا هم وجه د نصب کېدای سي چې مفعول معه دي وي او کلمه د واو په معنی د مع وي، لکن دا پر قرأ یې په رفع سره وایي وهو المکتوب في المصاحف المطبوعة المروجة، او د رفع وجه یې داده چې عطف دي وي پر ضمیر مستتر في بریٔ، او یا دي مبتدأ وي خبر دې محذوف وي وتقدیره ورسوله بریٔ.

پوښتنه: دا آیت د دمخه آیت تکرار نه دی؟

ځواب: یا! ولي اول آیت خاص ؤ په معاهد ینو پورې چې نقض عهد یې کړی ؤ چې هغه هم مشرکان وه، او د اوسني آیت تعمیم بعد التخصیص دی، ولي چې په دې آیت کې مطلق مشرکان مراد دي.

مسئله: که څوک په لمانځه کې ورسوله په جر د لام ووایي لمونځ یې فاسد دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لانه لاوجه للجر الا عطفه على المشركين فيفسد المعنى اشد الفساد.

حکایت: یوه اعرابي عرب په یو قاري پسي اقتدا کړي وه په لمانځه کي، نو هغه قاري ورسوله په جرد لام ووایه. نو اعرابي راهي سو او دا یې وویل چې د داسي رسول څرنګه متابعت وکړم چې خدای ﷻ څندي ببزاره وي.

فَإِنْ تُبْتُمْ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ

که تاسي توبه وکاړئ یعني رجوع وکړئ له کفر څخه و اسلام ته، نو دا توبه تاسي لره خیر ده په دنیا او په اخیرت کي اما في الدنیا فلخلاص انفسکم و اولادکم واموالکم الا بحق الاسلام، واما في الآخرة فلامان من النار.

وَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوا أَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِي اللَّهِ ۗ وَبَشِّرِ الَّذِينَ كَفَرُوا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ۝

او که تاسي روی ګرداني وکړئ له توبې او اسلام څخه، نو په دې پوه سئ چې خدای پاک تاسي نه سي عاجزه کولای له انتقام څخه ستاسي في الدنیا والآخرة او زېرې وکړه یا محمد وهغه کسانو ته چې کفر کوي په عذاب درد دهنده سره په دنیا کي په قتل او اسر سره کما وقع لکفار بدر او په اخرت کي په عذاب یعني په دوزخ کي.

بوه سه: چې دا قول د خدای ﷻ وبشر وارد دی پر طریقه د تهکم او استهزا لان البشارة هو الخبر السار وهذا لیس بسار.

إِلَّا الَّذِينَ عَاهَدتُّم مِّنَ الْمُشْرِكِينَ ثُمَّ لَمْ يَنقُصُوكُمْ شَيْئًا وَلَمْ يُظَاهِرُوا عَلَيْكُمْ أَحَدًا

مګر نه هغو کسانو ته برائت نسته چې ستاسي سره یې معاهده د صلح کړې وي او بیا یې په تعاهد کي ستاسي یو شی نه وي کم کړی تر ماعاهدوا علیه، او نه یې کومک ستاسي پر ضرر هیڅ چا ته یعني د دښمنانو ستاسي کړی وي، بغوي ﷺ وایي چې دا مذکور په آیت کي د بنو حمزه قوم وو چې د بني کنانه یو ښاخ وو او ددوی د صلح د مدې نهه میاشتي پاتې وې او دوی هیڅ نقض عهد نه وو کړی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَأَتِمُّوا إِلَيْهِمْ عَهْدَهُمْ إِلَىٰ مُدَّتِهِمْ

نو تاسي ورپوره کړئ عهد ددوی تر وخته تر تمام د عهد چي پاته دی، نو پر دوی حکم د ماتونکو د عهد مه جاري کوئ او نه حکم د هغو کسانو ته چي ستاسي او ددوی تر منځ هیڅ قرارداد او معاهده نه وي سوچ، ولي چي ددغو دوو طائفو سره خو ستاسي قتال روا دی ان شئتم، او د هغه مذکوره معاهدینو سره خو ستاسي جنګ نه دی روا تر تمام العهد پوري.

إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ

په تحقیق خدای ﷻ خوښ لري تقوی درلونکي کسان.

پوه سه: چي په دې آیت کي تنبیه ده پر دې چي اتمام العهد د دغو معاهدینو له قسمه څخه د تقوی دي او د خدای ﷻ متقین خلګ خوښ دي.

فَإِذَا انسَلَخَ الْأَشْهُرُ الْحُرُمُ

نو چي تېري سي اشهر حرم.

پوه سه: چي انسلاخ خروج الشیئ عما هو لابسه لکه خروج د پسه او غوایي له پوسته څخه یا خروج د انسان له کالو څخه.

درڼوښ وایي: چي مجاهد او ابن اسحاق یو داسي بیان د اشهر الحرم دلته کړی دی چي پر تکلف سوال او ځواب ته ضرورت لري فاعرضنا عنه، والظاهر ان المراد بالاشهر الحرم هـ هغه میاشتي دي چي روح المعاني، روح البیان، بیضاوي او مظهري ﷺ یې تفسیر کړی دی چي په هغو کي قتال د مشرکانو نا روا وُ چي د شوال، ذوالقعدة، ذوالحجة او محرم میاشتي دي، ولیس المراد بها الاشهر المشهورة بهذا الاسم في کل سنة وهي رجب، وذوالقعدة، وذوالحجة والمحرم لان ظاهر نظم الآیة هـ یقتضی توالي هذه الاشهر، او توالي خو په اول کي سته او په دویم کي نسته.

فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ

نو وژنئ مشرکان هرچېري چي مو پیدا کړه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې مراد له دې مشرکانو څخه غیر د هغو مشرکانو دی چې عهد یې کړی وي او نه یې وي مات کړی.

فائده: حیث لپاره د عموم د مکان دی یعني که په حل کې وي او که حرم کې وي.

دروښ وایي: چې روح البیان خو دا قدر ویلي دي في حل او حرم، لکن مراد یې دادی چې شروع په قتال سره مشرکین وکړي یا په حرم کې یا په اشهر حرم کې والدلیل علیه قوله تعالی "الشهر الحرام بالشهر الحرام والحرمات قصاص فمن اعتدی علیکم فاعتدوا علیه بمثل ما اعتدی علیکم" فقوله تعالی الشهر الحرام آه في شروع المشرکین بالقتال في هذه الاشهر فیجوز لنا القتال في هذه ایضاً، وقوله تعالی فمن اعتدی علیکم الآیة في شروع المشرکین القتال في الحرم فیجوز لنا القتال ایضاً فیه لان هتک حرمة الحرم کان من جانب المشرکین واما نحن فنقاتلهم حفظاً لدمائنا لاهتکاً لحرمة الحرم.

دروښ وایي: چې فعلی هذه الارادة والتقدیر لجواز القتال في الحرم بکون المشکرین بدووا بالقتال في الحرم لایرد، هغه سوال چې په حدیث کې د بخاري او مسلم راغلی دی چې علیه الصلوٰة والسلام په کال د فتح د مکې داسې وویل ان هذا البلد حرمه الله تعالی یوم خلق السموات والارض فهو حرام بحرمته الی یوم القیامة وانه لم یحل القتال (یعني في الحرم) لاحد قبلي (یعني من الانبیاً) ولا یحل لي الا ساعة من النهار وقد عادت حرمتها الیوم کحرمتها بالامس.

سوال: دا حدیث به منسوخ وي په قول د خدای ﷻ "حیث وجد تموهم" لان حیث لعموم الامکنة والحرم ایضاً من الامکنة؟

ځواب: په اصول فقه کې مسئله داده چې کوم آیت یا حدیث چې په تابید مقید وي د هغه نسخ نه ده روا، په مانحن فیه کې خو حدیث مقید بالتابید دی یعني الی یوم القیامة.

دروښ وایي: چې حاصل د کلام دادی چې وحیث وجد تموهم که څه هم دال پر عموم د امکنه وو دی لکن په حدیث صحیح کې د بخاري او مسلم خاص دی په هغه صورت سره چې مشرکان ابتداً د قتال په حرم محترم کې وکړی، جلال

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الدین السیوطي رحمه الله وایي چي دا آیت ناسخ دی د تولوا هغو آیاتو په قرآن کي مسلمانان یې امر کړي دي چي له مشرکینو څخه دي اعراض وکړي یعني ځان دي نه ورسره اخته کوي او صبر دي پر ازار ددوی کوي، او روح البیان دغه خبره کړې ده او دعوه د اجماع د جمهور علماؤ رحمهم الله پر دغې خبري باندي هم کړې ده.

وَخُذُوْهُمْ وَاحْصُرُوْهُمْ وَاقْعُدُوْا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ ۚ

او بند یانوئ دوی والاخیذ الاسیر، ابن عباس رضي الله عنه وایي که دوی پخپله قلعه ننوتل ستاسي څخه، نو تاسي یې قلعه بنده کړئ یعني منع یې کړئ له راوتلو څخه لپاره د ضروریاتو تاچي مجبور سي وقتال ته او یا و اسلام ته او یا قبول د جزیې وکړي، او تاسي مسلمانان کښېنئ ودوی ته په هر مرصد کي.

پوه سه: چي مرصد د انتظار ځای ته وایي ودښمن ته، لکه په پښتو کي چي وایي لار ورته وه نسه، یعني مځکه پر تنګه کړئ او مه پرېږدئ دوی چي ازاد سفرونه وکړي یا مکې ته داخل سي.

فَاِنْ تَابُوْا وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ فَخَلُّوْا سَبِيْلَهُمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝

که دوی توبه وکاږي له شرک څخه او د لمونځ کول قبول کړي او د زکوة ورکول هم ومني، نو ایله کړئ لار ددوی یعني کار مه په لرئ، ولي چي په تحقیق خدای جل جلاله غفور بخښونکی او مهربان دی، نو مشرک یا عاصي چي له شرک او عصیان څخه توبه وکاږي خدای جل جلاله یې توبه قبلوي او بخښه د شرک او د ګناه ورته کوي سره د رحمت.

پوه سه: چي ما تفسیر د اقاموا الصلوة آه په قبول او منلو سره وکړی له دې سببه چي د ایمان شرط قبول دی د لمانځه کولو او وعده کول دي د زکوة ورکولو لافعل الصلوة وایتاؤ الزکوة بالفعل.

وَاِنْ اَحَدٌ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ اسْتَجَارَكَ

که چېري یو له مشرکینو څخه چي خدای جل جلاله ماته امر کړي په قتال او قتل د هغو ستا څخه طلب د جوار او امان درڅخه وکړي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: احد مرفوع دی په وروسته استجارک سره چې دې ته په نحو کې مرفوع علی شریطة التفسیر وایي هغه داسې چې عامل د رفع د احد چې استجارک ؤ ددمخه ځخه یې حذف کړی په شرط د تفسیر یعنې بیان او راوړل د هغه.

سوال: ددې څه فائده ده چې دمخه یې حذف کړی او وروسته یې بیرته راوګرځاوه؟

ځواب: فائده یې داده چې اولاً مخاطب د رفع د عامل د احد متردد وي او طالب یې هم وي وروسته چې هغه راوړل سي د مخاطب په زړه کې ښه تقرر او ځای پیدا کوي لما قال اهل المعاني ان العلم الحاصل بعد الانتظار والطلب یکون اعز واثبت في القلب کما قال العارف الجامي قدس سره السامي.

چه خوش باشد که بعد از انتظاری ..... باامید رسد امیدواری

والتجربة في العلم الحاصل بعد الکد و الطلب یکون اضبط وعزیزاً في قلب العالم المذکور من علم لایکون تحصیله للعلم بدون الکد والتعب تدل علی ماقلنا وکذا في الامور الدنیویة کما لایخفی.

فَأَجِرْهُ حَتَّىٰ يَسْمَعَ كَلَٰمَ اللَّهِ ثُمَّ أَبْلِغْهُ مَأْمَنَهُۥ

نو جوار او امان ورکړه چې کلام د خدای پاک واوري، کلام د خدای ﷻ یعنې قرآن کریم او فکر به پکښې وکړي او په اعجاز د قرآن به پوه سي، نو امکان لري چې ستاد مبارک مخ له لیدلو او د قرآن کریم په اوریدلو به ایمان راوړي، او که یې ایمان نه راوړی تر ځای د امن دده چې د قوم دده دي ورسوه چې یو څوک ورسره کړه چې بل ځای مسلمانان تعرض پرونه کړي.

دروښ وایي: چې دادی د دین انصاف د دښمن سره.

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْلَمُونَ ۝٦

دغه امر د امن او جوار ورکولو چې ته په امر سوې او دا مدارات چې دښمن ته وکړې په سبب ددې دی چې دغه کافران حق او باطل نه سره پېژني فلا بد لهم من سماع کلام الله حتی یعلموا لعلهم یرجعوا من الکفر والعناد الی المحبة والایمان.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: داغه سړی که په بله ډله کي د کافرانو جنګ ته راسي او قدرت پرې پیدا سي خامخا به قتل کېږي.

كَيْفَ يَكُونُ لِلْمُشْرِكِينَ عَهْدٌ عِنْدَ اللَّهِ وَعِنْدَ رَسُولِهِ

پوه سه: چي کیف لپاره د استفهام انکاري دی ای لایکون وکان تامة ای یوجد مشرکینو لره عهد یعني پېمان، قرارداد او صلح په نېز د خدای ﷻ او په نېز د رسول ﷺ، وجه نفي العهد چي ډېرو مشرکانو خپلي وعدې ماتي کړې په سبب د عناد ددوی د اسلام او د علیه الصلوٰة والسلام سره او په سبب د فسق ددوی.

إِلَّا الَّذِينَ عَاهَدْتُمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ

مګر نه هغه چي تاسي معاهده ورسره کړې وه په نېز د مسجد حرام یعني مسجد مکة مکرمة، نو که دمخه مشرکینو څخه مطلق مشرکین مراد وي، نو دا استثنا متصل ده او الذین منصوب علی الاستثناٰ ده، او که د مخه ذکر سوي مشرکینو څخه ناقضی العهد مشرکین مراد وي، نو دا استثنا منقطع ده په معنی د لکن.

پوه سه: چي مراد له معاهدینو څخه د مسجد حرام بني کنانه او بني ضمرة دي چي په حدیبیه کي چي مکې ته نژدې ځای دی د علیه الصلوٰة والسلام سره یې عهد او صلح وکړه پر عدم قتال وعدم معاونة الکفار في الحرب مع رسول الله ﷺ.

فَمَا اسْتَقَامُوا لَكُمْ فَاسْتَقِيمُوا لَهُمْ

تر هغو چي دوی وفاٰ دار د خپل عهد وي، نو تاسي ودوی ته وفاٰ دار بالعهد اوسئ.

پوه سه: چي کلمه د ما یا شرطیه ده نو "فاستقیموا" ځواب دی، اویا مصدریه ده، نو ما استقاموا مرفوع محلاً ده فاستقیموا آه یې خبر دی.

فائده: ابن عباس رضی الله عنهما وایي چي مراد له الذین عاهدتم ټوله قریش دي، او قتاده رحمه الله وایي چي مراد له الذین عاهدتم آه" څخه ټوله اهل مکه دي چي علیه الصلوٰة والسلام صلح ورسره وکړه په حدیبیه کي، نو خدای پاک علیه الصلوٰة والسلام امر کړی چي ته به تربص کوې په حال کي ددوی ان استقاموا علی العهد یستقام من جانبک علی الوفاٰ لکن دوی استقامت پر عهد نه وکړی او عهد یې مات کړی، څه وخت چي بني بکر چي د اهل مکه حلیفان وه پر خزاعة حمله وکړه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې خزیمه بیا حلیفان د علیه الصلوٰة والسلام وه تولـه اهل مکه د بنې بکر سره شامل سوه، او خزیمه وو ته یې جاني ومالي تاوانونه واړول. نو علیه الصلوٰة والسلام د بنې خزیمه د قسمات اخستلو لپاره پر مکه مکرمه حمله وکړه او مکه یې فتح کړه او اهل مکې ته یې ځلور میاشتې وخت ورکړی چې تاسې په خپل منځ کې مشوره سره وکړئ که مو خوښه وه اسلام راوړئ او په خپل تاتوبي مکه کې کما کان اوسېږئ او که بل ښار او وطن ته تګ خوښوئ تاسو ته عامه او تامه اجازه ده اهل مکه د ځلورو میاشتو له تېرېدلو ځخه دمخه اسلام راوړی.

إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ ۝

په تحقیق خدای پاک محبت کوي له متقینو کسانو سره عموماً وخصوصاً في مراعات العهد مع الکفرة، په مثنوي کې جلال الدین الرومي قدس سره وایي:

سوی لطف بیو فایان هین مرو ..... کان پل ویران بود نیکو شنو
نقض میثاق وعهود از احمقیست ..... حفظ ایمان ووفا کار تقیست

كَيْفَ وَإِنْ يَظْهَرُوا عَلَيْكُمْ لَا يَرْقُبُوا فِيكُمْ إِلًّا وَلَا ذِمَّةً ۖ

ای کیف یکون للمشرکین عهد حقیق بالمراعات عند الله سبحانه وتعالی وعند رسوله ﷺ وحالهم روح البیان، کـه دوی بـری پیدا کـړی پـر تاسـي. الـواو للحـال "لا یرقبوا" ای لا یحفظوا وقال الضحاک رحمه الله لا ینظروا وقال قطرب رحمه الله لا یراعوا.

دروښ وایي: چې دا تولي معنا وي یوه شي ته راجع دي بلکې تقریباً سره مترادفي دي (فیکم الا) قیل خلقاً وقیل قرابةً، وقیل الاسم عبري بمعنی الاله، زهري رحمه الله وایي له اسماؤ ځخه د خدای ﷻ دی په عبراني ژبه کما قالوا في جبرئیل معناه عبد الله لان جبر هو العبد وایل هو الله بالعبراني. نو دا احتمال سته چې ایل یې عربي ته نقل کړی وي او یا دې ځندي حذف کړې وي، نو ال په معنی د اله یعني لا یراعون حق الله فیکم، او ابن عباس رضي الله عنهما کمامر په قرابت ترجمه کړې ده او بعض علماً یې په رحم ترجمه کوي.

دروښ وایي: چې بعض کسان د مسیلمة کذاب و ابوبکر رضي الله عنه ته راغله یعني دده د خلافت په وخت کې، نو ابوبکر رضي الله عنه ورته وویل چې تاسي د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسیلمه کتاب ووایاست! هغو چې ورته قرائت کړی، نو ابوبکر ﷺ ورته وویل چې دا کلام نه دی نازل سوی من "ال" یعني من الله وهذا الخبر یؤید قول من قال ان ال اسم عبري معناه اله "ولاذمة" ای عهد اعاهدوه منکم، مؤکداً بالایمان.

يُرْضُونَكُمْ بِأَفْوَاهِهِمْ وَتَأْبَىٰ قُلُوبُهُمْ وَأَكْثَرُهُمْ فَاسِقُونَ ۝

یعني دوی داسي خبري کوي چې سبب د رضا ستاسي وګرځي نفاقاً کالمنافقین وتقیةً کالروافض چې هغه خبري قسمونه دي او مواثیق دي چې موږ به حتماً په عهد وفا کوو، او ابا کوي زړونه د دوی د خپلو خلو له خبرو څخه یعني کفر او عداوت په زړه کي پټ ساتي له جهته د بهري ستاسي څخه، نو په وخت کي د ظفر به معلوم سي ددوی عداوت مبطن چې ددوی د خلو د خبرو به خلاف وي.

دروښ وایي: چې مراد په دې آیت له فسق څخه فسق مخصوص مراد دی چې نقض العهد دی او اکثر لفظ چې ووایه ددې کبله چې بعض مشرکانو به د نقض العهد څخه ډډه کول او د وفا بالعهد لار یې خپله کړې وه.

دروښ وایي: چې وفا بالعهد د غیرت مند سړي کار دی او بې وفایي اکثره د بښځو عادت دی، نو ددې کبله بعض قلیل خلګ که څه هم کافران وي او معاهده یې د دښمن سره وي بیا هم د عهد مراعات کوي.

اِشْتَرَوْا بِآيَاتِ اللَّهِ ثَمَنًا قَلِيلًا فَصَدُّوا عَنْ سَبِيلِهِ

یعني دغه مشرکین ناقضین للعهد رانسي په آیاتو د قرآن چې امر په وفا بالعهد سره دی یعني دا آیت یې پرې ایښی دی او په عوض کي یې "ثمناً قلیلاً" ای شیئاً حقیراً من شهوات الدنیا وحطامها غوره کړي دي، په تفاسیرو کي وایي چې ابو سفیان بن حرب اعراب د عربو سره راټول کړه او ډېره لویه مهماني یې ورته جوړه کړې وه تاچې دوی د علیه الصلوٰة والسلام له متابعت څخه منع کړي او باعثه یې کړي پر نقض الذي کان بینهم وبین رسول الله ﷺ، نو دوی هم عهد مات کړی په دا یوه مبلمستیا د ابو سفیان، نو فاعل د اشتروا هم دغه اعراب دي او ثمن قلیل د ابو سفیان ډوډۍ ده.

پوه سه: چې "صد" لازمي هم راغلی دی چې معنی یې عدول او اعراض ده، او متعدي هم راغلی دی چې معنی یې منع وصرف غیره ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې دلته دواړې معناوي صحيح کېږي لازمي معنا يې په اعرابو کې او متعدي معنا يې په ابو سفيان کې فافهم، مراد له سبيله لاړ د خدای ﷻ ده چې اسلام دی او وفا بالعهود ده.

إِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ۝

په تحقيق هم د دوی بد دی عمل مستمر دی كما يدل على الاستمرار صيغة المضارع ای يعملون.

اعراب: لفظ هم اسم د ان دی جمله د سأ يې خبر دی او سأ فعل ذم دی او کلمه د ما مصدريه ده او کانوا يعملون په تأويل د مصدر په محل کې د رفع دی فاعل د سأ دی او مخصوص بالذم يې محذوف دی ای عملهم هذا.

پوه سه: چې لفظ کان چې د مضارع سره راسي نص يې گرځوي په استمرار کې وکان المضارع قبل ذالک محتملاً للاستمرار فتدبر.

لَا يَرْقُبُونَ فِي مُؤْمِنٍ إِلًّا وَلَا ذِمَّةً ۚ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُعْتَدُونَ ۝

دوی نه ساتي په حق کې د مؤمن نه قرابت او نه عهد او هم دغه کسان تجاوز کونکي دي تر حدود او احکامو د خدای ﷻ.

پوښتنه: مثل ددې آيت خو مخکې تقريباً تېر سو، نو اوس يې ذکر کول به تکرار نه وي؟

ځواب: لا يرقبون په دې آيت کې تفسير دی د ماکانوا يعملون او استيناف بياني دی کانه قيل ماکان سوء عملهم فاجيب لا يرقبون آه، لپاره د تکرار د اول نه دی ذکر سوی، او بعض وايي چې اول آيت په منافقينو کې وارد او نازل دی او دا آيت خاص دی په الذين اشتروا آه چې يهودان دي او هغه اعراب دي چې ابو سفيان مهماني ورکړه وقد مر تفصيله قريباً.

فَإِن تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ ۗ

نو که دوی توبه وکاږي له شرک او کفر څخه او قبول کړي فرضيت د لمانځه او د ورکړې د زکوٰة التزام وکړي، نو دوی ستاسي وروڼه دي په دين کې يعني که څه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هم نسبي وروڼه نه دي لهم مالكم، د لام كلمه لپاره د نفع ده وعليهم ماعليكم كلمه لپاره د ضرر ده.

دروبش وايي: چي اخوه او ورور ګلوي درې قسمه ده الاول اولى من الجميع هغه دادی چي د نبي وروړ وي او هم نسبه يې وي سواً كان اخ حقيقة او اخاً من حيث القبيلة. والثاني دادی چي ديني وروړ يې وي يعني په مسلماتی ورسره شريک وي نه په قوم او نسب کي، والثالث چي اخوة ديني خو يې نه وي بلکې يو کافر بل مسلمان وي او نسبي وروړولي يې وي يعني الاشتراک في القبيلة وهذه الاخوة لا اعتداد ولا اعتبار له في الدنيا والآخرة.

وَنُفَصِّلُ الْآيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿۱۱﴾

او موږ تفصيل د آيتو په قرآن پاک کي کوو د هغه خلګو لپاره چي هغه په آيتو پوهيږي لانهم المنتفعون بها.

پوه سه: "ونفصل" جمله معترضه ده، فائده يې داده چي سړی يعني مسلمانان او اهل علم بايد فکر وکړي په دمخو آياتو کي چي بيان د معاهدينو د احکامو پکښې ذکر سو او داغه رنګه احکام د تائبينو هم پکښې ذکر سوه، ابن عباس رضي الله عنهما وايي چي دې آيت د اهل قبله وينې تويول حرامي وګرځولې يعني چي د کعبې شريفې پر خوا لمونځ کوي. له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چي خدای پاک په يوه بلکې په دېرو آيتو کي موږ په لمانځه او په زکوة سره يو ځای امر کړي يو فمن لم يزک فلا صلوة له ای لا اعتداد بصلوته.

دروبش وايي: چي د ابن مسعود رضي الله عنه پر تغليظ او تهديد د مسلمانانو مبني دی، داسي حديثونه د هر نور ورته تهديدي هم سته مبني پر تغليظ كما قال عليه الصلوٰة والسلام "لاصلوة لجار المسجد الا في المسجد" بخاري او نورو محدثانو رحمهم الله له ابي هريرة رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چي هغه وخت چي عليه الصلوٰة والسلام وفات سو او ابوبکر رضي الله عنه خليفه سو فکفر من کفر من العرب يعني د زکوة د فرضيت په انکار سره، نو ابوبکر رضي الله عنه ددغو کسانو وجنګته تياري نيول چي عمر رضي الله عنه ورغلی او ورته وه يې ويل کيف تقاتل الناس او حال

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دادی چې علیه الصلوٰة والسلام ویلي دي چې زه امر سوی یم چې زه به جنګ د خلګو یعني کافرانو سره کوم "حتی یقولوا" لا اله الا الله او چا چې دا کلمه توحید ووېل فقد عصم مني ماله ونفسبه الا بحقه (کالقصاص مثلاً) وحسابه علی الله یعني د باطن حال یې په خدای ﷻ اړه لري یعني چې کلمه ویل په اخلاص او که په نفاق وه، ابوبکر ﷺ ورته وویل والله لاقاتلن من فرق بین الصلوة والزکوة یعني باقرار الصلوة وانکار الزکوة فان الزکوة حق المال ای ثابت في القرآن فرضیته یعني والصلوة حق البدن والزکوة حق المال فکیف یمکن الایمان بالصلوة والانکار عن الزکوة آخر الامر وبر دلائل ابوبکر ﷺ ورته وویل، نو عمر ﷺ په دې قانع سو چې د زکوة د منکرینو سره جنګ روا دی،

فائده: یو له فرضي عبادت څخه انکار دی هغه بالاجماع کفر دی، او یو داچې فرضي عبادت نه ادا کوي اما منکر د فرضیت یې نه وي فهو مرتکب الکبیرة لاکافر، بخاري له انس ﷺ څخه روایت کړی دی چې علیه الصلوٰة والسلام وویل "من صلی صلاتنا (احتراز عن صلوة الیهود والنصاری) واستقبل قبلتنا (یعني في الصلوة) واکل ذبیحتنا فذالک المسلم الذي له ذمة الله وذمة رسوله.

وَإِنْ نَّكَثُوٓا أَيْمَانَهُم مِّنۢ بَعْدِ عَهْدِهِمْ وَطَعَنُوا۟ فِى دِينِكُمْ فَقَٰتِلُوٓا۟ أَئِمَّةَ ٱلْكُفْرِ

او که دوی مات کړه قسمونه خپل وروسته تر عهد کولو، او عیب یې وایه ستاسي په دین کي، نو تاسي جنګ کوئ د پېشوایانو سره د کفر،

"وَإِن نَّكَثُوٓا أَيْمَٰنَهُم (ای عهودهم) مِّنۢ بَعْدِ عَهْدِهِمْ (کما نکث کفار قریش) وَطَعَنُوا۟ فِى دِينِكُمْ (یعني په تکذیب او تقبیح د احکام الهیه ؤ)

سوال: ځای خو د ضمیر ؤ یعني فقاتلوهم، نو د اسم ظاهر څه حکمت دی؟

ځواب: اشاره ودې ته ده چې په مذکوره کار رئیسان د کفر وګرځېدل، نو دوی احق دي په وژلو سره، او بعض مفسرین رحمهم الله وایي چې مراد له ائمة الکفر څخه رئیسان د قریشو دي لکه ابو سفیان بن حرب والحارث بن هشام وسهیل بن عمرو و ابو جهل وغیرهم، ولي دغو کسانو عهد مات کړی، نو د قریشو د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رئیسانو د تخصیص وجه داده چې ددوی په قتل سره د مکې د ټولو مشرکانو زړونه ضعیف کېږي او بیا وجنګ ته د مسلمانانو نه تیارسئ کېږي.

إِنَّهُمْ لَآ أَيْمَانَ لَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَنْتَهُونَ ﴿١٢﴾

په تحقیق هیڅ ایمان نسته دوی لره، بفتح الهمزة جمع د یمین ده په معناد عهد، یعني یو وار چې یې عهود مات کړه بیا طمع د وفا په عهد جدید سره مه ورته کوئ "لعلهم ینتهون" د "قاتلوا" سره تعلق لري، او په منځ کې جملې معترضې وې.

پوه سه: چې لعل په معنی د لام کی دی، یعني ددې لپاره جنګ ورسره کوئ چې دوی له کفره نهي سي او شرک دي پرېږدي، ددې آیت نکته داده چې غرض د مجاهدینو په جهاد کې فقط داغه وي چې کافران به کوندي ایمان راوړي نه دا چې صرف ازار ور رسول او نه قدرت تر لاسه کول او پادشاهي له چا څخه نیول لکه د مسلمانانو د جنګ مرام چې همدغه ؤ او نه غنیمت تر لاسه کول، ولې چې دا ټوله نیات مبطل د ثواب د جهاد في سبیل الله دي.

مسئله: د امت مرحومه ټولې فرقې او مذاهب پر دې یې اتفاق او اجماع ده چې سپکاوی د آنحضرت ﷺ بلکې د هر نبي کفر دی که یې فاعل روا ښولي او که ناروا، او په ښکنځولو کې د نبي قصد او عدم قصد فرق نه لري بلکې په دواړو صورتو کې کافر دی، او په جهالت یا فکر مي نه ؤ هم له کفره نه خلاصېږي چې عقل یې سالم وي یعني لهونی نه وي.

مسئله: که چا وویل د اهانت په توګه چې علیه الصلوٰة والسلام تور سړی ؤ او یا یې وویل چې د ابو طالب یتیم ؤ او یا یې دا وویل چې علیه الصلوٰة والسلام قصداً له طیباتو څخه احتراز نه کاوه بلکې په سبب د کمال فقر ؤ او که ده ته طیبات رسېدلای خوږل یې، وامثال ذالک کفر.

مسئله: که چا وویل یو ساعت علیه الصلوة والسلام لهونی سوی ؤ فقد کفر. او که چا وویل چې پر علیه الصلوٰة والسلام یو ساعت بېهوشي راغله نه کافر کېږي، او فرق یې دادی چې لهونتوب زوال د عقل دی، وهو محال علی الانبیاً

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ﷺ ولو ساعةً بخلاف الاغما.

مسئله: که چا له پېغوره علیه الصلوٰة والسلام یاداوه چې پسونه یې پېولي دي له پېغوره مراد اهانت دی او یا پېغور په سهوه د لمانځه ورکړي او یا په نسیان سره او یا د اهانت په توګه چې د علیه الصلوٰة والسلام د پرې مایني خوښي وې په دې ټولو صورتو کې کافر کېږي، او که یې په دغو ویناو کې غرض بیان د واقع ؤ نو نه کافر کېږي کذا في الفتاوی الخاقانیة.

مسئله: که چا وویل چې علیه الصلوٰة والسلام چې به وره ډوډی یعنې بنوروا وغیره خوړل ګوتې به یې څټلې، بل یوه وویل "این بې ادبي است" او په معنی ددغه فارسي الفاظو یې په بله ژبه وویل فقد کفر لعدم احتمال لغیره، په فتوی ظهیریه کې یې ویلي دي چې قاضي ابو یوسف د هارون رشید پر سترخوان ناست ؤ چې امام ثاني وویل چې د علیه الصلوٰة والسلام کډو خوښ ؤ، یو نوکر له نوکرانو څخه د هارون وویل چې زما کډو نه دی خوښ، امام ابو یوسف وهارون ته وویل چې دا نوکر دي کافر سو که یې توبه وکښل خو نه دی او که یې نه وکښله سر یې په توره ځندي پرې کړه فتاب واستغفر فامن من القتل انتهی، لکن په فتاوی خاقانیه کې وایي چې دا هلته کافر کېږي چې پر وجه د اهانت دا خبره وکړي او ان مراده بیان الواقع فلا یکفر آه.

اَلَا تُقَاتِلُوْنَ قَوْمًا نَّكَثُوْٓا اَيْمَانَهُمْ وَهَمُّوْا بِاِخْرَاجِ الرَّسُوْلِ
وَهُمْ بَدَءُوْكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ ؕ

آیا تاسي نه کوئ جنګ د هغه قوم سره چې مات یې کړل خپل قسمونه او عهود او قصد یې وکړی په فراره کولو کې د رسول او دوی ابتداً وکړه تاسي ته اول وار په عهد ماتولو سره.

دروبش وایي: چې بعض مفسرین رحمهم الله وایي چې مراد له دې قوم څخه یهودان او منافقین دي او نور کفار د مدینې چې علیه الصلوٰة والسلام د تبوک وغزا ته ووتی، نو دوی خپل ټوله عهود تر پښو لاندي کړه یعنې مات یې کړه او دا یې قصد هم ؤ چې علیه الصلوٰة والسلام او مؤمنان له مدینې څخه باسو کما

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قال ابی لئین رجعنا الی المدینة لیخرجن الاعزمنها الاذل، او دوی ابتداً وکړه په عداوت ستاسي اول وار چې د مشرکانو سره یې کومک وکړی او علیه الصلوٰة والسلام ددوی سره جنګ نه وٴ شروع کړی،

پوه سه: چې مظهري رحمه الله دا تفسیر د قوم په یهود و او منافقینو سره اظهر بللی دی، دی وایي چې دا سورت د تبوک تر غزا وروسته نازل سوی دی او هغه وخت خو اهل مکه وو ایمان راوړی وٴ یعني په اهل مکه سره یې تفسیر نه دی روا، او بل دا چې په دې آیت "هموا" ذکر سوی دی "هم" خو دا بولي چې قصد یې کړی وٴ کامیابه نه سوه، او اهل مکه خو د علیه الصلوٰة والسلام په اخراج کې کامیابه سول، ولي قریشو خو د علیه الصلوٰة والسلام د وژلو قصد کړی وٴ چې د دار الندوة په غونډه کې د ابلیس شیخ نجدي په صورت دا مشوره په اتفاق الآرا منظور سوه، نو علیه الصلوٰة والسلام مجبور سو وتلو ته که څه هم دوی نه وو ورته ویلي ووزه، لکن اجبار پر خروج اخراج دی، ولهذا قال الله تعالی واخراج اهله منه اکبر عند الله یعني عبر الله تعالی بالاخراج.

او بعض مفسرین رحمهم الله وایي چې له "الذین نکثوا ایمانهم" څخه مراد اهل مکه دي چې دوی اوله د حدیبیې صلح ماته کړه او د بني بکر سره یې مرسته وکړه چې ددوی معاهدین وه په جنګ کې د خزاعه وه چې علیه الصلوٰة والسلام معاهدین وه او قصد یې هم کړی وٴ پر اخراج الرسول چې د دار الندوة غونډه یې وکړه او د علیه الصلوٰة والسلام پر قتل یې اتفاق وکړی کمامر آنفاً او په جنګ هم اول وار دوی شروع وکړه، ولي چې علیه الصلوٰة والسلام خو دوی ته په دعوت د توحید وترک الشرک شروع وکړه او ددوی معارضه بکتاب الله وکړه کما ذکره الله تعالی في سورة البقرة وان کنتم في ریب مما نزلنا علی عبدنا فأتوا بسورة من مثله" په هغه کې دوی عاجزه پاته سوه، نو نوري معجزې لکه شق القمر هم بیکاره سوې نو په حجت کې چې دوی پاته راغله، نو د معارضة باللسان سره یې مقارعة السیف والسنان مختاره کړی حتی اجتمعوا في دار الندوة وانعقدوا علی قتله ﷺ، او بل دا چې ابوجهل چې د ابو سفیان د قافلې د ساتنې لپاره له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مکې ځخه راوتی سره د زرو کسانو فوج تخميناً او دوی پر لاري وه چې دوی ته د قافلې د سلامتیا خبر ورسېدی او خلګو د فوج رئیسانو ته وویل چې راځئ چې بیرته مکې ته رجوع وکړو ولې چې زمونږ مقصد پر ځای سو، هغو ورته وویل چې یا حتی نستاصل محمداً واصحابه.

ابو جهل په نیت د استیصال د محمد ﷺ.. دی په خپله استیصال سو چې نیت یې بد ؤ او لانهم بدؤا بقتال خزاعة حلفاً رسول الله ﷺ لکن دا بیان هلته صحیح کېږي چې نزول ددغو آیاتو قبل فتح مکه وي کما لایخفی.

دروبش وایي: چې امام مظهري رحمه الله دا خبره هم کړې ده چې په قول ثاني چې بعض مفسرینو ویلي دي چې مراد په "الذین نکثوا ایمانهم" کفار د مکې دي الخ چې پر دې تفسیر هغه د ابن عباس رضي الله عنه قول هم صحیح سو چې ان قوله تعالی "ان نکثوا ایمانهم آه" نزلت في ابی سفیان وغیره المذکورین من قبل وقوله تعالی "الا الذین عاهدتم عند المسجد الحرام فاستقاموا لهم ما استقیموا لکم" المراد به قریش امر الله رسوله بالتربص في امرهم ان استقاموا علی العهد یستقاموا لهم لکنهم لم یستقیموا"

دروبش وایي: چې صاحب د روح المعاني او صاحب د روح البیان دواړه تفسیر ثاني خوښوي او قول د ابن عباس په اقرار د مظهري هم پر تفسیر ثاني صحیح کېږي، نو امام مظهري ولې چې تفسیر د آیت یې په یهودانو او منافقینو سره وکړی داسې یې وویل "وهذا اظهر لان آه صرف په تفسیر ثاني کې دا قدر شی غواړي چې دغه مذکور آیات قبل فتح مکه نازل سوی دی او دا خو دېره ګرانه خبره نه ده چې سورت توبه دي مدني وي او وروسته دي تر غزوه تبوک چې بعد الفتح وه نازل سوی وي لکن دا څو آیات د قبل فتح مکه ؤ قبل غزوة تبوک نازل سوی وي، وفي القرآن امثال کثیرة.

فائده: استفهام په الا تقاتلون آه کې انکاري دی او داخل پر حرف نفي دی وقد تقرر في موضعه ان انکار النفي اثبات للمنفي وهو هنا القتال یعني قاتلوهم لکه چې وروسته به خدای پاک دغه امر ضمني چې د استفهام انکاري ځخه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وفهمبدی کما ذکرنا صراحة ذکر کړی.

أَتَخْشَوْنَهُمْ

آیا تاسي له دوی څخه ببرېږئ چې یو مکروه به مونږ ته ورسوي، نو له دې سبب جنګ نه ورسره کوئ، استفهام لپاره د انکار دی یعني مه ځني ببرېږئ لان الله ناصرکم علیهم.

فَاللَّهُ أَحَقُّ أَنْ تَخْشَوْهُ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿١٣﴾

خدای ﷻ احق دی په دې سره چې تاسي ځني وببرېږئ في ترک امتثاله تعالی في القتال مع اعدائه، که چېرې تاسي یاست مؤمنین.

پوه سه: چې "ان" شرطیه دی جزاً یې له ماقبل څخه فهمېږي، والتقدیر "ان کنتم مؤمنین فالله احق آه" یعني چې مقتضی د ایمان داده چې خالق د ټوله عالم خدای ﷻ دی حتی افعال العباد ایضاً، او نفع او ضرر ټوله په مشیت پورې د خدای ﷻ اړه لري لا یخشی احدا غیره تعالی.

دروښ وایي: چې دادی خدای پاک چې توره د ضمنی امر بالقتال یې له تېکي څخه وکښله او د تصریح پرډګر یې مسلمانانو ته ښکاره کړه.

قَاتِلُوهُمْ يُعَذِّبْهُمُ اللَّهُ بِأَيْدِيكُمْ وَيُخْزِهِمْ وَيَنْصُرْكُمْ عَلَيْهِمْ وَيَشْفِ صُدُورَ قَوْمٍ مُؤْمِنِينَ ﴿١٤﴾ وَيُذْهِبْ غَيْظَ قُلُوبِهِمْ ۗ وَيَتُوبُ اللَّهُ عَلَىٰ مَنْ يَشَاءُ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١٥﴾

تاسي مسلمانان قتال ددوی سره متختار کړئ خدای ﷻ به عذاب ورکړي ودوی ته ستاسي په لاسو یعني وژلو سره او خدای پاک به دوی ذلیل، خوار، شرمنده او رسوا کړي او کومک به درکړي خدای پاک تاسي ته پر دوی باندې.

دروښ وایي: چې دا وعده د خدای ﷻ په نصر او قدرت پر قتل د اعداً الله واعداً رسوله واعداً المؤمنین والله لا یخلف المیعاد، او خدای پاک به شفا ورکړي سینو یعني زړو ته د هغه قوم چې مؤمنان دي چې په مرض د کفارو د ظلمو او ناوړه چال چلند مبتلا وه او خدای پاک به لېرې کړي هغه غوصه او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بېقراري او اضطراب چې په زړو کې د مسلمانانو وۍ په سبب د قريشو د کومک د بني بکر سره چې ددوی معاهدين وه پر قبيلې د خزاعة چې حليفان د رسول الله ﷺ وه نو د قوم مؤمنين څخه خزاعة مراد دي چې ددوی زړونه په بني بکر سره سي په سبب د قتل د قريشو کمامر في الآية السابقة. او توبه به خدای ﷻ قبوله کړي پر هغه چې د خدای مشيت او اراده وي.

دروښ وايي: چې په دې آيتو کې دېرې معجزې ستې (۱) يعذبهم الله (۲) په قتل سره ستاسي په لاسو (۳) وينصرکم يعذبهم الله آه (۴) ويخزيهم (۵) ويشف صدور (٦) ويتوب الله، دا اخيري جمله چې اخبار دی په توبه سره، بعض دېرو کسانو ته خدای ﷻ توفيق د ايمان راوړلو ورکړی له قوم څخه د قريشو لکه ابوسفيان، عکرمة بن ابي جهل، سهيل بن عمرو او نور دا تولي جملې اخبار بالغيب وۍ چې عالم شهادت ته راښکاره سوې او خدای پاک خبر دی په ماضي او مستقبل او په حاضر امورو سره او خدای پاک صاحب د حکمت دی لا يصدر عنه العبث جداً، په حديث کې راغلي دي چې عليه الصلوٰة والسلام د فتح مکې په ورځ وويل ارفعوا آل خزاعة من بني بکر الى العصر، ابن عباس ﷺ وايي چې خزاعة يو بطن وۍ د يمن او سبأ چې مکې ته راغلي وه او اسلام يې راوړی وۍ، نو د مکې والو له خوا څخه يې ډېر کړاونه، دردونه او ازارونه ليدلي وه، نو يې عليه الصلوٰة والسلام ته مدينې ته يو استازی ور واستاوه او خپل د شکايت غوټه يې ورته پرانيزل، عليه الصلوٰة والسلام د شکايت په عوض کې بشارت ور واستاوه بقوله ابشروا فان الفرج قريب، حافظ شيرازي وايي:

آنکه پيرانه سرم به صحبت يوسف نبواخت
اجر صبر يست که در کلبه احزان کردم

نمونه خروار حکمت الهي

حکايت: تاريخ دانان ديرين مينويسند لکن بتاريخ واقعه نپرداخته اند وبعض از مفسران آن زمان حکايت مذکور در تفسير خود درج کرده اند، که درزمان قبل يک عالم بزرگ که درعالم ظاهر وباطن علمبردار بوده شبی تاريکی را بنور

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تهجد منور ساخته وچراغ که دران زمان معمول بود نزدیک مصلی خود نهاده بود، یک شب خزیده سیاه بدبو کلان پاکه سراهایی قدیم الزمان خاکی بوده دربیخ دیوار که خاک باشد خود را انگاه میدارد وشب بیرون آید یک شبی خزنده آمد بر نور چراغ آمده وبر جای سجده آن بزرگوار درمصلی او قرار میگرفت، شیخ دروقت سجده آن خزنده بدست خود دور رانده، وقتیکه از سجد تین فارغ می شد وبر رکعت دیگر میپرداخت آن خزیده آهسته آهسته بجای سجده شیخ می رسانید شیخ اورا بدست دور می انداختند، خیر درین شب نماز تهجد شیخ درکش ماکش خزیده و او گذارده شد وهمان حضور قلبي شیخ از تهجد می داشت درین شب هیچ نماند دراخیر سجده التجاً نمود که چه حکمت درافرینش این خزیده بود که نه رنگ خوش نه بوی لائق دارد وصرف بازار نماز خوانندگان کار وبار او بود، خیر ایام سپری شد چند گاه بعد بردست شیخ دانه باسوری یا ناسوری نمودار شد بادرد فوق العادة وروز بروز کلان می شد، البته درآن زمان کار جراحی نخواهد بود لکن ادویه طب یونانی از قسم خوردنی واز قسم مالیشی همه وهمه استعمال نموده فائده نمینمود شبها شبها از غایت درد خواب نتوانستند اخیر الامر بدرگاه ایزد متعال نعره عجز ونیاز شروع نمود.

چون بلا نازل شود بی دافعی ..... جز تضرع نبود دیگر دافعی

خیر روزی مریدان وشاگردان بامرشد و استاذ خود جمع بودند که طبیب اسپ سوار درکوچها نعره میزد که اگر کدام مریض باشد همراه ما دوایی هر مرض موجود است.

درویش میگوید" که اینچنین طبیبان کوچه گشت درزمان طفولیت ما بودند ومردم آنها را تگان می گفتند یعني مردم فریب دهندگان هستند اگر کسی مریض پیش اینها می آمد کوککهای خشخاش کوبیده یا هلیله سیاه وزرد کوبیده وامثال آن دوای ایشان بود وقدری عسل را می انداختند آنرا معجون قوت باه می نامیدند، حاصل آنکه طبابت ایشان سر تاپا غداری می بود، شیخ مریض بکدام تلمیذ گفته که همین طبیب که نعره میزد پیش من بیارید شاید

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کدام دوا داشته باشد که سبب علاج من شود. شاگردان همگی گفتند اینها طبیب نیستند بلکه کار اینها غدر وفریب است، شیخ گفت بازهم که بیارید خوب است شاگرد رفت طبیب مذکور را پیش شیخ مریض آورد طبیب که دانه باسوری شیخ دید شاگردان شیخ راگفت زود ترسه دانه یا چار خزیده درخاک که دربیخ دیوارها خود رانگاه میدارند بیارید مردم حاضر خنده گرفتن شروع نمود که خزیده کدام دوا هم باشد. شیخ مریض همان اعتراض شبانه که بر صنعت خزیده کرده بود وطالب حکمت درخلقت آن خزیده بود بیاد آمد به مریدان وشاگردان گفتند که زود شوید خزیده چند جمع کنید که طبیب درمعالجه مرض من کامیاب شده بنظر میآید شاگردان ومریدان عجولانه درطلب خزیده شدند ودر اندک زمانه خزیدهای بسیار جمع کرده آوردند طبیب همه راکشتند وکوفتند ومرهم واری برکدام لته مالیدند وبردست مریض شیخ بستند، درلمحه چند دانه دست شیخ سوراخ شد وریم وخون وغیره که درآنجا جمع شده بودند رو بخروج نمود وخارج شدند شیخ از بیقراری درد وغیره جور شد.

دروپش میگوید: که این بود حکمت الهي درخلقت همه چیزها زیرا که درخزیده هیچ کس را به حکمت خالق لایزال نمی رسید تاکه بچشم خود دید.

خبردار: که مخلوق خدا اعتراض نکنید ورنه باهمچو مرض شیخ مواجه خواهید شوید ومن الله التوفیق، دروخت حاضر دوکتوران عصر حاضر ادویه سمیه یعني زهریه ببعض مریضان می دهد سم که ضد صحت است مد صحت میگردند.

أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تُتْرَكُوا

آیا تاسي گمان لرئ چي تاسي به پاته سئ پر احوالو د استراحت او په جهاد به مامور نه سئ او ستاسي د صادق او کاذب امتحان به نه واخستل سي.

پوه سه: چي خطاب یا و مؤمنانو ته دی چي بعض ددوی له قتال سره نه وه جور، او بعض مفسرین وایي چي خطاب د منافقانو سره دی، او کلمه د "ام" منقطعه ده په معنی د بل ابل یې لپاره د نقل من کلام الی کلام آخر، او همزه لپاره د توبیخ دی پر دغه حسبان آتي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَمَّا يَعْلَمِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ جَاهَدُوْا مِنْكُمْ

او عالم ثبوت او متحقق ته په خدای ﷻ نه وي را ایستلي هغه کسان چې جهاد کوي له تاسي څخه یعني د کفارو سره که څه هم سر او مال یې پکښې ځي، نو ظاهراً که څه هم نفي د علم د خدای ﷻ دی لکن مراد نفي د معلوم دی. فلا یرد ان هذه الآیة یدل علی حدوث علمه تعالی بالامتحان ولیس کذالک لانه تعالی عالم ازلاً وابداً بکل شئ.

دروبش وایي: چې مورږ تاویل د علم په معلوم سره ولي وکړی لان مدار الثواب والعقاب هو تحقق المعلوم لا العلم الازلي لله تعالی ولهذا قال الله تعالی لئلا یکون للناس حجة بعد الرسل وذالک لانه لو کان مدار الثواب والعقاب یوم القیامة هو العلم الازلي له تعالی فلا یحتاج الی ارسال الرسل وانزال الکتب واذا لم یکن ذالک کان للناس حجة یوم القیامة بعذر الجهل بالثواب والعقاب لعدم البشیر والنذیر.

وَلَمْ يَتَّخِذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلَا رَسُوْلِهٖ وَلَا الْمُؤْمِنِيْنَ وَلِيْجَةً ؕ

او چې خدای ﷻ کړي هغه کسان چې نه یې وي ګرځولی ماسوی له خدای او له رسوله او نه له مؤمنانو څخه صاحب السر یعني پټ راز. دا مثال د عصر نبوي د منافقانو دی.

دروبش وایي: چې دا جمله عطف ده پر "جاهدوا" او داخل په حیز کې د معنی د موصول ده، والتقدیر ولما یعلم الله الذین لم یتخذوا آه، او من دون الله متعلق دی په یتخذوا پورې، او ولیجة چې بطانة یې هم بولي صاحب سر ته وایي چې سړی خپل د زړه اسرار ورته کشف کوي، او ولیجه یوه، دوو، دروو او زاندو ټولو ته وایي.

وَاللّٰهُ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ۝

او خدای پاک خبر دی په عمل ستاسي. که ما مصدریه سي او بما تعملونه بحذف العائد که کلمه د ما موصوله سي، په دې آیت کې تنبیه ده چې حال د مجاهد خدای پاک ته معلوم دی چې خالصاً او مخلصاً لوجه الله ولاعلاءً کلمة الله العلیا اعني لا اله الا الله جنګېږي د کفارو سره او که یې غنیمت مد نظر دی او ریاءً وسمعه او یا مراعات د قومیت الی غیر ذالک، قال السعدي قدس سره:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

منه اب زر جان من بر پشیز ..... که صراف دانا نگیرد بچیز
زر اندوه گانرا بآتش برند ..... پدید آید آنگه کی مس یا زرند
بروی وریا خرقه سهلست دوخت ..... وگر باخدا درفروشی نکوست

مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِينَ

بغوي رحمه الله وايي چي عباس رضي الله عنه چي په بندیانو کي د بدر را وستل سو، نو خلګو عباس رضي الله عنه ته پېغور ورکړی په شرک او په قطع د صله رحمي د علیه الصلوٰة والسلام سره یعني د مشرکانو په لښکر کي راغلی د علیه الصلوٰة والسلام د قتل په نیت خصوصاً علي رضي الله عنه دېري سختي خبري ورته وکړې، نو عباس رضي الله عنه وملامت کونکو ته وویل چي زما بدي ذکر کوئ او زما ښه اعمال نه ذکر کوئ، علي رضي الله عنه په مقابل کي ورته وویل الکم محاسن؟ عباس رضي الله عنه وویل نعم هو انا لنعمر المسجد الحرام ونحجب الکعبة ونسقی الحاج، مورچ آباد وو مسجد الحرام او مورچ ساتو کعبه او پوښ ورکوو او حاجیانو ته اوبه ورکوو، فانزل الله تعالی هذه الآیة رداً علی عباس، وفي روایة قال العباس رداً علی الآثمین وفي رد تهمة علي رضي الله عنه جواباً لهم ان کنتم سبقتمونا بالاسلام والهجرة والجهاد لقد کنا نعمر المسجد الحرام ونسقی الحاج ونفک العالي فانزل الله تعالی الآیة رداً علیه. والمعنی الآیة ماصح وما ینبغي لهم ای للمشرکین لکه عباس چي دعوه وکړه.

أَنْ يَعْمُرُوا مَسٰجِدَ اللّٰهِ

چي دوی دي آباد کړي یو مسجد له مساجدو څخه د خدای جل جلاله فضلاً عن المسجد الحرام، ولي چي د مسجد آبادي ددې لپاره چي په هغه کي عبادت د خدای جل جلاله وسي وحده لاشریک له دا خو د مسلمانانو وظیفه ده نه دا چي په مسجد کي خصوصاً په مسجد الحرام کي دي عبادت د غیر الله کېږي چي بتان دي، نو د کافر له شانه څخه دا نه ده چي یو مسجد دي اباد کړي.

مسئله: بعض ائیمه وایي چي مراد په آیت کي دا مشهوره ابادي ده من بنا المسجد ابتداءً یا مرمت کول د مسجد عند خرابه فیمنع الکافر منه حتی که کافر د مرینې په وخت کي وصیت وکړی چي زما په ثلث مال دي یو مسجد د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسلمانانو لپاره جوړ کړل سي قاضي دي دده دا وصيت نه پر ځای کوي، او بعض علماً رحمهم الله وايي چي مراد له عمارت څخه دخول دی د مسجد او په هغه کي ناسته، ترمذي وغيره من المحدثين له ابي سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت کړی دی ده وويل قال رسول الله اذا رئيتم الرجل يعامر المسجد فاشهدوا له بالايمان. بيا عليه الصلوٰة والسلام دا آيت دليل وګرځاوه انما يعمر مساجد الله من آمن بالله، نو کافر ته که ابتداء يا انتهاء اجازه د مسجد د تعمير ور کړل سي، نو بايد په ايمان سره يې هم شاهدي ادا کړل سي واذ ليس فليس، وايضاً عمارة الكافر المسجد يخالف الآية المذكورة يعني انما يعمر آه بكلمة الحصر، او حسن بصري رحمه الله وايي چي د آيت معنا داده ماكانوا اى المشركين ان يتركوا فيكون اهل المسجد الحرام.

دروښ وايي: چي دا معنا که څه هم في نفسه صحيح ده لکن د مذکور شان نزول سره منافي ده والله اعلم بالصواب، په فتاوی قنيه کي وايي چي اعظم د مساجدو از روی حرمت، مسجد الحرام دی ثم المسجد النبوي في المدينة المنورة ثم مسجد بيت المقدس (وقيل بالعكس في المسجدين المذكورين) ثم الجوامع (يعني چي د جمعې لمونځ پکښې کيږي) ثم مساجد المحلات ويجوز الاعتكاف فيها، ثم مساجد الشوارع، يعني د لارو مسجدان که يې امام او مؤذن نه درلودی فضيلت د مسجد خو لري او اعتکاف نه دی پکښې روا.

شٰهِدِيْنَ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ بِالْكُفْرِ ؕ

چي دوی شاهدي ادا کوي پر خپلو ځانو په کفر سره، مراد له شهادت څخه اظهار دی ای مظهرين الشرک وتکذيب الرسول ﷺ ومعاداة المؤمنين، د شاهدين لفظ حال دی له ضمير څخه د يعمروا، والحاصل چي دوی څرنګه دعوه کولای سي چي موږ تعمير د بيت الله الحرام کوو او د بتانو عبادت هم کوو لانه دعوی اجتماع المتبائنين كالجمع بين الضب والنون، حسن بصري رحمه الله چي دوی خو دا نه وايي چي موږ کافران يو لکن کلا مهم بالشرک شاهد عليهم بالكفر، او ابن عباس رضي الله عنهما وايي چي ددوی سجده وبتانو ته شاهدي ده ددوی پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خپلو ځانو پر کفر باندي، د قریشو کفارو خارج البیت الحرام د کعبة الله ودهوا له ته بتان درولي وه، او دوی به پر بیت الله باندي طواف لځ پځ کاوه، نو هر وار چي به یې یو شوط پوره سو بتانو ته به یې سجدې کولې، په زړه پوري وجه د شاهدۍ پر ځان داده چي ځوک چي له یهودي ځخه پوښتنه وکړي چي په مذهب ځوک یې؟ دی ورته وایي چي زه یهودي یم وهکذا النصراني یقول انا نصراني، او له دوی ځخه چي به چا پوښتنه وکړه چي ته په دین ځوک یې، دوی به ورته ویل مشرک لکن د کفر لفظ یې نه وایه یعني شرک یې کفر نه باله.

دروښ وایي: چي له دې بیانه ځخه دا معلومه سوه چي کفر بېخي تریخ نوم دی چي هیڅ ځوک یې پر ځان نه قبلوي.

أُولَٰئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ ۖ وَفِي النَّارِ هُمْ خَالِدُونَ ﴿١٧﴾

دغه کسان چي فخر کوي په خپلو عملو لکه عمارة المسجد الحرام وسقایة الحاج وغیر ذالک، ددوی ګمان دادی چي دا ښه اعمال دي او شاهدین علی انفسهم بالکفر هم وي لغوه دی او بې فائدې دي دغه عملونه ددوی او یا نور ورته ښه عملونه یعني هیڅ ثواب او اعتبار په نېز د خدای ﷻ نه لري لانتفاء شرط الثواب علیها وهو الایمان او په اور کي د دوږخ به دوی همېشه وي.

مسئله: قاضي عیاض رحمه الله په شفا کي وایي انعقد الاجماع علی ان الکفار لاتنفعهم اعمالهم" یعني پر دې د امة مرحومه اجماع ده چي کافرانو ته ددوی عملونه نفع نه رسوي که څه هم د حسناتو له جنسه وي لکه مؤمن چي سره د ایمانه وکړي لکه په اوسنۍ زمانه کي خیریه مؤسسات د امریکایانو، انګرېزانو او د نورو کفارو چي د مصیبت زده مسلمانانو سره یې کوي دوی ته یې نفع او ثواب نسته لعدم الشرط وهو الایمان، او نه تخفیف د عذاب ځندي کېږي، اما په کافرانو کي فرق سته په انواع کي د کفر په اعتبار د جرائمو ددوی، نو په عذابو کي یې هم فرق سته په شدت او ضعف کي ددوی د جرائمو په سبب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسٰجِدَ اللّٰهِ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَاَقَامَ الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ وَلَمْ يَخْشَ اِلَّا اللّٰهَ

نه ابادوي مساجد د خدای ﷻ مگر هغه کسان چې ایمان یې راوړی پر خدای یعنې په توحید سره او پر ورځ باندې چې د قیامت ورځ ده یعنې پر بعث بعد الموت باندې، او اقامة د لمانځه کوي، او زکوة ورکوي د خپلو مالونو که نقود وي او که مواشي وي.

فائده: اقامة الصلوة نفس لمونځ کولو ته نه وایي بلکې سره د شرائطو او فرائضو او د واجباتو او د سنتو او مستحباتو، ځکه علماً کرام وایي چې لمونځ کونکي خو ډېر دي لکن مقیمین الصلوة ببخي لږ دي، والفرق بینهما ظاهر.

فائده: مسلمانان باید د فرائضو په ادا کولو کې له هیڅ چا څخه ونه ببرېږي حتی چې هغه فرائض ترک کړي بلکې اوامر الهیه دي پر ځای کوي د خدای ﷻ له ېپرې څخه.

پوښتنه: په آیت مذکور کې ایمان بالرسول نه راغلی توجیه یې څه ده؟

ځواب: الایمان بالله کما هو حقه نه پیدا کېږي بېله اخذ من الرسول ﷺ فاکتفی بذکر الایمان بالله عن الایمان عن ذکر الایمان بالرسول بهذ الاعتبار، په بخاري او مسلم کې په قصه د وفد د عبدالقیس قبیلې چې رسول الله ﷺ ودوی ته وویل اتدرون ما الایمان بالله وحده؟ قالوا الله ورسوله اعلم علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل شهادة ان لا اله الا الله وان محمداً رسول الله، حیث ادرج الایمان بالرسول في الایمان بالله وحده الی اخیر الحدیث الطویل في قصة وفد عبدالقیس.

فائده: مراد له عمارة المسجد څخه همېشه عبادت پکښې کول دي او ذکر الهي او تلاوت القرآن ودرس العلوم الشرعیة فیها مع النظافة الظاهري من الانجاس، او له خس او خاشاک څخه یې پاک ساتل او لهو ولعب نه پکښې کول

دروښ وایي: په نقل د تفاسیرو معتبره وو په پښتو ژباړه، تعمیر د مساجدو څو قسمه دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(۱) نفس بنا د مسجد یعني پر مځکه یې اساس اینبوول.

(۲) تجدید ما انهدم منها. وجا في الحدیث الصحیح سبع یجري للعبد اجرهن وهو في القبر بعد موته (۱) من تعلم علماً که چا ته یې وښو یو علم یعني له علومو دینه وو څخه او یاد مایتوقف علیه العلوم الدینیة کالنحو والصرف وغیرهما فیخرج به العلوم الفلسفیة المخالفة لدین الاسلام (۲) وکری نهراً او یا یې واله وکښل لکه په افغانستان کې د نهر سراج واله یا د بغرا واله (۳) او حفر بیراً یعني د خلګو د فائدې لپاره یې څاه وکښی (۴) او غرس نخلاً یعني د خورما درخته یې شنه کړه یا یوه بله مېوه داره درخته لکه انار، سیب، انګور وغیرها (۵) مسجد یې بنا کړی که لوی وي او که کوچنی (٦) او ورث مصحفاً (۷) وترک ولداً یدعو له بعد موته، په روضة الاخیار کې راغلي دي که مسجد ونړېدی او معطل سو او یا یې محله بار سوه په مسجد کې هیڅ چا لمونځ نه کاوه، امام محمد رحمه الله وایي چې دا میراث دی د ورثه د اول باني یعني که باغ څښتن جوړوي او که د کښت مځکه او که سرای، او امام اعظم او ابو یوسف وایي هر مسجد علی حاله یعني که یې مذکوره شیان پکښې جوړول نه دی ورته روا، له امیر المؤمنین علي رضي الله عنه څخه روایت دی چې شپږ کارونه د انسان د غیرت کارونه دي دریې پر کور او دریې په سفر کې، هغه دریې چې په حضر کې دي یعني پر کور (۱) تلاوت کتاب الله (۲) عمارة مسجد لله (۳) کثرة الاخوان في الله" یعني د هر ورونه او دوستان پیدا کول په لار کې د خدای ﷻ، او د سفر د غیرت کارونه (۱) فبذل الزاد یعني د ځان یوال سره د نفقې کومک کول (۲) وحسن الخلق د ملګرو سره ښه اخلاق کول (۳) مسخرې کول د ملګرو سره لکن في غیر معاصي الله.

(۳) خطیب په روضة کې وایي جارو کول د مسجد دي، قال حسن بصري رحمه الله ولور د جنت د حورو د مسجدو جارو کول او پاک ساتل دي.

(۴) ښائسته کول د مسجد په هغه فرش سره حتی الوسع که سړی او که قالین وي، او په حدیث کې راغلي دي چې اول سړی چې مسجد ښوي یې په بوریا فرش کړی حضرت عمر رضي الله عنه وي دده تر مخه د مسجد مځکه په سنګریزو فرش وه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: د مسجد سپینول په ګچو یا په سپینه خاوره روا دی، ولي چې په تاریخ اسلامي کې راغلي دي ان الولید بن عبدالملک انفق علی عمارة مسجد دمشق وتزیینه مثل خراج الشام ثلاث مراة.

تاریخ د ابن خلکان وایي چې سلیمان بن داؤد علیهما السلام چې د بیت المقدس مسجد جوړاوه په بنائست کې یې فوق العادة سره زر سپین زر او پښ قیمته جواهرات کارکړه حتی چې د مسجد د قبه پر سر یې د کبریت احمر غمی چې په توله نړۍ کې نه په هغه وخت کې او نه اوس تر کبریت احمر لوړ قیمت غمی نه و او نه سته ولګاوه چې د شپې یې هر طرفته یو میل رڼا کوله، حتی چې کنې ودونکو به د شپې پر دوولس میله کنې ورته ودی، او بیت المقدس پر دغه بنائست پاته وه حتی چې بني اسرائیلو ظالمانو د خپلو نبیانو په مخالفت لاس پورې کړی حتی چې بعض انبیاً یې هم ووژل، نو دریاب د غضب الهي پر جوش راغلی او بخت نصر بابلي سره د لوی لښکره پر بیت المقدس حمله وکړه او په زرهاوو بني اسرائیل یې په قتل ورسول او دوولس زره نوخاسته ځوانان یې په حصارت د مریي توب په توګه ځندي بوتله، او د بیت المقدس توله سر او سپین زر او جواهرات او کبیرت احمر غمی یې ځندی لوټ کړه او وروسته یې بیت المقدس لوتي لوتي کړی او قیمتي قیمتي شیان یې توله ځندي ټول کړه او خپل دار السلطنت بابل ته یې نقل کړه، دروښ وایي چې بیا د بیت المقدس د آبادي چې قصه ډېره اوږده ده.

(۵) په مساجدو کې قندیلان او څراغونه د هري زمانې سره لائق روښانه کول دي، په حدیث شریف کې راغلي دي چې که چا قندیل یا ګروپ په اوسنۍ زمانه کې په مسجد کې روښانه کړی اوویا زره ملکي ده ته دعاوي کوي تر هغو چې هغه قندیل وغیره ماتېږي کذا في الکشف، له انس رضی الله عنه څخه روایت دی چې که چا په یوه مسجد کې د مساجدو څراغ ولګاوه نو تر هغه وخته پورې چې رڼا د هغه څراغ په مسجد کې وي ملکي او حملة العرش لګونکي ته دعاوي کوي، تاریخ وایي چې سلیمان بن داؤد علیهما السلام چې د بیت المقدس مسجد تکمیل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړی کمامر بیانه، نو امر یې وکړی چې یو زر اووه سوه (۱۷۰۰) قنډیلان چې د سرو زرو وي د سپینو زرو په ځنځیرانو دي په کنبې وځړول سي، د اسلام تاریخ وایي چې اول وار چې مسجد نبوي ﷺ په مدینه منوره کې تکمیل سو په ډېر ساده ډول چې میلان یې د خورما تیران وه او یا لکه منا غوندي لرګي وه، سربېره یې د خورما د درختو لښتي پر اچولي وې او بیا یې ګل پر اچولی وو چې لږ تېز او دوام داره باران به وسو توله مسجد به څڅېدی، او د ماخستن د لمانځه په وخت کې به یې څو لرګي د خورما ولګول او د هغو ورپا ته به یې لمونځونه کول حتی چې تمیم داري ﷺ چې یو تاجر او مدیني منورې ته راغلی څو دانې قنډیلان یعنې د تیلو څراغان او رسۍ چې هغه څراغان یې په څړول او د زیتون تېل یې راوړه او د شپې یې په مسجد نبوي کې وځړول، نو علیه الصلوٰة والسلام چې دا نوراني مسجد ولیدی داسې دعا یې تمیم داري ته وکړه نورت مسجدنا نورالله قلبک او قبرک" او داسې یې زیاته کړه که مالور درلودای وتمیم ﷺ داري ته به مې په نکاح ورکړې وای.

مسئله: له مستحب بدعاتو څخه دی تعلیق القنادیل في المساجد و اول من فعله ذالک عمر بن الخطاب ﷺ ولي ده چې خلګ جمع کړه پر ابی بن کعب باندې د تراویح په لمانځه کې، نو په مسجد نبوي کې یې په کثرت قنډیلان وځړول، نو علي ﷺ چې مسجد روښانه ولیدی، نو یې وویل نورت مسجدنا نورالله قبرک یا ابن الخطاب.

دروښ وایي: چې په قید د کثرت په قنادیلو کې د عمر ﷺ هغه سوال دفعه سو چې اول څرونکی د قندیل په مسجد نبوي کې تمیم داري ﷺ و کمامر فافهم

مسئله: شیخ عبدالغني النابلسي رحمه الله خپل په کتاب کې چې نوم یې کشف النور عن اصحاب القبور دی داسې لیکلي دي، چې خلاصه یې په پښتو ژباړه داده "البدعة الحسنة الموافقة لمقصود الشرع تسمی سنة" لکه چې وړول دي د ګنبدو پر قبورو د علماؤ دین والاولیاؤ والصلحاؤ و وضع الستور والثیاب علی قبورهم امر جائز اذا کان المقصود في ذالک التعظیم في اعین العامة حتی لا یحتقروا صاحب هذا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

القبر لان التحقير والاهانة للاولياً والصلحاً كما لايجوز في حياتهم لايجوز بعد مماتهم، فالمقصود من الامور المذكورة تعظيماً لهم ومحبة فيهم جائز لا ينبغي النهي عنه كما هو مذهب السلفية والوهابية فانهم يقولون التعظيم لما ورأ الله شرک فما يقولون في تعظيم القبر الانور للنبي ﷺ وضجعيه ابوبكر وعمر رضي الله عنهما.

(٦) سنت د مساجدو دخول دی مسجد ته او ناسته ده په مسجد کي، والعبادة والذكر فيها او درس د علوم دينيه ؤ په مساجدو کي ونحو ذالک، ابن عباس رضي الله عنهما خلګو ته وويل الا ادلكم على ماهو خير لكم من الجهاد قالوا بلى ان تبنوا مسجداً فيتعلم فيه القرآن والفقه في الدين او السنة.

دروښ وايي: چي په شروح کي د کتابو د حديثو وايي چي ورته خبري د ابن عباس رضي الله عنهما محمول دي على السماع من رسول الله ﷺ.

(٧) د مسجد حق دادی چي مسجد به ساتي له هغو کارو څخه چي مسجد د هغو کارو لپاره نه وي جوړ سوی لکه د دنيا خبري يا نوري بې فائدې خبري، وورد في الحديث الصحيح "الحديث في المسجد" يعني لغوه او بې فائدې خبري يا په امورو کي د دنيا خبري "ياكل الحسنات كما تاكل البهيمة الحشيش" وفي الحديث قال الله تعالى ان بيوتي في ارضي مساجد وان زواري فيهما عمارها، فطوبى لعبد تطهر في بيته ثم زارني في بيتي، فحق على المزوران يكرم زائره.

الاحاديث الصحيحة الوارد في المساجد (١) چي تاسي ووينی يو سړی چي عادت يې د مسجد سره وي يعني د صلوات خمسه لپاره او د تلاوت القرآن لپاره الى غير ذالک من العبادات فاشهدوا له تاسي شاهدان اوسئ دده لپاره په ايمان سره قال الله تعالى انما يعمر مساجد الله من بالله واليوم الآخر رواه الترمذي وابن ماجه عن ابي سعيد الخدري رضي الله عنه عن النبي ﷺ.

(٢) عن ابي هريرة رضي الله عنه عن النبي ﷺ من غداً الى مسجد او راح اعد الله له منزلة من الجنة كلما غداً او راح (متفق عليه)

ژباړه: که څوک قبل الزوال مسجد ته ولاړی يا بعد الزوال يعني د عبادت لپاره خدای پاک به اراسته کړي دده لپاره منزله يعني درجه په جنت کي هر وخت چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی قبل الزوال او بعد الزوال چې دی مسجد ته تګ کوي.

(۳) عن ابي هريرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ سبعة يظلمهم الله في ظله يوم لاظل الا ظله وذكر فيهم رجل قلبه (ترلی وي په مسجد پوري) اذا خرج منه حتى يعود اليه (متفق عليه)

ژباړه: ابو هريره ﷺ وويل چې عليه الصلوٰة والسلام وويل چې زما د امت اووه قسمه خلګ به د عرش په سايه کې وي هغه ورځ چې سايه نه وي بېله سايې يعنې بېله عرش د سايې، ددې اوو کسانو په جمله کې هغه څوک دی چې زړه يې مربوط وي په مسجد پورې چې ځندي ووزي تر څو چې بيرته ورته راځي.

دروښ وايي: چې ددې حديث معنا داده چې يو لمونځ يې په جماعت په مسجد کې وکړی د جماعته چې ووزي، نو د بل لمانځه په انتظار وي والله اعلم.

(۴) وعن سلمان ﷺ قال قال رسول الله ﷺ من توضأ في بيته فاحسن الوضوء ثم اتى المسجد، فهو زائر الله حق على المزور ان يكرم زائره (طبراني، بيهقي، ابن مردويه)

زباړه: عليه الصلوٰة والسلام وويل که چا اودس تازه کړی په کور کې او بيه کامل اودس يې تازه کړی وروسته راغلی مسجد ته، نو دا سړی د خدای ﷻ زيارت کونکی دی يعنې چې بيت الله ته راغلی دی، او حق دی پر خدای ﷻ چې مزور دی چې د خپل زائر اکرام به کوي يعنې په رحمت او مغفرت سره.

(۵) عن عمر بن ميمون ﷺ قال كان اصحاب رسول الله ﷺ يقولون ان بيوت الله في الارض المساجد وان حقاً على الله ان يكرم من زاره فيها (بيهقي، عبدالرزاق، ابن مردويه)

(۶) عن محمود بن لبيد ﷺ ان عثمان بن عفان ﷺ اراد بناء المسجد (اى المسجد النبوي) بر طرز جديد يعنې تر دې پورې او تر ميلانو پورې او تر بامه پورې پر پاخه ډول. صحابه کرامو ﷺ دغه پخته بنا چې عثمان ﷺ يې اراده کړې وه مکروه وبلل او ددوی خوښه وه چې پر طرز نبوي دي پريښول سي. اوزياتوب چې پر خلګو تنګ دی د هغه بناء نبوي پر ډول دي پکښې وکړل سي. نو عثمان ﷺ خلګو ته وويل چې ما له رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي که چا مسجد بنا کړی پښتغې په وجه الله بنى له مثله في الجنة (بخاري، مسلم، ترمذي)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: په دغه حدیث سره عثمان ﷺ څرنګه دلیل ووایه پر صحت او جواز د پخته جوړولو د مسجد نبوي؟

ځواب: عثمان ﷺ په مثله دلیل ووایه یعني چې مثله پر دې دلالت کوي چې مسجد په کم او په کیف او په مختلفو ډولو جوړېدلای سي په کم لوی او کوچنی په کیف کچه لکه په عصر نبوي کي مسجد نبوي ﷺ چې ؤ کهدای سي او پخته او مزین هم کهدای سي.

دروښ وایي: چې د مسجد د بنا او د تزئین په باب او د فروش فاخره وو په باب او د څراغانو په کثرت سره او په مستحکم عصري ډول جوړول ډېر احادیث صحیحه راغلي دي چې د ټولو راوړل به غایت اطناب وي فلنرجع الی تفسیر القرآن العزیز.

فَعَسَىٰٓ أُولَٰٓئِكَ أَن يَكُونُوا۟ مِنَ ٱلْمُهْتَدِينَ ﴿١٨﴾

نوښایي چې دغه کسان به وي د مهتدینو له ډلې ځخه.

پوه سه: چې خدای پاک ددغو کسانو په باره کي چې مؤمنین بالله وه او مؤمنین بیوم الآخرة وه او لمونځونه یې هم کوله او د اموالو زکوة یې هم ورکاوه او نه بېرېدله له غیر الله ځخه. لفظ د عسی یې ووایه چې لپاره د توقع او طمع دی تنبیه یې پر دې وکړه چې مشرکان دي طمع د اهتداء نه کوي په سبب د اعمال مذکوره سره د شرکه او سر زنش ودوی ته چې ددوی یقین ؤ چې مودې پر هدایت یو، حاصل د توبیخ دادی چې دغه ډله چې مؤمنین بالله آه وه لاهم هدایت یې دائر دی په منځ کي د عسی او لعل. نو ددوی ضد کسان چې مشرکین دي څرنګه خپل پر ځان شاهدي د هدایت او یقین پر خپل نجات لري!.

أَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ ٱلْحَآجِّ وَعِمَارَةَ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ

آیا ټاسي ګرځوئ اوبه ورکول وحاجیانو ته او آبادي د مسجد الحرام.

دروښ وایي: چې ددې آیت دوه قسمه شان نزول دی چې مسلم او ابوداؤد له نعمان بن بشیر ﷺ څخه روایت کړی دی، دی وایي چې د جمعې ورځ وه زه د منبر نبوي سره د نورو کسانو سره ناست وم، چې یوه نفر له اصحابو څخه د رسول الله ﷺ وویل ما أبالي ان لا اعمل بعد ان اسقی الحاج، او بل یوه وویل لا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ابالي ان لا اعمل عملاً بعد ان اعمر المسجد الحرام، او بل صحابي وويل الجهاد في سبيل الله افضل مما قلتما. نو عمر ﷺ دوی زجر کړه او داسي يې ورته وويل لاترفعوا اصواتكم عند منبر رسول الله ﷺ ولكن چې د جمعې لمونځ وکړم زه به د فتوی طلب ستاسي لپاره وکړم له عليه الصلوٰة والسلام څخه، نو چې لمونځ وسو عليه الصلوٰة والسلام کور ته ولاړی عمر ﷺ ورغلی پوښتنه يې وکړه فنزلت هذه الآية.

دروبش وايي: چې دغه حديث د نعمان بن بشير ﷺ چې مور ذکر کړی مظهري رحمه الله هم راوړی دی، لکن د کاتب د سهوه له سببه غلط دی فانظر هنالک والصحيح ماذکرنا، او بعض مفسرين رحمهم الله وايي چې دا آيت په باره کې د مشرکانو نازل سوی دی، بعض له دوی څخه وايي چې علي ﷺ وروسته تر هجرت مکې ته ورغلی وؤ، نو عباس ته يې وويل ای عم الا تهاجر الا تلحق برسول الله ﷺ (ته هجرت مدينې ته نه کوې يعني هجرت وکړه ولي الا حرف تخصيص دی چې پر مضارع داخل سي مراد څندي باعث کول وي د مخاطب پر هغه کار، او ته د رسول الله ﷺ سره نه ملاقي کېږي يعني چې ايمان پر راوړې؟ عباس ورته وويل اعمر المسجد الحرام واحجب البيت فانزل هذه الآية. بغوي له ابن عباس ﷺ څخه روايت کړی دی چې عباس چې د بدر په ورځ ژوندی اسير سو، نو علي ﷺ په ډبر شدت وده ته وويل چې تا قطع د صلة الرحم وکړه چې د نورو مشرکينو سره د عليه الصلوٰة والسلام په قتل پسې له مکې څخه راوتلی يې، عباس ورته وويل لئن سبقتمونا بالاسلام والهجرة والجهاد لقد كنا نعمر المسجد الحرام ونسقي الحاج فانزل الله تعالى هذه الآية، نو حاصل د عباس د کلام رد دی چې عمارت د مسجد الحرام او سقيا د حاجيانو سره د شرکه هيڅ په درد نه خوري، نو مخاطب په جعلتم سره مؤمنان دي پر اول روايت، او پر دوهم روايت مخاطب مشرکان دي والمعنى آيا تاسي ګرځوئ ای مشرکانو سقاية الحاج آه.

أَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَاجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَجَاهَدَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ

لکه هغه څوک چې ايمان يې راوړی پر خدای ﷻ باندې چې خدای يو دی او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لاشريک له في الذات ولا في صفاته ومن صفاته المعبودية فلا شريک له في العبادة. او ايمان يې وي پر ورځ د اخيرت يعني بعد الموت الاحياً المستلزم للايمان بالجنة والنار والحساب على الاعمال الحسنة والسيئة او جهاد يې کړی وي په لار کې د خدای ﷻ.

پوښتنه: از روی قانون عقلي والاصطلاحي مشبه او مشبه به بايد له يوه جنسه څخه وي، او په آيت کريمه کې مشبه سقاية او عمارة دي چې دواړه مصدر دي او مشبه به يې من آمن دی چې هغه ذات دی، نو د تشبيه يې څه وجه ده؟

ځواب: صحت د تشبيه يې مبني پر حذف د مضاف يا په مشبه کې، والتقدير اجعلتم اهل سقاية الحاج آه، او يا په مشبه به کې. والتقدير اجعلتم سقاية الحاج آه کايمان من آمن الخ.

پوښتنه: چې استفهام په آيت کې لپاره د انکار دی ای ليس الاول بمشابه للثاني اصلاً، او د تشبيه د صحت لپاره بله وجه هم بعض مفسرينو راوړې ده چې سقاية او عمارة دي په معنی د فاعل وي ای اجعلتم ساقي الحاج وعماره آه.

فائده: که چېرې نزول د آيت في اختلاف المؤمنين بالمشرکين وي کما يدل عليه قول ابن عباس ؓ ومحمد بن کعب وغيرهما فلا خفاً في انکار المشابهة په منځ کې د مشرکانو او د اعمال خبيثه وو ددوی، او د مؤمنانو او د اعمال حسنه وو ددوی، او که چېرې اختلاف په تشبيه کې د مؤمنينو بالمؤمنين وي کما روی مسلم عن النعمان بن بشير ؓ، فوجه انکار التشبيه داده چې مراد له عمارة المسجد الحرام څخه عمارة ظاهري دی ولاشک ان الجهاد في سبيل الله افضل من العمارة بحسب الظاهر.

تنبيه: دروېش له دې سببه عمارت ظاهري ووايه ولې چې عمارت حقيقي د مسجد حرام په نېز د اهل الله دوام د ذکر او د لمانځه دی په مسجد حرام کې ولاشک ان دوام الذکر افضل من الجهاد لقوله عليه الصلوٰة والسلام ما من شئ انجی من عذاب الله من ذکر الله رواه مالک والترمذي وابن ماجه ؒ من حديث معاذ بن جبل ؓ، وفي رواية قالوا ولا الجهاد في سبيل الله، او نه الجهاد في

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سبیل الله انجی من عذاب الله دی تر ذکر د خدای ﷻ الا ان یضرب بسیفه حتی ینقطع مگر بنه جهاد انجی دی تر ذکر انجی چې په توره کفار وهي تر هغو چې جهاد قطع کېږي، په بل حدیث کې چې روایت یې احمد رحمه الله کړی دی چې علیه الصلوٰة والسلام و صحابه کرامو رضی الله عنهم ته وویل آیا زه تاسي ته خبر درنه کړم په داسي یو عمل سره چې خیر د عملو ستاسي وي او پاک عمل وي عند ملیکم وارفعها في درجاتکم وخیر لکم من انفاق الذهب والفضة وخیرلکم من ان تلقوا عدوکم فتضربوا اعناقهم ویضربوا اعناقکم، قالوا بلی یعني راوه یې بنیه بنه عمل چې دومره فضائل لري، قال ذکر الله، ددې حدیث روایت ترمذي او ابن ماجه هم کړی دی له ابو درداً رضی الله عنه څخه، او له ابو سیعد الخدري رضی الله عنه څخه روایت دی چې له علیه الصلوٰة والسلام څخه چا پوښتنه وکړه ای العبادة افضل وارفع درجةً عند الله یوم القیامة قال رضی الله عنه "بحذف المضاف" ای ذکر الذاکرون الله کثیراً والذاکرات قیل یا رسول الله ﷺ ومن الغازي في سبیل الله قال لو ضرب بسیفه في الکفار حتی ینکسر او یختضب دماً فان الذاکر لله افضل منه درجةً" رواه احمد والترمذي.

دروښ وایي: چې ذکر د خدای ﷻ عام لفظ دی ذکر خفي او جلي دواړو ته شامل دی، او عام دی که په لفظ د الله الله وي او که په نورو اسماً الحسنی سره وي او که کلمة التوحید وي یعني لا اله الا الله او که په سبحان الله وبحمده سبحان الله العظیم سره وي او که په کثرة تلاوة القرآن سره وي الی غیر ذالک مما فیه التوجه الیه تعالی بالفاظ لائقة بذاته عزوجل، البته په انواعو کې د ذکر به فرق وي لکن اذکار په صورت مجموعي افضل دي تر جهاد في سبیل الله بحکم رسول الله ﷺ.

لَا یَسْتَوٗنَ عِنْدَ اللّٰهِ ؕ وَ اللّٰهُ لَا یَهْدِی الْقَوْمَ الظّٰلِمِیْنَ ۝

دا دوې ډلې نه دي سره برابري په نېږ د خدای ﷻ، او خدای هدایت نه ورکوي و هغه قوم ته چې ظالمان وي.

دروښ وایي: چې دا آیت تائید دی بلکې تصریح د هغه قول کوي چې مراد په آیت سابق کې عدم استواً وه د فعل د مؤمنانو من الایمان بالله وبالیوم الاخیر والجهاد في سبیل الله، او د مشرکانو د فعل سقایة الحاج وعمارة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

المسجد الحرام والمعنى على التقدير المذكور في هذه الآية والله لا يهدي القوم الظالمين بالشرك وانما قلنا يؤيد لانه جاً في هذه الآية لفظ الظالمين وليس في الاختلاف بين المؤمنين ظالم اصلاً.

سوال: راویان د هغه قول چې دا آیت په اختلاف کې د مؤمنانو راغلی دی لږ علمي کسان وه، نو هغه به ددې آیت څه ترجمه کوې او کومه ډله د مؤمنانو به ظالمه بولي؟

ځواب: هغه کسان دا آیت جمله معترضه یا مستأنفه بولي د تحذیر له ظلم څخه والله اعلم.

قصة سقایة الزمزم: بخاري او نورو محدثانو رحمهم الله له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت کړی دی چې علیه الصلوٰة والسلام د حجة الوداع په کال راغلی وسقایة ته د زمزم او عباس رضي الله عنه ته یې وویل اوبه راکړه، عباس رضي الله عنه وخپل زوی فضل ته وویل ورسه مور ته دي ناره وکړه چې علیه الصلوٰة والسلام ته صافي اوبه راوړه فقال رضي الله عنه استقني یعني داغه اوبه راکړه چې وه یې څښلم. عباس رضي الله عنه ورته وویل چې په دې اوبو خلګ لاسونه چخي یعني في الجملة چتلي دي، علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل اسقني یعني داغه اوبه راکړه، نو عباس رضي الله عنه هم حاضري اوبه ورکړې او علیه الصلوٰة والسلام وڅښلې، بیا علیه الصلوٰة والسلام ورغلی خلګو اوبه راکښلې په دې ډول چې په سولاغه پورې یې لو رسي ترلې وه، نو سولاغه چې به په ځاه کې ډکه سوه، نو د اوبو راکښونکي به رسي پر غاړه کښېښول روان به سو تر هغو چې سولاغه له ځاه څخه راختلای، نو علیه الصلوٰة والسلام ودوی ته وویل اعملو فانکم علی عمل صالح ثم قال لو لا ان تغلبوا النزلت حتی اضع الحبل علی هذه واشار الی عاتقه (متفق علیه)

ژباړه: که چېرې نه وای یعني زما توهم که نه د زمزم اوبه راوکاږم چې تاسي به د نورو خلګو له خوا مغلوبه سئ یعني هر سړی راځي چې ما ته رسي راکړه چې پر غاړه او اوږه یې کښېږدم یو څو سولغې راوکاږم او د علیه الصلوٰة والسلام سنت به پر ځای کړم، نو زه به درکښته سوی وای حتی چې رسی به مې پر دغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ایښي وای او اشاره یې و اوږې ته وکړه انتهی.

دروبش وایي: چې مظهري رحمه الله په عنوان کې ددې قصې د زمزم دا قصه هم راوړې ده چې مسلم یې د بکر بن عبد الله څخه روایت کړی دی وایي چې زه د ابن عباس رضي الله عنهما سره ناست وم د کعبې سره چې یو اعرابي راغلی ابن عباس رضي الله عنه ته یې وویل مالي اری بني عمکم یسقون یعني الحاج اللبن والعسل وانتم تسقون النبیذ آمن حاجة بکم ام من بخل" څه سبب دی چې زه وینم د اکا زامن ستاسي یسقون خلګ یعني حاجیان اوبه وي په شیدو او عسلو سره او تاسي په نبیذ اوبه وئ چې تر عسلو او شیدو کم شی دی آیا دا سبب دی چې تاسي محتاجه او مسکینان یاست او یا د بخل له سببه دا کار کوئ، ابن عباس رضي الله عنه اعرابي ته وویل ما بنا من حاجة ولابخل لکن قدم النبي ﷺ پر اوښه سپور ؤ او تر شا یې اسامه رضي الله عنه سپور ؤ موږ دا نبیذ خلګو ته ورکول. نو علیه الصلوٰة والسلام راته وویل احسنتم واجملتم کذا فاصنعوا. نو موږ دا اراده نه لرو چې تغیر ورکړو و هغه کار ته چې علیه الصلوٰة والسلام موږ په امر کړي وو یعني قوله علیه الصلوٰة والسلام کذا فاصنعوا، د دروېښ غرض دادی چې سقایة اللبن والعسل وسقایة النبیذ په سقایة زمزم پوري څه اړه لري چې مظهري د قصة الزمزم تر عنوان لاندې راوړه د زمزم دا خو خالي د څاه اوبه وي په شیدو وي او نه عسل او نه نبیذ پکښې ؤ هغه جلا مهماني وه د قریشو د حاجیانو سره الا ان یقال اورد المظهري رحمه الله قصة اللبن وغیره في قصة زمزم لادنی مناسبة بینهما في اعزاز اهل مکة للحجاج الزائرین لبیت الحرام والله اعلم بمراد عباده.

دروبش وایي: چې دا کرم او اعزاز د اهل مکه که څه هم په اوسنۍ زمانه کې د حج په موسم کې نه لیدل کېږي په سبب د کثرة ازدهام لکن زه په سنه ۱۴۲۷ هـ کې په ازاد پاسپورټ د ربیع الاول په میاشت کې چې یو زوی مي په نامه د حاجي عبد الهادي هم راسره ؤ هغه کرم او اعزاز د اهل مکه د مهمانانو معتمرینو او روژاتیانو چې د هر ازدهام به نه ؤ ومي لیدی په هفته کې به دوه واره باقاعده ستر خوانونه د خلګو مخ ته اوار سوه او په کثرت سره خورما او قهوه چای پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اینبسول کېدې که د چا روژه وای او که نه له سترخوانه د کرم دوی خوراک کاوه او په مدینه منوره کې هم دا رواج جاري ؤ.

اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ اَعْظَمُ دَرَجَةً عِنْدَ اللّٰهِ ؕ

هغه کسان چې ایمان یې راوړی وي او هجرت یې له مکې څخه مدینې ته کړی وي او جهاد یې له کافرانو سره کړی وي په لار کې د خدای ﷻ یعنې بېله اعلاء د کلمة الله بل غرض یې نه وي او جهاد یې په مالو او په ځانو سره کړی وي دا کسان د بر لوړ دي ازروی درجه او کرامت پر خدای ﷻ په نېز د خدای ﷻ یعنې تر هغو کسانو چې فخر په سقایة الحاج او په عمارة البیت الحرام کوي یعنې نور نو هیڅ صفت مدح چې په دې آیت کې مذکور دي نه وېکښې او یا تر هغو مؤمنانو چې دغه صفات نه وي پکښې.

وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ۝

او دغو کسانو ته کامیابي حاصله ده بالنجاة من النار والفوز بالجنة دار الابرار والدرجات العلى في القرب الى العزيز الجبار.

يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُمْ بِرَحْمَةٍ مِّنْهُ وَرِضْوَانٍ وَّجَنّٰتٍ لَّهُمْ فِيْهَا نَعِيْمٌ مُّقِيْمٌ ۝
خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗٓ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ۝

دوی ته زېری کوي رب ددوی په لوی رحمت او په دېره رضا د خدای ﷻ او په لویو جنتو چې دوی لره به په هغو جنتو کې لوی نعمتونه وي او هغه به دائم وي.

پوه سه: چې تنوین په هر لفظ د مبشر به لپاره د تعظیم دی او تنکیر یې لپاره ددې دی چې دا مبشر به شیان معهود نه دي او نه یې څوک بیان بالتفصیل کولای سي او دوی به مکث طویل ابدي ولري په دغو نعمتو کې، او په تحقیق د خدای ﷻ په قدرت کې اجر عظیم ستة چې نسبت د خدای ﷻ مقدور اجر ته دوی ورکړه سوی نعمتونه به حقیر معلوم پېرې، او اجر عظیم دی نسبت د دنیا و نعمتو ته، در کشف الاسرار فرموده که رحمت برای عاصیانست ورضوان برای مطیعان است وجنات برای

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کانه مؤمنان است رحمت را تقدیم نمود تا اهل عصیان رقم نا امیدی بر صفحات احوال خود نه کشند که هرچه گناه عظیم بود رحمت ارحم الراحمین ازان اعظم است.

گنه ما گر فزون بود زشمار ..... عفوت افزونتر از گناه همه
قطره آب رحمت توبس است ..... شستن نامه سیاه همه
الهی عبدک العاصي آتاکا ..... مقراً بالذنوب وقد دعاکا
فان ترحم فانت لذاک اهل ..... وان تطرد فمن یرحم سواکا

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَّخِذُوٓا۟ ءَابَآءَكُمْ وَإِخْوَٰنَكُمْ أَوْلِيَآءَ إِنِ ٱسْتَحَبُّوا۟ ٱلْكُفْرَ عَلَى ٱلْإِيمَٰنِ ۚ

اې هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی تاسي مه ګرځوئ پلرونه ستاسي او ورونه ستاسي دوستان که ددوی خوښ وُ کفر پر ایمان، له ابن عباس رضي الله عنه څخه ابی صالح داسي روایت کړی دی په شان نزول کې ددې آیت چې آنحضرت ﷺ امر وکړی مسلمانانو ته چې په مکه مکرمه کې وه چې هجرت وکړئ ومدینې منورې ته، نو بعضو مسلمانانو چې د هجرت قصد وکړی، نو مایني، عیال او نورو اقاربو به داسي ورته ویل موږ تاته د خدای روی نسو او په خدای قسم درکوو چې ته مدینې ته هجرت مه کوه، موږ چاته پریږدې موږ ته به نفقه څوک برابروي، نو تر تا وروسته به موږ ضائع سو، نو دده به زړه پر وسو او د هجرت تر قصد به تېر سو او مقاتل رحمه الله وایي چې دا آیت په هغو نهو (۹) کسانو کې نازل دی چې له مدینې څخه ومکې ته ولاړه او مرتد سوه، نو خدای پاک مؤمنان د هغو نهو (۹) کسانو له دوستۍ څخه منع کړه، او د آیت معنی چې تاسي دغه نهه کسه بطانة یعني صاحب السر مه ګرځوئ یا له مدینې څخه اسرار وراستوئ او که په مکه کې پاتې ددوی سره اوسېده پر هجرت غوره کړئ.

وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٢٣﴾

که چا ددوی سره دوستي مختاره کړه یا په اسرار د مؤمنانو د مدینې ودوی ته کشف کول او یا اوسېدل ددوی سره په مکه کې یې تر هجرت غوره کړه، نو دغه کسان ظالمان دي، ولي چې د ظلم معنا وضع د شي دې ښځایه، دې کسانو ته هم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

موالات ځایه مسلمانان وه بېځایه استعمال کړی یعنې په کافرانو کې. بغوي وایي چې دا آیت چې نازل سو نو هغو کسانو چې ایمان یې راوړی ؤ او هجرت یې نه ؤ کړی، هغو وویل که چېرې موږ هجرت وکړو زمونږ مالونه چې په مکه کې دي ضائع به سي او تجارت به مو ختم سي او سرایونه به مو ونړېږي او قومي قرابتونه به مو هم خړپړ سي، فنزلت.

قُلْ إِنْ كَانَ آبَآؤُكُمْ وَأَبْنَآؤُكُمْ وَإِخْوَانُكُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ
وَأَمْوَالٌ اقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَاكِنُ تَرْضَوْنَهَآ
أَحَبَّ إِلَيْكُمْ مِّنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَجِهَادٍ فِي سَبِيلِهِ فَتَرَبَّصُوا حَتَّىٰ يَأْتِيَ اللَّهُ بِأَمْرِهِ
وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ ﴿٢٤﴾

ووایه ته ای محمد ﷺ ومتخلفینو ته د هجرت ومدینې ته که چېرې وي پلرونه ستاسي او یا زامن ستاسي یا وروڼه ستاسي چې په مکه کې کافران یا مسلمانان اوسېږي او تاسي له هجرته منع کوي، او ستاسي ماینې چې تاسي له هجرت څخه منع کوي او یا قومي خلګ یعني کافران ستاسي د قبیلې او یا هغه مالونه چې تاسي په مکه کې ګټلي دي او یا هغه تجارت چې تاسي په مکه کې کاوه تاسي ببرېږئ پر کوتې والي او نقصان د هغه تجارت، او یا سرایونه چې تاسي یې په مکه کې لرئ چې تاسي په راضي یاست، دا ټوله مذکوره الفاظ اسم د کان دي او "احب آه" یې خبر دی او احب اسم تفضیل د مفعول یعني محبوب وتاسي ته تر خدای او رسول د خدای، او تر جهاد په لاره کې د خدای ﷻ، نو ځکه مو هجرت مامور بها د خدای او د رسول د خدای او داغه رنګه جهاد في سبیل الله چې هم د خدای او د رسول د خدای دی پرې مو ښود او په مکه کې ورته مقیم سوا ست هجرت او جهاد مو پرېښو، نو تاسي انتظار وکړئ تر هغه وخته پورې چې راتګ کوي خدای پاک په خپل امر سره، دا جمله جواب د ان شرطیه ده. او سخت ترین توبیخ دی ودغو خلګو او مؤمنانو ته، عطاً رحمه الله وایي چې مراد له "بامره" څخه قضاً الهي ده په عقوبت عاجله یا آجله سره، او مجاهد او مقاتل وایي چې مراد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فتح د مکې ده، او خدای پاک هدایت نه کوي هغه قوم ته چې فاسقین وي یعني خارجین عن طاعة الله ورسوله، روح البیان وایي وفي الآیة الکریمة وعید شدید لایتخلص منه الا اقل قلیل حتی لو تتبعت اخوان زماننا من الزهاد الورعین ای بحسب الظاهر فوجدتهم یتحیرون ویتحزنون بفوات احقر شئ من الامور الدنیویة ولا یبالون بفوات اجل حظ من الامور الدینیة. قال الشاعر:

آن کس تراشناخت جانرا چه کند ..... فرزند وعیال وخانمان راچه کند
دیوانه کنی هردو جهانش بخشی ..... دیوانه تو هر دو جهانش چه کند

وفي الحدیث الصحیح للبخاري وغیره قال رسول الله ﷺ لایؤمن احدکم حتی اکون احب الیه من ماله وولده والناس اجمعین.

درویش وایي: چې په آیت مبارک کې او داغه رنګه په مذکور حدیث کې وعامو خلګو ته یوه مشکله پوښتنه په زړه کې ورګرځي. هغه دا چې د مذکوره شیانو محبت په آیت مبارک کې او د مذکوره شیانو محبت په حدیث کې طبعي او بلا اختیار کار دی او تکلیف خو په اختیاري شي وي، آیة کریمه "لایکلف الله نفساً الا وسعها؟ والجواب بیضاوي رحمه الله وایي چې مراد په آیت کې حب اختیاري دی یعني چې یو سړی دغه مذکوره شیان په آیت کې خوښ او امتثال د اوامرو د خدای د رسول د خدای پرېږدي دون الحب الطبعي فانه لایدخل تحت التکلیف کمامر، او ابن الملک رحمه الله په شرح کې د حدیث مذکور وایي المراد نفي کمال الایمان وبالحب الاختیاري، د مثال په توګه که علیه الصلوٰة والسلام امر وکړی چې د کفارو جنګ ته راځه یا پلار یا زوی یا ماینه وغیرهم درته ووایي چې غزا ته مه ځه، نو که دا سړی سره د مذکوره کسانو د منع وغزا ته ولاړی، نو رسول الله ﷺ یې محبوب دی تر مذکوره خلګو چې مانع وه، او که غزا ته نه سي ولاړ نو مذکوره کسان یې محبوب دي، او یا علیه الصلوٰة والسلام امر وکړی چې پلار چې دي کافر وي قتل یې کړه او یا زوی دي کافر دی قتل یې کړه او غیر ذالک من الاقارب باید مؤمن کامل ددې امر نبوي په امتثال کې توقف ونه کړي که څه هم ددغو کسانو سره خو حب طبعي سته لکن اختیاراً

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وحب الله وحب رسوله ته باید ترجیح ورکړي او دا کار ونه کړي.

دروښ وايي: چې مثال د حب اختياري او حب غير اختياري په دې مثال ښه ښکاره کېږي چې يو سړی چې سخت مريض وي او طبيب ته ورسي، نو هغه طبيب يوه ډېره خو اګرځنه بدبويه دوا ورکړي، نو که څه هم د مريض کراهت طبعي له دغې دوا څخه کېږي لکن دده په ګمان چونکه صحت او عافيت محبوب په دغه دوا کې وينې، نو په ډېر محبت اختياري يې نوش جان کوي او يا مثلاً يو د نس ناجوړه يعني چې پر نس يې سخت درد وي داکتر ته ورسي، داکتر وروسته تر معاينا تو لاذمه وو ورته ووايي چې ته فينډ کس يې يا انسداد يې ستا اپرېشن لازماً کېږي دا سړی د حب الحيوة په خاطر اختياراً و اپرېشن ته چمتو وي که څه هم طبعاً دا عمليات خلاف الطبع دی. داغه رنګه د مؤمن کامل بايد دا يقين وي چې رب ﷻ ارحم الراحمين دی او رسول کريم ﷺ هم رحمة للعالمين دی. نو دوی زما د دنيا او اخرت په ښېګڼو ښه خبر دي نو چې دوی ما ته د يو شي امر راکوي زه يې حتماً کوم وان کان ثقيلاً طبعاً. داغه رنګه مهاجرين چې خداى او رسول دده دوی امر کړه په هجرت له مکې څخه ومدينې ته دوی خپل محبوب وطن مکه مکرمه چې ابائي تاتوبی يې و اختياراً پرېښو که څه هم پر طبع درند و

دروښ وايي: چې ومن هذا النوع امثلة كثيرة.

پوه سه: چې علامة بغدادي السيد محمود آلوسي رحمه الله په روح المعاني کې وايي ددې آيت په تفسير کې بالحب الاختياري المستتبع لاثره الذي هو الملازمة للعمل لاميل الطبع فانه امر جبلي لايمكن تركه ولا يؤاخذ عليه ولا يكلف الانسان بالانتفاع عنه، او بيضاوي او روح البيان او ابن الملک او تفسير قرطبي رحمهم الله هم موافق الراى هغه سي تفسير کړی دی لکه روح المعاني چې کړی دی، نو ګويا تفسير په حب اختياري سره دون الطبعي مجمع عليه تفسير دی، يو امام مظهري دی چې وايي پر مؤمن لاذمه ده چې دی به خپل طبعيت تابع د شريعت ګرځوي، او پر دې مطلب يې يو څو احاديث مبارکه راوړي دي چې هغه ټوله د کمال ايمان پر مقتضى دلالت کوي، او کمال ايمان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مبني دی پر حب اختياري کمامر من الائمة المذکورين من المفسرين رحمهم الله ، په اخير کي يې ويلي دي وهذه الآية ماذکرنا من الاحاديث النبوية، يوجب افتراض اکتساب التصوف من خدمة المشائخ رحمهم الله.

دروبش وايي: چې که مراد د مظهري رحمه الله له افتراض څخه معنی شرعي وي چې منکر يې کافر وي وتارک يې محکوم بالفسق وي فهذا المعنى الشرعي لايمکن اثباته بالاخبار الآحاد ولا بالاشارات التکليفية من الآيات القرانية کما فعل المظهري رحمه الله في هذه الآية ولا بالقياس على بيعة الناس مع رسول الله ﷺ کما لايخفى بل لابد في افتراض عمل اى عمل کان من نص صريح فيه في القرآن او الآحاديث المتواترة لفظاً ومعناً، وکيف تکون البيعة مع المشائخ الکرام رحمهم الله فرضاً بالمعنى الشرعي فانه يلزم انيکون اکثر الامة المرحومة عاصيين بالمعصية الکبيرة اذ لم يوخذ اکثرهم البيعة من الشيخ المرشد، بل فصارى امر البيعة مع المرشد الکامل المکمل انيکون مندوباً ومستحباً وغايته انيکون سنةً وان اراد المظهري رحمه الله المبالغة في الاستحباب او السنية فله وجه والله اعلم بمراد عباده.

لَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ فِيْ مَوَاطِنَ كَثِيْرَةٍ ۙ وَّيَوْمَ حُنَيْنٍ ۙ

او په تحقيق سره کومک کړی دی خدای پاک يعني غلبه يې درکړې ده پر کافرانو په ډېرو ځايو کي يعني غزواتو کي لکه يوم بدر، ويوم الحرب مع بني قينقاع وفي غزوة الاحزاب او په غزا کي د بني قريضه او بني نضير د مدينې، او يوم الحديبية او په جنګ کي د خيبر او په فتح کي د مکې مکرمې وغيرها کما قال رسول الله ﷺ نصرت بالرعب مسيرة شهر "ويوم حنين" او په ورځ د حنين.

دروبش وايي: چې تفصيل ددې غزواتو بعض دمخه تېر سو او بعض به وروسته راسي ان شآ الله العزيز.

پوښتنه: يوم په څه عامل منصوب دی؟

ځواب: عطف دی پر محل د مواطن.

پوښتنه: مواطن جمع د موطن دی، موطن ظرف مکان دی او يوم ظرف زمان دی والتناسب شرط في العطف؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: په حذف د مضاف یا په معطوف یا په معطوف علیه کې تناسب راځي ای موطن یوم حنین، نو عطف د مکان پر مکان سو او یا ایام مواطن کثیرة نو عطف د زمان پر زمان سو.

یوه سه: چې یوم یې و حنین ته مضاف کړی لوقوع الحرب فیها یومئذٍ.

فائده: ددې غزا نوم لکه غزوه حنین چې ده داغه رنګه غزوه هوازن یې هم یو نوم دی په اعتبار د جانب مقابل، او اوطاس یې هم نودی په اعتبار د مکان چې اخیري ددې غزا په اوطاس کې ؤ او حنین د یوې شپلې نوم دی په منځ کې د مکې او د طائف.

إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ

چې تاسي یې په تعجب کې یعني په خوشالۍ کې اچولي واست د هر والي د عدد ستاسي چې دوولس زره کسان واست او ټوله هم مسلح واست چې لس زره هغه کسان چې په فتح کې د مکې شامل وه من المهاجرین والانصار ﷺ او دوه زره طلقاً وه چې دوی اهل مکه وه ووجه التسمیته بالطلقاً چې علیه الصلوٰة والسلام چې مکه فتح کړه دوی یې په زور سره بندیان کړه او ورته وه یې ویل انتم الطلقاً، او په دې غزا کې د حنین جانب مقابل د هوازن قوم او د ثقیف قوم ؤ چې کل تعداد یې څلور زره کسه وه، تاریخ اسلامي پر جوش راغلی خبرې کوي او وایي چې علیه الصلوٰة والسلام فتح د مکې چې درې ورځې د روژې پاته وې پای ته یې ورسوله، او بعض راویان وایي چې دیارلس ورځې د روژې تېرې سوې وې پای ته ورسېدې، نو علیه الصلوٰة والسلام په مکه کې ؤ تر څو چې شوال داخل سو، نو د شوال پر شپږم تاریخ یې د حنین پر خوا حرکت وکړی او د مکې د لمانځه حاکم یې عتاب بن اسید ﷺ مقرر کړی، او د سنت او شریعت د احکامو د ښوولو لپاره یې معاذ بن جبل ﷺ وتاکی، راویان وایي مکه چې فتح سوه ټولو قبائلو د عربو د علیه الصلوٰة والسلام اطاعت مختار کړی الا هوازن وثقیف، نو خانان او رئیسان د هوازن او ثقیف یو د بله په تګ راتګ سره په مشوره بخت سول، او دوی سره وویل چې اوس حتماً محمد ﷺ پر موږ حمله کوي ولي د ټولو عربو څخه موږ ته فارغه سو او هیڅ مانع یې نسته، او دوی په خپلو کې سره وویل چې تسلیم ږو به

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نه بلکې جنګ به ورسره کوو په خپلو ځانو سره دمخه تر دې چې دوی راځي موږ به حرکت وکړو میدان جنګ ته، نو هوازنو خپل مشر مالک بن عوف بن سعد بن ربیعه وتاکی (دا مالک بن عوف وروسته بیا مسلمان سوی دی) او ثقیف قبیلې هم مشر توب ومالک مذکور ته وسپاری، او د نصر قبیله او د جشم قبیله هم ددوی سره یو ځای سول، او د بني بکر قبیله چې کوچنۍ وه چې سل کسه ته نه رسېدل هم ددوی سره یو ځای سوه، او په هوازنو کې د کعب قبیله او د کلاب قبیلې بې طرفي مختاره کړه، ولي ابن ابي برأ ددوی له شمول ځخه منع کړې وه، او ددغو دوو قبیلو خلګو وویل چې که له شرقه تر غربه پورې خلګ د محمد سره عداوت او جنګ ته تیارسي بیا به هم محمد غلبه پر کوي، راوي وایي چې د جشم په قبیله کې یو سړی ؤ چې زید بن القمة یې نوم ؤ چې بعض راویان وایي چې د یوسل او شلو کلو ؤ او بعض وایي د یوسل شپېتو کلو ؤ او په ستر ګو ړوند او او یوازې پر دابه باندې نه سوای سپرېدای، نو دې زید وویل چې زه د ټولې لښکر د هوازن او د ثقیف ریاست غواړم په دې سبب چې زه جنګ ازموده یم او په جنګو کې لویه تجربه لرم، نو د مشاور په حیث به ستاسي ریاست زه پر غاړه لرم او زما مخالفت به څوک نه کوي، او که مخالفت کوي نو میدان جنګ ته نه درسره وځم، نو مالک بن عوف چې لوی قوماندان ؤ د هوازن او د ثقیف او په عمر دېرش کلن ؤ، نو دې زید ته راغلی چې موږ ستا مخالفت نه کوو، نو زید بن القمه هم د تلو اراده وکړه، نو مالک بن عوف چې د علیه الصلوٰة والسلام د جنګ ومختې ورووتې، نو خپلې بښځې، مالونه، غواوې او غوایې، اوښان وغیره ور سره راوستلې وه او د هر طرفه کومک ورته راروان ؤ، نو زید بن القمه چې په ستر ګو ړوند ؤ یوه ورځ یې وویل چې ولې زه نه اورم ژړا د کوچنیانو او ناري د خرو چې نهیق یې بولي په عربي، او نه د میږو او پسو اوازونه اورم چې په عربي یعار ورته وایي، او رامبارې د غویو چې په عربي یې خوار بولي هم نه اورم، خلګو ورته وویل چې دا تولې شیان مالک بن عوف د ځانه سره بیولي دي میدان جنګ ته، زید مالک بن عوف راوغوښتی چې دا کار دي ولي وکړی؟ مالک ورته وویل چې له دې سببه مې وکړی چې د هري

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سړي تر شا چې خپله ښځه او مال وي نو له جنګه نه تښتي، زید وویل چې دا عوف د مهړو شپانه دی دده یې له جنګه سره څه او زید له تعجبه څخه د مالک بن عوف د کارنامې چک چکي کړې چې سړی چې شکست وکړي بیا یې نو ماینه راګرځولای سي که چېرې فتح او بری ستا په برخه وي نو تاته فائده نه سي رسولای مګر رجل بسیفه ورمحه، او که فتح د دښمن سي پر تا باندې نو ته تښتې او ښځه او مالونه به دي پاتېږي دا بیا بله رسوایي ده چې تاته به رسېږي، زید ورته وویل چې بوزه ښځي، کوچنیان او مالونه دي محکمه قعلو ته د قوم چې څوک حمله نه سي پر کولای بیا د دښمن سره جنګ کوه پر شا د آسانو او فوجي پیاده رجال، ولي که دښمن غلبه وکړي مال او عیال او ښځي خو دي خوندي کړي دي ستا پښه ایله ده که تښتې او که ځان وژنې، مالک بن عوف ته درد ورغلی او ناري یې کړې یا معشر هوازن مافعلت کعب وکلاب (چې د دوو قبیلو نومان وه) خلګو ورته وویل چې هیڅ څوک یې نه دی حاضر سوی، زید وویل غاب الحد ای المنع والجد ای الشجاعة، که ورځ زمونږ د غلبې او لوړتیا وای کعب او کلاب نه غائبېدل، او زید وویل یا معشر هوازن ارجعوا وافعلوا ما فعل هؤلاء یعني کعب وکلاب هوازن قوم منع وکړه چې داسي نه کوو، وروسته مالک بن عوف زید ته وویل هل من رای غیر هذا یعني بېله تښتي بله لار هم سته چې زه قوم په امر کړم، زید ورته وویل نعم که ته د یو څو کسو کمین ونسي چې په عربي یې جیش مختفی بولي ستا به کومک وي که پر تا جانب مقابل حمله وکړه، نو د کمین کسان به پر را ووزي دشا لخوا به حمله پر وکړي او ته سره د هغه کسانو چې ستا سره درسره دي دمخ له خوا به حمله پر وکړي، نو دوی یعني جانب مخالف به په منځ کې حصار سي او یو به ژوندی ولاړ نه سي، نو هغه ؤ چې مالک په رأیه د زید عمل وکړی او خپل لښکر ته یې وویل کونوا کمیناً في الشعاب وبطون الاودیة، راوي وایي چې علیه الصلوٰة والسلام د حنین د جنګ لپاره د صفوان بن امیه څخه زغري او سلاح وغوښتل، هغه ورته وویل اغصباً یا محمد ام عاریة؟ علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل بل عاریة مضمونة که ورک یا مات سي پر ما یې ضمان دی، نو صفوان بسل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

زغري سره همراه د سلاح چي د سلو زغرو سره لازم وي ورکړه، او له سهيلي څخه روايت دی چي عليه الصلوٰة والسلام په عاريت وغوښتلي له نوفل بن الحارث بن عبد المطلب څخه دري زره نېزې او عليه الصلوٰة والسلام و نوفل ته دا وويل چي زه لکه ستا نېزو ته چي گورم لکه په شاوکي د مشرکينو چي وهل کېږي، تاريخ پوهان وايي چي عليه الصلوٰة والسلام چي له مکي څخه حنين ته حرکت کاوه مکي وال ټوله ورسره ووتل څوک سپاره څوک پياده، او د عليه الصلوٰة والسلام د اکا زوی ابو سفيان بن حرب يې ملگری ؤ او صفوان بن اميه چي مشرک ؤ او دوي مايښې يې مسلمانانې وي او تفريق يې نه و سره سوی، او په دي سفر کي د عليه الصلوٰة والسلام سره دوي کور داري ام سلمه او ميمونه رضي الله عنهن چي دوی ته په رخت د اقامت فوجي خېمه درول کېدلې ورسره ووتل.

د خدای ﷻ شان: پوه سه! چي چونکه په علم د خدای ﷻ شمل علمه وعظمت قدرته دا وه چي د حنين په غزا کي به فتح د عليه الصلوٰة والسلام او مؤمنانو په برخه وي، نو ځکه يې مالک بن عوف ودوی ته وگماری چي سره د ذريه او د ښځو او د حيواناتو يې حنين ته راوستل تاچه فتح ميسر سي مجموعه غنيمت د ذريه او د ښځو او د حيواناتو پر يوه ځای د عليه الصلوٰة والسلام او مسلمانانو ولاس ته ورسي، او که چېرې مالک د زيد بن القمه په خوله کړي وای چي ښځي اولادونه او اموال و محفوظ قلعه او د غرو په منځ کي درولي وای، نو که څه هم فتح سوې وای لکن ددې ټولو غنائمو جمع کول مسلمانانو ته به آسان کار نه وای کما لايخفى.

فوائد شتى: دروښ وايي: چي بعض وقائع د حنين د غزا به په دغه عنوان درته ذکر کړو ان شآ الله تعالى.

(۱) **فائده:** ابن اسحاق، ترمذي، نسائي او ابن حبان رحمهم الله له حارث بن مالک رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چي مورږ د عليه الصلوٰة والسلام سره ووتلو د حنين پر خوا ونحن حديثوا عهد بالجاهلية، او زمورږ د جاهليت يعني کفر لږ وخت کېدی چي په اسلام سره مشرف سوي ؤ.

بوه سه: چي په دې خبره کي وکنا آه حارث بن مالک خپل عذر بيانوي چي تاسي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ولي دا وروسته خبره و علیه الصلوٰة والسلام ته وکړه، حاصل د عذر یې دادی چې مونږ نوي مسلمانان سوي وو د اسلام په احکامو او په جائز ناجائز ډېر نه وو خبر، دی وایي د قریشو د کفارو او د نورو کافرانو یوه لویه درخته وه چې هغې درختي ته به دوی ذات انواط او په بل روایت ذات نواط وایه او ددې سره به یې اوښان وغیرها ذبح کول او دلته به یې یوه ورځ اوشپه پوره تېرول، مونږ د علیه الصلوٰة والسلام روان وُ چې یوه بله لویه درخته په مخه راغله، نو مونږ و علیه الصلوٰة والسلام ته وویل چې مونږ ته دغه درخته ذات انواط وټاکه لکه قریش چې یې لري؟ نو رسول الله ﷺ وویل الله اکبر الله اکبر یعنې زمونږ ددې خبرې په رد او په تعجب کې چې دا خو تاسي ماته داسي خبره وکړه لکه د موسی علیه السلام قوم چې موسی علیه السلام ته کړې وه "اجعل لنا الهاً کما لهم الهة" موسی علیه السلام ورته وویل "انکم قوم تجهلون" چې د عبادت لپاره زما څخه د بت عبادت غواړئ.

(۲) **فائده:** د سهیل بن حنظله رضی الله عنه څخه روایت دی چې مونږ حنین ته ټار سیده وو چې یو د آس سپور راغلی او وه یې ویل یا رسول الله زه پر فلاني او فلاني غره وختم، نو هوازن سره د ښځو او د اوښانو او د پسو سره راغونډ سوي وه، علیه الصلوٰة والسلام تبسم وکړی وه یې ویل تلک غنیمة المسلمین ان شاء الله تعالی.

دروېش وایي: چې وکان کذالک فهذا معجزة باهرة لرسول الله ﷺ.

پوه سه: چې رسول الله ﷺ د هوازن د کشف الحال لپاره عبد الله بن حدرد رضی الله عنه واستاوه تاچې ددوی حال راوړي، عبد الله رضی الله عنه ولاړی یوه یا دوې درې ورځې یې په هوازنو کې تېرې کړې چې راغلی نو علیه الصلوٰة والسلام ته یې داسي وویل چې مالک بن عوف چې د هوازنو قومندان وُ کمامر داسي یې وقوم ته خطاب وکړی ان محمداً جنګ نه دی کړی تر اوسه تر دې دمخه یعنې د جنګ د پوهانو سره لکه مونږ چې یو البته د یو قوم اغمار یعنې په جنګ ناخبره کسانو سره یې جنګ کړی دی نو پر غالبه سوي دي، غرض د مالک دا وو چې په جنګ دلاورو کسانو نو مونږ یو پر مونږ غلبه نسي کولای، او مالک قوم ته وویل چې اول صف موانشي ستاسي صف کړئ ورپسې ښځې او ذریه صف کړئ او بیا تاسي ټوله یو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صف ودرېږئ او په شل زره تورو داسي حمله پر لښکر د محمد وکړئ لکه يو سړی چې پر بل حمله کوي واعلموا ان الغلبة لمن حمل اولاً يعني هرچا چې اوله حمله وکړه ښه لښکر په غالبه کېږي.

(۳) **فائده:** بيهقي او بخاري په روايت د ابي بردة بن دينار ﷺ داسي حديث راوړی دی چې يوه ورځ په سفر کې د حنين غرمه وه او ډېره ګرمي وه چې په يوه څنګله کې چې ډېرې درختې سايه داره پکښې وې، د عليه الصلوٰة والسلام اصحاب سره تيت سوه د غرمې د خوب لپاره داسي لږ ګړی چې مورِ بيده سوو عليه الصلوٰة والسلام نعرې وهلې مورِ چې راغلو عليه الصلوٰة والسلام ناست و او يو بل سړی هم ناست وۀ، نو عليه الصلوٰة والسلام وويل چې زه بيده وم چې دا سړی راغلی او زما توره چې ما په درخته پورې ځړولې وه، ده را اخستې وه او له تبکي څخه يې کښلې وه زه راويښ سوم دی زما وسر ته ولاړ ؤ او داسي يې وويل يا محمد من يمنعک مني؟ ما ورته وويل "الله" پر ده د الله نوم دومره رعب او هيبت پرې ايستی چې لاس يې ورېږدېدی او توره څندي ايله سوه ما توره راواخستل او ده ته مي وويل من يمنعک مني ده وويل لا احد فجلس، ابو برده ﷺ وايي ما توره له تبکي څخه وکښل عليه الصلوٰة والسلام ته مي وويل چې ته ما پرېږده چې دی زه په توره پر مغزي ووهم او سر يې قلم کړم فانه من عيون المشرکين دا سړی د مشرکينو له جاسوسانو څخه دی، عليه الصلوٰة والسلام راته وويل اسکت يا ابا بردة، نو هغه سړي ته يې هيڅ نه وويل يعني نه د عتاب پر ډول او نه يې عقاب ورکړی هغه سړی ولاړی، نو عليه الصلوٰة والسلام ماته وويل يا ابابردة الله معاذلي وحافظي حتى يظهر دينه على الدين كله، دا هغه حديث ؤ چې بعض عبارات يې د بخاري او بعض يې له بيهقي څخه منقول وه.

(۴) **فائده:** دروېش وايي: چې څه وخت چې د مالک بن عوف خبري عبدالله بن حدرد ﷺ و عليه الصلوٰة والسلام ته راوړی، نو سلمة بن سلامة اوقصي انصاري ﷺ و عليه الصلوٰة والسلام ته وويل لن نغلب اليوم من قلة يعني مورِ نه مغلوبه کېږو د قلت له سببه ولي چې دوولس زره کسه يو، دې خبري عليه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الصلوٰة والسلام غمجن کړی په سبب ددې چې توکل او اعتماد پر کثرت د لښکر خندې فهمېږي ولا ينبغي ذالک، راوي وايي چې ددې خبرې شوم په اوله حمله کې مسلمانانو ته ورسېدی چې سره د کثرة العدد چې دوی فخر په کوی شکست يې وخوړی که څه هم وروسته يې فتح نصيب سو.

(۵) **فائده:** پوه سه! چې ابو نعيم او بيهقي وايي چې عليه الصلوٰة والسلام د سه شنبې په شپه پر يوولس د شوال د جنګ ځای ته ورسېدی، نو مالک بن عوف درې کسه د هوازنو د جاسوسی پر ډول واستول او ورته وه يې ويل چې يو ځای مه سره ګرځئ بلکې متفرق او توله حالات د رسول الله ﷺ او د اصحابو کشف او نوټ کړئ د هغې خوا چې هغه درې کسه راغله لاسونه او پښې يې مړه پورې څړېدل او زنګنونه يې تک ژړ وه. مالک ورته وويل ويلکم ماشانکم؟ دوی ورته وويل چې موږ په مسلمانانو کې وليدل رجالاً بيضا على خيل بلق، سپين خلګ وه پر ابلګو آسانو سپاره وه، نو مو ځانونه نه سوای تکيه کولای حتی چې دغسې سولو لکه ته چې مو وينې، او دې درو کسانو مالک ته وويل والله مانقاتل اهل الارض انما نقاتل اهل السماً قسم په خدای دی چې موږ جنګ نه کوود مځکې والو سره بلکې د اسمان والو سره جنګ کوو، ولې داسې خلګ مو په انساانانو کې يو هم نه دی ليدلی، نو دوی مالک ته وويل که ته ژموږ په خوله کوې قوم دې ترشا وتنبوه، ولې که يې ورسره مخامخ کړې او دوی هم هغسې خلګ ووينې لکه موږ چې وليدل ستا ګرده لښکر ته به داسې حال وزپښې سې لکه موږ ته چې راپښې سو، مالک ورته وويل اف لکم بل انتم اجبن اهل العسکر، او درې سره يې بنديان کړه تاچې دا خبره په لښکر کې شائع نه سې ګرده لښکر به پرېږدله سې او د جنګ ميدان به پرېږدي، مالک لښکر والو ته يې وويل چې تاسې يو ډېر دلاوره سړی په لښکر کې ما ته راواستوئ، نو تولو پر يوه نفر اتفاق وکړی چې دا د لښکر شجاع سړی دی، نو هغه ډېر دلاوره چې د عليه الصلوٰة والسلام لښکر ته ورغلی دې سړي هم احساس د بل ډول خلګو وکړی لکه هغه نورو درو کسانو چې کړی وۀ، او دې يوه دلاور ته هم هغه حالت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورپښې سو لکه هغه نورو درو ته، نو مالک هغه هم بندي کړی.

(۶) **فائده:** مالک هم په خپل زړه کې وپرېږدی له مخامخ جنګ څخه، نو ځکه چې دوې حصې د شپې تېرې سوې لښکر یې تولې وادي حنین ته ګډل کړی وادي حنین یوه ډېره خوفناکه شپله ده چې تنګ ځایونه پکښې دي، او د شپلې پېښې کې غوندې غوندې ځایونه وه، نو هوړې سره ځای پر ځای سوه او د تیارسي حکم یې ورکړی چې ورځ سي د علیه الصلوٰة والسلام پر لښکر به په یوه وار حمله کوو.

(۷) **فائده:** رسول الله ﷺ هم خپل د لښکر تعبیه وکړه او د سدس اخیر د شپې په وخت کې یې صفوف بسته کړه او بیرغونه یې پر اصحابو باندي ووېشل، روح البیان وایي چې علیه الصلوٰة والسلام لبس ذرع داوود علیه السلام التي لبسها حین قتل جالوت او پر خپل کچر دلدل سپور سو، او مظهري رحمه الله وایي چې دوې زغرې یې یو پر بل سربېره واغوستلې او د اوسپنې خول یې پر سر کښېښو، او د صفو ومخ ته ودرېدی صفونه پر راتاو سوه، نو مسلمانان یې وقتال ته وهڅول او د فتح زېرې یې هم ورکړې "ان صدقوا وصبروا" او خالد بن الولید سره د بني سلیم او د اهل مکه پر مقدمة الجیش او میمنة الجیش او میسرة الجیش یې مقرر کړه، او علیه الصلوٰة والسلام په قلب الجیش کې ؤ.

فَلَمْ تُغْنِ عَنكُمْ شَيْـًٔا وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُم مُّدْبِرِينَ ﴿۲۵﴾

نو فائده نه وکړه هغه کثرت د هیڅ شي یعني چې تاسي په مستغني واست او خوشحاله واست، او تنګه سوه پر تاسي مځکه، بیا مو دښمن ته شا کړه په داسي حال کې چې شکست مو وخوړی.

پوه سه: چې شیأ مفعول مطلق دی ای شیئ من الاغناأ او یا مفعول به دی د تغن ای من امر العدو "بما رحبت" با په معناد مع ده او ما مصدریه دی ای مع رحبها یعني سره د فراخی، د مځکې، ضیق الارض کنایه ده له دې څخه چې سړی ځای د قرار چې زړه یې پکښې آرام سي نه لري، دلته مراد ځندي شدت رعب دی له دښمنه څخه.

دروښ وایي: چې په ژبه کې ورته کنایات سته مثلاً چې یو سړی له دښمنه ډېر ډېر ډېرې وایي مځکه ځای نه راکوي او یا سخت مریض وي وایي مځکه مي نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

منې وامثال ذالک کثیرة.

پوښتنه: له "تولیتم" څخه معنی د مدبرین فهمېږي نو ذکر ته یې څه ضرورت وُ؟

خواب: د مدبرین معنی دلته منهزمین یعنې شکست خورده دی، دا معنی له تولیتم څخه نه فهمېږي ولې چې تولی ګاهې لپاره د حیلې وې په جنګ کې یعنې دښمن ته فرار په خیال ورکړي چې هغه ورنږدې سې مخ پر راواړوي قتل یې کړي چې دې ته فر وکر وایي.

پوه شه: چې خطاب و هغو مؤمنانو ته دی چې په جنګ د حنین یې شکست وکړی، راوي وایي چې مسلمانانو چې شکست وکړی علیه الصلوٰة والسلام یوازې پاته سو دده سره یو نه وُ مګر عباس ﷺ چې د علیه الصلوٰة والسلام اکا وُ چې د علیه الصلوٰة والسلام د غاټري ملګونه یې نولې وه چې علیه الصلوٰة والسلام پر مخ نه سې ولاړ او بل یې د اکار زوی ابو سفیان بن حرب ﷺ وُ چې هغه د غاټري رکب نیولی وُ او علیه الصلوٰة والسلام پښې پر ښوروله یعنې د دښمن پر خوا روان وُ او دا یې ویل"

انا النبي لاکذب..... انا ابن عبدالمطلب

پوښتنه: علیه الصلوٰة والسلام خو شاعر نه وُ بشهادة القرآن، نو دا بیت یې څرنګه جوړ کړی؟

ځواب: من وجهین، الاول په مختصر الشافي کې چې د عروض کتاب دی چې په شعر کې قصد معتبر دی دا بیت بې قصده د علیه الصلوٰة والسلام پر ځوله ورغلی، په محیط الدائرة کې وایي چې د هر متکلم په خبرو کې سړی فکر وکړي بعض خبري یې پر وزن شعري د یو بحر برابروي او متکلم هیڅ قصد د شعر نه لري، محیط دائره وایي که بهله موزونه بیت ویونکی سړی شاعر وبولي نو به ټوله انسانان شاعران سي ثم اورد صاحب محیط الدائرة لذالک امثلة وزاد ان کان الموذون بلا قصد شعراً، وذکر لذالک بعض آیات الموذونة من القرآن وعین لها بحراً. والثاني ان البیت المذکور من بحر الرجز، او اراجیز بعض عروضیان شعرونه بولي بلکې نثر منظوم یې بولي، او داغه رنګه و ویونکي ته د رجز شاعر نه وایي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: علیه الصلوٰة والسلام خو د عبدالله زوی وٗ، نو ده ولي عبدالمطلب ته څان منسوب کړی؟

خواب: ټولو عربو د علیه الصلوٰة والسلام نسبت و عبدالمطلب ته کاوه لان عبدالله مات في حیوة عبدالمطلب، قال عبدالمطلب ما رئ عبدالله ابنه ﷺ لانه مات قبل ولادة رسول الله ﷺ.

سوال: افتخار په اباً واجدادو خو د جاهلیت د خلګو عادت وٗ او اسلام منع ځندي کړي ده؟

خواب: علیه الصلوٰة والسلام دا خبره افتخاراً نه ده کړې بلکې اشاره یې و یو خوب ته وکړه چې عبدالمطلب لیدلی وٗ، او دا د خوب قصه مشهوره وه عند العرب، نو هغه قصه علیه الصلوٰة والسلام ودوی ته ورپیاد کړه قاله الخطابي رحمه الله.

پوښتنه: د عبدالمطلب دخوب قصه څرنګه وه؟

ځواب: په عقد الدرر کي وایي عبدالمطلب چې د علیه الصلوٰة والسلام نیکه وٗ یوه ورځ په حطیم کي بیده وٗ، نو چې راوېښ سو ډېر وارخطاً وٗ، عباس رضي الله عنه وایي چې زه په پسې وم چې بابا ولي دومره وارخطاً راهي سو، او زه په دغه وخت کي ځوان وم، نو د قریشو کاهنانو ته ورغلی چې ما خوب لیدی چې زما له شا څخه یو ځینځیر د سپینو زرو جلا سو، بیا دا ځینځیر څلور ښاخه سو، یو ښاخ یې مشرق ته ورسېدی او بل ښاخ یې مغرب ته ورسېدی، او یو ښاخ یې اسمان ته ورسېدی او بل ښاخ یې السفلي مځکي ته ورسېدی، نو عبدالمطلب وویل چې په داسي حال کي چې ما ځینځیر انو ته کتل دا څلور ښاخه د ځینځیر انو بیرته سره راټول سوه یوه درخته سوله، زه په هغه حیرت کي وم چې دوه سپین زیري خلګ راغله، ما یوه ته وویل چې ته څوک یې؟ هغه راته وویل چې نوح نبي رب العالمین یم، هغه بل ته مي وویل چې ته څوک یې؟ هغه راته وویل چې زه ابراهیم خلیل رب العالمین یم، عبدالمطلب وویل، نو په دې وخت کي راوېښ سوم، هغو کاهنانو ورته وویل که چېرې رښتیا تا دا خوب لیدلی وي، نو ستا له ملا څخه به نبي پیدا کېږي چې اهل السماً والارض به ایمان پر راوړي، او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځینځیر چې حلقې یې درلودې او یوه په بله کې ننوتلې وې پر دې دلیل دی چې د هغه نبي اتباع به ډېر وي. او بیا چې درخته سوه ښه سرسبز او شاداب دا ددې دلیل دی ثبات امره و علو ذکره، او څوک چې پر هغه نبي ایمان نه راوړي هغه به هلاکېږي یوه یوه پلا لکه قوم نوح چې په بلا د غرق هلاک سوه. او ملت د ابراهیم علیه السلام په هغه نبي ژوندی کېږي.

دروېش وایي: چې دا قصه په ډول د جمله معترضې راغله. بیرته د هوازنو د قصې پر خوا. راوي وایي چې تخمیناً څورلس واړه په دغه جنګ کې به علیه الصلوٰة والسلام داسې وکړه چې ده چې به پر کفارو حمله وکړه هغه به ځندې وتښتېدل، چې هغو به حمله پرې وکړه دی به ورته ولاړ و وهذا اشاهد علی غایة شجاعته. ولې چې په داغسې سخت حال ده نه خپل نوم پټ کړی ولې ناري یې وهلې انا ابن عبد المطلب. او نه له کفارو څخه بېرېدی پر خپل ځان باندې چې قتل به مې کړي، ولې چې عباس رضي الله عنه د علیه الصلوٰة والسلام دا به منع کول چې پر مخ ولاړه نه سې او د کفارو په منځ وګډه نه سې، نو په دغه وخت کې علیه الصلوٰة والسلام له خدای جل جلاله څخه غوښتنه کول په دې الفاظو سره (یارب ایتني بما وعدتني) یعني النصر علی هؤلاء الکفرة او علیه الصلوٰة والسلام و عباس رضي الله عنه ته وویل چې صبح بالناس یعني پر مؤمنانو ناره وکړه د عباس رضي الله عنه دومره لوړ آواز و چې تر اته (۸) میله پورې دده اواز اورېدل کېدی. او یوه ورځ د بیرې له جهته پر اهل مکه فنادی و اصباحاه. نو هرې جاملې ښځې چې به دده اواز واورېدی د ډېره رعبه به یې اسقاط حمل کاوه، نو ده ناري کړې یا آل الانصار بیا یې قبیلةً قبیلةً ددوی نومان واخستل. او بیا یې ناري کړې یا اصحاب الشجرة یعني اهل بیعة الرضوان في الحدیبیة، د بلې خوا به جوابونه ورکول کېدل لبیک نحن لدیک.

دروېش وایي: چې روح البیان په یوه روایت کې داسې ویلې دي چې بعضو د منهزمینو مکې ته ځانونه ورسول او د مسلمانانو د شکست خبر یې په مکه کې خپور کړی. او د هوازنو د غلبې خبر یې په مبالغه آمیزه ډول مکې والو ته بیان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړی حتی چې بعض د مکې والو په شکست د مسلمانانو خوشالي ښکاره کړه که څه هم د مکې په فتح کې مکي والو ټولو اسلام راوړی ؤ لکن بعض خفیف الایمان او یا منافق ډوله مسلمانان هم پکښې وه هغو دا مسرت په شکست د مسلمانانو ظاهر کړی، تر دې اندازې پورې چې د صفوان ورور (د مور لخوا) دا خبره وکړه الا قد ابطل الله السحر الیوم، صفوان چې تر دغه وخته پورې مشرک ظاهري پاته ؤ خپل مورنې ورور ته یې ویل اسکت فض الله فاک خدای دې خوله له غابنو څخه خالي کړه، او صفوان وویل والله لان یربني چې پر مورې سلطنت کوي او زمورې د تدبیر او تربیت واګې په لاس کې اخلي یو سړی د قریشو چې مراد یې علیه الصلوٰة والسلام ؤ احب الي من ان یربني رجل" ماته محبوبه ده تر دې چې پر مورې حکومت کوي یو سړی د هوازنو د قبیلې، غرض یې دا ؤ چې ریاست او حکومت د علیه الصلوٰة والسلام چې قریش دی پر قومي سطح مې خوښ دی تر هوازنو چې له قریشه څخه نه دي، ولي طبعي خبره ده چې قومي سړی پر خپل قوم دومره ظلم نه کوي لکه غیر قومي سړی (مشهور متل دی وای خپل قومی که سړی مړ هم کړي، خو لمر ته یې نه غورځوي)

دروېش وایي: چې بخاري او ګڼ شمېر محدثینو رحمهم الله روایت کړی دی له ابن اسحاق رحمه الله څخه چې یو سړي براٴ بن العاذب رضي الله عنه ته وویل افررتم یوم حنین؟ قال لا والله ما ولی رسول الله ﷺ" مورې فرار نه دی کړی قسم په خدای دی چې علیه الصلوٰة والسلام شا نه ده ګرځولې مطلب یې دا دی چې دار مدار د فرار پر علیه الصلوٰة والسلام دی هغه پر خپل ځای ثابت ؤ "لکن خرج شبان اصحابه رضي الله عنهم حسراً لیس علیهم کثیر سلاح" لکن جنګ ته ووتل د هوازنو بعض ځوانان د اصحابو رضي الله عنهم دده "حسراً ای لیس لهم کثیر سلاح فلقوا قوماً رماة" دوی مخامخ سوه د یو قوم سره چې هغه ډېر ښکاریان وه یعني هوازن، چې قریب نه ؤ چې ددوی غشی دې پر مځکه ولګېږي یعني خامخا به په سړي کې منښتی او مورې ددوی سره چې په جنګ کې یو ځای سو او مورې پر دوی حمله وکړه دوی ته مو شکست ورکړی، نو مسلمانان په غنیمتو ټولولو اخته سوه هوازنو پر مورې سلاح راوړول په داسي دول

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کثرت سره لکه مچنځ "مایکادون یخطئون فاقبلوا من هناک الی رسول الله ﷺ" مورِ ددوی یعني هوارنو مخ راواړوی علیه الصلوٰة والسلام ته راغلو، د برابن عاذب ﷺ غرض دا وُ چې دې ته فرار نه وای چې عسکر دښمن ته شاکړي او خپل فوجي مشر ته راسي. علیه الصلوٰة والسلام پر خپله سپینه غاتره سپور وُ او ابو سفیان ﷺ تر جلو نیولې وه. نو علیه الصلوٰة والسلام له غاترې څخه کښته سو او دعاً یې وکړه او طلب د نصرت یې له خدای څخه وکړي.

اختلاف او جمع: دروښ وایي: چې په دې باره کې د علیه الصلوٰة والسلام احادیث چې په د هزیمت په وخت کې څوک وه او که نه وه. پر دې تقدیر چې یو څو کسه وه عظیم اختلاف دی او ددې احادیثو جمع تر دې عنوان لاندې بیانېږي، د انس ﷺ په روایت کې راغلي دي چې علیه الصلوٰة والسلام یوازي پاته سو، او په روایت د مسلم عباس ﷺ وایي چې په ورځ د حنین چې هزیمت د مسلمانانو پېښ سو، زه او ابو سفیان بن حرب ﷺ له علیه الصلوٰة والسلام څخه هیڅ نه یو جلا سوي، او په نورو احادیثو کې راغلي دي چې د علیه الصلوٰة والسلام سره یو جماعت د اصحابو ﷺ پاته وُ، محمد بن یوسف ﷺ ددې قولو جمع داسې کړې ده چې مراد په هغه حدیث کې د انس ﷺ روایت دی چې علیه الصلوٰة والسلام یوازي پاته سو دادی چې مخامخ و دښمن ته دی یوازي وُ، عباس او ابو سفیان ﷺ خو دده په خدمت کې وه چې دده مبارک غاتره یې تینګه کړې وه چې پر مخ تګ ونه کړي، نو مباشر د جنګ یوازي علیه الصلوٰة والسلام دی دوی دوه یې خادمان او مانعان د پېښ قدمی وه، او یو جماعت چې په بعضو احادیثو کې راغلي دي چې ورسره وُ مراد دادی چې د علیه الصلوٰة والسلام تر شا متصل ولاړ وه. بیا اختلاف په عدد کې د ثابتین مع رسول الله ﷺ هم سته، کلبي ﷺ وایي کان حول رسول الله ﷺ ثلاثة مائة نفراً، یعني درې سوه کسه نورو تولو هزیمت کړی وُ، او بیهقي له حارثه ﷺ څخه روایت کړی دی چې زما په اټکل ثابتین د علیه الصلوٰة والسلام سره سل کسه وه. احمد او طبراني له ابن مسعود ﷺ څخه په صحیح سند وایي چې د خلګو د شکست په وخت کې مورِ اتیا کسه د علیه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الصلوة والسلام سره پاته سوو من المهاجرين والانصار ﷺ، نو مورِ د انهزام په وخت کي اتيا قدمه تر شا سوو لکن شا مونه ده ورگرځولي، وهكذا الروايات الاخر، او امام نووي رحمه الله د مسلم په شرح کي وايي چي د عليه الصلوة والسلام سره ثابتين لس کسه وه، او د عباس ﷺ په شعر کي هم لس کسه راغلي دي.

نصرنا رسول الله في الحرب تسعة..... وفر من فر عنه فاقشعوا

وعاشرنا لاقى الحمام بنفسه..... لما مسه في الله لا يتوجع

يعني لسم کس يې زه وم، صالحي وايي چي حافظ ابن حجر وايي

لعل هذا هو الاثبت ومن زاد على ذالک يكون عجل في الرجوع فعد فيمن لم ينهزم، بعض هغه زيادتي عدد چي راغلی دی د هغه سبب دادی چي هغو کسانو ژر بيرته رجوع وکړه، نو گويا هزيمت يې نه وکړی، نو په ثابتين کي حساب سول، او څلور ښځي په ثابتينو کي دي مع رسول الله ﷺ (۱) ام سليم (۲) ام سليط (۳) ام الحارث (۴) ام عمارة رضي الله عنهن.

ثُمَّ اَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَتَهٗ عَلٰى رَسُوْلِهٖ وَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ

وروسته تر کيت وکيت خداى ﷻ نازل کړی اطمنان قلبي پر رسول د خداى او پر مؤمنانو عام تر دې که منهزمين او که ثابتين وه.

پوه سه: چي سکينه د زړه ارام ته وايي د اضطراب ضد ده.

سوال: سکينه او اطمنان قلبي خو په عين حال کي د انهزام د مؤمنانو او په عين حال د انفراد دده ورسول الله ﷺ ته حاصله وه کما يدل عليه ما نقلنا سابقاً چي عباس او ابو سفيان رضي الله عنهما د عليه الصلوة والسلام شاتره يې له پښ رفته څخه منع کوله، نو اضطراب قلبي خو عليه الصلوة والسلام ته په هيڅ حال کي نه و فما معنى قوله تعالى على رسوله؟

خواب: دا خو صحيحه ده لکن سکينه چي و منهزمينو ته حاصل سوه په برکت د وجود د عليه الصلوٰة والسلام فيهم فصارت كما انزلت عليه ﷺ او روح المعاني او روح البيان يې دامسي معنى کړې ده اى رحمته التي تسكن بها القلوب وتطمئن بها اطمناناً كلياً متتبعاً للنصر القريب، وهذه السكينة لم تكن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حاصلة له ﷺ من قبل فافهم. والاولى ان يقال چې په وخت کې د انهزام د قوم که څه هم د علیه الصلوٰة والسلام زړه د ځپل ژوند او قتل په باره کې مطمئن و لکمال الایمان بان ماشأ الله کان ومالم یشأ لم یکن. لکن طبعاً په حال کې د منهزمینو فکر جن ډ چې دوی به څرنګه سي فلما اجتمع جمیع المنتهزمین وغیرهم عنده ﷺ اطمئن قلبه والله اعلم.

نکته: د مؤمنین په لفظ سره دا ثابته سوه چې ګناه کبیره سړی له ایمان څخه نه باسي کما هو المذهب لاهل السنة والجماعة خلافاً للمعتزلة.

وَأَنزَلَ جُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا

او خدای ﷻ را واستول لښکرونه چې تاسي نه لیدل. سدي الکبیر وایي چې مراد له جنود څخه ملکي دي لکه په بدر کې، سعید بن جبیر ﷺ وایي چې د حنین په ورځ خدای ﷻ د علیه الصلوٰة والسلام کومک وکړی په پینځه زره ملکو چې مسومین وې، علامه داره وې چې په رنګ د رجال وې او سپین مخان یې وه پر کمرو (ابلق) اسانو او پر سرو آسانو سپاره وه او شملې یې د اوږو په منځ کې وې، په یوه صحیح روایت کې راغلي دي چې علیه الصلوٰة والسلام یوه لپه خاوري راواخستله او د قوم هوازنو پر خوا یې وباشله او دا یې وویل شاهت الوجوه، نو دا خاوري د تولو په سترګو او په خوله کې ولوېدله تاچې پر دوی یې رعب پرې نه وځي، او کفارو لیدله تاچې مرعوب سي او شکست وکړي.

دروښ وایي: چې روح المعاني، روح البیان، تفسیر قرطبي او نور تفسیرونه تولـه وایي چې مراد له جنود څخه ملکي دي، یو مظهري رحمه الله دی چې ګاهي وای مېړیان وه ګاهي وای ډبري وې او ګاهي وای ملکي وې، د حنین د واقعې راوي وایي چې د علیه الصلوٰة والسلام پر مبارکه ژبه داسي دعاً جاري وه ﴿اللهم لک الحمد والیک المشتکی وانت المستعان﴾ نو جبرئیل و علیه الصلوٰة والسلام ته وویل چې ماته د داسي تلقین خدای ﷻ وکړی لکه موسی علیه السلام ته چې یې کړی ؤ په هغه وخت کې چې دریاب یې کوڅې کوڅې کاوه د بني اسرائیلو د تېرېدلو لپاره او د فرعونیانو د غرقېدلو لپاره، روح المعاني وایي چې په عدد کې د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ملائکه وو د حنین اختلاف دی بعض علماً وایي چي درې زره وې، او بعض اهل تفسیر وایي چي پینځه زره وې، بعض وایي اته زره وې. بعض وایي شپاړس زره تعداد وُ د دواړو لښکرو په عدد یعني دوولس زره د مسلمانانو لښکر وُ او څلور زره د هوازنو فوج وُ، او په دې کي هم اختلاف دی چي ملکو په حنین کي جنګ کړی دی او که نه، جمهور علماً پر دې دي چي ملکو بېله بدره بل ځای جنګ نه دی کړی، په حنین کي صرف د مسلمانانو د زړه د تقویت لپاره.

سوال: په قرآن مبارک کي خو داسي راغلي دي بجنود لم تروها، نو څرنګه یې ددوی د زړونو تقویه کوله؟

ځواب: د مسلمانانو په زړو کي یې افکار حسنه وراچول په دې سره یې ددوی تائید کاوه مثلاً په زړو کي به یې دا وراچول چي تاسي خو د خدای او د علیه الصلوٰة والسلام یاست خامخا به تاسي کامیابه کېږئ په دغه جنګ کي الی غیر ذالک من الخواطر الحسنة، او د کفارو په زړو کي یې رعب او بیره پیدا کول، ولي چي کفارو خو به لیدلې کمامر.

وَعَذَّبَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۭ وَذٰلِكَ جَزَاۗءُ الْكٰفِرِيْنَ ۝

او خدای ﷻ په عذاب کړل هغه کسان چي کفر یې کاوه یعني قوم هوازن وثقیف او دغه عذاب جزاً د کافرانو ده، له سدي کبیر رحمه الله څخه روایت دی چي دا عذاب قتل بالسیف دی، او روح المعاني او روح البیان وایي بالقتل والاسر وابسي، راوي وایي مشرکانو چي په غزوه حنین کي شکست وخوړی تر شا ولاړه اوطاس ته یې ځانونه ورسول چي په هغه ځای کي ددوی مالونه او عیال وه. نو علیه الصلوٰة والسلام یو سړی د اشعریانو له قوم څخه چي نوم یې عامر وُ رئیس د لښکر ددوی یې وګرځاوه اوطاس ته یې پسي واستاوه. هوړې چي ورغله بیا معرکه جوړه سوه لکن بیا مالک سره د فوجه شکست وخوړی او مسلمانانو ددوی بنځي او عیال په سبي ونیول، مالک بن عوف طائف ته وتښتېدی او امیر المؤمنین ابو عامر رضي الله عنه هم شهید سو. نو علیه الصلوٰة والسلام طائف ته پسي ورغلی هلته تر محاصره لاندي وه باقي میاشت د شوال، نو ذو القعدة چي داخله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوه، نو علیه الصلوٰة والسلام جنګ ته خاتمه ورکړه ولي چې ذوالقعدة ځورد اشهر حرم ځخه ده، او جعرانه ته راغلی چې د یو ځای نوم دی په منځ کې د مکې او د طائف دا ځای د یوې بنځې په نامه مسمی سوی دی چې نوم یې ریطه بنت سعد وه او جعرانه یې لقب ؤ، علیه الصلوٰة والسلام دیارلس ورځې دلته تېرې کړې او په جعرانه کې یې غنائم د حنین د اوطاس سره ووېشل، سببي یعني بنځې او کوچنیان شپږ زره نفره وه او اوښان ځلورویشت زره وه او پسونه او بزې تر ځلو ېښت زره بالا وې او ځلور زره اوقیې سپین زر وه، او له جعرانه ځخه یې د عمرې احرام وتاړه او علیه الصلوٰة والسلام وویل چې اوویا نبیانو علیهم السلام له جعرانه ځخه د عمرې په نیت احرامونه ترلي دي.

دروېش وایي: چې ما جعرانه په پخوا کې هم لېدلی ؤ چې دېر ساده ځای ؤ او یو ساده مسجد پکښې جوړ ؤ، خورما او تسبیح به بعض خلګو پر حاجیانو چې له مکې ځخه به ددې عمرې لپاره ورتله خرڅولې، او په وروستیو ګلو کې مې هم ولیدل چې ښه جامع مسجد پکښې جوړ سوی ؤ او غسل خانې او د اوداسه ځایونه یې پر عصري ډول جوړ وه، حاصل دا چې جعرانه یو مبارک او خوشاله ځای دی چې د سړي روح پکښې تازه کېږي، او د مکې مکرمې ځخه ددغه ښار تېکسي موټران په دې نامه ناري وهي ېره عمره ېره عمره یعني لویه عمره په اردو ژبه، او که یې مطلق ناري وهلې عمره عمره هغه د تنعیم د عمرې تکسیان دي چې د علیه الصلوٰة والسلام د تنعیم عمره نه ثابت هان، سید تنا وامنا عائشة رضي الله عنها له تنعیم ځخه عمره کړې ده علیه الصلوٰة والسلام د حجة الوداع په کال وقصته طویلة.

ثُمَّ يَتُوبُ اللَّهُ مِنْ بَعْدِ ذَٰلِكَ عَلَىٰ مَنْ يَشَاءُ ۗ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢٧﴾

وروسته تر جنګ د هوازنو او ثقیف خدای ﷻ توبه قبلوي پر هغه چا چې د خدای ﷻ مشیت او اراده ورته وسي چې دغه هوازن وه چې اسلام یې قبول کړی او علیه الصلوٰة والسلام ته راغله تائبین من الشرک، او خدای پاک غفور بخښونکی دی د توبه کونکو او مهربان دی علی العموم والخصوص.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بخاري رحمه الله په صحيح کتاب کي داسي روايت کړی دی له مروان او مسور بن محزمة څخه چي رسول الله ﷺ ته چي راغلی وفد د هوازنو مسلمانان سوي وه او له عليه الصلوٰة والسلام څخه يې وغوښتل چي زمونږ تولې مالونه او سبي په لاس راکړه، نو عليه الصلوٰة والسلام ورته وويل "معي من ترون" زما سره راسره دي دغه کسان چي تاسي يې وينئ يعني المجاهدين چي صحابه کرام ﷺ وه مطلب يې دا وُچي زه خو يې يوازي اختيار نه لرم "واحب الحديث الي اصدقه" او محبوب د خبرو ماته رشتيا خبره ده يعني رشتيا ويل زما خوښ دي دا يې وروسته خبري ته تمهيد دی "فاختاروا احدى الطائفتين اما المال واما السبي" نو تاسي مختاره کړئ يوه د دوو طائفو يا مال يا سبي يعني دواړه نه درکوم چي مجاهدين بې برخي پرېږدم "قالوا فانا نختاروا السبي" زمونږ سبي چي ښځي او اولاد دي په لاس يې راکړه "فقام رسول الله ﷺ واثنى بما هو اهله ثم قال اما بعد فان اخوانكم قد جاؤا تائبين" نو ولاړ سو عليه الصلوٰة والسلام او حمد د خداى ﷻ يې په هغه ډول چي د خداى پاک اهل دی بيا يې وويل مسلمانانو ته يعني چي په جهاد کي د حنين چي يې برخه اخستې وه، اما بعد زمونږ وروڼه راغلي يعني تائبين له شرک څخه "واني رئيت ان ارد عليهم سبيهم فمن احب منكم ان يطيب بذالك فليفعل ومن احب انيكون على حظه نعطيه حتى ايناه من اول فيئ الله علينا فليفعل" او زما دا رايه ده چي ودوی ته رد سي سبي ددوی، نو که يې څوک په خپل خوښه ورکوي يعني خپله حصه له سبي څخه خو دا دي ورکړي او که د چا خوښه وي چي زه دي پر خوله حصه د سبي قائم يم يعني نه يې ورکوم هغه ته مونږ په اول غنيمت کي چي خداى پاک مونږ ته راکړي دده حصه د سبي يعني اوس خو دي دا سړی د هوازنو سبي چي ده ته برخه ورغلې وه هوازنو ته رد کړي مونږ په اول غنيمت کي چي خداى يې مونږ ته راکړي دده حصه د سبي به ورکړو، نو هغه داغسي وکړي "فقالوا قد طبنا يا رسول الله ذالك فقال رسول الله ﷺ انا لاندري من اذن منكم ممن لم يأذن فارجعوا حتى يرفع الينا عرفائكم امركم" نو خلګو په يوه اتفاق وويل چي زمونږ خوښه ده چي سبي د هوازنو دوی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ته حواله کړل مي، نو علیه الصلوٰة والسلام وویل چي زه نه یم خبر چي چا اجازه ورکړه له تاسي څخه او چا نه ده ورکړې یعني تمییز د اجازې والا په تاسي کې له هغو کسانو څخه چي اجازه یې نه وې ورکړې نه راته وسو، ولي چي اوازونه د طیبنا په ټیوه پلا پورته سول اجازه کونکي او نه کونکي ماته نه سوه معلوم. نو تاسي ولاړسئ چي ستاسي ملکان یعني مشران به ستاسي سره تفصیلي پوښتنې وکړي او بیا مرافعه ستاسي یعني بیان تفصیلي ستاسي به ماته ورسوي "فرجع الناس فکلهم عرفائهم ثم رجعوا الی رسول الله ﷺ فاخبروه انهم قد طیبوا واذنوا" نو خلګ ولاړل، نو ددوی ملکانو خبرې وکړې بیا ملکان بیرته راغله رسول الله ﷺ ته او خبر یې ورکړی چي خلګ خوښ وه د سبې د رد به برخه کې او اجازه یې وکړه.

حکایت: محمد بن عمر وایي چي هغه وخت چي شکست مشرکانو په حنین کې وخوړی، نو علیه الصلوة والسلام امر وکړی مسلمانانو ته په طلب کې د لوی جنایت کار دښمن چي بجاد یې نوم ؤ چي دا جنایت یې کړی ؤ، چي یو مسلمان یې په حنین کې نیولی ؤ او اندام اندام یې پرې کړی ؤ او بیا یې اور پر بل کړی ؤ، نو بجاد چونکه خپل په خیانت خو خبر ؤ او په دې هم خبر ؤ چي علیه الصلوة والسلام راخبر دی نو تبتبدلی ؤ، نو مسلمانانو بجاد ونیوی، نو ایشمأ یوه بښځه وه چي مسلمانانو ته یې وویل چي تاسي بجاد ماته په لاس راکړئ چي زه ستاسي د صاحب تعني علیه الصلوة والسلام رضعي خور یم، زه یې ځندي خلاصوم، نو مسلمانانو دواړه ملګري سره راروان کړه، لکن د مسلمانانو د شیمأ دا دعوه یقیناً زړه ته نه لوېدل، خیر شیمأ یې و علیه الصلوة والسلام ته راوستل، شیمأ ورته وویل یا محمد زه ستا خور یم یعني رضعي علیه الصلوة والسلام خو نه پېژندل، نو یې طلب د علامې او د دلیل ځندي وکړی، نو د هغې په پټه ګوته کې یو تپ ؤ چي اوس جوړ ؤ لکن غار یې معلوم ؤ، علیه الصلوة والسلام ته یې وربنکاره کړی چي دغه تپ ستا د غاښو دی چي زه دي په غاښ کړم، او په وادي السرب کې ما او تا پسونه هم سره پوولي دي، او د هور پر تي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مو جنګ هم سره کړی دی یعنې په وخت کې د رضاع او په وادي السرب کې چې مو پسونه پوول ته هم لوی وې زه هم لویه وم، نو د علیه الصلوة والسلام ورپیاد سوه، نو خپل له ځای وغورځېدی ولاړ سو او پټو یې اوار کړی او خور ته یې وویل چې پر دې پټو کښېنه بیا یې مرحبا او ښه راغلی ورته ووایه. او تر دوارو ستړګو یې اوښکې راغلې وروستې یې د مور او پلار پوښتنه څنډې وکړه، دې ورته وویل چې هغه مړه دې، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې اوس نو سته خوښه ده که دلې زمونږ سره پاتېږې په دې کرامت او عزت او که دې دا خوښه وې چې زه بیرته خپل قوم ته، نو شیما ایمان راوړی او رسول الله ﷺ دې مریان ورکړه او یوه یې مینځه ورکړه او دوه اوښان یې ورکړه، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې زه طائف ته ځم، شیما ولاړه جعرانې ته یعنې خپل قوم هوازن ته، او علیه الصلوة والسلام د شیما د کورنۍ لپاره اوښان او پسونه هم ورکړه او بجاد یې هم وروښښی هغه ایمان هم راوړی.

دروښ وایي: چې وګورئ کرم عالي او خلق عظیم د رسول الله ﷺ چې د رضعي خور یې څومره احترام وکړی او څومره صله رحمي یې ورسره وکړه، چې چا د نسبي خور سره په ټوله امت مرحومه په تاریخ کې نه دي راغلي یعنې هیڅ تاریخ د نسبي وروړ او خور دومره محبت نه دی بیان کړی.

دروښ وایي: چې له عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چې موږ د علیه الصلوة والسلام سره وو په حنین کې، نو څه وخت چې هوازنو شکست وخوړی او امرال ددوی او سبایا ددوی د مسلمانانو په لاس ورغلې کمامر عنقریب. نو د هوازنو یو هیئت و علیه الصلوة والسلام په جعرانه کې او ددوی څورلس کسه وه چې مشر یې زهیر بن صرد ؤ او په دوی کې ابو برقان چې د علیه الصلوة والسلام رضعي اکا ؤ هم موجود ؤ، او ټولو ایمان هم راوړی ؤ، نو زهیر بن صرد وویل یا رسول الله ﷺ موږ یو اصل قبیله وو او موږ ته ورسېدل یوه بلا چې تاته هم معلومه ده غرض یې هزیمت او اموال او بنځې او ذریه یې دې چې په غارت او غنیمت کې راغله "فامنن علینا من الله علیک" ته زمونږ سره احسان وکړی خدای ﷻ ستا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

احسان وکړی، زهیر بن صرد چې خطیب د هوازنو وو ولاړ سو او ډېر په جوش او خروش سره یې دا ویلا وکړه یا رسول الله دغه په خېمو وغیره کې چې ستا سره سبایا درسره دي دا ستا عمه ګانې یا خاله ګانې دي یعني من الرضاع او ستا په غېږ کې ساتونکي دي چې ستا کفالت یې په غاړه درلودی یعني د رضاع په وخت کې او ده زیاته کړه که موږ جنګ کړی وای او حارث بن ابي شمر چې د شام بادشاه دی په عربو کې یا د نعمان بن المنذر چې سلطان العراق دی او موږ ته ددوی له خوا څخه دومره لوی مصیبت رسېدلی لکه ستا د خواچې راورسېدی او موږ پښېمانه ورغلي وای پر موږ به یې عطف کړی وای او احسان به یې راسره کړی وای وانت یا رسول الله خیر المکرمین بیا یې یو څو اشعار وویل چې اول بیت یې دادی:

اقول امنن علینا رسول الله في کرم ..... فانک المرء نرجوه وننتظر

علیه الصلوة والسلام چې دا شعر واورېدی نو یې وویل ماکان لي ولبني عبد المطلب فهو لکم وقالت قریش ماکان لنا فهو لله ولرسوله وقالت الانصار ماکان لنا فهو لله ولرسوله.

دروېش وایي: چې دا حدیث او د بخاري حدیث چې سره د ترجمې دمخه تېر سو سره معارض دي، ولي چې د علیه الصلوة والسلام سره ملګري په غزا کې د حنین دغه مذکورین في هذا الحدیث کسان وه هغه د علیه الصلوة والسلام تر ټولو شیانو چې له هوازنو څخه په غنیمت راوړي وه تېر سو. او ددې حدیث په باره کې صالحي رحمه الله وایي هذا حدیث جید الاسناد عال جداً، رواه ایضاً المقدسي في صحیحه ورجحه الحافظ ابن الحجر رحمه الله وقال انه حدیث حسن والله اعلم بالصواب وعلینا النقل من الکتاب ولست انا من اصحاب الترجیح لافي الفقه ولا في الحدیث، لکن دا قدر ویلای سو چې عام مفسرین او عام اهل حدیث رحمهم الله او شروح د صحاح سته پر دې دي چې د هوازنو اموال رسول الله ﷺ ووېشې او سبایا یې ورمعاف کړل.

دروېش وایي: چې و علیه الصلوٰة والسلام ته چې په حنین کې فتح ورنصیب سوه. بیهقي له عبد الله بن الحارث او هغه له خپل پلار ه داسي روایت کړی دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې د حنین په جنګ کې د طائف اوویا کسه مشرکان ووژل سول لکه په بدر کې او په حنین کې دغه لاندې کسان شهیدان سول (۱) ایمن ابن ام ایمن (۲) سراقة بن الحارث (۳) یتیم بن ثعلبة (۴) یزید بن زمعة (۵) ابو عامر الاشعري، د مالک بن عوف چې شکست په برخه سو ولاړې طائف ته وتښتېدې، او د طائف په مضبوط والي چې په هغه وخت کې تر دغه کلا مضبوطه کلا نه وه ځان یې د ثقیف د قوم سره محفوظ کړی، راوي وایي چې مالک بن عوف چې طائف ته ولاړې، نو رسول الله ﷺ د تعقب لپاره د حنین مغانم بعض راویان وایي ابو سفیان بن حرب رضی الله عنه ته تسلیم کړل یعني د حفاظت لپاره تر بیرته راتلو پورې د علیه الصلوٰة والسلام له طائف څخه، او بعض راویان وایي چې بدیل بن ورقاء خزاعي رضی الله عنه ته یې تسلیم کړل او ابن اسحاق رحمه الله وایي چې پر غنائمو یې مسعود بن عمر الغفاري رضی الله عنه مقرر کړی.

دروښ وایي: چې په دغو روایاتو کې جمع ممکنه ده چې دغو درو کسانو به په هیئت اجتماعي د غنائمو حفاظت کاوه او یا به یې په صوت د نوبت حفاظت کاوه په هر حال علیه الصلوٰة والسلام سره د خپله فوجه د طائف پر خوا راهي سو چې هوړې مالک بن عوف او سره د قوم ثقیف پناه اخستې وه، او دا کلا په نصرف کې د عبد یالیل وه ابن اسحاق رحمه الله وایي چې علیه الصلوٰة والسلام طائف ته نژدې خپل عسکر سره ځای پر ځای کړل او خیمې یې ودرولې، ثقیف چې خبر سول پر کلا باندې پورته سول سلو کسو غشي ویشتونکو په غشو وښتلو لاس پورې کړی، نو چې څوک یعني د علیه الصلوٰة والسلام د عسکرو ځخه به له کلا څخه لېږي وه هغه به یې په غشو ویشتل او چې کلا ته په نژدې وه پر هغو به یې د وسپنې تو تې چې په اور په یې مضبوطه تودې کړې وې راغورځولې، پر مسلمانانو یې د غشو باران وه وراوه چې ډېر کسان پکښې ټپیان سول او دوولس کسه شهیدان سول، نو علیه الصلوٰة والسلام هغه لوړ ځای ته پور ته سو هغه لوړ ځای ته چې اوس پر هغه ځای باندې لوی عظیم الشان مسجد جوړ دی چې د ثقیف قبیلې وروسته تر اسلام تعمیر کړی دی او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عمرو بن مسعود الثقفي چي وروسته بيا مسلمان سوی دی وايي چي د نبي ﷺ اصحابو رضی الله عنهم به هرځو ثقيفيانو ته دعوت ورکړی چي ميدان جنګ ته راووزئ هغو ته خبره نه منل او دا به يې ويل چي پرېږدئ تر هغو چي اوسپړي زمونږ څه پرواه په کېږي وروسته سيف الله خالد بن وليد راغلی، نو لو نعره يې وکړه چي د مبارزې لپاره ميدان جنګ ته راووزئ خو هيڅ څوک هم پر کلا نه سو راپورته، بيا يې نعره وکړه هيڅ څوک نه سو راپورته درېيم وار يې بيا نعره وکړه، نو عبد ياليل له کلا څخه ور نعره کړه لا ينزل اليک احد او مونږ په خپله دغه کلا کي اوسپړو تولې ضروريات مو پوره کړي دي حتی چي مونږ په کلا کي دومره خوراکي مواد ساتلي دي چي په ډېرو کلو زمونږ بس دي، نو که دا مواد او ضروريات زمونږ خلاص سي بيا نو ميدان جنګ ته درځو سره د تورو تر هغو چي تولې مړه کېږو ولم يخرج اليه احد لکن غشي يې ويشتل حتی چي ډېر صحابه رضی الله عنهم ټپيان يا شهيدان سول کمامر آنفاً، او عليه الصلوٰة والسلام نعره وکړه چي هر څو مريان چي په کلا کي دي هغه دي راووژي هغه ازاد دي، نو لس په يو څو کسه بالا مريان له کلا څخه راووتل او عليه الصلوٰة والسلام هم ددوی د وعدې سره موافق دوی ازاد کړل، وروسته و عليه الصلوٰة والسلام ته سلمان فارسي رضی الله عنه وويل چي زما رايه داده چي پر يو لوړ ځای باندي منجنيق ورته جوړ کړو او کلا به په ولو، هغه وخت چي منجنيق يې ورته نصب کړی، راوځي وايي چي دا اول منجنيق دی چي د مسلمانانو په لاس نصب سو، لکن هغه هم ګټور ثابت نه سو، بيا عليه الصلوٰة والسلام امر وکړی چي هر مسلمان دي د ثقيف په باغو کي پينځه د خورما درختي او پينځه تاکان وربېي زجراً لهم، نو مسلمانانو په دغه کار شروع وکړه، نو ثقيفيانو له کلا څخه پر را ږغ کړه ولي زمونږ د باغو درختي قطع کوئ، که تاسي غالبه سواست خو ستاسي به په بنه درسي او که يې لپاره د خدای او صلة الرحم پرېږدئ تاسي ته به خدای عوض درکړي، رسول الله ﷺ ورته وويل فاني ادعها الله وللرحم، غرض دادی چي د طائف او د ثقيف فتح ونه سوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ترمذي له جابر رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې اصحابو رضي الله عنهم و علیه الصلوة والسلام ته وویل چې موږ اور د ثقیف وسولو. نو دوی ته ښېرا وکړه علیه الصلوة والسلام وویل اللهم اهد ثقیفاً وایت بهم، د طائف په محاصره کې اختلاف دی یو قول دادی چې دېرش ورځې یا قریب و هغه ته محاصره جاري وه، بل روایت دی شل ورځې په یو څه بالا وې، بل روایت دی چې شل ورځې، بل روایت دی چې لس ورځې په یو څه بالا، ابن حزم اندلسي رحمه الله وایي چې دا اخیري روایت صحیح دی.

دروېش وایي: چې د روایاتو جمع چې ممکنه ده وي، نو و ترجیح ته د بعض علماؤ توجه کول په کار دی، راویان وایي چې د طائف د رجوع په وخت کې علیه الصلوة والسلام پر مرکب سپور ؤ داسي یې وفرمایل" اللهم اهدهم واکفنا مونتهم.

دروېش وایي: چې هغه څوک چې تاریخ د مغازیو د رسول الله ﷺ ددوی پر اوږو پروت دی وایي چې د هوازنو وفد چې په اسلام مشرف سو، و علیه الصلوة والسلام ته راغله، نو رسول الله ﷺ ورته وویل مافعل مالک بن عوف هغو ورته وویل چې هغه وتښتېدی او په حصن طائف کې د ثقیف سره یو ځای سو، علیه الصلوة والسلام د مالک بن عوف و یو قریب ته ووېل که دی راسي او ایمان راوړي زه به دده اهل وعیال او مال تر وله په لاس ورکړم او سل اوښان به هم ورکړم، او علیه الصلوة والسلام د مالک اهل وعیال په مکه کې ددوی د عمه سره یعني ام عبدالله بن ابي امیه ځوندي ساتلي وه، مالک ته چې دا حال کوم اهوازي ورساوه چې ستا اهل او مال کامل ځوندي دی وېشل سوی نه دی، او مالک په عین حال کې له ثقیف څخه ببرېدی پر ځان باندي ولي چې که دوی ته یعني ثقیف ته دا پېغام نبوي ﷺ چې ماته یې را استولی ورسېږي حتماً به ما قتل کړي، نو مالک خپل ځیان وه حنا ته واستول او یوه نوکر ته یې ووېل چې زما آس مانبام ماته راوله، فاتي به لیلاً نو پښې یې پر ښوروولې حنا ته راورسېدی، نو خپل پر مارې اوښ سپور سو، نو علیه الصلوة والسلام ته یې ځان ورساوه یا په جعرانه کې یا په مکه کې، نو علیه الصلوة والسلام و مالک ته دده عیال او مال ورکړه او سل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اوښان يې هم ورکړل، نو ده اسلام راوړی پنه ډېر اخلاص سره، نو علیه الصلوة والسلام مشرتوب د هغه چا چې مسلمان سي من تلک القبائل یعني من قومه هوازن وقبیلة اوس او ثقیف وشماله مالک ته وسپاره، نو مالک ته راجع سول ډېر مسلمانان ددغو قومو او مالک باقاعده بیرغ جوړ کړی چې دغه مسلمانان به یې ددوی د قومو د مشرکانو سره جنګول خصوصاً د ثقیف سره او د ثقیف پر قوم یې ډېري حملې کولې او هر ځای چې به د ثقیف مواشي راووتل هغه به یې بوتله او شپانه به یې ورمړ کړی او د غنیمت خمس به یې علیه الصلوٰة والسلام ته را واستاوه، یو وار یې د ثقیف سل اوښان نیولي وه او بل وار یې زر پسونه نیولي وه، او یوه ورځ یې د طائف پر رمو او پسو یرغل وروړی زر پسونه او مېرۍ یې ځني بېولي وې، اخیر الامر محمد اسحق وایي چې ثقیف هم مجبوره سوه وایمان ته، نو د روژې په میاشت کې چې سنه نهه د هجرت وه د ثقیف وفد راغلی او ایمان تولـه قوم په یوه وار راوړی، او د علیه الصلوٰة والسلام هغه خواست خدای ﷻ قبول کړی اللهم اهدهم ای ثقیف واکفنا مونتهم.

دروښ وایي: چې دا ؤ د حنین د غزا تفصیل، هوازن، اوطاؤس، طائف حسب المقدور مو تفصیل مطالعه کونکو ته د تفسیر وکړی او په عین حال کې مو اختصار حتی الامکان وکړی "تاطبع شریفت نه پذیرد ملالتي" ورنه په اوراقو کې تفصیل نورهم موجود ؤ، آن به که نامه را بدعا مختصر کنم.

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ

اې هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی نه دي مشرکان مګر نجس.

پوه سه: چې "نجس" په زور د نون او جیم لکه په دې آیت کې چې راغلی دی مصدر دی حمل پر مشرکانو مبالغةً دی لکه زَیْدٌ عَدْلٌ، وبهذا یندفع ما عسی ان یتوهم ان نجس مفرد فکیف یصح حمله علی المشرکون وهو جمع وجه الدفع ان المصدر یستوي فیه المفرد والتثنیة والجمع.

پوه سه: چې کفارو ته یې په دې سبب یې نجس وویل چې مسلمان باید له دوی څخه اجتناب وکړي لکه د نجس حقیقي قاذوراتو څخه او له دوی څخه پرهیز

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اوسي او قطع د محبت ورسره وکړي. داسي نه لکه د اوسنی زمانې بعض مسلمانان چې امریکایان چې اشد ضرر آدي وه اسلام ته دوی په ډېر احترام او محبت ورته ګوري، او بل دادی چې کافران له جنابت او له حدث څخه په اوبو نه پاکېږي لعدم شرطه وهو الاسلام.

فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هٰذَا ۚ

نو دوی دي نه نژدې کېږي په سبب ددې چې دوی عین نجاست دي.

پوه سه: چې خدای ﷻ ذکر د قرب وکړی په دې معنی چې دخول خو ببخي نسته کما في قوله تعالی "لاتقربوا لزنی" وقوله تعالی "لاتقربا هذه الشجرة"

دروښ وایي: چې په تفسیر تبیان کي وایي چې دخول د مشرکانو په ټوله حدود کي د حرم ممنوع دی. او حدود د حرم د مدینې پر خوا دري میله دی او د عراق له خوا څخه اووه میله دی او د جعرانه له خوا څخه نهه میله دی او د جدې له خوا څخه لس میله دی انتهی قول التبیان، ومسجد حرام ته پس سږ کال چې دا اوس دی یعني سنه نهه هجري چې امیر الحاج ابوبکر ﷺ علیه الصلوٰة والسلام تاکلی ؤ چې تر حجة الوداع د علیه الصلوٰة والسلام یو کال دمخه ؤ، ولي حجة الوداع په سنه لس کي د هجرت ؤ. او دا مذهب د امام شافعي رحمه الله دی. او پر مذهب د امام ابو حنیفه رحمه الله مراد په آیت کي د مشرکانو منع ده ومسجد حرام ته لپاره د عمري یا د حج. فمعنی الآیة لایحجوا ولایعتمروا بعد عامهم هذا. دلیل یې د علي ﷺ دا قول دی چې ده په مکه کي اعلان د سورة برائة وکړی دا یې هم وویل الا لایحج بعد عامنا هذا مشرک ولایعتمر.

تقریع: د امام اعظم رحمه الله پر مذهب مشرک او کافر مطلقاً له دخول څخه د حرم او مسجد حرام ممنوع نه دي وکذا سائر المساجد.

دروښ وایي: چې په فتاوی اشباه والنظائر کي وایي في احکام اهل الذمة ولایمنع من دخول المسجد ولو جنباً بخلاف المؤمن، او دغه فتاوی وایي چې دخول د ذمي و مسجد ته پر اجازه د مسلمان هم نه دی موقوف ولو کان المسجد الحرام ثم قال في الاحکام ولایسکن فیه ای في الحرم کافر" استوګنه یې نه کوي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په حرم کي کافر. انتهى قول الاشباه.

دروښ وايي: چي امام بخاري په خپل صحيح کي داسي باب راوړی دی "باب دخول المشرک المسجد" يعني على جواز دخوله. او په دې باب کي يې استدلالاً يو طويل حديث راوړی دی برواية ابی هريرة ﷺ قال بعث رسول الله ﷺ خيلاً قبل نجد فجائت برجل من بني حنيفة (چي مشرکان وه) يقال له ثمامة بن اثال (چي دا هم مشرک و) فربطوه بسارية من سواری المسجد (ای المسجد النبوي) الی اخير الحديث النبوي، لکن مظهري دا دليل ضعيف بولي يعني الاستدلال به على جواز دخول المشرک المساجد ضعيف لانفس الحديث فانه صحيح.

پوه سه: چي تپر سوي آيت "فلا يقربوا المسجد آه" چي نازل سو نو په روايت د ابن عباس او سعيد بن جبير ﷺ پر مسلمانانو د مکې مکرمې دا سخت واقع سو وقالوا من يأتنا بالطعام وبالمتاع. ولي چي په پخوا زمانه کي چي به مشرکين بيت الله شريفي ته راغله له ځان سره به يې متاع او طعام هم راوړل يعني غنم وغيره، نو چي دوی له بيت الحرام څخه منع سول دا شيان به موږ ته څوک راوړي، نو دا آيت نازل سو.

وَإِنْ خِفْتُمْ عَيْلَةً فَسَوْفَ يُغْنِيكُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ إِنْ شَاءَ

او که تاسي ببر پرې اې مسلمانانو د مکې د فقر او له لورې څخه په سبب د منع د تجارو د مشرکانو له مکې څخه. نو ژر دی چي غنيان به کړي تاسي خدای پاک يعني بې پرواه به کړي تاسي له تجارت څخه د مشرکينو په وجه آخر سره د خپل تفضل او احسان په يوه بله وجه که د خدای اراده وه او خدای خپل وعده پوره کړه چي بارانونه يې دپر پر اورولە او شاوخوا قومونه مسلمانان سوه او هغو به غلې او کالي ورته راوړل، او بيا خدای پاک فتح د بنارو وکړه پر مسلمانانو د مکې او بيا غنيمتونه پيدا سوه.

تنبيه: خدای پاک د مشيت قيد ووايه لپاره د تنبيه پر دې چي دا اغنا من وجه آخر پر خدای واجبه نه ده بل هو متفضل بها، او بل اشاره ودې ته ده چي د انسان هسلم ژړه بايد په وجود پوري د موعود مربوط نه وي بلکې په کرم پوري د من وعدبه ويتفرع اليه في نيل جميع المهمات ودفع جميع الآفات.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿

خدای پاک عالم دی په هر حال د هر چا او حکمت لري په هر کار کي، بعض وخت به یو کار د سړي په خیال عتاب وي هغه به ثواب وي. بعض وخت یو کار مصیبت بولي هغه به نعمت وي وهکذا.

خداوند کریمست اگر دري دریندد ..... در دیگری بکشاید
گمان مدار اگر ضایعم تو بگذاری ..... که ضایعم نگذارد مسبب الاسباب
برای من در احسان اگر تو دریندی ..... درد یگر بکشاید مفتح الا بواب

فائده: اهل مکه چي له لوږي بېربدل، مقاتل رحمه الله وایي چي خدای ﷻ اهل جده او صنعا او جرش یمن په اسلام مشرف کړه وجلبوا المطعومات الکثیرة الی مکة فکفاهم الله تعالی ماکانوا یخافون.

قَاتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ

تاسي جنګ، جهاد او غزا کوئ د هغو کسانو سره چي ایمان نه لري پر خدای یعني په وحدانیت سره او نه پر ورځ د اخرت. مجاهد رحمه الله وایي چي دا آیت هلته نازل سو چي خدای ﷻ علیه الصلوٰة والسلام امر کړی په غزا د روم، نو وروسته تر نزول ددې آیت علیه الصلوٰة والسلام د تبوک غزا وکړه.

سوال: رومیان خو اهل کتاب وه، اهل کتاب خو پر خدای او پر یوم الآخرة ایمان لري، نو څرنګه دا آیت پر دوی موافق کېږي؟

ځواب: ددوی ایمان پر خدای لکه نه ایمان دی، ولي چي یهودان عزیر ابن الله بولي او نصاری عیسی ابن الله بولي، نو ددوی ایمان پر خدای ﷻ حقیقةً نه دی لانه تعالی احد صمد لم یلد ولم یولد ولم یکن له کفوا احد کما في سورة الاخلاص، او دوی چي وایي لن یدخل الجنة الا من کان هودا او نصاری، او یا وایي لن تمسنا النار الا ایاما معدودة لم یکن ایمانهم بالیوم الآخر علی حقیقة ذالک الیوم فایمانهم کلا ایمان.

وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ

او دوی حرام نه بولي هغه کار یا شی چي خدای او رسول د خدای حرام ګڼلی دي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يعني ماثبت تحريمه بالوحي المتلو وهو القرآن او الوحي الغير المتلو وهو السنة النبوية مثل الدم والخمر والخنزير وغيرها مما جاء حرمته في القرآن او الحديث النبوي ﷺ.

وَلَا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ

او تدين نه كوي نو پر دې تقدير دين الحق يې مفعول مطلق دی او که لايدينون په معنی لايعتقدون ولايقبلون سي، نو دين الحق يې مفعول به دی.

پوه سه: چې حق صفت مشبه دی او اضافت د دين وحق ته من قبيل اضافة الموصوف الى صفته، والاصل الدين الحق، وهو دين الاسلام لانه دين ثابت نسخ جميع ماسواه من الاديان وثابت كر الازمان ومر الدهور، له قتاده رحمه الله څخه روايت دی چې حق نوم د خدای ﷻ دی فالمعنى لايدينون دين الله الذي هو الاسلام كما ورد ان الدين عند الله هو الاسلام، ابو عبيده رحمه الله وايي معناه لايطيعون طاعة اهل الحق.

دروښ وايي: چې مآل ددې تولو تفسيرو وه يوه شي ته دی.

مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حَتَّىٰ يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَن يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ ﴿٢٩﴾

هذا بيان الذين لايؤمنون يعني اليهود والنصارى، له هغو كسانو څخه چې ورکړه سوی دی کتاب، تر هغه وخته پورې جنګ ورسره کوئ چې دوی درکوي جزيه (سر غم) له خپل لاس څخه په داسي حال کې چې دوی به ذليل وي.

جزيه په اصل کې جزائة دی او وزن يې د فعلة دی چې لپاره د هيئت دی عند الصرفيين، والمراد بالهيئة ههنا الذلة كما ستعرف، او يا يې جزيه له دې سببه بولي چې معنی د جزيه فديه د اهل ذمه لپاره دا فديه د قتل ده، يعني په سبب د جزيه قتل له دوی څخه پورته سو، والمراد بالجزية المقدار المضروب على رقابهم من الذهب والفضة (چې په پښتو يې سر غم بولي) "عن يد" حال دی له ضمير څخه د يعطوا يعني مسلمين (دوی به يې تسليموي وحکامو ته د مسلمانانو په خپل لاس يعني د بل چا په لاس به يې نه ورکوي) او يا معنی داده:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عن يدٍ مطيعة يعني منقادين، ددې قيد فائده داده کله دوی انقياداً جزيه نه ورکول بلکې جبر او اکراه ته ضرورت پيدا سو د مسلمانانو د حکامو له خوا نو عقد ذمه يې له منځه ولاړه او ددوی حکم قتل او قتال ته ګرځي نو "عن يد" کنا يه ده له طوع او انقياد څخه "وهم صاغرون" عکرمه ﷺ وايي چې اهل ذمه به ولاړ وي او اخستونکی به ناست وي، بعض وايي جزيه چې يې ورکړه پر څټ دې په چپلاخه هم ووهي او په خوله دي ورته ووايه اد الجزية يا ذمي يا عدو الله، له ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چې جزيه يې ځندي واخستل مغزی دي هم ورپېچي والغرض الاذلال.

فائده: له ظاهر څخه ددې آيت داسې فهمېږي چې جزيه مخصوصه په اهل کتابو پورې ده ځکه عمر ﷺ د مجوسيانو يعني آتش پرستانو څخه جزيه نه اخستل حتی عبدالرحمن بن عوف عمر ﷺ ته دا شاهدي ادا کړه چې عليه الصلوٰة والسلام له مجوسيانو څخه د هجر جزيه اخستې ده.

بيانه فائده: پوه سه! چې کافران پر درې قسمه دي:

(۱) هغه قسم کفار دي چې تر هغوبه مسلمانان قتال او جنګ ورسره کوي څو اسلام راوړي يعني بېله اسلامه له دوی څخه جزيه نه قبلېږي وهم مشرکو العرب والمرتدون، اما مشرکو العرب له دې سببه جزيه نه ځني قبلېږي چې رسول الله ﷺ ددوی له قومه څخه خدای ﷻ وړ واستاوه دوی ته يې قسم قسم معجزات ښکاره کړې او بيا هم دوی ايمان رانه وړی، نو ددوی کفر افحش دی، واما المرتدون دوی مخ واړاوه له دين حق څخه وروسته تر دې چې په محاسنو ددين حق پوه هم سوه د يو غرض فاسده لپاره يعني د چوکۍ او رياست لپاره يا د ډالر، پونډ لپاره مثلاً، فيکون کفرهم اقبح والعقوبة على قدر الجناية چونکه جنايت د دغو ډلو اعظم الجنايات ؤ نو عقوبت يې هم اعظم العقوبات دی وهو القتل، او د جزيه پرورکړه کې خو پر دوی د زړه سوي او د تخفيف مستحق نه دي.

(۲) هغه کافران چې جنګ به ورسره کېږي چې يا اسلام راوړي او يا جزيه ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غاړه ایږدي وهم اليهود والنصارى والمجوس. اما اليهود والنصارى فبهذه الآية واما المجوس چې حکم يې د اهل کتابو دی او سره ددې چې دوی آتش پرستان او مشرکان دي فبقوله عليه الصلوٰة والسلام وهو حديث صحيح رواه ارباب السنن في المجوس "سنوبهم سنة اهل الكتاب غير ناكحي نسائهم واكلى ذبائحهم" تاسي معامله کوئ ددوی سره يعني د مجوسيانو سره لکه معامله د اهل کتابو سره يعني في قبول الجزية منهم، مګر ښځي ددوی مه په نکاح کوئ او ذبيحه ددوی مه خورئ، ولي چې دوی مشرکان دي د مشرکي ښځي نکاح و مسلمان ته نه ده روا او ذبيحه يې هم مرداره ده بخلاف اهل الكتاب.

(۳) هغه کافران دي چې نه مشرکو العرب وي او نه مرتد وي او نه يهود او نصارى وي او نه مجوس کعبدة الاصنام من الهند وجافان وبعض الترک، نو پر مذهب د امام اعظم رحمه الله اخذ د جزيه له دوی څخه روا دی.

پوښتنه: دوی خو هم داسي بت پرسته دي لکه مشرکان د عربو نو ل هغو څخه د جزيه اخستل خو روا نه وه کمامر آنفاً، نو له دې مشرکانو څخه ولي اخذ د جزيې روا دی؟

ځواب: په صحيح احاديثو سره ثابته ده چې اجتماع د دوو دينو په جزيرة العرب کي نه ده روا، نو که له مشرکانو څخه د عربو جزيه قبوله سي او دوی پر خپل دين پرېښول سي خو اجتماع د دوو دينو په جزيرة العرب کي لازمېږي. او په هند وغيره کي اجتماع د دوو دينو روا ده، وهذا هو الفرق بين فريقي المشركين اى العرب والهند مثلاً فافهم.

پوه سه: چې مقدار د جزيه په نيز د حنيفيانو رحمهم الله پر مسکين چې کاريګر وي يعني يا موچي وي يا بنا وي الى غير ذالک دوولس درهمه ده في كل شهر درهم په شرط ددې چې د کال په اکثره حصه کي دی جوړ وي يعني هغه خپل کار وکسب کولای سي، او که نيمی کال يا بالا تر نيمی مريض ؤ بيا جزيه نسته باندي والوجه ظاهر، او پر متوسط الحال يعني نه غني وي او نه فقير وي پر هغه باندي څلور ويشت درهمه جزيه سته د مياشتي دوه درهمه، او پر غني باندي اته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځلو ښښت درهمه جزیه ده په میاشت کي ځلور درهمه، او فقیر چي له کسبه عاجزه وي او پر شیخ فاني او ګوډ شل او پر رانده او پر ښځه او کوچني او یا راهب ددوی چي له خلګو ځخه ګوښه کښښستل اختیار کړي وي پر دغو ټولو کسانو جزیه نسته، والدلیل علی ذالک دادی چي مشروعیت د جزیه خو ددوی لپاره دی چي کافر زجر سي له کفر ځخه او باعثه کول دي پر اسلام، نو ګویا جزیه په ځای کي د قتل ولاړه ده، نو چاته چي عقاب د قتل نه وي متوجه، نو پر هغه عوض د قتل هم نسته یعني الجزیه، او د مذکوره کسانو وژل په جنګ کي شرعاً ناروا دی.

پوښتنه: ملاحدة یعني بې دینه کسان چي ووایي چي څرنګه شرع روا بولي قدرت ورکول وکافر ته پر کفر باندي په ورکړه د جزیه بدلا عن الاسلام؟

ځواب: داس خو نه ده چي اخذ د جزیه رضا په کفر سره د کافر ده کما توهم الملحد بلکي جزیه عقوبت او عذاب ورکول دي ودوی ته چي پر کفر ټینګ دي، او چي مهلت ورکول و کافر ته روا دی بېله جزیه د فکر لپاره او د دعوت لپاره، نو په جزیه سره خو په طریق اولی روا دی، هذا ماقاله الحدادي في جواب الملاحدة ونقله صاحب روح البیان.

نصیحت: د مسلمانانو والیان چي پر اخذ د جزیه د اهل ذمه وو مسلط وي باید تر حدود د شریعت او دین اسلام یوه ذره هم تجاوز ونه کړي لانه ظلم والظلم لایجوز مطلقاً که پر مسلمان وي او که پر ذمي وي، سعدي وایي:

جمله دانند این اگر تو نگروی ..... هرچه می کاریش روزی بدروی

تبصره: چونکه تر خیر القرون وروسته یعني قرن الصحابة ﷺ وقرن التابعین وقرن تبع تابعین رحمهم الله پادشاهان د اسلام علی الاکثر عیش پرستان سوه او پر رعیتو یې ظلم شروع کړی نه یوازي پر اهل ذمه بلکي پر مسلمانانو یې هم ظلمونه وکړه، نو رفته رفته د غلبه اسلام لمر او په غزواتو کي کامیابي او تر غربه او تر شرقه تر جنوبه او تر شماله ځلاندي ورانګې د اسلام د غلبې د لمر مخ پر ژړوالي سو، او سر سبزه او شاداب درخته د اسلام مخ پر مړاوي سوه حتی چي په اوس سنه ۱۴۲۸ هـ کي بلکي په لسیزو کلو دمخه کفار په انواع مختلفه وو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سره یعني المشرکین والیهود والنصاری وبالخصوص الامریکین پر تولـه نړۍ تقریباً تسلط لري یا بالذات لکـه ددوی خپـل دولتونـه او یـا بالواسطة لکـه پر یـو مملکت د مسلمانانو خپـل یـو غـلام حلقـه بگـوش رئـیس جمهـور وتاکي او پـنه حقیقت کي حکومـت د کـافرانو وي، حتـی چي پـه اوسنۍ زمانـه کي بـه مسـتقل مطلق دولت د مسلمانانو نه وي او که وي هم هغه به تر شعاع سمیه یعني زهریـه د امریکایانو تر دباؤ لاندي وي، التسلط علیـه الیوم او غداً او بعد غد،

چو بینم دین احمد درغریبی ..... دلم سوزان زچشم خون جاری

دروښ وایي: چي نو لـه دي سببه د جزیـه کمبلـه تقریباً اوس تولـه سوه.

چون فرود آید بلا بی دافعی ..... جز تضرع نبود دیگر شافعی

اللهم انصر الاسلام والمسلمین في جمیع کرة الارض ودمروا هلک اعداً الدین اللهم دمرهم وزلزلهم زلزالاً شدیداً واسلبهم مدد الامهال اللهم قلل عددهم اللهم مزقهم کل ممزق مزقة لاعدائک انتصاراً لانبیائک و اولیائک برحمتک یا ارحم الراحمین.

وَقَالَتِ الْيَهُودُ عُزَيْرٌ ابْنُ اللَّهِ

او وایي یهودان عزیر علیه السلام د خدای ﷻ زوی دی،

پوه سه: چي بعض لـه قراً سبعـه وو څخـه عزیر پـه تنوین سره وایي.

سوال: پـه عزیر کي خو عجمه او علمیت جمع دي، نو خو غیر منصرف دی، نـو ولي یې پـه تنوین وایي؟

ځواب: اول دا کسان چي یې پـه تنوین وایي لفظ د عزیر عربي مصغر بولي، دوهم دا کـه عجمي هم سي، نو د انصراف وجـه یې داده چي اسم خفیف دی مشابه د مصغر سره دی، نو ځکـه یې منصرف کړی، لکـه هود، لوط او نوح چي عجمي خفیف دي.

پوه سه: چي عزیر مبتدا ده او ابن الله یې خبر دی، صفت یې نه دی لبقاً المبتدا بلا خبر، او بعض لـه قراً سبعـه وو څخـه یې بـه تنوینـه وایي یا لـه دي سببـه چي دوی یې عجمي بولي او بـل علمیـت پکښې دی، نـو غیـر منصـرف دی، او لالتقاً الساکنین تشبیهاً للنون بحرف اللین.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: عزیر بن شرحیا له نسله د یعقوب علیه السلام دی او له قبیلې څخه د لاوي دی او په څورلسم پښت د هارون بن عمران علیه السلام سره یو ځای کېږي او دا قول د قدماؤ د یهودانو دی.

سوال: یهودان خو له دې څخه منکر دي چې مونږ عزیر ابن الله بولو؟

خواب: خدای علیه السلام ددوی د قدماؤ قول نقل کړی دی، او په بحر مواج کې وایي تذم او تمدح بصدور ماینا سب الذم والمدح من بعضهم مثل بنو فلان قتلوا مع ان القتل صدر من من بعضهم.

تاریخ وایي چې بخت نصر بابلي چې پر بني اسرائیلو حمله وکړه او پر غالب سو، نو د بني اسرائیلو تولې علماً یې قتل کړه او بیت المدس یې توتې توتې کړی او د بني اسرائیلو په زرهاؤ ځوانان یې په غلامۍ بوتلله، او تورات یې وسوځی، او عزیر علیه السلام کوچنی و، نو د کوچنیوالي په سبب یې قتل نه کړی او بابل ته یې د ځان سره بوتلی په سبایاوو کې د بني اسرائیلو، نو عزیر علیه السلام چې په بابل کې ځوان سو، نو په یو ډول یې له بابل څخه ځان راویستی پر یوه خره سپور ؤ او کالي وغیره یې په بغل ځولۍ کې وه، او کوچنی ژی د اوبو ورسره ؤ، نو د بیت المقدس پر خوا راروان سو چې د بني اسرائیلو ابائي تاتوبی ؤ په بیت المقدس کې چې لوتې لوتې پروت ؤ ګرځېدی هیڅ انسان یې پکښې ونه لیدی او اکثره مېوه داره درختي یې په مېوو بار وې، نو بعض مېوې یې وخوړلې ځان یې مور کړی او انګور یې چوختان کړل او اوبه یې څښدي راوه ایستلې وه څینې، او یو څه فاکه هر شی چې ؤ په بغل څولۍ کې یې د ځان سره واخسته او د انګورو اوبه یې خپل ژي ته واچولي، نو عزیر علیه السلام چې دې خرابیو ته د بیت المقدس وکتل دا یې وویل "انی یحی هذه الله بعد موتها"

پوه سه: چې دا قول د تعجب د لارې ؤ لا انکاراً من قدرة الله تعالی علی احیائها. نو عزیر علیه السلام ورغلی یو لهرې ځای په بیت المقدس کې خر یې په یوې درختي پوري وترې او د انګورو د اوبو ډک ژی یې هم کښېښو او پر بغل ځولۍ یې سر کښېښو د خوب لپاره، نو په خوب کې یې خدای علیه السلام روح ځني واخستی،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او سل کاله په مړینه پر تېر سوه او خو یې هم مړ سو او په مرور د زمانې سپین هډوکي پراته وه او د انګورو اوبه خدای پاک په ژي کې تازه وساتلې او یو څو دانې اینځر ورسره وه هغه هم خدای پاک ثابته وساتل، او پر عزیر او دده پر جسد او نور شیان چې دده سره ورسره وه خدای ﷻ د خلګو ستر ګو باندې بندې کړې هیڅ چا ونه لیدی، سل کال وروسته خدای پاک ژوندی کړی او خو یې هم خدای پاک ورژوندی کړی کما ورد في القرآن فاماته مائة عام ثم بعثه الی اخیر الآیة.

دروښ وایي: چې د عزیر ﷺ قصه دېره اورېد ده چې ددې تفسیر په سورت بقره کې تېره سوې ده دلته دا قدر ذکر غوښت غواړي چې یهودانو بنې اسرائیلو ولې دی ابن الله باله، ددې تفصیل دادی چې دمخه حال د عزیر ﷺ نژدې تېر سو نو چونکه دی بیرته بیت المقدس ته راغلی د هیڅ چا سره په دنیا کې تورات نه وۀ او مکتوب د تورات تختې خو بخت نصر بابلي سوځلي وې، نو خدای پاک عزیر نبي وبنې اسرائیلو ته راواستوی چې ته ورسه د تورات تجدید وکړه.

پوښتنه: د عزیر ﷺ نو تورات په یاد وۀ؟

ځواب: یا! تورات خو یې نه وۀ په یاد لکن یو ملکي په امر د خدای ﷻ یو څه اوبه ورته راوړې چې وه یې څیښلې په سینه او په زړه کې یې تورات نقش سو، نو دی بنې اسرائیلو ته راغلی وروسته تر سل کاله او دوی ته یې وویل چې زه نبي یم، خلګو یې تکذیب وکړی او ورته وه یې ویل چې که ته عزیر نبي یې موږ ته تورات واوروه، نو عزیر ﷺ املاً د تورات ورته وکړه او کاتب تورات نوشته کړی، بیا دوی ورته وویل چې دا تا چې کتابت او املاً وکړه موږ ته څه معلومه ده چې دا اصلي تورات ۀ چې پر موسی ﷺ نازل سوی ۀ او که تا له ځانه جوړ کړی په بنې اسرائیلو کې یو سړی ناست ۀ هغه وویل چې ماته خپل پلار چې هغه ته خپل پلار ویلي وه چې زما نیکه کېږي داسي بیان کړی دی چې بخت نصر بابلي چې پر موږ حمله وکړه موږ دده له بیري د تورات نسخه په صندوق کې کښېښول په فلاني باغ کې مو ښخ کړې ده، سړي وویل پلار وماته او ده ته خپل پلار هغه ځای د ښخېدو د تورات را ښوولی دی، نو هغه باغ ته ورغله او هغه ځای یې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وکندی صندوق پیدا سو چي تورات پکښي پروت وو. نو هغه د صندوق اصلي تورات چي يې د عزير ﷺ د املائي تورات سره وکتی او مقابله کړی سره نو يو حرف هم نه و سره مخالف، نو دوی وويل چي خدای په سنه کي د چا تورات نه وراچوي مګر چي زوی يې وي، فقالوا عزير ابن الله.

دروښ وايي: چي د عزير ﷺ په باره کي کتابو د تفاسيرو مخالف بيانونه اوږده او لنډ کړي دي لکه د سورة البقرة له تفسيره څخه په کتابو کي د تفاسيرو متعدده وو نشان دهي د دغو اختلافاتو کېږي. والله اعلم بحقيقة الحال.

وَقَالَتِ النَّصٰرَى الْمَسِيْحُ ابْنُ اللّٰهِ

او ويلي دي نصاری وو چي مسيح يعني عيسی ﷺ د خدای زوی دی.

دروښ وايي: چي مظهري له بغوي څخه يو سبب ددې قول د نصاری وو چي عيسی ابن الله دی رانقل کړی دی چي زه به يې عنقريب درته بيان کړم چي د هغه قول په باره کي علامه بغداد په تفسير روح المعاني کي ج۱۰ کي داسي وايي ومن الغريب الذي لايکاد يصح ماقيل (له نادرو خبرو څخه دي چي قريب نه ده چي صحيح دي وي هغه دي چي چا ويلي.

دروښ وايي: چي ددې قول ويونکی بغوي رحمه الله دی او ناقل يې مظهري رحمه الله دی ثم نقل علامة البغداد القول المذكور الذي قال فيه لايكاد يصح.

دروښ وايي: چي هغه قول چي علامه بغداد راوړی دی چي بغوي په شان نزول کي ددې آيت راوړی دی او مظهري را نقل کړی دی هغه قول دادی "ان السبب في قولهم هذا انهم كانوا على الدين الحق بعد رفع عيسى الى السما احدى وثمانين سنة" (سبب په دغه قول کي ددوی عيسی ابن الله دی، چي نصاری پر دين حق باندي وه وروسته تر پورته کېدو د عيسی ﷺ و اسمان ته اتلس کاله) "يصلون ويصومون ويوحدون حتى وقع بينهم وبين اليهود حرب" (دوی لمونځونه کول او روژې يې نيولې او خدای ﷻ يې واحد لاشريک باله. حتی چي ددوی يعني د نصاری او يهودو تر منځ جنګ واقع سو) "وكان في اليهود رجل شجاع يقال له بولص قتل جماعة منهم ثم قال اليهود ان كان الحق

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مع عیسی فقد کفرنا والنار مصیرنا" (په یهودانو کې یو سړی وې دېر دلاوره چې بولص یې بالله چې یوه ډله د نصاری وو یې وژلې وه، نو وروسته بولص و یهودانو ته وویل که حق په جانب کې د عیسی علیه السلام وي نو موږ خو کافران سوو یعني دده د نبوت انکار مو وکړی، نو زموږ تګ یعني په ورځ د قیامت به و دوزخ ته وي) "ونحن مغبونون ان دخلنا النار ودخلوا الجنة واني ستاحتال علیهم واضلهم حتی یدخلوا النار معنا" (او موږ به دېر تاوانیان یو که موږ دوزخ ته ورسو او دوی یعني نصاری جنت ته ولاړ سي، لکن زه ژر دی چې یو حیله به دوی ته وکړم حتی چې دوی یعني نصاری زموږ سره دوزخ ته ولاړ سي) "ثم انه عمد الی فرس یقاتل علیه فعقره واظهار الندامة والتوبة ووضع التراب علی راسه واتی النصاری" (وروسته بولص قصد وکړی و خپل آس ته چې ده به پر هغه د نصاری وو سره جنګ کاوه هغه یې هلاک کړی، بیا بولص بنکاره کړه یعني نفاقاً توبه او پښیمانې پر عداوت او جنګ د نصاری وو سره او خاوري یې پر سر باد کړې او نصاری وو ته ورغلی) "فقالوا من انت قال عدوکم بولص قد نودیت من السماء انه لیس لک توبة حتی تعلم الانجیل ثم خرج" (نو نصاری وو دی داخل کړی خپل عبادتګاه ته یعني ګرجا ته او دېر کومک یې ورسره وکړی، نو بولص په هغه ګرجه کې په یوه خونه ننوتی، نو یو کال نه راووتی له هغې خونې یعني دوډۍ او نور ضروریات به نصاری وو ورورې تر هغو پورې چې انجیل چې د نصاری وو کتاب دی مکمل یې زده کړی یعني په تعلیم د نصاری وو د یو عالم، نو باره راووتی) "وقال قد نودیت ان الله تعالی قبل توبتک فصد قوه واحبوه وعلا شانه فیهم" (نو بولص وویل چې ماته نعره وکړل سوه یعني له طرفه د اسمان چې خدای پاک ستا توبه قبوله کړه، نو نصاری وو یې تصدیق وکړی او دېر محبت یې ورسره پیدا سو یعني په دې سبب چې د نصاری وو په خیال دی لوی ولي الله دی چې له اسمان څخه دده سره خبرې کېږي او د بولص رتبه په نصاری وو کې دېره لوړه سوه) "ثم انه عمد الی ثلثة رجال منهم، نسطور، یعقوب و ملکان فعلم نسطور ان الآلهة ثلثة الله و عیسی ومریم "تعالی الله عن ذالک" وعلم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یعقوب ان عیسی لیس بانسان لکنه ابن الله سبحانه وتعالی. وعلم ملکان ان عیسی هو الله لم یزل ولا یزال" (نو بولص قصد وکړی ودرو کسو ته د نصاری وو یعني چې صاحب قدرت کسان وه، یو نسطور و بل یعقوب و او بل ملکان ؤ یعني دا درې کسان یې خپل مریدان کړل، نو دې شیطان نسطور ته په خلوت کې دا وروښول چې خدایان درې دي الله، عیسی و مریم.

پوه سه: چې تعالی الله د کاتب له خوا دی یعني په دې شرط چې چا ته به دا سر او راز نه وایه آه، یعقوب ته یې دا وروښوول چې عیسی انسان نه دی بلکې د خدای زوی دی یعني بالشروط المذکور. او ملکان ته یې دا وروښوول چې عیسی په خپله خدای دی زوال نه لري نه درلودی یعني بالشرط المذکور. فلما استمکن ذالک منهم دعا کل واحد منهم في الخلوة وقال له انت خلیفتي فادع الناس الی ماعلمتک وامره ان یذهب الی ناحیة من البلاد ثم قال لهم اني رئیت علیه الصلوٰة والسلام وقد رضی عنه وانا ذابح نفسي تقرباً الیه ثم ذهب الی المذبح فذبح نفسه وتفرق اولئک الثلثة فذهب واحد منهما الی الروم، و واحد الی بیت المقدس والآخر الی ناحیة اخری واظهر کل مقالته ودعا الناس الیها فتبعه من تبعه" (نو هغه وخت چې بولص خپلې عقیدې په دوی کې محکمه کړې، نو یو یو یې ددوی خلوت ته وروغوښتی یعني جلا جلا او هر یوه ته یې وویل چې ته زما خاص سړی او خلیفه یې، نو خلګو ته دعوت کوه د هغه عیسوي دین چې ما تاته دربنوولی دی یعني بله لار د عیسی په دین کې نسته که چا نه منل د هغه سره جنګ کوه، او هر یوه ته یې وویل چې ته ولاړ سه فلاني وطن ته او ته ولاړ سه فلاني وطن ته، بیا بولص ودوی ته وویل چې ما عیسی په خوب ولیدی او زما څخه راضي ؤ، او زه خپل ځان ذبح کوم لپاره د تقرب و عیسی ته نو ولاړی و مذبح ته خپل ځان یې ذبح کړی او هغه درې خلیفه ګان سره متفرق سوه، یو ولاړی روم ته او بل ولاړی بیت المقدس ته، او دریم بلې خوا ته او هر خلیفه د بولص وربنوولې طریقه ظاهره کړه او خلګو ته به یې دعوت ورکاوه نو هغه چا چې به یې متابعت کاوه متابعت به یې وکړی)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې هغه قصه پای ته ورسېدل چې بغوي رحمه الله ددې آیت په شان نزول کې راوړې وه او مظهري رانقل کړې وه او علامه بغدادي يې شديداً رد وکړی والعلم عند الله تعالی.

دروښ وايي: چې ودغې قصې ته نژدې قصه جلال الدين الرومي قدس سره په مثنوي کې راوړې ده لکن بېخي وړده ده په ډېر شد ومد سره يې راوړې ده والله اعلم بالصواب واليه المرجع والمآب.

پوښتنه: څه سبب ؤ چې نصاری وو عيسی ابن الله باله مع قطع النظر عن تلک القصة؟

ځواب: سيد محمود آلوسي رحمه الله وايي چې شايد چې سبب ددې وينا به دا وي چې ددوی په عقيده دا محال ؤ چې ولد دي بېله اب وي، نو چونکه عيسی عليه السلام خو ظاهري پلار نه درلودی نو يې ابن الله وباله، لکن آلوسي وايي چې دا د يوې دلې مسلک دی، او بلې دلې به د عيسی عليه السلام معجزې په فهم کې نيولې وې، چې احياً الموتی وه او مورزاده ړوند به دده په دعا جوړېدی وهکذا پيس مرض والا جوړېدی او دا کارونه بېله خدايه ځوک نه سي کولای، نو يې عيسی عليه السلام خدای وباله، او بعضو به خدای منی، او عيسی عليه السلام به يې ابن الله باله، او مريم چونکه اصل د موسی ده يعنې مور يې ده نو هغه يې هم خدای وبلل، نو عيسی عليه السلام ثالث ثلاثة الآلهة سو، لکن آلوسي رحمه الله وايي چې زما په عقيده ظاهره داده چې دوی په انجيل کې چې ددوی سره ؤ اطلاق د ابن پر عيسی او داغه رنګه اطلاق د اب يې پر خدای جل جلاله کاوه لکن دوی خطاوتلي وه په مراد کې ولې چې دوی حقيقةً اب او ابن په خيال ورتلی لکن معنا يې مجاز کنايي ده فافهم.

ذٰلِكَ قَوْلُهُمْ بِأَفْوَاهِهِمْ

دغه چې دوی وايي عيسی د خدای زوی دی. قول ددوی په خوله ددوی.

سوال: قول خو وي په خوله، نو د بافواههم څه فائده؟

ځواب: بعض مفسران وايي چې دا قيد لپاره د تاکيد د قولهم دی او دفع د مجاز ده کما في قولهم کتبته بيدي وبصرته بعيني وسمعته باذني، او ښه ځواب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دادی چي دا هم بعض مفسران ذکر کړی دی چي مراد له قید څخه داده چي دا قول بې حقیقته قول دی لکه مهمل قول.

دروبش وایي: چي زمونږ په پښتو کي هم ورته لفظ سته لکه یو سړی چي یوه خبره وکړي بل سړی ورته ووایي دا نو ستا د خولې خبر دی یعني هیڅ حقیقت نه لري.

يُضَاهِـُٔونَ قَوْلَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن قَبْلُ ۚ قَاتَلَهُمُ اللَّهُ ۖ أَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ﴿٣٠﴾

دوی یعني نصاری في قولهم عیسی ابن الله مشابهت کوي په دې قول سره د قول سره د هغه کسانو چي کفر یې کاوه من قبل بحذف المضاف الیه وتعویض الضمة منه ای من قبلهم.

پوه سه: چي سدي او قتاده وایي چي مشابه دی قول د نصاری وو چي عیسی ابن الله بولي د قول سره د یهودانو تر دوی دمخه چي عزیر ابن الله دی، او مجاهد وایي چي نصاری مشابهت کوي د قول سره د مشرکانو د مکې تر دوی دمخه چي هغو به ویل چي لات او عزی او منات د خدای لونې دي.

دروبش وایي: چي د مکې د مشرکانو دا قول مشهور نه دی یو روایت شاذه دی فلا یناسب تفسیر القرآن ههنا به فافهم، او حسن بصري رحمه الله وایي شبه الله کفر النصاری بفکر الامم السابقة، وفیه انه تشبیه عام یخالف سیاق الکلام لان سوق الکلام في النصاری الذین یقولون عیسی ابن الله، نو قول د سدي او قتاده علی ذروه التحقیق لانه مناسبة خاصة في اتخاذ الولد في قول المشبه وقول المشبه به

پوه سه: چي قاتلهم بنبهرا ده له جانبه څخه د خدای ودوی ته، بعض وایي چي معنی یې هلاک دی او مشهوره په قاتل چي په قرآن کي راسي هغه معنا ده چي د ابن عباس رضي الله عنهما څخه مروي ده ای لعنهم الله، او تفسیر غریب دی چي څوک وایي معنا یې تعجب دی من شناعة قولهم، څرنګه دوی مصروف سوه له حق څخه و باطل ته بعد قیام الادلة من معجزات الرسول ﷺ علی ماهو الحق.

اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللَّهِ

دوی ګرځولي دي ملایان خپل جمع د حبر ده بالفتح والکسر، او صوفیان خپل لکه بلا تشبیه زمونږ پیران، ددوی رهبان په صوامع کي چي ددوی عبادت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځایونه دي چې ددوی رهبان پکښې خلوتیان وي لکه زموږ پیران چې په مساجدو کې معتکفان وي، رهبان جمع د راهب ده، خدایان یې ګرځولي دي دوی یعني نصاری وو، ولي چې حبر یا راهب به یوه خبره ورته وکړه هغه یې منله که څه هم د خدای ﷻ په نیزد هغه حکم معصیت وای، نو له دې سببه من دون الله خدای ﷻ ووایه، ترمذي په خپل صحیح کتاب کې له عدي بن حاتم ﷺ څخه روایت کړی دی چې علیه الصلوٰة والسلام ته ورغلم او زما په غاړه صلیب و د سرو زرو علیه الصلوٰة والسلام ماته وویل وغورځوه دا بت له غاړې څخه، عدي وایي نو ما هم له غاړې څخه وکښې، بل وخت چې زه ورغلم علیه الصلوٰة والسلام دا آیت ووایه "اتخذوا احبارهم ورهبانهم اربابا من دون الله" ما ورته وویل موږ خو دوی رب نه بولو چې عبادت یې کوو؟ علیه الصلوٰة والسلام وویل چې آیا داسې نه ده چې دوی درته حرام وګرځوي یو شی چې خدای ﷻ حلال بللی وي تاسې هغه حرام ګرځوئ او چې دوی درته حلال وبولي یو شی چې خدای ﷻ هغه شی حرام ګنلی وي تاسې یې حلال بولئ، فقلت بلی، هو! موږ خو داسې کوو یعني حرام د احبارو او رهبانو حرام بولو که څه هم خدای ﷻ حلال کړي وي، او موږ حلال بولو هغه شی چې دوی یې موږ ته حلال وبولي که څه هم خدای ﷻ حرام ګنلی وي، قال فتلک عبادتهم من دون الله، عبدالله بن المبارک ﷺ وایي وهل یبدلون الدین الا الملوک واحبار سوء ورهبانها.

وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ ۚ وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا إِلَٰهًا وَاحِدًا ۖ

او دوی ګرځوي رب عیسی بن مریم، ولي چې خدای یې بولي دوی او یا ابن الله او یا ثالث ثلثه یې بولي، او دوی نه دی امر سوي مګر نه په دې سره چې دوی به اطاعت کوي د یوه آله چې هغه الله ﷻ دی او د بل چا عبادت به نه کوي په عصیان کې د خدای ﷻ.

پوښتنه: په دې آیت کې خو اطاعت پر خدای ﷻ حصر کړل سو، او سره ددې چې پر موږ اطاعة الرسول ﷺ والخلفاء الراشدین ﷺ هم لازم دی؟

ځواب: دا خو په اطاعت کې د خدای ﷻ داخل دی، ولي خدای پاک موږ امر کړي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یو ددوی په اطاعت سره "وما آتی کم الرسول فخذوه الآیة" او علیه الصلوٰة والسلام چي مونږ ددې په اطاعت سره خدای پاک مامور کړو وایي "علیکم بسنتي وسنة الخلفاً الراشدین، الحدیث، او بل ځواب دادی چي رسول او خلفاً راشدین خو مونږ په عصیان د خدای ﷻ نه امر کوي لکه د نصاری وو احبار او رهبان کمامر عنقریب.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ سُبْحٰنَهٗ عَمَّا یُشْرِكُوْنَ ۝

نسته معبود بالحق بېله خدایه، دا جمله صفت ثانیه دی د الهاً یا استیناف مقرر د توحید، او پاک دی خدای له هغه شیانو څخه چي دوی یې له خدای سره شریکان بولي یعني هغه د خدای شریکان نه دي.

پوه سه: چي په حدیث صحیح کي راغلي دي ان محرم الحلال کمحلل الحرام" یعني په تحقیق حرام ګرځونکي د حلال شي داسي دي لکه حلال بلونکي د حرام شي یعني په عقوبت کي او دواړه کفر هم دی، مثلاً که څوک ووایي او عقیده لري چي شیدې حرامي دي داسي دی لکه یو څوک چي عقیده لري چي شراب حلال دي.

فائده: کلمه د ما په عما کي مصدریه ده ای سبحانه عن الشرک او که ما موصوله سي نو عائد یې محذوف دی ای عما یشرکونه ای معه تعالی کمامر في الترجمة.

یُرِیْدُوْنَ اَنْ یُّطْفِـُٔوْا نُوْرَ اللّٰهِ بِاَفْوَاهِهِمْ وَیَاْبَى اللّٰهُ اِلَّاۤ اَنْ یُّتِمَّ نُوْرَهٗ وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ ۝

اراده لري کافران چي دوی مړ کړي نور د خدای ﷻ یعني حجت الهیه چي دلالت پر وحدانیت د خدای کوي او پر پاک والي دده له شریک او ولد څخه، او یا مراد له نور الله څخه قرآن دی یا نبوة د علیه الصلوٰة والسلام دی، په خولو ددوی چي دوی به غلطي خبري او درواغ ویله په شان کي د قرآن چي شعر دی یا کهانت دی او د علیه الصلوٰة والسلام په باره کي به یې ویل ساحر، کاهن، مفتر او مجنون او خدای ﷻ ابی او منع کوي یعني لایرید مګر نه دا چي خپل نور به پوره کوي یعني کمال ته به یې رسوي که قرآن دی او که نبوت د علیه الصلوٰة والسلام دی، که څه هم مشرکانو دا اتمام مکروه وبلی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: په آیت کي اشاره ودې ته ده چي نور ظاهري د اهل الارض چي لمر او سپوږمی ده که څوک وغواړي چي په پوه کلو به يې زه لهري کړم نو دا خو محاله خبره ده، داغه رنګه اطفاً د نور معنوي چي قرآن دی یا علیه الصلوٰة والسلام دی په کاذبو او بېځایه خبرو محاله ده.

هُوَ الَّذِیْٓ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰى وَدِیْنِ الْحَقِّ لِیُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّیْنِ كُلِّهٖ

خدای پاک هغه ذات مقتدر دی چي استولی يې دی رسول خپل محمد ﷺ مراد له هدي څخه قرآن دی مبالغةً چي په هغه کي لاربښونه ده یعني بیان د حق او باطل په عقائدو او عملیاتو او په اقوالو کي کما في قوله تعالی "یا ایها الذین آمنوا لاتقولوا راعنا وقولوا انظرنا" او بیان د حلال او حرام او فرائض او واجبات وسائر الاحکام او له دین الحق څخه اسلام مراد دی.

دروبش وایي: چي ددې آیت دوه تفسیره دي یو مروي دی له ابن عباس رضی الله عنهما څخه هغه وایي چي ضمیر منصوب په لیظهره کي راجع دی الی رسول الله ﷺ، نو يې معنا داده چي خدای ﷻ مطلع کړی رسول پر دین یعني پر شرائعو د اسلام توله چي پوشیده به پرېږدي پر علیه الصلوٰة والسلام هیڅ شی د دین اسلام له احکامو څخه. او بعض مفسرین رحمهم الله وایي چي ضمیر مذکور راجع دی ودین الحق ته، فالمعنی چي غالبه ګرځوي دین الحق پر تولو ادیانو یعني د اسلام په راتلو سره يې توله ادیان منسوخ کړی.

پوه سه: چي الف ولام لپاره د جنس دی او کله يې تاکید دی، او بعض الناس وایي په عبارت کي مضاف محذوف دی ای علی اهل الادیان، بغوي او ضحاک له ابو هریره رضی الله عنه څخه وایي چي دا غلبه د اهل د دین حق پر اهل د تولو ادیانو هلته ده چي عیسی علیه السلام له اسمانو څخه راکښته سي، نو په هغه وخت کي به د نړۍ توله خلګ په دین کي د اسلام داخل سي طوعاً وکرهاً، او په حدیث مروي کي د ابو هریره رضی الله عنه راغلي دي چي علیه الصلوٰة والسلام وویل چي هلاک به سي په زمانه کي د عیسی علیه السلام تول ملتونه الا الاسلام، او څوک چي مضاف محذوف بولي هغه معنا هم صحیح ده په اعتبار د اغلب اوقاتو، او دا وعده هم خدای پاک پر خای

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړې ده ولي چې د علیه الصلوٰة والسلام په زمانه کې چې ده مبارک هر ځای غزا کړې ده علیه الصلوٰة والسلام غالب راغلی دی، په بدر کې په درې سوه دیارلس کسه سره غالبه سو پر تخمیناً یو زر کافرانو باندې، او داغه رنګه پر بني نضیر او بني قریضه وو غالب راغلی، او د حنین او هوازن په غزا کې هم غالب سوی دی، او داغه رنګه په فتح کې د مکې، و په غزوة تبوک وغیرها من المشاهد.

سوال: په احد کې علیه الصلوٰة والسلام نه سو بلکې اوویا کسه عمده مسلمانان شهیدان سوه؟

ځواب: د احد د غزا تفصیل چې تاس مطالعه کړئ کفار د مکې د ابو سفیان په مشرتوب شکست وخوړی حتی چې یو صحابي ﷺ وایي چې ما ولیدلې د قریشو ښځې چې ابو سفیان په فوج کې راوستلي وې "یشتددن في الجبل رافعات ازرهن" څغاستې په غره کې پورته کړي یې وې خپلې پایځې لکن چونکه مسلمانان پر جمع کولو د غنیمتو سره تول سول او هغه اوویا (۷۰) کسه په مشرۍ د عبدالله بن جبیر ﷺ چې علیه الصلوة والسلام ګمارلي وه او تاکیداً یې ورته ویلي وه چې تاسي به دا مرکز نه پرېږدئ که موږ غالب سو او که مغلوب سو تر څو ما سرې نه وي دراستولئ، هغو چې د کفارو شکست او د مسلمانانو غلبه یې ولیدل سره ناري یې کړې یا قوم الغنیمة، هر څه چې عبدالله ﷺ دوی منع کوله له پرې ښوولو څخه د مرکز خو دوی نه ومنل، نور توله راشوه سوه څورلس کسه پاته سوه حتی چې خالد بن الولید چې په هغه وخت کې مسلمان سوی نه ؤ سره د دوو سوو کسو پر هغه دره راغلی او هغه څورلس کسه یې هورې شهیدان کړل او د جنګ اوضاع پر عکس سول.

دروښ وایي: چې دې پوره تفصیل د احد د غزا دمخه تېر سوی دی په دې تفسیر کې مطالعه یې کړئ، او داغه رنګه په زمانو کې د خلافت د خلفای راشدینو ﷺ خصوصاً په زمانه کې د عمر ﷺ د خلافت همېشه فتح او ظفر په غزواتو کې په برخه د مسلمانانو ؤ کما في کتب التواریخ الاسلامیة، لکن رفته رفته په مرور د زمانو د مسلمانانو صبر پر سختیو د غزواتو او همت او توکل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

علی الله یې مخ پر کمپدو سو، نو د کفارو که انګریزان دي که مشرکان د هند دي که یهودان د بیت المقدس دي او که امریکایان او که روسان دي غلبه یې شروع کړه چي د پر دول الاسلامیه یې د مسلمانانو له لاسه وه ایستل چي ژوندي مثالونه یې خلګو ته معلوم دي بیان ته یې ضرورت نسته، او د مسلمانانو د مشرانو زړونه له محبت څخه د چوکۍ او د ریاست ډک سوه حتی چي ده ته ریاست او چوکۍ رسېږي که په زرهاؤ بې وزلي او بېچارې نر او ښځي او کوچنیان مري دی باک نه په کوي،

او داغه رنګه د همسایه مملکتو د مسلمانانو په منځ کي هم چشمې او باطني بدنیتي موجوده ده او د بل په مملکت کي لاس وهنه کوي تخریب کاري کوي، او داغه رنګه د مسلمانانو په زړو کي د ډالرو، پونډو او د کالدارو محبت تر ډېره حده پیدا سوی دی حتی چي له عوامو څخه یې وخواصو ته هم تجاوز کړی دی، نو په داسي ماحول کي به چېرې مسلمانان د اسلام او یووالي بیرغ پورته کړي او غالبه به سي، او د خدای پاک وعده د نصر او فتح مشروط په شرط د کمال ایمان ده "وانتم الاعلون ان کنتم مؤمنین" ای مؤمنون حق الایمان والتوکل، په حدیث شریف کي چي روایت یې مسلم کړی دی راغلي دي چي عائشه رضي الله عنها وایي "سمعت رسول الله ﷺ یقول لایذهب اللیل والنهار" شپه او ورځ به نه سي ورکه یعني اسمانونه، لمر او سپوږمی به پر ځای پاته وي چي عبادت د لات او عزی به بیرته کېږي، عائشه رضي الله عنها وایي چي ما و علیه الصلوٰة والسلام ته وویل چي زما خو ګمان دا وو چي څه وخت چي دا آیت خدای ﷻ نازل کړی "هو الذي ارسل رسوله بالهدی ودین الحق لیظهره علی الدین کله ولو کره المشرکون" چي دین اسلام پایه تکمیل ته ورسېدی، نو علیه الصلوٰة والسلام راته وویل چي داغسي به وي ماشاً الله ثم یبعث الله ریحاً طیبة فتوفی من کان في قلبه مثقال خردل من ایمان فیبقی من لا خیر فیه فیرجعون الی دین آبائهم یعني الشرک وعبادة اللات والعزی" او حسن بصري رحمه الله د مذکوره آیت داسي ترجمه کوي لیظهره علی الدین کله بالحجج الظاهرة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې دا کار جاري دی في الحالة الراهنة والله اعلم باحوال اهل الارض الآتية.

وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ ﴿٣٣﴾

که څه هم دا حالت چې دين د عليه الصلوٰة والسلام دی غالب سي پر ټولو اديانو مکروه بولي مشرکان، يعني ددوی دا غلبه نه ده خوښه لکن علی زعم انفسهم به دا کار کېږي.

دروښ وايي: چې محمد بن ادريس الشافعي رحمه الله ددې آيت يو ډېر زېبا او په زړه پورې تفسير کړی دی، دی وايي لقد اظهر الله رسوله علی الاديان التي حوله ﷺ بان ابان لکل من سمع انه الحق وما خالفه باطل، وقال الشافعي رحمه الله بان جماع الکفر دينان دين اهل الکتاب ودين الاميين فقهر رسول الله ﷺ الاميين حتی دانوبالاسلام طوعاً وقتل اهل الکتاب وسبی حتی دان بعضهم بالاسلام واعطی بعضهم الجزية صاغرين وجری عليهم حکمه ﷺ فهذا ظهور دينه علی الدين کله وهذه الآية کالبيان لقوله تعالی ويأبا الله الا ان يتم نوره.

دروښ وايي: چې پر دې تفسير هيڅ سوال وجواب ته ضرورت نسته کما في التفسير السابق کما علمت، وهذا التفسير للشافعي رحمه الله حاصله ماقال بعض المفسرين ليظهر علی الاديان التي حوله ﷺ من مشرکی مکة ويهود المدينة ومن حولها فيغلبهم وکان کذالک.

د امام شافعي رحمه الله د قول لغات "حوله" يعني د عليه الصلوٰة والسلام شاوخوا من مشرکی مکة ويهود المدينة "ابان" چې خدای جل جلاله ښکاره کړه په دلائلو او معجزاتو سره "جماع الکفر" يعني ټوله کافران او اهل دين دوه قسمه دي "دين اهل الکتاب" يو دين دی د اهل کتابو چې يهود او نصاری دي "ودين الاميين" او بل دين د هغو کسانو چې هغه اميان وه يعني چې خط او کتابت يې نه وُزده وهم قريش مکة "فقهر" عليه الصلوٰة والسلام مغلوبه کړل اميين په فتح سره د مکې "دانوا" چې دوی دين داري مختاره کړه د اسلام په خپله خوښه سره چې د "عوطاً" تفسير دی.

پوه سه: چې هغه بل قسم اميين چې طوعاً ايمان نه کړی قبول محذوف دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يعني قتلهم هغه يې ووژل لکه ابو جهل سره د اوويا کسانو په بدر کې "وسبى" يعني بنځې او اولادونه يې په مينځتوب او مريي توب ځني بوتلله "حتى دان" چې دين د اسلام مختاره کړی بعض اهل کتابو لکه عبدالله بن سلام او دده قريبان ﷺ "الجزية" سري غم يعني د سرماليه لکه يهود د خيبر "صاغرين" معنى ذليلين په ورکړه کې د جزيه "فهذا" دغه دی ظهور د دين د عليه الصلوٰة والسلام پر تولو دينو.

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ كَثِيرًا مِّنَ الْأَحْبَارِ وَالرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ

اې هغه کسانو چې ايمان يې راوړی دی، ډېر له ملايانو ځخه د اهل کتابو او ډېر له صوفيانو ځخه د نصاری وو، دوی خوړل د خلګو مالونه په باطله طريقه، يا خو يې د خلګو پر احکامو رشوت غوښتی کقضاة الزمان الحاضر، که د قاضي شرعي په نوم يادېږي او که جج په انګريزي يادېږي چې دوی اګرچه صاحب الحق په مدعي او مدعى کې پېژني لکن بېله رشوته حق و حقدار ته نه ورکوي "ويصدون آه" او منع کوي عوام خپل له لاري حق ځخه د خدای چې دين حق د محمد ﷺ دی، دا ورته وايي چې دی نبي موعود في التوراة في اخير الزمان نه دی او دوی و خپلو عوامو ته هغه ددوی په لاس نوشته خرافات وربنکاره کوي يشترون بآيات الله ثمناً قليلاً الا ساً مايشترون.

پوه سه: چې مذکور که ځه هم په آيت کې اکل دی لکن مراد ځنډي مطلق نفع ده که اکل وي او که لبس وي او که رکوب وي الى غير ذالک من انواع النفع وخص الاکل لانه اعظم منافع الاخذ، د بلاغاتو ځخه د زمخشري دي دا دوه شعرونه

قضات زماننا صاروا لصوصاً..... عموماً في القضايا لاخصوصاً
نخاف منهموا لو صافحونا..... للصوا من خوا ترها فصوصاً

ولهذا ورد في الحديث النبوي، قاضيان في النار وقاض في الجنة كمامر تفصيله ومثاله، او د يهودانو ملايانو او د نصاری وو صوفيانو کلام التوراة والانجيل ته تغيير ورکاوه او له خپله ځانه ځخه يې شی نوشته کاوه ويقولون

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هذا من عند الله، او دغه نعوت د آنحضرت ﷺ چي ددوی په کتابو کي وه دوی تغير ورکاوه خوفاً على ذهاب رياستهم على العوام وما ياخذون من العوام من الصدقات وغيرها لو بينوا حقيقة الامر وهو نبوة رسول الله ﷺ.

وَالَّذِيْنَ يَكْنِزُوْنَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ

او هغه کسان چي خزانه او جمع کوي سره زر او سپين زر.

دروښ وايي: چي مظهري رحمه الله وايي چي ظاهره داده چي مراد په موصول سره احبار او رهبان دي آه، شايد دی په دې سبب دا وايي چي کلام په ذم کي ددوی وُنو په دې کي مبالغه په ذم کي ددوی چي سره د ماسبق في ذمهم من اخذ الرشوة وغيرها کمامر عن قريب وصفهم بالحرص على جمع الذهب والفضة آه، او حرص د دنيا د لويو جرائمو څخه دی ځکه پينتانه وايي حب الدنيا سر د خطا، او يا مسلمانان مراد دي، ولي ذکر د مسلمانانو خو دمخه تپر سوی دی في الآيات السابقة، برسوي رحمه الله وايي چي حمل پر مسلمانانو انسب دی د وروسته آيت سره يعني ولاينفقونها آه، ولي چي متبادر له نفي څخه خو دادی چي دوی اهل د انفاق دي في سبيل الله وهم المسلمون دون الاحبار والرهبنا.

تفريع: نو پر دې تقدير د مسلمانانو زکوة خورو لوی ذم دی چي د احبارو او رهبانو سره يې يو ځای ذکر کړل.

دروښ وايي: چي زما په نيز مختاره داده چي له موصول څخه دي معنا عام مراد وي، احبار او رهبان دي سر فهرست پکښې داخل وي واليه ذهب بعض المحققين.

فائده: کنز په لغت کي جمع ته وايي فالمعنى في الآية يجمعون ويحفظون الذهب والفضة خواه په مځکه کي ښخ کړي لکه د پخوا خلګو به داغسي کول، او يا يې په بانک کي تحويل کړي يا سود پر اخلي يا نه، لکه په اوسنۍ زمانه کي چي قائم مقام د سرو زرو نوټونه د امريکايانو دالر دي يا نوټونه د کويټ دي وغيرهما من الممالک او قائم مقام د سپينو زرو نوټونه د پاکستاني روپو دي يا د افغانستان د افغانيو دي وغيرهما.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: ذهب چي ذهب بولي له دې سببه انه يذهب ولا يبقى مع المالک ابداً او سپين زر چي فضه بولي لانها تتفرق ولا تبقى.

تفريع: ددې ددو نقودو له نومانو څخه دا معلومه سوه چي دا دوه شيه بې بقا دي سړي دي زړه نه پوري پيوندوي.

وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ

او نه يې مصرف کوي په لاره کي د خدای ﷻ.

پوښتنه: ذهب او فضه خو دوه لفظه دي، نو ضمير د تثنيه يعني هما به ښه وای؟

ځواب: ضمير د مؤنث ضمير مفرد د مؤنث راجع و لفظ ته د ذهب او فضه نه دی بلکې ومعنا ته ددوی دوو دی يعني الدنانير والدراهم، او يا ضمير راجع دی وکنوز ته چي د کنز له لفظ څخه وفهمېدی.

دروښ وايي: چي د آيت ظاهر خو دادی مافضل عن حاجة الشخص ينفق جميعاً في سبيل الله، والی هذا ذهب اوبوذر الغفاري ﷺ لکن قوله متروک باجماع الصحابة ﷺ فلا بد من تقدير كلمة من التبعيضية ای لاينفقون منها ای لايؤدون ذكاتها هذا ماذهب اليه صاحب روح البيان او دليل يې دادی چي په بل آيت کي داسي راغلي دي "خذ من اموالهم صدقة" ولې چي په دې صدقه سره خو زکات بالاجماع ثابت دی، او بل دليل يې دادی چي په صحيح حديث کي راغلي دي "في مائة دراهم خمسة دراهم، وفي عشرين مثقال من الذهب نصف مثقال" نو کله واجب انفاق الکل وای، نو ددې تقدير په پينځه درهم به ۲۰۰ کي او نصف مثقال به په شل مثقال کي نو څه معنی به وای کذا في تفسير الحدادي، او صاحب د روح المعاني يې هم تفسير په زکوة سره کړی دی دليل يې دا ويلی دی چي دا آيت چي نازل سو پر اصحابو د عليه الصلوٰة والسلام سخت پرېوتل په دې سبب چي ظاهر خو يې انفاق الکل دی، نو عمر ﷺ وويل چي ددې مشکل حل به زه درته وکړم، نو عمر ﷺ و عليه الصلوٰة والسلام ته ورغلی فقال يا نبي الله کبر علی اصحابک هذه الآية يعني چي ظاهر يې انفاق الکل دی، فقال عليه الصلوٰة والسلام ان الله لم يفرض الزکوة الا ليطيب مابقی من اموالکم روی هذا الحديث ابن عباس ﷺ او دغه رنګه طبراني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او بيهقي وغيرهما د ابن عمر رضي الله عنهما څخه وراپت کړی دی قال قال رسول الله ﷺ ما ادی زکوته" هغه مال چې زکوة يې ورکړل سي هغه مال کنز نه دی يعني هغه کنز چې وعيد پر راغلی دی يعني قوله تعالى والذين يكنزون آه" ولي وعيد خو پر هغه مال دی چې انفاق په لاره کې د خدای ﷻ نه ځني کېږي فيما امر الله به له دې څخه خو وسو يعني زکوة يې ورکړل سو، نو له دې حديث څخه هم دا معلوميږي چې له انفاق في سبيل الله څخه زکوة مراد دی. او بعض علماً وايي چې انفاق الكل هغه واجب وُ چې زکوة نه وُ نازل سوی.

دروښ وايي: چې وهو قول لا يعبأ به ولي چې دا قول خلاف دی له حديث څخه د ابن عباس عن عمر رضي الله عنهم الذي مر قريباً.

سوال: زکوة خو په نورو اموال ظاهره وو کې هم وُ لکه عروض د تجارت، نو تحقيق د ذهب او فضه يې ولي وکړی؟

ځواب: ذهب او فضه ثمن د نورو شيانو دي ځکه عروض التجارة په ذهب او فضه سره اندازه کېږي، نو د هر يوه نصاب ته چې ورسېدی په هغه اندازه زکوة پکښې سته، او ذهب او فضه په نورو شيانو نه اندازه کېږي ولي چې دوی خپل نصاب لري.

سوال: زکوة خو په اوښانو، پسو وغيره کې هم سته او هغه هر يو خپل خپل نصاب لري او په ذهب او فضه سره هم نه اندازه کېږي، فما وجه عدم ذكر زكوتها؟

ځواب: جمع کول او پټول خو د اموال باطنه وو کېږي چې ذهب او فضه دي دون الاموال الظاهرة كالابل والغنم، فلهذا خص كنز الذهب والفضة بالوعيد، او بله دا خبره ده چې اموال په ښارو کې ذهب او فضه دي فلذا ذكر حالهما فافهم.

مسئله: که سړي سره زر او سپين زر دواړه درلوده او هر يو انفرداً خپل نصاب ته نه رسېدی، نو دواړه دي سره جمع کړي د زکوة لپاره لکن په ضم کې اختلاف دی، امام اعظم رحمه الله وايي چې په قيمت دي سره ضم سي ياران وايي چې په اجزاوُ دي سره ضم سي، مثلاً يو سړي لس مثقاله سره زر درلوده او سل درهمه زکوة پر واجب دی اجماعاً بين الامام وصاحبيه لانهما بحسب الاجزا كل واحد منهما نصف نصابه فيوُدی نصف زكوة كل واحد منهما وكذا عشرة مثاقيل ذهب اذا قوم بالدراهم يبلغ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الی نصاب الدراهم فیضم مع المائة ویعطی زکوة الکل من الدراهم، او که چېرې یو سړي سل درهمه درلوده او پینځه مثال سره زر یې درلوده چې قیمت یې سل درهمه و یا بالا یعتبر نصاب الفضة ویجب زکوتها عند ابی حنیفة رحمه الله دون صاحبیه رحمهما الله ولهذه المسائل امثال کثیرة في الفقة وهذا لیس موضع بیان تلک المسائل.

دروښ وایي: چې افضله به دا وي چې انفاق عام دی که زکوة مفروضه وي که صدقه نافله وي او که نفقات واجبه وي لکه نفقه د مور او پلار چې عاجزه وي پر زوی باندې بلکې هر انفاق چې في سبیل الله او في طاعة الله وي لکه انفاق د ابن السبیل وغیره حتی علی زوجته واهل بیته من الاولاد، عن ابن مسعود رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ اذا انفق المسلم علی اهله وهو یحتسبها کانت له صدقة" متفق علیه، وعن ابي هریرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ یو دینار چې ته یې نفقه کړې في سبیل الله یعني یو مسکین ته یې ورکړې، او بل دینار چې نفقه یې کړې في رقبة یعني د یو مکاتب مرنیې په کتابت کې او بل دینار چې نه یې نفقه کړې پر خپل اهل او عیال باندې اعظمهما اجراً الذي انفقتها علی اهلک" هغه لوی دی له دغو دینارو څخه په ثواب کې د هغه دینار چې پر اهل دي نفقه کړی، مسلم

فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣٤﴾

زېرې وکړئ ودوی ته په عذاب دردناک سره.

پوه سه: چې دا جمله خبر ده د موصول یعني والذین یکنزون آه وذکر البشارة تهکم بهم ودخول الفا لتضمن الموصول معنی الشرط کمامر مراراً.

پوه سه: چې مظهري رحمه الله ضمیر هم راجع بولي ودواړو فریقو ته یعني الذین یاکلون اموال الناس بالباطل کالاحبار والرهبان، او والذین یکنزون الذهب آه لکن که څه هم مظهري انفاق عام کړی ؤ فرضي کالزکوة او واجب النفقات او نفلي کالصدقات النفلیة لکن بشارت د عذاب الیم بناً پر ترک د فرضي زکوة دی، نو معنی د لاینفقونها الایة لاینفقونها اصلاً لا الفرضي ولاغیره، ولي چې ورکونکي د زکوة فرضي او د نورو تارک مستحق د بشارت د عذاب الیم نه دی وعلیه انعقد الاجماع ویدل علیه الاحادیث المتواترة المعنی، بغوي رحمه الله وایي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي ابن عمر رضي الله عنهما وايي چي زه په دې باک نه کوم چي مالره په مثل د احد سره زر او ماته يې حساب معلوم وي او زکوة يې ورکوم يعني دې ته کنز الموعد عليه نه وای، او د علي بن ابي طالب رضي الله عنه څخه روايت دی چي صحيح کتابو هم راوړی دی وايي کل مال زاد على اربعة الاف درهم فهي كنز اديت فيه الزكوة املا و مادونها نفقة، وقيل ما فضلت عن الحاجة كنز وعمل العلماً من قديم الزمان الى الآن بحديث ابن عمر رضي الله عنهما الذي مر قريباً.

يَوْمَ يُحْمٰى عَلَيْهَا فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ

پوه سه: چي "يوم" منصوب دی ظرف د عذاب دی په هغه ورځ چي سخت تود والی راوستل سي پر دغو دراهمو او دنانيرو يا کنوز باندې، په اور کي د دوزخ نو يحمى چي مجهوله صيغه ده مسند ده و جار او مجرور ته يعني عليها في نار جهنم ظرف ذی د يحمى، مظهري وايي ای ديخل النار فيوقد النار عليها.

دروېش وايي: چي ترجمه د عليها د ضمير په دنانير وغيره کول لپاره د مراعات د تانيث او افراد دی کمامر.

فَتُكْوٰى بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوْبُهُمْ وَظُهُوْرُهُمْ ؕ

نو داغ کول په هغو تودو في نار جهنم دراهمو او دنانيرو سره تندیان ددوی او بغلونه ددوی او شاوي ددوی داغ کېږي، والمقصود في ذكر هذه الثلثة شمول الكية لابد انهم من جميع الجهات، بعض مفسرين تخصيص د دغو درو اعضاوو داسي بيان کړی دی چي زکوة خور غني بخيل ته يو فقير لپاره د زکوة راسي اول خو به غني بخيل تندی ورته تريو کړی که هغه فقير په طلب کي د زکوة ورته ټينګ سي چي په عربي يې الحاج بولي، باره بخيل بغل وروګرځوي مخ بلي خوا ته څني اړوي، او که نور هم په طلب د زکوة فقير وغني ته ټينګ سي بخيل څني ولاړ سي شابه وروګرځوي، او يا سبب د تخصيص يې دادی چي دغه درې اعضاً اشرف د اعضاً ظاهره وو دي چي تر تندي لاندي دماغ دی او تر بغلو لاندي زړه، هينه، سږی وغيرها دي، او تر شا لاندي د ملا لوی هډوکی دی چي حرام پکښې دي، او ددغو درو ځايو سونګ ټوله بدن ته شمول کوي والله اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنفُسِكُمْ

دا هغه مال دی یعني ذهب او فضه چي تاسي جمع کړي او انفاق في سبیل الله مو نه ځني کاوه لپاره د نفع ستاسي د ځانو او هغه مال تاسي ته ځن ضرر وګرځېدی حتی چي تکوی آه.

پوه سه: چي دا جمله حال ده په تقدیر د قول له ضمیر څخه د هم یعني مقولاً لهم هذا المال ما کنزتم آه مقصود په دې قول کي توبیخ دی ددوی.

فَذُوقُوا مَا كُنتُمْ تَكْنِزُونَ ۝

ملائکه به ورته ووایي چي اوس نو تاسي برداشتوئ بحذف المضاف یعني عذاب ماکنتم تکنزونه بحذف العائد الی الموصول، له ابو هریره ﷺ څخه روایت دی چي مسلم په خپل صحیح کي راوړی دی قال رسول الله ﷺ ما من صاحب ذهب ولا فضة لا یؤدی حقها الا اذا کانت یوم القیامة صفحت له صفائح من النار فاحمی علیها في نار جهنم فتکوی بها جنبه وجبینه وظهره ردت اعیدت له في الیوم الذي کان مقداره خمسین الف سنة حتی یقضی بین العباد فیری سبیله اما الی الجنة او الی النار

چي په دنیا کي یې حق نه وي ورکړی یعني الزکوة المفروضة والنفقة الواجبة رسول الله ﷺ وویل چي دغه ذهب او فضه به تختې سي د اور او په اور کي د جهنم به تودې سي، نو به داغ کول کېږي په هغو ګرمو تختو بغل دده او تندی دده او شا دده هر وخت چي دا تختې پای ته ورسېږي بیرته به یې د سره پر راوګرځوي په هغه ورځ کي چي مقدار یې پینځوس زره کاله دی، تر هغو پورې چي خدای پاک فیصله کوي په منځ کي د بندګانو، نو بیا به دغه سړی وینې لار خپله یا وجنت ته یا و اور ته.

دروښ وایي: چي دا حدیث دېر اوږد دی په دې حدیث کي زکوة د اوښانو چي زکوة یې نه وي ورکړی په دنیا کي یې هم عذاب مذکور دی او د غویو او پسو چي زکوة یې په دنیا کي نه وي ورکړی د هغه مالک د عذاب بحث هم مذکور دی اختصاراً، دروښ پرېښو له جهته د اکتفاً بما هو الاکثر وهو الذهب والفضة ولنعم ماقیل:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مردمان غافلند از عقبی ..... همه گویا بخفتگان مانند
ضرر غفلتی که می ورزند ..... چون بمیرند آن گهی دانند
یکدرم کان دهی بدرویشی ..... بهتر از گنجهای مد خراند
زانچه داری تمتعی بردار ..... کآن روزی دگر کسی داند

فائده: پوه سه چې زکوة شکر د نعمت د مال دی، او لمونځ، روژه او حج شکر د نعمت د اعضاؤ د بدن دی، له دې سببه د څانښت لمونځ شکر دی د نعمت د دریې سوه شپیته (۳۶۰) بندو د انسان په بدن کې.

فائده: د څانښت د لمانځه وخت متصل د لمر ختو سره نه دی، هغه ته صلوة الاشراق وایي، بلکې د څانښت د لمانځه وخت دا دی چې لمر بنه ډېر راپورته سي یعني نژدې د غرمې وخوا ته بالتجربة، مشائخ وایي که څوک د څانښت لمانځه ته دوام ورکړي په دې ډول چې په اول رکعت کې وروسته تر الحمدلله سورة والشمس والضحها ووایي، او په دویم رکعت کې وروسته تر الحمدالله سورة والليل اذا يغشى الخ ووایي وروسته کښېني او تر التحیات وروسته اللهم صل آه ووایي کما هو القانون الشرعي في جملة النوافل الرباعية، وروسته ولاړ سي درېیم رکعت ته او سبحان اللهم آه ووایي کما هو الحكم في جميع النوافل الرباعية په درېیم رکعت کې وروسته تر فاتحې والضحی آه ووایي، او په څلورم رکعت کې وروسته تر فاتحة الكتاب سورة الم نشرح آه ووایي نو خدای ﷻ به دده دریې سوه شپیته مفاصل روغ رمټ وساتي، او که فقیر وي خدای ﷻ بې غنې کړي، فلا تترک ايها الاخ العزيز هذه الصلوة السهلة الكثيرة الاجرة ومن الله التوفيق.

مسئله: د زکوة په ورکړه کې افضل څوک د سړي خپل وروڼه دي چې اغنیاً نه وي لانه لايجوز دفع الزكوة الى غني مطلقاً، وروسته افضل اکاګان دي بالشرط المذکور، وروسته بیا ماماګان دي وروسته بیا ذوی الارحام دي، وروسته بیا همسایه ګان دي وروسته بیا د محلې مسکینان دي، اهل ذمه وو ته زکوة نه دی روا، د غنې سړي ماینې ته زکوة نه دی روا ولا زکوة للمزکی یعني چې پر سړي پخپله زکوة فرض وي یعني وغنې ته د بل چا زکوة نه دی روا، او چې د سړي اولاد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وي که بالذات وي او که بالواسطه وي که نر وي او که ښځي زکوة نه دی ورته روا.
او یوسړي ته چې د سړي مریی نه وي زکوة په دې سبب ورکول چې دی به باره زما خدمت کوي دا زکوة لله نه دی ثواب نه لري که څه هم د زکوة غاړې په خلاصېږي.

دروښ وایي: چې د زکوة مسئلې او د مصارفو بیان یې ښې ډېر دی چې ځای یې د فقهي شریفي کتابونه دي، که عوام غواړي چې پښتو خط ویلای سي ځانونه په دې ټولو مسئلو خبر کړي لکه د لمانځه، نکاح، روژې او د حج مسئلې نو دي دري مجلده قدوري چې دروښ په پښتو وطني ژبه ترجمه کړې ده او دري جلده نور الایضاح چې هم په پښتو ده او شروط الصلوة چې هم په پښتو دی، او که د عقائدو په څانګه کې معلومات غواړي، نو نور الظلم پښتو او ابو المنتهی پښتو چې دا ټوله کتابونه کورني استاذان دي د نر او ښځې لپاره صرف چې پښتو خط ویلای سي، نو که څوک غواړي چې ښه ځان پوه کړي نو دغه کتابونه دي مطالعه کړي، او زما د دې ټولو کتابو د رانیولو مرکز مکتبة القراۃ کاسي روډ د قاري فضل الحق صاحب او د قاري حبیب الحق په نامه او که د قرآن مبارک ترجمه په پښتو مورنی ژبه څوک غواړي هم په نومورې مکتبه کې دستیاب کېږي والله الموفق والمعین.

إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِندَ اللَّهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِي كِتَابِ اللَّهِ

په تحقیق شمېر د میاشتو چې په شریعت کې اعتبار لري لکه حج او روژه په نېز د خدای ﷻ دوولس میاشتي دي په کتاب کې د خدای ﷻ، یعني په لوح محفوظ کې او یا په حکم کې د خدای ﷻ "في کتاب الله" د "اثنی عشر" صفت دی.

دروښ وایي: چې ما د شریعت قید ووایه سبب یې دادی چې شهر دوه قسمه دی شهر قمري چې سپوږمۍ اول پر اسمان ولیدل سوه بیا تر بلې پلا تر لیدلو پورې، نو دوولس دغه میاشتي چې تېرې سي هغه ته قمري کال وایي مبنی د شرعي د کارو پر دغو میاشتو ده، او سنه د هجرت نبوي ﷺ ومدینې ته چې هم دا اوس سنه ۱۴۲۸ ه ده هم دغه قمري کلونه دي، او بل شمسي میاشتي بولي چې منطقة البروج چې پر دوولس متساوي ووېشې هغه ته بروج وایي، نو چې لمر له یوه برج څخه وبل برج ته وزي یوه شمسي میاشت پوره کېږي، د میاشتو نومان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يې حمل، ثور جوزا، سرطان وغيره دي او چې دوولس شمسي مياشتي تېرې سي، نو يو شمسي کال پوره کېږي، او تفاوت د شمسي او قمري کال نهه ورځې او يوه ربع يوم دی يعني شمسي کال تر قمري کال بالا دی يعني قمري کال په مذکوره اندازه دمخه تر شمسي کال پوره کېږي والتفصيل في کتب الرياضي.

يَوْمَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

له هغه ورځې خدای ﷻ پيدا کړه اسمانونه او مځکه، والحاصل ان المعتبر عند الله للصوم والحج والزکوة تلک الاشهر الهلالية چې مبلغ يې خدای پاک دوولس وښووی لامزيد عليها، يوه په هغو کې د روژې مياشت ده چې د رمضان د روژې مياشت ورته ويل کېږي او درې مياشتي تخميناً وتقريباً د حج لپاره دي چې شوال او ذوالعقدة او لس ورځې د ذوالحجة دي.

فائده: د عربي هلالي مياشتو نومان دادي (۱) محرم يعني حسن حسين مياشت (۲) صفر (۳) ربيع الاول چې د پسرلي اوله مياشت ده (۴) ربيع الثاني (۵) جمادی الاول (۶) جمادی الثاني (۷) رجب (۸) شعبان (۹) رمضان (۱۰) شوال (۱۱) ذوالقعدة (۱۲) ذوالحجة، دوولس مياشتي پوره سوې او په پښتو نومانو يې هر پښتون خبر دی.

پوه سه: چې د زکوة لپاره دوولس مياشتي وخت دی په شرع شريفه کې که څه هم افضله مياشت يې د روژې ده لان لفضيلة الوقت تاثير في فضيلة العبادة ولهذا جعل الله ﷻ عبادة ليلة القدر خير من عبادة الف شهر وهكذا الايام مثل يوم الجمعة سيد الايام.

مِنْهَآ اَرْبَعَةٌ حُرُمٌ

د دغو دوولسو مياشتو څخه څلور اشهر حرم بولي په دې سبب چې په دې مياشتو کې ابتداً د قتال د کفارو سره حرام دی، د ابتداً قيد يې د دې لپاره ووايه که چېرې کفار په دغو مياشتو کې شروع وکړي مسلمانانو ته يې مدافعت او جنګ روا دی، په دې څلورو مياشتو کې يوه د رجب مياشت ده چې په پښتو يې د خدای تعالی مياشت بولي او عرب ودې ته فرد وايي، او ذوالقعدة چې په پښتو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يې ميانۍ. بولي، او ذوالحجة چې په پښتو يې د لوی اختر مياشت بولي، او بله محرم چې په پښتو يې د حسن حسين مياشت بولي لشهادتهما رضي الله عنهما فيه. او عرب و دې درو مياشتو ته سرد وايي يعني پرله پسې.

ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ ۙ

يعني دغه اعتبار د اشهر هلاليه وو او دا چې دا مياشتي دوولس دي لا اقل ولا اكثر، دا دين مستقيم دی ملة ابرهيم حنيفاً. يعني په دې کې کمبود او بالابود په عباداتو مقرره وو کې په ددولسو مياشتو کې نه دی روا لکه نصاری وو چې د روژې مياشت چې په دوبي کې راغله دوی شل روژې پر بالا کړې پينځوس يې کړې لکن پسرلي ته يې واړول.

فَلَا تَظْلِمُوْا فِيْهِنَّ اَنْفُسَكُمْ

تاسي ظلم مه کوئ پر ځانو خپل.

پوه سه: چې بعض مفسرين وايي چې ضمير د "فيهن" راجع دی و تولو مياشتو ته د کال يعني لاتفعلوا المعصية في شئ منها فانها ظلم على نفسه لكن مظهري وايي چې ظاهره داده چې ضمير د "فيهن" راجع دی واشهر الحرم ته لقربها او كلمه د فاْ التفريعية هم تقاضی د تفريع پر قريب کوي فان النهي عن الظلم متفرع على كونها محرمة. فالمراد بالظلم هتك حرمتها والقتال فيها.

دروښ وايي: چې د مظهري رحمه الله ددې عبارت څخه دا معلومېږي چې حرمت د اشهر الحرم او منع د قتال فيها اوس پر ځای بولي لكن روح البيان او روح المعاني وايي والجمهور ان حرمة القتال فيهن منسوخة.

سوال: نو جمهور ددې آيت ترجمه څرنګه کوي؟

ځواب: دوی له ظلم څخه ارتکاب د معاصيو په دې دري ځلورو مياشتو مراد بولي.

سوال: ارتکاب د معاصيو په تولو مياشتو کې ظلم دی پر ځان، نو د تخصيص ددې مياشتو څه سبب دی؟

ځواب: نعم! لکن ارتکاب د معاصيو په دې ځلورو مياشتو کې اعظم دی از روی گناه تر نورو مياشتو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: ددې مثال چې ګناه بعض وخت اعظم وي تر بل وخت په شرع شریفه کې سته؟

ځواب: هو! ارتکاب د معاصیو په حرم کې یا په حال کې د احرام اعظم وزراً دی تر ګناه په غیر حرم کې یا په غیر کې د حال احرام، والحاصل ان هذه الآیة مسوقة لبیان ان الظلم فیها اغلظ من غیرها کانه قیل فلا تظلموا فیهن خصوصاً علی انفسکم لان الوزر والمعاصي فیها اعظم خطراً من غیرها کما في الحرم وحالة الاحرام.

دروښ وایي: والی هذا اشار قتادة رحمه الله بقوله العمل الصالح فیها اعظم اجراً یعني في الاشهر الحرم والظلم فیهن اعظم عقوبة فیما سواهن وان کان الظلم علی کل حال عظیماً انتهی.

دروښ وایي: چې مظهري رحمه الله قال ماقال بالظلم هتک حرمتها والقتال فیها یعني منسوخ یې نه بولي علی خلاف الجماهیر، وروسته یې د قتاده رحمه الله قول هم راوړی دی چې دال پر دې دی چې له ظلم ځخه نفس ګناه مراد ده، فجمع المظهري بین الضب والنون یعني سمساره او ماهی چې ددې جمع محاله ده والله سبحانه تعالی اعلم بمراده في کتابه.

پوښتنه: ستا شخصي رایه په دې اختلافي تفسیر کې د آیت مذکوره څه ده؟

ځواب: ستا سوال خو پر ځای دی لکن دروښ نه ځان مجتهد په مسائلو کې بولي او نه ځان له اصحاب الترجیح ځخه ګڼي، بیا هم تفسیر د روح البیان په زړه پورې او زړه پا دی، او روح المعاني ورسره شریک دي په دې تفسیر کې په ځو وجهو (۱) په تفسیر کې د روح البیان ددې آیت لپاره هیڅ تعارض نسته او په تفسیر کې د مظهري تعارض سته کمامر آنفاً.

(۲) صاحب د روح البیان مولنا ومولی الروم الشیخ اسماعیل حقي بروسوي اعلی کعباً دی او اغرز علماً دی تر مظهري المرحوم ثناء الله پاني پتي رحمه الله کما یظهر من مطالعة تفسیریهما.

(۳) صاحب د روح البیان پابند د مذهب حنیفي دی من اوله الی اخیره بخلاف المظهري فانه قد یمیل الی مذهب الشافعي رحمه الله فیما یقتفیه الاحادیث المرویة بظنه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(۴) روح البيان د امام اعظم رحمه الله د مذهب د دلائلو جواب نه وركوي بخلاف المظهري فانه قد يجيب عن دلائل المذهب الحنيفي في الاحاديث الشريفة.

سوال: په روح البيان كي ګاهي داسي غرائب راځي چې د منلو وړ نه وي؟

ځواب: هغه غرائب چې روح البيان يې ذكر كوي هغه پر سبيله د فرض دي او صرف لپاره د تمثيل دي او بل دا چې ورته غرائب خو په تفسير مظهري كي هم سته كمامر چې يوه قصه چې مظهري رحمه الله كړې وه او روح المعاني په شدت سره رد كړې وه.

(۵) روح البيان كه په خط د تفسير مظهري د كتاب نوشته سي تخميناً دېرش جلده لكه مجلدات د تفسير مظهري به ځندي جوړ سي، وما هذا الا لمزيد التحقيقات العلمية الفقهية والتدقيقات التصوفية في روح البيان.

وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِينَ كَآفَّةً كَمَا يُقَاتِلُونَكُمْ كَآفَّةً ۚ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ ﴿٣٦﴾

او جنګ يعني جهاد كوئ اې مؤمنانو د مشركانو سره تولـه يعني له يوه مخه لكه دوى چې جنګ كوي ستاسي سره له يوه مخه، او پوه سئ چې خداى پاك معاون دى د متقينو، نو معنا د معية معاونت دى او يا معيت بلا كيف دى، نو پر دې تقدير زيرى دى د مسلمانانو په كمال قرب سره د باري عزوجل او ضمانت دكومك په سبب د تقوى قاله البيضاوي رحمه الله.

دروبش وايي: چې مظهري له بغوي رحمه الله څخه نقل كړى دى چې د علماؤ اختلاف دى په حرمت كي د قتال په اشهر الحرم كي، بعض وايي چې ګناه ده په اشهر حرم كي ګناه كبيره وه او بيا يې حرمت منسوخ سو په دې آيت "وقاتلوا المشركين" فالمعنى عند هؤلاء قاتلوا المشركين په اشهر حرمو كي او په نورو مياشتو وهو قول قتادة وعطاء الخراساني والزهري والسفيان الثوري والجمهور كما نقلنا عن روح البيان وروح المعاني رحمهما الله قبل هذا. دليل يې دادى چې نبي كريم ﷺ د هوازنو غزا وكړه په حنين كي او د ثقيف غزا يې وكړه په طائف كي وحاصرهم في شوال من اشهر الحرم. وبعض ذى القعدة وهو ايضاً من الشهر الحرم انتهى قول البغوي رحمه الله، مظهري رحمه الله وايي وانت خبير بان قاتلوا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

المشركين اه لايصلح ناسخاً لقوله تعالى منها اربعة حرم الآية لانه متصل به ولا بد في النسخ من التراخي.

دروبش وايي: چي دا دوه آيت که څه هم په نظم کي د کلام سره متصل دي لکن په نزول کي به وقاتلوا آه وروسته وي عند هؤلاء الجماهير والمذكورين من العلماء المتبحرين والمفسرين المعتبرين كيف والا التصال في النظم لا يقتفى الاتصال في النزول كيف وفي قوله تعالى كك "وكلوا واشربوا حتى تبين لكم الخيط الابيض من الخيط الاسود من الفجر" فان قوله من الفجر متصل بما قبله في نظم القرآن ومتراخ عنه في النزول لکه ددې قصه چي بخاري وغيره په تفصيل سره بيان کړې ده، چي صحابه کرامو ﷺ به روژه نيوله نو چا به سپين تار چا به تور تار تر پښه غوټه کړی او چا به تر بالښت لاندي کړی، او تر هغو به يې خوراک او څښاک کاوه چي د دغو دوو تارو تميز په ورته کېدی، لکن چونکه دېره رڼا به سوه، نو خلګو په دې باره کي عليه الصلوٰة والسلام ته شکايت وکړی، نو عليه الصلوٰة والسلام ورته وويل چي د خيط الابيض او خيط الاسود څخه مراد هغه نه دی چي تاسي فهمولی ؤ، بلکې بيض الصبح مع غبش الليل فنزل قوله تعالى بعده من الفجر بياناً للخيط الابيض واكتفاً به من بيان الخيط الاسود، او بل دليل مظهري رحمه الله دا ويلی دی ولانه في قوله قاتلوا المشركين كافةً "لا عموم له من حيث الزمان حتى يصلح ناسخاً للحرمة الزمانية.

دروبش وايي: چي که څه هم په آيت مذکوره کي لفظ د في اي زمان نسته لكنه مفهوم منها عرفاً ومتبادر عنها كما لايخفى والحمل على المتعارف المتبادر لازم عند كافة العلماء، او بيا مظهري رحمه الله والتقدير بقوله فيهن وفي غيرهن لا دليل عليه.

دروبش وايي: چي مقصود د هغو کسانو چي وايي فيهن وغيرهن تقدير عبارة القرآن نه دی كما فهمه المظهري رحمه الله بل بيان مفهومه المتبادر كما قلنا سابقاً، بيا مظهري رحمه الله ويلي دي لو صح حديث القتال في ذى القعدة فحديث الآحاد لايصلح ناسخاً للكتاب آه.

دروبش وايي: چي جمهور او نوموړي علماء رحمهم الله دعوه ددې نه کوي چي ناسخ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د حرمت د اشهر حرم دا حدیث دی، بلکې د دوی په نهز ناسخ قوله تعالی دی "وقاتلوا" او حدیث مذکوره صرف د تائید لپاره دی، وروسته مظهري رحمه الله دا پر تفریع کړې ده فالصحیح ماقال الآخرون انه غیر منسوخ. او ده ویلي دي چې ابن جریج رحمه الله وایي چې قسم بالله واخستی عطاً بن ابي رباح رحمه الله پر دې "مایحل للناس ان یغزوا في الحرم ولا في الاشهر الحرم الحدیث" دروښ وایي دا خو هم خبر واحد دی، نو رافع د عموم د قوله تعالی "وقاتلوا المشرکین کافة" څرنګه کېدای سي، دا وه دلائل د مظهري رحمه الله پر قول د بعض چې حرمت د اشهر حرم منسوخ نه بولي. او دا وه جوابات د عبد عاصي له جانبه د جمهورو او محققینو رحمهم الله له خوا وما توفیقي الا بالله، حرره هذه الاسطر في وقت الضحی من یوم السبت اخیر الیوم من شر رمضان سنه ۱۴۲۸ هـ ق.

إِنَّمَا النَّسِيٓءُ

دا مصدر دی د نساه ای اخره کالسعیر والحریق، وفي روح المعاني او النسئ کالنهي والنسئ کالبدء والنسأ کالندأ هم راغلی دی، او تولـه مصدرونه دي کالنسئ، او بعض مفسرین وایي چې نسیئ صفت دی لکه قتیل او جریح. لکن مصدر یې په مختاره دی لانه لایحتاج الی تقدیر بخلاف ما اذا کان صفة. ولي چې اخبار په زیادت سره نه دی پر روا الا بتقدیر مضاف ای انما نسأ النسیئ زیادة، روح المعاني وایي چې مذکورة الاوزان سره قرائت په قرآن کې ثابت دی.

پوه سه: چې حسین کاشفي رحمه الله په تفسیر حسیني کې وایي. که طباع اهل جاهلیت بقتل وغارت مستانس شده بود، ودر ماههای حرام قتال وغارت نمیکردند وچون سه ماه حرام متصل بود به تنگ می آمدند پس میگفتند که ما سه ماه پی درپی بې تاراج وغارت تحمل نداریم پس قلمش نامی کنانی صورتی بر انگیخت ودرموسم حج ندأ کرد واستاده شد وخطبه خواند یامعشر العرب خدای عزوجل شمارا درین محرم حلال گردانید وحرمت اورا تاخیر کرد به ماه صفر مردمان قول اورا قبول کردند پس درین محرم بغارت گری مشغول شدند ودر ماه صفر او غارت گری امتناع ورزیدند، باز سال دیگر میگفت وندأ از هرسال چهار ماه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حرام می دانستند، اما اختصاص اشهر حرم فرو گذرشته ای صرف مراعات عدد اختیار گردندی، واین عمل را نسیئ گفتندی حق تعالی فرمود انما النسیئ آه.

حاصل دادی چي عرب د جاهلیت په قول د قلمش صرف د څلورو میاشتو په حرمت په کال کي قائل وه لکن په خصوص د اشهر حرم یعني ذوالقعدة، ذوالحجة، محرم او رجب نه وه قائل. مطلب یې په دې کي دا ؤ چي په هره میاشت کي ددې څلورو میاشو چي ددوی به پر غارت او تاړاک او قتال چم جوړ سو د هغې میاشتي حرمت به یې وبلي میاشتیته واړاوه او په هغه میاشت کي به یې خپله غارت گري کوله.

پوه سه: چي بغوي په نقل د مظهري رحمهما الله تعالی وایي چي عربو په وخت کي د جاهلیت عقیده د تحریم د اشهر حرم درلوده، دوی دا د ابراهیم ﷺ ملت باله، نو دوې درې میاشتي پرله پسې تحریم سخت واقع کېدی، نو دوی به تحریم د یوې میاشتي څخه وبلي میاشتي ته اړاوه مثلاً له محرم څخه به یې وصفري ته اړاوه، نو په محرم کي به یې خپله غارت گري کوله، او که به یې بیا ضرورت غارت گری ته پیدا سو، له صفري څخه به یې ربیع الاول ته اړاوه، وهکذا شهر بعد شهر حتی استدار التحریم علی السنة کلها، نو وروسته چي اسلام او دین د علیه الصلوٰة والسلام منځ ته راغلی، نو تحریم بیرته ومحرم ته ورسېدی یعني کما وضعه الله ﷻ وذالک الرجوع بعد دهر طویل فخطب النبي ﷺ في حجة الوداع کما روی البخاري ومسلم عن ابی بکرة ﷺ چي علیه الصلوٰة والسلام خطبه وویل د لوی اختر په ورځ وقال ان الزمان قد استدار کهیئة یوم خلق السموات والارض السنة اثنا عشر شهراً، منها اربعة حرم ثلث متوالیات ذوالقعدة وذوالحجة والمحرم، ورجب مضر الذي بین الجمادي (یعني جمادی الثاني) وشعبان الی اخیر الحدیث الطویل.

پوه سه: چي د رجب اضافت یې مضر ته وکړی چي د یو قوم نوم دی لغایة تعظیمهم لذالک الشهر یعني رجب.

زِيَادَةٌ فِي الْكُفْرِ

یعني دا زیادت په کفر کي، ولي دوی خو کافران وه نسیئ یې بل کفر ورضم کړی، ولي چي تحریم د ما احل الله او یا تحلیل د ماحرمه الله کفر اخر زائد علی کفرهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يُضَلُّ بِهِ الَّذِينَ كَفَرُوا يُحِلُّونَهُ عَامًا وَيُحَرِّمُونَهُ عَامًا لِيُوَاطِئُوا

دوی گمراه کوي په دغه نسیئ سره کسان چي کافران دي یعني کفر یې نور ورزیاتوي، ورته حلالوي دوی یوه میاشت لکه محرم یو کال چي تحریم یې وصفري ته نقل کوي لاجل الغارات في المحرم او حرام بولي دوی یوه میاشت لکه مثلاً ربیع الاول او یا بیرته صفره للغرض المذکور.

پوه سه: چي ضمیر د یحلونه وتحرمونه راجع دی وشهر ته چي له نسیئ څخه وفهمیده لان النسیئ لم یکن الا في الشهر، او جمله د "یحلونه آه" تفسیر د ضلال دی "لیواطئوا" متعلق دی په "یحرمونه" پورې یا په دواړو فعلینو سره یعني دا کار چي دوی کوي فقط غرض یې دادی چي موافقت وکړي المواطات الموافقة.

عِدَّةَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ فَيُحِلُّوا مَا حَرَّمَ اللَّهُ

د عدت او حساب سره د ماحرم الله چي څلور میاشتي حرم دي، یعني صرف دوی حساب د څلورو میاشتو پوره کوی من غیر خصوصیة الاشهر المحرمة. نو دوی حلالوي هغه میاشت چي خدای ﷻ حرام کړې ده کالمحرم بنقل حرمتها الی صفر، ولي چي زیات نه سي عدد د اشهر الحرم پر څلور.

زُيِّنَ لَهُمْ سُوءُ أَعْمَالِهِمْ

ښائسته کړل سوي ودوی ته بد د عملو چي تحلیل الحرام دی وبالعکس، ابن عباس رضی الله عنهما وایي چي مراد دادی چي شیطان ودوی ته دا بد عمل ښه ښکاره کوي فحسبوا انهم یحسنون صنعاً.

دروښ وایي: چي مونږ مسلمانانو ته شیطان یوه عقیده یا فعل ښائسته کوي لکه معتزله وو ته اعتزال وسائر فرق الضلال یا شرب الخمر وبعض مسلمانانو ته وغیره.

وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ

او خدای ﷻ هدایت نه کوي و هغه قوم ته چي کافران وي یعني هدایة موصلة الی المطلوب لاختیارهم العمي عن الهدی.

دروښ وایي: چي دا خو د جاهلیت د زمانې د مشرکانو حال دی، راسئ چي اوس

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د امت مرحومه د مسلمانانو پر حال رنا واچوو، د رمضان المبارک فضیلت چې مخصوص په دې امت پورې دی لیلاً ونهاراً ددې میاشتې مبارکې په شپه کې عوام څه کوي او د ورځې عوام څه کوي، عوام خو د ورځې د هیڅ منهي عنه له غیبت او پوچ وفحش څخه پرهیز نه کوي حتی چې داسې کلمات یې شیطان تر خوله باسي چې موجب د کفر وي، خیر ورځ خو تېره سې چې مابنام سې روژه مات وکړي او د ماخستن د لمانځه او د تراویح وخت داخل سي، بعض عوام خو له تراویحو سره هیڅ علاقه نه لري، حتی زمونږ د محل یو پر مخ ګرځېدلی سړی وُما پوښتنه ځندي وکړه چې د ختم تراویح کوې (چې په اکثره مساجدو کې ادا کېږي) او که د الم ترکیف تراویح کوې؟ ده راته وویل چې والله که یو قسم لا کوم، اوبعض مسلمانان چې د تراویح سره محبت او علاقه لري پوښتنه کوي چې په کوم مسجد یا جامع مسجد کې د الم ترکیف تراویح کېږي او هغه په ډېره چټکۍ سره هلته تراویح وکړي، د لمانځه وروسته د کور ژوندۍ سېنما یعني تې وي ته کښېني یا تر هغه افحش سېنما چې دش یې بولي، یا پټې کوي د پېښلمي تر وخته پورې، پېښلمی چې وکړي بعض عوام سمدستي بیده سي او د سهار لمونځ قضا کړي پوخ ځانښت راکښېني مخ پرې مینځي بازار ته روان سي، او چې لږ له خدایه بېرېږي هغه لږ انتظار د سهار د آذان وکړي چې اذان وسي د سهار لمونځ وکړي او بیده سي یعني د سهار جماعت ځني فوت سي. دا خو د عوامو حال وُ، اوس به د بعض ملایانو او د جامع مسجد د امامانو د مدرسانو پر حال رنا واچوو، په روژه کې بعض ملایان دا عادت درلودی چې پېښلمی به یې وکړی، د سهار اذان ته به په انتظار وُ چې څرنګه به د سهار اذان وسو، نو بالفور تر سنتو وروسته په غلس کې به یې د سهار لمونځ وکړی او په حجره به ننوتی او بیده به سو تر پاخه څانښته پورې، دې ملا صاحب د درو امورو څخه د شریعت مخالفت وکړی، یو له مذهب حنیفي څخه چې اسفار بالفجر مندوب بولي، او بل له حدیث نبوي څخه "اسفروا بالفجر فانه اعظم للاجر" والحدیث صحیح علی شرط الشیخین البخاري والمسلم او بل متصل د سهار د لمانځه سره خوب کول

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې نه د علیه الصلوٰة والسلام او نه د صحابه کرامو ﷺ او نه د ائمة اربعه رحمهم الله څخه منقول دی بلکې په حدیث صحیح کې ثابته ده علیه الصلوٰة والسلام وایي چې که چا ه سهار لمونځ وکړی او هورې کښېنستی په تسبیح او ذکر یې څان اخسته کړی الی ان طلع الشمس قدر رمح او رمحین ثم صلی رکعتین یعني صلوة الاشراق کان له اجرة عمرة، وفي روایة اجر حجة عمرة تامة تامة او کما قال رسول الله ﷺ، او دا متصل خوب مکروه بالاجماع دی، ومواضع العذر مستثنا کالمریض وغیره.

سوال: په صحیح حدیث کې راغلي دي چې علیه الصلوٰة والسلام د سهار لمونځ په غلس کې کاوه؟

فقیه ابو جعفر الطحاوي رحمه الله چې هم لوی محدث دی بالاجماع او هم اعلم الناس بمذهب ابی حنیفة رحمه الله مثل سوی دی په شرح کې د معاني الآثار په جمع کې د حدیث قولي د علیه الصلوٰة والسلام اعني کمامر اسفروا بالفجر فانه اعظم للاجر. او د حدیث فعلي د علیه الصلوٰة والسلام یعني چې د سهار لمونځ یې په غلس کې کاوه داسي وایي چې علیه الصلوٰة والسلام د سهار لمونځ په غلس کې شروع کاوه او په تطویل او ترتیل د قرائت یې اسفار ته رارساوه. او دا مذکور ملایان خو یې په غلس کې شروع کوي او په غلس کې یې تماموي.

دروېش وایي: چې مع قطع النظر عن جمع الطحاوي دا ملایان صاحبان پېله روژې د میاشتې ولي د سهار لمونځ په غلس کې نه کوي.

د وروسته آیتو شان نزول: دروېش وایي چې د دې آیتو په شان نزول کې اختلاف دی. لکن صحیح شان نزول دادی چې هغه آیت چې نازل سو یا ایها الذین آمنوا قاتلوا الذین یلونکم من الکفار ولیجدوا فیکم غلظة، نو علیه الصلوٰة والسلام قصد وکړی د رومیانو د قتال لانهم اقرب الناس الیه و اولی بالدعوة الی الاسلام لقربهم الی الاسلام "لتجدن اقربهم مودة للاسلام الذین قالوا انا نصاری" نو بغوي رحمه الله وایي چې علیه الصلوٰة والسلام چې د طائف له غزا څخه راستون سو امر بالجهاد والغزو مع الروم چې دې ته د تبوک غزا وایي. لکن دا غزا په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

داسي زمانه کي وه چي مسلمانان په ډېري سختي کي وه د نفقې له خوا، او سختي ګرمي او دوبی ؤ او په ټولو ښارو کي قحط د باران مسلط ؤ، او په عين دغه وخت کي د مدينې ميوې يعني خرما هم رسېدلې وه او د مدينې په باغو کي ښې سايې او راحت ؤ، او مسلمانانو ته په داسي وخت کي د ګرمی قتال ګران پرېوتی، او عليه الصلوٰة والسلام چي په نورو غزاؤ ته تلی ځان به يې پټ ساتی او توريه به يې کوله له هغې غزا ځخه په بلي غزا مګر نه په غزوه کي د تبوک، ولي عليه الصلوٰة والسلام صراحةً خلګو ته وويل چي زه د تبوک جنګ ته ځم تاسي مسلمانان ودې سختي غزا ته ځانونه اراسته کړئ، ولي يو خو د تبوک سفر ښځې ډېر لېرې ؤ، او بل زمانه د سختی وه کمامر، او بل په مقابل کي يې لوی دښمن ؤ د رومیانو، چي په يوه روايت کي راغلي دي چي يو لک شاکی السلاح فوج د رومیانو وو تاچي مسلمانان په کامله وجه او نفقه او سلاح ددوی وجنګ ته تيار سي، او عليه الصلوٰة والسلام دعوت ورکړی ومن حوله من احيا العرب للخروج الی تلک الغزوة فجمع بشر کثير او مکې ته يې هم د تيارسئ پېغام واستاوه لکن له خروج ځخه د جنګ د رومیانو يې ډډه وکړه ټولو منافقانو، او له بعضو صادق مسلمانانو ځخه هم تقصير وسو او له خروج ځخه يې تکاسل مختار کړی کما سيأتي تفصيله ان شاء الله تعالی فانزل الله فيهم هذه الآيات.

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا

اې هغه کسانو چي ايمان يې راوړی، بعض مفسرين وايي چي دا خطاب دی و مقصرين ته يعني صادق مسلمانان چي ځانونه يې اچولي وه، او بعض مفسرين وايي چي منافقينو ته هم دی لانهم آمنوا بافواههم وان لم تؤمنوا بقلوبهم.

دروښ وايي: چي روح البيان ددې آيتو په شان نزول کي داسي وايي دا شروع په بيان کي د غزوه تبوک، او تبوک د يو ځای نوم دی په منځ کي د شام او د مدينې، او دې غزا ته العسرة هم وايي لمامر انها وقعت في غاية عسرة للمومنين، او فاضحه يې هم بولي ولي د ډېرو پټو منافقانو حال يې رسوا کړی، راوي وايي چي عليه الصلوٰة والسلام چي فتح مکه وکړه او د هوازنو او د ثقيف

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فتح يې په حنين او اوطاس کې وکړه او طائف يې محاصره کړې او فتح يې کړې او جعرانه ته راغلی او د عمرې احرام يې وتاړه او عمره يې وکړه بيرته مدينې منورې ته راغلی فامر بالخروج الی غزوة الروم قبل الشام يعني تبوک وذالک في شهر رجب سنه۹ ه او دا خبر هم عليه الصلوٰة والسلام ته ورسېدی چې رومیانو دېر لوی لښکرونه جمع کړي دي په شام کې او نور بيان يې دمخه تېر سو انتهی.

مَا لَكُمْ إِذَا قِيلَ لَكُمُ انْفِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ

څه سبب دی تاسې لره، استفهام لپاره د توبيخ دی، چې وويل سې تاسې ته يعني قال لکم رسول الله ﷺ، راووځئ له کوره څخه په لار کې د خدای ﷻ يعني جهاد ته لپاره د اعلاءً د کلمة الله العلياً او لپاره د نصرت د دين.

اثَّاقَلْتُمْ إِلَى الْأَرْضِ

اصل د اثاقلتم تثاقلتم ؤ تاً يې په ثا واړول او په ثا کې يې مدغمه کړه، او همزه د وصل يې لپاره د ضرورت د ابتداً بالساکن ورته راجلب کړې، والمعنى لزمتم ارضکم ومساکنکم په پښو ځان وځروئ ومځکې ته لپاره د ميل ودنيا ته وشهواتها الفانية عن قريب، او بعض مفسران وايي تاسې ميل وکړئ و اقامت ته په خپل مځکه او کور کې والمال واحد.

أَرَضِيتُمْ بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا مِنَ الْآخِرَةِ

آيا تاسې راضي سواست په شهواتو د ژوند ناقص او معرضين له نعيم څخه د اخيرت چې په جهاد في سبيل الله پورې مربوط دی، او شهوات د دنيا په اقامت پورې د کور وابسطه دي.

فَمَا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ ۝

نه دي تمتعات، لذائذ، او شهوات د حيوة الدنيا في الآخرة ای في جنب نعيم الآخرة وبالنسبة اليها مګر نه لږ دي يعني حقير دي بې قدره دي او سريع الزوال دي او نعيم د اخيرت ما ورد في الحديث الصحيح اعد الله للمؤمنين في الجنة ما لاعين رئت ولا اذن سمعت ای بالتفصيل ولو سمعت بالاجماع ولا خطر على قلب بشر او کما قال رسول الله ﷺ، او بل دا چې نعيم د اخيرت ابدي او دائم دي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"خالدين فيها ابداً" او بل دا چې د نعمتو سره د دنيا افتونه غمونه مرضونه ملګري دي او نعيم د اخرت في دار الكرامة له دې ټولو څخه پاک دي.

دروښ وايي: چې په راتلونکي آيت کې وعيد ښکاره کوي پر ترک د جهاد.

إِلَّا تَنفِرُوا يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا أَلِيمًا

که تاسي نه ورسره وځئ جهاد ته خدای پاک به تاسي ته عذاب اليم درکړي په دنيا او اخيرت کې، د دنيا عذاب دا ؤ چې خدای پاک بارانونه پر بند کړه او د اخيرت عذاب خو معلوم دی.

پوه سه: چې اصل د الا په دوارو ځايو کې ان لا ؤ فادغم نون ان الشرطية في اللام.

وَيَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّوهُ شَيْئًا

او خدای ﷻ به په بدل کې ستاسي بل قوم راولي يعني هغه قوم به مطمئن وي بعض وايي هغه اهل يمن دي، او سعيد رحمه الله وايي چې ابنا فارس دي، او تاسي ضرر نه سئ رسولای وخدای پاک ته په هيڅ شي سره په ترک کې د نصرت د دين د خدای ﷻ فان الله غني عن كل شئ في كل امر، او بعض مفسرين وايي چې ضمير و الرسول ته راجع دی ای لاتضروا الرسول شيئاً، ولي چې خدای ﷻ دده سره د عصمت او د نصرت وعده کړې ده او خلاف د وعدې کول پر خدای ﷻ محال ده.

وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ

او خدای ﷻ پر هر شي قادر دی فيقد على تبديلكم وتغيير الاسباب والنصرة بلا مدد.

پوه سه: چې په دې آيت کې سخت او لوی دباؤ دی پر متشاقلينو باندې، ولي چې وعيد د عذاب اليم يې مطلق ورته واوراوه چې عذاب ته د دنيا او اخرت دواړو ته شامل دی، او استبدال د قوم اخرين او اظهار د خپل غنى يې ورته وکړی.

إِلَّا تَنصُرُوهُ فَقَدْ نَصَرَهُ اللَّهُ إِذْ أَخْرَجَهُ الَّذِينَ كَفَرُوا

پوه سه: چې د "ان لاتنصروه" جواب محذوف دی او دليل د جواب يې په ځای کې ولاړ دی والتقدير الا تنصروه فلاضير على الرسول.

ولي خدای ﷻ دده سره نصرت کړی دی چې دی يې وه ايستی يعني له مکې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څخه هغو کسانو چې کفر یې کاوه یعني مشرکی مکة معنا دا چې مجبور یې کړی و خروج ته د مکې. وانما قلنا ذالک لان کفار مکة لم یقولوا اخرج عنا بلکې د علیه الصلوة والسلام د دیارلس کاله مسلسل ازار د کفارو د مکې له خوا څخه پېمانه د صبر یې وړدکه کړه، نو د خدای ﷻ په اجازه دی له مکې څخه ووتی.

دروښ وایي: چې وتل له وطنه په جبر او د ناچاری له کبله د هر زور غواړي زه پخپله هم مهاجر یم او د هجرت جبري کړاونه راباندي راغلي دي په هغه وخت کې روسانو پر افغانستان یرغل وکړی او ټوله افغانستان یې په خپله قبضه کې واخستې، او د مخورو کسانو او د علماؤ کشت وخون او حبس بامشقت جاري سو، زه سره د خپل عیاله د فاقې په حال کې همسایه ملک پاکستان ته مهاجر سوم چې د هجرت نهه ویشت کاله ته قریب یو، ځکه په حدیث نبوي کې راغلي دي "السفر قطعة من السقر" معنا دا چې سفر او هجرت یو توټه ده د سقر دوزخ، حجاج بن یوسف ظالم مشهور وخون کار معروف میگفت اگر نه شادی آمدن بخانه وکاشانه بودی که مسافر چون بخانه رسد همه رنج سفر فراموش میکند من مردمان را نه کشتمی بلکه به سفر عذاب دادمی، د سفر د عذاب له سببه. څوک چې د دین په لار کې له کوره ووځي لکه غزوه، دومره ثواب خدای ﷻ ورکوي چې په حدیث صحیح کې راغلي دي "الغدوة في سبیل الله او روحة" د اول د ورځې تګ د الله په لار کې او په اخیر کې د ورځ تګ "خیر من الدنیا وما فیها" یعني غدوة او روحة د دنیا تر نعمتو بالا ده لان نعیم الدنیا زائل وثواب الغدوة والروحة في سبیل الله باق.

پوښتنه: علت د اجازې د خدای پاک و علیه الصلوة والسلام ته د هجرت له مکې څخه څه وؤ؟

خواب: علت یې هغه دی چې د سورت انفال په تفسیر کې تېر سو چې کفارو په دار الندوة کې مشوره سره وکړه، چې چا وویل چې علیه الصلوة والسلام به بندي کړو په یو سرای کې، ګوله دوډی به ورکوو اخیر به مړ سي او له غمه به یې خلاص سوو، چا به ویل چې ورته وه به وایو چې زموږ له ښار مکې څخه ووځه. اخیر الامر فیصله پر دې سوه چې په ولییزه توګه به یې مړ کړو چې د شیخ نجدي چې په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حقیقت کې ابلیس ؤ هم دا مشوره تصویب سوه او خدای ﷻ علیه الصلوة والسلام له جریانه څخه ددې مشورې خبر کړی او امر د هجرت یې مدینې ته ورکړی.

ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ

دوهم د دوو چې دوی وه په غاره کې.

پوه سه: چې ثاني منصوب دی حال دی له ضمیر منصوب څخه د اخرجه، والمعنی قد نصره الله حال کونه بحیث لم یکن معه الا رجل واحد وهو ابوبکر ﷺ.

پوه سه: چې دا غار په لوړه حصه کې ؤ د جبل ثور او دا غر په رسته جانب کې د مکې دی چې بعض راویان وایي چې د مکې او ددغه غره تر منځ د یوه ساعت لار ده، او په تبیان کې وایي چې دا غره تقریباً دوه فرسخه لېرې ؤ، په قاموس کې وایي چې ددې غره اصل نوم اطحل ؤ لکن چونکه ثور بن عبد مناة په دې غره کې ځای ونیوی، نو په جبل ثور مسمی سو.

دروښ وایي: چې د هجرت نبوي د قصې تفصیل قد مر في تفسیر سورة الانفال وقد مر ذکره قریباً، چونکه مسلمانان د مکې والو تر شدت اذیت لاندې راغله، نو علیه الصلوة والسلام مسلمانانو ته اجازه د هجرت ورکړه او دا یې هم ورته وویل چې ما په خوب کې ستاسې دار الهجرة ولیدی چې د خورما باغونه پکښې وه په منځ کې د لابتین یعني دوې شپلې چې کوچنې کوچنې ډبرې پکښې وې فهاجر من هاجر الی المدینة، او دا یې هم وویل، زه هم امید لرم چې ماته به هم د اهجرت اجازه وسي، ابوبکر ﷺ ترجوا ذالک بابی انت (یعني ته هم امید لرې ددغه ځای د هجرت زما پلار دي تر تا قربان سي) علیه الصلوة والسلام ورته وویل نعم، نو ابوبکر ﷺ ورته وویل الصحبة یعني ما هم ملګرې کوې؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل الصحبة، نو په مکه کې د علیه الصلوة والسلام ملګري نه وه بېله دغو کسانو ابوبکر، علي، صهیب ومن کان محبوساً او مریضاً او عاجزاً عن الخروج ﷺ، راوي وایي چې ابوبکر ﷺ د هجرت د مصاحبت زېرې تر لاسه کړې، نو یې دوې اوښې په اته سوه درهمه رانیولې د هجرت لپاره، نو په سرای کې یې ودرولې او خبط یې ورکول، خبط په دوه حرکته د ځنګلي درختي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بلکګونه دي په عربستان کي چې خلګ يې په لکړو راشوه کوي بيا يې وچ کړي او بيا يې ميده کړي يا اوړه يا اوربشي په ګډي کړي او په اوبو يې خيشته کړي او اوښانو ته يې ورکوي چې اوښان ډېر تياروي، نو دا دوې اوښي د ابوبکر ﷺ پر کور وې تقريباً درې مياشتي ولاړي وې، نفس هجرت خو په ذوالحجة کي شروع سو، او هجرت د عليه الصلوة والسلام په ربيع الاول کي منځ ته راغلی، د هجرت د قصې راويان وايي چې ځه وخت چې عليه الصلوة والسلام د شپې د وتلو له کوره عزم مصمم سو، نو علي ﷺ يې راوغوښتی او ورته وه يې ويل چې ته نن شپه زما پر ځای پرېوزه او د عليه الصلوة والسلام يو پټو ؤ چې حضرمي يې بالله چې په حضر موت ورته کالي جوړېدله، دا يې حضرت علي ته ورکړی چې پر ځای يې واچوه او دا اطمنان يې ورکړی چې تاته د کفارو له خوا هيڅ ضرر او مکروه نه سي رسېدلای، او عليه الصلوة والسلام دا رداً يا پټو په اخترو کي پر اوږو کاوه چې طول يې څلور شرعي ګزه ؤ او عرض يې دوه ګزه ؤ، او په رنګ په بعضو روایاتو کي راغلي دي چې شين ؤ، او په بعضو روایاتو کي راغلي دي چې سور ؤ لکه حافظ دمياطي رحمه الله چې ويلي دي.

دروښ وايي: چې جمع ددې دوو روایاتو امکان لري چې پټو دي کشميري ؤ چې سرې او شنې ليکي يې درلودې، او عليه الصلوة والسلام چې په بيد ېدی هم دغه پټو به يې پر ځان اچاوه، سبب د علي ﷺ د پرې ايستلو پر خپل بستر باندې داؤ چې کفارو چې د عليه الصلوة والسلام د قتل لپاره راجمع سوي وه، نو د علي ﷺ شخص به د دروازو تر چولو وينې دوی چې وايي عليه الصلوة والسلام بيده دی، نو د بيد ېدلو انتظار به يې کوي چې حمله پر وکړي، او علي ﷺ خو بيده نه ؤ صرف پټو يې پر ځان اچولی ؤ، نو به عليه الصلوة والسلام او ابوبکر ﷺ تر خپل مقصده پوري ورسېږي، راوي وايي چې ثلث اول د شپې چې تېر سو سل کسه ځوانان له مختلفو قومو څخه د عليه الصلوة والسلام د قتل لپاره راجمع سوه چې د هر يوه سره توره وه تاچې په اجتماعي توګه عليه الصلوة والسلام قتل کړي تاچې د بدي د بنې هاشمو چې د عليه الصلوة والسلام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مخصوص قوم ؤ وخاص قوم ته د قریشو متوجه نه سي اخیر الامر به بني هاشم په دیت راضي سي چي سل اوښان وه، او دا سل اوښان قریشو ته یو یو ور رسېدی، او دا جمع سوو سلو کسانو به د دروازې تر چولو ورته کتل چي کله به علیه الصلوة والسلام ددوی په ګمان بیده سي چي په حقیقت کي علي ﷺ ؤ چي مورې اجتماعي حمله پر وکړو، او علي ﷺ د علیه الصلوة والسلام پتو پر ځان اچولی ؤ او ویښ ؤ، نو علیه الصلوة والسلام له کوره پر راووتی او کافران په دروازه کي ولاړ وه او "یٰسٓ والقرآن الحکیم" یې تر "فاغشیناهم فهو لایبصرون" پوري ووایه، نو خدای پاک په خپل قدرت تامه سره د مشرکینو سترګي پتي کړې حتی چي علیه الصلوة والسلام ددوی په منځ کي تېر سو، او علیه الصلوة والسلام په وخت کي د راوتلو یو موټ خاوري را اخستي وې او د هر یوه پر سر یې نوکي نوکي خاوري هم اینبي وې وهم لایشعرون ولایبصرون، وهذا من عجائب قدرته تعالی ومن غرائب معجزاته ﷺ.

فائده: په فضائلو کي د سورة یٰسٓ راغلي دي په حدیث شریف کي چي علیه الصلوة والسلام وایي چي که سورة یٰسٓ خائف ووایي په امن کي به سي، او که یې وږی ووایي مو به سي او که یې لخ سړی ووایي خدای ﷻ به کالي ورکړي، او که یې تږی سړی ووایي خدای ﷻ به یې اوبه کړي، او که یې مریض ووایي خدای ﷻ به شفا ورکړي.

دروښ وایي: چي دا ټوله کارونه په اعتقاد او یقین سره د سړي پر قول د علیه الصلوة والسلام مربوط دي، نو وروسته د کافرانو یو سړی و هغو سلو کسانو ته راغلی او ورته وه یې ویل ما تنتظرون؟ تاسي وڅه شي ته په انتظار یاست؟ هغو ورته وویل محمد ته په انتظار یو چي قتل یې کړو، هغه سړي ورته وویل قد خیبکم الله، والله قد خرج علیکم محمد ﷺ، ثم ماترک رجلاً منکم الا وضع علی رأسه التراب، او محمد پر خپل مخ ولاړی، هر یوه چي په خپل سر ته لاس وروړی پر سر به یې خاوري پرتي وې، نو دوی کور ته ورننوتل که څه ګوري د علیه الصلوة والسلام په ځای کي علي ﷺ پروت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی، نو ده ته یې وویل این صاحبک؟ علي ﷺ ورته وویل خبر نه یم چې چېرې ولاړی له کور څخه خو درووتی، علیه الصلوة والسلام په اشاره د جبرئیل د ابوبکر ﷺ کورته ولاړی، هغه ته یې وویل قد اذن لي في الخروج فقال ابوبکر ﷺ الصحبة یا رسول الله بابی انت وامي یعني اسئلک الصحبة علیه الصلوة والسلام ورته وویل نعم، فبکی ابوبکر سروراً، نو ابوبکر ﷺ وژړل له ډېرې خوشالۍ څخه، یو شاعر ډېر ښه وایي:

ورد الکتاب من الحبیب بانه ..... سیزورنی فانستعبرت اجفانی
هجم السرور علی حتی انه ..... من فرط ماقد سرني ابکاني
یا عین صار الدمع عندک عادة ..... تبکین من فرح و احزان

نو ابوبکر ﷺ و علیه الصلوة والسلام ته وویل چې ددې دوو اوښانو چې مادسفر لپاره اراسته کړي وې یوه ته واخله، علیه الصلوة والسلام ورته وویل نعم بالثمن، دا ددې لپاره چې د علیه الصلوة والسلام هجرت الی الله بنفسه وبماله سي، که دا سبب نه وای نو ابوبکر ﷺ خو اکثره حصه د خپل مال د علیه الصلوة والسلام په حاجاتو کې صرف کړي وه، عائشه ﷺ وایي چې څلوېښت زره درهمه زما پلار د علیه الصلوة والسلام په حاجاتو کې صرف کړي وه، او ده چې هجرت کاوه فقط پینځه زره روپۍ ورسره وې، وفي روایة اربعین الف دینار، نو هغه اوښه چې علیه الصلوة والسلام خوښه کړه ناقة قصوی یا جدعاً یې بلل چې په خلافت کې د ابوبکر ﷺ مړه سوه، راوي وایي چې علیه الصلوة والسلام او ابوبکر ﷺ وروسته یوه سړي چې د بني الدیل د قبیلې وو په پینځه سوه درهمه مزدور کړی چې نوم یې عبدالله بن اریقط وو تاچې تر مدینې پورې یې پر سمه لار بوزي، ولې دا لار نه علیه الصلوة والسلام سمه لیدلې وه او نه هم ابوبکر ﷺ او دا لار په سختو ریګو کې او د غرو په درو کې تېره سوې وه، که څه هم عبدالله بن اریقط پر دین د قریشو وو یعني هغه وخت وروسته بیا مسلمان سوی دی لکن د خپلې مزدورۍ په سبب یې حال چاته نه وایه، اوښانې یې په لاس ورکړې او ورته وه یې ویل چې د دریمې ورځې په سهار به یې د جبل ثور هغې معروفې درې ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راولې، نو علیه الصلوة والسلام داغه شپه په کور کې د ابوبکر ﷺ تېره کړه دا بل شپه د جبل ثور پر خوا روان سوه، راویان د تاریخ وایي چې ګاهي به ابوبکر ﷺ د علیه الصلوة والسلام ترمخه روان ؤ او ګاهي به وروسته. علیه الصلوة والسلام دده څخه د تقدم او تأخر پوښتنه وکړه، ابوبکر ﷺ ورته وویل چې د تقدم سبب خو دادی چې ګاهي مې په خیال کې راګرځي چې که چېرې قریشو موږ ته لار نیولې وه نو ما به تر تا دمخه قتل کړې، او د تأخر سبب دادی که په موږ پسې وروسته خلګ راپسې وه نو به هم ما تر تا دمخه قتل کړې، دروېش وایي چې دا دی صدیق اکبر، ابوبکر ﷺ سر او مال قربانول تر علیه الصلوة والسلام، راویان ددې درد افزون قصې په بیان کې وایي چې علیه الصلوة والسلام پر اطرافو د ګوتو تګ کاوه تاچې پښه یې پر مځکه ونه لګېږي چې بل څوک په ما پسې پل رانه وړي، ابوبکر ﷺ چې ورته وکتل علیه الصلوة والسلام لخې پښې روان ؤ او د ګوتو تر سرو یې وینې تویېدلې، نو یې علیه الصلوة والسلام په شا کړې او په څغاسته یې تر غاري د جبل ثور ورساوه او هوړې یې له شا څخه کښته کړې، راوي وایي چې دا وینې په سبب د ډبرو د لارې وې ورنه مسافت له مکې څخه تر ثور پورې پر صحیح روایت د یوه ساعت لار وه په یوه ساعت مزل سره ګوتې وینې نه کوي، البته د تفسیر تبیان پر روایت چې تخمیناً دوه فرسخه لار وه، نو احتمال د ګوتو په وینو کې قریب ګنهل کېږي، نو د جبل ثور غاري ته چې ورسېدل علیه الصلوة والسلام چې اراده د ننوتلو وکړه، نو ابوبکر ﷺ ورته وویل چې زه به یوار د غاري صفایي وکړم، چې دا غاره په حشراتو سره مشهوره وه، نو ابوبکر ﷺ چې ورننوتې ډبرې او شیګي یې یوه طرف ته کړې او د غاري غاړو ته به یې خپل کالي څیرې کړل او بندول به یې چې نباید ددې غار څخه یو لړم یا بل خزنده راوه نه وځي چې علیه الصلوة والسلام په ازار کې، یوه غاره پاته سوه چې په هغې کې مار ؤ ابوبکر ﷺ خپل پښه په چخ کړه، نو وروسته علیه الصلوة والسلام ور داخل سو، نو مار به دی پر پنده په غاښاوه له ډېره درده به د ابوبکر ﷺ اوښکې پر مخ روانې وې، علیه الصلوة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والسلام چې سبب د اوښکو ځني وپوښتی، ده ورته وویل چې په دې غار کې یو شی دی چې ما پر پنده په غابنوي او زهر پکښې اچوي، علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې پنده اراسته کړه، ده چې اراسته کړه مار سر راوه ایستی، علیه الصلوة والسلام ورته وویل ولې ظالمه چې نه ببګانه پرېږدي او نه صدیق مار ولاړی په خپل غار کې غلی سو. او د ابوبکر ﷺ پرې پنده علیه الصلوة والسلام نارې مبارکې تو کړې چې هیڅ اثر د درد نه سو پاته، راویان وایي چې خدای پاک امر کړه درخته د قتاد یا د ام الغیلان چې ورسه د غاري پر خوله ودرېږه او زما پر دوست باندې یې خوله بنده کړه چې څوک یې ونه وینې، بعض راویان وایي چې علیه الصلوة والسلام و ابوبکر ﷺ ته وویل چې دا درخته له غاري څخه ګوښه ولاړه وه ورسه ورته ووایه چې رسول د خدای دي بولي راسه پر موږ د غاري خوله بنده کړه، په هر صورت درخته په غره کې سره د خپلو ریښو را روانه سوه د غاري په خوله کې یې ریښې بیرته په غره کې واچولې.

دروېش وایي: چې په هر حال دا قدرت باهره د خدای ﷻ دی او معجزه ظاهره د علیه الصلوة والسلام ده، نادره، معجزه او قدرت باهره، ابو نعیم له عائشة بنت قدامة ﷺ څخه روایت کړی دی چې علیه الصلوة والسلام وایي چې زه او ابوبکر ﷺ دده د کور تر دریچې راووتلو. یعني پر دروازه نه راووتلو چې څوک مو وه نه وینې، زموږ په مخ چې اول څوک راغلی هغه ابوجهل و لکن خدای ﷻ پر موږ وروند کړی نه یې ولیدلو، موږ یې ومخ ته تېر سو.

پوه سه: چې آنحضرت ﷺ او ابوبکر ﷺ چې په غار کې ساکن سوه او درخته د قتاد د غاري خولې ته ودرېدله، نو عنکبوت چې په پښتو یې جولاګی بولي خدای پاک امر ورکړی چې د درختي د ښاخو په منځ کې پر خالي ځایو تانسته جار کړئ، دوی هم په ډېرې چټکی سره یو پر بل سرېیره تانستې جار کړې لکه د څلورو کالو تانستې کما في العقیدة البردة:

ظنوا الحمام وظنوا العنکبوت علی ..... خیر البریة لم تسنج ولم تحم

یعني بې دین خلګ ګمان لري چې کوترو ځالګی نه ده جوړه کړې او نه یې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هګۍ پکښې اچولي دي پر دروازه د غار، ښه غار چې په هغه کې خیر الخلق ﷺ قرار درلودی، یعنې دا ګمان غلط دی، او دغه بې دینه خلګ ګمان لري چې عنکبوت د هغې غاري پر خولې تانسته نه ده جار کړې، او عنکبوت د غاري پر شاوخوا طواف نه دی کړی "تحم" مشتق دی د حام یحوم حوله ای طاف یعنې عنکبوت خپل تانسته په ډېره چټکی سره جار ایستله.

دروېش وایي: چې عنکبوت اسم جنس دی پر یوه او پر ډېرو یې اطلاق کېږي، نو له دې سببه ما دا خبره وکړه چې خلګ دا ګمان ونه کړي چې یو دانه عنکبوت چې دا خدمت یې کاوه بلکې والله اعلم چې څو دانې په دې خدمت مشغول وه، ولې چې یوه دانه دومره تانسته نه سي جار ایستلای چې د تولې غار خوله پټه کړي، او هغه په دومره مقدار لکه د څلورو کالو پنډه تانسته فافهم فانه سانح عزیز وتل من نبه علی هذا.

پوه سه: چې عنکبوت فقط دا یو خدمت د اهل الله نه دی کړی بلکې د تاریخ په پاڼو کې راغلي دي چې عنکبوت پر نبي الله داوډ ﷺ ځالګی جوړه کړې ه چې په یوه غار کې پټ وۀ چې جالوت پسې ګرځېدی. لکن دروېش وایي چې دا تاریخي خبره ده د قرآن له نص څخه مخالفه ده "وقتل داوٗد جالوت وآتاه الملک" او بل دا چې عنکبوت پر عورت د سیدنا زید بن علي بن الحسین بن علي بن ابی طالب چې د امام باقر ورور دی او اکا دی د جعفر صادق ﷺ هم ځاله جوړه کړېده، یوسف بن عمر الثقفي امیر العراقین له جانبه د هشام بن عبد الملک وٗدی یعنې زید یې لخ په دار کړی وٗ په سبب ددې چې زید پر هشام تبری وکړی او جنګ یې ورسره شروع کړی وذالک في سنه ۱۲۶ هـ ق او دوی چې دی د دار پر لرګي واچاوه مخ یې له قبلې څخه ورچپ کړی، نو لرګی وګرځېدی او دده مخ یې وقبلې ته کړی، او عنکبوت دده عورت غلیظه په تانستو ورپټ کړی، اخیر یې دده جسد مبارک او لرګی دواړه په اور وسوځل کذا في روح البیان.

دروېش وایي: چې د عنکبوت دغه شرف کافي دی چې پر غار د جبل ثور الذي فیه سید المرسلین ﷺ او دده صاحب خصوصي ابوبکر ﷺ وٗ، ده پهره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

داري وکړه او فرجې د درختي يې په خپلو تانستو بندي کړې ولهذا نهى النبي ﷺ من قتل العنكبوت وقال انه جند من جند الله.

جمله ذرات زمین وآسمان ..... لشکر حقند گاه امتحان

پوښتنه: له علي ﷺ څخه روایت دی طهر البیوت عن نسج العنکبوت فانه یورث الفقر؟

ځواب: دا حدیث پر تقدیر د صحت د شرافت وعنکبوت منافي نه دی، او بیا خدای پاک امر کړې دوې کوتري چې په هغه درخته کې چې د غاري پر خوله ولاړه وه ځالګی جوړه کړي او سمدلاسه هګی پکښې واچوي، ولهذه الخدمة قد شرف الله تعالى جنس الحمامة بالسكونة في الحرم الشريف.

دروښ وایي: چې دا ټوله کار روایي ددې لپاره وه چې کفار د مکې چې خبر سوه چې علیه الصلوة والسلام او ابوبکر ﷺ د شپې له مخه له خپلو کورو څخه وتلی دی، نو ماهر پلټن یې راوغوښتی چې ته پل ددې دوو کسانو ووهه چې چېرې پټ سوي دي، پل زن چې د علیه الصلوة والسلام له کوره پل راواخستی د ابوبکر ﷺ کور ته یې راورساوه، له هغه ځایه بیا دوه پلونه سوي وه پل زن دا دوه پلونه پسې راواخستل برابر یې د غاري تر خولې پورې راورسول، نو پل زن وویل چې تر دې ځایه خو پلونه راغلي دي بالا نه پوهیږم چې اسمان ته ختلي دي او که په مځکه ننوتلي دي، بعض کافرانو وویل چې په دغه غار کې خو به نه وي، نو ځینو منت پر وکړی ته انسان نه یې دا تانستې د عنکبوت نه وینې او دا کوتري ته نه وینې چې ځالګی یې جوړه کړېده او هګی یې پکښې اچولي دي، ددې کافر مطلب دا ؤ چې که په غاره دوی ننوتلي وای، نو خو د عنکبوت تانسته به خراب سوې وای او د کوترو ځالګی به خراب سوې وای، او دې کافرو هغه بل کافر ته وویل چې ستا پلار لا والله که زو کړی ؤ چې په غار څوک نه دی ننوتلی، ابوبکر ﷺ وایي چې موږ اقدام د کفارو لیدل لکن سرونه ددوی تر غار لوړ وه، نو ما و علیه الصلوة والسلام ته وویل چې که یو کافر سر کښته کړي او غاري ته وګوري خو موږ وینې، نو علیه الصلوة والسلام و ابوبکر ﷺ ته کرار وویل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ماظنک باثنين الله ثالثهما اى بالعون والنصرة لا بالتمكن.

إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا

چې وويل رسول الله ﷺ و خپل ملګري ته چې ابوبکر ؓ و ته غم مه کوه په تحقيق خداى ﷻ زمونږ سره راسره دى، ومظهري وايي معية غير متكيفة، غرض يې دادى چې دا آيت له متشابهاتو څخه دى.

دروېش وايي: چې ولا ضرورة الى كونها من المتشابهات، ولهذا فسره علامة البغداد محمود الآلوسي في روح المعاني بالعصمة والمعونة فهي معية مخصوصة والا فهو تعالى مع كل واحد من خلقه بالقدرة، بغوي رحمه الله له ابن عمر ؓ څخه روايت کړى دى چې عليه الصلوة والسلام و ابوبکر ؓ ته وويل انت صاحبى في الغار وصاحب على الحوض.

مسئله: حسن بن الفضل رحمه الله وايي که چا وويل چې ان ابا بكر لم يكن صاحب رسول الله ﷺ فهو كافر لانكاره نص القرآن وفي سائر الصحابة ؓ لو قال ذالک يكون مبتدعاً لا كافراً، روايت دى چې ابوبکر ؓ و عليه الصلوة والسلام ته وويل که چېرې يو سړى له راغلو کافرانو څخه وفم الغار ته د خپلو پښتو وکتل خو مونږ وينې، عليه الصلوة والسلام ورته وويل چې که دوى يعنې کافران د غارې له خوا راغله ماوتا به دورې ولاړ سو يعنې د غار وپاى ته يې اشاره وکړه، ابوبکر ؓ وايي ما چې د غارې وپاى ته وکتل غاره دومره اوږده وه چې پر درياب تمامه سوې وه او په درياب کې کښتى ولاړه وه ملاحان چمتو ولاړ وه، علامه ابن كثير رحمه الله په خپل تفسير کې وايي وهذا ليس ببعيد من حيث القدرة العظيمة انتهى.

دروېش وايي: چې په دې آيت کې دلالت دى د ابوبکر ؓ د رتبې پر بلندى عند الله وسابقية صحبته، او علماً وايي چې ابوبكر ثاني رسول الله في العالم الارواح حين خرج من العدم، وثانيه حيث خرج ﷺ مهاجراً وثانيه في دخول الجنة، وفي الحديث "اما انک يا ابابكر اول من يدخل الجنة من امتي، وفي حديث آخر قال عليه الصلوة والسلام لابى بكر ؓ الا ابشرک قال بلى بابى انت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وامي قال ان الله يتجلى للخلائق يوم القيامة ويتجلى لک خاصةً.

په يوه روايت کي راغلي دي چي ابوبکر ﷺ په غار کي ترې سو، عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي د غاري خولې ته ورسه ځان اوبه کړه، ابوبکر ﷺ چي ورغلی هلته تر عسلو خوږې، تر شيدو سپينې او تر مشکو خوش بويه اوبه دي، نو يې ښه ځان په اوبه کړی، نو عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي خدای پاک ملک موکل پر انهارو باندي د جنت امر کړه چي له جنت الفردوس څخه اوبه يوسه د غار خولې ته چي ابوبکر ترې دی، ابوبکر ﷺ وويل يا رسول الله ﷺ مالره دومره درجه سته په دربار کي د خدای ﷻ؟ قال نعم وافضل والذي بعثني بالحق نبياً چي ستا سره بغض کونکي په هرګز جنت ته داخل نه سي وان عمل ای عمل.

دروېش وايي: چي افسوس دی پر حال د روافضو او شيعه ګانو چي د دغسي ذات محترم عند الله وعند رسوله بغض ساتي او نا لائقه بنکنځل او پوچ فحش ورته وايي.

دروېش وايي: چي اخير الامر کفار مکه سره د پلزن نا اميده ولاړه له غاري څخه د جبل ثور څه يې په لاس نه ورغله.

پوښتنه: درې ورځي او شپې عليه الصلوة والسلام او ابوبکر ﷺ په غار کي څه شی غوړله؟

ځواب: په حديث کي راغلي دي چي عامر بن فهيرة چي د ابوبکر د مېرو او پسو يو شپانه ؤ د شپې به يې رمه د غاري خولې ته وروستل او شيدې به يې ولوشلې عليه الصلوة والسلام او ابوبکر ﷺ به يې په مړول او په سپېدو کي به يې لا رمه له هغه ځای رمول، او عبد الرحمن بن ابوبکر چي ښه هوښيار ځوان ؤ او په مکه شريفه کي ؤ، نو د شپې چي به خلګ بيده سوه دی به جبل ثور ته ورتلی او د کفارو ټوله اقوال او افعال به يې رسول الله ﷺ ته بيانول، او تر سپېدو دمخه به مکې ته راتلی چي مکې وال شک وانه خلي چي عبد الرحمن به شايد د عليه الصلوة والسلام او د پلار ملاقات ته ځي، او له ابو اسحاق څخه روايت دی چي اسماً بنت ابی بکر ﷺ به يو څه دوډی وغيره سره برابره کړه او چي شپه به

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تاریکه سوه دا طعام به یې علیه الصلوة والسلام او پلار ته رساوه.

فَأَنْزَلَ اللهُ سَكِينَتَهُ عَلَيْهِ

نو خدای ﷻ نازل کړه آرام د زړه پر ده باندې، بعض مفسران وایي چې ضمیر د علیه و رسول الله ﷺ ته راجع دی حیث قال لا تحزن ان الله معنا. کذا قال البلادري وفیه ان سکینة القلب کانت حاصلة لرسول الله ﷺ من قبل هذا فالاولی ان یرجع الضمیر ابی بکر ﷺ، ولې چې د ابو بکر ﷺ په زړه کې سکینه هلته پیدا سوه چې علیه الصلوة والسلام ورته وویل لا تحزن ان الله معنا او صحیح هم داغه ده ولې چې مضطرب خو د ابوبکر ﷺ زړه ؤ چې علیه الصلوة والسلام ته یې وویل چې که یو سړی و خپلو پښتو ته وګوري ماوتا په وویني کما مر من قبل، خواجه فرید الدین عطار رحمه الله وایي:

خو اجه اول که اول یار اوست ..... ثانی اثنین اذهما في الغار اوست
چون سکینه شد زحق منزل براو ..... گشت مشکلهای عالم حل برو

وَأَيَّدَهُ بِجُنُودٍ لَّمْ تَرَوْهَا

او خدای ﷻ تائید او نصرت وکړی د علیه الصلوة والسلام په داسې لښکرو سره یعنې د ملکو چې تاسې نه لیدی چې ددې ملکو وظیفه داوه چې د کفارو مخان او سترګې بې له لیدلو څخه د علیه الصلوة والسلام اړولې، له اسماً بنت ابي بکر رضي الله عنها څخه ابو نعیم رحمه الله روایت کړی دی چې ابوبکر ﷺ یو سړی ولیدی چې غاري ته مخامخ راروان ؤ فقال یا رسول الله انه یرانا، دغه سړی موږ وینې یعنې مخامخ راروان دی، علیه الصلوة والسلام ورته وویل کلا ان الملائکة یستره الآن باجنحتها. ملکې په خپلو وزرونو رد کړی، نو هغه بې درنګه مخامخ ودوی ته پر بولو کښېنستی، نو علیه الصلوة والسلام و ابوبکر ﷺ ته وویل که یې ته لیدلې نو مخامخ پر بولو به نه کښېنستی، په روح البیان کې وایي چې ددغې ملکې دا اول وار ؤ چې نازل سوې وه او د علیه الصلوة والسلام څخه یې دښمنان دفع کړه، یعنې کفار قریش، او هم دغه ملکې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په بدر کي او په غزوة الاحزاب کي او په غزوه حنين کي نازله سوې وي.

پوښتنه: علیه الصلوة والسلام د هجرت په سفر کي د ځانه سره یو خوراک اخستی وؤ؟

ځواب: هو! ابن سعد رحمه الله وایي چي یو سترخوان وُچي په هغه کي د پسه پخې غوښي وې او یوه د ابو مشکولا وه، نو اسماً بنت ابوبکر رضي الله عنها وایي چي ما خپل کمر بند (د عربو د ښځو دا عادت وُچي ملا به یې په یوې مرانديې تړله) دوه ځایه کړی په یوه حصه مي د ژي خوله وتړله او بل بل خوا مي سترخوان وتاړه، نو اسماً رضي الله عنها ته په دې سبب ذات النطاقين ویل کېدل.

معجزه باهرة في سفر المدينة: طبراني، حاكم، ابو نعيم وغيرهما رحمهم الله وایي چي په اوږدو کي د سفر د علیه الصلوة والسلام ذی مبارک، ابوبکر، عامر بن ابو فهيرة او ددوی هادي عبدالله بن ارقيط ورغله پر خیمه د ام معبد چي یوه ښځه وه قریباً سپین سرې او تکړه چي د نرو سره به کښېنستله بې حجابه او په عین حال کي پاکه ښځه وه، نو دا د خپلي خیمې دباندې ناسته وه مسافر چي به راغله دې به دوډی او اوبه ورکولې، نو علیه الصلوة والسلام او ملګري چي پر قبه تېرېدله ورته وه یې ویل چي موږ ته غوښي او خورما راکړه چي درځخه را یې نسو په قیمت، نو ددې سره هیڅ شی نه وُ چي په دغه کال خلګ دې هر مسکینان وه، نو دې ورته وویل که زما سره شی وای تعني د خوراکي شیانو ځخه، نو ستاسي ځخه مي نه ګرځاوه، نو علیه الصلوة والسلام د خیمې په غوږي کي یو بزه ولیدله، فقال ما هذه الشاة يا ام معبد يعني دغه راولوشه شیدې یې موږ ته راکړه؟ هغې ورته وویل چي دا یو داسي بزه ده چي په سبب د ډنګروالي او ضعف له رمې ځخه پاته سوې ده، قال هل بها لبن شدې لري؟ ام معبد ورته وویل چي شیدې چېري لري، علیه الصلوة والسلام ورته وویل چي ماته اجازه راکوې چي زه یې ولوشم؟ قالت بابی انت وامي سره ددې چي ام معبد نه پېژندی چي رسول الله ﷺ دی لکن د عربو عادت دادی چي په وخت کي د اظهار د رضابابی انت وامي وایي، که یې ته لوشې ستا خوښه ده لکن دا تر اوسه مینده هم نه ده شرلې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځنګ بها، نو علیه الصلوة والسلام بزه تر غاړې ونیوله او غولانځه یې له لاس مبارک سره مسحه کړه او پر شا یې هم لاس ورتېر کړی او بسم الله یې وکړه، او خدای ﷻ ته یې خواست وکړی په باره کې د شیدو، نو د بزې غولانځه د شیدو ډکه سوه او پښې یې سره پراخه کړې د لوشولو لپاره، علیه الصلوة والسلام ام معبد ته وویل چې یو لوښې راوړه، هغې دکې ورته راواخستل علیه الصلوة والسلام لوشله چې د دکې پر خوله ځګ راغلی یعنې ډکه سوه دومره شیدې یې ځنې ولوشلې چې د پوره راهط بس وې، ام معبد وایي چې اول یې ماته شیدې راکړې ما ځان ښه په اوبه کړی، وروسته علیه الصلوة والسلام خپلو ملګرو ته ورکړې هغو ځانونه ښه په اوبه کړل، اخیر علیه الصلوة والسلام پخپله وڅیښلې او دا یې وویل "ساقی القوم اخیرهم" بیا ولوشل دکې یې ډکه ام معبد ته پرې ښول، او علیه الصلوة والسلام ځنې ولاړی، او ابو نعیم او ابن سعد له ام معبد ځخه روایت کړی دی چې دغه بزه دې تر اتلس کاله پورې د هجرت یعنې تر زمانې پورې د خلافت د عمر ﷺ وساتل، او ام معبد وایي چې سهار او مانښام به مو یوه یوه دکې ډکه ځنې لوشله.

دروېش وایي: چې دا قصه چې معتبرو راویانو یې روایت کړی دی د علیه الصلوة والسلام لویه معجزه ده، او د خدای ﷻ د عظیم قدرت دلیل ده، دغه حدیث په یو بل روایت کې راغلي دي قال ابوبکر ﷺ فلبثنا لیلتین ثم انطلقنا، ام معبد د علیه الصلوة والسلام ځخه تعبیر په مبارک سره کاوه، او د ام معبد بوزې او میږې او مواشي بیخي ډېرې سوې حتی یو کال یې رمې مدینې ته راوستې او زوی ورسره و، قمر ابوبکر ﷺ نو د ام معبد زوی یې وپېژندی او و مورته یې وویل یا امة ان هذا الرجل الذي کان مع المبارک، مور یې یعنې ام معبد ورولاړه سوه فقالت یا عبدالله من الرجل الذي کان معک قال ابوبکر ﷺ هو نبي الله، دې ورته وویل چې ته ما وروله د ملاقات لپاره، نو علیه الصلوة والسلام ته ابوبکر سیده وروسته، نو علیه الصلوة والسلام دوه دې ورکړه او کالي یې ورکړه او ام معبد اسلام راوړی، تمت قصة ام معبد ﷺ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: په روح المعاني کي وايي چي يوه ورځ رسول الله ﷺ وحسان بن ثابت ته وويل چي نوموړی شاعر وُ د عصر نبوي چي تاد ابوبکر په باره کي يو شعر نه دی جوړ کړی قال نعم، علیه الصلوة والسلام ورته وويل چي ته يې ووايه زه به غوږ ورته ونسم، فقال حسان ﷺ.

و ثانئ اثنين في الغار وقد ..... طاف العدو به اذ صاعدا الجبلاً

وكان احب رسول الله قد علموا ..... من البرية لم يعدل به رجلاً

فضحک رسول الله ﷺ حتی بدت نواجذه وقال صدقت یا حسان هو کماقلت.

دروښ وايي: چي مظهري دغه دوه بيته په نورو الفاظو راوړی دی والله اعلم

تنبيه: له اسماً بنت ابی بکر ﷺ څخه روايت دی چي عليه الصلوة والسلام او ابوبکر ﷺ چي له کفارو څخه د مکې لادرکه سوه يعني په غار کي د جبل ثور، نو زمونږ کور ته بعض کفار مکه راغله چي په هغو کي ابو جهل هم وُ فقال اين ابوک پلار دي يعني ابوبکر چېرې دی، اسماً ﷺ وايي ماورته وويل لاادري والله اين ابي، نو ابو جهل چپلاخه پورته کړه وکان خبيثاً زه يې پر مخ ووهلم چي زما غوږ والی له غوږو څخه ولوېدی، وروسته دوی ولاړه، دا وه تنبيه پر جهالت او غلظت او پر خباثت د ابوجهل، اسماً ﷺ وايي چي درې ورځې مونږ ته هم هيڅ خبر نه وُ چي عليه الصلوة والسلام او ابوبکر ﷺ چېرې دي خو دوی په جبل ثور کي وه، درېيمه ورځ عبدالله بن ابي اريقط حسب الميعاد اوښان جبل ثور ته وروستل او عليه الصلوة والسلام او ابوبکر ﷺ له غار څخه پر را ووتل، عليه الصلوة والسلام چي مکې مکرمې ته وکتل وه يې ژړل او وه يې ويل اني لاخرج منک واني لا علم انک احب بلاد الله واکرمها علی الله ولو لا ان اهلک اخرجوني ماخرجت (زه له تا څخه وزم او زه په دې پوهېږم چي ته اې مکې احب يعني محبوب ترين د ټولو د خدای ﷻ يې او په دربار کي د خدای ﷻ هم ډېر شرافت لرې او که ستا اهل يعني کفار قريش ستا څخه نه وای ايستلی يعني وتلو ته يې نه وای مجبوره کړی زه به ستا څخه نه وای وتلی.

دروښ وايي: چي دا حديث پر دې دلالت کوي چي مکه مکرمه اشرف ده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عند الله تر ټولو ځایو د مځکي، وفي الحديث الصحيح من صبر على حر مكة ساعة من نهار تباعدت عنه جهنم مسيرة مائة عام والحسنة فيها بمائة الف حسنة (که چا صبر وکړی پر ګرمی د مکې یو ساعت د ورځې، دوزخ به له هغه ځخه لیرې سي د سلو کلو په مسافت سره او یوه نېکي په مکه مکرمه کي په یوه لک نېکیو ده یعني د بل ځای)

پوه سه: چي د امت اجماع ده چي هغه مځکه چي پر جسد شریف د علیه الصلوة والسلام راګرځېدلې ده هغه تر ټولو بقاع د مځکې مشرف ده حتی تر عرش او کرسی هم مشرفه ده.

دروېش وایي: چې له دې ځای ځخه سفر باسعادت د علیه الصلوة والسلام د هجرت شروع سو، ملګري په دې سفر کي دده مبارک ابوبکر، عامر بن فهیرة چي د ابوبکر د پسو شپانه ؤ او عبدالله بن ابي اریقط ﷺ چي ددوی د لارې هادي ؤ چي مجموع ځلور کسان وه.

پوه سه: چي ابن ابي اریقط ﷺ له علیه الصلوة والسلام ځخه مشوره وغوښتل چي یوه لار مدینې ته په دښتو او ریګو او بې اوبو مځکه ده چي مدینې ته تللې ده چي لنډه ده لکن بامشقت ده او بله لار د دریاب پر غاړه تېره سوې ده چي ځه اوږده ده لکن په راحت ده پر کومه دي ورسوم؟ علیه الصلوة والسلام د دریاب د غاړې لار مختاره کړه.

دروېش وایي: چي کفار مکه چي د علیه الصلوة والسلام او د ابوبکر ﷺ د نیولو ځخه ناامیده سوه، نو یې اعلان کونکي واستول و اطرافو ته د مکې چي که هر چا دغه دوه کسه یعنون محمد ﷺ و ابوبکر ﷺ ژوندي ونیول موږ ته یې په لاس راکړه او یا یې قتل کړه د هر یوه پر سر سل اوښان ورکول کېږي (قصة سراقة بن مالک بن جعشم) په بخاري، مسلم او نورو کتابو کي چي سراقه وایي ماته راغله را استول سوي کسان د قریشو چي هر ځوک چي محمد او ابوبکر دواړه یا یې سړه کړي یا یې ژوندي ګرفتار کړي پر هر یوه دیت د یوه سړي یعني سل اوښان ورکول کېږي. دی وایي چي زه په مجلس کي د خپل قوم بني مدلج

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ناست وم چې یو سړی راغلی او ودرېدی یا سراقه ما د دریاب پر غاړه یو څو کسه سپاره ولیدل زما خیال دادی چې دغه محمد او اصحاب دده وه، سراقه وایي زه پوه سوم چې دغه لیدل سوي کسان هم دوي دي لکن هغه قائل مي د سترګو په اشاره پوه کړی چې ږغ مه لره. نو کورته ولاړم او مینځي ته مي وویل چې دا زما آس شپلې ته وباسه، او سلاح مي راواخستل د سرای د شا له خوا ووتلم او نیزه مي هم راواخستل د وسپني طرف مي کښته کړی او د لرګي خوا مي پورته ونیول.

دروېش وایي: چې په دې توله کې د سراقه غرض دا ؤ چې له قومه څخه څوک را پسې را نه سي تاچې دا دوه سوه اوښاني یوازې زه تر لاسه کړم، سراقه وایي چې آس ته راغلم او پر سپور سوم او واګي د آس مي راپورته کړې یعني په تاخت مي څغلاوه چې علیه الصلوة والسلام او ملګرو ته ورنژدې سوم آس مي نوک ووا هه. زه څنې غوځار سوم بیرته ولاړ سوم، او له بغل څولی څخه مي د فال غشي راوکښل چې پر یوه نوشته وه افعل او پر بل نوشته وه لاتفعل، نو هغه غشی راوخټی چې پر نوشته وه لاتفعل دا کار مه کوه یعني ضرر و علیه الصلوة والسلام او ملګرو ته مه رسوه. لکن د فال نافرماني مي وکړه لپاره د اوښانو د محبت، بیا چې ورنژدې سوم دومره قدر چې قرائت د علیه الصلوة والسلام مي واوریدی، او علیه الصلوة والسلام تر شا نه کتل او ابوبکر ﷺ هر ګړی تر شا کتل، بیا مي د آس پښې تر زنګنو په سخته محکه کې ننوتلې زه څنې وغورځېدم او پر آس مي ږغ وکړی، آس وغورځېدی دومره دوړي یې وکړې لکه دود د اسمان پر خوا، بیا مي په غشو فال وکړی بیا غشی راووتی لاتفعل، دی وایي چې زه په دې پوه سوم چې زه ددې له ضرره څخه منع سوم، نو مي ورناړې کړې په بالامان سره، او ورته وه مي ویل چې تاسي ماته ودرېږئ فو الله دي زما قسم وي چې تاسي نه ازاروم او نه ضرر دررسوم، نو علیه الصلوة والسلام و ابوبکر ﷺ ته وویل چې ته ورته ووایه چې ته څه غواړې ما ورته وویل چې ستا قوم ستاسي د هر یوه پر سر سل اوښي دیت انعام اینبی دی او پوره حال د قریشو مي ورته ووایه، سراقه وایي چې ما علیه الصلوة والسلام ته زاد السفر او نور

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

متاع پېښ کړه خو علیه الصلوة والسلام نه کړه قبول مګر دا یې راته وویل چې موږ پټ ساته، او پر دغه خوا پهره کوه هر څوک چې په موږ پسې راتلی مې پرېږده، سراقه وایي چې دا وعده ما ورسره وکړه لکن دا مي ورته وویل چې ماته ته د امن یو خط راکړه چې په ما به څوک ستاله متابعانو څخه کار نه لري، نو عامر بن فهیرة چې د هغه خط یې زده ؤ پر څرمن باندي یې د امن خط نوشته کړی ثم مضی رسول الله ﷺ.

دروښ وایي: چې سراقه رشتیا داغسي وکړه چې تمامه ورځ پر دالار ګرځېدی چې هر څوک چې په طلب کي د رسول الله ﷺ پر دغه لار راتله سراقه به ورته ویل چې ما دا خوا ټوله غوښتې ده دوی یعني علیه الصلوة والسلام نسته.

دروښ وایي: چې څه وخت چې علیه الصلوة والسلام مکه مکرمه فتح کړه او د حنین له غزا څخه هم فارغ سوه، سراقه وایي چې زه علیه الصلوة والسلام ته ورراهي سوم چې ملاقات وسره وکړم او د امن مکتوب هم راسره ؤ، نو باره زه په جماعت کي د جماعاتو د انصارو ورګډ سوم، نو دوی زه په نېزو وهلم او راته ویل ګوښه سه حتی چې علیه الصلوة والسلام ته ورنژدې سوم او دی پر اوښه سپرېدی ما یې پنلوی ته کتله په رکیب کي د اوښي وه ما په لاس کي مکتوب د امان پورته کړی او ورته وه مي ویل یا رسول الله هذا کتابک وانا سراقة بن مالک فقال رسول الله ﷺ یوم وفاء وبرا، نو زه ورنژدې سوم او ایمان مي راوړی.

پوه سه: چې حاکم له عروه څخه او عروه له خپل پلار څخه داسي روایت کړی دی چې علیه الصلوة والسلام په سفر کي د مدینې د جماعت سره د تجارو چې مسلمانان وه چې له شام څخه راروان وه چې زبیر بن عوام ﷺ هم پکښې ؤ ملاقي سوه، نو زبیر و علیه الصلوة والسلام او ابوبکر ﷺ ته سپین کالي ورکړه، او بیهقي د موسی بن عقبه څخه روایت کوي چې علیه الصلوة والسلام چې مدینې ته ورنژدې سو طلحة بن عبید الله چې له شامه راروان ؤ او مکې ته تلی، نو د علیه الصلوة والسلام سره چې ملاقي سو او ابوبکر ﷺ کالي ورکړه.

دروښ وایي: چې بیهقي له ابو هریره ﷺ څخه روایت کړی دی چې علیه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الصلوة والسلام چې مدينې منورې ته ورنژدې سو ابوبرده اسلمي سره د اوويا کسانو د خپل قوم بني سهم په مخه ورغله، عليه الصلوة والسلام ورته وويل من انت؟ فقال بريدة، نو عليه الصلوة والسلام ابوبکر ﷺ وويل برد امرنا زمونږ کار خنک سو يعني گرمي د هجرت تهره سوه، بيا عليه الصلوة والسلام ورته وويل له کومې قبيلې څخه يې؟ بريده ورته وويل من اسلم قال لابی بکر سلمنا، مونږ سالم سوو له غمو څخه، بيا عليه الصلوة والسلام ورته وويل چې وروسته لويه قبيله دي څه شی ده، هغه ورته وويل من سهم، قال لابی بکر خرج سهمک برخه دي تر لاسه کړه.

فائده: په حديث کې د بخاري او مسلم راغلي دي چې د عليه الصلوة والسلام فال يې خوښ ؤ او بدفالي يې مکروه بلل، د فال دغه حديث په زړه پوري مثال دی په درې ځايه کې فافهم.

بهانه فائده: تاريخ اسلامي وايي چې عليه الصلوة والسلام په دوشنبه زوکړی دی، او په دوشنبه نبي سوی دی، او په دوشنبه له مکې څخه وتلی دی، او په دوشنبه مدينې ته داخل سوی دی، او په دوشنبه معراج ته تللی دی، او په دوشنبه يې له دنيا فاني څخه ستر گي پټې کړي دي، شاه عبدالعزيز دهلوي رحمه الله وايي چې ددې ټولو دوو شنبو معنا داده بعد از خدا بزرگ توئی قصه مختصر.

وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِيْنَ كَفَرُوا السُّفْلٰى ؕ

او خدای پاک وگرځول کلمه د هغو کسانو چې کفر يې کاوه يعني کلمة الشرک ودعوتهم الی الکفر "السفلی" يعني کښته چې عليه الصلوة والسلام يې له ازاره د مشرکانو او کافرانو د مکې خلاص کړی او صحيح سالم مدينې منورې ته ورسېدی او په خپلو کې تائيد دده په ملگرو سره چې دا يې اول وارډ کما مر في الآية السابقة وايده بجنود آه.

وَكَلِمَةُ اللّٰهِ هِيَ الْعُلْيَا ؕ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ۝

يعني کلمة التوحيد لا اله الا الله او کلمه د دعوت و اسلام ته. لوړ يې وگرځول، او خدای پاک په تدبير کې د کارو غالب او پر هر کار کې حکمت لري.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اِنْفِرُوْا خِفَافًا وَّثِقَالًا

ای اخرجوا وځئ اې مؤمنانو که سپک یاست او که درانه سره د علیه الصلوة والسلام وغزاته د تبوک چې دې پره سخت غزاوه، یو خو سخته ګرمي وه او بل سفر بعید وه، او بل دې پر لوی لښکر د کافرانو په مقابل کې ددوی و، په تاج المصاد کې وایي چې النفیر والنفور بسفر بیرون شدن.

دروېش وایي: چې ترجمه کونکو د قرآن کریم مختلف تفسرونه د قرآن کریم کړي دي یعني د خفافاً او ثقالاً. نو بیان د ټولو تفسیرو بهله نسبته وقائل لحال الطول في بیان القائلین.

پوه سه: چې خفافاً جمع د خفیف ده او ثقالاً جمع د ثقیل ده او دا دواړه لفظه منصوب دي حال دي له فاعل څخه د اخرجوا.

تفاسیر: (۱) ځوانان او سپین ږیري (۲) فقراً او اغنیاً (۳) پیاده او سپاره (۴) په بدن جوړ او ناجوړه (۵) بې اولاده او اولاد لرونکي (٦) مسرعین خارجین ساعة سماع النفیر. او یا ثقالاً چې فکر په تلو کې وهي او ځان ورته اراسته کول (۷) او سلاح یا لږ وي او یا ډېره (۸) په خوشالی وزي او که په خوابدتیا (۹) که وتل ورته اسانه وي او که نه (۱۰) ډنګر یاست او که چاغ (۱۱) قوي یاست او که ضعیف، له ابن ابو مکتوم ﷺ څخه روایت دی چې په دواړو سترګو ړوند ؤ علیه الصلوة والسلام ته یې وویل چې پر ما هم نفیر لازم دی قال نعم. نو ابن ام مکتوم کورته ولاړی توره او زغره یې راواخسته راغلی و علیه الصلوة والسلام ته ودرېدی فنزل قوله تعالی لیس علی الاعمی حرج" پر راښده باندې ګناه نسته په نه وتلو کې. وایضاً نزل لیس علی الضعفاً ولا علی المرضی الآیة. نو دا آیت تخصیص دی د عموم د آیت اولی فافهم، له زهري رحمه الله څخه روایت دی چې سعید بن المسیب ﷺ چې په یوه سترګه ړوند ؤ هم په لښکر کې ووتی یو چا ورته وویل چې ته خو ناجوړی یې او په یوه سترګه ړوند هم یې ته ولې غزا ته ځې. ده ورته وویل استغفرالله زه که څه هم جنګ نه سم کولای لکن د لښکر سواد خو په ما سره ډېر ږیږي او متاع د غازیانو خو ور ساتلای سم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَجَاهِدُوا بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٤١﴾

او جهاد کوئ په مالو سره خپل او په ځانو سره خپل په لار کې د خدای ﷻ یعني لاعلاءً کلمة الله، دا جهاد مذکور خیر دی ستاسي لپاره که تاسي په خپل خیر او شر پوهیږئ، نو د "تعلمون" مفعول محذوف دی، او ان کنتم من اهل العلم نو تعلمون منزل منزلة اللازم دی، له محمد بن عمر ﷺ څخه روایت دی چې علیه الصلوة والسلام مسلمانان باعثه کړل پر صدقه باندې لپاره د تجهیز د جیش العسرة في غزوة تبوک، اول سړی چې کومک یې راوړی ابوبکر صدیق ﷺ و چې ځلور زره درهمه یې راوړه، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې کور ته دې څه شی پریښنو؟ ابقیت لهم الله ورسوله، او عمر ﷺ نیمی د ابوبکر ﷺ د مال راوړی، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل هل ابقیت لاهلک شیئاً، ده ورته وویل نعم دومره لکه چې رامې وړه کور ته مې پریښول، حضرت عباس، طلحة بن عبید الله، سعد بن عبادة او عبد الرحمن بن عوف ﷺ هر یوه دوه سوه وقیه د سپینو زرو و علیه الصلوة والسلام ته راوړه.

پوه سه: چې یوه وقیه څلو ښښت درهمه ده چې مجموع اته زره څلور سوه څلو ښښت (۸۴۴۰) درهمه کېږي. او عاصم بن عدي ﷺ نوي وسقه خورما راوړه چې یو وسق شپېته کاسې کېږي. او حضرت عثمان بن عفان ﷺ درېیمه حصه د ټوله لښکر پر ذمه واخسته، محمد یوسف الصالحي ﷺ وایي چې مجموع لښکر د غزوه تبوک دېرش زره (۳۰۰۰۰) کسه ؤ، نو عثمان ﷺ د لسو زرو کسو تجهیز پر ذمه واخستی، محمد بن اسحاق صاحب المغازي وایي انفق عثمان ﷺ نفقة عظیمة لم ینفق احد مثلها، او بیهقي له عبد الرحمن بن سمرة څخه روایت کړی دی چې عثمان ﷺ علاوه پر مذکور کومک څلور زره طلاوي د علیه الصلوة والسلام په لمن کې وړاچولې او علیه الصلوة والسلام لاس په دې دینارو کې وواهه او داسي یې دوه واره وویل ماضر عثمان ماعمل بعد الیوم.

له ابن عقبة ﷺ څخه روایت دی چې منافقان په دې غزا کې د تبوک نه سوه شامل او دوی ته دا یقین ؤ چې علیه الصلوة والسلام دوی به ژوندي له دې غزا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څخه نه سي راستانه، او بعض منافقان چې تر اتيا څه بالا وه راغله و عليه الصلوة والسلام ته يې د درواغو عذرونه پيش کړل چې موږ ته اجازه راکړه د قعود عن غزوة تبوک او عليه الصلوة والسلام چې دوی صادق په عذر کې وبلل اجازه د قعود يې ورکړه، فانزل الله فيهم.

لَوْ كَانَ عَرَضًا قَرِيبًا

پوه سه: چې اسم د کان محذوف دی ای لو کان مادعوا اليه که وای هغه شی چې دوی وربلل سوي وه هغه ته يعني المنافقين عرضاً يعني متاع الدنيا او يا غنيمت وای نژدې او اسان وای حصول د هغه.

وَسَفَرًا قَاصِدًا لَّاتَّبَعُوكَ وَلَٰكِن بَعُدَتْ عَلَيْهِمُ الشُّقَّةُ ۚ

او سفر ميانه دومره لري نه وای له تبوک، دوی يعني منافقينو به ستا متابعت کړی وای او درسره وتلي به وای لپاره د ترلاسه کولو د غنيمت نه لپاره د رضاً الهي، لکن لېري سو پر دوی مسافت د سفر د غزوة تبوک.

وَسَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ لَوِ اسْتَطَعْنَا لَخَرَجْنَا مَعَكُمْ ۚ يُهْلِكُونَ أَنفُسَهُمْ ۚ

ژر دی چې دوی يعني منافقان به قسم واخلي په خدای ﷻ سره يعني ستا د راضي کولو لپاره او لپاره د دفع د تهمت د نفاق له خپل ځانو څخه، والمعنی چې ته رجوع وکړه له تبوک څخه په خير او عافيت سره، نو دوی اظهار العذر لپاره به وای والله، که زمونږ په طاقت پوره وای يعني عذر مو نه درلودای مونږ به وتلي وای ستاسي سره و تبوک ته لکن معذور وو.

فائده: د "لخرجنا منكم" جمله په ځای کې د جواب ده قسم او د جواب د شرط دواړو راغلې ده.

پوه سه: چې دا آيت د عليه الصلوة والسلام معجزه ده ولي چې قبل الوقوع خدای ﷻ عليه الصلوة والسلام خبر کړی په ما سيقع من اعذارهم وحلفهم.

پوه سه: چې "يهلكون انفسهم" بدل دی له "سيحلفون" څخه يعني دوی خپل ځانونه په هلاک کې د عذاب الآخرة اچوي په سبب ددې چې دوی اول امتثال د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

امر نبوي ﷺ په خروج کي د تبوک ته وکړي او بيا درواغ وايي چي معذوره وو او بيا د درواغو قسمونه اخلي وکل واحد من هذه الذنوب الثلثة کاف في هلاکهم انفسهم، لتعريضها الغضب الالهي والعذاب الاخروي.

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ۝

او خدای پاک علم لري پر دوی چي دوی درواغ وايي، په دې معنا چي دوی پوره طاقت د خروج درلودی.

عَفَا اللّٰهُ عَنْكَ ۚ

خدای پاک دي تاته اې محمد ﷺ عفوه وکړي.

پوه سه: چي سفيان بن عيينه رحمه الله وايي چي خدای ﷻ دمخه تر ګناه لفظ د عفو راوړی دی د اکرام او تعظيم لپاره د عليه الصلوة والسلام. او بعض مفسرين رحمهم الله وايي چي لفظ د عفو چي دمخه تېر سو ددې لپاره چي عليه الصلوة والسلام تر اندازه بالا مغموم نه سي لکمال خوفه وخشيته من الله تعالى، مثال يې دادی لکه د يو کريم سړي سره چي چا د ملاقات وعده کړي وي او د هغه خلاف وکړي، نو هغه داسي ورته وايي عفاالله عنک لم لاتزرني، او يا يو کريم سړی و يو ګران سړي ده ته د يو کار ويلي وي چي دا کار وکړه او هغه يې نه وکړي، نو دی ورته ووايي عفاالله عنک ماصنعت في حاجتي.

لِمَ اَذِنْتَ لَهُمْ حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكَ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا وَتَعْلَمَ الْكٰذِبِيْنَ ۝

تا ولي اجازه ورکوله په ترک د وتلو وتبوک ته هغه وخت چي دوی ستا څخه اجازه د قعود وغوښتل، تا ولي توقف نه کاوه په اجازه ورکولو کي، تر هغه وخته پوري چي تاته معلومېدای هغه کسان چي صادق دي په عذر کي لکه مريض، پرونده او نه درلونکی د نفقې د سفر او يا د نفقې د عيال، او ته پوهېدای په هغو کسانو چي په عذر کي درواغ وايي کالمنافقين. ابن عباس رضي الله عنهما وايي چي عليه الصلوة والسلام منافقان د تبوک تر غزا دمخه نه پېژندل، ولي چي عليه الصلوة والسلام په ظاهره اسلام سره عمل کاوه او د چا د باطن تجسس يې نه کاوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: دا عتاب الهي ددې سببه نه دی چې علیه الصلوة والسلام ګناه وکړه حاش لله بلکې پر ترک د اولی چې علیه الصلوة والسلام تلوار وکړی په اذن ورکولو ددوی او ددوی حقیقت حال د عذر یې نه وپلتی فهو من قبیل حسنات الابرار سیئات المقربین کذا قال نجم الدین في التأویلات.

فائده مهمه: پوه سه! چې په اخیري آیت د خدای ﷻ له خوا څخه دا حکم فائده کېږي چې سړی یو کار یا خبري ته اراده وکړي باید اولاً فکر پکښې ووهي چې دا کار یا ګفتار به خیر وي او که به شر تلوار دي نه کوي. په حدیث شریف کې چې روایت یې انس ﷺ کړی دی یو سړي و علیه الصلوة والسلام ته وویل "اوصني" نو نبي علیه الصلوة والسلام داسې ورته وویل خذ الامر بالتدبر فان رئیت في عاقبته خیراً فامضه وان خفت غیاً فامسک.

زباړه: هر کار چې کوې فکر پکښې وهه که ستا په رایه عاقبت یې ښه درغلی نو یې وکړه او که یې عاقبت ستا په فکر "غی" یعني خراب ؤ نو یې پرېږده، علماء رحمهم الله په یوه خوله وایي چې عجلت او تلوار کار د شیطان دی، ولي ده چې د آدم علیه السلام جسد ولیدی چې روح لا نه ؤ پکښې پوه کل سوی ده وویل تلوار وکړئ او وه یې ویل وعزة ربي ان جعل هذا خیرا وفضله علي فلا اطیعه وان جعلني خیرا منه لاهلکنه. چې دروسته چې آدم علیه السلام ذي روح سو او خدای ﷻ ملکي او شیطان چې قبل الانکار یې نوم عزازیل ؤ په سجده ورته امر کړه، ابلیس منع وکړه له سجدې څخه او په امر الهي کې یې فکر ونه واهه.

دروښ وایي: چې تفصیل هذه القصة في تفسیر سورة البقرة، او ثاني یعني په مهلت کار کول له صفاتو څخه د رحمان دي ولهذا خلق السموات والارض في ستة ایام وان کان قادراً علی ان یخلقها في مقدار طرفة العین.

لَا يَسْتَأْذِنُكَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ أَنْ يُجَاهِدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالْمُتَّقِينَ ﴿٤٤﴾

ستا څخه اجازه د تخلف نه غواړي هغه کسان چې ایمان لري پر خدای ﷻ او پر ورځ د آخرت په تخلف او پاته کېدو کې له دې څخه چې جهاد وکړي په خپلو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مالو سره یعني د سفر خرڅ یا د سلاح د رانیولو لپاره او خپلو ځانو سره د سر بښندني او ویني تویولو في سبیل الله. بلکې دوی د غزا د اعلان سره سمدلاسه په خپل کار سازي بخت کېږي او اذن ته د تلو هم حاجت نه لري فضلاً عن التخلف، او خدای پاک خبر دی د هر ښه په حالاتو د هغو کسانو چې له خدای ﷻ څخه ویره لري.

إِنَّمَا يَسْتَأْذِنُكَ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَارْتَابَتْ قُلُوبُهُمْ فَهُمْ فِي رَيْبِهِمْ يَتَرَدَّدُونَ ﴿٤٥﴾

پوه سه: چې کلمه د "انما" لپاره د حصر ده یعني ستا څخه اجازه د تخلف د غزا نه غواړي مګر هغه کسان یې غواړي چې دوی ایمان نه لري پر خدای ﷻ او پر ورځ د آخرت یعني پر ثواب د اخرت پر جهاد في سبیل الله باندې.

دروښ وایي: چې مراد له دغو کسانو څخه منافقین دي، ولې دوی که څه هم اظهار د ایمان کاوه په خوله لکن دا اظهار د ایمان سره د نفاق د زړه فائده نه لري او د دوی زړونه شکي وه په صحت د دین اسلام لکن د خولې اظهار یې لپاره د حفظ الدم والاموال والاولاد کاوه، نو دوی په خپل دغه شک کې متحیر وه، ګاهي به یې په زړو کې دا ورګڅېدله چې باید ورسره ولاړ سو و غزا ته د تبوک، ولې که مسلمانان له دې غزا څخه سالم راغله نو موږ که نه سو ولاړ موږ ته به درد سر وګرځي او مسلمانان به موږ ته لوی ضرر ورسوي او ګاهي به یې په زړو کې دا ورګڅېدله چې نه ورسره ځو، ولې چې له دې غزا څخه دوی سالم نه سي راتلای.

فائده: خدای ﷻ په دواړو ډلو ایمان بالله والیوم الآخر ذکر کړی ددې لپاره چې ایمان بالله والیوم الآخر باعث د خروج په لښکر کې دی رجاء لثواب الله في الیوم الاخر وعدم الایمان یقتضی عدم الخروج في الغزا لعدم رجا الثواب.

وَلَوْ أَرَادُوا الْخُرُوجَ لَأَعَدُّوا لَهُ عُدَّةً وَلَٰكِنْ كَرِهَ اللَّهُ انْبِعَاثَهُمْ فَثَبَّطَهُمْ وَقِيلَ اقْعُدُوا مَعَ الْقَاعِدِينَ ﴿٤٦﴾

که دوی یعني منافقانو اراده د خروج وغزوة تبوک ته ستا سره درلودلای، نو دوی به اراسته کړی وای لپاره د خروج الی الجهاد یو کار سازي د خروج او جهاد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لپاره من السلاح والمتاع والمركوب، خدای پاک مکروه بولي وتل ددوی، ولي ددوی په وتلو کي خطره وه د شیطانت په مسلمانانو کي لکه وروسته چي به راسي، او تفرقه اچول په منځ کي ددوی، نو دوی یې منع کړه له خروج څخه بالجبن والکسل، او دوی ته وویل سوه چي کښېنئ د هغو کسانو سره چي هغه له غزاؤ څخه ناست دي چي ناجوړیان دي یا شلان دي او یا ړندیان دي او یا بنځي دي او کوچنیان دي.

سوال: دوی ته خو چا نه وه ویلي چي کښېنئ سره د قاعدینو.

ځواب: هو! لکن دا آیت تمثیل دی ددوی د کراهة الخروج في قلوبهم او له وسوسة الشیطان لهم بالامر بالقعود، او یا اذن ته رسول الله ﷺ ودوی ته امر په اقعدوا وبالی.

دروښ وایي: چي قصه د خروج د علیه الصلوة والسلام وه غزا ته د تبوک او تخلف د اکثرو منافقانو کما في التواریخ الاسلامیة والآحادیث الصحیحة والتفاسیر المعتبرة چي علیه الصلوة والسلام د رجب په میاشتي کي په سنه ۹ هـ نو لښکر یې سره غوندې کړی په ثنیة الوداع کي چي د یو مشهور ځای نوم دی، محمد بن اسحاق، او محمد بن عمر او ابن سعد رحمهم الله وایي چي د لښکر تعداد تر دېرش زره یو څه زیات وؤ، او حاکم له ابو زرعه څخه په روایت وایي چي په تبوک کي اوویا زره کسه جمع وه، ددې دوو روایتو جمع کېدای سي چي د لښکر سره په لار کي نور مسلمانان ملګري سوي وي، او په لښکر کي لس زره آسان وه او د پنځ شنبې په ورځ علیه الصلوة والسلام له مدیني منورې څخه ووتی، ابن هشام وایي چي پر مدینه منوره یې محمد بن مسلمة الانصاري رضي الله عنه حاکم مقرر کړی، او بعض وایي چي سباع بن عرفطة رضي الله عنه یې مقرر کړی او بعض وایي چي ابن ام مکتوم چي نوم یې عبدالله بن شریح رضي الله عنه وُ چي په ستر ګو ړوند وؤ مقرر کړی، والراجح محمد بن مسلمة رضي الله عنه، او عبدالرزاق د ابن وقاص رضي الله عنه په روایت وایي چي علیه الصلوة والسلام خو اولاً علي بن ابي طالب رضي الله عنه خلیفه وګرځاوه لکن منافقانو به ویل چي علي یې د استثقال دده مقرر کړی یعني علي رضي الله عنه ځان وځړاوه، نو د منافقانو دا خبره چي علي رضي الله عنه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

واورېدله پر اس سپور سو او خپل سلاح يې ورسره واخستله، عليه الصلوة والسلام سره د فوجه په جرف کي اړولي وه چي علي ﷺ وروړسېدی. نو د منافقانو هغه خبره چي دده په شان کي يې کړې وه عليه الصلوة والسلام ته يې بيان کړه عليه الصلوة والسلام علي ﷺ ته وويل چي دوی درواغ وايي، لکن ما چي ته وروسته پرېښولې ددې لپاره چي زما اهل او ستا اهل په مدينه کي دي فارجع واخلفني في اهلي واهلک، فلا ترضى يا علي ان تكون مني بمنزلة هارون من موسى ﷺ يعني لکه موسى ﷺ چي کوه طور ته تللی د تورات د راوړلو لپاره خليفه يې هارون وګرځاوه الا انه لانبي بعدي فرجع علي الى المدينة وهذا الحديث رواه البخاري ومسلم، تاريخ اسلامي او د احاديثو راويان وايي چي عبدالله بن ابی رئيس المنافقين جلا فوج يې جوړ کړی او د عليه الصلوة والسلام د وتلو سره دی هم د خپله فوج سره ووتی له مدينې څخه و طرف ته د ذباب چي يو غر دی مدينې ته نژدې، نو دی تر هغو هلته وُتر څو چي عليه الصلوة والسلام تبوک ته روانېدی، نو څه وخت چي عليه الصلوة والسلام د تبوک پر خوا حرکت وکړی ابن ابي بيرته مدينې ته راغلی او متخلفينو منافقانو ته به يې ويل يغزو محمد بني الاصفر چي رومیانو ته وايي مع جهد الحال چي دده حال دېر د تکليف دی او دېره ګرمي ده او مسافت د تبوک هم دېر لېرې دی چي محمد د بني الاصفر د جنګ طاقت او توان نه لري يحسب محمد ان قتال بني الاصفر معه اللعب چي جنګ د بني الاصفر سره يو ساتېرى دی والله لكاني انظر الى اصحابه مقرنين في الحبال وفي رواية متفرقين في الحبال لکه چي ورته ګورم چي دده اصحاب به د بل په رسيو ترلي وي او يا به په غرو کي سره متفرق وي، فانزل الله تعالى في ابن ابى واصحابه قوله تعالى.

لَوْ خَرَجُوا فِيكُمْ مَا زَادُوكُمْ إِلَّا خَبَالًا

که منافقين له تاسي سره وتلي واى وجنګ ته د تبوک دوی به تاسي ته نه واى زيات په خروج کي هيڅ شی مګر شر او فساد او فتنه چي په زړو کي د مسلمانانو جبن بزدلي اچولای چي د بني اصفرو فتح اسان کار نه دی او په عين حال کي به کومک د کفارو سره کوي ستاسي په جاسوسي سره او په غفلت کي ستاسي ونحو ذالک.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَّلَاۤ اَوْضَعُوْا خِلٰلَكُمْ يَبْغُوْنَكُمُ الْفِتْنَةَ

او دوی به چابک کوي شیطانت او د شکست غلطي اوازې ستاسي په منځ کي، دوی غواړي چې ستاسي مسلمانانو په منځ کي اختلاف پیدا سي او د کفارو رعب او بیره ستاسي په زړو کي پیدا کړي.

وَفِيْكُمْ سَمّٰعُوْنَ لَهُمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿۴۷﴾

او په تاسي کي داسي ضعیف العقیدة مسلمانان سته چې ددوی خبره اوري او ددوی پیروي کوي، او خدای ﷻ ښه خبر دی د ظالمانو په حال، نو خدای پاک به دوی ته جزا ورکړي.

لَقَدِ ابْتَغَوُا الْفِتْنَةَ مِنْ قَبْلُ

دوی طلب د فتنې کړی دی په تفرق کي د اصحابو ستا او په فراګنده والي د کار ستا دمخه تر دې وړځي د تبوک لکه په غزوة کي د احد چې ابن ابی سره د دریو سوه اتباعو دده له لښکر څخه ووتل، او دا یې خیال وُچې په مسلمانانو کي به تفرق او ترک النصرة پیدا سي.

وَقَلَّبُوْا لَكَ الْاُمُوْرَ حَتّٰى جَآءَ الْحَقُّ وَظَهَرَ اَمْرُ اللّٰهِ وَهُمْ كٰرِهُوْنَ ﴿۴۸﴾

او دوی د هر فکرونه وهلي دي او د هري حیلې یې کړي دي په ابطال کي ستاد دین، حتی چې راغلی حق چې نصرت د خدای ﷻ دی ستا د دین. او ښکاره سو امر د خدای ﷻ چې روز افزون ستاد دین اعلاً ده پر خلاف ددوی د حیلو في الابطال، او ددوی له ظهوره د دین ستا کاره او دښمنان او بد یې راتله.

دروښ وایي: چې د منافقانو دغه فتنې وې (۱) د احد په غزا کي چې دریو سوه کسان له لښکره ووتل او علیه الصلوة والسلام ته فقط اووه سوه کسه پاته سوه (۲) له لښکره ووتل په غزا کي د تبوک کمامن تفصیله (۳) په غزا کي د خندق چې دوی وویل یا اهل یثرب لامقام لکم فارجعوا (۴) په شپه کي د عقبه چې د علیه الصلوة والسلام اوښه پر لوړه راپورته سوه او لاندي یوه ژوره شپله وه، نو دوی په د اوښي په پښو کي یو شی وروغورځاوه چې وترپیږي او علیه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الصلوة والسلام وشپلې ته وغورځوي (۵) داغه رنګه په ليلة العقبه کې دوولس کسه منافقان پر ثنية الوداع چې نابېره يې پر عليه الصلوة والسلام حمله وکړي، او خداى ﷻ ددوى ددغې نابيري حملې څخه دى مبارک خبر کړى او دوى ناکام سوه او عليه الصلوة والسلام سالم پاته سو (٦) دا خبره ابن ابى وکړه لئن رجعنا الى المدينة ليخرجن الاعز منها الاذل كما حكى الله في القرآن في موضع اخر يعني في سورة المنافقين الى غير ذالک من قبائحهم وحيلهم في ابطال دين الاسلام ومحوه عن وجه الارض، ولنعم ماقيل.

چون ترا اندر حريم قرب خود ره داده شاه
از نفير پرده دار و طعن دربان غم مخور

دروښ وايي: چې په مذکوره آيتو تقبيح د حال د منافقانو او تسلي د عليه الصلوة والسلام او مؤمنانو ده، وبيان كون العاقبة للمتقين، وان الله معهم بالعون والنصر الى يوم الدين.

وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ ائْذَنْ لِّيْ وَلَا تَفْتِنِّيْ ؕ

او بعض له منافقانو څخه هغه څوک دي چې وايي ماته اجازه د تخلف راکړه او ما په فتنه کې مه اچوه.

پوه سه: چې دا منافق سړى جد بن قيس نومېدى، دا منافق و عليه الصلوة والسلام ته راغلى چې ماته اجازه د خلف وکړه چې زه عذر لرم عليه الصلوة والسلام ورته وويل چې ته د غزا تياري وکړه ته خو غنې يې او شايد چې له غزا څخه چې راځې له بنځو څخه د بني الاصفر به دې تر شا سپره وي، جد په دې خبره بې حيايي سره ورته وويل چې زما قوم په ما خبر دى چې هيڅ څوک تر ما د بنځو شوقي نسته، نو زه پر ځان بېرېږم که ما د بني الاصفر بنځې يعني رومياني چې ډېرې ښائسته دي که مې وليدلې زما به صبر نه ځندي وسي او په فتنه به اخته سم، عليه الصلوة والسلام مخ ځندي واړاوه، وقال قد اذناک يعني زما اجازه ده پاته سه، نو د جد منافق زوى چې نوم يې عبدالله وۀ او د بدر په غزا کې هم شامل وۀ خپل پلار جد ته يې وويل چې ولې دي د عليه الصلوة والسلام خبره رد کړه، قسم په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای ﷻ دی که په بني سلمة کي تر تا مالداره سړی سته، نو ولي غزا ته نه ځې؟ جد مذکور ورته وویل مالي وللخروج چې ډېره ګرمي ده او سخت ګرم بادونه هم چلېږي او سختي هم ده. نو زه څرنګه و غزا ته د بني الاصفر ولاړسم، او جد مذکور ورته وویل چې زه په کور کي له بني الاصفر څخه ښېرېږم زه به هلته ددوی غزا ته ځم! او ورته زیاته یې کړه چې زه په حوادثو د زمانې ډېر ښه پوهېږم یعني چې علیه الصلوة والسلام او مسلمانان به په جنګ کي د بني الاصفر مغلوبه کېږي، او زوی ته یې دا ښکاره کړه چې ما و علیه الصلوة والسلام ته وویل "لاتفتني" هغه صرف بهانه وه اصلي سبب دادی چې زه له بني الاصفر څخه ښېرېږم، عبدالله ﷺ خپل پلار ته ډېر سخت الفاظ وویل لا والله ولکنه النفاق، هغه خبري نه دي په خدای ﷻ دي مي قسم وي چې نفاق دي مانع د خروج دی، جد مذکور چوته پورته کړی خپل زوی یې پر دا مخ په ووهه زوی یې څه ورته و نه ویل ځندي ولاړ سو فانزل الله تعالی هذه الآیة "ومنهم من یقول آه" بعضو مفسرینو په مختصر عبارت سره داسي شان نزول بیان کړی دی لاتفتني بسبب ضیاع المال والعیال اذ لاکافل لهم بعدي والله اعلم بالصواب وعنده العلم بالکتاب.

أَلَا فِي الْفِتْنَةِ سَقَطُوا ۗ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةٌ بِالْكَافِرِينَ ﴿٤٩﴾

آګاه اوسه چې په فتنه کي د کفر او نفاق ظاهر دوی واقع سوي دي او په تحقیق سره جهنم محیط دی پر کافرانو.

إِنْ تُصِبْكَ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ وَإِنْ تُصِبْكَ مُصِيبَةٌ

که تاته ورسېږي په بعضو غزواتو کي نېکي یعني ظفر او غنیمت لکه په بدر کي، دوی یعني منافقان خو ابدي کېږي لفرط عداوتهم لک وللمؤمنین، او که تاته ورسېږي یوه سختي لکه په غزا کي د احد، نو دوی خوشاله سي په تخلف سره یعني وایي چې ښه سوه مونږ نه وو ورسره مونږ ته به هم قتل رسېدلی وای.

يَقُولُوا قَدْ أَخَذْنَا أَمْرَنَا مِنْ قَبْلُ وَيَتَوَلَّوا وَّهُمْ فَرِحُونَ ﴿٥٠﴾

دوی وای چې مونږ خو خپل کار دمخه لا سم کړی چې له غزا څخه د احد په کور کي کښېنستو، او دوی له مجلس څخه چې دوی خپل په منځ کي سره کاوه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خوشاله وي په مصيبت د مسلمانانو چې اوويا کسه شهيدان يې په غزا کې د احد له لاسه ورکړله، ونحن المؤمنون نقول انا لله وانا اليه راجعون.

قُلْ لَّنْ يُّصِيْبَنَآ اِلَّا مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَنَا ۚ هُوَ مَوْلٰىنَا ۚ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ۝

ته ورته ووايه يعني منافقانو ته چې هرګز موږ ته نه رسيږي مګر هغه شى چې ليکلى دى خداى پاک زموږ لپاره يعني په لوح محفوظ کې، او خاص پر خداى ﷻ دې توکل وکړي مؤمنان.

پوه سه: چې مراد د "ماكتب الله" څخه شهدا د احد دي.

قُلْ هَلْ تَرَبَّصُوْنَ بِنَآ اِلَّآ اِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ ۭ

ته ورته ووايه يا محمد ﷺ چې تاسي ايها الكافرون والمنافقون انتظار نه لرئ وموږ ته مګر يو د دوو ښو خصلتو څخه چې عاقبت يې زموږ لپاره ښه دى يا قتل او شهادت في سبيل الله، دا قتل که څه هم په نظر بد دى لکن زموږ په اسلام کې يو عاقبت حسنه دى لانها مورثة للجنة طول الحيوة المؤبدة او دويم عاقبت حسنه نصر او غنيمت دى.

پوه سه: چې اصل د "تربصون" تتربصون و حذف احدى التائين والمخاطب رسول الله ﷺ. او استفهام انكار دى يدل على النفي والا استثنا له نفي څخه.

عن ابي هريرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ انتدب الله لمن يخرج في سبيل الله (خداى ﷻ ضمانت او وعده کړې ده د هغه چا لپاره چې ووزي په لار کې د خداى يعني لاعلاء كلمة الله) لايخرجه الا ايمان بي وتصديق برسولي (دى نه وي ايستلى مګر ايمان پر ما او تصديق د رسولانو زما يعني ريا او د غنيمت قصد يې نه وي) ان ارجعه بما نال من اجر او غنيمة (ددې وعده چې زه به دى خپل کور ته راستانه کوم سره د هغه چې ده پيدا کړى يا ثواب او يا غنيمت.

پوه سه: چې دا کلمه د "او" لپاره د منع الخلود ده، ولي چې جمع يې روا ده چې هم دي ثواب د خروج في سبيل الله خداى پاک ورکړي او هم غنيمت او که غنيمت نه وي ثواب خو لازمي دى دا پر تقدير ددې چې دى ژوندى پاته سي وادخله الجنة که دى شهيد سي، متفق عليه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَنَحْنُ نَتَرَبَّصُ بِكُمْ أَنْ يُصِيبَكُمُ اللَّهُ بِعَذَابٍ مِنْ عِنْدِهِ أَوْ بِأَيْدِينَا ۖ فَتَرَبَّصُوا إِنَّا مَعَكُمْ مُتَرَبِّصُونَ ﴿۵۲﴾

او موږ انتظار کوو وتاسي ته که توبه له کفره او نفاقه ونه کړئ یو د دوو بدو حالاتو، چې تاسي ته دي ورسوي خدای پاک عذاب له خپل جانبه یعني په ورځ د قیامت یعني که تاسي پر موږ غالبه سئ په دنیا کي، او یا به زموږ په لاسو تاسي ته عذاب درکړي وهو القتل علی الکفر المفضي الی عذاب النار، نو تاسي انتظار کوئ زموږ و عاقبت ته موږ ستاسي سره په انتظار کي یو ستاسي د عاقبت وهي القتل او الموت علی الکفر.

قصه عاد وثمود از بهر چیست ..... تابدانی کانبیاً راناز کیست
این شان خسف وقذف وصاعقه ..... شد بیان عز نفس ناطقه

له نفس ناطقه څخه انبیاً علیهم السلام مراد دي

قُلْ أَنْفِقُوا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا

ته ورته ووایه چې تاسي انفاق وکړی په خپله خوښه او یا په زوره "قل" دا جواب د جد بن قیس دی من المنافقین چې ده د تخلف اجازه له علیه الصلوة والسلام څخه وغوښتل او ورته وه یې ویل چې زه مالي مرسته درسره کوم یعني په غزا کي د تبوک او له غزا څخه معذور یم کمامر من عذره الکاذب.

پوه سه: چې "طوعا وکرها" حال دی له ضمیر څخه د "انفقوا" ای حال کونکم طانعین او حال کونکم کارهین.

فائده: "طوع" داده چې د خدای ﷻ له خوا او د علیه الصلوة والسلام له خوا پر دوی باندې الزام او امر د انفاق نه وي بلکې د خپل زړه په خوښه چې طیب النفس یې بولي انفاق کوي کالمؤمنین المخلصین في غزوة تبوک علی مامر تفصیله. او "کره" داده چې د خدای او د رسول له خوا پر الزام وي لکه منافقین ولي چې ددوی خو په دې انفاق کي سترګي او طمع د ثواب نه درلوده، نو انفاق ددوی صرف اجبار او اکراه وه.

دروښ وایي: چې مظهري وایي چې دا "انفقوا" امر بمعنی الخبر ده انتهی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او وجه يې نه ده بيان کړې چې ولي ولله درصاحب روح البيان حيث بين وجهه وقال في معنى انفقوا اى "انفقتم" ولي امر که پر خپله سي فلا وجه لان يؤمر بشئ ثم يخبر انه عبث لا يجدي بوجه مابقوله لن يتقبل منكم.

لَن يُتَقَبَّلَ مِنكُمْ

ستاسي څخه نه قبلېږي. ددې نه قبلېدلو دوه احتماله دي يا دا معنا ده چې عليه الصلوة والسلام يې نه قبلوي بلکې ودوى ته يې برته ردوي او يا يې خداى پاک نه قبلوي يعني دوى ته پر دغه انفاق که طوعاً وي او که کرهاً وي ثواب نه ورکوي ولي چې شرط د ثواب پر انفاق ايمان بالقلب واللسان دى وهم منافقون ليس لهم ايمان بالقلب بل باللسان فقط لپاره د حفاظت د خپلو وينو او د ما او د عيال چې دې ته ايمان للسيف وايي.

پوه سه: چې ائمه الدين رحمهم الله وروسته تر رحلت د عليه الصلوة والسلام د هغه چا چې دوى به په پوهېدله چې منافق دى صدقه به يې نه ځندي قبلوله.

إِنَّكُمْ كُنتُمْ قَوْمًا فَاسِقِينَ

په تحقيق تاسي واست يو قوم چې خارج له دلي څخه د مسلمانانو ياست، دا جمله علت دى د عدم قبول د انفاق ددوى چې داسي جملې ته په عربي استيناف بياني وايي كما تقرر في علم البيان.

دروېش وايي: چې په مذکوره آياتو کې خداى پاک افعال ذميمه د منافقينو په تفصيل سره بيان کړه او ددوى اقوال شنيعه يې هم بيان کړه او بده د کافرانو هم همدغه دله ده او اسفل السافلين چې د دوزخ دېره سخته طبقه ده هم ددوى ځاى دى. په صحيح حديث کې راغلي دي "من شر الناس ذوا الوجهين (له بدو خلګو څخه دوه مخى سړى يعني به المنافقين) يأتي هؤلاء بوجه وهؤلاء بوجه آخر (چې راتګ کوي يوې دلي ته په يوه مخ او بلې دلي ته په بل مخ لکه منافقان چې په مسلمانانو ته راتله په مخ د اسلام لساني او کافرانو ته به ورتله په مخ د کفر قلبي لکن چونکه حقيقت د ايمان تصديق قلبي نه ؤ، نو ځکه د کافرانو په دله کې حساب سوه بلکې اخبث الكفرة، او چونکه په دوى کې ايمان لساني ؤ، نو د اسلام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

احکام من عدم قتلهم ونهب اموالهم وغیرها پر جاري وه) وکان له یوم القیامة لسانان من نار، کذا في ابکار الافکار (او ده لره به وي په ورځ د قیامت دوې ژبې د اور، او دا حدیث په ابکار الافکار کي چې د یوه کتاب نوم دی راغلی دی)

وفي الحدیث الصحیح آخر لا یستقیم ایمان حتی یستقیم قلبه ولا یستقیم قلبه حتی یستقیم لسانه (په بل صحیح حدیث کي راغلي دي چې نه سي برابر بدلای یعني پر نهج شرعي د بنده ایمان تر هغو پوري چې زړه یې برابر نه سي په تصدیق قلبي سره، او زړه یې نه سي برابر بدلای پر لار چې ژبه یې برابره نه سي یعني چې په ژبه غیبت بهتان درواغ او کلمات د کفر نه کوي او نه یې وایي.

وَمَا مَنَعَهُمْ أَنْ تُقْبَلَ مِنْهُمْ نَفَقَاتُهُمْ إِلَّا أَنَّهُمْ كَفَرُوا بِاللَّهِ وَبِرَسُولِهِ

او نه دي منع کړي دوی چې قبول دي کړه سي له دوی څخه نفقات ددوی.

پوه سه: چې تقبل صیغه مجهول ده مفعول مالم یسم فاعل نفقاتهم دی چې هغه مؤنث غیر حقیقي دی نو تذکیر او تانیث د فعل مسند دواړه یې روا دی له دې کبله بعض قرأ تقبل په تانیث وایي او بعض قاریان یې په تذکیر وایي یعني یقبل، او فاعل د منع انهم آه دی. یعني دمخه یې کفر کړی وو په خدای ﷻ او په رسول د خدای ﷺ حاصل دا چې کفر ددوی مانع دی له قبول څخه د صدقاتو ددوی.

وَلَا يَأْتُونَ الصَّلَاةَ إِلَّا وَهُمْ كُسَالَىٰ وَلَا يُنْفِقُونَ إِلَّا وَهُمْ كَارِهُونَ ﴿٥٤﴾

او دوی نه ورځي لمانځه ته د مسجد نبوي مګر په داسي دول چې ځانونه سست اچوي، ولي چې ددوی لمونځ خو د زړه له شوق نه دی نو چې له بهري دی، او نه کوي انفاق یعني في سبیل الله مګر نه دوی کراوبد یې کهږي، ولي چې دوی په ورکړه د نفقه في سبیل الله د ثواب عقیده نه لري لکفرهم، او که یې انفاق ونه کړی له عذابه نه بهر ږي دوی زکوة ورکول مغرم باله یعني صرف تاوان او نه ورکول یې غنیمت باله.

پوښتنه: په دمخه آیت کي خدای پاک وویل "انفقوا طوعاً وکرهاً" او دلته یې سلب کلي ځندي وکړی یعني في قوله تعالی "ولا ینفقون الاوهم کارهون آه" نو ددې آیت او دمخه آیت به تنافي نه وي؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خواب: مراد له طوع څخه کمامر انفاق دی من غیر الزام من الله ورسوله وذالک الطوع لم یکن الاءً ریا وخوفاً فلیس ذالک الانفاق الا عن کراهة واضطرار نه له رغبت او محبت څخه فلا منافات بین الطوع والکراهة فافهم.

فائده: کسالی جمع د کسلان ده لکه سکاری جمع د سکران ده، او استثناً په الاوهم کسالی او په الاوهم کارهون کي اشتثناً مفرغ ده من اعم الاحوال، والمعنی لایأتون الصلوة في حال من الاحوال الا وهم کسالی ولا ینفقون في حال من الاحوال الا وهم کارهون. ابوبکر خوارزمي رحمه الله وایي:

لا تصحب الکسلان في حالاته ..... کم صالح بفساد آخر یفسد
عدوی البلید الی الجلید سریعة ..... والجمر یوضع في الرماد فیخمد

یعني سکروتي چي په هیرو کي کښېږدي مري یعني تجاوز د مرض د بې عقل سړي وعاقل سړي ته رسېږي، والمصراع الثاني دلیل للمصراع الاول فافهم

فَلَا تُعْجِبْكَ أَمْوَالُهُمْ وَلَآ أَوْلَادُهُمْ

پوه سه: چي مخاطب یا علیه الصلوة والسلام دی یا هر مؤمن چي صالح د خطاب وي، د اعجاب معنی سرور دی بما یستحسن، والمعنی ته مستحسن مه بوله ما انعمنا علی المنافقین من الاموال والاولاد، ولي دا مال او عیال استدراج دی دوی لره.

إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُم بِهَا فِي الْحَيَوٰةِ الدُّنْيَا

په ورکولو سره د اموالو او اولادو ودوی ته.

پوه سه: چي دا جمله دلیل ده لقوله تعالی فلا تعجبک آه، په قرار د قانون نحوي وروسته تر لام جاره ان ناصبه مقدر دی لعدم جواز دخول حرف الجر علی الفعل، نو یعذب منصوب په هغه ان دی والمعنی اراده لري خدای ﷻ په ورکولو د اموالو او اولادو تعذیبهم په هغو سره ددې دنیا په ژوند کي. ولي چي دوی د جمع الاموال په باره کي څومره کراونه، سختی او سرګردانی، پر سر اخستي دي، او په انفاق في سبیل الله کي څومره درانه د غم او حسرت باروني ددوی پر زړو واقع کېږي او هم د اولادو له لاسه، حتی چي د اموال او اولاد لپاره یې د خدای ﷻ او د رسول ﷺ دښمنی ته غاړه ایښې ده یعني بالنفاق.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَتَزْهَقَ اَنْفُسُهُمْ وَهُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿۸۵﴾

پوه سه: چې زهوق وتل دي په تکليف سره يعني روحان د منافقينو به ددوی له جسدو څخه په سختي سره وځي او دوی به کافران وي، او د مرګ په وخت کې به غم او تأسف وسره ملګری وي.

دروښ وايي: چې سردار دوعالم به په وخت کې د زکندن لاس په اوبو چخ کړی او پر مخ به يې تبر کړی او دا به يې ويل اللهم للموت سکرات کذا رواه البخاري وغيره، فما كان حال المنافقين وقت قبض ارواحهم من اجسادهم فصدق قوله تعالى وتزهق.

وَيَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ اِنَّهُمْ لَمِنْكُمْ وَمَا هُمْ مِّنْكُمْ وَلٰكِنَّهُمْ قَوْمٌ يَّفْرَقُوْنَ ﴿۵۶﴾

او دوی قسم بالله اخلي چې موږ ببله شکه ستاسي د مسلمانانو له ډلي څخه يو خدای پاک دا خبره ددوی رد کړه او وايي چې دوی ستاسي څخه نه دي، ولي چې په زړو کې کافران دي ولکن حقيقت دادی چې دا خبره چې دوی کوي دوی داسي قوم دی يعني منافقين چې له تاسي څخه ببرېږي چې زموږ سره به مسلمانان داسي کار وکړي لکه د مشرکانو سره چې يې کوي، يعني موږ به مړه کړي مالونه به مو غنيمت کړي او عيالونه به مو سبي کړي.

لَوْ يَجِدُوْنَ مَلْجَاً اَوْ مَغٰرٰتٍ اَوْ مُدَّخَلًا لَّوَلَّوْا اِلَيْهِ وَهُمْ يَجْمَحُوْنَ ﴿۵۷﴾

که دوی پيدا کړي يو ځای د پناه يعني محکمه قلعه او يا يو قوم چې دوی ته پناه ورکړي، او يا يو داسي ځايونه چې دوی په هغو کې ځانونه پټ کړي لکه په غرو کې محفوظ ځايونه او يا په مځکه کې زېر خانې، او ځای د دخول چې په تکليف ورننوځي د "مدخلاً" اصل مد تخلاً ؤ تا يې په دال بدله کړه او په دال کې يې مدغمه کړه، نو چونکه د تفعل باب د تکلف لپاره راځي نحو تزهد فلان نو ځکه يې ما ترجمه په تکلف وکړه "لولوا آه" دوی به وتښتي ستاسي له ببرې وه يوه له دغو ځايو، او دوی به چابک او بالفور ودغو ځايو ته ولاړ سي حاصل د آيت دادی چې ددغو منافقينو ستاسي سره يو ځای والی نه دی خوښ که ستاسي د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مصاحبت ځای د خلاصون پیدا کړي، نو د تاسي یوه دقیقه مصاحبت ونه کړئ لکه د مجبوریه ستاسي راشه درشه کوي.

دروبش وایي: چي چونکه عطف د دغو مواضعو او ځایو په کلمه د او وه، نو ځکه ضمیر مفرد په الیه کي ورته راجع کړی کماهو القانون النحوي.

وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّلْمِزُكَ فِي الصَّدَقٰتِ ۚ

او بعض د منافقانو عیب وایي پر تایعني رسول الله ﷺ، په باره کي د تقسیم د صدقاتو یعني یا غنیمتونه او یا زکوٰتونه.

پوه سه: چي همز او لمز په یوه معنی دي یعني عیب ویل او هماز او لماز دواړه په معنی د عیب ویونکي دي. ففي سورة ویل لکل همزة لمزة المعنی واحد، او بعض مفسرین رحمهم الله وایي چي لامز هغه سړي ته وایي چي مخامخ پر بل باندي عیب وایي، او هامز هغه چاته وایي چي په غیاب کي پر چا عیب وایي.

پوښتنه: دغه لامز غیر معین په آیت کي څوک دی؟

ځواب: په دې کي اختلاف دی روح البیان وایي چي دا سړی ابو الحواظ منافق دی، او محمد بن عمر رحمه الله وایي چي دا منافق معتب بن قشیر دی او ابن عمر او ابو سعید وایي چي دا سړی د بني تمیم له قومه ځخه دی چي ذوی الخویصرة یې باله چي اصلي نوم یې خرقوس بن زهیر دی چي هم دی د خوارجو د فرقو اصلي بانی دی، په هر صورت د حدیثو مبارکه وو ته به نظر وکړو، بخاري، مسلم او بیهقي رحمهم الله له عبد الله بن مسعود رضي الله عنه ځخه روایت کړی دی چي علیه الصلوة والسلام چي د هوازن غنیمتونه د حنین په ورځ وېشل، بعض مؤلفة القلوب و اشرافو ته د عربو یې برخه ورکړه یو سړی له انصارو ځخه یعني من قومهم.

دروبش وایي: چي د من قومهم د قید فائده داده چي په قوم خو د انصارو و لکن دی منافق دی. چي دا قسمت دی چي عدالت نه دی پکښې او یا یې داسي وویل ما اريد فيها وجه الله، ابن مسعود رضي الله عنه وویل زه والله دا خبره به و علیه الصلوة والسلام ته رسوم فاخبر ته، نو د علیه الصلوة والسلام مخ مبارک سور سو او وه یې ویل "فمن يعدل اذا لم يعدل الله ورسوله" وروسته یې وویل چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای ﷻ دي رحم وکړي پر موسی ﷺ چي دی د یهودو له لاسه تر ما دپر ازار سوی دی، او داغه رنګه بخاري، مسلم او بیهقي ﷺ له ابي سعید الخدري ﷺ څخه روایت کړی دی چي علیه الصلوة والسلام په دوران کي د قسمت د هوازنو د غنیمت یو سړی چي د بني تمیم له قوم څخه و یقال له ذوالخویرة چي اصلي نوم یې دمخه تېر سو، نو علیه الصلوة والسلام ته ودریدی فقال یا رسول الله اعدل فغضب رسول الله ﷺ وقال ویلک فمن یعدل اذا لم اعدل قد خبت وخسرت اذا لم اعدل، نو عمر بن الخطاب ﷺ علیه الصلوة والسلام ته وویل چي ماته اجازه راکړه چي ددې منافق سر ورپرې کړم. نو رسول الله ﷺ و عمر ﷺ ته وویل معاذ الله ان یتحدث الناس اقتل اصحابي (پناه په خدای ﷻ ده چي خلګ به وایي چي زه خپل اصحاب وژنم یعني په حقیقت حال خو خلګ نه دي خبر چي دا سړی منافق و لکن دا به ضرور وایي چي دی یعني نفسه المبارک خپل اصحاب وژني، ولي چي ظاهر خو دا سړي اظهار د اسلام کړی دی که څه منافق دی.

دروښ وایي: چي امام مظهري رحمه الله سره ددې چي دا ټوله روایات یې نقل کړي دي په اخیر کي وایي وعندي نزلت في قسمة صدقات جاءبها المسلمون لتجهیز جیش العسرة والله اعلم انتهی.

دروښ وایي: چي دا قول د مظهري په مقابل کي د روایت د بخاري، مسلم او بیهقي یو عجیب قول دی، ولي دا ائمة الحدیث رحمهم الله په تاریخ د واقعه او په شان نزول ددې آیت بنه خبر وه او که مظهري رحمه الله؟ او بغوي رحمه الله وایي چي د مظهري اکثر اقوال له ده څخه منقول دي هغه هم رایه د ائمة مذکوره رحمهم الله بیان کړي ده فالانصاف موکول الی العلماء.

فَإِنْ أُعْطُوا مِنْهَا رَضُوا وَإِنْ لَمْ يُعْطَوْا مِنْهَا إِذَا هُمْ يَسْخَطُونَ ﴿٥٨﴾

پوه سه: چي کلمه د اذا مفاجات په ځای کي د کلمه د فان جزائیه ولاړه ده.

پوه سه: چي ددې آیت ترجمه په قرینه د وروسته آیت داسي ده فان اعطوا کثیراً رضوا وفرحوا وان اعطوا قلیلاً سخطوا، نو ددې آیت معنا داده چي که دوی ته دپره لویه برخه ورکړل سي، نو دوی راضي او خوشحاله وي. او که دوی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ته لږ برخه ورکړل سي، نو دوی ناراضه او په غصه کي ډوب وي. هغه قرینه چي ما ذکر کړه دا آیت دی.

وَلَوْ أَنَّهُمْ رَضُوا مَا آتَاهُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَقَالُوا حَسْبُنَا اللَّهُ سَيُؤْتِينَا اللَّهُ مِن فَضْلِهِ وَرَسُولُهُ إِنَّا إِلَى اللَّهِ رَاغِبُونَ ﴿٥٩﴾

که دا ثابته سي چي دوی راضي سوي وایي په هغه مال او برخه سره چي خدای ﷻ او رسول د خدای ﷺ په امر د خدای ﷻ ودوی ته ورکړي وه، او دوی ویلي وای چي کافي برخه راکړه خدای ﷻ او ژر دی چي رابه کړي موږ ته خدای له رزق څخه او رسول د خدای یعني له بله درکه څخه یا په نورو غنائمو کي موږ و خدای ﷻ یعني د خدای وفضل ته راغب او امیدواره یو.

دروښ وایي: چي "لو" شرطي فعل غواړي نو ځکه مفسرین رحمهم الله وروسته تر لو ثبت محذوف بولي.

دروښ وایي: چي موږ دغه آیت قرینه د ورکړي د لږ برخي وباله دغه عبارت دی "ما اتاهم الله ورسوله" ولي چي ددې عبارت څخه صراحةً دا معلومږي چي علیه الصلوة والسلام ودوی ته لږ برخه ورکړې وه، مفسرین رحمهم الله وایي چي دا تولـه آیت په ځای کي د شرط دی او جزاً یې محذوفه ده یعني لکان خیراً لهم.

فائده: ابیات متعلقه بآیات مذکوره:

نکنند دوست زینهار از دوست ..... دل نهادم برانچه خاطر اوست
گر بلطفم بنزد خود خواند ..... ور بقهرم براند خاطر اوست

ایضاً درین معنا آمده

رضا بداده بده وزجبین گرهبکشای ... که برمن وتو دراختیار نه کشاده است

معنی دا چي خدای پاک فاعل مختار دی ما او تاته یې اختیار د رزق نه دی راکړی، قال العلماء رحمهم الله اذا کان القدر حقاً کان السخط حمقاً یعني چي تقدیر د رزق وغیره په قدرت کي د خدای ﷻ دی نو سخط وعدم الرضا بالقضا في السعة والضیق خرګري ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې رضاً بالقضاً الالهي داسي ده لکه چې راغلې ده. له سعد بن ابي وقاص رضی اللہ عنہ څخه په حکایت راغلي دي چې دی په اخیره کې د عمر په سترګو ړوند سو. نو دی چې مکې ته راغلی یو چا ورته وویل چې ستا دعا خدای ﷻ قبلوي یعني ته مستجاب الدعوات یې. نو ولې د رد البصر په باره کې خدای ﷻ ته خواست نه کوې؟ ده ورته وویل قضاً الله احب الي من بصري، زما د خدای ﷻ قضاً خوښه ده د سترګو تر دید.

نکته: له یو حیکم څخه یو چا پوښتنه وکړه چې کوچنی چې له موره پیدا سي لاسونه یې موټ وي، او چې مري لاسونه یې خلاص وي؟ حکیم داسي یو معقول په زړه پوري جواب ورکړی:

وَمَقْبُوضٌ كَفُّ الْمَرءِ عِنْدَ وِلاَدَةٍ ..... دَلِيْلٌ عَلَى الْحِرْصِ الْمُرَكَّبِ فِي الْحَيِ

موټ نیول د لاس د سړي په وخت د ولادت، دلیل دی پر حرص د دنیا چې په ژوندي کې طبعاً مرکب دی.

وَمَبْسُوْطُ الْكَفِ لِلْمَرْءِ عِنْدَ وَفَاتِه ..... يَقُوْلُ انْظُرُوْا انِّيْ خَرَجْتُ بِلاَ شَيْءٍ

او خلاص نیول د لاس د سړي په نېږ د وفات دده دی وایي په زبان حال سره وحاضرینو ته چې وګورئ زه له دنیا څخه ووتم بلا شیئ.

اِنَّمَا الصَّدَقٰتُ لِلْفُقَرَآءِ وَالْمَسٰكِيْنِ

دروښ وايي: چې مراد له صدقاتو څخه مفروضه صدقات دي چې زکوة یې بولي چې په انواع مختلفه وو کې فرض دی چې نصاب ته ورسېږي او کال هم پر تېر سي او فارغ له دین او پوره څخه وي سواء کانت تلک من النقدین ای الذهب والفضة او الغنم او البقر او الابل.

پوه سه: چې زکوة ته صدقه وایي لدلالته علی صدق العبد في العبودیة لله او زکوة چې یې بولي زکوة پاکوالي ته وایي چې صاحب المال المزکي له خبث څخه له بخل څخه پاک وي او مال له خبث څخه پاک وي.

پوه سه: چې اول سړی چې علیه الصلوة والسلام پر جمع کولو د صدقاتو عامل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ګرځولی دی یو سړی ؤ له بني صدق څخه او دا قوم د کنده قبیلې ؤ، او نسبت وبني صدق ته صدقي رائحي فاشتقت الصدقة من اسمهم، والمراد في الآية ان ما الله اعني الصدقة انما يقسم على من اتصف باحدى هذه الصفات دون غيره، ولي غرض د ورکړي د صدقې اصلاح لحال هؤلاء المذکورین والمنافقون ليس فيهم الا الفساد، نو دوی يې مستحق نه دي، نو ځکه خدای پاک په اول کي د کلام کلمه د انما راوړه چي لپاره د حصر ده لقطع اطماعهم ای المنافقین ورد مقالتهم الباطلة.

تنبیه: خدای ﷻ تقسیم د صدقاتو پر خپله ذمه واخستی تاچي د منافقینو د بې ځایه خبرو څخه دا تقسیم خلاص سي، ولي که خدای پاک امر د تقسیم د صدقاتو و علیه الصلوة والسلام ته سپارلی وایي که څه هم علیه الصلوة والسلام په وحي خفي سره پر دغو طوائفو ویشلای لکن د منافقینو د باطلو خبرو څخه نه خلاصیدی کما في تقسیم المغانم على مامر قريباً، وايضاً الخلفاً الراشدین ابوبکر، عمر، عثمان و علي ﷺ که څه هم د علیه الصلوة والسلام لار د تقسیم خپله کړې وای یعني چي خدای پاک په خپله تقسیم نه وای کړی خلفاً راشدین ﷺ له اعتراضاتو څخه د منافقانو نه خلاصیدل، ولي چي ددوی په عصر کي هم صفایا د منافقانو نه وه کړل سوې، او بل حکمت الهي په تقسیم کي د صدقاتو چي په خپل کتاب قران عظیم الشان کي وکړی داده چي وروسته تر خلافت راشده قسم قسم خلفاً د اسلام راتلونکي وه چي تقسیم د صدقاتو پر قومیت او قرابت کاوه او مستحق کسان به محروم پاته کېدای.

پوه سه: چي موږ په اول کلام په صدقاتو مفروضه وو مقید کړی، ولي صدقات نافله وغنی بلکې وکافر ته روا دی.

پوه سه: چي فقیر کما روی عن الامام ابو حنیفه رحمه الله من له ادنی شیئ وهو ادنی من النصاب او قدر نصاب چي کال نه وي پر تېر سوی یا مستغرق بالحاجة الاصلیة وي، نو فقیر ته سوال حرام دی ولي چي سوال و هغه چا ته حرام دی چي قوة اليوم لري.

دروښ وایي: چي زموږ د زمانې فقراً که څه هم قوة الشهر بلکې قوة العام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لري بيا هم په مساجدو کي سوال کوي انا لله وانا اليه راجعون، او مسکين هغه څوک دی چي هيڅ شی نه لري، نو دی سوال ته محتاج وي لقوته ولما يواري بدنه بقدر ما يجوز به الصلوة، په روح البيان کي وايي چي تفسير د فقير او مسکين بالعکس دی عند بعض والاول اولی لنقله عن صاحب المذهب.

وَالْعٰمِلِيْنَ عَلَيْهَا

او هغه کسانو ته دي صدقات ورکوي چي دوی په تحصيل د صدقاتو عمل کوي يعني د امير المؤمنين له خوا څخه پر جمع د صدقاتو په باندو او صحراؤ کي ګمارل سوي وي، نو عامل ته دې ورکوي مما في يده من مال الزکوة بقدر عمله فقيراً کان او غنياً او هاشمياً، نو که له عامل څخه هغه مال د زکوٰة چي ده جمع کړی ؤ بلا اختيار منه ضائع سوی ؤ، نو هيڅ شی حق نه لري.

مسئله: که مالک المال په خپله بې توسطه د عامل زکوة د خپل مال و امير المؤمنين ته سپارلی ؤ، نو عامل حق د تنخواه نه لري، په تبين کي وايي که د عامل تنخواه هغه ټوله مال چي د جمع کړی په بره کي نيوی لايزاد علی النصف لان التنصيف هو الانصاف.

وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوْبُهُمْ

او صدقات دي ورکوي وهغو کسانو ته چي الفت ددوی د زړو د اسلام سره مطلوب وي، بغوي رحمه الله وايي چي دا ډله دوه قسمه وه، يو قسم مسلمانان وه او بل قسم يې کافران وه، مسلمانان دوه قسمه وه، يو قسم يې دا وو چي په اسلام کي خو به داخل سوي وه لکن نيت به يې ضعيف ؤ، نو رسول الله ﷺ ودوی ته يو څه مال ورکاوه تاچي اسلام يې په زړو کي ښه قرار ونسي لکه عيينه بن بدر والاقرع بن حابس والعباس بن مرداس، او بل قسم مسلمانان وه او نيت يې هم قوي ؤ لکن دوی په قوم کي شريف او مشران کسان وه، نو عليه الصلوة والسلام ودوی ته مالونه ورکول لپاره د ترغيب د امثالو ددوی و اسلام ته، نو اوس هم امام المسلمين ته روا ده له خمس الخمس څخه د غنيمت ودوی ته څه مال ورکول مګر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د زکوة له مال څخه دي نه ورکوي. او دوهم قسم له مؤلفة القلوب څخه هم مسلمانان وه او په مقابل کي يې کفار وه لکن داسي ځای واقع وه چې د مسلمانانو د فوج و هغه ځای ته په ډير مشقت ور رسېدی او دوی به د کافرانو سره جهاد نه کاوه، اما لضعف نيتهم او لضعف حالهم، نو امام المسلمين ته روا ده چې دغسي کسانو ته ورکړي له برخي څخه د غازيانو من مال الصدقة.

په يوه روايت کي راغلي دي چې عدي بن حاتم ﷺ له صدقاتو او زکاتو د خپل قوم درې سوه اوښان و ابوبکر ﷺ ته راواستول، نو ابوبکر ﷺ دهرش اوښان و عدي ﷺ ته ورکړه هرچه کافران د مؤلة القلوب دي نو امام څه د خمس الخمس ورکوي يا د خوف له شره د هغو او يا لپاره د ترغيب و اسلام ته لکه عليه الصلوة والسلام چې د خمس الخمس څخه څه مال و صفوان بن اميه ته ورکړی چې دده ميل يې و اسلام ته محسوس کړی، دا خو د مؤلة القلوب حال وُ په ابتدا کي د اسلام، واما اليوم فقد اعزالله الاسلام ولله الحمد فلا يعطى مشرک بحال تالفاً، دهر علما او فقها رحمهم الله چې د مؤلفة القلوب برخه قطعه ده او ساقطه ده وبه قال عکرمه وهو قول الشعبي وبه قال مالک والثوري واسحاق بن راهوية رحمهم الله، مظهري د حنيفيانو څخه تعبير په اصحاب الرائ سره کړی دی ولقد بئس ذالک التعبير.

دروېش وايي: چې کمال الدين ابن الهمام رحمه الله چې د حنيفيانو يو نومورې محدث او فقيه دی په فتح القدير شرح هدايه کي وايي چې سهم د مؤلة القلوب ساقط دی، او په دليل کي يې د طبراني قول په سند سره دا قول د عمر بن الخطاب ﷺ راوړی دی چې عيينة بن حصن چې د مؤلفة القلوب څخه وُ د خپلي تنخوا لپاره راغلی، عمر ﷺ ورته وويل الحق من ربکم فمن شاً فليؤمن ومن شاً فليکفر، او ابن ابي شيبة له شعبي څخه روايت کړی دی چې مؤلفة القلوب په زمانه کي د عليه الصلوة والسلام وه "ولما ولي ابوبکر ﷺ انقطعت قال ابن الهمام جاً عيينة والاقرع يطلبان صدقةً الى ابي بکر ﷺ" نو ابوبکر ﷺ خط ورنوشته کړی عمر ﷺ چې خط وليدی څيري يې کړی، او وه يې ويل چې دا داسي شی دی چې رسول الله ﷺ تاسي ته نه درکاوه ليتالفکم على الاسلام والآن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فقد اعز الله الاسلام واغنى عنكم، نو كه تاسي پر اسلام كپړئ خو بنه خبره ده او كه اسلام نه قبلوئ نو زموږ او ستاسي تر منځ توره ده، نو دوی بيرته ابوبكر ﷺ ته ورغله چي ته خليفه يې او كه عمر؟ ابوبكر ﷺ ورته وويل دی كې خو بنې وي ولم ينكر عليها احد من الصحابة ﷺ فكان اجماعاً انتهى قول ابن الهمام رحمه الله.

مظهري رحمه الله وايي چي د عمر ﷺ قول خو ناسخ د قرآن نه سي كېداى انتهى، فتفكر في قول المظهري وقول ابن الهمام وانعقاد الاجماع على قول عمر

دروښ وايي: چي علامة الوسي رحمه الله په روح المعاني كي وايي وفي الهداية ان هذا الصنف عن الاصناف الثمانية سقط وانعقد اجماع الصحابة على ذالك في خلافة ابى بكر ﷺ كما مر قريباً، آلوسي رحمه الله وروسته ويلي دي چي په دې كي اختلاف دی چي د مؤلفة القلوب برخه په قرآن سره ثابته ده نو څرنگه ساقطېږي په قول د عمر ﷺ لكه مظهري چي وويل؟ وروسته يې ځواب داسي وركړی دی چي بعض فقهاً رحمهم الله وايي چي نسخ د ماثبت بالكتاب په اجماع سره روا ده، بناء على ان الاجماع حجة قطعية كالكتاب لكن آلوسي ويلي دي چي دا صحيح مذهب نه دی ثم اجاب وطول البحث فيه فارجع الى روح المعاني.

دروښ وايي: چي حكم شرعي گاهي پاى ته رسېږي په انتهاً د علت د حكم كالمسح على الخفين بنزع الخفين والتيمم بوجدان الماً والمسح على الجبيرة يبراً الجرح فيمكن انيكون اسقاط خط المؤلفة القلوب بانتهاً الضرورة اليهم لعزة الاسلام وغلبته بدون النسخ والله ﷻ اعلم بمراده في كتابه.

وَفِي الرِّقَابِ

يعني په خلاصولو كي د رقبو د مكاتب مريانو له مال كتابت څخه د مالك ددوی عند ابي حنيفة والشافعي واحمد رحمهم الله.

پوه سه: چي مكاتبين خامخا فقراً دي وان كان عندهم نصاب لا يكفي في فك رقابهم قال الله تعالى "فكاتبوهم ان علمتم فيهم خيراً وآتوهم من مال الله الذي آتاكم.

نكته: روح المعاني او مظهري وايي چي په فقراً، مسكاينو، عاملينو او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مؤلفة القلوب کي يې کلمه د لام راوړل او په څلورو باقي کي يې کلمه د في ده، ظرف راوړه لپاره د اعلام په دې سره چې اربعة اخيرة ارسخ په استحقاق کي د تصدق پر دوی تر اربعة الاولی، ولي کلمه د في د ظرفيت لپاره ده، نو گويا دوی ظروف دي د وضع د صدقاتو.

فائده: اول څلور اختيار لري چې مال د صدقې په هر شي کي چې يې صرفوي صرف دې کړي، لکن اخيري څلور اختيار نه لري، ولي چې مکاتب خو مالک د مال نه دی يصرفه کيف يشاٴ بل يملک المال مولاه وکذا المديون ما في يده للدائن لايصرفه المديون الی غير ذالک وکذا المجاهد في سبيل الله لا يصرفه الا في الجهاد وقطع المسافة وشراٴ آلات الجهاد.

وَالْغَارِمِيْنَ

او هغو کسانو ته يې ورکوئ چې پر دوی پور باندي وي که څه هم نصاب لري لکن د پور غاړه يې نه وځي، په فتاوی ظهيريه کي وايي چې د صدقې ورکړه وپسورويي ته اولی ده تر ورکړي وفقير ته، ولي چې مديون خو مطالب لري د بندګانو له خوا څخه وهو الدائن او فقير يې نه لري. لکن فقهاٴ رحمهم الله دا قيد ورسره وايي چې دا پور به ده په معصيت کي نه وي کړی لکه شراب چې يې په رانيولي وي او يا يې د اسراف لپاره پور کړی وي. لکن نووي رحمه الله په منهاج کي وايي که يې پور د معصيت لپاره کړی وي لکن وروسته يې له هغه څخه توبه کښلې وي صدقه دي ورکوي او که سړي پور کړی وي لپاره د يو معروف في الشرع لکه د مسجد د تعمير لپاره يا د دوو مرورو د پخلا کېدو لپاره ودې کسانو ته دي هم صدقه ورکوي که څه هم اغنياٴ وي. او امام اعظم رحمه الله وايي چې هر مديون ته دي صدقه ورکوي چې مالک د نصاب کامل فاضل عن وفاٴ دينه نه وي لعموم اللفظ.

وَفِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

او په لاره کي د خدای عزوجل، امام ابو يوسف او امام شافعي وايي چې مراد له في سبيل الله څخه منقطع الغزاة دي يعني چې په غزا کي يې د لاري خرڅ خلاص سوی وي وهذا مذهب جمهور العلماٴ ايضاً، او امام محمد او امام احمد وايي چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مراد څنډي منقطع الحاج دي يعني چې د حج په سفر کې يې نفقه خلاصه سوې وي وان کان له مال في وطنه. وقيل مراد څنډي طالبان د علم دي، فتاوى ظهيريه صرف طلبة العلم ذکر کړي دي لکن په بحر رائق کې وايي چې په هر تفسير کې فقر شرط دی.

وَابْنِ السَّبِيْلِ

او مسافر ته دي زکوة ورکوي.

پوه سه: چې که د مسافر سره دومره مال نه وي چې مانع د زکوة سي، خو زکوة ورته روا دی اتفاقاً. او که د مسافر سره دومره روپۍ وي چې دی تر هغه ځايه چې ده ورته قصد رسوی يې، نو زکوة بالاتفاق ورته ناروا دی، او که چېرې مسافر په وطن کې مال کثير درلودی لکن دی په اثنا کې د سفر ډ او دومره مبلغ نه ډ ورسره چې نصاب دي څنډي جوړ سي او يدآ فقير ډ او د وطن رپو ته يې لاس نه رسېدی يعطى له الزكوة وهو المراد بابن السبيل عند الامام الاعظم رحمه الله

قانون: لاژکوة للمزکی، زکوة ناروا دی و هغه چا ته چې پر دغه خپله زکوة فرض وي وان کان من نوع آخر، مثلاً يو سړي اوښان درلوده چې نصاب ته رسېدل ودغه سړي ته د بل د نقودو زکوة نه دی روا وبالعکس وعلى هذا قس بالاتفاق، او د امام ابو حنيفه رحمه الله په نېز غني هغه سړی دی چې فاضل نصاب تر حوائجو اصليه وو لري.

مسئله: که فقير پر کسب قادر ډ چې کفايت د عيال يې کېدی، نو د زکوة دفع ورته روا ده لعموم قوله تعالى للفقرا لکن سوال نه دی ورته روا.

مسئله: مديون ته چې د يو نصاب مالک وي زکوة روا دی چې نصاب يې فاضل تر دين نه وي وكذا الغازي، او ابن السبيل چې آس لري چې قيمت يې نصاب ته رسېږي زکوة ورته روا دی.

مسئله: عالم که دومره کتابونه درلوده چې قيمت يې نصاب ته رسېدی لکن دی په درس او مطالعه کې هغو ته محتاج ډ، زکوة ورته روا دی، لکن مراد څنډي کتابونه د علوم شرعيه وو دي لکه تفاسير، احاديث او شروح د هغو پاه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فقهي كتابونه او شروح د هغو لكن يوه يوه نسخه او يا ما يتوقف عليه العلوم الشرعية كالنحو والصرف وعلم اللغة وعلم المعاني. حاصل دا چي كتابونه كه د منطقو وه يا د رياضي وَ او يا د حكمت طبعي الى غير ذالک او قيمت يې نصاب ته رسيدی هغه عالم ته زكوة نه دی روا، وحاصل بيان هذه المصارف في القرآن العزيز.. ماقيل:

حق تعالى چون درقسمت كشاد ..... هركسی را هرچی می بايست داد
نيست واقع اندران قسمت غلط ..... بنده راخواهی رضاخواهی سخط

مسئله: د حضرت امام شافعي رحمه الله مذهب دادی چي د زكات مالک به صرف زكات وتولو اصنافو ته وركوي كه موجود وه، او په هر صنف كي به يې درې كسو يا بالا ته وركوي كه چېري پيدا كېدله، او د حنيفيانو مذهب دادی چي مالک د زكات اختيار لري. كه يې يوه صنف، ته وركوي او كه دوو صنفو يا بالا ته يې وركوي. او داغه رنگه په يوه صنف كي كه يې يوه نفر ته وركوي، موږ وايو چي مقصود په قرآن كي بيان د هغو صنفو دی چي زكات ورته روا دی لاتعيين الدفع الى كلهم لقوله تعالى "وتؤتوها" اى الزكوة "فهو خير لكم" حيث ذكر الفقراً فقط.

فَرِيضَةً مِّنَ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٦٠﴾

پوه سه: چي "فريضة" مصدر مؤكد دی لمقدر مفهوم من الكلام اى فرض الله لهم الصدقات فريضة، او ابو البقاً رحمه الله وايي حال دی له ضمير مستكن څخه في قوله تعالى "للفقراً" والتقدير انما الصدقات كائنة لهم (اى لهذه الاصناف) حال كونها فريضة اى مفروضة من الله او خدای جل جلاله بنه عالم دی په احوالو او مراتبو د خلگو. او حكيم دی چي عبث كار نه كوي.

تنبيه: د اوسنی زماني ځيني ملايان سره د معلومي غنی د زكوة واخستلو ته تيارسی دي.

مسئله: مقتدي كه ملا ته وويل چي دغه نقود وغيرها په زكوة كي واخله مقتدی نه وَ خبر چي ملا صاحب غني دی د مقتدي غاړي خو خلاصي دي لكن چونكه ملا صاحب غني وَ ده ته د زكوة اخستل ناروا دی، لكن ملا صاحب ته حلال

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او حرام فرق نه لري، فويل لهؤلاء العلماء لايخشون الله، ولا يعملون بعلمهم.

پوښتنه: و اقاربو ته د عليه الصلوة والسلام چې په اوسنۍ زمانه کې سادات کرام دي زکوة يا نفلي صدقات چې دوی مسکينان او فقيران وي روا دی که څرنګه؟

ځواب: دروېش وايي: چې په دې مسئله کې قديماً وحديثاً لوی اختلاف دی، اول قول جواز دی مطلقاً که فريضه وي او که نافله وي ﴿وهذه رواية عن الامام الاعظم رحمه الله ورواية عن مالک رحمه الله، والدليل لهذا المذهب ان رسول الله ﷺ خمس الخمس د غنيمت و خپلو اقاربو ته ټاکلی وُ په عوض کې د صدقاتو وروسته تر وفات د عليه الصلوة والسلام هغه خمس الخمس ساقط سو باعتبار بعض العوارض باجماع فسقط حرمة الصدقة مطلقاً﴾ دوهم قول عدم جواز د صدقاتو دی مطلقاً که فرضي وي او که نفلي ﴿وبه قال ابو يوسف ومحمد واختاره ابو جعفر الطحاوي و كمال الدين ابن الهمام رحمهم الله والدليل على هذا القول قول النبي ﷺ انا آل محمد لا ناكل الصدقة وفي رواية لايحل لنا الصدقة﴾ رواه مسلم والطبراني.

درېيم قول جواز د فريضة الزكوة دی دون النافلة ولم يذهب اليه غير مالک رحمه الله دی وايي چې فريضه د زکوة څو حق لازم دی، نو په اخستلو سره دوی ته ذلت نه متوجه کېږي، څلورم مذهب جواز د نافله صدقې دی ﴿دون الفريضة وهو المشهور من مذهب ابي حنيفة والصحيح عند الشافعي والحنابلة ورواية عن مالک رحمهم الله، دوی وايي هغه حديث چې په تحريم کې د صدقې راغلي دي محمول پر صدقه مفروضه دي دون النافلة، والدليل على جواز الصدقة لهم مطلقاً﴾ ما رواه الطحاوي من حديث ابن عباس رضي الله عنهما چې يوه قافله راغله مدينې منورې ته، نو عليه الصلوة والسلام د هغه قافلې والو څخه يو متاع په پور رانيوی بيا يې په يو څو اوقيو په ګټه خرڅ کړی هغه يې خيرات کړه پر کوندیانو د بني عبدالمطلب الى اخير الحديث.

دروېش وايي: چې اصل اختلاف په دې کې دی چې علت د حرمت د صدقه مفروضه شرف د نسب د ساداتو کرامو دی، ولي چې مفروضه زکوة له اوساخ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څخه د ځلګو دی، او یا علت د حرمت یې سقوط د خمس خمس الغنیمت دی، اظهار النظر، په اورېدلو اقوالو او مذاهبو کې دائره د اظهار نظر فراخه سوه.

دروبش وایي: چې زما خپله شخصي نظر دادی چې نه څوک خپل په قول مکلفوم او نه څوک د اعتراض حق پر ما لري چې ساداتو کرامو ته صدقه مفروضه یعني زکوة یا نافله رواده په اوسنۍ زمانه کې، ولې سید چې فقیر وي که یې څوک په نسب خبر سي مزدوري نه ورکوي د ادب له لاري نو باید سید د لوړې له کبله د هلاک سره مخامخ سي که زکوة د خلګو هم پر ښندسي؛

یو عالم جید چې په قوم سید ؤ په یوه مناظره کې د نورو علماؤ کرامو سره چې هغه د صدقې او زکوة د حرمت قائل وه و ساداتو ته، نو دې عالم داسې یوه پښه زړه پوري خبره وکړه چې سید ته خو به زکوة روا نه وي فرضاً ده وویل چې زکوة ننه ورځ اجر ذلیل دی چې علماً او امامانو ته یې خلګ ورکوي آیا سید ته اجر ذلیل هم نه دی روا، والله اعلم بالصواب، وکتبت هذا الحکم فیما بین الخوف والرجاً.

دروبش وایي: چې له سدي رحمه الله څخه روایت دی چې یو څو کسه له منافقانو څخه چې خلاص بن سوید او نحشي بن حمیر او ودیعة بن ثابت پکښې وه دوی سره وویل چې راځئ چې د محمد غیبت وکړو او بهتان پر ووایو، نو یوه ونورو ته وویل چې موږ ببرېږو چې دا زموږ خبري محمد ته ونه رسېږي نو دی به بیا ستاسي بیان وخلګو ته وکړي، نو بعض ددوی وویل انما محمد اذن نحلف له ماقالوا فیسمع ویصدقنا بلکې که موږ هرڅه په ده کې ووایو چې بیا ورسو منکر به سو پر ماقلنا او قسم به ورته واخلو دی خالص خوږونه دی یعني د هر چا خبره اوري او زموږ تصدیق کوي فانزل هذه الآیة.

وَمِنْهُمُ الَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ النَّبِيَّ وَيَقُوْلُوْنَ هُوَ اُذُنٌ

او بعض له منافقینو څخه هغه کسان دي چې ازاروي علیه الصلوة والسلام یعني غیبت یې کوي او بهتان پر وایي او داسي خبري د نبي په شان کې کوي چې نه ښایي "ویقولون" دا خبري مه کوئ چې نه بایده چې ده ته ونه رسېږي "هو اذن" دی یعني النبي ﷺ خالص غوږونه دی یعني یسمع ما یقال له او تصدیق یې کوئ،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو دده مبارک تسمیه په یوه جارحه ددوی له خوا مبالغه ده حتی چې دده مبارک ټوله جسد غوږ دی، نو چې آله د سماع ده لکه چې جاسوس ته وایي هو عین یعني خالص ستر گي دی او یا یې حمل په وساطة د ذو دی ای ذو اذن سامعة.

ابن ابي حاتم له عباس رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې نبتل بن حارث چې به راغلی د علیه الصلوة والسلام سره په کنبښستی او دده خبرې به یې واورېدلې او منافقینو ته به یې رسولې. محمد بن اسحاق رحمه الله وایي چې د نبتل ببر سر ؤ سرې ستر گي یې وې تور بار خو گان یې وه نهایت بدرنگه ؤ حتی چې علیه الصلوة والسلام به ویل چې که د چا خوښه وي چې شیطان ته وگوري نبتل ته وگوري، نبتل د علیه الصلوة والسلام د خبرو شیطانت و نورو منافقانو ته کاوه، نو که به چا نبتل ته وویل چې دا کار مه کوه ده به ویل انما محمد اذن هر څه چې زه دده په باره کې ووایم چې ورسم قسم به ورته واخلم دی یې مني فانزل الله تعالی هذه الآیة المذکورة.

دروښ وایي: چې ولا منافات بین هذ الشان للنزول والسابق، خدای جل جلاله په ځواب کې د منافقانو دا وایي.

قُلْ أُذُنُ خَيْرٍ لَّكُمْ

من اضافة الموصوف الی الصفة مثل رجل صدق ای رجل صادق، حاصل د ځواب دادی چې نعم هو اذن لکن نعم الاذن هو، او یا معنا داده چې دی اورېدونکی د خیر ستاسي دی نه د شر ستاسي او فساد مطلب دا چې عذر د معتذر قبلوئ چې پر حق وي ولا یسمع الغیبة والنمیمة کما زعمتم ایها المنافقون.

"قال رسول الله ﷺ المؤمن غر کریم (یعني ساده او پاک دله) والفاجر خبث لئیم" (رواه ابو داود والترمذي)

ژباړه: مؤمن حق ساده لوح وي او کریم النفس وي، او فاجر یعني منافق چم بازوي او خبیث النفس وي.

يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَيُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ

دا نبي تصدیق لرې پر خدای جل جلاله او تصدیق کوي د هغه چا چې اظهار د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ایمان وده ته وکړي بناء علی حسن الظن، لان علم قلوب الناس موکول الی الله تعالی، او بعض اهل تفسیر وایي چې تصدیق کونکی د مؤمنانو مخلصانو نه ده منافقانو لکن عذر یې قبلوي اعراضاً عنهم، والتفسیر الاول اولی یطابق الآحادیث الشریفة

وَرَحْمَةٌ لِّلَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ ۚ وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ رَسُولَ اللَّهِ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٦١﴾

او د علیه الصلوة والسلام وجود یعني حیاً کان او میتاً رحمت دی، د هغه کسانو لپاره چې ایمان یې راوړی قلباً ولساناً او د من اظهر الایمان لساناً فقط هم رحمت دی حیث لا یکشف سره. او هغه کسان چې ازاروي رسول د خدای ﷻ یعني لکه منافقان دوی لره عذاب دی دردناکه یعني جهنم، او دوی ته فائده نه کوي تسلیم د علیه الصلوة والسلام ددوی د عذر باطل.

پوه سه: چې مقاتل او کلبي رحمهما الله تعالی وایي چې یوه ډله د منافقینو چې د تبوک له غزا څخه یې ځانونه پاته کړي وه، نو علیه الصلوة والسلام چې له تبوکه راستون سو، نو دوی عذرونه ورته کول او قسمونه یې اخستل پر خپلو عذرونو باندي فنزل.

يَحْلِفُونَ بِاللَّهِ لَكُمْ لِيُرْضُوكُمْ ۚ وَاللَّهُ وَرَسُولُهُ أَحَقُّ أَن يُرْضُوهُ إِن كَانُوا مُؤْمِنِينَ ﴿٦٢﴾

دوی قسمونه اخلي په خدای پر صدق د خپلو عذرونو، و تاسي ته اې مؤمنانو فالخطاب للمؤمنین، او خدای ﷻ حقدار دی چې دوی یې راضي کړي یعني بالطاعة والاخلاص، ولي چې رضا د خدای ﷻ خو په کاذبو قسمو سره راځي لانه تعالی عالم الغیب والشهادة بلکې بالاخلاص.

سوال: دمخه خدای او رسول دواړه ذکر سول، لکن ضمیر یې مفرد ورته راجع کړی؟

ځواب: اهل ظاهر علماً وایي چې افراد د ضمیر په تاویل د کل واحد دی لکن محققین وایي چې رضا د خدای او د رسول یوه شي ته راجع ده فکان رضاهما واحد لانه ورد من اطاع الرسول فقد اطاع الله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"ان کانوا مؤمنین" دا شرط دی جزاً یې له ماقبل څخه فهمېږي یعني ان کانوا مؤمنین صدقاً فلیرضوا الله ورسوله دون المؤمنین فقط.

أَلَمْ يَعْلَمُوٓا۟ أَنَّهُۥ مَن يُحَادِدِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ

آیا نه پوهېږي کافران خصوصاً المنافقین چې شان دادی چې څوک چې مخالفت وکړي د خدای او له رسول څخه د خدای په معصیت سره او په تخلف سره له غزا څخه د تبوک او یا بله غزا.

فَأَنَّ لَهُۥ نَارَ جَهَنَّمَ خَٰلِدًا فِيهَا ۚ ذَٰلِكَ ٱلْخِزْىُ ٱلْعَظِيمُ ﴿٦٣﴾

نو په تحقیق ده لره اور د جهنم دی چې همېشه به په اور کې وي او دغه د جهنم دخول خالداً رسوایي ده لویه.

يَحْذَرُ ٱلْمُنَٰفِقُونَ أَن تُنَزَّلَ عَلَيْهِمْ سُورَةٌ تُنَبِّئُهُم بِمَا فِى قُلُوبِهِمْ ۚ

د آیت معنا داده بېرېږي منافقان له دې څخه چې نازل به سي پر مسلمانانو یو سورت چې مسلمانان به خبر کړي په هغه شي چې ددوی په زړونو کې ستة من النفاق والحسد والعداوة للمؤمنین، او ددوی پرده د نفاق به ورځېرې کړي.

پوه سه: چې د "علیهم" ضمیر ډېر مفسرین رحمهم الله وایي چې د مسلمانانو ته راجع دی او داغه رنګه د "تنبهم" ضمیر د مسلمانانو ته راجع دی، او د "قلوبهم" ضمیر د منافقانو ته راجع دی، او مظهري. روح البیان او روح المعاني دا هم وایي چې احتمال لري چې ضمائر دي ټوله د منافقینو ته راجع وي.

سوال: نزول د سورت پر منافقینو نه وؤ؟

ځواب: نازل پر مسلمانانو لکه نازل پر دوی دی، ولې چې داغه سورت مسلمانانو ودوی ته قرائت کاوه او دلیل به یې پر دوی وایه چې تاسي په غیاب کې داسي کلمات د کفر او نفاق سره کوئ.

پوښتنه: منافقانو څو د علیه الصلوة والسلام اقوال درواغ بلله او له وحي څخه منکر وه فکیف یحذرون نزول السورة علی المؤمنین الکاشف لحالهم؟

ځواب: بعض په نبوت د علیه الصلوة والسلام ښه پوهېدل لذکر نبوته ﷺ في کتابهم التورٰة لکن مشرکان چې به سره یو ځای سوه دوی به عناداً او حسداً اظهار

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کفر کاوه کما في قوله تعالى يعرفونه كما يعرفون ابنائهم، او عبدالله بن سلام ﷺ چي يهودي ؤ اسلام يې راوړی، نو عمر ﷺ له ده څخه پوښتنه وکړه چي تا عليه الصلوة والسلام په نبوت داسي پېژندی لکه خپل زوی؟ عبدالله ﷺ ورته وويل بل معرفتي بنبوة محمد ﷺ اشد من معرفة ابني، عمر ﷺ ورته وويل چي څرنګه، عبدالله ﷺ ورته وويل چي د عليه الصلوة والسلام نبوت په تورات سره ماته ثابت ؤ تورات چي کتاب الله دی محال د کذب نسته پکښې، او زما د زوی حال خو پر ظاهر مبني دی لکن دا احتمال سته چي مور دې خيانت کړی وي يعني الزنا. بل ځواب دادی چي د بعضي منافقانو په نبوت کي د عليه الصلوة والسلام متردد او شک ؤ، نو ددغي دلي خو احتمال د نزول الوحي په زړه کي ؤ، نو دا دله بهر بدل چي نزول د وحي زمونږ په شان کي ونه سي، او بعض مفسرين رحمهم الله وايي چي دا خبره يعني ان تنزل عليهم په خپل مابين کي به يې د پسخنده سره ويل ويږده قوله تعالى.

قُلِ اسْتَهْزِءُوا إِنَّ اللَّهَ مُخْرِجٌ مَّا تَحْذَرُونَ ﴿٦٤﴾

ته ورته ووايه چي تاسي پسخند وهئ او په تحقيق خدای ﷻ مظهر د هغه شي دی چي تاسي ځندي بهر ببرئ من نزول السورة في بيان كفركم ونفاقكم، ابن عباس ﷺ وايي چي خدای پاک په نزول د قرآن ذکر د اوويا کسانو د منافقانو په نومانو او په نومانو د پلرو ددوی وکړی، لکن وروسته ذکر د نومانو يې منسوخ سو رحمةً على المؤمنين، ولي چي زامن ددوی مؤمنان وه يعني چي زامنو ته يې څوک پېغور ورنه کړي، او بغوي رحمه الله وايي چي دا آيت په هغو دوولسو منافقانو کي نازل سو چي عليه الصلوة والسلام د تبوک له غزا څخه ستون سو او پر يوې غونډی چي د عقبه په نامه يادېږي او لاندي تر غونډی ژوره شپله وه، نو دغو دوولسو کسانو مشوره سره وکړه چي مونږ به مولونه ووهو مخان به پټ کړو عليه الصلوة والسلام چي د غونډی سره ته راورسېږي مونږ به يې د اوښي سره وشپلي ته پرې وهو او قتل به يې کړو، جبرائيل و عليه الصلوة والسلام ته ددوی د غدر او کار کولو خبر ورکړی.

دروښ وايي: چي قصه يې ډېره اوږده ده چي حاصل يې دادی چي دوی خو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پر عقبه ورته ولاړ وه او علیه الصلوة والسلام ته نهایت درد ورغلی او نیزه ورسره وه ددوی اوښان یې په وهله او دا یې ویل الیکم الیکم یا اعدآ الله، او علیه الصلوة والسلام حذیفه ﷺ ته امر وکړی چې دوی رد کړه، دوی په دې وپوهېدل چې زموږ چم ناکامه سو چابک چابک یې اوښان وشبلې ته ور وه هځول او په نورو خلګو ګډ سوه، وللتفصیل کتب المغازي لکه کتاب محمد بن اسحاق او محمد بن عمر په حدیث شریف کې راغلي دي چې علیه الصلوة والسلام په غزوه کې د تبوک روان وُ چې ترده دمخه یو څو کسه سپاره روان وه له منافقانو څخه چې په قرآن او په علیه الصلوة والسلام یې پسخند واهه او دوی سره ویل چې تاسې دې سړي یعنې محمد ته وګورئ چې اراده یې کړې ده چې د شام قلاوي او کوټې به زه فتح کړم هیهات هیهات لهړي او لهړي ده دا فتح او دا یې هم وویل چې د محمد دا ګمان دی چې جنګ د بني الاصفر یعنې رومیانو سره یو ساتهړی دی او دوی وویل چې دا ګمان کهړې یعنې زموږ دا خیال دی چې صبا به دده اصحاب په غرو کې سره تیک وپرک ځغلي، نو خدای پاک علیه الصلوة والسلام ددوی په دغو خبرو خبر کړی، نو علیه الصلوة والسلام مسلمانانو ته وویل احسبوا علي الرکب داغه سپاره تر ماپوري راولئ، نو دوی چې راغله علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې تاسې دغسې او دغسې ویناوي کولې.

وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ لَيَقُوْلُنَّ اِنَّمَا كُنَّا نَخُوْضُ وَنَلْعَبُ ؕ

دوی ورته وویل لا والله ماکنا في شئ من امرک و امر اصحابک انما کنا نخوض و نتعلب موږ ستا او ستا د اصحابو په کار کې هیڅ نه دي ویلي بلکې موږ مسخرې سره کولې او سات مو تېراوه یعنې په دغه خبرو موږ سفر پر ځان لنډ اوه لکه مسافران چې دا عادت لري چې تېوکي او ټکالي سره کوي، نو دوی چې منکر سوه د استهزآ او له تخفیف څخه د علیه الصلوة والسلام، نو خدای ﷻ و علیه الصلوة والسلام ته وویل.

قُلْ اَبِاللّٰهِ وَاٰيٰتِهٖ وَرَسُوْلِهٖ كُنْتُمْ تَسْتَهْزِءُوْنَ ۝

ووایه یا محمد ﷺ ودوی ته د سر زنش له لارې او ددوی و عذر ته اعتبار مه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورکوه، آیا په خدای او په آیاتو د خدای ﷻ تاسي پسخندونه وهل او په دې مو سات سره تېراوه.

پوه سه: چې په دې آیت کې توبیخ پر استهزاً ددوی دی په داسي شیانو سره چې هغه محل د استهزا نه دی، نو دوی داسي وګرځول چې دوی خو له نفس استهزا څخه نه دي منکر، نو ځکه یې پر نفس استهزا توبیخ ورنه کړی بلکې پر محل د استهزا، یعني چې خدای او آیات د خدای او رسول د خدای د ساتېري او مسخرو او پسخند ځایونه نه دي.

دروېش وایي: چې بعض جاهل طالبان د قرآن یو آیت ووایي او غلطه او ناوړه ترجمه یې وکړي او نور پر خاندي مثلاً العیاذ بالله یو طالب و بل ته د مسخرو او خندا لپاره ووایي چې د پشي غول پاک دي که نه؟ هغه بل ورته ووایي نعوذ بالله من ذالک چې په قرآن کې راغلي دي چې د پشي غول پاک دي اشاره بل تصریح په دې آیت وکړي في شغل فاکهون، دا نور پر خاندي نو دغه ویونکی او خندا کونکي ټوله کافران سوه وامثال ذالک کثیرة فالحذر فالحذر.

پوه سه: چې ددې سورت یو نوم فاضحه دی یعني رسوا کونکی چې منافقان یې ټوله رسوا کړل.

لَا تَعْتَذِرُوا قَدْ كَفَرْتُمْ بَعْدَ إِيمَانِكُمْ

تاسي عذر مه وایاست په اعذار کاذبه وفانها معلومة الکذب، قد کفرتم یعني تاسي ظاهر کړی هغه کفر مبطن خپل په ازارولو د علیه الصلوة والسلام او طعن ویل پرده، بعد ایمانکم یعني وروسته تر ایمان باللسان فقط لانهم لم یکونوا مؤمنین بالقلب ولکن کانوا منافقین.

إِنْ نَعْفُ عَنْ طَائِفَةٍ مِنْكُمْ

که موږ عفوه وکړه د یوې ډلي ستاسي څخه یعني وروسته تر توبې او اخلاص، محمد بن اسحاق رحمه الله وایي چې له دې څخه مراد فحشي بن عمیر دی ولي چې منافقینو پر علیه الصلوة والسلام طعن وایه ده په صرف ځندله او باطلي خبري به یې په شان کې د علیه الصلوة والسلام نه کولې او د طعن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ويونکو څخه به ګوښه روان ؤ، او ددوی پر بعض خبرو به يې انکار کاوه، نو چې دا آيت نازل سو تاب عن نفاقه او دا يې وويل اللهم همېشه به زه اورم هغه آيتونه چې زما سترګي په خونکي کېږي اللهم وفاتي قتلاً في سبيلک خواست يې خدای قبول کړی په ورځ د يمامې شهيد سو.

دروښ وايي: چې پر قول د محمد بن اسحاق اطلاق د طائفې پر يوازې فحش مجاز دی لان المتعارف اطلاقها على الكثير، لکن د مفسرينو له عباراتو څخه داسې فهمېږي چې تائبين توبة النصوح له نفاق څخه دېر منافقين وه.

نُعَذِّبْ طَآئِفَةً بِأَنَّهُمْ كَانُوا مُجْرِمِيْنَ ﴿٦٦﴾

موږ به عذاب کوو يوه ډله يعني د منافقانو، په دې سبب چې دوی وه مجرمان يعني ټينګ پر نفاق او ازارولو د عليه الصلوة والسلام او استهزاً دده.

فائده: عليه الصلوة والسلام ته مسلمانانو وويل چې دا د مصرينو پر نفاق اجازه راکړه چې قتل يې کړو، عليه الصلوة والسلام چې کامل العقل او دوربين شخصيت ؤ دوی ته يې وويل که موږ دوی قتل کړو زما او د اسلام رنګ بدېږي، ناخبره خلګ به وايي چې محمد خپل اصحاب وژني، ولي چې په ظاهره خو دغه منافقان مسلمانان دي.

پوه سه: چې د مذکوره آيتو فائدې دادي:

(۱) منافقان که څه هم عقيده ولري په نزول د وحي پر عليه الصلوة والسلام او عقيده د نبوت دده ولري لکن عناداً او حسداً له نبوت څخه منکر وي ايمان لساني دوی له کفر او نفاق څخه نه خلاصوي.

(۲) که يې داسې وويل چې زه تولې انبياً منم لکن په آدم عليه السلام نه يم خبر چې نبي ؤ او که نه کافر کېږي.

(۳) که چا داسې وويل چې آنحضرت ﷺ زه منم چې نبي دی لکن په دې نه پوهېږم چې خاتم الانبياً دی او که نه او په دې نه پوهېږم چې دين دده به تر قيامته باقي وي منسوخ کېږي به نه لايکون مؤمناً.

پوه سه: چې خدای ﷻ سبب د عذاب د يوې طائفې د منافقانو دا ووايه بانهم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کائوا مجرمین، نو باید د جرم ارتکاب مسلمان ونه کړي، جلال الدین رومي په خپل کتاب مثنوي کي وایي.

چونکه بد کردی بترس ایمن مباش ..... زانکه تخمست برویاند خداش
چند گاهی او بپو شاند که تا ..... آیدت زان بد پشیمان وحیاً
بارها پوشد پی اظهار فضل ..... باز گیرد از پی اظهار عدل
تا این هر دو صفت ظاهر شود ..... آن مبشر گردد و این منذر شود

(۴) استهزا په خدای ﷻ او په رسول ﷺ او په آیاتو قرآنیه وو کفر دی که قولاً او که فعلاً وي او که اشارةً وي.

اَلْمُنٰفِقُوْنَ وَالْمُنٰفِقٰتُ بَعْضُهُمْ مِّنْۢ بَعْضٍ

ټران منافقان او منځي منافقات بعض ددوی له جنس څخه د بعض دي في الشرک والنفاق والبعد عن الایمان، په دې آیت سره خدای پاک تکذیب وکړی ددوی د قسم انهم لمنکم او دمخه آیت تقریر وکړی وماهم منکم، او دا وروسته آیت لکه دلیل پر دې مدعی.

يَاْمُرُوْنَ بِالْمُنْكَرِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمَعْرُوْفِ

دوی امر کوي خلګ په بد کار یعني الکفر والنفاق. او دوی خلګ نهي کوي له ښه کار څخه لکه ایمان قلباً ولساناً وطاعة الرسول في الغزوات خصوصاً عن غزوة تبوک حیث یقولون لامثالهم لاتنفر في الحر، او حق عکس ددوی د عمل دی یعني الامر بالمعروف والنهي عن المنکر.

وَيَقْبِضُوْنَ اَيْدِيَهُمْ ۭ نَسُوا اللّٰهَ فَنَسِيَهُمْ ۭ

دوی مټ نیولي دي لاسونه خپل له انفاق في سبیل الله څخه وقبض الید کنایة عن البخل، دوی هېر کړی دی خدای ﷻ، یعني ددوی له کردارو دا معلومېږي چي گویا دوی علم نه لري چي زه خو خالق لرم چي زموږ څخه په ورځ د قیامت بازخواست وکړي زموږ د اعمال خبیثه وو، نو خدای ﷻ دوی هېر کړي دي یعني ترکهم عن الهدایة جبراً في الدنیا ورحمته في الدنیا وترکهم في العذاب المخلد في دار البوار جهنم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿٦٧﴾

په تحقیق منافقان دوی دي فاسقان یعني له دائري څخه د ایمان او طاعت کما هو معنی الفسق في اللغة. کمافي قولهم فسقت التمرة اذا خرجت عن غلافها.

وَعَدَ اللّٰهُ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْمُنٰفِقٰتِ وَالْكُفَّارَ نَارَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ هِيَ حَسْبُهُمْ ۚ وَلَعَنَهُمُ اللّٰهُ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيْمٌ ﴿٦٨﴾

خدای ﷻ وعده کړي ده د منافقینو او منافقاتو او د نفس کفار سره (هذا تعمیم بعد تخصیص) د اور د دوزخ چي همېشه به وي دوی په دې اور کي دا اور ددوی بس دی، او خدای ﷻ پر دوی لعنت کړی دی یعني د خپل رحمت عامه څخه ایستلی دی او دوی لره دی عذاب دائم چي نه قطع کېدونکی دی.

پوه سه: چي دا خو ددوی عذاب دی په اخرت کي او په دنیا کي هم لوی بار د عذاب ددوی پر وږو پروت دی چي له مسلمانانو څخه بېره ده او د رسوایي د نفاق لوی پېټی یې پر زړو پروت دی، شپه او ورځ په دې سودا کي دي چي که مسلمانان په موږ خبر سوه زموږ سره به څه وکړي الی غیر ذالک من مصائب النفاق.

كَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ كَانُوْٓا اَشَدَّ مِنْكُمْ قُوَّةً وَّاَكْثَرَ اَمْوَالًا وَّاَوْلَادًا ۚ

خبر د مبتدأ محذوفي دی نو محلاً مرفوع دی ای انتم ایها المنافقون مثل الذین کانوا من قبلکم یعني کفار د تېرو امتو یعني په روی ګردانې د احکامو د خدای ﷻ او لعنت پر هغو، هغه کفار د امم ماضیه وو چې د هر سخت وه تر تاسي په قوت کي د اجسامو او په دې هر والي کي د تابعانو، او هغه کفار اکثره له جهته څخه د اموالو ظاهره وو او له سبب څخه د دې هرو اولادو.

فَاسْتَمْتَعُوْا بِخَلَاقِهِمْ فَاسْتَمْتَعْتُمْ بِخَلَاقِكُمْ

نو دوی نفع واخستل په خپله برخه سره من الدنیا ولذاتها حسب ما قدر الله لهم. او تاسي اې منافقانو فائدې واخستې په خپلو برخو سره حسب ما قدر الله لکم في الدنیا ولذائذها.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كَمَا اسْتَمْتَعَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ بِخَلَاقِهِمْ وَخُضْتُمْ كَالَّذِي خَاضُوا

لکه چې نفع اخستې وه هغه کسانو چې تر تاسې دمخه وه په خپلو لذائذو دنیویه وو سره، هذا تاکید لقوله تعالی فاستمتعوا بخلاقهم کما لایخفی.

پوه سه: چې خوض غلط او باطل بحث کول دي یعني دخلتم في الباطل واللهو لکه خوض د هغو کسانو چې دوی خوض په باطل کې کاوه.

سوال: الذي خو مفرد دی نو ضمیر د خاضوا چې جمع دی څرنګه ورته راجع سو؟

ځواب: د نحو په کتابو کې وایي چې الذین جمع د الذي نه ده والا لکان في حالة الوقع بالواو کما هو قانون الجمع بلکې الذین ذو الزیادة دی لکن زیادة الحروف یدل علی زیادة المعنی ولهذا یستعمل الذین في الجمع والحاصل چې په الذي کې جمع او مفرد برابر دي ولهذا رجع الیه ضمیر خاضوا، او بعض مفسرین موصوف د الذین ای الفوج مقدر بولي والفوج مفرد لفظاً جمع ده معنی کالقوم والرهط فافهم.

أُولَٰئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴿٦٩﴾

او دغه کسان لغوه دي اعمال ددوی په دنیا او اخرت کې یعني لم یستحقوا علیها ثواباً في الدارین، او دغه کسان په تاوان کې دي حیث خسروا الدنیا والآخرة، له ابي سعید الخدري ﷺ څخه روایت دی چې علیه الصلوة والسلام وویل لتتبعن سنن الذین من قبلکم شبراً بشبر وذراعاً بزراع، حتی لو دخلوا جحر (یعني فرضاً تامل) ضب تتبعوهم قلنا یا رسول الله الیهود والنصاری قال فمن، وفي روایة لو ان احدهم جامع امرئته في الطریق لفعلتموه (تاسې به متابعت کوئ یعني یو وخت د عاداتو د هغه کسانو چې تر تاسې دمخه دي لوښت په لوښت او ګز په ګز، حتی که دوی ننوتل په غار د سمسارې تاسې به هم پسې ورننوزي، موږ ورته وویل یا رسول الله الیهود والنصاری ده مبارک وویل نو څوک یادوم یعني هم دوی مي مراد دي، حتی که یو سړي ددوی که یې په لار کې د خپلې مایني سره جماع کولې تاسې به یې هم کوئ.

دروښ وایي: چې والله لقد صدق رسول الله ﷺ په اوسنۍ زمانه کې مصداق ددې حدیث نبوي ښکاره دی، دروښ به هغه حکایات چې په متابعت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کي مسلمانان للنصاری والیهود په تفسیر کي درج نه کړي لاحتمال الصدق والکذب في تلک الحکایات. البته هغه شیان د متابعت د نصاری وو بالخصوص الامریکین به درج کړي چي په ستر گو دروښ لیدلي وي.

اول چونکه د یهودانو او نصاری وو په کبارې شیانو کي چي د غریبو ممالکو د مسلمانانو تاجران یې واردوي ځینې داسي د ښځو قمیصان ددوی وارد سوي دي چي په نامه د سینه لخ یادیږي چي د ښځو تر نیمایي تیو پوري لخ وي، د مسلمانانو ښځو چي دا سینه لخ کالي ولیدل دوی خپل نوي قمیصان هم پر هغه نقشه جوړل شروع کړل، او داغه رنگه په کبارې کي دوی د ښځو داسي قمیصان ولیدل چي د پرتوگابن تر ځای یې بارچاک وي، نو دوی هم خپل نوي کالي په یوه بره جوړ کړل، او داغه رنگه چونکه د امریکایانو وهبنستان سره ته مائل دي، نو د مسلمانانو ښځو هم خپل او خپل د کوچنیانو نجونو سرونه په نکروزو هغسي ورسره کړل متابعةً ومشابعةً لهم، بلکې بعض بچه مرد هلکان بلکې ځوانانو هم خپل وهبنستان ورته سره کړل، او نور ورته کارونه په متابعت د نصاری وو په مسلمانانو کي جاري تجربه شاهد حال ده، نو ځکه دروښ که څه هم لام موطئه د قسم راوړی صریح قسم یې هم ورسره ذکر کړی.

اَلَمْ یَاْتِهِمْ نَبَاُ الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ قَوْمِ نُوْحٍ وَّ عَادٍ وَّ ثَمُوْدَ ۙ

آیا نه دی راغلی و منافقینو ته خبر د هغو کسانو چي تر دوی دمخه وه یعني کافرانو چي دوی به مخالفت زمونږ د رسولانو وکړی یعني خبر یې دادی چي هغه یې په عذاب د دنیا اخته کړه او هلاک یې کړه، له دې څخه مطلب دادی چي منافقان باید د هغو کفارو له حال څخه عبرت واخلي او مخالفت د علیه الصلوة والسلام او استهزاً او غیبت دده پرېږدي. سعدي شیرازي رحمه الله:

پند گیر از مصائب دیگران ..... تا نگیرند دیگران زتو پند

بیا خدای پاک ذکر د هغو کفارو وکړی، قوم د نوح علیه السلام چي په طوفان سره هلاک سو، او عادیان چي په ریح صرصر سره هلاک سوه، او ثمودیان چي په نعره د جبرئیل علیه السلام او د ځکي په زلزلې هلاک سوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَقَوْمِ اِبْرٰهِيْمَ وَاَصْحٰبِ مَدْيَنَ

د ابراهیم ﷺ قوم چې نمرودیان وه سره د نمروده خدای پاک هلاک کړه، او مدین والا چې قوم د شعیب ﷺ چې د اور په باران هلاک سوه.

وَالْمُؤْتَفِكٰتِ ۭ اَتَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ۚ

او قریه د لوط ﷺ چې محکه پر چپه سوه او د ډیرو باران پر وسو، چې دوی ته راتګ کړی رسولانو په معجزاتو ظاهره وو سره او دې قومو ددوی تکذیب وکړی، نو موږ دوی هلاک کړل.

فَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ۝۷۰

یعنې عادت د خدای ﷻ نه دی چې دوی دې په عذاب کړې ببله جرم او کفر، لکن دوی دې چې پر خپلو ځانو یې ظلم وکړی چې تکذیب د رسولانو یې وکړی او ځانونه یې عذاب الهي ته وسپارل، نو منافقان باید نصیحت واخلي چې پر دوی به هم هلاک او عذاب الهي مسلط سي.

وَالْمُؤْمِنُوْنَ وَالْمُؤْمِنٰتُ بَعْضُهُمْ اَوْلِيَاۗءُ بَعْضٍ ۘ يَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَيُطِيْعُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ۭ اُولٰۗىِٕكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللّٰهُ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ۝۷۱

او منافقان نر او مؤمنات ښځې بعض د بعض دوستان دي یعنې ولاء الاخوة الاسلامیة نو یو د بل تائید کوي او خلګ امر کوي په معروف في الشرع کې، یعنې الایمان بالله ورسوله واطاعتهما في الاوامر، او خلګ منع کوي له بدو کارو څخه لکه شرک او نفاق او اتباع د شهواتو او معصیة الرسول ﷺ او پینځه وخته لمونځونه پر شرع برابر کوئ، او که اغنیاء وه زکاتونه ورکوئ او فرمانبرداري د خدای ﷻ او د رسول ﷺ کوي په کولو سره د مأمور به من جانبهما او په ترک سره د مانهی عنه، او دغه کسان ژر دی چې خدای ﷻ پر دوی رحم وکړي.

پوه سه: چې کلمه د سین لپاره د تاکید ده یعنې دا رحم به خامخا کېږي بناء علی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عادته تعالی بلا وجوب علیه، او خدای ﷻ غالب دی هر کار ته چې یې اراده وکړي هغه به حتما کېږي څوک یې مانع نه سي کېدای، او حکیم دی چې عبث کار نه کوي.

وَعَدَ اللّٰهُ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً فِيْ جَنّٰتِ عَدْنٍ ۭ

خدای پاک وعده کړې ده د مؤمنین او مؤمناتو سره د جنتو چې بهېږي به لاندې تر درختو او قصورو ولې یعنې څلور (۱) شدې (۲) عسل (۳) اوبه (۴) شراب، همېشه به وي دوی په دغو جنتو کې او ځایونه د اوسېدلو چې طیب به وي یعنې د طبائع به د هر خوښ وي په جنتو کې د عدن.

پوه سه: چې د عدن یوه معنی لغوي ده چې اقامت او ستقرار او خلود دی، روح المعاني د جزء عاشر په تفسیر کې وایي وعلی هذا الجنات کلها جنت عدن ای الخلود. او مظهري هم اولاً په لفظ د قیل تفسیر په اقامت او خلود سره کړی دی، او یوه علمي معنی ده یعنې چې یو معین جنت نوم دی. ابن جریر رحمه الله له ابي درداً رضی الله عنه څخه روایت کړی دی چې رسول الله ﷺ وویل چې عدن دارُ الله دی "التي لم ترها عین ولم یخطر علی قلب بشر لایسکنها الا ثلثة النبیون والصدیقون والشهداً یقول (یعني خدای ﷻ وایي) طوبی لمن دخلک" او صاحب المدارک وایي چې عدن علم دی په دلیل ددې قول د خدای ﷻ جنات عدن التي وعد الرحمن، او دی وایي چې نحات وایي چې التي او الذي صفت د معارفو واقع کېږي فهي مدینة في الجنة آه.

دروښ وایي: چې توجیه د قول د مدارک داده چې په هر جنت کې یو قصر مخصوص دی هر زېباً سته دده په نېز عدن نوم ددغه قصر دی، نو توفیق د تولو اقوالو حاصل سو په دې معنی چې هر مؤمن او مؤمنة لره جنت په معنی جنسي سته، او عدن په معنی علمي شخصي سره د انبیاً او صدیقینو او شهداً لپاره دی، او عدن په معنی د علم جنس په هر جنت کې د مقام مخصوص نوم دی چې هغه په هر جنت کې اعلی مقام دی، ویومی الی ماقلنا قول المدارک هي مدینة في جنة، حاصل د ماقلنا دادی چې د عدن یوه معنا جنسي ده چې دار الاقامة والخلود چې پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هر جنت صادقپرې. او بله معنا يې علميت شخصي ده چې د انبياً عليهم السلام الخ ځای دی او بله معنا يې علميت جنسي ده چې په هر جنت کې د يوه مخصوص عالي قشنګ ځای نوم دی وهذا کما قال النحاة ان لفظ الاسد اسم جنس ولفظ اسامة المرادف له علم جنس وكل واحد من اللفظين يطلق على كل فرد من افراد الاسد الا ان لفظ اسد موضوع للحيوان المفترس بلا لحاظ تعيينه، ولهذا يوصف لفظ اسد بالنكرة ولايصح توصيفه بالمعرفة، ولفظ اسامة موضوع لذالك المعنى مع ملاحظة التعيين فيه فلذا يوصف لفظ اسامة بالمعارف دون النكرة، والحاصل ان علم الجنس امر اعتباري لضرورة الاحكام كاتوصيف بالمعارف.

دروښ وايي: چې دا جمع له سوانح ځخه د وخت دی وقل من يتنبه لهذا التحقيق والله الموفق والمعين، والحمد لله رب العالمين، والصلوة والسلام على سيد المرسلين وآله وصحبه اجمعين.

فائده: امام قرطبي رحمه الله په خپل تفسير کې وايي چې جنتونه اووه دي:

(١) دار الخلد (٢) دار الجلال (٣) دار السلام (۴) جنت عدن (۵) جنة المأوى (٦) جنة النعيم (٧) جنة الفردوس.

دروښ وايي: چې دا خو د جنتو نومان وه لكن په معنى لغوي هر جنت دار الخلد يعني ځای د همېشه والي، او هر جنت دار الجلال دی يعني د عزت ځای، او هر جنت دار السلام دی يعني د سلامتيا ځای د تولو آفاتو ځخه او هر جنت جنت عدن دی يعني د اقامت دائمي لپاره او هر جنت جنت مأوى دی يعني د پناه ځای، او هر جنت جنت نعيم دی يعني د نعمتو ځای، او هر جنت جنت الفردوس دی يعني تر عرش الرحمن لاندې دی.

وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ اَكْبَرُ

يعني لږ رضى د خدای جل جلاله بالا ده نعمةً تر تولو نعمتو، ولي چې توله نعمتونه د اخيرت او جنتونه اثار د رضاً د خدای جل جلاله دي، له ابي سعيد الخدري رضي الله عنه ځخه روايت دی چې بخاري او مسلم دواړو راوړي دي، ابو سعيد رضي الله عنه وايي چې عليه الصلوة والسلام وويل چې خدای جل جلاله اهل جنت ته ووايي يا اهل الجنة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دوی ووایي لبیک ربنا وسعدیک خدای ﷻ ورته ووایي آیا تاسي راضي یاست دوی ورته ووایي ولي به موږ نه یو راضي تا موږ ته راکړي هغه نعمتونه چي هیڅ چا ته د عالمیانو دي نه دي ورکړي، خدای پاک ورته ووایي چي تر دې ټولو نعمتو افضل شی زه وتاسي ته درکوم، قالوا وما افضل من ذالک؟ خدای پاک ورته ووایي احل علیکم رضواني فلا اسخط علیکم ابداً زه تاسي ته خپله رضا درکوم چي بیا غضب او غصه نه کوم پر تاسي تر ابده پوري.

ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۷۲﴾

دا رضوان الله یا ټوله ماتقدم لویه کامیابي او بری دی اللهم ازرقنا ذالک الفوز الاکبر بحرمة القرآن العظیم، یو عارف وایي:

یکی میخواهد از تو جنت و حور ..... یکی خواهد که از دوزخ شود دور
ولیکن ما نخواهم این وآن جست .... مراد من همین خوشنودي تست
چو تو خوشنود گردی دردو عالم .... همین مقصود بس والله اعلم

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ ۭ وَمَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ۭ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿۷۳﴾

اې نبي جهاد کوه د کفارو سره یعني بالسیف او د منافقانو سره یعني په ژبه او رفق و نرمي مه ورسره کوه او سختي خبري ورته کوه، او ځای ددوی یعني کفارو او منافقانو په ورځ د قیامت جهنم دوزخ دی او بد ځای د ورتګ دی جهنم، عطاً رحمه الله وایي چي دې آیت ټوله عفوه او صفح ختمه کړل.

پوه سه: چي ابن جریر رحمه الله د ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چي علیه الصلوة والسلام ناست وُ د یوې درختي و سایې ته، نو یې وویل چي اوس به یو سړی راسي چي په سترګو د شیطان به ګوري، که موکتل یو سړی راغلی شنې سترګي یې وې، نو علیه الصلوة والسلام وروبولی او ورته وه یې ویل چي پر څه شي ته او سئا ملګري ماته بدګنځل کوئ، هغه سړی ولاړی ملګري یې راوستل، نو ټولو قسم بالله واخستی چي موږ ته ناته بدګنځل نه دي کړي، علیه الصلوة والسلام ومنل او عفوه یې ورته وکړه فانزل الله تعالی هذه الآیة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يَحْلِفُونَ بِاللّٰهِ مَا قَالُوا۟

دوی قسم اخلي په خدای ﷻ چي موږ په تا کي څه بد نه دي ويلي.

پوه سه: چي جلاس بن سويد بن الصامت چي په غزا کي د تبوک د علیه الصلوة والسلام څخه پاته سوی ؤ يعني تبوک ته نه ؤ ورسره تللی، داسي يې خپل ملګرو ته وويل ان كان هذا الرجل صادقًا في دعوى النبوة يعني محمدا ﷺ لنحن شر من الحمير، نو موږ بد يو تر خرو، ولي موږ خو يې نه منو، نو عمير بن سعد ﷺ دا خبره و علیه الصلوة والسلام ته ورسول نو جلاس مذکور سره د ملګرو قسم واخستی چي موږ دا خبره نه کړې يعني مخبر تاته درواغ ويلي دي. فانزل الله هذه الآية. راويان وايي چي جلاس مذکور وروسته توبه وکښل او توبه يې له صدق څخه وه.

بوه سه: چي بغوي رحمه الله د کلبي رحمه الله قول رانقل کړی دی چي علیه الصلوة والسلام په تبوک کي خطبه وويل يوه ورځ، نو د منافقينو ذکر يې وکړی او دا يې وويل چي دوی نجس دي فقال جلاس لئن كان محمد صادقاً لنحن شر من الحمير دا خبره عامر بن قيس ﷺ واورېدل او جلاس ته يې وويل هو ای محمد ﷺ صادق او تاسي بد ياست تر خرو، څه وخت چي علیه الصلوة والسلام مدينې ته راستون سو عامر بن قيس ورته راغلی او د جلاس هغه خبره يې و علیه الصلوة والسلام ته وکړه فقال الجلاس كذب علي، پر ما يې درواغ ويلي دي يعني عامر بن قيس، نو جلاس او عامر دواړه و علیه الصلوة والسلام ته راغله چي په نهز د منبر نبوي بعد العصر به قسم اخلي، نو اول جلاس ولاړ سو فحلف بالله الذي لا اله الا هو ماقاله ولقد كذب او پر ما يې درواغ ويلي دي، بيا عامر ﷺ ولاړ سو فحلف بالله الذي لا اله الاهو لقد قاله دا خبره جلاس کړې ده او ما درواغ نه دي پر ويلي، بيا عامر لاسونه پورته کړه د اسمان پر خوا يعني دعا يې وکړه يا الله انزل على نبيك الصادق منا الصدق فقال رسول الله ﷺ والمؤمنين آمين فنزل جبرئيل دمخه تردې چي جلاس او عامر لا نه وه سره جلا سوي الآية فقرئه علیه الصلوة والسلام يعني دا آيت يې ودوی ته تلاوت کړی تر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دې ځایه پورې "فان یتوبوا ایک خیراً لهم آه" نو جلاس ولاړ سو فقال یا رسول الله ﷺ ما له ځدای ﷻ ځخه واورېدل یعني په دغه ایت منزله کې چې مایه ته یې توبه عرض کړه، عامر بن قیس صادق دی رشتیا چې ما دغه خبره کړې وه و انا استغفر الله واتوب الیه فقیل رسول الله ﷺ ذالک منه ثم تاب وحسنت توبته.

وَلَقَدْ قَالُوا كَلِمَةَ الْكُفْرِ وَكَفَرُوا بَعْدَ إِسْلَامِهِمْ وَهَمُّوا بِمَا لَمْ يَنَالُوا

چې د جلاس خبره وه، لئن کان محمد صادقاً لنحن شر من الحمیر وقد مر بیانه تفصیلاً آنفاً، او بعض مفسرین وایي چې له کلمة الکفر ځخه مراد سب دي و نبي ﷺ ته وقد مر ایضاً قریباً، وقیل قول د عبدالله بن ابي رئیس المنافقین وخپلو هم عقیده ملګرو ته لئن رجعنا الی المدینة لیخرجن الاعز (دده مراد خپله ډله منافقان وه) منها الاذل (دده مراد علیه الصلوة والسلام او اصحاب وه) وسیجئ بیانه في سورة المنافقین ان شاء الله تعالی.

وترجمة الآیة: او دوی کفر ښکاره کړی وروسته تر اظهار د ایمان نفاقاً. او دوی قصد کړی ؤ یو شي ته چې قتل د علیه الصلوة والسلام ؤ چې هغه یې نه کړی پیدا یعني په هغه قصد کې کامیابه نه سوه، دا هغه دوولس کسان وه د منافقانو چې علیه الصلوة والسلام له تبوک ځخه د مدیني منورې و خواته راروان ؤ نو دوی مولونه وهلي وه پر عقبه ورته ولاړ وه چې علیه الصلوة والسلام له عقبه ځخه لاندې ژوري شپلې ته پرې وهي چې مړ سي، جبرئیل و علیه الصلوة والسلام ته خبر ورکړی او ورته وه یې ویل چې یو سړی ور واستوه چې ددوی د اوښانو مخ له عقبې ځخه واړوي، علیه الصلوة والسلام حذیفه ﷺ ته دا وظیفه ورکړه.

دروښ وایي: چې دا قصه په تفصیل سره دمخه تېره سوه، او طبراني له ابن عباس ﷺ ځخه روایت کړی دی چې قصد کړی ؤ یو سړي چې اسود یې نوم ؤ چې علیه الصلوة والسلام قتل کړي لکن کامیابه نه سو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَا نَقَمُوٓا إِلَّآ أَنْ أَغْنَىٰهُمُ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ مِن فَضْلِهِۦ

او دوی ته مبغوض نه ؤ یعني دوی داسي شی نه درلودی چي سبب د دومره عداوت د علیه الصلوة والسلام دي وای، او علیه الصلوة والسلام ددوی سره کوم بد نه وه کړي چي د هغو بدو کسات یې له ده څخه اخستلای. مگر نه دا چي خدای او رسول دده دوی غنیان کړل له فضله څخه د خدای یعني الرزق الکثیر او دا خو احسان ؤ او حسان خو محبوب القلوب دی یوجب المحبة والانقیاد دون النقمة والعناد، او جمله "وما نقموا" حال ده له فاعل څخه د "هموا" او په دې آیت کي تنبیه ده پر کمال شر او پر خبث باطن ددوی چي په مقابل کي د احسان یې انتقام مختار کړی. او تر سپیانو دوی بد تره سوه، ولي سپي ته چي مالک ډوډی او غوښي ورکوي، نو که هر څو دا مالک بلکې کوچنی اولاد دده د مالک که هر څو دا سپی ووهي حمله نه پر کوي.

سوال: دا استثنا څرنگه صحیح کېږي چي احسان دي له نقمة څخه استثنا سي؟

ځواب: د معاني په کتابو کي وایي چي گاهي د صفت مدح له ذم څخه مستثنی کوي بلغاً مبالغةً کما في قول الشاعر:

ولاعیب فیهم غیر ان سیوفهم ..... بهن فلول من قراع الکتائب

نو په آیت کي چونکه په خدای او په رسول کي سبب د نقمت د منافقانو نه ؤ نو په سبب موجب د انقیاد او د محبت څنې استثنا کړی چي احسان دی او دا له مبالغاتو څخه د شعراؤ او بلغاؤ ده چي دېرې انواعي لري.

دروېش وایي: چي حاسد به بیا پر دې ځای ستر گې له بېخه راوکاږي چي په دې خبرو طالبان بلکې بعض امامان هم نه پوهېږي، نو د راوړلو یې څه فائده ده؟

ځواب: د دروېش غرض تصحیح او بیان د استثنا ده في هذه الآیة که څوک په پوهېږي لکه اهل علم او که نه په پوهېږي لکه تاغوندي امام حاسد یا کتاب فروش.

فَإِن يَتُوبُوا۟ يَكُ خَيْرًا لَّهُمْ ۖ وَإِن يَتَوَلَّوْا

که دوی یعني منافقین توبه وکاږي له کفر او نفاق څخه یعني لکه جلاس چي توبه وکښل کمامر عنقریب نو دا توبه به خیر وي ددوی په دنیا او اخرت کي، او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

که دوی روی ګردانی وکړه له توبې او اخلاص څخه بلکې پر نفاق ټینګ وي.

سوال: "یک" څو جزاً د "ان" ده چې مجزوم به وای لکن علامه د جزم څو اسقاط د حرف علت یا حرکت دی په اخیر د کلمې. نو کلمه د نون په "یک" کې څرنګه حذف سوه؟

ځواب: چونکه باب د کان کثیر الاستعمال دی په عربي ژبه کې، نو د غایت تخفیف لپاره چې جازم پر یکون داخل سو حرکت د نون یې حذف کړی، وروسته التقاً د ساکنینو په منځ د نون او واو راغله واو یې حذف کړی وروسته یې نوم هم حذف کړی التشبیه بحرف العلة، په قرآن مبارک کې څو ځایه "یک" راغلی دی لکن عام استعمال یې بقاً د نون ده نحو لم یکن فافهم.

يُعَذِّبْهُمُ اللّٰهُ عَذَابًا اَلِيْمًا فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۚ وَمَا لَهُمْ فِى الْاَرْضِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ۝

په عذاب به کړي خدای ﷻ دوی په عذاب دردناک سره په دنیا کې په رسوایي او یا قتل سره او په اخیرت کې په اور د جهنم او نسته دوی لره په مځکه او په اخیرت کې یو دوست او نه کومکي.

دروښ وایي: چې بغوي رحمه الله د وروسته آیت شان نزول په دې ډول راوړی دی چې ثعلبه بن حاطب الانصاري چې روح البیان دده په باب کې داسې ویلي دي په ابتدا کې د مسجد نبوي ملازم وُ لیلاً ونهاراً، نو له دې سببه به خلګو دی حمامة المسجد باله او دده تندی له ډېرو سجدو څخه پر تودو شګو داسې سوی وُ لکه د اوښ زنګون انتهی عبارة روح البیان، اوس بیرته د بغوي د روایت پر لور نو ثعلبه و علیه الصلوة والسلام ته راغلی فقال یا رسول الله ادع الله ان یرزقني مالاً نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې ته په رسول پسې د خدای ﷻ اقتداً حسنه نه کوې یعني ما فقر خوښ کړی دی ته هم په فقر راضي اوسه، علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې زما دي قسم په هغه ذات وي چې زما روح د هغه په قدرت کې دی که زه اراده وکړم چې غرونه دي زما سره د سرو زرو وي او زما سره دي روان وي، نو به را سره روان وای، په بل روایت کې راغلي دي "لکن اخترت جوع الدنیا علی شبعها"

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وروسته بیا ثعلبه ورته راغلی فقال یا رسول الله ﷺ ادع الله ان یرزقني مالاً او زما دي قسم په هغه خدای وي چي ته یې رسول بالحق را استولی یې که ماته خدای ﷻ مال راکړی زه به یې ورکوم هر ذي حق ته حق دده یعني من الصدقات المفروضة والمنذور به، فقال رسول الله ﷺ اللهم ازرق ثعلبة مالاً . نو ثعلبه یو څو مېږي رانیولې، نو دده مېږو او پسو په اثر د دعاً د علیه الصلوة والسلام نماً او زیاتوب والی شروع کړی لکه د خوشیو چینجیان نو یو څو میاشتي یا کلونه وروسته د مدینې منورې کوڅې پر تنګي سوې، نو ده د مدینې دبادي په یوه شپله کي خیمې ودرولې او د ماپښین او د مازدیګر د لمانځه لپاره به مسجد نبوي ته راتلی او درې لمونځونه به یې د پسو په ځای کي بې جماته کول، څو میاشتي وروسته هغه شپله هم پر تنګه سوه مېږي او پسونه یې مخ پر نماً روان دي لکه چینجیان، نو خیر یوې لېرې پراخه شپلې ته ولاړی ، نو یوه جمعه اُو بله جمعه په مسجد نبوي ته راتلی، د جمعې لمونځ چې به یې وکړی بیرته به ولاړی او پینځه سره د مسجد نبوي لمونځونه یې پرېښول. اخیراً پسونه بېخي سره دېر سوه حتی چې ثعلبه تر پخوا الا یوې لېرې شپلې ته ولاړی او د جمعې لمونځ یې هم پسې پرېښو، نو د جمعې په ورځ چې په خلګ د جمعې د لمانځه لپاره مسجد نبوي ته راتله، نو د جمعې د لمانځه وروسته چې په هغه خلګ خپلو کورو ته ولاړل نو به ثعلبي د مدینې او د علیه الصلوة والسلام د احوالو پوښتنه ځندي کوله. یوه ورځ علیه الصلوة والسلام له خلګو څخه پوښتنه وکړه مافعل ثعلبة؟ خلګو ورته وویل چې د هغه مالونه اوس دومره پسونه اوښان دېر دي چې په یوه شپله کي یې نه سي ځایولای، فقال رسول الله ﷺ یا ویح ثعلبة یا ویح ثعلبة یا ویح ثعلبة (دا کلمه د ترحم ده یاد افسوس وهغه چاته ویل کېږي چې په یوه مهلکه کي واقع وي) په دې دوران کي د صدقاتو یعني زکوٰة آیت نازل سو، نو علیه الصلوة والسلام یو نفر د بني سلیم او بل نفر د جهینة د قبیلې عامل پر را جمع کولو د زکاتو د پسو او اوښانو وګمارل. او دوی ته یې د زکوة د هر مال نصاب او د زکوة خط ورنوشته کړی، او دې دوو کسانو ته یې وویل چې ثعلبه ته هم د زکوة لپاره ورسئ، نو دوی له مدینې څخه ووتل او ثعلبه ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورغله او د زکوة غوښتنه يې ځندي وکړه او د عليه الصلوة والسلام مکتوب يې ورته ووايه، نو ثعلبه ورته وويل ما هذه الا جزية او ماهذه الا اخت الجزية، عرض يې دا وُ چې زکوة نه دی بلکې دا جزيه ده چې له کفارو څخه اخستل کيږي، نو ثعلبه ورته وويل چې تاسي له نورو صدقاتو څخه ځان فارغه کړئ بيا به ماته راسئ، نو د بني سليم يو مالدار سړی وُ هغه په خپلو اوښانو کې هغه ښه اوښان عاملانو ته راواستل، عاملانو ورته وويل چې زکوة خو ميانه مال د مالک وي تاخو خيار اوښان راوستل دا خو پر تا نه وه لازمه، هغه ورته وويل خذاه فان نفسي بذالک طيبة، واخلئ دا ښه اوښان زما نفس په دغو ښوو اوښانو خوشاله دی، خير نورو خلګو خپل خپل زکاتونه ورکړل اخير ثعلبه ته راغله ثعلبه ورته وويل چې تاسي هغه مکتوب رانښکاره کړئ، نو ثعلبه په خپله مکتوب ووايه، بيا ده هغه مخنی کلام استعمال کړی ما هذه الا جزية آه.

او دوی ته يې وويل چې تاسي ولاړ سئ زه به د خپل ځان سره فکر ووهم، نو هغه دوه کسه چې راغله دمخه تر دې چې دوی د ثعلبه حال و عليه الصلوة والسلام ته بيان کړي عليه الصلوة والسلام وويل ويح ثعلبة ويح ثعلبة ويح ثعلبة فانزل الله فيه.

وَمِنْهُمْ مَّنْ عٰهَدَ اللّٰهَ لَئِنْ اٰتٰىنَا مِنْ فَضْلِهٖ لَنَصَّدَّقَنَّ وَلَنَكُوْنَنَّ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۷۵﴾

او ددوی څخه يعني د منافقينو هغه کسان دي چې د خدايه سره عهد او پيمان کړی وي، چې دلته مرد ځندي ثعلبه دی چې که چېرې خدای ﷻ ماته راکړي بعض له مال څخه، پوه سه! چې لام د "لئن" موطئه دی اصل د لنصدقن لنتصدقن وُ تا يې په صاد کې مدغمه کړه، او هر آئينه به زه ګرځم له صالحانو بندګانو څخه، له ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چې زه په عمل د اهل صلاح کوم زکوة به ورکوم صله رحمي به کوم او نفقات واجبه او مندوبه به ورکوم او په جهاد في سبيل الله کې به کومک کوم وغير ذالک.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَلَمَّآ اٰتٰىهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ بَخِلُوْا بِهٖ وَتَوَلَّوْا وَّهُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿۷۶﴾

نو څه وخت چې خدای ﷻ ودوی ته ورکړي له فضله څخه یعنې له ماله، دوی بخل مختار کړي یعنې حق الله زکوة یې منع کړی او دوی مخ واړاوه د خدای او د رسول له اطاعت څخه، او دوی یعنې منافقان قوم کوي چې عادت یې اعراض دی.

سوال: ثعلبه بن ثابت خو یو سړی وۀ، نو ضمائر د جمع څه معنا لري؟

خواب: د قرآن مجید آیت که څه هم په یوه شخص کې نازل وي لکن احکام یې عام وي.

فَاَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا فِيْ قُلُوْبِهِمْ اِلٰى يَوْمِ يَلْقَوْنَهٗ بِمَآ اَخْلَفُوا اللّٰهَ مَا وَعَدُوْهُ وَبِمَا كَانُوْا يَكْذِبُوْنَ ﴿۷۷﴾

نو عاقبت د امر ددوی چې بخل یې په زکوة سره وکړی خدای ﷻ وگرځاوه، بد اعتقاد ددوی په زړو کې چې د زکوة مفروضه من عند الله له فرضیت څخه منکر سوه او زکوة یې اخت الجزیة وباله، تر هغه ورځې چې دوی د خدای ﷻ سره ملاقي کېږي په مرګ سره یا په بعث بعد الموت سره په ورځ د قیامت یعنې خدای ﷻ خپل لطف له دوی څخه منع کړی او مرګ ددوی یې پر نفاق وگرځاوه "بما اخلفوا" با سببیه ده او کلمه د ما مصدریه ده ای بسبب خلافهم د دوی د خدای ﷻ سره په هغه شي کې چې دوی وعده کړې وه یعنې ثعلبه، او په سبب ددې چې درواغ یې ویله. روح البیان او مظهري ﷺ وایي چې دا آیت چې نازل سو په شان کې د ثعلبه، نو بعض اقارب د ثعلبه دلته حاضر وه دا آیت یې واورېدی، او روح البیان وایي چې عمر ﷺ پر آس سپور سو، نو یا قریب د ثعلبه یا ثعلبه ته ورغلی فقال ویحک یا ثعلبة لقد انزل الله في شانک کذا وکذا حتی قرائه الآیة فخرج ثعلبة حتی اتی النبي ﷺ، نو علیه الصلوة والسلام ته یې وویل چې زما صدقه قبوله کړه، علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې زه خدای ﷻ منع کړی یم له قبول څخه د صدقې ستا. نو ده پر سر خاوري باد کړې، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل هذا عملک قد امرتک فلم تطعني، نو چې علیه الصلوة والسلام یې صدقه نه کړه قبوله ثعلبه خپل کور ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ولاړی، او وروسته چې علیه الصلوة والسلام وفات سو، ثعلبه و ابوبکر خلیفة المسلمین ﷺ ته راغلی چې زما صدقه قبوله کړه، ابوبکر ﷺ ورته وویل چې ستا صدقه علیه الصلوة والسلام نه کړه قبوله زه به یې قبلوم، ابوبکر ﷺ چې وفات سو بیا خلیفه ثاني امیر المؤمنین عمر ﷺ ته راغلی هغه ته یې وویل چې زما صدقه قبوله کړه، عمر ﷺ ورته وویل چې علیه الصلوة والسلام نه کړه قبوله او خلیفه اول نه کړه قبوله زه به یې قبلوم؟ انکار یې وکړی له قبول څخه د صدقې د ثعلبه، بیا چې عمر ﷺ وفات سو، نو حضرت عثمان ﷺ ته راغلی چې زما صدقه قبوله کړه هغه هم انکار وکړی، او د عثمان ﷺ په خلافت کې ثعلبه مړ سو.

پوښتنه: ثعلبه که منافق هم ؤ خو توبه یې په حضور کې د علیه الصلوة والسلام وکښه، نو څرنګه یې توبه نه سوه قبوله، او جلاس چې هم منافق ؤ چې توبه یې وکښل توبه یې قبوله سوه کمامر عنقریب؟

ځواب: د جلاس توبه عن صدق القلب وه، نو ځکه قبوله سوه او د ثعلبه توبه نفاقانه وه نو ځکه نه سوه قبوله.

سوال: د زړو مالک خو خدای ﷻ دی، نو دا علیه الصلوة والسلام ته څه معلومه سوه چې د ثعلبه توبه منافقانه ده؟

ځواب: خدای ﷻ علیه الصلوة والسلام خبر کړی بقوله تعالی "فاعقبهم نفاقاً في قلوبهم الی یوم یلقونه آیة"

أَلَمْ يَعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ سِرَّهُمْ وَنَجْوَاهُمْ وَأَنَّ اللَّهَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ ﴿٧٨﴾

آیا علم نه لري منافقان او هغه څوک چې خلاف د وعدې خپل یې بنکاره کړی لکه ثعلبة المذکور، او استفهام لپاره د توبیخ او سرزنش دی، په تحقیق خدای ﷻ خبر دی په پټو حالاتو ددوی چې نفاق او قصد د خلاف العهد دی لکه د ثعلبه، او په هغو خبرو چې یو د بل سره یې کوي په کورنې مجلس کې چې طعن پر علیه الصلوة والسلام او پر دین د اسلام وایي او یا زکوة جزیه بولي، او په دې نه دي خبر چې خدای ﷻ ښه خبر او علم لري پر پټو کارو فلا یخفی علیه شئ مما یریدون اخفائه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَلَّذِيْنَ يَلْمِزُوْنَ الْمُطَّوِّعِيْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ فِى الصَّدَقٰتِ وَالَّذِيْنَ لَا يَجِدُوْنَ اِلَّا جُهْدَهُمْ فَيَسْخَرُوْنَ مِنْهُمْ

هغه کسان چې عیب وایي رغبت کونکي له مسلمانانو څخه "في الصدقات" ای في اکثارها، او هغه کسان چې نه لري مایتصدقون مگر نه په قدر د طاقت یعني مال قلیل. نو منافقان په دغو متصدقینو پسخند واهه.

اعراب: الذین یا مبتدأ ده خبر یې سخر الله منهم دی، او یا مرفوع محلاً دی په مقام کې د ذم ای المنافقون الذین، او یا منصوب محلاً دی په تقدیر د اعني د "المطوعین" اصل متطوعین وو تا یې په طاً مدغمه کړه.

شان نزول: بغوي وایي چې مفسرین رحمهم الله وایي چې علیه الصلوة والسلام به مسلمانان باعثه کول پر صدقه لپاره د غزا د تبوک، نو عبدالرحمن بن عوف څلور زره درهمه راوړه، نو علیه الصلوة والسلام ته یې وویل چې اته زره درهمه ما درلوده څلور زره مې تاته راوړه فاجعلها في سبیل الله، او څلور زره مې د عیال د نفقې لپاره وگرځول، علیه الصلوة والسلام ورته وویل بارک الله فیما اعطیت وما امسکت، ددې دعا نبوي نتیجه دا سوه چې په مال کې د عبدالرحمن رضي الله عنه خدای جل جلاله دومره برکت پیدا کړی چې دی وفات کېدی دوې مایني یې درلودې او زامن یې هم درلوده چې په دې صورت کې دواړې په یوه ثمن المال سره شریکاني دي، نو دده د مال ثمن چې حساب ورته وسو یو سل او شپېته زره درهمه سوه چې یوې مایني ته یې چې نوم یې تماضره وه د خپل ثمن څخه چې تولې مال نقود وغیرها کې حق وو پر اتیا زره درهمه نقد یې د ورثه سره صلح وکړه او دا ددې تر حق په تولې مال کې کم وو او په دغه ورځ عاصم بن عدي سل وسق خورما راوړه چې یو وسق شپېته کاسې کېږي، او یو مسکین سړی چې ابو عقیل انصاري یې نوم وو یوه کاسه خورما یې راوړه او علیه الصلوة والسلام ته یې وویل چې ما ننه شپه تولې مزدوري وکړه دوې کاسې خورما مې برابره کړه او یوه مې تاته راوړه او یوه مې کورته پرېښول، علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې د خورما دوې په صدقه کې یې واچوه، نو منافقانو د خدای او د رسول د بنسټانانو د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دغو مطوعينو آه په عيب ويلو چې معنی د لمز ده خولې يې وازې او ژبې يې درازې کړې چې عبدالرحمن او عاصم چې دا دومره ډېره صدقه يې راوړه صرف د ریا لپاره، او عقیل چې یوه پېمانه خورما راوړه خدای او رسول دده د یوې پېمانې څخه مستغني وه دده غرض دا وُ چې دوی په متصدقینو کې ځان داخل کړی بلله ورځ چې صدقات وېشل کېږي ده ته به هم برخه ورکړل سي.

دروېش وايي: چې دې منافقانو په مضمراتو د زړو ګویا ځانونه خبر بلل هیهات هیهات، دوی ظواهر نه پېژندل چې معجزات د علیه الصلوة والسلام دي والا لآمنوا بالصدق والاخلاص وترکوا النفاق فاني لهم العلم بالضمائر.

پوه سه: چې له مطوعینو څخه مراد عبدالرحمن او عاصم دی او الذین لا یجدون آه مراد ابو عقیل دی.

فائده: ددې قصې روایت په قول د مظهري، احمد او ابن جریر رحمهم الله له ابن عباس رضي الله عنه څخه يې روایت کړی دی.

دروېش وايي: چې دا قصه سره د یو څه تفصیله روح البیان هم راوړې ده لکن اسناد او راویان يې نه دي ذکر کړي کما هو عادته في نقل الاحادیث غالباً والله اعلم بالصواب.

سَخِرَ اللّٰهُ مِنْهُمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۷۹﴾

خدای پسخند وواهه په دوی او دوی لره دی عذاب درد ورکونکي.

دروېش وايي: چې نسبت د سخریه وخدای ﷻ ته مجازاً دی د جزاً د سخر یو د منافقینو وعبر بالسخریة لوقوعه بعد یسخرون کما في قوله تعالی "جزاً سیئة سیئة بمثلها" الیم" مؤلم کما في قول الشاعر:

امن ریحانة الداعي السمیع (ای مسمع) یورقنی واصحابی هجوع

دا عذاب الیم په سبب د کفر او استهزاً ددوی خدای ﷻ ورکوي، قال البیضاوي چې په یوه روایت کې راغلي دي چې عبدالله چې د عبدالله بن ابي منافق زوی وُ او دی په خپله مخلص مسلمان وُ علیه الصلوة والسلام ته راغلی په وخت کې د پلار د مرض موت چې زما وپلار ته طلب د بخښنې له خدای ﷻ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څخه وکړه، نو علیه الصلوة والسلام هم دغسي وکړه لپاره د خوشالی د ابن ابي د زوی عبدالله فنزلت هذه الآية.

اِسْتَغْفِرْ لَهُمْ اَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ

ته طلب د بخښي وکړه او یا یې مه کوه.

دروښ وایي: چې معنی د امر او نهي دلته اخبار دی په دې سره چې استغفار د رسول الله ﷺ او عدم استغفار سره برابر دي عدم نفع له لکه خدای ﷻ چې په دې قول کې تصریح په وکړه.

اِنْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِيْنَ مَرَّةً فَلَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ

که ته بخښنه وغواړې ددوی لپاره اوویا واره هرگز یې خدای ﷻ نه بخښي.

پوه سه: چې اکثره مفسرین رحمهم الله پر دې دي چې مراد له ذکر څخه د سبعین مجرد تکثیر دی تحدید او تعیین د سبعین نه دی روح البیان وایي وهذا کما یقول القائل (لشخص سائل لقضاء حاجته) لوسئالتني سبعین مرة لم اقضها لایرید انه اذا زاد علی السبعین قضی حاجته انتهی.

دروښ وایي: چې په پښتو کې ورته مثال سته چې یو سړی وبل سړي ته ووایي چې فلانی کار وکړه، هغه ورته ووایي چې اوویا واره ته راته ووایه زه یې نه کوم.

سوال: په حدیث شریف کې راغلي دي چې دا آیت چې نازل سو علیه الصلوة والسلام وویل اسمع الله وقد رخص لي فیهم فوالله لا ستغفرن اکثر من سبعین مرة لعل الله ان یغفر لهم، نو له دې حدیث څخه خو داسي فهمیږي چې مقصود تعیین د سبعین دی مجرد تکثیر نه دی؟

ځواب: بیضاوي وایي چې رسول الله ﷺ له سبعین څخه عدد مخصوص وفهماوه، لانه الاصل فجوز لفرط شفقته لانه رحمة للعالمین ان یکون ذالک حداً یخالفه حکم ما ورائه ای الزائد علی السبعین فلهذا قال ما قال لاستغفرن اکثر من سبعین آه فبین له (ای بالوحي الخفي) المراد به التکثیر دون التحدید انتهی بزیادة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ۭ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ۝

د نا امیدی له مغفرت څخه د منافقانو چې ابن ابي دلته مراد دی، په سبب ددې دی چې دوی کفر کړی په خدای او په رسول سره د خدای ﷻ یعنې سبب دا نه دی چې په خدای ﷻ کې ذمیمه د بخل سته. او نه له قصور څخه په تاکې بل لعدم قابلیتهم للمغفرة بسبب الکفر والموت علیه لانه صارف عن المغفرة.

فَرِحَ الْمُخَلَّفُوْنَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلٰفَ رَسُوْلِ اللّٰهِ

خوشحاله دي هغه کسان چې د تخلف اجازه یې تر لاسه کړه په اعذار باطله وو سره په غزا کې د تبوک بقعودهم، نو مقعد مصدر میمي دی، بعد رسول الله ﷺ کذا قال ابو عبیدة في تفسیر الخلاف.

وَكَرِهُوْٓا اَنْ يُّجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَقَالُوْا لَا تَنْفِرُوْا فِي الْحَرِّ ۭ

او دوی یعني منافقان مکروه بولي یعني بد وړي له دې څخه چې دوی دي جهاد وکړي په مالو سره خپل او په ځانو سره خپل په لار کې د خدای ﷻ. یعنې په غزوه تبوک کې په دې بیان کې د حال د منافقانو اشاره ودې ته ده چې حال د مخلصو مسلمانانو دغه نه دي بلکې دوی لپاره د رضا الهي هم تر مالو تېر دي او هم تر خپلو سرو تېر دي کما سبق من احوال المؤمنین المخلصین، او منافقان یو و بل ته وایي بلکې مؤمنانو ته به یې هم ویله چې مه وزئ له مدینې څخه په دې سره گرمي کې وجنگ ته د تبوک، او د تبوک د غزا وخت عین په دوبي کې وۀ.

قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ اَشَدُّ حَرًّا ۭ لَوْ كَانُوْا يَفْقَهُوْنَ ۝

ته ورته ووایه دوی ته چې اور د دوزخ چې پر تقدیر د تخلف عن غزوة تبوک وتاسي ته درکړه کېږي سخت دی په گرم والي تر گرمي د دوبي د دنیا، ولي یو خو دوزخ اور دی چې په هغه برو بلېږي او د دوبي گرمي په دنیا کې گرم والی د هوا چې ساتنه د ځان ځني ممکنه ده بخلاف جهنم، او بل چې د تبوک د غزا گرمي خو موقت او متناهي ده او د دوزخ گرمي خو ابدي ده، نو یو سړی چې له موقتي گرمي څخه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځان ساتي او په موبده ګرمی کي ځان واقع کوي او د هوا له ګرمیه ځان ژغوري او په سختو لمبو کي د دوزخ ځان دروي اجهل دی من کل جاهل، که دوی پوهیدای جزاً محذوف ده ای لم یختار والنار المؤبدة علی حرارة هوا الصیف الموقتة.

مقام عیش میسر نمیشود بی رنج ..... بلی بحکم بلا بسته اند حکم الست
من از دیار حبیبم نه ازدیار غریب ..... مهیمناً بعزیزان خود رسان باشم

فَلْيَضْحَكُوا قَلِيلًا وَلْيَبْكُوا كَثِيرًا جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿٨٢﴾

منافقان دي خاندي چي دوی په دې خوشاله سول چي په غزوه کي د تبوک د علیه الصلوة والسلام سره نه ولاړه قلیلاً یعني ضحکاً قلیلاً، نو مفعول مطلق په حذف د موصوف او زماناً قلیلاً نو ظرف دی د یضحکوا وعلی التقدیرین فالضحک في الدنیا هو المراد مدة عمرهم لان عمر الدنیا بالنسبة الی الآخیرة قلیل وعمر المنافقین في الدنیا اقل من عمر الدنیا فعمر المنافقین اقل من قلیل او دوی دي ژاړي کثیراً ای بکاء کثیراً او زماناً کثیراً وعلی التقدیرین، فالمراد بالبکاً البکاً في الآخرة.

پوه سه: چي بکاً او ضحک یا محمول پر حقیقت دی او یا کنایه د سرور او غم ځخه دی.

پوه سه: چي دا دوې صیغې خو امر دی لکن مقصود اخبار دی له حال ځخه ددوی في الدنیا والآخرة عدول وصیغې ته د امر لپاره د دلالت پر دې ده چي دا ضحک او بکاً خامخا کېدونکي ده، ولي چي امر د قادر مطلق چي الله ﷻ دی حتمی الوقوع دی، جزاً مفعول مطلق د فعل محذوف دی ای یجزون جزاً پر هغه فعل او قول چي دوی په دنیا کي کاوه من الکفر والنفاق والمعاصي.

دروښ وایي: چي امام نواوي رحمه الله په شرح کي د یوه راوي د حدیث په باره کي وایي چي دغه راوي هیڅ چا په هیڅ حال کي یعني هر رنګه عجب شی چي به یې ولیدی دده خندا چا نه ولیدل، دده ځخه چا پوښتنه وکړه چي ته ولي نه خاندې ده په ځواب کي ورته وویل هغه چا ته چي دا نه وي معلومه چي زه له اهل جنت ځخه یم یا د اهل النار نو څرنګه به هغه خاندي. څه وخت چي دا راوي وفات سو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غاسلانو غسل ورکاوه ده خندل، ولي چي پرده پورته سوه حال معلوم سو چي من اهل الجنة يم؛ ولي چي په وخت کي د زکندن ملائکه زېرى ورکوي بما في القرآن المجيد "يا ايها النفس المطمئنة ارجعي الى ربک راضية مرضية الآية" په يو حديث کي چي روايت يي احمد، بخاري، مسلم، ترمذي او نسائي رحمهم الله له انس رضي الله عنه څخه کړى دى چي رسول الله ﷺ وويل "لو تعلمون ما اعلم لضحكتم قليلاً ولبكيتم كثيراً (که تاسي خبر سئ او علم ولرئ پر هغه څه چي زه علم پر لرم من سكرات الموت وعذاب القبر واهوال الآخرة، نو تاسي په خندلاى لږ او ژړلاى به مو دهر ولهذا كان حاله ﷺ التبسم فقط عند رؤية العجب.

ديدى ان قهقهه كبک خرامان حافظ... كه زسر پنجه شاهين قضا غافل بود

فَإِنْ رَّجَعَكَ اللّٰهُ إِلٰى طَآئِفَةٍ مِّنْهُمْ فَاسْتَاْذَنُوْكَ لِلْخُرُوْجِ فَقُلْ لَّنْ تَخْرُجُوْا مَعِيَ اَبَدًا

كه ته خداى جل جلاله سالم راوستلي مدينې ته و يوې ډلي ته د متخلفينو يعني المنافقين، وانما قال الى طائفة منهم، ولي ټوله متخلفين خو منافقين نه وه بلكې اصحاب عذر من العمي والزمانة وعدم زاد السفرهم، په مختلفينو كي وه، نو دوى له تا څخه اجازه وغواړي د خروج وبلي غزا ته بعد تبوک، نو ته ورته ووايه چي تاسي نه سئ وتلاى زما سره يعني و غزا ته تر ابد پورې.

وَلَنْ تُقَاتِلُوْا مَعِيَ عَدُوًّا اِنَّكُمْ رَضِيْتُمْ بِالْقُعُوْدِ اَوَّلَ مَرَّةٍ فَاقْعُدُوْا مَعَ الْخَالِفِيْنَ ﴿۸۳﴾

او هرګز تاسي جنګ نه سئ کولاى زما په فوج کي د هيڅ دښمن سره. په تحقيق تاسي راضي سوا ست په ناسته سره يعني په تخلف سره اول وار يعني في غزوة تبوک، نو اوس هم کښېئ سره د پاتو کسانو يعني ښځي او کوچنيان او مريضان او شلان وغير ذالک من المعذورين لعدم لياقتهم للجهاد، حاصل دا چي دوى له ديوان څخه د غزا ساقط سوه ابداً "انكم رضيتم آه" تعليل دى د عدم خروج مع النبي ﷺ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بخاري او مسلم له ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې څه وخت چې عبدالله بن ابي وفات سو دده زوی چې نوم یې عبدالله ؤ (او مخلص مسلمان و) راغلی و علیه الصلوة والسلام ته چې دا ستا قمیص ماته راکړه چې زه یې خپل پلار ته کفن کړم، علیه الصلوة والسلام قمیص ورکړی وروسته یې وویل چې لمونځ هم ورکړه.

دروښ وایي: چې د عبدالله بن عبدالله بن ابي دا خیال ؤ چې د علیه الصلوة والسلام د قمیص په برکت به او په سبب د جنازې د لمانځه به زما پلار له عذاب څخه خلاص سي او خدای پاک به یې وبخښي، نو علیه الصلوة والسلام چې د عبدالله بن ابي د جنازې پر لمانځه درېدی عمر رضي الله عنه تر کالو ټینګ کړی یعني لمونځ مه ورکوه، فقال عمر رضي الله عنه یا رسول الله اتصلي علیه وقد نهاک ربک ان تصلي علی المنافقین، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې ماته خدای پاک اختیار راکړی دی وقال استغفرلهم او لا تستغفرلهم ان تستغفرلهم سبعون مرة فلن یغفرالله لهم الایة. کمامر، عمر رضي الله عنه وویل چې دی خو منافق ؤ خیر لمونځ یې ورکړی فانزل الله تعالی هذه الآیة.

وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰٓ أَحَدٍ مِّنْهُم مَّاتَ أَبَدًا وَلَا تَقُمْ عَلَىٰ قَبْرِهِۦٓ

مراد په صلوة سره دعا د استغفار ده ومیت ته فیشمل صلوة الجناز ایضاً لانها مشتملة علی الدعا والاستغفار، او ته د جنازې لمونځ مه ورکوه و یوه ته د دوی یعني منافقینو چې مړه سي ابداً او مه درېږه وقبر ته ددوی چې د علیه الصلوة والسلام دا عادت ؤ چې سړی به یې بښ کړی وقبر ته به یې ودرېدی او دعا به یې ورته وکړه که څه هم قیام القبر خو منهي عنه نه ؤ بالذات لکن چونکه د دعا لپاره ؤ او دعا و منافق ته نه وه روا، نو ځکه خدای ﷻ له قیام څخه نهي وکړې.

إِنَّهُمْ كَفَرُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَمَاتُوا۟ وَهُمْ فَٰسِقُونَ

تعلیل للنهي، ولي چې دوی کفر کاوه له خدای ﷻ څخه او دوی مړه سوه په داسي حال کې چې دوی فاسقان وه، بغوي رحمه الله ویلي دي چې راوي وایي چې نبي ﷺ خبري وکړې په باره کې د قمیص ورکولو او د لمانځه د جنازې ورکولو او داسي یې وویل وما یغني عنه قمیصي وصلاتي" ده ته فائده نه رسوي زما

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قميص او زما لمونځ من الله يعني من عذاب الله. والله اني كنت ارجو ان يسلم به الف من قومه، راوي وايي چې رشتيا زر کسو ايمان راوړی له قوم څخه د عبدالله بن ابي چې دوی وليدی تبرک په قميص د عليه الصلوة والسلام او د قميص د ورکولو بخاري دا سبب بيان کړی دی، چې عباس ﷺ چې په د بدر په بنديانو کې راوستل سو او قميص يې نه وو يوازې لنګ يې وهلی وو، نو عباس ﷺ چونکه جګ سړی وو د هيڅ صحابي قميص نه پر اصل کېدی، د عبدالله بن ابي قميص پر اصل سو، نو عبدالله بن ابي خپل قميص عباس ﷺ ته ورکړی، نو عليه الصلوة والسلام خپل قميص په مکافات کې د هغه قميص ورکړی والله اعلم.

وَلَا تُعْجِبْكَ أَمْوَالُهُمْ وَأَوْلَادُهُمْ ۚ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ أَنْ يُعَذِّبَهُمْ بِهَا فِي الدُّنْيَا وَتَزْهَقَ أَنْفُسُهُمْ وَهُمْ كَافِرُونَ ﴿٨٥﴾

تا دي په تعجب کې وانه چوې مالونه ددوی يعني المنافقين او اولادونه ددوی، په دې معنا چې دا منافقين خو د خدای ﷻ هغه اغلظ دښمنان دي، نو خدای پاک د تعجب ورې مالونه او اولادونه ورکړي دي.

پوه سه: چې انما کلمه د حصر ده په معنا د لا او الا ده يعني د خدای اراده ده چې دوی ته يې مالونه او اولادونه ډېر ورکړي دي، حصر ده په دې کې چې خدای په عذاب کې دوی ددغو مالو او اولادو په ورکړه سره په دې دنيا او روحان به قبض سي او وی کافران وي.

پوه سه: چې په جمع کولو کې د مالو ډېر مشقت او کړاونه وي او سفر کول حتی و ملکو ته د کافرانو لکه په اوسنۍ زمانه کې بعض خلګ د جمع المال لپاره امريکا ته ځي بعض لندن ته بعض کوريا ته الی غير ذالک او هوري ډېر د ذلت او خواری او سپيتانې ژوندي تېروي او د کافرانو په چوپړ شپه او ورځ اخته وي او په رشتيا او په درواغو او په سود وغيره مالونه جمع کوي چې جمع يې کړه بيا يې په ساتنه او حفاظت کې له هر چا څخه ډېر ډېر چې دا سړی ما يا عيال مي ونه تښتوي او بيا به ډېر مبلغ راځخه وغواړي کما هو الشائع في هذا الزمان في پاکستان او دې عمل ته (اغوا) وايي، او پر کور يې کلاشنکوف والا پهره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کوي، او د اولادو په حفاظت کي هم د ډېرو کړاوو سره مخامخ وي حتی چې اولادونه چې مدرسو یا ښوونځیو یا اسکولو وغیره ته استوي په محفوظ موټر کي یې استوي چې په هغه کي به کلاشنکوف والا هم ورسره وي او د مسلمانانو زامن پر خپلو پښو مدرسو یا اسکولو وغیره ته روان وي بېله خوفه او ډاره.

دروېش وایي: چې دا خو د ننني زماني د حال بیان دی، د منافقانو حالات په جمع المال وحفظه وحفظ الاولاد به ورته کړاوځ ته مجبوره وه، او په اخیر کي به روحان ددوی له جسدو څخه ووزي یعني مړه به سي او حال دادی چې دوی به کافران وي، نو ددوی په شان کي باید سړی ووایي چې دوی خسر الدنیا والآخرة دي، سعدي شیرازي قدس سره چه خوش گفته:

دراول چو خواهی کنی جمع مال ..... بسی رنج برخویش باید گماشت
پس از بهر آن تا بماند بجای ..... شب وروزی بایدت پاس داشت
وزین جمله آن حال مشکل تر است ..... که آخیر بحصرت بباید گذشت

وَإِذَآ أُنزِلَتْ سُورَةٌ أَنْ ءَامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَجَٰهِدُوا۟ مَعَ رَسُولِهِ ٱسْتَـْٔذَنَكَ أُو۟لُوا۟ ٱلطَّوْلِ مِنْهُمْ وَقَالُوا۟ ذَرْنَا نَكُن مَّعَ ٱلْقَٰعِدِينَ ﴿٨٦﴾

او چې نازل سي یو سورت که پوره سورت وي او که بعض القرآن وي په دې سره چې ایمان راوړي پر خدای ﷻ.

پوه سه: چې مراد د ایمان بالله سره امتثال د امر د خدای ﷻ په جهاد کولو کي او په دې سره چې تاسي جهاد ته څئ سره د رسول سره د خدای ﷻ ستا څخه اجازه غواړي په تخلف کي هغه کسان چې خاوندان د غنا او وسعة الرزق وي یعني عذر د فقر او مسکنت نه لري له دوی څخه یعني من المنافقین او دوی وایي چې موږ پرېږده چې موږ اوسو په خپلو کورونو کي د ناستو خلګو سره یعني په سبب د عذر پر کور ناست دي.

رَضُوا۟ بِأَن يَكُونُوا۟ مَعَ ٱلْخَوَالِفِ وَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُونَ ﴿٨٧﴾

دوی راضي وي په دې چې د پاته سونکو سره وه اوسېږي یعني النسا یخلفن في البیوت، خوالف جمع ده د خالفة لکه ضوارب جمع د ضاربة ده، او مهر وهل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړه سوی دی پر زړو ددوی یعني خدای پاک په سبب د فرط شقاوت او نفاق ددوی او معصیت الرسول ددوی پر زړو مهر وهلی دی، نو په سبب د هغه دوی د حسن د حسناتو او بد والی د سیئاتو ادراک نه سي کولای، وبما قلنا اندفع سوال الجبر.

دروښ وایي: چي اوس خدای پاک د مؤمنانو حال بالقلب واللسان بیانوي.

لَٰكِنِ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ جَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ ۚ وَأُولَٰئِكَ لَهُمُ الْخَيْرَاتُ ۖ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿٨٨﴾

لکن رسول یعني محمد ﷺ او هغه کسان چي ایمان یې راوړی دده سره یعني المخلصین في الایمان بالله ورسوله، دوی جهادونه کړي دي او کوي یې په خپلو مالو سره او په خپلو ځانو سره دوی لره خیرات یعني ثوابونه ستة او دوی دي مفلحون یعني له عذاب څخه د رب ﷻ په دنیا او په اخیرت کي خلاصون مندونکي دي.

أَعَدَّ اللَّهُ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا ۚ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿٨٩﴾

اراسته کړی دی خدای پاک ددوی لپاره یعني په اخرت کي جنتونه او باغونه د قسم قسم میوو چي بهیږي به لاندي تر درختو د هغو جنتو څلور ویالې او هم دغه دی لوی بری او کامیابي.

وَجَاءَ الْمُعَذِّرُونَ مِنَ الْأَعْرَابِ لِيُؤْذَنَ لَهُمْ

راغله هغه کسان چي عذر یې ووایه په مسکنت سره او په کثرة العیال سره له صحرا نشینانو څخه چي اجازه د قعود عن غزوة تبوک یې وغوښتل. محمد بن عمر وایي چي دا اعراب هم منافقین وه او د علیه الصلوة والسلام څخه یې اجازه د تخلف وغوښتی ببله عذر واقعي بالعذر المذکور، او علیه الصلوة والسلام هم اجازه ورکړه بناء علی ظاهر عذرهم، محمد بن عمر وایي چي دوی دواتیا (۸۲) کسه وه د بني غفار له قبیلې څخه، او ضحاک رحمه الله وایي چي دا معذورون د عامر بن طفیل له قبیلې څخه وه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې اصل د معذورون معتذورون ؤ تا يې په ذال بدله کړه او په ذال کې يې مدغمه کړه او د تا حرکت يې و عين ته نقل کړی، نو معذورون سو.

وَقَعَدَ الَّذِيْنَ كَذَبُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ؕ

او کښېنستل له جنګه هغه کسان چې درواغ يې ويله و خدای او رسول ته دده په دعوه کې د ايمان وهم المنافقون، والظاهر ان المراد بهؤلاء هم الاولون يعني اعراب كما قال محمد بن عمر رحمه الله وقد سبق.

سَيُصِيْبُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝

ژر دی چې وه به رسېږي و هغو خلګو ته ددوی يعني الاعراب، ددې قيد فائده داده چې بعض د اعرابو خو منافقان کافران وه او بعض د کسل د لاري اجازه غوښته کافران نه وه، او بعض يې بېله تکلفه د عذر پر خپل سر کښېنستلي وه جرئة على الله وهم بعض المنافقين.

لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَآءِ وَلَا عَلَى الْمَرْضٰى وَلَا عَلَى الَّذِيْنَ لَا يَجِدُوْنَ مَا يُنْفِقُوْنَ حَرَجٌ اِذَا نَصَحُوْا لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ؕ مَا عَلَى الْمُحْسِنِيْنَ مِنْ سَبِيْلٍ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝

نسته پر ضعيفه کسانو، ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې مراد له ضعفا څخه ګودیان او سپين ږيري يا عاجزه کسان دي لکه کوچنيان او يا ښځې، نه پر مريضانو خصوصاً العميان، او نه پر هغو کسانو چې نه لري کوم شی چې په لار کې د غزا يې نفقه کړي لفقرهم "حرج" ای ضيق في القعود عن الغزو، چې دوی مخلصان او خيرخواه د خدای او د رسول دده وي يعني بالايمان في السر والعلانية، نسته پر محسنانو يعني مخلصانو في الايمان لار د عتاب او سرزنش او خدای ﷻ بخښونکی دی د ګناه کارانو فكيف لا يغفر المحسن المخلص، بغوي رحمه الله وايي چې دا آيت په عابد بن عمر واصحابه کې نازل شوی دی، او ضحاک رحمه الله وايي چې په عبدالله بن ام مكتوم کې نازل سوی دی چې په سترګو روند ؤ، بخاري او ابن سعد له جابر رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چې عليه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الصلوة والسلام له تبوک څخه رجوع وکړه او مدينې ته رانژدې سو داسي يې وويل ان بالمدينة اقواماً ماسرتم سيراً ولا قطعتم واد الا كانوا معكم قالوا يا رسول الله وهم بالمدينة قال وهم بالمدينة حبسهم العذر.

ژباړه: په تحقيق په مدينه کي داسي قومونه ستة چې تاسي هيڅ ځای تګ نه دی کړی او نه مو قطع کړې ده يوه شپله مګر نه دوی ستاسي ملګري دي يعني په ثواب کي، خلګو ورته وويل يا رسول الله ﷺ وهم بالمدينة دوی په مدينه کي دي، عليه الصلوة والسلام ورته وويل په مدينه کي دي عذر پاته کړي دي.

وَّلَا عَلَى الَّذِيْنَ اِذَا مَآ اَتَوْكَ لِتَحْمِلَهُمْ قُلْتَ لَآ اَجِدُ مَآ اَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ

او نه پر هغو کسانو حرج سته چې دوی راسي تاته چې ته دوی ته د سفر دواب ورکړې تاچې دوی په غزا کي د تبوک شامل سي، ته ورته ووايه چې زما سره خو دومره دواب نسته چې تاسي پر سپاره کړم پر هغو باندي.

پوه سه: چې قلت په تقدير د قد حال ده له کاف څخه د آتوک، صورې تقدير د قد ووايه له دې سببه چې په نحو کي وايي چې په حاليت کي د ماضي قد شرط دی يا لفظاً يا تقديراً.

تَوَلَّوْا وَّاَعْيُنُهُمْ تَفِيْضُ مِنَ الدَّمْعِ حَزَنًا اَلَّا يَجِدُوْا مَا يُنْفِقُوْنَ ۝

دوی راهي سي په داسي حال کي چې سترګي ددوی بهېږي له اوښکو څخه يعني اوښکي يې بهېږي.

پوه سه: چې ظاهراً يې نسبت د بهېدو وسترګو ته وکړی او په حقيقت کي اوښکي تر سترګو بهېږي مبالغةً في سيلان الدمع، يعني ګويا له دې ځايه ژړا څخه يې سترګي بهېږي، نو دا عبارت د قرآن معجز ابلغ دی تر داسي عبارت چې تسيل دمعها ګويا سترګي يې اوښکي سوي دي او بهېږي فافهم.

پوه سه: چې "حزنا" مفعول له دی د "تولوا آه" والمعنى دوی له دې سببه ژاړي چې غم کوي پر دې چې دوی نه لري هغه څه چې دوی يې نفقه کړي په غزا کي د تبوک.

دروښ وايي: چې ما ينفقون عام دی تر سفر خرڅ او د دوابو د رانيولو څخه لفقرهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: د دغو کسانو بعض په اتفاق د رواتو او بعض په اختلاف سره دادی (۱) سالم بن عمير من بني عمر بن عوف (۲) وعلية بن زيد (۳) ابو ليلى بن عبد الرحمن (۴) وهرمى بن عبد الله (۵) عرباض بن سارية (٦) عمرو بن حمام بن جموع (۷) عبد الله بن مغفل (۸) سلمة بن صخر (۹) عمرو بن عنبة بن عدي (۱۰) عبد الله بن عمرو المزني (۱۱) عبد الرحمن بن زيد من بني حارثه (۱۲) حرمى بن عمر من بني ماذن (۱۳) عمرو بن عوف (۱۴) معقل بن يسار (۱۵) حرمى بن مبارک بن البخار (۱٦) عبدي بن عبد الرحمن (۱۷) سالم بن عمرو الوافقي وغيرهم رضوان الله تعالى عليهم اجمعين، ابن اسحاق رحمه الله روايت کړی دی چي عليه بن زيد ﷺ چي نه يې په خپله راحله درلوده او نه د عليه الصلوة والسلام راحله پيدا کړه، نو د شپې يې نفل وکړه الى ماشاء الله وروسته يې وژړل او داسي يې وويل چي خدايه تا امر بالجهاد کړی دی او زما هم جهاد ته رغبت سته لکن خو کار نه سو جوړ، نو زه خيرات کوم پر هر مسلمان د هر ظلم چي دده له خوا څخه پر ماسوى وي من مال او جسد او عرض، چي سهار سو عليه الصلوة والسلام تر لمانځه وروسته وويل اين المتصدق هذه الليلة فلم يقم اليه احد، نو عليه بن زيد ور ولاړ سو او د شپې قصه يې ورته وکړه، نو رسول الله ﷺ ورته وويل چي زيرى مي دربانديي فوالذي نفسي بيده لقد كتبت في الزكوة المتقبلة.

پوه سه: چي بخاري او مسلم له ابو موسى اشعري ﷺ څخه روايت کړی دی چي زه خپلو ملګرو و عليه الصلوة والسلام ته وروا ستولم چي موږ ته د سپرتيا اونښان راکړه، نو عليه الصلوة والسلام ته چي ما دا خبره وکړه ده مبارک راته وويل والله لا احملكم على شئ وما عندي ما احملكم عليه په داسي حال کي ما دا خبره ده ته وکړه چي دی د پر غضبان وٴ او زه په غضب نه وم خبر، ابو موسى ﷺ وايي چي زه د پر غمجن سوم من منع رسول الله ﷺ او له دې څخه وبهر بدم چي دی مبارک په غصه سوی دی ماته په زړه کي، نو ملګرو ته راغلم دوی ته مي خبر ورکړی بالذي قال رسول الله ﷺ ثم جيئ رسول الله ﷺ بنهب ابل فلم البث الا سويعة اذ سمعت بلالا ﷺ ينادى اين عبد الله بن قيس چي د ابو موسى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اشعري رضي الله عنه نوم و فاجبته اى بلالا نو بلال رضي الله عنه راته وويل احب رسول الله ﷺ يعني تا بولي، زه چي ورغلم ده مبارک راته وويل خذ هذين القرنين هذين القرنين وشپږو اوښانو ته يې اشاره وکړه، او دا اوښان ورولە خپلو اصحابو ته او دوی ته ووايه ان الله يحملكم او ان رسول الله ﷺ يحملكم على هؤلاً فاركبوهن، ابو موسى رضي الله عنه وايي چي اوښان راهي کړه وملګرو ته وقلت لهم ان رسول الله ﷺ يحملكم على هؤلاً ولكن والله لا اودعكم حتى ينطلق معي بعضكم الى من سمع مقالة رسول الله ﷺ حين سئالته لكم ومنعه في اول مرة ثم اعطائه اياي بعد ذالک لئلا تظنون اني حدثتكم شيئاً لم يقله فقالوا لي والله انک عندنا لمصدق ولنفعلن ما احببت فانطلق ابو موسى رضي الله عنه بنفر منهم حتى آتو الذين سمعوا مقالة رسول الله ﷺ منعه اياهم ثم اعطائه اياهم بعد ذالک فحدثوا بمثل ماحدثهم ابو موسى ثم قلنا والله لا يبارک لنا (يعني چي عليه الصلوة والسلام خو قسم واخستى اوس يې لكه چي قسم هېر ؤ) فرجعنا فقلنا لرسول الله ﷺ (يعني دده قسم مو ورپياد کړی) فقال انا ماحملتكم ولكن الله حملكم ثم قال والله ان شآ الله لا احلف على يمين فارى غيرها خيراً منها الا اتيت الذي هو خير وكفرت عن يميني، عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي زه پر يو شي قسم واخلم او خلاف د هغه کار خير وي زه قسم پر ځان ماتوم او هغه د خير کار کوم او د قسم کفاره ورکوم،

ترجمه: قوله لا احملكم آه:- قسم په خدای عزوجل چي نه تاسي ته حموله درکوم نه زما سره ستاسي د حموله سته قوله ثم جيئ آه بيا راتګ سوی ؤ عليه الصلوة والسلام ته بنهب يعني په غنيمت سره د اوښانو، ابو موسى رضي الله عنه وايي ما درنګ نه ووکړی مګر نه داسي لږ ساعت چي د بلال رضي الله عنه څخه مي واورېده ناري يې وهلې چېرې دی عبدالله بن قيس ما د بلال اجابت وکړی يعني چي زه حاضر يم ده وويل اجب رسول الله ﷺ يعني قبلونه وکړه د بلني د عليه الصلوة والسلام يعني هغه دي غواړي، زه چي ورغلم عليه الصلوة والسلام راته وويل چي بوزه دغه دوه اوښان چي يو ځای سره ولاړ دي، بوزه دوه نور اوښان چي يو ځای سره ولاړ دي مطلب دا چي شپږ اوښانو ته يې اجاره وکړه او ملګرو ته دي ووايه چي خدای

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تاسي سپروي يعني په سفر کي پر دغو اوښانو، په بل روايت کي راغلي دي چي رسول الله ﷺ تاسي ته حموله درکوي شپږ اوښان، نو پر دغو اوښانو سپاره سئ ابو موسی رضی الله عنه وايي ما ملګرو ته وويل چي تاسي نه پرېږدم چي زما سره يع بعض ستاسي چي وهغو کسانو ته چي منع د رسول الله ﷺ يې اورېدلې وي چي ما سوال د حمولې ځني اول وار دده غرض داؤ چي دفع د توهم د درواغو له ځانه ځخه وکړي، هغو ورته وويل چي ته زمونږ په نېز تصديق شده يې خو بياهم درسره ولاړ سو الی اخير الحديث.

إِنَّمَا السَّبِيلُ عَلَى الَّذِينَ يَسْتَأْذِنُونَكَ وَهُمْ أَغْنِيَاءُ ۚ رَضُوا بِأَنْ يَكُونُوا مَعَ الْخَوَالِفِ ۙ

لار د ملامتيا او عذاب الهي پر هغو کسانو ده چي دوی ستا ځخه اجازه د تخلف غواړي، او حال دا وي چي دوی اغنيا وي چي طاقت او توان د سفر خرڅ او د حموله هم لري. دوی په دې راضي وي چي سره د خوالفو کښيني له غزا ځخه.

پوه سه: چي جمله د "رضوا آه" مستانفه ده بيان د سبب د استيذان بېله عذره حاصل يې دادی چي دوی طبع د نسی لري، نو ځکه ځانونه په ښځو او کوچنيانو کي حسابوي.

وَطَبَعَ اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٩٣﴾

خدای ﷻ يې په سبب د عصيان د امر الهي او د امر نبوي ﷺ يې پر زړو مهر لګولی دی چي دوی يې غافله ګرځولي دي له درانه بار او عاقبت ځخه د خپلو عملو. چي دوی نه پوهېږي چي د قعود عن الجهاد وموافقة الرسول عاقبت په دنيا او اخرت کي څه وي.

دروښ وايي: چي تولي ښېګڼې په اطاعت کي د مولی سبحانه او په اطاعت د رسول اکرم ﷺ که د دنيا وي او که د اخيرت پيدا کېږي او په طاعاتو د اخلاص چي احسان يې هم بولي عمده شرط دی په دې سورت کي احوال د منافقانو واورېدل سوه مسلمانانو ته لوی موعظت دی چي نفاق قلبي يا عملي هيڅ په ښه نه دی، خواجه عبدالله انصاري هروي قدس سره وايي:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ای طالب که دعوی عشق خدا کنی ..... بر غیر او نظر بمحبت چرا کنی
از جستجوی خلق تو بیگانه شو اگر ..... خواهی که دل بحضرت او آشنا کنی
حقا که شور و ولوله دراسمان فتد ..... آندم که توزبیم خدا پاک ندا کنی
ملک دوعالم ازتوشود گرزروی عجز ..... خودرا فدای خاطر یک بینوا کنی
انصاریا چوروزشوی روشن از شبی ..... خو درا بعجز بردرسبحان گدا کنی

دروپش وایي: چي په لوی توفیق د رب العزت تفسیر د لسم جزء د قرآن عزیز په شپه د جمعې اول د میاشتي د ذو القعدة الحرام قریب و وخت د صبح وپای ته ورسېدی، و لله الحمد والمنة والصلوة والسلام علی خیر البریة وعلی آله وصحبه الکملة.

دروپش وایي:

غرض نقشیست کزما یادماند ..... که هستی رانمی بینم بقایی
مگر صاحبدلی روزی زرحمت ..... کند درحق این مسکین دعایی

اللهم اختم لي بالخیر والسعادة والایمان ومحبت المولی سبحانه ومحبت رسوله ﷺ بیت

چاز چیز آورده ام شاها که درگنج تو نیست
عاجزی و مسکینی فقر گناه آورده ام

اللهم اغفرلي ولوالدي وارحمهما کما ربیاني صغیراً، السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ایها الناظرین في التفسیر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د تفسير ايوبي حنفي د مضامينو فهرست

شمېر	مضمون	مخ
۱	سريزه	۳
۲	د قال الملاء تفسير	۷
۳	دروېش وايي	۲۱
۴	تاريخي واقعه	۴۱
۵	تجزيه غريبه	۴۳
۶	تبصره	۴۶
۷	دروېش وايي	۶۳
۸	"والذين عملوا السيئات"	۸۹
۹	ښهانه فائده	۱۰۰
۱۰	"ومن قوم موسى"	۱۰۴
۱۱	دروېش وايي	۱۲۱
۱۲	"وتل عليهم نبأ الذين"	۱۲۸
۱۳	قصه	۱۲۹
۱۴	"ولله الاسماء الحسنى"	۱۳۹
۱۵	مسئله	۱۴۰
۱۶	"وممن خلقنا امة"	۱۴۲
۱۷	"فلما آتاهما صالحاً"	۱۵۲
۱۸	دروېش وايي	۱۵۳
۱۹	د سورة الانفال پيل	۱۷۱
۲۰	تفريع	۱۷۵
۲۱	سوال او ځواب	۱۷۹
۲۲	"وما جعله الله الا بشرى"	۱۸۹
۲۳	ښهانه فائده	۱۹۹
۲۴	تتمة قتل ابوجهل	۲۰۰
۲۵	"يا ايها الذين آمنوا لاتخونوا"	۲۰۹
۲۶	پوه سه	۲۱۷
۲۷	دلسمي سپاري پيل	۲۳۴
۲۸	مسئله مهمه	۲۳۹
۲۹	دروېش وايي	۲۴۱
۳۰	"واعدوا لهم ما استطعتم آه"	۲۷۰
۳۱	سوال او ځواب	۲۸۰
۳۲	"الئن خفف الله عنكم"	۲۸۴
۳۳	د سورة التوبة پيل	۳۰۱
۳۴	دروېش وايي	۳۰۹
۳۵	مسائل	۳۱۸
۳۶	حكايت	۳۲۳
۳۷	دروېش وايي	۳۳۰
۳۸	تنبيه	۳۳۸
۳۹	د حنين د غزاء قصه	۳۵۰
۴۰	فوائد شتى	۳۵۱
۴۱	دروېش وايي	۳۵۹
۴۲	اختلاف او جمع	۳۶۰
۴۳	"وعذاب الذين كفروا"	۳۶۳
۴۴	حكايت	۳۶۶
۴۵	دروېش وايي	۳۶۹
۴۶	ښهانه فائده	۳۷۷
۴۷	د هجرت نبوي ﷺ قصه	۴۲۰
۴۸	"وجاهدوا باموالكم وانفسكم آه"	۴۳۶
۴۹	فائده مهمه	۴۳۹
۵۰	پوښتنه او ځواب	۴۴۶
۵۱	"ولاتعجبك اموالهم و اولادهم	۴۹۵
۵۲	فائده	۵۰۰

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

تفسير ايوبي حنفي۸ ټوک

د نصيراحمد احمدي لخوا

سکين او pdf سو.

تاريخ. ۱۳۹۸-۱۱-۲۰

واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

د دعا محتاج احمدي!

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner